د عُلماو، طُلباو، مُقرّرينو او عامو مسلمانانو دپاره په مختلفو موضوع ګانو

د تقريرونو يوه مفصله، مُعتمده، علمي، او تحقيقي ذخيره:

# اِصلاحي مُدلّل تقريرونه

څوارلسم


تأليف:

اَبُوالشّمس مولانا نُورالهُدیٰ عفی عنه

مُدرّس دارالعلوم فيض القرآن اکاخيل کالونی، مردان



زيراهتمام

کفايت الله ارمانی

0344-9995990

مکتبه اعزازيه محله جنګی پشاور

جاده ميوند پخته فروشی کابل: 0764857797

📚 کفایت دینی کتب خانه 📚
په دی چینل کی دټلیګرام کتابونه نشرکیږی
دحنفی مذهب په رڼاکی
لکه تفاسیر شریف
اوفقه شریفه
اوفتاوی؟
د درجوں کتابونه
اوداسی نور کتابونه لکه.
صرف اونحو
اومنطق
اوعقائد
نوهیله لرم چی دالینک دثواب په خاطر نشر کڑی
https://t.me/kafayat2395

کفایت الله واٹس ایپ نمبر 03052488551

د دا کتاب pdf کول خاص د الله تعالیٰ د رضا د پاره دی

د ټولو لوستونکو او فایده اخستونکو
د دعا په هیله

د عُلماؤ، طُلباؤ، مُقرِّرينو او عامو مسلمانانو د پاره په مختلفو موضوعګانو باندې د تقريرونو يوه مُفصّله، مُعتَمَده، عِلمي، او تحقيقي ذخيره:

# اِصلاحي مُدَلَّل تقرِيرُونه

## جلد ۱۴

تاليف


آبُوالشَّمس مولانا نُورُالهُدٰى عُفِيَ عَنْهُ

فاضلِ جامعه امدادُ العلوم پشاور صدر، و وفاق المدارس العربية ملتان

بی اے عبدالولی خان یونیورسٹی مردان

حالاً: مُدَرِّس دَارُالعلوم فيضُ القُرآن اکاخیل کالونی، مردان

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ


د کتاب نوم — اِصْلَاحِيْ مُدَلَّلْ تَقْرِيْرُوْنه جلد ١٤

مؤلف — اَبُوالشَّمْس مولانا نُوْرُالْهُدٰی عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فیض القرآن اکاخیل کالونی مردان

فون نمبر ۰۳۰۶ ۵۴۴۷۱۷۴

کمپوزر — مؤلف پخپله

د چاپ کال — ۱٤٤۱هـ ق ، ۱۳۹۸ هـ ش، مطابق ۲۰۱۹ ء

مکتبه اعزازیه

محله جنگي پشاور

زیر اهتمام — کفایت الله ارماني ۰۳٤٤-۹۹۹۵۹۹۰



نوټ : د کتاب ټول حقوق د مکتبه اعزازیه سره محفوظ دي

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# سریزه ( د څوارلسم جلد )

نَحْمَدُهُ وَنُصَلِّيْ عَلٰى رَسُوْلِهِ الْكَرِيْمِ . اَمَّا بَعْدُ !

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ . اَلشُّكْرُ لِلّٰهِ . ددې کتاب څوارلسم جلد هم د الله ﷻ په فضل و کرم سره پوره شو ، په دې کې مې د غیبت ، چُغل خورۍ ، تکبّر ، د ژبې حفاظت او خاموشۍ فضیلت متعلق اَهمې موضوع ګانې شامل کړي ، ورسره مې په آخر کې یو تقریر لیکلی چې نوم یې دی :

" خالِص په قرآني باندې مشتمل جامِع تقریر "

په دې تقریر کې مې ددې ( اِصْلَاحِیْ مُدَلَّلْ تَقْرِیْرُوْنَه) کتاب د ټولو جلدونو د اَهمو موضوع ګانو خلاصه صرف د آیتونو په ضِمن کې راجمع کړی ، ځکه زما دا عادت دی چې د هر تقریر په آخر کې د هغه تقریر مکمل خلاصه بیانوم ، نو همدغه شان په دې یو تقریر کې مې ددې غونډ کتاب د ټولو جلدونو د اَهمو موضوع ګانو خلاصه په مرَتّب انداز باندې بیان کړی .

خو دا یو تقریر صرف او صرف په قرآني آیتونو باندې مشتمل دی ، احادیث او د علماؤ اَقوال په کې بالکل نشته .

ځکه بعضې ځایونه داسې وي چې هلته مُقرِر دا غواړي چې د اول نه تر آخِر پورې داسې جامِع تقریر اوکړي چې په هغې صرف او صرف د قرآن کریم آیتونه په مرَتّب انداز باندې وي . نو په همدې خاطر مې دا تقریر اُولیکل .

په دې کې اکثر آیتونه په مخکینې موضوع ګانو کې ځای په ځای مُتفرّق ذکر دي خو ما ددې سره نوره اِضافه هم اوکړه او په داسې انداز مې ترتیب ورکړو چې د ټولو نه یو تقریر جوړ شو ، او په خپل مینځ کې مې ورله ربط هم پیدا کړو .

که چیرته مُقرِرین دا تقریر په همدې اَنداز باندې مُرَتّب یاد کړي نو زما دا یقین دی چې په هر ځای کې او د هر چا د وړاندې به په پوره زړَوَرتیا سره جامِع تقریر

کولې شي ، او ورسره ورسره به ددې غونډ کتاب د ټولو اَهمو موضوع ګانو خلاصه هم ورته یاده وي .

**اوله خوشخبري** : اِن شَاءَ الله ددې پسې به پنځلسم (۱۵) جلد هم لیکم چې هغه به هم د الله ﷻ په توفیق سره لږ وخت پس چاپ شي .

## دویمه خوشخبري :( د تقریرونو دویمه سلسله )

د پنځلسم ( ۱۵ ) جلد نه پس به د تقریرونو دا سلسله په یو بل نوم باندې شروع کوم ، ځکه بیا دا موجوده کتاب ډیر غټیږي .

چونکه تر اُوسه هم ډیر اَهمې موضوع ګانې د لیکلو نه پاتې دي ، د یوولسم جلد په آخر کې مې چې په کومو موضوع ګانو باندې د لیکلو وعده کړې وه یا کومو علماؤ چې راته په ټیلفون باندې په ځنې موضوع ګانو باندې د لیکلو مشوره راکړې ده هغه ټولې موضوع ګانې به اِنْ شَاءَ الله په راتلونکې سلسله کې شاملوم ، په هغې کې به هم په همدغه انداز باندې جامع تقریرونه وي .

د پنځلسم جلد نه پس چې د تقریرونو کومه سلسله شروع کوم د هغې نوم به وي:

## " د تقریرونو مُدَلَّلَــــهُ ذَخیره "

د هر کتاب اخیستلو نه مخکې د مؤلِف نوم ضرور ګورئ ، ځکه کوم کتاب چې په معاشره کې په عِلمي حَلقو کې مشهور شي نو د بعضو مَکتبو واله صرف د تجارت په غرَض په همدې نوم باندې نور کتابونه اولیکي .

خو دا یاد لرئ چې په کوم کار کې د چا مقصد خالِص د الله ﷻ رَضا نه وي نو بیا الله تعالی هغې ته هغه شان مقبولیت هم نه ورکوي ، د الله ﷻ په نزد صرف او صرف هغه عمل مقبول وي کوم چې خاص د هغه د رَضا د پاره شوی وي ، څه دُنیوي لالچ په کې نه وي .

الله تعالی دې ماته په صحیح طریقې سره د حق خبرې د لیکلو توفیق راکړي ،

او پروردګار عالم دې دا ټول کتابونه د معاشرې د اِصلاح او د خلقو د فائدې ذريعه اوګرځوي. او الله ﷻ دې دا کتابونه په خپل دربار کې قبول کړي .

اې ربه ! دا ټول کتابونه زما، زما د والدينو ، اُستاذانو او ټول اُمتِ مُسلمه د پاره د مغفرت او نجات ذريعه اوګرځوه.

آمِين يَا رَبَّ الْعَالَمِين .

رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ

**نوټ** : که د کتاب متعلق يا بله څه مفيده مشوره وي نو په دې ۰۳۰٦ ۵۴۴۷۱۷۴ نمبر راسره رابطه کولې شې .

**ابوالشمس نورالهدٰی عفی عنه**

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

# اجمالي فهرست



| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱. | سريزه | ت |
| ۲. | ۱. د غيبت سزاګانې او ددينه د بچ کيدو طريقې | ۱ |
| ۳. | ۲. د چُغل خورۍ سزاګانې او نقصانات | ٦٩ |
| ۴. | ۳. د ژبې حفاظت او خاموشۍ فضيلت | ۱۰۲ |
| ۵. | ٤. د تکبّر سزاګانې او ددينه د بچ کيدو طريقې | ۱۴۷ |
| ٦. | ۵. خالِص په قرآني آيتونو باندې مشتمل جامِع تقرير | ۲۴۵ |
| ۷. | خوشخبري | ۳٦۲ |

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# تفصيلي فهرست


| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ١. | سريزه | ت |
| | **١. د غيبت سزاګانې او ددينه د بچ کيدو طريقې** | ١ |
| ٢. | تمهيدي خبره | ٣ |
| ٣. | د غِيبت تعريف | ٣ |
| ٤. | په اِشارې سره د چا عيب بيانول هم غِيبت دى | ٧ |
| ٥. | د غِيبت حُکم | ٨ |
| ٦. | غِيبت کول ګويا د مَړ ورور مسلمان غوښه خوړل دي | ٩ |
| ٧. | د دوه زَنانهوُ د غِيبت واقعه | ١٠ |
| ٨. | د غِيبت په وجه په خُله کې د غوښې او وينې آثر | ١٢ |
| ٩. | د مِعراج په شپه نبي عليه السلام ته د غِيبت کوونکو اَنجام اُوخودلې شو | ١۴ |
| ١٠ | غيبت کوونکي ته به د قيامت په ورځ د مسلمان غوښه د خوراک د پاره پيش... | ١۵ |
| ١١. | غِيبت کول د خِنزير غوښې خوړلو نه ډير بَدتر دى | ١۵ |
| ١٢. | غِيبت کول د مرداري قچرې خوړلو نه ډير بَدتر دى | ١٦ |
| ١٣. | د غِيبت نه په احاديثو کې منع راغلې | ١٧ |
| ١۴. | د سپکاوي په خاطر د چا نقل کول هم حرام دي | ١٨ |
| ١۵. | غيبت د زِنا نه سخته ګناه ده | ١٩ |
| ١٦. | د غيبت ګناه زياتيدو وجه | ٢٠ |
| ١٧. | زِنا په ټولو مذاهبو کې بې حيائي ګنړلې شي | ٢١ |
| ١٨. | د مسلمان په عزت او آبرو باندې د حملې کولو سخته ګناه | ٢٢ |

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۹. | د غيبت په وجه بَدبُويه هوا پيدا کيدل | ۲۲ |
| ۲۱. | د يو اعتراض جواب | ۲۳ |
| ۲۲. | مثال | ۲۳ |
| ۲۳. | د غيبت په وجه نېک اعمال ختميږي | ۲۴ |
| ۲۴. | د قيامت په ورځ په عملنامه کې نېک اعمال موندل | ۲۵ |
| ۲۵. | د غيبت په وجه د مونځ او روژې کامل ثواب ختميږي | ۲٦ |
| ۲٦. | د غيبت په وجه په عذابِ قبر کې مبتلاء کيدل | ۲۷ |
| ۲۷. | د غيبت په وجه د جهنم مستحق کيدل | ۲۹ |
| ۲۸. | د غيبت کوونکي د پاره په جهنم کې سخت ترين عذاب | ۲۹ |
| ۲۹. | غيبت کوونکي به په جهنم کې مرداره خوري | ۳۲ |
| ۳۰. | د ټولو نه غټ سُود د مسلمان عزت او آبرو ته نقصان رسول دي | ۳۲ |
| ۳۱. | د چا غيبت کول گويا هغه لره بَربنډول دي | ۳۴ |
| ۳۲. | د مسلمان شان دا دی چې دا به بل چا ته ضَرَر نه رسوي | ۳۵ |
| ۳۳. | صحابه کرامو رضي الله عنهم به د يو بل غيبت نه کولو | ۳٦ |
| ۳۴. | غِيبت د بَدترينو خلقو غِذا ده | ۳٦ |
| ۳۵. | غِيبت د دِين د پاره ډير نقصاني دی | ۳٦ |
| ۳٦. | غيبت د ټولو خرابيو جَرړه ده | ۳۷ |
| ۳۷. | د خلقو غيبت کول بيماري ده | ۳۷ |
| ۳۸. | د علماؤ غيبت کول نوره هم سخته گناه ده | ۳۷ |
| ۳۹. | د مړو غيبت هم حرام دی | ۴۱ |
| ۴۰. | د غِيبت اَقسام | ۴۰ |
| ۴۱. | د غيبت اَسباب | ۴۱ |
| ۴۲. | د غيبت نه د بچ کيدو اِجمالي علاج | ۴۴ |
| ۴۳. | د غيبت نه د بچ کيدو تفصيلي علاج | ۴۵ |

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| .۴۴ | په خپله خوبنه غیبت آوریدل هم داسې دی لکه غیبت کول | ۴۹ |
| .۴۵ | واقعه | ۵۰ |
| .۴٦ | چې څوک په مجلس کې غیبت واوري نو منع کوي به یې، یا به د هغه مجلس نه پاڅي | ۵۰ |
| .۴۷ | ابراهیم بن آدهم رَحِمَهُ اللّٰهُ غیبت آوریدل خوښ نکړل | ۵۱ |
| .۴۸ | د غیبت آوریدو د پاره بهانه جوړول ندي په کار | ۵۲ |
| .۴۹ | د مثال په ذریعه وضاحت | ۵۲ |
| .۵۰ | غیبت کوونکی په آسانه د غیبت نه منع کول | ۵۳ |
| .۵۱ | واقعه | ۵۳ |
| .۵۲ | غیبت نه د بچ کیدلو آسانه طریقه | ۵۴ |
| .۵۳ | د غیبت نقصانات | ۵۴ |
| .۵۴ | د غیبت نه د توبې طریقه | ۵۵ |
| .۵۵ | په دُنیا کې معافي غوښتل ضروري ده | ۵۹ |
| .۵٦ | په څنې صورتونو کې غیبت کول جائز دی | ٦۰ |
| .۵۷ | د پنځم قِسم تشریح | ٦۴ |
| .۵۷ | د غونډ تقریر خلاصه | ٦۷ |
| | **۲. د چُغل خورۍ سزاګانې او نقصانات** | ٦۹ |
| .۵۸ | تمهیدي خبره | ۷۱ |
| .۵۹ | د چُغل خورۍ تعریف | ۷۱ |
| .٦۰ | د چُغل خورۍ حُکم | ۷۴ |
| .٦۱ | چُغل خور به (اِبتداءً) جنت ته نه داخلیږي | ۷۵ |
| .٦۲ | آته (۸) قِسمه خلق به (اِبتداءً) جنت ته نه داخلیږي | ۷٦ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| .٦٣ | د چُغل خورى په وجه په عذابِ قبر كې مبتلاء كيدل | ٧٧ |
| .٦٤ | چُغل خوري د وَلدِ زِنا صفت دى | ٨٠ |
| .٦٥ | په خلقو كې بدترين خلق چُغل خواره دي | ٨١ |
| .٦٦ | چُغل خور د جادوگر او شيطان نه هم ډير نقصاني دى | ٨٢ |
| .٦٧ | د چُغل خورى په وجه دوه خاندانونه تباه كيدل | ٨٣ |
| .٦٨ | په خلقو كې بَدترين كس دوه مَخيزى انسان دى | ٨۴ |
| .٦٩ | د دوه مَخيزي انسان د پاره د قيامت په ورځ رَسوائي | ٨٦ |
| .٧٠ | د چُغل خورى په وجه قحط سالي راځي | ٨٧ |
| .٧١ | نبي عليه السلام د بل چا خبرې راوړو نه صحابه كرام منع كړي وو | ٨٨ |
| .٧٢ | چې څوک درته د بل چا چُغل خوري راوړي نو د هغه سره شپږ (٦) كارونه په كار دي | ٨٨ |
| .٧٣ | چُغل خور سره د حضرت علي ﷺ معامله | ٩١ |
| .٧۴ | چُغل خور سره د عُمر بن عبد العزيز رَحِمَهُ اللّٰه معامله | ٩١ |
| .٧٥ | د چغل خورى په وجه درې (٣) جِنايتونه | ٩٢ |
| .٧٥ | چغل خور چې تاته د بل چا خبرې راوړي نو دا به ستا خبرې هم بل ته وَروړي | ٩٣ |
| .٧٦ | چغل خور د ډيرو گناهونو مُرتكِب دى | ٩۴ |
| .٧٧ | چُغل خور هيڅ كله رِښتينى نه وي | ٩۴ |
| .٧٨ | چغل خوري كه صحيح هم وي خو بيا هم قبيحه ده | ٩٥ |
| .٧٩ | د چغل خورى نقصانات | ٩٥ |
| .٨٠ | د چُغل خورى اَسباب | ٩٦ |
| .٨١ | د چُغل خورى علاج : | ٩٦ |
| .٨٢ | اِجمالي علاج | ٩٧ |
| .٨٣ | تفصيلي علاج | ٩٧ |
| .٨۴ | د چغل خورى نه د توبې طريقه | ٩٧ |
| .٨٥ | د چغل خورى نه د بچ كيدو په وجه اُوچته مرتبه | ٩٨ |

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۸۶ | په ځنې صورتونو کې د چا خبره بل ته نقل کول جائز ده | ۹۸ |
| ۸۷ | د غونډ تقرير خلاصه | ۱۰۱ |
| ۸۸ | دُعا | ۱۰۱ |
| | **۲. د ژبې حفاظت او خاموشۍ فضيلت** | ۱۰۲ |
| ۸۹ | ژبه هم لوي نعمت دی | ۱۰۳ |
| ۹۰ | په سترګو کې د الله ﷻ قدرتونه | ۱۰۴ |
| ۹۱ | ژبه او شونډې | ۱۰۴ |
| ۹۲ | د ژبې د صحيح استعمال حُکم | ۱۰۵ |
| ۹۳ | د ژبې نه چې هر لفظ راأوځي نو فرښتې هغه ليکي | ۱۰۶ |
| ۹۴ | په احتياط سره خبرې کول په کار دي | ۱۰۶ |
| ۹۵ | د ژبې په حفاظت سره د جنت ضمانت | ۱۰۷ |
| ۹۶ | بې فائدې خبرو پريخودو سره د جنت مستحق کيدل | ۱۰۹ |
| ۹۷ | جنت او جهنم ته بوتلونکي څيزونه | ۱۱۰ |
| ۹۸ | د ژبې د غلط استعمال په وجه د جهنم مستحق کيدل | ۱۱۰ |
| ۹۹ | د ژبې د غلط استعمال په وجه پړمخ جهنم ته غورځيدل | ۱۱۲ |
| ۱۰۰ | د فضول خبرو په وجه د جنت نه منع کيدل | ۱۱۴ |
| ۱۰۱ | د ژبې د فِتنې نه يَره کول | ۱۱۵ |
| ۱۰۲ | د ګناه اکثره خبرې د ژبې نه صادريږي | ۱۱۹ |
| ۱۰۴ | ژبه په قابو کې ساتل د نجات ذريعه ده | ۱۱۹ |
| ۱۰۵ | د ژبې په حفاظت سره ايمان کامل کيږي | ۱۲۱ |
| ۱۰۶ | د ژبې په حفاظت سره په عيبونو پَرده | ۱۲۱ |
| ۱۰۷ | هر سهر د جسم ټول آندامونو ژبې ته وينا | ۱۲۱ |
| ۱۰۸ | ژبه د زړه ترجمانه ده | ۱۲۲ |

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۰۹ | ژبه او زړه چې صحیح شي نو همدا بهتر اعضاء دي، او چې خراب شي نو همدا فاسِد اعضاء دي | ۱۲۳ |
| ۱۱۰ | د ژبې زخم د تورې او نېزې د زخم نه ډیر خطرناک دی | ۱۲۵ |
| ۱۱۱ | د بې فائدې خبرو کولو په وجه زړه سختیږي | ۱۲۵ |
| ۱۱۲ | ډیرو فضول خبرو سره د مخ وَقار ختمیږي | ۱۲۶ |
| ۱۱۳ | د ژبې سره تړلي ګناه | ۱۲۶ |
| ۱۱۴ | **د خاموشۍ اَهمیت او فضائل** | ۱۲۷ |
| ۱۱۵ | یا د خېر خبره په کار ده، یا چپ کیدل په کار دي | ۱۲۷ |
| ۱۱۶ | فضول خبرو نه ځان ساتلو کې د سړي د اِسلام حُسن دی | ۱۲۸ |
| ۱۱۷ | په څلورو احادیثو باندې د دِین بُنیاد دی | ۱۲۸ |
| ۱۱۸ | په خاموشۍ کې د ډیرو آفتونو نه نِجات دی | ۱۳۰ |
| ۱۱۹ | د خاموشۍ په وجه په شیطان غالِب کیدل | ۱۳۱ |
| ۱۲۰ | د خبرو اَقسام، او د هرقِسم حُکم | ۱۳۲ |
| ۱۲۱ | خاموشي سره زَر ده | ۱۳۳ |
| ۱۲۲ | خاموشي او ښُوش اَخلاقي وَزن دار عمل دی | ۱۳۳ |
| ۱۲۳ | د فضول خبرو نه چپ پاتې کیدل د شپیتو کالو د عبادت نه بهتر دي | ۱۳۴ |
| ۱۲۴ | په خاموشۍ کې اُووه زره (۷۰۰۰) فائدې دي | ۱۳۵ |
| ۱۲۵ | مؤمِن به د خبرو کولو نه مخکې سوچ کوي | ۱۳۶ |
| ۱۲۶ | د جاهِل سړي شپږ څویُونه دي "یو په کې بې فائدې خبرې کول دي" | ۱۳۷ |
| ۱۲۷ | چپ والې د مؤمِن خاص صفت دی | ۱۳۸ |
| ۱۲۸ | د بې فائدې خبرو پریخودو په وجه اُوچتې مرتبې ته رسیدل | ۱۳۹ |
| ۱۲۹ | خاموشي هوښیارتیا ده | ۱۳۹ |
| ۱۳۰ | د څلورو بادشاهانو د حِکمت نه ډکې خبرې | ۱۴۰ |

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۳۱ | په خبرو پښيمانه کيدل | ۱۴۱ |
| ۱۳۲ | ډيرې خبرې کوونکى د ژبې د ګناهونو نه محفوظ نه وي | ۱۴۱ |
| ۱۳۳ | اَشعار | ۱۴۲ |
| ۱۳۴ | د خاموشۍ د فضيلت وجه | ۱۴۲ |
| ۱۳۵ | په نن صبا مجلسونو کې بې اِحتياطي | ۱۴۳ |
| ۱۳۶ | د زَنانه وُ بې اِحتياطي | ۱۴۴ |
| ۱۳۷ | د غونډ تقرير خلاصه | ۱۴۵ |
| ۱۳۸ | دُعا | ۱۴٦ |
| | **٤. د تکبّر سزاګانې او ددينه د بچ کيدو طريقې** | ۱۴۷ |
| ۱۳۹ | تمهيدي خبره | ۱۴۹ |
| ۱۴۰ | د تکبّر تعريف | ۱۴۹ |
| ۱۴۱ | د تکبّر حُکم | ۱۵۱ |
| ۱۴۲ | لوئي صرف د الله ﷻ سره ښائي | ۱۵۳ |
| ۱۴۳ | د الله ﷻ سره په لوئي کې ځان شريکوونکي د پاره سخته سزا | ۱۵۳ |
| ۱۴۴ | بعضې صفات د الله ﷻ سره خاص دي | ۱۵۴ |
| ۱۴۵ | د آخرت کاميابي د تکبّر نه ځان ساتونکو او مُتّقيانو د پاره ده | ۱۵۵ |
| ۱۴٦ | د مُتکبّرينو د پاره سخت عذابونه | ۱۵۵ |
| ۱۴۷ | د تکبر په وجه د جهنم مستحق کيدل | ۱۵٦ |
| ۱۴۸ | جهنم د متکبّرينو د پاره ډير بَد ځاى دى | ۱۵۷ |
| ۱۴۹ | د مُتکبّرينو ځاى جهنم دى | ۱۵۷ |
| ۱۵۰ | متکبّر به پَرمَخ (اُلټه) جهنم ته غورځولې شي | ۱٦۰ |
| ۱۵۱ | متکبّرين به جنت ته نه داخليږي | ۱٦۱ |

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۵۲ | د چا په زړه کې چې معمولي تکبّر وي هغه به جنت ته نه داخلیږي | ۱۶۲ |
| ۱۵۳ | جنت په متکبّرینو باندې حرام دی | ۱۶۳ |
| ۱۵۴ | ابلیس د تکبّر په وجه د جنت نه را اُوشړلې شو | ۱۶۳ |
| ۱۵۵ | د اَوّلنۍ نافرمانۍ بُنیاد تکبّر وُ | ۱۶۴ |
| ۱۵۶ | متکبّر ته د توبې توفیق نه ملاویږي | ۱۶۵ |
| ۱۵۷ | متکبّر د علومِ قرآني او کامِلې پوهې نه محرومه وي | ۱۶۵ |
| ۱۵۸ | تکبّر سره په عقل کې کمې راځي | ۱۶۷ |
| ۱۵۹ | د متکبّر په زړه باندې مُهر لږیدلې وي | ۱۶۸ |
| ۱۶۰ | د اکثره گناهونو جَرړه "تکبّر" دی | ۱۶۸ |
| ۱۶۱ | تکبّر د ټولو مَفاسدو جَرړه ده | ۱۶۹ |
| ۱۶۲ | تکبّر د بَدبَختۍ چابي او مُهلِکه بیماري ده | ۱۶۹ |
| ۱۶۳ | د تکبّر په وجه جنت ته د نه داخلیدو وجه | ۱۷۰ |
| ۱۶۴ | د تکبّر په وجه د انسان نه فضائِل ختمیږي او رَزائل په کې پیدا کیږي | ۱۷۱ |
| ۱۶۵ | چې څوک غټې غټې دعوې کوي نو د هغه نه فیض نه خوَریږي | ۱۷۱ |
| ۱۶۶ | تکبّر د کافرانو صفت دی | ۱۷۲ |
| ۱۶۷ | تکبّر رُوحاني بیمآري ده، ددې لرې کول فرضِ عَین دي | ۱۷۲ |
| ۱۶۸ | الله ﷻ مُتکبّرین نه خوَښوي | ۱۷۲ |
| ۱۶۹ | د قیامت په ورځ به نبي علیه السلام ته مَبغوض ترین خلق مُتکبّرین وي | ۱۷۴ |
| ۱۷۰ | د مُتکبّرینو د پاره د قیامت په ورځ رَسوائي | ۱۷۵ |
| ۱۷۱ | په تکبر سره تلل منع دي | ۱۷۵ |
| ۱۷۲ | تکبّر سره تلونکي کس نه الله ﷻ ناراضه وي | ۱۷۶ |
| ۱۷۳ | بني آدم سره تکبّر نه ښائي | ۱۷۷ |
| ۱۷۴ | انسان دې خپل اَوّلني مینځني او آخري اَنجام ته نظر اوکړي | ۱۷۷ |
| ۱۷۵ | د اِبلیس د فِرعون نه پوښتنه | ۱۷۹ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۷٦ | د تکبّر په وجه پېنځې (يا لنګ) په زمکه راښکونکي ته به الله ﷻ د قيامت په ورځ د رَحمت په نظر او نه ګوري | ۱۸۰ |
| ۱۷۷ | د تکبّر په وجه څادر په زمکه راښکونکی الله تعالی په زمکه ننويست | ۱۸۱ |
| ۱۷۸ | تکبّر کول په زمکه کې د غرقيدو سبب دی | ۱۸۱ |
| ۱۷۹ | د تکبّر په وجه پېنځې په زمکه راښکونکی د شيطان ورور دی | ۱۸۲ |
| ۱۸۰ | که د څه عُذر په وجه پېنځې په خپله ښکته کيدی نو دا خبر دی | ۱۸۳ |
| ۱۸۱ | الله ﷻ مُتکبّر کس لره ذليله کوي | ۱۸۴ |
| ۱۸۲ | عزت په تکبّر کې ندی بلکه په اِسلامي احکاماتو باندې پوره عمل کولو کې دی | ۱۸۵ |
| ۱۸۳ | د عُمر بن عبدالعزيز رَحِمَهُ اللهُ واقعه | ۱۸٦ |
| ۱۸۴ | د مُتکبِّر نه هر کس نفرت کوي | ۱۸۷ |
| ۱۸۵ | متکبّر هم نورو خلقو ته سپَک ښکاري | ۱۸۸ |
| ۱۸٦ | د متکبر مثال | ۱۸۸ |
| ۱۸۷ | **د متکبّرينو اَنجام ډير بَدوي** | ۱۸۹ |
| ۱۸۸ | د تکبّر په وجه د فرعون بَد اَنجام | ۱۸۹ |
| ۱۸۹ | د تکبّر په وجه د نَمرود بَد اَنجام | ۱۸۹ |
| ۱۹۰ | د تکبّر په وجه د قارون بَد اَنجام | ۱۹۱ |
| ۱۹۲ | د تکبّر په وجه د حضرت شعيب عليه السلام د قوم بَد اَنجام | ۱۹۲ |
| ۱۹۳ | د يو متکبّر کس خراب اَنجام | ۱۹۲ |
| ۱۹۴ | مالدار کس د تکبّر په وجه فقير او ذليل کيدل | ۱۹۳ |
| ۱۹۵ | اوله واقعه | ۱۹۳ |
| ۱۹٦ | دويمه واقعه | ۱۹۵ |
| ۱۹۷ | د تکبّر سزا سمدستي ملاويدل | ۱۹٦ |
| ۱۹۸ | د تکبّر په وجه سمدستي قد وروکې کيدل | ۱۹٦ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۹۹ | د يو مُتكبّر بادشاه مرګ | ۱۹۷ |
| ۲۰۰ | د نېک سړي مرګ | ۱۹۹ |
| ۲۰۱ | فرښتې د الله ﷻ نه ويرېږي او تکبّر نه کوي | ۲۰۱ |
| ۲۰۲ | د تکبّر په وجه د آخري خاتمې خرابېدو خطره ده | ۲۰۲ |
| ۲۰۳ | د تکبّر په وجه شيخ ابوعبدالله أندلسيؒ په سخت امتحان کې ګېر شو | ۲۰۲ |
| ۲۰۴ | هميشه تکبّر کوونکی د جبّارينو په فهرست کې ليکلې شي | ۲۰۷ |
| ۲۰۵ | د تکبّر سره نېک اعمال کامله فائده نه کوي | ۲۰۷ |
| ۲۰۶ | د تکبّر په وجه نېک اعمال ختمېږي | ۲۰۸ |
| ۲۰۷ | د فقيرۍ باوجود تکبّر کوونکي د پاره سخته سزا | ۲۰۹ |
| ۲۰۸ | متکبّر فقير به په اَوّلني کسانو کې جهنم ته داخلېږي | ۲۱۰ |
| ۲۰۹ | متکبّر فقير الله ﷻ ته ډېر ناخوښه وي | ۲۱۱ |
| ۲۱۰ | ښائسته کپړې او ښائسته څپلۍ اَچول تکبّر نه دی | ۲۱۲ |
| ۲۱۱ | د تکبّر نه بچ کېدونکي د پاره د جنت زېرې | ۲۱٦ |
| ۲۱۲ | د تکبّر نقصانات او ضَررونه | ۲۱٦ |
| ۲۱۳ | د تکبّر اَسباب | ۲۱۷ |
| ۲۱۴ | د تکبّر علامات | ۲۱۷ |
| ۲۱۵ | د تکبّر اَقسام | ۲۲۲ |
| ۲۱٦ | په عامو خلقو باندې تکبّر کول په الله ﷻ باندې د تکبّر کولو سبب ګرځي | ۲۲۳ |
| ۲۱۷ | په ځنې علماؤ کې تکبّر ډېر زر پيدا کېږي | ۲۲۳ |
| ۲۱۸ | د تکبّر علاج | ۲۲۴ |
| ۲۱۹ | د تکبّر جَرړې ختمولو علاج | ۲۲۵ |
| ۲۲۰ | د تکبّر د اَسبابو علاج | ۲۵۸ |
| ۲۲۱ | د نسب په وجه د پيدا شوي تکبّر علاج | ۲۲۷ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ٢٢٢ | د بناښست په وجه د پيدا شوي تکبّر علاج | ٢٢٧ |
| ٢٢٣ | د قوّت په وجه د پيدا شوي تکبّر علاج | ٢٢٨ |
| ٢٢٣ | د مالدارۍ او نورو خارجي شيانو په وجه د پيدا شوي تکبّر علاج | ٢٢٩ |
| ٢٢٤ | د عِلم په وجه د پيدا شوي تکبّر علاج | ٢٣٠ |
| ٢٢٥ | اوله طريقه | ٢٣٠ |
| ٢٢٦ | دويمه طريقه | ٢٣١ |
| ٢٢٧ | **نبي عليه السلام او صحابه کرامو به د تکبّر پيداکوونکو افعالو او اَقوالو نه ځان ساتل** | ٢٣٣ |
| ٢٢٨ | حضرت عُمر ﷺ به تکبّر نه ځان ساتل | ٢٣٤ |
| ٢٣٠ | حضرت ابوهريرة ﷺ به د تکبّر نه ځان ساتل | ٢٣٧ |
| ٢٣١ | حضرت سلمان فارسي ﷺ به د تکبّر نه ځان ساتل | ٢٣٧ |
| ٢٣٢ | حضرت عبدالله بن سلام ﷺ د تکبّر ختمولو د پاره په بازارکې په خپل سَر باندې د لرګو ګېډې وړلو | ٢٣٨ |
| ٢٣٣ | قاري محمد طيب رَحِمَهُ اللهُ د خُود پسندۍ ختمولو د پاره د تهانوي رَحِمَهُ اللهُ مجلس ته لاړو | ٢٣٩ |
| ٢٣۴ | **د متکبِّرينو سره تکبّر کول جائز دی** | ٢۴٠ |
| ٢٣۵ | د غونډ تقرير خلاصه | ٢۴٣ |
| ٢٣٦ | دُعا | ٢۴۴ |
| | **۵ خالِص په قرآني آيتونو باندې مشتمل جامع تقرير** | ٢۴۵ |
| ٢٣٧ | د مقرِّرينو د پاره راهنمائي | ٢۴٦ |

| | | |
|---|---|---|
| ۲۳۸ | د راتلونکي تقرير اِجمالي خلاصه | ۲۴۷ |
| ۲۳۹ | تفصيلي بيان | ۲۴۹ |
| ۲۴۰ | انسان بناشسته او معزز پيدا شوی | ۲۴۹ |
| ۲۴۱ | نيک عمل | ۲۵۱ |
| ۲۴۲ | د نيک عمل فائده په خپله انسان ته رَسي | ۲۵۱ |
| ۲۴۳ | د الله او رسول اطاعت | ۲۵۲ |
| ۲۴۴ | د مونځ اَهميت او فضائل | ۲۵۵ |
| ۲۴۵ | د قصدًا مونځ پريخودو سزاګاني | ۲۵۹ |
| ۲۴۶ | د روژې فرضيت او فوائد | ۲۶۱ |
| ۲۴۷ | د زکوة اَهميت او فضائل | ۲۶۲ |
| ۲۴۸ | زکوة په مخکيني اُمتونو هم فرض ؤ | ۲۶۵ |
| ۲۴۹ | د زکوة نه ورکولو سزاګاني | ۲۶۷ |
| ۲۵۰ | نفلي صدقات | ۲۶۸ |
| ۲۵۱ | د بُخل نه ځان ساتل په کار دي | ۲۷۲ |
| ۲۵۲ | صدقه د مرګ نه مخکې په کار ده | ۲۷۳ |
| ۲۵۳ | مسلمان به اِسراف نه کوي | ۲۷۵ |
| ۲۵۴ | د حج فرضيت | ۲۷۶ |
| ۲۵۵ | د جهاد فرضيت او اَهميت | ۲۷۷ |
| ۲۵۶ | د جهاد فضائل | ۲۸۱ |
| ۲۵۷ | د قدرت باوجود جهاد نه کوونکو د پاره سخت وعيد | ۲۸۳ |
| ۲۵۸ | هسې بهَانې جوړول ندي په کار | ۲۸۵ |
| ۲۵۹ | د مجاهدينو اُوچت مقام | ۲۸۹ |
| ۲۶۰ | د شهيد مقام | ۲۹۱ |
| ۲۶۱ | حلال کسب کول | ۲۹۳ |
| ۲۶۲ | د حلال خوراک اَهميت | ۲۹۴ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ۲٦۳ | د حرام خوراک نه ځان ساتل | ۲۹۷ |
| ۲٦۴ | د سُود نه ځان ساتل | ۲۹۷ |
| ۲٦۵ | د انسان په ذِمه حقوقُ العباد | ۲۹۹ |
| ۲٦٦ | د والدينو حقوق | ۲۹۹ |
| ۲٦۷ | د عامو مسلمانانو حقوق | ۳۰۲ |
| ۲٦۸ | د گناهونو نه ځان ساتل | ۳۰۵ |
| ۲٦۹ | د رښتيا ويلو اَهميت او د دروغو نه ځان ساتل | ۳۰۸ |
| ۲۷۰ | د باطني بيماريو نه ځان ساتل | ۳۱۰ |
| ۲۷۱ | د غِيبت نه ځان ساتل | ۳۱۱ |
| ۲۷۲ | د چُغل خورۍ نه ځان ساتل | ۳۱۱ |
| ۲۷۳ | د ژبې حفاظت | ۳۱۲ |
| ۲۷۴ | په ژبه باندې ذکر کول | ۳۱۴ |
| ۲۷۵ | د رِيا نه ځان ساتل | ۳۱۴ |
| ۲۷٦ | په اخلاص سره عمل کول | ۳۱۵ |
| ۲۷۷ | د تکبّر نه ځان ساتل | ۳۱۷ |
| ۲۷۸ | د علم اَهميت | ۳۲۴ |
| ۲۷۹ | د علماؤ مقام | ۳۲۷ |
| ۲۸۰ | د طالب العلم مقام | ۳۲۹ |
| ۲۸۱ | قرآن کريم | ۳۲۹ |
| ۲۸۲ | قرآن کريم محفوظ کتاب دی | ۳۲۹ |
| ۲۸۳ | د قرآن کريم مقابله هيڅوک نشي کولی | ۳۳۳ |
| ۲۸۴ | قرآن کريم اِنقلابي کتاب دی | ۳۳۵ |
| ۲۸۵ | د قرآن کريم د تلاوت فضائل | ۳۳۷ |
| ۲۸٦ | په قرآن کريم عمل کول | ۳۴۰ |
| ۲۸۷ | الله تعالی په خپلو بندگانو باندې مهربانه دی | ۳۴۱ |

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ۲۸۸ | د توبې اَهميت او فضائل | ۳۴۳ |
| ۲۸۹ | د دُنيا په ژوند باندې دُهوکه کيدل ندي په کار | ۳۴۷ |
| ۲۹۰ | د شيطان د دُهوکې او اِتباع نه ځان ساتل په کار دي | ۳۴۹ |
| ۲۹۱ | آخرت طرف ته متوجّه کيدل | ۳۵۱ |
| ۲۹۲ | د مرګ نه هيڅوک نه خلاصيږي | ۳۵۳ |
| ۲۹۳ | انسان به په هره مرحله کې د صبر او اِستقامت نه کار اخلي | ۳۵۶ |
| ۲۹۴ | د غونډ تقرير اِجمالي خلاصه | ۳۶۰ |
| ۲۹۵ | دُعا | ۳۶۱ |
| ۲۹۶ | **خوشخبري** | ۳۶۲ |
| ۲۹۷ | ددې ( اِصْلَاحِيْ مُدَلَّلْ تَقْرِيْرُوْنه ) ټول کتاب اِجمالي فهرست | |

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ وَلَا يَغْتَبْ بَّعْضُكُمْ بَعْضًا ۚ اَيُحِبُّ اَحَدُكُمْ اَنْ يَّاْكُلَ لَحْمَ اَخِيْهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوْهُ ۚ ﴾

الحجرات آية ۱۲.

# دِ غيبت سزاګانې او ددينه د بچ كيدو طريقې

تاليف


اَبُو الشَّمْس مولانا نُورُ الهُدیٰ عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فيضُ القُرآن اكاخيل كالونى مردان

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د غيبت سزاګانې او ددينه د بچ کيدو طريقې

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى ، وَسَلَامٌ عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰى .

اَمَّا بَعْدُ فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ :

﴿ وَلَا يَغْتَبْ بَّعْضُكُمْ بَعْضًا ۚ أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَنْ يَّأْكُلَ لَحْمَ أَخِيْهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوْهُ ۚ وَاتَّقُوا اللهَ ۚ إِنَّ اللهَ تَوَّابٌ رَّحِيْمٌ ﴾ . (١)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : يَا مَعْشَرَ مَنْ آمَنَ بِلِسَانِهِ وَلَمْ يَدْخُلِ الْإِيْمَانُ قَلْبَهُ لَا تَغْتَابُوا الْمُسْلِمِيْنَ ، وَلَا تَتَّبِعُوْا عَوْرَاتِهِمْ فَإِنَّهُ مَنِ اتَّبَعَ عَوْرَاتِهِمْ يَتَّبِعُ اللهُ عَوْرَتَهُ ، وَمَنْ يَّتَّبِعِ اللهُ عَوْرَتَهُ يَفْضَحْهُ فِيْ بَيْتِهِ . (٢)

وَقَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ : اَلْغِيْبَةُ أَشَدُّ مِنَ الزِّنَا . (٣)

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْمُ .

---

(١) الحجرات آية ١٢ .

(٢) سنن ابي داؤد كِتَابُ الْأَدَبِ بَابٌ فِي الْغِيبَةِ رقم الحديث ٤٨٨٠ قال الالباني : حسنٌ صحيح ، مسند احمد رقم الحديث ١٩٧٧٦ ، و رقم الحديث ١٩٨٠١ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ٢١١٣٦ ، شعب الايمان رقم الحديث ٦٢٧٨ ، و رقم الحديث ٩٢١٣ ، و رقم الحديث ١٠٦٨٢ ، شرح السنّة للبغوي باب النهي عن تتبع عورات المسلمين رقم الحديث ٣٥٢٦ ، مجمع الزوائد باب ماجاء في الغيبة والنميمة رقم الحديث ١٣١٣١ وقال الهيثمي : رواه ابو يعلى و رجاله ثقات ، كنز العمال باب الغيبة رقم الحديث ٨٠٢١ ، و رقم الحديث ٨٠٨٣ ، الصمت لابن ابي الدنيا رقم الحديث ١٦٨ .

(٣) شعب الايمان رقم الحديث ٦٣١١٥ تحريم اعراض الناس وما يلزم من ترك الوقوع فيها ، مشكوة المصابيح بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيبَةِ وَالشَّتْمِ اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ رقم الحديث ٤٨٧٤(٦٣) ، المعجم الاوسط رقم الحديث ٦٥٩٠ ، الترغيب والترهيب لقوام السنّة رقم الحديث ٢٢٣٠ ، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٢٣ الترهيب من الغيبة والبهت وبيانهما ما جاء في ذم الغيبة ، مجمع الزوائد باب ماجاء في الغيبة والنميمة رقم الحديث ١٣١٢٨ ، كنز العمال رقم الحديث ٨٠٢٦ ، و رقم الحديث ٨٠٤٣ ، الزواجر عن اقتراف الكبائر ج٢ ص ١٦ الغيبة والسكوت عليها ، الصمت لابن ابي الدنيا رقم الحديث ١٦٣ ، ذم الغيبة والنميمة لابن ابي الدنيا رقم الحديث ٢٦ .

# تمهيدي خبره

زما خوږو قدرمنو او عزت منډو مسلمانانو ورونو ! ژبه د انسان د پاره ډېر لوي نعمت دی، اګر چې دا د غوښې يوه ټوټه ده خو په دې باندې مونږ خپل اِظهار مَافِي الضّمير په آسانې طريقې سره کولې شو ، همدارنګې ددې په ذريعه مونږ د هر قِسمه شيانو خوَند هم معلومولې شو.

که مونږ خپله ژبه صحيح استعمال کړو نو ددې په ذريعه مونږ ډېر اَجرونه او ثوابونه حاصلولې شو ، خو که غلطه يې استعمال کړو نو دا بيا د ډېرو ګناهونو سبب ګرځي ، دغه وجه ده چې اسلامي شريعت د ژبې د حفاظت ډېر تاکيد کړې دی.

اوس د ژبې سره چې کوم ګناهونه تعلق لري په هغې کې يوه ګناه " غِيبت کول " هم دي ، غِيبت داسې خطرناکه ګناه ده چې دا په ټوله معاشره کې خوَره شوی او ډېر لوي لوي خلق په دې مرض کې مبتلاء دي ، بيا خاصکر نن صبا په اکثره مجلسونو کې د غِيبت بازار ګرم دی ، ډېر کم مجلسونه به داسې وي چې هغه د غِيبت نه خالي وي. (١)

حالانکه په قرآن کريم او احاديثو کې د غِيبت نه صراحةً منع راغلی ، او ددې ډېرې سختې سزاګانې ذکر شوي.

نو په همدې خاطر اِنْ شَاءَ الله نن به درته د غِيبت متعلق تفصيلي بيان کوم : چې غِيبت چاته وايي ؟ ددې حُکم څه دی ؟ ددې سزاګانې او نقصانات څه دي ؟ ددې اَسباب څه دي ؟ ددې اَقسام څومره دي ؟ ددينه د توبې او بچ کېدو طريقې څه دي ؟ او په کومو صورتونو کې د غِيبت اجازت شته ؟

خو د ټولو نه اول درته د غِيبت تعريف کوم چې غِيبت چاته وايي ؟

## د غيبت تعريف

علماؤ د غِيبت ډېر تعريفونه کړي ، د هغې ټولو خلاصه داده :

غِيبت ديته وايي چې د يو چا پَشي شا ( د هغه په غيرموجودګی کې ) د هغه داسې عيب

---

(١) قَالَ النَّوَوِيُّ رَحِمَهُ اللهُ : اِعْلَمْ أَنَّ الغِيبَةَ مِنْ أَقْبَحِ القَبَائِحِ . وَأَكْثَرِهَا انْتِشَارًا بَيْنَ النَّاسِ حَتّٰى لَا يَسْلَمَ مِنْهَا إِلَّا القَلِيلُ مِنَ النَّاسِ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج٧ ص ٣٠٣٢ بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالغِيبَةِ وَالشَّتْمِ .

بيان كړې شي چې كه هغه پرې خبر شي نو بَد يې ګڼړي (او پرې خفه كيږي).

اوس برابره خبره ده چې كه دا عيب د هغه په بدن كې وي، يا د هغه په جامو كې وي، يا د هغه په اخلاقو كې وي، يا د هغه په خبرو كې وي، او يا د هغه بل عيب وي. (١)

---

(١) قَالَ الجُرْجَانِيُّ رَحِمَهُ اللهُ : اَلْغِيْبَةُ : ذِكْرُ مَسَاوِئِ الْإِنْسَانِ فِيْ غَيْبَتِهِ وَهِيَ فِيْهِ. التعريفات ص ١٦٣ باب الغين.

وَقَالَ الْمُنَاوِيُّ رَحِمَهُ اللهُ : اَلْغِيْبَةُ : أَنْ تَذْكُرَ أَخَاكَ بِمَا يَكْرَهُهُ. فَإِنْ كَانَ فِيْهِ فَقَدِ اغْتَبْتَهُ.... قَالَ : وَمِنْ أَحْسَنِ تَعَارِيْفِهَا: ذِكْرُ الْعَيْبِ بِظَهْرِ الْغَيْبِ. التوقيف على مهمات التعاريف ص ٢٥۴

وَقَالَ الْكَفَوِيُّ رَحِمَهُ اللهُ : أَنْ يَتَكَلَّمَ خَلْفَ إِنْسَانٍ مَسْتُوْرٍ بِكَلَامٍ هُوَ فِيْهِ. الكليات ص ٦٦٩

وَقَالَ التَّهَانَوِيُّ رَحِمَهُ اللهُ : اَلْغِيْبَةُ : أَنْ تَذْكُرَ أَخَاكَ بِمَا يَكْرَهُهُ لَوْ بَلَغَهُ. سَوَاءٌ ذَكَرْتَ نُقْصَانًا فِيْ بَدَنِهِ أَوْ فِيْ لُبْسِهِ، أَوْ فِيْ خُلُقِهِ، أَوْ فِيْ فِعْلِهِ، أَوْ فِيْ قَوْلِهِ، أَوْ فِيْ دِيْنِهِ، أَوْ فِيْ دُنْيَاهُ، أَوْ فِيْ وَلَدِهِ، أَوْ فِيْ ثَوْبِهِ، أَوْ فِيْ دَارِهِ، أَوْ فِيْ دَابَّتِهِ. قَالَ : وَلَا تَقْتَصِرُ الْغِيْبَةُ عَلَى الْقَوْلِ، بَلْ تَجْرِيْ أَيْضًا فِي الْفِعْلِ كَالْحَرَكَةِ وَالْإِشَارَةِ وَالْكِنَايَةِ. لِمَا وَرَدَ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّهَا أَشَارَتْ بِيَدِهَا إِلَى امْرَأَةٍ أَنَّهَا قَصِيْرَةٌ فَقَالَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : «اِغْتَبْتِهَا». وَالتَّصْدِيْقُ بِالْغِيْبَةِ غِيْبَةٌ. كشاف اصطلاحات الفنون ٣/ ١٠٩١

قَالَ ابْنُ حَجَرٍ رَحِمَهُ اللهُ : هِيَ ذِكْرُ الْمَرْءِ بِمَا يَكْرَهُهُ، سَوَاءٌ كَانَ ذٰلِكَ فِيْ بَدَنِ الشَّخْصِ أَوْ دِيْنِهِ أَوْ دُنْيَاهُ، أَوْ نَفْسِهِ أَوْ خُلُقِهِ أَوْ مَالِهِ. وَقَالَ الرَّاغِبُ رَحِمَهُ اللهُ: هِيَ أَنْ يَذْكُرَ الْإِنْسَانُ عَيْبَ غَيْرِهِ مِنْ غَيْرِ مُحْوِجٍ إِلَى ذِكْرِ ذٰلِكَ.

وَقَالَ ابْنُ الْأَثِيْرِ رَحِمَهُ اللهُ : اَلْغِيْبَةُ أَنْ تَذْكُرَ الْإِنْسَانَ فِيْ غَيْبَتِهِ بِسُوْءٍ وَإِنْ كَانَ فِيْهِ.

وَقَالَ ابْنُ التِّيْنِ رَحِمَهُ اللهُ : اَلْغِيْبَةُ ذِكْرُ الْمَرْءِ مَا يَكْرَهُهُ بِظَهْرِ الْغَيْبِ. فتح الباري ١٠/ ۴٨۴، نضرة النعيم في مكارم أخلاق الرسول الكريم صلى الله عليه وسلم ج ١١ ص ٥١٦٣ الغيبة.

قال الملا علي قاري رَحِمَهُ اللهُ : وَذِكْرُكَ فِيْهِ بِمَا يَكْرَهُهُ عَامٌّ، سَوَاءٌ كَانَ فِيْ بَدَنِهِ أَوْ دِيْنِهِ أَوْ دُنْيَاهُ أَوْ نَفْسِهِ أَوْ خُلُقِهِ أَوْ مَالِهِ أَوْ وَلَدِهِ أَوْ وَالِدِهِ أَوْ زَوْجِهِ أَوْ خَادِمِهِ أَوْ ثَوْبِهِ أَوْ مَشْيِهِ وَحَرَكَتِهِ وَبَشَاشَتِهِ وَعَبُوْسَتِهِ وَطَلَاقَتِهِ. أَوْ غَيْرِ ذٰلِكَ مِمَّا يَتَعَلَّقُ بِهِ، سَوَاءٌ ذَكَرْتَهُ بِلَفْظِكَ أَوْ كِتَابِكَ أَوْ رَمَزْتَ أَوْ أَشَرْتَ إِلَيْهِ بِعَيْنِكَ أَوْ يَدِكَ أَوْ رَأْسِكَ وَنَحْوِ ذٰلِكَ. وَضَابِطُهُ أَنَّ كُلَّ مَا أَفْهَمْتَ بِهِ غَيْرَكَ نُقْصَانَ مُسْلِمٍ فَهُوَ غِيْبَةٌ مُحَرَّمَةٌ. وَمِنْ ذٰلِكَ الْمُحَاكَاةُ بِأَنْ يَمْشِيَ مُتَعَارِجًا أَوْ مُطَأْطِئًا. أَوْ عَلَى غَيْرِ ذٰلِكَ مِنَ الْهَيْئَاتِ مُرِيْدًا حِكَايَةَ هَيْئَةِ مَنْ يَنْتَقِصُهُ بِذٰلِكَ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج٧ ص ٣٠٣٢ بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيْبَةِ وَالشَّتْمِ في تشريح حديث ۴٨٢٩.

تعريفُ الغيبة وحدُّها المتفق عليه: الغيبةُ هي ذكرُ المرء المُعيَّن غير الكافر المُحارب، وغير الظالم بما يكرهه من أمور دنياه أو دينه الذي استتر به، سواء ذكرته باللفظ أو بالإشارة والرمز. آفات اللسان ابو فيصل البدراني ۴/١.

د غيبت همدا تعريف په احاديثو مباركهؤ كې هم ذكر دى :

١ . د مسلم شريف او ابوداؤد شريف حديث دى ، حضرت ابوهريرة رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صحابه كرامو رضي الله عنهم ته اوفرمايل :

أَتَدْرُوْنَ مَا الْغِيْبَةُ ؟ آيا تاسو پوهيږئ چې غِيبت څه ته وايي ؟

صحابه كرامو رضي الله عنهم عرض اوكړو :

اَللهُ وَرَسُوْلُهُ أَعْلَمُ . الله او د هغه رسول ښه پوهيږي .

نبي عليه السلام ( په خپله د غِيبت تعريف كولو سره ) اوفرمايل :

ذِكْرُكَ أَخَاكَ بِمَا يَكْرَهُ . د خپل وږور داسې ذكر كول چې هغه دا بَد گڼړي .

( يعنى د هغه داسې عيب بيانول چې هغه ددې په اَوريدو سره خفه كيږي ) .

د نبي عليه السلام نه پوښتنه اوشوه : ( اې د الله رسوله ! ) ماته ددې په باره كې خبر راكړه چې كه زما په ورور كې دا عيب وي كوم چې زه بيانوم ؟ ( نو آيا دا هم غِيبت دى ؟ )

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل :

إِنْ كَانَ فِيْهِ مَا تَقُوْلُ فَقَدِ اغْتَبْتَهُ ، وَإِنْ لَمْ يَكُنْ فِيْهِ فَقَدْ بَهَتَّهُ .

كه چيرته په هغه كې يقيني دا عيب وي كوم چې ته ذكر كوې نو دا تا د هغه غِيبت اوكړو ، او كه په هغه كې څه عيب نه وي ( او ته ورته د عيب نِسبت كوې ) نو دا تا په هغه باندې بُهتان اولږول ( او د بُهتان گناه خو د غيبت نه نوره هم زياته ده ) . (١)

(١) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: « أَتَدْرُوْنَ مَا الْغِيْبَةُ ؟ » قَالُوْا: اَللهُ وَرَسُوْلُهُ أَعْلَمُ . قَالَ: « ذِكْرُكَ أَخَاكَ بِمَا يَكْرَهُ » قِيْلَ أَفَرَأَيْتَ إِنْ كَانَ فِي أَخِي مَا أَقُوْلُ؟ قَالَ : « إِنْ كَانَ فِيْهِ مَا تَقُوْلُ فَقَدِ اغْتَبْتَهُ ، وَإِنْ لَمْ يَكُنْ فِيْهِ فَقَدْ بَهَتَّهُ » . صحيح مسلم كتاب البِرِّ وَالصِّلَةِ وَالْآدَابِ بَابُ تَحْرِيْمِ الْغِيْبَةِ رقم الحديث ٧٠ ( ٢٥٨٩ ) ، سنن ابى داؤد كِتَابُ الْأَدَبِ بَابٌ فِي الْغِيْبَةِ رقم الحديث ٤٨٧٤ ، مشكوة المصابيح بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيْبَةِ وَالشَّتْمِ الْفَصْلُ الأول رقم الحديث ٤٨٢٨(١٧) ، سنن الترمذي بابُ ماجاء في الغيبة رقم الحديث ١٩٣٤ ، مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ٢٥٥٣٨ ، مسند احمد رقم الحديث ٧١٤٦ ، صحيح ابن حبان رقم الحديث ٥٧٥٨ ، شعب الايمان رقم الحديث ٦٢٩٣ ، كنزالعمال رقم الحديث ٨٠١٢ الغيبة .

**فائده** : ددې حديث نه معلومه شوه چې که په چا کې حقيقةً څه عيب وي نو د هغه په غيرموجودګۍ کې ددې تذکره هم نده په کار .

ډير خلق دا ګمان کوي چې که په چا کې حقيقةً څه عيب وي نو د هغې تذکره کول غيبت ندی ، دغه وجه ده چې کله دوی ته وويلې شي چې " غيبت مه کوئ " نو دوی وايي چې مونږ خو حقيقت بيانوو په هغه کې يقيني دا عيب شته . نو دا د دوی غلط فهمي ده ځکه په مذکوره حديث کې صراحةً ذکر شو چې غِيبت همدې ته وايي چې : په هغه کې يقيني عيب وي او ته پشي شا د هغې تذکره کوی ، او چې عيب په کې نه وي او ته هغه ته ددې نِسبت کوی نو دا خو بيا تا په هغه باندې بُهتان اولږول ، او د بُهتان سزا د غيبت نه زياته ده . (١)

٢. يو ځل ځنې خلقو د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم د وړاندې د يو کس تذکره اوکړه چې هغه په خپله خوراک نشي کولی او په خپله په سوَرلۍ هم نشي سوَرېدی بلکه نورو ته محتاج دی . نبي عليه السلام ورته اوفرمايل :

اِغْتَبْتُمُوْهُ . تاسو د هغه غيبت اوکړو .

صحابه کرامو رضي الله عنهم اوفرمايل : مونږ خو د هغه په باره کې هغه خبرې ذکر کړی چې په هغه کې موجود وی . نبي عليه السلام ورته اوفرمايل :

غيبت همدا دی چې ته د خپل (اِسلامي) وړور هغه عيبونه ذکر کړی کوم چې په هغه کې موجود وي . (٢)

---

(١) اَلْفَرْقُ بَيْنَ الْغِيْبَةِ وَالْبُهْتَانِ : قَالَ الْجُرْجَانِيُّ رَحِمَهُ اللهُ : اَلْغِيْبَةُ : ذِكْرُ مَسَاوِئِ الْإِنْسَانِ فِيْ غَيْبَتِهِ وَهِيَ فِيْهِ . وَإِنْ لَمْ تَكُنْ فِيْهِ فَهِيَ بُهْتَانٌ . التعريفات ص ١٦٣ باب الغين

اَلْبُهْتَانُ فِي الْإِصْطِلَاحِ : ذِكْرُكَ أَخَاكَ بِمَا لَيْسَ فِيْهِ . التعريفات للجرجاني ١٤٣ ط الحلبي.

وَالْفَرْقُ بَيْنَ الْغِيْبَةِ وَالْبُهْتَانِ هُوَ : أَنَّ الْغِيْبَةَ ذِكْرُ الْإِنْسَانِ فِيْ غَيْبَتِهِ بِمَا يَكْرَهُ ، وَالْبُهْتَانَ وَصْفُهُ بِمَا لَيْسَ فِيْهِ ، سَوَاءٌ كَانَ ذٰلِكَ فِيْ غَيْبَتِهِ أَمْ فِيْ وُجُوْدِهِ . جامع البيان ٢٦ / ١٣٧ طبع الحلبي، وشرح صحيح مسلم ١٦ / ١٤٢.
الموسوعة الفقهية الكويتية ج ٣١ ص ٣٣٠ البُهْتَانُ

(٢) عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ ، عَنْ أَبِيْهِ ، عَنْ جَدِّهِ ، أَنَّهُمْ ذَكَرُوْا عِنْدَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا ، فَقَالُوْا : " لَا يَأْكُلُ حَتّٰى يُطْعَمَ ، وَلَا يَرْحَلُ حَتّٰى يُرْحَلَ لَهُ ، فَقَالَ لَهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : اِغْتَبْتُمُوْهُ ، ←←←←

## په اِشارې سره د چا عېب بيانول هم غيبت دی

غِيبت لکه څرنګې چې په خُله باندې کيږي همدغه شان د چا عېب په اِشارې سره بيانول هم په غِيبت کې راځي :

( حضرت صفيه رضي الله عنها د نبي عليه السلام بي بي وه ، ددې قد لږ وروکې ؤ ) حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چې ما نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته اوفرمايل :

حَسْبُكَ مِنْ صَفِيَّةَ كَذَا وَكَذَا .

صفيه رضي الله عنها ستاسو د پاره دومره دومره کافي ده .

(په كَذَا وَكَذَا سره حضرت عائشې رضي الله عنها خپلې لويشت طرف ته اِشاره اوکړه ) مقصد يې دا ؤ چې هغه لنډۍ ده .

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل :

لَقَدْ قُلْتِ كَلِمَةً لَوْ مُزِجَتْ بِمَاءِ الْبَحْرِ لَمَزَجَتْهُ .

(اې عائشې !) تا داسې کلِمه وويله که چيرته دا د دَرياب اُوبو سره يو ځای شي نو په هغې باندې به غالِب شي . (١)

---

←←← فَقَالُوا: إِنَّمَا حَدَّثْنَا بِمَا فِيهِ . قَالَ : حَسْبُكَ إِذَا ذَكَرْتَ أَخَاكَ بِمَا فِيهِ . شرح السنة للبغوي كتاب البر والصلة بَابُ تَحْرِيمِ الغِيْبَة رقم الحديث ٣٥٦٢ ، الترغيب والترهيب لقوام السنّة رقم الحديث ٢٢٣٥ ، نضرة النعيم ج١١ ص ١٥٦٧ الغيبة ، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٤٢٩٠ الترغيب من الغيبة والبهت وبيانهما، وقال المنذري : رواه الاصبهاني بإسناد حسن . الزواجر عن اقتراف الكبائر ج٢ ص ١٢ الكبيرة الثامنة والتاسعة والاربعون بعد المائتين الغيبة والسكوت عليها .

(١) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ : قُلْتُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : حَسْبُكَ مِنْ صَفِيَّةَ كَذَا وَكَذَا ، (قَالَ غَيْرُ مُسَدَّدٍ: تَعْنِي قَصِيرَةً ) فَقَالَ: « لَقَدْ قُلْتِ كَلِمَةً لَوْ مُزِجَتْ بِمَاءِ الْبَحْرِ لَمَزَجَتْهُ » . قَالَتْ : وَحَكَيْتُ لَهُ إِنْسَانًا . فَقَالَ: « مَا أُحِبُّ أَنِّي حَكَيْتُ إِنْسَانًا وَأَنَّ لِي كَذَا وَكَذَا » . سنن ابي داؤد كِتَابُ الأَدَبِ بَابٌ فِي الْغِيبَةِ رقم الحديث ٤٨٧٥ قال الالباني: صحيح. الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٤٢٨٦ الترهيب من الغيبة والبهت وبيانهما ، رياض الصالحين باب تحريم الغيبة والامر بحفظ اللسان رقم الحديث ١٥٢٥(١٥) ، كنز العمال الغيبة رقم الحديث ٨٠١٥، مشكوة المصابيح بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيبَةِ وَالشَّتْمِ اَلْفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ٤٨٥٣(٤٢) .

(يعنى د ديرې بدبويۍ په وجه به د سمندر خوَند او بُوى بدل کړي) . (١)

## د غيبت حُکم

په اتفاق د فقهاؤ سره غِيبت حرام دى ، تر دې چې مفسّرينو او فقهاؤ غِيبت په ګناهِ کبيره کې شمار کړى :

امام قرطبي رَحِمَهُ اللَّهُ ليکلي چې په دې کې د هيڅ اختلاف نشته چې غيبت ګناهِ کبيره ده، او څوک چې غِيبت اوکړي نو په هغه باندې دا لازم دي چې ددينه توبه اُوباسي . (٢)

امام ذهبي رَحِمَهُ اللَّهُ په "الکبائر" کې غيبت کول او په رَضا سره غيبت اَوريدل مستقله ګناهِ کبيره شمار کړي ، او په دې باندې يې دير آيتونه او احاديث راوړي دي . (٣)

غِيبت د زِنا ، شراب څکلو ، او نورو ګناهونو په شان حرامِ قطعي دى ، بلکه د غِيبت ګناه

---

(١) ومعنى "مزَجَتْهُ" : خَالَطَتْهُ مُخَالَطَةً يَتغَيَّرُ بِهَا طَعْمُهُ أَوْ رِيحُهُ لِشِدَّةِ نَتْنِهَا وَقُبْحِهَا. وهٰذَا مِنْ أَبْلَغِ الزَّواجِرِ عَنِ الْغِيبَةِ. رياض الصالحين ج١ ص ٤٣٠ كتاب الأمُور المَنهي عَنهَا باب تحريم الغيبة والأمر بحفظ اللسان في تشريح حديث ١٥٢٥(١٦).

(٢) اَلغِيبَةُ حَرَامٌ بِاتِّفَاقِ الفُقَهَاءِ ، وَذَهَبَ بَعْضُ المُفَسِّرِينَ وَالفُقَهَاءِ إِلى أَنَّهَا مِنَ الكَبَائِرِ . قَالَ القُرطُبِيُّ رَحِمَهُ اللَّهُ : لَا خِلَافَ أَنَّ الغِيبَةَ مِنَ الكَبَائِرِ ، وَأَنَّ مَنِ اغْتَابَ أَحَدًا عَلَيْهِ أَنْ يَتُوبَ إِلَى اللهِ عَزَّ وَجَل . احكام القرآن للقرطبي ١٦ / ٣٣٦، ٣٣٧، الزواجر ٢ / ٧. الموسوعة الفقهية الكويتية ج ٣١ ص ٣٣٢ غيبة.

قال النووي رحمه الله : وأما حُكمُهُما (اي الغِيبَة والنَّمِيمَة) فهُما مُحرمتانِ بإجماعِ المسلمين، وقد تظاهرَ على تحريمهما الدّلائلُ الصّريحةُ من الكتاب والسنة وإجماع الأمّة . الاذكار للنووي ج ١ ص ٥٣٦ باب تحريم الغِيبَة والنَّمِيمَة

(٣) اَلكَبِيرَةُ الثَّامِنَةُ وَالتَّاسِعَةُ وَالأَرْبَعُونَ بَعْدَ المِائَتَيْنِ الغِيبَةُ وَالسُّكُوتُ عَلَيْهَا ....

بيا روستو فرمايي ، فَظَهَرَ أَنَّ الَّذِي دَلَّتْ عَلَيْهِ الدَّلَائِلُ الكَثِيرَةُ الصَّحِيحَةُ الظَّاهِرَةُ أَنَّهَا كَبِيرَةٌ لَكِنَّهَا تَخْتَلِفُ عِظَمًا وَضِدَّهُ بِحَسَبِ اخْتِلَافِ مَفْسَدَتِهَا ، وَظَهَرَ أَيْضًا أَنَّهَا الدَّاءُ العُضَالُ وَالسُّمُّ الَّذِي فِي الأَلْسُنِ أَحْلَى مِنَ الزُّلَالِ وَقَدْ جَعَلَهَا مَنْ أُوتِيَ جَوَامِعَ الكَلِمِ عَدِيلَةَ غَصْبِ المَالِ وَقَتْلِ النَّفْسِ بِقَوْلِهِ: « كُلُّ المُسْلِمِ عَلَى المُسْلِمِ حَرَامٌ دَمُهُ وَمَالُهُ وَعِرْضُهُ » . وَالغَصْبُ وَالقَتْلُ كَبِيرَتَانِ إِجْمَاعًا فَكَذَا ثَلْمُ العِرْضِ . الزواجر عن اقتراف الكبائر ج٢ ص٨، وص ٢٢ .

د بعضې کبيره ګناهونو نه ډيره سخته ده ، ځکه بعضې ګناهونه صرف په توبه ويستلو سره معاف کيږي ليکن د غيبت تعلق د حقوق العباد سره دی تر څو پورې چې هغه کس ورته معافي نه وي کړي د چا غيبت يې چې کړی نو تر هغې پورې ورته دا ګناه نه معاف کيږي.

## غيبت کول ګويا د مړ ورور مسلمان غوښه خوړل دي

په دې کې هيڅ شک نشته چې ټول مؤمنان په خپل مينځ کې اسلامي وروڼه دي ، الله تعالی فرمايي : ﴿ إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ ﴾. (١)

ترجمه : بيشکه مؤمنان د يو بل وروڼه دي.

او د يو مسلمان ورور غيبت کولو نه په قرآن کريم کې په سختو الفاظو سره منع راغلې ، بلکه د غيبت تشبيه د خپل مړ ورور د غوښې خوړلو سره ورکړې شوې.

١. الله تعالی فرمايي :

﴿ وَلَا يَغْتَبْ بَعْضُكُمْ بَعْضًا ۚ أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَنْ يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ ۚ إِنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ رَحِيمٌ ﴾. (٢)

ترجمه : او په تاسو کې دې بعضې د بعضو نورو غيبت نه کوي ، آيا په تاسو کې څوک دا خوښوي چې هغه د خپل مړ ورور غوښه اوخوري ؟ پس تاسو خو دا بد ګڼرئ ( نو غيبت هم د همدې په شان دی ، دا هم بد اوګڼرئ ) او د الله ﷻ نه اوويريږئ ، بيشکه الله تعالی توبه قبلوونکی مهربان دی.

**فائده** : ددې آيت نه معلومه شوه چې څوک د بل غيبت کوي نو دا داسې ګناه او قبيح کار دی لکه يو کس د خپل مړ ورور مسلمان غوښه خوري ، نو لکه څرنګې چې خلق دا بد ګڼري نو همدغه شان غيبت هم بد ګڼرل په کار دي او ددېنه هم ځان ساتل په کار دي.

٢. حضرت عبدالله بن مسعود ﷜ فرمايي چې مونږ د نبي عليه السلام سره په مجلس

(١) الحجرات آية ١٠.
(٢) الحجرات آية ١٢.

کې ناست وو يو کس د مجلس نه پاڅېد، يو بل کس د هغه متعلق څه خبرې اوکړې (يعنی د هغه غيبت يې اوکړو)، نبي عليه السلام ده ته اوفرمايل:

تَخَلَّلْ. ته خِلال اوکړه (يعنی د غابښونو نه غوښه صفا کړه).

هغه کس ووېل: وَمِمَّ أَتَخَلَّلُ؟ مَا أَكَلْتُ لَحْمًا.

زه ولې خِلال اوکړم؟ ما خو غوښه نده خوړلې.

نبي عليه الصلاة والسلام ورته اوفرمايل: إِنَّكَ أَكَلْتَ لَحْمَ أَخِيْكَ.

بيشکه تا (په غيبت کولو سره) د خپل ورور غوښه اُوخوړه. (١)

## د دوه زَنانهٔ د غِيبت واقعه

په احاديثو کې دا واقعه ذکر ده چې د نبي عليه السلام په زمانه کې دوه زَنانهٔ روژه نيولې وه، يو کس پيغمبر عليه السلام ته راغی او ورته وې فرمايل:

إِنَّ هَاهُنَا امْرَأَتَيْنِ صَامَتَا وَقَدْ كَادَتَا أَنْ تَمُوْتَا مِنَ الْعَطَشِ.

بيشکه دلته دوه زَنانهٔ روژه نيولې ده او قريبه ده چې دوی دواړه د سختې تَندې د وجې نه وفات شي.

نبي عليه السلام ورنه اِعراض اوکړو او چُپ شو. هغه کس ورته بيا راغی او عرض يې اوکړو: اې د الله رسوله! قسَم په الله دوی د سختې تندې د وجې نه وفات شوی (يا قريبه ده چې وفات به شي). نبي عليه السلام ورته اوفرمايل:

اِئْتُوْنِيْ بِهِمَا. دوی دواړه ماته راولئ.

کله چې دا دواړه راغلې نو پيغمبر عليه السلام يو غټه پيالی يا ګلاس راأوغوښت، او

---

(١) عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: كُنَّا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَامَ رَجُلٌ. فَوَقَعَ فِيْهِ رَجُلٌ مِنْ بَعْدِهِ. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: تَخَلَّلْ. فَقَالَ: وَمِمَّ أَتَخَلَّلُ؟ مَا أَكَلْتُ لَحْمًا. قَالَ: إِنَّكَ أَكَلْتَ لَحْمَ أَخِيْكَ. الزواجر من اقتراف الكبائر ج٢ ص ١٢ الكَبِيْرَةُ الثَّامِنَةُ وَالتَّاسِعَةُ وَالْأَرْبَعُوْنَ بَعْدَ الْمِائَتَيْنِ الْغِيْبَةُ وَالسُّكُوْتُ عَلَيْهَا. المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ١٠٠٩٢، الترغيب والترهيب للمنذري، رقم الحديث ٤٢٩١ الترهيب من الغيبة والبهت وبيانهما، مجمع الزوائد ومنبع الفوائد رقم الحديث ١٣١٣٢، كنز العمال رقم الحديث ٨٠٥٢.

دې يوې زَنانه ته يې وويل: قِيْئِيْ . په دې کې قې (اَلتي) اوکړه.
نو دې د نو، وينې او زَوُو اَلتي اوکړي تر دې چې نيم ګلاس يې ډک کړو.
بيا نبي عليه السلام دې بلې زَنانه ته وويل:
قِيْئِيْ . (اوس) ته اَلتي اوکړه.
نو دې هم د نَوُونو، وينې او زَوُو اَلتي اوکړې، تر دې چې ګلاس يې ډک کړو.
نبي عليه السلام اوفرمايل:

إِنَّ هَاتَيْنِ صَامَتَا مِمَّا أَحَلَّ اللهُ لَهُمَا ، وَأَفْطَرَتَا عَلَى مَا حَرَّمَ اللهُ عَلَيْهِمَا . جَلَسَتْ إِحْدَاهُمَا إِلَى الْأُخْرَى فَجَعَلَتَا تَأْكُلَانِ لُحُومَ النَّاسِ.

بيشکه دې دوه زَنانه وُ د هغه څيز نه روژه نيولې وه کوم چې الله تعالى دوى ته حلال کړې وُ (يعنى حلال رزق) ، او په هغه څيز يې ماته کړه کوم چې ورته الله ﷻ حرام کړې دى ، په دې کې يوه د بلې سره ناسته وه او د خلقو غوَښې يې خوړلى. (١)

(يعنى اګر چې دوى د حلال خوراک نه روژه نيولې وه خو د خلقو غِيبت يې کولو ، او غِيبت کول خو د مَړ ورور مسلمان غوښه خوړل دي نو ځکه د روژې په وجه ورته تکليف پيدا شو).

(١) عَنْ عُبَيْدٍ، مَوْلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. أَنَّ امْرَأَتَيْنِ مِنَ الْأَنْصَارِ صَامَتَا عَلَى عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَجَلَسَتْ إِحْدَاهُمَا إِلَى الْأُخْرَى ، فَجَعَلَتَا تَأْكُلَانِ لُحُوْمَ النَّاسِ . فَجَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: إِنَّ هَا هُنَا امْرَأَتَيْنِ صَامَتَا وَقَدْ كَادَتَا أَنْ تَمُوْتَا مِنَ الْعَطَشِ. فَأَعْرَضَ عَنْهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَكَتَ . قَالَ: ثُمَّ جَاءَهُ بَعْدَ ذٰلِكَ أَحْسِبُهُ قَالَ: فِي الظَّهِيْرَةِ. فَقَالَ: يَارَسُوْلَ اللهِ! إِنَّهُمَا وَاللهِ لَقَدْ مَاتَتَا أَوْ كَادَتَا أَنْ تَمُوْتَا . فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « اِيْتُوْنِيْ بِهِمَا » فَجَاءَتَا فَدَعَا بِعُسٍّ أَوْ قَدَحٍ . فَقَالَ لِإِحْدَاهُمَا: « قِيْئِيْ » فَقَاءَتْ مِنْ قَيْحٍ وَدَمٍ وَصَدِيْدٍ حَتَّى مَلَأَتْ (نصف) الْقَدَحِ . وَقَالَ لِلْأُخْرَى: « قِيْئِيْ » . فَقَاءَتْ مِنْ قَيْحٍ وَدَمٍ وَصَدِيْدٍ حَتَّى مَلَأَتِ الْقَدَحَ . فَقَالَ: « إِنَّ هَاتَيْنِ صَامَتَا مِمَّا أَحَلَّ اللهُ لَهُمَا ، وَأَفْطَرَتَا عَلَى مَا حَرَّمَ اللهُ عَلَيْهِمَا. جَلَسَتْ إِحْدَاهُمَا إِلَى الْأُخْرَى فَجَعَلَتَا تَأْكُلَانِ لُحُوْمَ النَّاسِ » . الصمت لابن ابى الدنيا ص ١٢٢ رقم الحديث ١٧١ . تفسير ابن كثير ج٧ ص ٣٨٢ الحجرات آية ١٢ ، احياء علوم الدين ج١ ص ٢٣٤ الفصل الثاني في اسرار الصوم وشروطه الباطنة .

**فائده** : چونکه حضور صلی الله علیه وسلم ته د وَحي په ذريعه معلومه شوې وه چې دې زَنانه وُ غِيبت کړې دی نو ځکه يې وِينې زَوې او د غوښو ټکړې رااُلټی کړی ، ګويا الله ﷻ دې زَنانه وُ ته د غيبت صورت او اَنجام اُوخود .

## د غِيبت په وجه په خُله کې د غوښې او وِينې اثر

۱. په " تَنبِيه الغافلين " کې دا واقعه ذکر ده چې رسولُ الله صلی الله علیه وسلم په کور کې موجود وُ او د دوی صحابه " اهلِ صُفه " په جُمات کې وو ، او حضرت زيد بن ثابت ﷺ چې د نبي علیه السلام نه کوم احاديث اَوريدلي وو هغه يې دې صحابه کرامو ته اَورول ، په دې وخت کې چا پيغمبر علیه السلام ته غوښه راوړه ، صحابه کرامو حضرت زيد بن ثابت ﷺ ته اوفرمايل :

اُدْخُلْ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقُلْ : إِنَّا لَمْ نَأْكُلِ اللَّحْمَ مُنْذُ كَذَا وَكَذَا لِكَيْ يَبْعَثَ إِلَيْنَا بِشَيْءٍ مِنْ ذٰلِكَ اللَّحْمِ .

ته نبي علیه السلام ته ورننوځه او ورته اُووايه چې مونږ دومره دومره وخت ( يعنی ډيره زمانه ) غوښه نده خوړلی ، چې مونږ ته څه غوښه رااُوليږي .

کله چې حضرت زيد ﷺ د دوی نه پاځيد ( او نبي علیه السلام ته ورغی ) نو دوی په خپل مينځ کې وويل :

إِنَّ زَيْدًا قَدْ لَقِيَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَ مَا لَقِيْنَا فَكَيْفَ يَجْلِسُ وَيُحَدِّثُنَا ؟

بيشکه زيد ﷺ هم زمونږ په شان د نبي علیه السلام سره ملاقات کړی نو بيا دا څنګه مونږ ته ناست وي او احاديث راته بيانوي ؟

کله چې حضرت زيد ﷺ نبي کريم صلی الله علیه وسلم ته ورغی او د دوی پيغام يې وَرَاُورسول نو نبي علیه السلام ورته اوفرمايل :

قُلْ لَهُمْ قَدْ أَكَلْتُمُ اللَّحْمَ الْآنَ . هغوی ته اووايه چې تاسو خو اوس غوښه اُوخوړه .

حضرت زيد ﷺ خپلو ملګرو ته راغی او دوی ته يې ددې خبر ورکړو ، ملګرو يې وويل:

قسَم په الله، مونږ خو د دومره وخت نه غوښه نده خوړلې.

پس حضرت زيد رضي الله عنه واپس نبي عليه السلام ته ورغى او د دوى دا خبره يې ورته اوکړه، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ورته اوفرمايل: إِنَّهُمْ قَدْ أَكَلُوا الْآنَ . يقينًا دوى اوس غوښه اُوخوړه.

حضرت زيد رضي الله عنه واپس دوى ته راغى او د پيغمبر عليه السلام خبره يې ورته اوکړه، پس دوى ټول راپاڅيدل او د نبي صلى الله عليه وسلم په خدمت کې حاضر شو، نبي عليه السلام ورته اوفرمايل:

اَلْآنَ قَدْ أَكَلْتُمْ لَحْمَ أَخِيكُمْ وَأَثَرُ اللَّحْمِ فِيْ أَسْنَانِكُمْ فَابْزُقُوْا حَتّٰى تَرَوْا حُمْرَةَ اللَّحْمِ.

اوس تاسو د خپل ورور غوښه اُوخوړه او د غوښې اَثرات ستاسو په غاښونو کې دي. پس تاسو لاړې تُوکړئ نو د غوښې سُوروالې به اوګورئ.

پس دوى د خُلې نه وِينه تُوکړه، بيا دوى توبه اُوويسته، د غِيبت نه واوړيدل، او نبي عليه السلام ته يې د دې عُذر پيش کړو.(١)

**فائده**: دې خلقو د حضرت زيد رضي الله عنه غيبت کړې وُ او غِيبت خو داسې دى لکه يو کس چې د خپل مَړ ورور مسلمان غوښه اُوخوري نو ځکه نبي عليه السلام ورته اوفرمايل چې تاسو اوس غوښه اُوخوړه، يعنى غيبت مو اوکړو، بيا دوى توبه اُوويسته.

---

(١) كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَنْزِلِ وَأَصْحَابُهُ فِي الْمَسْجِدِ مِنْ أَهْلِ الصُّفَّةِ ، وَزَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ رضي الله عنه يُحَدِّثُهُمْ بِمَا سَمِعَ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْأَحَادِيثِ ، فَأُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِلَحْمٍ . فَقَالُوا لِزَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ : أُدْخُلْ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقُلْ : إِنَّا لَمْ نَأْكُلِ اللَّحْمَ مُنْذُ كَذَا وَكَذَا لِكَيْ يَبْعَثَ إِلَيْنَا بِشَيْءٍ مِنْ ذٰلِكَ اللَّحْمِ . فَلَمَّا قَامَ زَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ رضي الله عنه مِنْ عِنْدِهِمْ قَالُوا فِيمَا بَيْنَهُمْ : إِنَّ زَيْدًا قَدْ لَقِيَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَ مَا لَقِينَا فَكَيْفَ يَجْلِسُ وَيُحَدِّثُنَا ؟ فَلَمَّا دَخَلَ زَيْدٌ رضي الله عنه عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَدَّى الرِّسَالَةَ . قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ « قُلْ لَهُمْ قَدْ أَكَلْتُمُ اللَّحْمَ الْآنَ » فَرَجَعَ إِلَيْهِمْ وَأَخْبَرَهُمْ بِهِ. قَالُوا : وَاللهِ مَا أَكَلْنَا اللَّحْمَ مُنْذُ كَذَا . فَرَجَعَ إِلَيْهِ وَأَخْبَرَهُ . فَقَالَ: « إِنَّهُمْ قَدْ أَكَلُوا الْآنَ » . فَرَجَعَ إِلَيْهِمْ وَأَخْبَرَهُمْ فَقَامُوا فَدَخَلُوا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . فَقَالَ لَهُمْ : « اَلْآنَ قَدْ أَكَلْتُمْ لَحْمَ أَخِيكُمْ وَأَثَرُ اللَّحْمِ فِي أَسْنَانِكُمْ فَابْزُقُوا حَتَّى تَرَوْا حُمْرَةَ اللَّحْمِ » فَبَزَقُوا الدَّمَ فَتَابُوا وَرَجَعُوا عَنْ ذٰلِكَ وَاعْتَذَرُوا إِلَيْهِ . تنبيه الغافلين بأحاديث سيد الأنبياء والمرسلين للسمرقندي ص ١٦٢ بَابُ الْغِيبَةِ

۲ . همداسې واقعه د حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه په باره کې هم ذکر ده چې دده ملګرو دده غِيبت کړې وُ ، بيا نبي عليه السلام هغوی ته تَنبيه وركړه . (۱)

## د معراج په شپه نبي عليه السلام ته د غِيبت کوونکو انجام اُوخودلې شو

د ابوداؤد شريف حديث دی رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي : چې کله زه د معراج په شپه باندې بوتلې شوم نو زه په ( عالَمِ بَالا کې ) په داسې خلقو باندې تېر شوم چې د هغوی نُوکونه د تانبې وو او په دې سره دوی د خپلو مخونو او سِينو غوښې راشوکولی ، ما د حضرت جبريل عليه السلام نه پوښتنه اوکړه : مَنْ هٰؤُلَاءِ يَا جِبْرِيْلُ ؟

اې جبريل ! دا خلق څوک دي ؟ ( چې په داسې سخت عذاب کې مبتلاء دي ) .

حضرت جبريل عليه السلام اوفرمايل : هٰؤُلَاءِ الَّذِيْنَ يَأْكُلُوْنَ لُحُوْمَ النَّاسِ وَيَقَعُوْنَ فِيْ أَعْرَاضِهِمْ . (۲)

---

(۱) كَانَ سَلْمَانُ الْفَارِسِيُّ رضي الله عنه فِيْ سَفَرٍ مَعَ أُنَاسٍ وَفِيْهِمْ عُمَرُ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ . فَنَزَلُوْا مَنْزِلًا فَضَرَبُوْا خِيَامَهُمْ وَصَنَعُوْا طَعَامَهُمْ . وَنَامَ سَلْمَانُ رضي الله عنه . فَقَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ : مَا يُرِيْدُ هٰذَا الْعَبْدُ إِلَّا أَنْ يَجِيْءَ إِلَى خِيَامٍ مَضْرُوْبَةٍ وَطَعَامٍ مَصْنُوْعٍ . ثُمَّ قَالُوْا بَعْدَ ذٰلِكَ لِسَلْمَانَ : اِنْطَلِقْ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَالْتَمِسْ لَنَا إِدَامًا. فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَهُ . فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « أَخْبِرْهُمْ أَنَّهُمْ قَدِ ائْتَدَمُوْا » . فَأَخْبَرَهُمْ بِذٰلِكَ . فَقَالُوْا : مَا طَعِمْنَا بَعْدُ . وَمَا كَذِبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْكُمْ فَأَتَوْهُ . فَقَالَ لَهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « قَدِ ائْتَدَمْتُمْ مِنْ صَاحِبِكُمْ حِيْنَ قُلْتُمْ وَهُوَ نَائِمٌ » . ثُمَّ قَرَأَ عَلَيْهِمْ : { يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوا اجْتَنِبُوْا كَثِيْرًا مِّنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ } [الحجرات: ۱۲ ] يَعْنِيْ مَعْصِيَةٌ . تنبيه الغافلين بأحاديث سيد الأنبياء والمرسلين للسمرقندي ص ۱۶۳ بَابُ الْغِيْبَةِ

(۲) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : لَمَّا عُرِجَ بِيْ مَرَرْتُ بِقَوْمٍ لَهُمْ أَظْفَارٌ مِنْ نُحَاسٍ يَخْمُشُوْنَ وُجُوْهَهُمْ وَصُدُوْرَهُمْ . فَقُلْتُ : مَنْ هٰؤُلَاءِ يَا جِبْرِيْلُ . قَالَ : هٰؤُلَاءِ الَّذِيْنَ يَأْكُلُوْنَ لُحُوْمَ النَّاسِ، وَيَقَعُوْنَ فِيْ أَعْرَاضِهِمْ . سنن ابي داؤد كِتَابُ الْأَدَبِ بَابٌ فِي الْغِيْبَةِ رقم الحديث ۴۸۷۸ ، مسند احمد رقم الحديث ۱۳۳۴۰ ، شعب الايمان رقم الحديث ۶۲۹۰ ، مشكوة المصابيح بَابُ مَا يُنْهَى عَنْهُ مِنَ التَّهَاجُرِ وَالتَّقَاطُعِ وَاتِّبَاعِ العورات اَلْفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ۵۰۴۶ (۲۰) ، كنزالعمال رقم الحديث ۸۰۲۹ ، الزواجر ج ۲ ص ۱۵ الغيبة والسكوت عليها ، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ۴۲۹۷ .

دا هغه خلق دي چې د خلقو غوښې به يې خوړلې (يعنی د هغوی غيبت به يې کولو)، او د هغوی بې عزتي به يې کوله.

**فائده** دې خلقو ته په عالَمِ برزَخ کې دا سزا ځکه ورکولې شوه چې دوی به په دُنيا کې د خلقو غِيبت کولو، او غِيبت کول خو داسې دی لکه د مړ ورور مسلمان غوښې را شوکول او خوړل، نو په عالَمِ برزخ کې ورته همدا سزا مقرر شوه چې د جهنم په اُور باندې ګرمې شوې تانبې په نُوکانو باندې يې د خپل مخ او سِينې غوښې راشوکولې او دا يې زخمي کول.

## غيبت کوونکي ته به د قيامت په ورځ د مسلمان غوښه د خوراک د پاره پيش کړې شي

رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

مَنْ أَكَلَ لَحْمَ أَخِيهِ فِي الدُّنْيَا قُرِّبَ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . فَيُقَالُ لَهُ: كُلْهُ مَيْتًا كَمَا أَكَلْتَهُ حَيًّا . فَيَأْكُلُهُ وَيَكْلَحُ وَيَصِيحُ .

څوک چې په دُنيا کې د خپل ورور غوښه اُوخوري (يعنی غيبت يې اوکړي) نو د قيامت په ورځ به ده ته دا پيش کړې شي او ورته به وويلې شي: لکه څرنګې چې تا دا په دُنيا کې په ژوندينې خوړه نو اوس يې په مړينې اُوخوره، نو دا کس به دا غوښه خوري، پوزې به يې تروشې کړې وي او چغې به وهي.(١)

## غِيبت کول د خِنزير غوښې خوړلو نه ډير بَدتر دی

خالد رَبعي رحمه الله فرمايي چې زه په جامع مسجد کې د يو څو کسانو سره ناست ووم نو دوی د يو کس غيبت شروع کړو، ما دوی منع کړل، پس دوی منع شو او نورې خبرې يې

(١) فتح الباري شرح صحيح البخاري لابن حجر العسقلاني بَابُ الْغِيبَةِ وَقَوْلِ اللهِ تَعَالَى وَلَا يَغْتَب بَّعْضُكُم بَعْضًا ج ١٠ ص ٤٧٠ قال الحافظ ابن حجر: سَنَدُهُ حَسَنٌ. نضرة النعيم ج ١١ ص ٥١٧٥ الغيبة، الزواجر ج٢ ص ١٢، ورواه ابويعلى والطبراني و ابو الشيخ، الترغيب والترهيب للمنذري ج٣ ص ٣٢٩ رقم الحديث ٤٢٩٤ الترهيب من الغيبة والبهت وبيانهما، الدر المنثور في التفسير بالمأثور ج٧ ص ٥٧٢ الحجرات في تفسير آية ١٢، تفسير ابن كثير ج ٧ ص ٣٥٩ الحجرات في تفسير آية ١٢، الصمت لابن ابي الدنيا ج١ ص ١٢٥ رقم الحديث ١٧٨، ذم الغيبة والنميمة لابن ابي الدنيا ج١ ص ١٨ رقم الحديث ٣٠، احياء علوم الدين ج٣ ص ١٤٣.

شروع کړي ، دوی بيا غيبت شروع کړو ، پس زه ورسره په کې څه لږ شريک شوم ، ما په همدغه شپه باندې خوب اُوليد ، په خوب کې راته تور اُوږد کس راغی ، د هغه سره په لاس کې غټ پلېټ ؤ ، په هغې کې د خِنزير غوښه وه ، دې کس ماته وويل :

کُلْ. دا اُوخوره . ما ورته وويل : آکُلُ لَحْمَ الخِنْزِيرِ ؟ وَاللهِ لَا آكُلُهُ.

آيا زه د خِنزير غوښه خورم ؟ قسَم په الله ، چې زه دا اُو نه خورم.

پس هغه زه سخت اُورټلم او راته وې ويل :

قَدْ أَكَلْتَ مَا هُوَ شَرٌّ مِنْهُ.

تا دديته بدترينه غوښه خوړلې ده (يعنى د يو کس غيبت دې کړې دی).

پس دې کس په زُوره باندې زما په خُله کې دا غوښه رااُوټومبله تر دې چې زه د خوب نه راويخ شوم.

فَوَاللهِ لَقَدْ مَكَثْتُ ثَلَاثِيْنَ يَوْمًا أَوْ أَرْبَعِيْنَ يَوْمًا مَا أَكَلْتُ طَعَامًا إِلَّا وَجَدْتُ طَعْمَ ذٰلِكَ اللَّحْمِ وَنَتْنَهُ فِيْ فَمِيْ.

قسَم په الله ديرش (٣٠) ورځې (يا څلويښت ورځې) به چې ما کوم قِسم خوراک کولو نو ددې خِنزير د غوښې خوَند او بَدبوئي به مې په خُله کې مُوندله . (١)

## غِيبت کول د مرداري قچرې خوړلو نه ډير بَدتر دی

يو ځل حضرت عَمرو بن العاص ﷺ د خپلو ملګرو سره په لاره باندې تېريدو ، په لاره کې يوه مره قچره پرته وه ، ده خپلو ملګرو ته وويل :

---

(١) وَرَوَى خَالِدٌ الرَّبَعِيّ رَحِمَهُ اللهُ قَالَ : كُنْتُ فِي الْمَسْجِدِ الجَامِعِ ، فَتَنَاوَلُوا رَجُلًا فَنَهَيْتُهُمْ عَنْ ذٰلِكَ ، فَكَفُّوا وَأَخَذُوا فِيْ غَيْرِهِ ثُمَّ عَادُوا إِلَيْهِ ، فَدَخَلْتُ مَعَهُمْ فِيْ شَيْءٍ مِنْ أَمْرِهِ ، فَرَأَيْتُ تِلْكَ اللَّيْلَةَ فِي الْمَنَامِ كَأَنِّيْ أَتَانِيْ رَجُلٌ أَسْوَدُ طَوِيْلٌ وَمَعَهُ طَبَقٌ عَلَيْهِ قِطْعَةٌ مِنْ لَحْمِ خِنْزِيْرٍ ، فَقَالَ لِيْ : كُلْ ، فَقُلْتُ : آكُلُ لَحْمَ الخِنْزِيْرِ ؟! وَاللهِ لَا آكُلُهُ. فَانْتَهَرَنِيْ اِنْتِهَارًا شَدِيْدًا وَقَالَ : قَدْ أَكَلْتَ مَا هُوَ شَرٌّ مِنْهُ . فَجَعَلَ يَدُسُّهُ فِيْ فَمِيْ حَتّٰى اسْتَيْقَظْتُ مِنْ مَنَامِيْ . فَوَاللهِ لَقَدْ مَكَثْتُ ثَلَاثِيْنَ يَوْمًا أَوْ أَرْبَعِيْنَ يَوْمًا مَا أَكَلْتُ طَعَامًا إِلَّا وَجَدْتُ طَعْمَ ذٰلِكَ اللَّحْمِ وَنَتْنَهُ فِيْ فَمِيْ . تنبيه الغافلين بأحاديث سيد الأنبياء والمرسلين للسمرقندي ص ١٦٥ بَابُ الغِيبَة

لِأَنْ يَأْكُلَ الرَّجُلُ مِنْ هٰذَا حَتّٰى يَمْلَأَ بَطْنَهُ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَأْكُلَ لَحْمَ رَجُلٍ مُسْلِمٍ .

كه يو كس دا مرداره قچره په مره خېټه باندې او خوري نو دا دده د پاره ددينه ډيره بهتره ده چې دا (په غيبت كولو سره) د يو مسلمان غوښه اوخوري . (١)

## د غيبت نه په احاديثو كې منع راغلې

١ . د ابوداؤد شريف حديث دى ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

يَا مَعْشَرَ مَنْ اٰمَنَ بِلِسَانِهِ وَلَمْ يَدْخُلِ الْإِيْمَانُ قَلْبَهُ لَا تَغْتَابُوا الْمُسْلِمِيْنَ . وَلَا تَتَّبِعُوْا عَوْرَاتِهِمْ فَإِنَّهُ مَنِ اتَّبَعَ عَوْرَاتِهِمْ يَتَّبِعُ اللهُ عَوْرَتَهُ . وَمَنْ يَتَّبِعِ اللهُ عَوْرَتَهُ يَفْضَحْهُ فِيْ بَيْتِهِ . (٢)

اې د هغه خلقو جماعته چې صرف په ژبه باندې يې ايمان راوړې دى او ايمان يې زړونو ته ندې داخل شوى ! تاسو د مسلمانانو غيبت مه كوئ او د دوى د عزت او آبرو پسې مه ورپسې كيږئ (يعنى د دوى پټ عيبونه مه لټوئ) ، ځكه څوك چې د چا عزت پسې ورپسې شي نو الله ﷻ به دده عزت پسې ورپسې شي نو په خپل كور كې به يې رَسوا كړي .

**فائده** : ددې حديث نه دا معلومه شوه چې د مسلمانانو غيبت كول ، د هغوى عيبونه او كمزورياني بيانول داسې منافقانه حركت دى چې دا صرف د هغه خلقو نه صادريږي چې هغوى صرف د ژبې مسلمانان وي او د هغوى زړونو ته ايمان نه وي داخل شوى . (٣)

---

(١) عَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ مَرَّ عَلٰى بَغْلٍ مَيِّتٍ . فَقَالَ لِبَعْضِ أَصْحَابِهِ : لِأَنْ يَأْكُلَ الرَّجُلُ مِنْ هٰذَا حَتّٰى يَمْلَأَ بَطْنَهُ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَأْكُلَ لَحْمَ رَجُلٍ مُسْلِمٍ . الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٤٢٩٥ :التَّرْهِيب من الْغِيْبَة والبهت وبيانهما وَالتَّرْغِيب فِي ردهما . الزواجر عن اقتراف الكبائر ج٢ ص ١٥ الغيبة والسكوت عليها ، نضرة النعيم ج١١ ص ٥١٧٥ الغيبة .

(٢) سنن ابي داؤد كِتَاب الْأَدَبِ بَابٌ فِي الْغِيبَةِ رقم الحديث ٤٨٨٠ قال الالباني: حسنٌ صحيح ، مسند احمد رقم الحديث ١٩٧٧٦ ، و رقم الحديث ١٩٨٠١ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ٢١١٤٦ ، شعب الايمان رقم الحديث ٦٢٧٨ ، و رقم الحديث ٩٢١٣ ، و رقم الحديث ١٠٦٨٢ ، شرح السنّة للبغوي باب النهي عن تتبّع عورات المسلمين رقم الحديث ٣٥٢٦ ، مجمع الزوائد باب ماجاء في الغيبة والنميمة رقم الحديث ١٣١٢١ وقال الهيثمي : رواه ابويعلى و رجاله ثقاتٌ ، كنزالعمال باب الغيبة رقم الحديث ٨٠٢١ ، و رقم الحديث ٨٠٨٣ ، الصمت لابن ابي الدنيا رقم الحديث ١٦٨ .

(٣) معارف الحديث ج٢ ص ١٦٢ كتاب الاخلاق .

۲ . نبي عليه السلام صحابه کرامو رضي الله عنهم ته دا هدايت کړې وُ چې ماته د بل چا غيبت مه کوئ . د ابوداؤد شريف او مشکوة شريف حديث دی ، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم اوفرمايل :

لَا يُبَلِّغُنِيْ أَحَدٌ مِنْ أَصْحَابِيْ عَنْ أَحَدٍ شَيْئًا، فَإِنِّيْ أُحِبُّ أَنْ أَخْرُجَ إِلَيْكُمْ وَأَنَا سَلِيْمُ الصَّدْرِ .

زما په صحابه وُ کې دې هيڅوک ماته د بل چا په باره کې بده خبره نه رارسوي ځکه زه دا خوښوم چې کله د کور نه تاسو ته راأوځم چې زما سينه صفا وي . ( په تاسو کې د هيچا نه زه ناراضه نه يم ) . (۱)

**فائده** : په دې حديث کې د اُمتِ مسلمه د پاره دا تعليم دی چې يو کس دې د خپل مشر ( حاکم ، سردار ، بزرګ او شيخ ) د وړاندې د نورو خلقو بدې نه بيانوي ددې د پاره چې د بُغض او خفګان صورت پيدا نشي . (۲)

## د سپکاوي په خاطر د چا نقل کول هم حرام دي

د سپکاوي په خاطر د چا نقل کول ( يعنی پېښې کول ) حرام دي ، او دا هم په غيبت کې داخلې دي ، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

مَا أُحِبُّ أَنِّيْ حَكَيْتُ أَحَدًا وَأَنَّ لِيْ كَذَا وَكَذَا .

زه دا نه خوښوم چې د يو چا نقل ( پېښې ) اوکړم اګر چې زما د پاره دومره دومره وي . (۳)

( يعنی که څوک ماته بې شماره مال و دولت ، سره زَر او سپين زر راکړي خو زه به بيا هم

---

(۱) سنن ابي داؤد كِتَابُ الْأَدَبِ بَابٌ فِيْ رَفْعِ الْحَدِيْثِ مِنَ الْمَجْلِسِ رقم الحديث ۴۸٦۰ ، مشكوة المصابيح بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيْبَةِ وَالشَّتْمِ اَلْفَصْلُ الثَّانِيْ رقم الحديث ۴۸۵۲(۳۱) ، رياض الصالحين رقم الحديث ۱۵۳۹ باب النهي عن نقل الحديث وكلام الناس الى ولاة الامور اذا لم تدع اليه حاجة كخوف مفسدة ونحوه ، تفسير ابن كثير ج٦ ص ۴۸٦ ، ص ۴۸۷ .

(۲) مظاهر حق ج۲ .

(۳) سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ الْقِيَامَةِ وَالرَّقَائِقِ وَالْوَرَعِ رقم الحديث ۲۵۰۳ ،وقال الترمذي : هَذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ . مشكوة المصابيح بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيْبَةِ وَالشَّتْمِ اَلْفَصْلُ الثَّانِيْ رقم الحديث ۴۸۵۷(۳٦) ، مسند احمد رقم الحديث ۲۴۹٦۴ ، ورقم الحديث ۲۵۰۵۰ ، ورقم الحديث ۲۵۷۰۸ .

د چا نقل اونکړم ، او د چا عيب او غيبت به بيان نکړم ). (١)

## غيبت د زِنا نه سخته ګناه ده

رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ( صحابه کرامو رضي الله عنهم ) ته اوفرمايل :

اَلْغِيْبَةُ أَشَدُّ مِنَ الزِّنَا . غيبت کول د زِنا نه سخته ګناه ده .

صحابه کرامو رضي الله عنهم عرض اوکړو : اې د الله رسوله ! غيبت د زِنا نه څنګه سخته ګناه ده ؟ ( حالانکه زِنا ګناهِ کبيره ده ، په دې باندې ډير وعيدونه راغلي ، او په دې سره په انسان باندې حَد جاري کيږي ) .

رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته اوفرمايل :

إِنَّ الرَّجُلَ لَيَزْنِيْ فَيَتُوْبُ فَيَتُوْبُ اللهُ عَلَيْهِ . ( وَفِيْ رِوَايَةِ حَمْزَةَ : فَيَتُوْبُ فَيَغْفِرُ لَهُ ) ، وَإِنَّ صَاحِبَ الْغِيْبَةِ لَا يُغْفَرُ لَهُ حَتّٰى يَغْفِرَهَا لَهُ صَاحِبُهُ . (٢)

---

(١) (مَا أُحِبُّ) أَيْ: مَا أَوَدُّ (أَنِّيْ حَكَيْتُ أَحَدًا) أَيْ: فِعْلَ أَحَدٍ، وَالْمَعْنٰى: مَا أُحِبُّ أَنْ أَتَحَدَّثَ بِعَيْبِ أَحَدٍ قَوْلِيًا أَوْ فِعْلِيًا (وَأَنَّ لِيْ كَذَا وَكَذَا) أَيْ: وَلَوْ أُعْطِيْتُ كَذَا وَكَذَا مِنَ الْأَشْيَاءِ بِسَبَبِ ذٰلِكَ الْحَدِيْثِ، كَذَا قَالَهُ شَارِحٌ. أَوْ حَكَيْتُ بِمَعْنٰى حَاكَيْتُ فَفِي النِّهَايَةِ أَيْ: فَعَلْتُ مِثْلَ فِعْلِهِ. يُقَالُ: حَكَاهُ وَحَاكَاهُ. وَأَكْثَرُ مَا يُسْتَعْمَلُ فِي الْقَبِيْحِ الْمُحَاكَاةُ. قُلْتُ: فَيُحْمَلُ حَكَيْتُ عَلَى الْحَسَنِ فَيُفِيْدُ الْمُبَالَغَةَ. قَالَ الطِّيْبِيُّ: " وَأَنَّ لِيْ كَذَا وَكَذَا " جُمْلَةٌ حَالِيَّةٌ وَارِدَةٌ عَلَى التَّتْمِيْمِ وَالْمُبَالَغَةِ أَيْ: مَا أُحِبُّ أَنْ أُحَاكِيَ أَحَدًا وَلَوْ أُعْطِيْتُ كَذَا وَكَذَا مِنَ الدُّنْيَا. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج٧ ص ٣٠٤٨ في تشريح رقم الحديث ٤٨٥٧ .

(٢) عَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ، وَجَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رضي الله عنهما ، قَالَا: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " اَلْغِيْبَةُ أَشَدُّ مِنَ الزِّنَا ". قَالُوْا : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! وَكَيْفَ الْغِيْبَةُ أَشَدُّ مِنَ الزِّنَا ؟ قَالَ : " إِنَّ الرَّجُلَ لَيَزْنِيْ فَيَتُوْبُ فَيَتُوْبُ اللهُ عَلَيْهِ ". (وَفِيْ رِوَايَةِ حَمْزَةَ : فَيَتُوْبُ فَيَغْفِرُ لَهُ ) ، وَإِنَّ صَاحِبَ الْغِيْبَةِ لَا يُغْفَرُ لَهُ حَتّٰى يَغْفِرَهَا لَهُ صَاحِبُهُ . شعب الايمان رقم الحديث ٦٣١١٥ تحريم اعراض الناس وما يلزم من ترك الوقوع فيها ، مشكوة المصابيح بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيْبَةِ وَالشَّتْمِ اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ رقم الحديث ٤٨٧٤(٦٣) ، المعجم الاوسط رقم الحديث ٦٥٩٠ ، الترغيب والترهيب لقوام السنة رقم الحديث ٢٢٣٠ ، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٢٤ الترهيب من الغيبة والبهت وبيانهما ما جاء في ذم الغيبة ، مجمع الزوائد باب ماجاء في الغيبة والنميمة رقم الحديث ١٣١٢٨ ، كنز العمال رقم الحديث ٨٠٢٦ ، و رقم الحديث ٨٠٤٣ ، الزواجر عن اقتراف الكبائر ج٢ ص ١٦ الغيبة والسكوت عليها ، الصمت لابن ابي الدنيا رقم الحديث ١٦٤ ، ذم الغيبة والنميمة لابن ابي الدنيا رقم الحديث ٢٦ .

پيشكه چې كله سړى زِنا اوكړي او بيا توبه اُوباسي نو الله تعالى دده توبه قبلوي (په يو روايت كې دا الفاظ دي چې كله انسان د زِنا نه توبه اُوباسي نو الله تعالى ده ته مغفرت كوي) ، خو غيبت كوونكي ته تر هغې وخته پورې بَخنه نشي كولى تر څو پورې چې ورته هاغه كس بخنه اونكړي د چا غيبت يې چې كړې وي .

## د غيبت ګناه زياتيدو وجه :

په مذكوره حديث كې غيبت ته د زِنا نه سخته ګناه ويل شوى ، ددې يو څو وجوهات دي :

١ . په غيبت كې حقوقُ الله او حقوقُ العباد دواړه ضائع شوي وي نو ځكه صرف په توبه باندې نه معاف كيږي ، بلكه د چا غيبت يې چې كړې وي د هغه نه هم معافي غوښتل په كار دي .

٢ . د زِنا كار په باره كې دا اُميد وي چې د توبې توفيق ورته ملاؤ شي ځكه زِناكار په خپله زِنا ګناهِ كبيره ګڼړي او په دې باندې پښيمانه وي او چې كله انسان په ګناه باندې پښيمانه شي نو ده ته د توبې توفيق ملاويږي ، ليكن غيبت كول اګر چې ګناهِ كبيره ده ليكن غيبت كوونكي ته دا هيڅ ګناه نه ښكاري او په زړه كې يې ددې هيڅ قباحت نه وي نو ځكه ورته د توبې توفيق كم ملاويږي .

همدا خبره په حديث شريف كې هم ذكر ده ، رسولُ الله ﷺ فرمايي :

اَلْغِيْبَةُ أَشَدُّ مِنَ الزِّنَا . فَإِنَّ صَاحِبَ الزِّنَا يَتُوْبُ وَصَاحِبَ الْغِيْبَةِ لَيْسَ لَهُ تَوْبَةٌ . (١)

غيبت د زِنا نه سخته ګناه ده ، ځكه زِناكار توبه اُوباسي ( يعنى دده د توبې اُميد شته ) ، خود غيبت كوونكي د پاره توبه نشته ( ځكه دا غيبت ګناه نه ګڼړي نو د توبې توفيق هم ورته نه ملاويږي ) .

يا دا مطلب دى چې تر څو پورې هغه كس نه وي معاف كړى د چا غيبت يې چې كړى نو

(١) شعب الايمان رقم الحديث ٦٣١٦ ، مشكوة المصابيح بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيْبَةِ وَالشَّتْمِ اَلْفَصْلُ الثالث رقم الحديث ٤٨٧٦(٦٥) ، الدر المنثور فى التفسير بالمأثور ج٧ ص ٥٧٦ الحجرات فى تشريح آية ١٢ .

تر هغې پورې دده توبه معتبره نده. (۱)

۳. زِنا پټه ګناه ده او غيبت كول ښكاره ګناه ده، او كومه ګناه چې ښكاره كولې شي دا د پټې ګناه نه سخته وي، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

كُلُّ أُمَّتِيْ مُعَافًى إِلَّا الْمُجَاهِرِيْنَ. (۲)

زما ټول اُمت د معافۍ لائق دی مګر په ښكاره باندې ګناه كوونكې د معافۍ لائق ندي.

۴. غيبت اګر چې ظاهرًا په ژبه باندې كيږي ليكن په حقيقت كې د دې جَرړه په زړه كې وي، ځكه غيبت هغه څوك كوي چې په زړه كې يې تكبّر وي، خپل ځان اُوچت ګڼړي او نور ورته سپک ښكاري، نو د غيبت بُنياد تكبّر شو او تكبر خو غټه ګناه ده نو ځكه غيبت هم لويه ګناه شوه.

۵. د زِنا نه توبه ويستل آسانه ده ليكن د غيبت نه توبه ويستل آسانه نده، ځكه د چا غيبت چې شوې وي او هغوی پرې خبر شوي وي نو د هغوی ټولو نه معافي غوښتل هم ضروري دي، نو اوس د دې ټولو خلقو تلاش كول او د هريو نه معافي غوښتل ګران دي نو ځكه د غيبت ګناه د زِنا نه سخته ده.

## زِنا په ټولو مذاهبو كې بې حيائي ګڼړلې شي

دير د عبرت مقام دی چې زِنا داسې بَدترين عمل دی چې دا د دُنيا په ټولو مذاهبو كې حرام او د بې حيايۍ كار ګڼړلې شي، شريف سړی هيڅ كله زِنا او بې حيائي نه خوښوي، او څوک چې په دې بيمارۍ باندې اَخته وي په معاشره كې داسې كس ته هر څوک په سپک نظر باندې ګوري، خو نبي عليه السّلام اوفرمايل چې غيبت د زِنا نه هم سخته ګناه ده، دا ځكه چې د غيبت تعلق د حقوقُ العباد و سره دی، په دې كې د مسلمان حق پائمال كولې شي، او

(۱) (صَاحِبُ الزِّنَا يَتُوبُ) أَيْ: يُتَصَوَّرُ مِنْهُ التَّوْبَةُ. أَوْ يَتُوبُ غَالِبًا، لِأَنَّهُ ذَنْبٌ عَظِيمٌ عِنْدَهُ (وَصَاحِبُ الْغِيبَةِ لَيْسَ لَهُ تَوْبَةٌ). أَيْ: غَالِبًا. لِأَنَّهُ يَحْسَبُهُ هَيِّنًا وَهُوَ عِنْدَ اللهِ عَظِيمٌ. لَكِنَّ الْبَلِيَّةَ إِذَا عَمَّتْ طَابَتْ. أَوْ لَيْسَ لَهُ تَوْبَةٌ مُسْتَقِلَّةٌ لِتَوَقُّفِ صِحَّتِهَا عَلَى رِضَا صَاحِبِهَا. مرقاة المفاتيح ج ۷ ص ۳۰۵۷ في تشريح حديث ۴۸۷۶.

(۲) صحيح البخاري كِتَابُ الأَدَبِ بَابُ سَتْرِ الْمُؤْمِنِ عَلَى نَفْسِهِ رقم الحديث ۶۰۶۹، صحيح مسلم كِتَابُ الزُّهْدِ وَالرَّقَائِقِ بَابُ النَّهْيِ عَنْ هَتْكِ الإِنْسَانِ سِتْرَ نَفْسِهِ رقم الحديث ۵۲(۲۹۹۰).

د هغه په آبرو او عزت باندې حمله کولې شي.

## د مسلمان په عزت او آبرو باندې د حملې کولو سخته ګناه

حالانکه د مسلمان په آبرو او عزت باندې حمله کول په خانه کعبه باندې د حملې کولو نه سخته ګناه ده. په يو حديث کې ذکر دي، حضرت عبدالله بن عُمر رضي الله عنهما فرمايي چې ما يو ځل د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم سره د کعبې شريفې طواف کولو، د طواف په دوران کې نبي عليه السلام خانه کعبې ته خطاب کولو سره اوفرمايل:

اې بيتُ الله! ته ډير عظيم يې، ستا تقدّس ډير اُوچت دی، ليکن يو څيز داسې دی چې د هغې عزت د تا نه هم زيات دی، او هغه د مسلمان جان، مال او آبرو دي.(۱)

يعنی که چيرته څوک د مسلمان په جان، مال يا آبرو باندې حمله اوکړي نو ددې ګناه په خانه کعبه باندې د حملې کولو نه زياته ده.

**عبرت**: ډير د عبرت مقام دی چې که څوک په بيتُ الله باندې حمله اوکړي يا ددې د ورانولو کوشش اوکړي نو د دُنيا هيڅ يو مسلمان هم دا نه برداشت کوي، بلکه هر کس ددې د دفاع د پاره د خپل سَر قربانولو ته تيار وي، حالانکه نبي عليه السلام اوفرمايل چې د مسلمان د جان و مال او عزت احترام د خانه کعبې نه هم زيات دی، ليکن افسوس چې مونږ ټوله ورځ د بل مسلمان غيبت کوو، په هغه بهتان لږوو، هغه ته کنځل کوو، د هغه زړه آزاروو، او د هغه آبرو ته نقصان رسوو ليکن هيڅ پرواه نه کوو.

ګويا چې مونږ په هره ورځ د خانه کعبې ورانولو ګناه کې اَخته کيږو خو بيا هم ددينه نه منع کيږو.

## د غيبت په وجه بَدبُويه هوا پيدا کيدل

حضرت جابر بن عبدالله رضي الله عنه فرمايي چې مونږ د نبي عليه السلام سره په مجلس کې ناست وو نو په دې وخت کې د مرداري بَدبُويه هوا رااُوچته شوه، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم اوفرمايل:

أَتَدْرُوْنَ مَا هٰذِهِ الرِّيْحُ؟ هٰذِهِ رِيْحُ الَّذِيْنَ يَغْتَابُوْنَ الْمُؤْمِنِيْنَ.

(۱) اصلاحي خطبات ج۱۷ ص۹۳.

آيا تاسو پوهيږئ چې دا بَدبُويه هوا د څه شي ده؟ دا د هغه خلقو بَدبويه هوا ده چې د مؤمنانو غيبت کوي (يعنى دا بَدبويي د غيبت ده). (١)

## د يو اعتراض جواب

د بعضې حکماؤ نه چا پوښتنه اوکړه چې دا څه وجه ده چې د نبي عليه السلام په زمانه کې به د غيبت بَدبوئي محسوسيدله ليکن نن صبا مونږ د غيبت بَدبوئي نه محسوسوو؟

هغه ورته ووېل: چونکه نن صبا غيبت عام شوی په هر ځای کې غيبت کيږي نو د خلقو پوزې ورسره آموخته شوي نو ځکه يې بدبوئي نه محسوسوي.

**مثال**: ددې مثال داسې دی لکه يو کس د څرمنې رنګ کوونکي (دَبّاغ) کور ته (يا د چرګانو فارم ته) ننوځي نو دا د ډيرې بدبويۍ په وجه هلته لږ وخت هم نشي حصاريدی حالانکه د هغه کور خلق په همغې کې خوراک کوي ليکن بدبوئي نه محسوسوي، دا ځکه چې د دوی پوزې ددې بدبويۍ نه ډکې شوې وي او دوی ورسره آموخته شوي وي.

همدغه شان نن صبا غيبت په هر ځای کې عام دی نو د خلقو پوزې د بدبوئي په وجه ډکې شوي نو ځکه پرې نه پوهيږي (او د نبي عليه السلام په زمانه کې غيبت ډير کم ؤ نو چا به چې غيبت اوکړو د هغې په بدبوئي به خلق پوهيدل). (٢)

---

(١) عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رضي الله عنه. قَالَ: كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَارْتَفَعَتْ رِيحُ جِيفَةٍ مُنْتِنَةٍ. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَتَدْرُونَ مَا هٰذِهِ الرِّيحُ؟ هٰذِهِ رِيحُ الَّذِينَ يَغْتَابُونَ الْمُؤْمِنِينَ. مسند احمد رقم الحديث ١٤٧٨٤، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٤٢٩٩ الترهيب من الغيبة والبهت وبيانهما، وقال المنذري: رواه احمد وابن ابي الدنيا و رواة احمد ثقاتٌ، وقال الحافظ ابن حجر في الفتح (١٠ / ٤٨٤) سنده صحيح، مجمع الزوائد باب ماجاء في الغيبة والنميمة رقم الحديث ١٣١٢١، كنزالعمال الغيبة رقم الحديث ٨٠٦١، ذم الغيبة والنميمة لابن ابي الدنيا رقم الحديث ٧٩، الزواجر ج٢ ص١٦، نضرة النعيم ج١١ ص٥١٦٧ الغيبة، تنبيه الغافلين ج١ ص١٦٢ باب الغيبة.

(٢) قِيلَ لِبَعْضِ الْحُكَمَاءِ: مَا الْحِكْمَةُ فِي أَنَّ رِيحَ الْغِيبَةِ وَنَتْنَهَا كَانَتْ تَتَبَيَّنُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا تَتَبَيَّنُ فِي يَوْمِنَا هٰذَا؟ قَالَ: لِأَنَّ الْغِيبَةَ قَدْ كَثُرَتْ فِي يَوْمِنَا فَامْتَلَأَتِ الْأُنُوفُ مِنْهَا فَلَمْ تَتَبَيَّنِ الرَّائِحَةُ. وَهِيَ النَّتَنُ وَيَكُونُ مَثَلُ هٰذَا مَثَلَ رَجُلٍ دَخَلَ دَارَ الدَّبَّاغِينَ، لَا يَقْدِرُ عَلَى الْقَرَارِ فِيهَا مِنْ شِدَّةِ الرَّائِحَةِ وَأَهْلُ تِلْكَ الدَّارِ يَأْكُلُونَ فِيهَا الطَّعَامَ وَيَشْرَبُونَ الشَّرَابَ وَلَا تَتَبَيَّنُ لَهُمُ الرَّائِحَةُ لِأَنَّهُ قَدِ امْتَلَأَتْ أُنُوفُهُمْ مِنْهَا. كَذٰلِكَ أَمْرُ الْغِيبَةِ فِي يَوْمِنَا هٰذَا. تنبيه الغافلين ص ١٦٢ باب الغيبة.

## د غيبت په وجه نېک اعمال ختميږي

څوک چې غيبت کوي نو ده د عملنامې نه نېک اعمال ختميږي او د هغه چا په عملنامه کې جمع کيږي چې د چا غيبت يې کړې وي.

١ . حسن بصري رَحِمَهُ اللّٰهُ ته چا وويل چې فلانکي ستا غيبت کړې دی، نو ده د قجورو ډک لګن (خانک) هغه ته وراوليږل، او ورته وې ويل:

بَلَغَنِيْ أَنَّكَ أَهْدَيْتَ لِيْ حَسَنَاتِكَ فَأَرَدْتُ أَنْ أُكَافِئَكَ عَلَيْهَا فَاعْذُرْنِيْ فَإِنِّيْ لَا أَقْدِرُ أَنْ أُكَافِئَكَ بِهَا عَلَى التَّمَامِ.

ماته دا خبره رارسيدلې چې تا ماته خپلې نيکۍ هديه کړي پس ما اِراده اوکړه چې زه تاته ددې پوره بدله درکړم ليکن ته ما معذور اوګڼړه ځکه زه دا قدرت نه لرم چې تاته ددې پوره بدله درکړم (لهذا دا لږه تحفه دقجورو قبوله کړه). (١)

٢ . حسن بصري رَحِمَهُ اللّٰهُ ته چا وويل چې ماته دا خبره رارسيدلې چې ته زما غيبت کوې؟ ده ورته وويل:

ته تر اوسه داسې مرتبې ته نه يې رسيدلې چې زه تاته مُفت خپلې نيکۍ درکړم. (يعنې زه ستا غيبت کول نه غوارم، ځکه په غيبت سره خو زما نېک اعمال بيا تاته درځي). (٢)

## امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللّٰهُ به د غيبت نه ځان ساتل

امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللّٰهُ به نه د چا غيبت کولو او نه به يې د چا غيبت آوريدلو، خپلو شاګردانو

---

(١) وَرُوِيَ عَنِ الْحَسَنِ الْبَصْرِيِّ رَحِمَهُ اللّٰهُ أَنَّ رَجُلًا قَالَ: إِنَّ فُلَانًا قَدِ اغْتَابَكَ. فَبَعَثَ إِلَيْهِ طَبَقًا مِنَ الرُّطَبِ وَقَالَ: بَلَغَنِيْ أَنَّكَ أَهْدَيْتَ لِيْ حَسَنَاتِكَ فَأَرَدْتُ أَنْ أُكَافِئَكَ عَلَيْهَا فَاعْذُرْنِيْ فَإِنِّيْ لَا أَقْدِرُ أَنْ أُكَافِئَكَ بِهَا عَلَى التَّمَامِ.
تنبيه الغافلين باحاديث سيد الأنبياء والمرسلين للسمرقندي ص ١٦٢ باب الغيبة ، احياء علوم الدين ج٣ ص ١٥٣ بيان كفارة الغيبة ، نضرة النعيم ج١١ ص٥١٧٦ الغيبة.

(٢) وروي أن رجلا قال للحسن بلغني أنك تغتابني. فقال: مَا بَلَغَ قَدْرُكَ عِنْدِيْ أَنْ أُحَكِّمَكَ فِيْ حَسَنَاتِيْ. احياء علوم الدين ج٣ ص ١٤٨ كتاب آفات اللسان ، الاذكار للنووي ج١ ص ٣٢٠ كتاب حفظ اللسان باب بيان ما يدفع به الغيبة عن نفسه

ته يې هم دا ويلي وو چې غيبت دومره بد شی دی چې ددې په وجه د انسان نيکۍ د نورو خلقو عملنامو ته ځي.

سفيان ثوري رَحِمَهُ اللهُ د امام صاحب هَم عصر وُ ، دواړو به دَرسونه کول ، يوه ورځ چا د سفيان ثوري رَحِمَهُ اللهُ نه پوښتنه اوکړه چې ستاسو د امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله په باره کې څه خيال دی؟ سفيان ثوري رَحِمَهُ اللهُ ورته ووېل:

امام صاحب ډير بخيل سړی دی. هغه کس ورته ووېل: مونږ خو د هغه په باره کې آوريدلي دي چې هغه ډير سخي سړی دی او ته وايې چې هغه بخيل دی.

سفيان ثوري رَحِمَهُ اللهُ ورته ووېل:

هغه ځکه بخيل دی چې بل ته خپلې نېکۍ نه ورکوي او د نورو نيکۍ اخلي، هغه داسې چې نور خلق د هغه غيبت کوي چې په دې سره د نورو خلقو نېک اعمال دده عملنامې ته راځي خو دا په خپله نه د چا غيبت کوي او نه د چا غيبت آوري نو خپلې نيکۍ بل چاته نه ورکوي، لهذا د آخرت په لحاظ سره بخيل دی. (۱)

## د قيامت په ورځ په عملنامه کې نېک اعمال موندل

حضرت ابو امامة ﷺ فرمايي چې کله انسان ته د قيامت په ورځ عملنامه ورکړې شي نو دا به په کې داسې نيکۍ اوګوري چې هغه به دده نه وي کړي، دا به الله ﷻ ته عرض اوکړي:

اې ربه! دا نيکۍ ماته د کوم ځای نه ملاوُ شوی؟ (دا خو ما نه وي کړی).

الله تعالی به ورته اوفرمايي:

هٰذَا بِمَا اغْتَابَكَ النَّاسُ وَأَنْتَ لَا تَشْعُرُ.

دا نيکۍ تاته ددې په عوض کې ملاوُ شوي چې خلقو ستا غيبت کړې وُ او تا ته پته نه وه (نو د هغوی نېک اعمال ستا په عملنامه کې جمع شوي). (۲)

(۱) اصلاحي خطبات ج٥ ص ۷۷.

(۲) عَنْ أَبِي أُمَامَةَ الْبَاهِلِيِّ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ، أَنَّهُ قَالَ: إِنَّ الْعَبْدَ لَيُعْطَى كِتَابَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيَرَى فِيهِ حَسَنَاتٍ لَمْ يَكُنْ عَمِلَهَا، فَيَقُولُ يَا رَبِّ! مِنْ أَيْنَ لِي هٰذَا؟ فَيَقُولُ: هٰذَا بِمَا اغْتَابَكَ النَّاسُ وَأَنْتَ لَا تَشْعُرُ. تنبيه الغافلين بأحاديث سيد الأنبياء والمرسلين للسمرقندي ص ۱٦۳ باب الغيبة.

## د غيبت په وجه د مونځ او روژې کامل ثواب ختمېږي

په يو حديث کې نبي عليه السلام د غيبت متعلق سخت زَجر او تَنبيه فرمايلې ده :
حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي چې دوه کسانو (د نبي عليه السلام پسې) د ماسپخين او مازيګر مونځ اوکړو او دوی دواړه روژه دار وو ، کله چې نبي عليه السلام مونځ پوره کړو نو دوی دواړو ته يې اوفرمايل :

أَعِيدَا وُضُوءَ كُمَا وَصَلَاتَكُمَا وَامْضِيَا فِي صَوْمِكُمَا وَاقْضِيَاهُ يَوْمًا آخَرَ .

تاسو دواړه خپل اَودس او مونځ دوباره اوکړئ ، دا خپله روژه پوره کړئ او (احتياطًا) ددې په ځای بله روژه هم اونيسئ .
هغه دواړو کسانو ورته عرض اوکړو : اې د الله رسوله ! ولې دوباره اَودس ، مونځ او روژه رااوګرځوو ؟
نبي عليه السلام ورته اوفرمايل :

اِغْتَبْتُمْ فُلَانًا . تاسو د فلانکي سړي غيبت اوکړو .(١)

**تشريح** : ددې حديث نه په ظاهره دا معلومېږي چې په غيبت سره اَودس ، مونځ او روژه ماتېږي ، د سفيان ثوري رحمه الله قول هم همدا دی " چې په غيبت سره روژه ماتېږي "
ليکن زمونږ علماؤ نورو احاديثو ته نظر کولو سره فرمايلي چې په حقيقت کې غيبت سره اَودس، مونځ او روژه نه ماتېږي . او په دې پاس حديث کې نبي عليه السلام د سخت زَجر او تَنبيه په طور دا فرمايلي دي ، البته په غيبت سره د اَودس مونځ او روژې کامِل ثواب ضرور ختمېږي ، ځکه غيبت ګناه ده او په ګناه کولو سره د نېک عمل کامل ثواب ختمېږي .
بهر حال د مذکوره حديث نه دا خبره يقينًا واضحه کېږي چې د غيبت قباحت ډېر زيات دی ،

---

(١) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا . أَنَّ رَجُلَيْنِ صَلَّيَا صَلَاةَ الظُّهْرِ أَوِ الْعَصْرِ وَكَانَا صَائِمَيْنِ ، فَلَمَّا قَضَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّلَاةَ ، قَالَ : أَعِيدَا وُضُوءَ كُمَا وَصَلَاتَكُمَا وَامْضِيَا فِي صَوْمِكُمَا وَاقْضِيَاهُ يَوْمًا آخَرَ . قَالَا : لِمَ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: اِغْتَبْتُمْ فُلَانًا . شعب الايمان رقم الحديث ٦٣٠٣ ، مشكوة المصابيح بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيبَةِ وَالشَّتْمِ اَلْفَصْل الثالث رقم الحديث ٤٨٧٣(٦٢) .

او د احتياط او تقوى تقاضا هم داده چې څوک غيبت اوكړي يا ډيرې فضول خبرې اوكړي نو مستحب داده چې اَودس دوباره اوكړي ، ددې د پاره چې ددې ګناه دا ظلمت ختم شي .(١)

ملاعلي قاري رَحِمَهُ اللهُ په " مرقاة " كې د مذكوره حديث متعلق بهترين تحقيق هم نقل كړى .(٢)

## د غيبت په وجه په عذابِ قبر كې مبتلاء كيدل

غيبت دومره خطرناكه ګناه ده چې ددې په وجه انسان په عذابِ قبر كې مبتلاء كيږي :

1 . د ابن ماجه شريف حديث دى ، حضرت ابوبكرة رضي الله عنه فرمايي :

مَرَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَبْرَيْنِ . فَقَالَ: إِنَّهُمَا لَيُعَذَّبَانِ وَمَا يُعَذَّبَانِ فِي كَبِيرٍ أَمَّا أَحَدُهُمَا فَيُعَذَّبُ فِي الْبَوْلِ. وَأَمَّا الْآخَرُ فَيُعَذَّبُ فِي الْغِيْبَةِ .(٣)

نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دوه (٢) قبرونو تيرشو نو وې فرمايل : دې دواړو قبرونو واله

---

(١) مظاهر حق ج٧ .

(٢) (وَامْضِيَا فِي صَوْمِكُمَا) : يَعْنِي لَا تَقْطَعَاهُ بِالْإِفْطَارِ مِنْ مَضَى فِي أَمْرِهِ: إِذَا نَفَذَ فِيهِ. وَلَمْ يَتَوَقَّفْ (وَاقْضِيَاهُ) أَيْ: صَوْمَكُمَا (يَوْمًا آخَرَ) . قَالَ الطِّيبِيُّ رَحِمَهُ اللهُ : وَهٰذَا فِي الصَّوْمِ ظَاهِرٌ لِقَوْلِهِ تَعَالَى : {أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَنْ يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا} . الحجرات آية ١٢ ] . وَأَمَّا فِي الصَّلَاةِ ، فَلِأَنَّهُ شَرِبَ دَمَ أَخِيهِ وَلَحْمَهُ فَحَمَلَ النَّجَاسَةَ. اهـ
وَحَاصِلُهُ أَنَّ الْإِتْيَانَ بِالْمَعْصِيَةِ قَبْلَ الطَّاعَةِ يُنْقِصُ كَمَالَهَا. كَمَا أَنَّ الْحَسَنَةَ بَعْدَ السَّيِّئَةِ تُوجِبُ زَوَالَهَا. فَإِنَّ قَوْلَهُ تَعَالَى: {إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ} . هود آية ١١٢] ، وَرَدَ فِيمَنْ قَبَّلَ امْرَأَةً أَجْنَبِيَّةً.
وَلَعَلَّهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هُنَا أَظْهَرَ الزَّجْرَ الشَّدِيدَ وَالتَّغْلِيظَ وَالْوَعِيدَ لِمَا يَتَعَلَّقُ بِالْغِيبَةِ مِنْ حَقِّ الْعِبَادِ وَرُبَّمَا تَذْهَبُ الْعِبَادَةُ بِالْكُلِّيَّةِ ، حَيْثُ يُعْطَى لِصَاحِبِ الْغِيبَةِ النَّافِلَةُ الطَّوِيلَةُ فَيَبْقَى الْمُذْنِبُ بِلَا صَوْمٍ وَصَلَاةٍ فَلِهٰذَا أَمَرَهُمَا بِإِعَادَتِهِمَا وَقَضَائِهِ. وَهٰذَا مِنْ قَبِيلِ فَتْوَى الْخَاصَّةِ لَا مِنْ قَبِيلِ أَحْكَامِ الْعَامَّةِ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج٧ ص ٣٠٥٦ بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيبَةِ وَالشَّتْمِ الفصل الثالث في تشريح حديث ٤٨٧٣ .

(٣) سنن ابن ماجة كِتَابُ الطَّهَارَةِ وَسُنَنِهَا بَابُ التَّشْدِيدِ فِي الْبَوْلِ رقم الحديث ٣٤٩ قال الالباني : حسنٌ صحيحٌ كنزالعمال الباب الثالث في التخلي والاستنجاء وازالة النجاسات رقم الحديث ٢٦٣٧٢ ، قال الحافظ ابن حجر رحمه الله الفتح (٢٨٥/١) : اخرجه احمد والطبراني باسناد صحيح .

ته عذاب ورکولې شي، او (د دوی په گمان باندې) دوی ته (داسې) په کبيره گناه باندې عذاب نشي ورکولی (چې گنې د هغې نه بچ کيدل سخت دي اگر چې په حقيقت کې کبيره گناهونه دي او بچ کيدل ورنه آسان دي)، دې يو کس ته د تشو متيازو نه ځان نه ساتلو په وجه عذاب ورکولې شي، او دې بل کس ته د غيبت په وجه عذاب ورکولې شي.

۴ . په مسند احمد او نورو د احاديثو په کتابونو کې ددې مذکوره حديث سره څه نور اضافه هم شته:

حضرت ابوبکرة ﷺ فرمايي چې زه د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره روان ووم، هغوی زما لاس نيولې ؤ، او يو کس د هغوی چپ طرف ؤ، ناڅاپه مونږ دوه قبرونو ته اورسيدو کوم چې زمونږ مخې ته وو، نبي عليه السلام اوفرمايل:

إِنَّهُمَا لَيُعَذَّبَانِ . وَمَا يُعَذَّبَانِ فِي كَبِيرٍ . وَبَلَى .

بيشکه دې دواړو قبرونو والا ته عذاب ورکولې شي او (ستاسو په خيال) دوی ته د کومې غټې گناه په وجه عذاب نشي ورکولی حالانکه دا (په حقيقت کې) لويه گناه ده.

بيا نبي عليه السلام اوفرمايل: په تاسو کې به څوک ما ته د قجورې يوه څانگه راوړي؟ (حضرت ابوبکرة ﷺ فرمايي) پس مونږ مَنډې کړې، زه د هغه بل کس نه مخکې شوم او پيغمبر عليه السلام ته مې د قجورې څانگه راوړه، دوی دا په مينځ باندې نيمه کړه، يوه حصه يې په يو قبر واچوله او دويمه حصه يې په بل قبر واچوله، او وې فرمايل:

إِنَّهُ يُهَوَّنُ عَلَيْهِمَا مَا كَانَتَا رَطْبَتَيْنِ، وَمَا يُعَذَّبَانِ إِلَّا فِي الْبَوْلِ وَالْغِيبَةِ .

ترڅو پورې چې دا څانگې تازه وي نو تر هغې پورې به په دې دواړو (قبرونو والا) باندې عذابِ قبر سپک وي، او دې دواړو ته صرف د تشو متيازو نه ځان نه بچ کولو او غيبت کولو په وجه عذابِ قبر ورکولې شي. (١)

(١) عَنْ أَبِي بَكْرَةَ ﷺ ، قَالَ : بَيْنَا أَنَا أُمَاشِي رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ آخِذٌ بِيَدِي . وَرَجُلٌ عَنْ يَسَارِهِ، فَإِذَا نَحْنُ بِقَبْرَيْنِ أَمَامَنَا . فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « إِنَّهُمَا لَيُعَذَّبَانِ . وَمَا يُعَذَّبَانِ فِي كَبِيرٍ ، وَبَلَى . فَأَيُّكُمْ يَأْتِينِي بِجَرِيدَةٍ ؟ » فَاسْتَبَقْنَا، فَسَبَقْتُهُ . فَأَتَيْتُهُ بِجَرِيدَةٍ . فَكَسَرَهَا نِصْفَيْنِ . فَأَلْقَى عَلَى ذَا الْقَبْرِ قِطْعَةً ، وَعَلَى ذَا الْقَبْرِ قِطْعَةً ، وَقَالَ : « إِنَّهُ يُهَوَّنُ عَلَيْهِمَا مَا كَانَتَا رَطْبَتَيْنِ، ←←←←←←←

۳ . حضرت قتادة رحمه الله فرمايي چې مونږ ته دا خبره رارسيدلې چې د عذاب قبر دري ثلثه (حصې) دي : يو ثلث د غيبت کولو په وجه دی ، يو ثلث د تشو متيازو نه ځان نه ساتلو په وجه دی ، او يو ثلث د چُغل خورۍ په وجه دی . (۱)

## د غيبت په وجه د جهنم مستحق کيدل

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ ذَكَرَ امْرَأً بِشَيْءٍ لَيْسَ فِيهِ لِيَعِيبَهُ بِهِ حَبَسَهُ اللهُ فِي نَارِ جَهَنَّمَ حَتَّى يَأْتِيَ بِنَفَادِ مَا قَالَ فِيهِ. (۲)

څوک چې د يو کس متعلق داسې خبرې اوکړي چې په هغه کې نه وي او مقصد يې په هغه باندې عيب لږول وي نو الله تعالی به دا د جهنم په اُورکې تر هغې پورې حصار کړي تر دې چې ده کومې خبرې کړی د هغې تحقيق اوشي او دده نه دا عيب لرې شي . (۳)

## د غيبت کوونکي د پاره په جهنم کې سخت ترين عذاب

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي چې څلور قِسمه جهنميان داسې دي چې په دوی باندې کوم عذاب وي دوی به دديې په وجه نورو جهنميانو ته د يو تکليف د پاسه نور تکليف

←←← وَمَا يُعَذَّبَانِ إِلَّا فِي الْبَوْلِ وَالْغِيبَةِ » . مسند احمد رقم الحديث ۲۰۳۷۳ ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۲۸۴۱(۱۴) الترهيب من الغيبة والبهت و بيانهما ، مجمع الزوائد و منبع الفوائد باب ماجاء في الغيبة والنميمة رقم الحديث ۲۸۴۱(۱۴) وقال الهيثمي : رواه احمد و رجاله رجال الصحيح غير مرّار و هو ثقة ، الزواجر ج۲ ص ۱۶ الغيبة والسكوت عليها .

(۱) قَالَ قَتَادَةُ رحمه الله : ذُكِرَ لَنَا أَنَّ عَذَابَ الْقَبْرِ ثَلَاثَةُ أَثْلَاثٍ : ثُلُثٌ مِنَ الْغِيبَةِ . وَثُلُثٌ مِنَ الْبَوْلِ . وَثُلُثٌ مِنَ النَّمِيمَةِ . الزواجر عن اقتراف الكبائر ج ۲ ص ۱۸ اَلْكَبِيرَةُ الثَّامِنَةُ وَالتَّاسِعَةُ وَالْأَرْبَعُونَ بَعْدَ الْمِائَتَيْنِ الْغِيبَةُ وَالسُّكُوتُ عَلَيْهَا

(۲) الزواجر عن اقتراف الكبائر ج ۲ ص ۱۷ اَلْكَبِيرَةُ الثَّامِنَةُ وَالتَّاسِعَةُ وَالْأَرْبَعُونَ بَعْدَ الْمِائَتَيْنِ الْغِيبَةُ وَالسُّكُوتُ عَلَيْهَا . الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ۴۳۰۸ الترهيب من الغيبة والبهت وبيانهما ، و رقم الحديث ۴۲۳۲ وقال المنذري: رواه الطبراني باسناد جيد .

(۳) (حَتَّى يَأْتِيَ بِنَفَادِ مَا قَالَ فِيهِ ) اي يستمر عذابه حتى يحقق قوله الذي صدر منه كذباً و زوراً . وقيل : المعنى يستمر عذابه مدة حتى يزيل هذه العيوب منه ، و لن يزيل شيئاً منها . مُحقق الترغيب والترهيب.

رسوي ، دا څلور كسان به د جهنم د ګرمو اوبو او اور په مينځ كې منډې وهي ، هلاكت او مرګ به غواړي ، بعضې جهنميان به نورو ته اووايي :

مَا بَالُ هٰؤُلَاءِ قَدْ آذَوْنَا عَلٰى مَا بِنَا مِنَ الْأَذٰى.

په دې خلقو باندې څه شوي ؟ دوى خو مونږ ته د خپل تكليف د پاسه نور تكليف رااورسول.

په دې (څلورو) كې به يو هغه كس وي چې د هغه نه به د سكروټو تابوت راتاؤ شوې وي. دويم به هغه كس وي چې خپلې كولمې به راكاږي ، دريم به هغه كس وي چې د خُلې نه به يې زوې او وينې بهيږي . او څلورم به هغه كس وي چې خپله غوښه به خوري .

د تابوت والد ته به وويلې شي : مَا بَالُ الْأَبْعَدِ قَدْ آذَانَا عَلٰى مَا بِنَا مِنَ الْأَذٰى؟

د الله د رحمت نه لرې ددې كس څه حال دى چې ده مونږ د خپل تكليف د پاسه په بل تكليف كې واچولو ؟ (يعنى ستا څه جُرم دى چې ستا په وجه مونږ نور هم په مصيبت كې اَخته شو؟)

هغه به ورته اووايي : إِنَّ الْأَبْعَدَ مَاتَ وَفِيْ عُنُقِهٖ أَمْوَالُ النَّاسِ لَمْ يَجِدْ لَهَا قَضَاءً .

بيشكه دا بَدنصيبه (د الله ﷻ د رحمت نه لرې كس) په داسې حالت كې مړ شوى چې ده په غاړه باندې د خلقو مالونه وو او هغه يې نه وو پوره كړي .

بيا چې كوم كس كولمې راكاږي هغه ته به وويلې شي :

مَا بَالُ الْأَبْعَدِ قَدْ آذَانَا عَلٰى مَا بِنَا مِنَ الْأَذٰى؟

په دې مَحرومُ القِسمة (د الله ﷻ د رحمت نه لرې كس) باندې څه شوي چې ده په مونږ باندې خپل مصيبت نور هم زيات كړو ؟

هغه به ووايي : إِنَّ الْأَبْعَدَ كَانَ لَا يُبَالِيْ أَيْنَ أَصَابَ الْبَوْلُ مِنْهُ . ثُمَّ لَا يَغْسِلُهٗ.

بيشكه دې بَدنصيبه به ددې هيڅ پرواه نه كوله چې تشې مِتيازې ده د بدن په كوم ځاى لږيدلي ؟ بيا به ده دا نه وينځلې .

بيا چې د چا د خُلې نه زوې او وِينې بهيږي هغه ته به هم دا وويلې شي :

مَا بَالُ الْأَبْعَدِ قَدْ آذَانَا عَلٰى مَا بِنَا مِنَ الْأَذٰى؟

ددې اَبعد ( يعنی د الله ﷻ د رحمت نه لرې کس ) څه حال دی چې په مونږ باندې کوم تکليف ؤ ده د هغې د پاسه نور تکليف هم مونږ ته رااورسول ؟

هغه به ووايي :

إِنَّ الْأَبْعَدَ كَانَ يَنْظُرُ إِلَى كُلِّ كَلِمَةٍ قَذِعَةٍ خَبِيْثَةٍ. يَسْتَلِذُّهَا كَمَا يَسْتَلِذُّ الرَّفَثَ.

يېشکه دې بَدقِسمته به چې کله بې کاره ، خبيثه خبره اُوليده نو د هغې نه به يې داسې خوَند اخيستو لکه د بَدکارۍ نه چې خوَند اخلي .

بيا چې کوم کس خپله غوښه خوري هغه ته به وويلې شي :

مَا بَالُ الْأَبْعَدِ قَدْ آذَانَا عَلَى مَا بِنَا مِنَ الْأَذٰى؟

ددې اَبعد ( د الله ﷻ د رحمت نه لرې کس ) څه حال دی چې ده مونږ ته د خپل تکليف د پاسه نور تکليف هم رااورسول ؟

هغه به اووايي : إِنَّ الْأَبْعَدَ كَانَ يَأْكُلُ لُحُوْمَ النَّاسِ بِالْغَيْبِ، وَيَمْشِيْ بِالنَّمِيمَةِ.

دې بَدقِسمته به ( د غيبت کولو په وجه ) د خلقو غوښې خوړی او چُغل خوري به يې کوله . (١)

(١) عَنْ شُفَيِّ بْنِ مَاتِعٍ الْأَصْبَحِيِّ ، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "أَرْبَعَةٌ يُؤْذُوْنَ أَهْلَ النَّارِ عَلَى مَا بِهِمْ مِنَ الْأَذٰى، يَسْعَوْنَ بَيْنَ الْحَمِيْمِ وَالْجَحِيْمِ. يَدْعُوْنَ بِالْوَيْلِ وَالثُّبُوْرِ، يَقُوْلُ أَهْلُ النَّارِ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ: مَا بَالُ هٰؤُلَاءِ قَدْ آذَوْنَا عَلَى مَا بِنَا مِنَ الْأَذٰى؟" قَالَ: «فَرَجُلٌ مُغْلَقٌ عَلَيْهِ تَابُوْتٌ مِنْ جَمْرٍ، وَرَجُلٌ يَجُرُّ أَمْعَاءَهُ. وَ رَجُلٌ يَسِيْلُ فُوْهُ قَيْحًا وَدَمًا. وَرَجُلٌ يَأْكُلُ لَحْمَهُ» . قَالَ: "يُقَالُ لِصَاحِبِ التَّابُوْتِ: مَا بَالُ الْأَبْعَدِ قَدْ آذَانَا عَلَى مَا بِنَا مِنَ الْأَذٰى؟" قَالَ: "فَيَقُوْلُ: إِنَّ الْأَبْعَدَ مَاتَ وَفِيْ عُنُقِهِ أَمْوَالُ النَّاسِ، لَمْ يَجِدْ لَهَا قَضَاءً" . قَالَ: "وَيُقَالُ لِلَّذِيْ يَجُرُّ أَمْعَاءَهُ: مَا بَالُ الْأَبْعَدِ قَدْ آذَانَا عَلَى مَا بِنَا مِنَ الْأَذٰى؟" قَالَ: "فَيَقُوْلُ: إِنَّ الْأَبْعَدَ كَانَ لَا يُبَالِيْ أَيْنَ أَصَابَ الْبَوْلُ مِنْهُ. ثُمَّ لَا يَغْسِلُهُ. ثُمَّ يُقَالُ لِلَّذِيْ يَسِيْلُ فُوْهُ قَيْحًا وَدَمًا: مَا بَالُ الْأَبْعَدِ قَدْ آذَانَا عَلَى مَا بِنَا مِنَ الْأَذٰى؟" قَالَ: "فَيَقُوْلُ: إِنَّ الْأَبْعَدَ كَانَ يَنْظُرُ إِلَى كُلِّ كَلِمَةٍ قَذِعَةٍ خَبِيْثَةٍ، يَسْتَلِذُّهَا كَمَا يَسْتَلِذُّ الرَّفَثَ. ثُمَّ يُقَالُ لِلَّذِيْ يَأْكُلُ لَحْمَهُ: مَا بَالُ الْأَبْعَدِ قَدْ آذَانَا عَلَى مَا بِنَا مِنَ الْأَذٰى؟ فَيَقُوْلُ: إِنَّ الْأَبْعَدَ كَانَ يَأْكُلُ لُحُوْمَ النَّاسِ بِالْغَيْبِ، وَيَمْشِيْ بِالنَّمِيمَةِ. صفة النار لابن ابي الدنيا ج١ ص ١٣٢ رقم الحديث ٢٢٩ بُكَاءُ أَهْلِ النَّارِ. المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ٧٢٢٦ ، حلية الاولياء وطبقات الاصفياء ج٥ ص ١٦٧ ، ←←←←←←←←

## غيبت كوونكي به په جهنم كې مر داره خوري

د معراج په شپه باندې نبي عليه السلام جهنم ته اوكتل نو داسې خلق يې په كې اُوليدل چې مرداره يې خوره ، پيغمبر عليه السلام د حضرت جبريل عليه السلام نه پوښتنه اوكړه :

مَنْ هٰؤُلَاءِ يَا جِبْرِيْلُ ؟ اې جبريل ! دا خلق څوک دي ؟

حضرت جبريل عليه السلام ورته اوفرمايل : هٰؤُلَاءِ الَّذِيْنَ يَأْكُلُوْنَ لُحُوْمَ النَّاسِ .

دا هغه خلق دي چې په دُنيا كې يې د خلقو غوښې خوړې . ( يعنې د خلقو غيبت به يې كولو نو اوس يې دا سزا ده ) . (١)

## د ټولو نه غټ سُود د مسلمان عزت او آبرو ته نقصان رسول دي

سُود اګر چې ډيره سخته ګناه ده خو د ټولو نه غټ سُود دا دی چې انسان د بل چا عزت او آبرو ته نقصان اُورسوي ، او دا خبره په صحيح احاديثو كې ذكر ده ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

إِنَّ الرِّبَا نَيِّفٌ وَسَبْعُوْنَ بَابًا أَهْوَنُهُنَّ بَابًا مِنَ الرِّبَا مِثْلُ مَنْ أَتَى أُمَّهُ فِي الْإِسْلَامِ ، وَ دِرْهَمُ رِبًا أَشَدُّ مِنْ خَمْسٍ وَّثَلَاثِيْنَ زِنْيَةً . وَأَشَدُّ الرِّبَا وَأَرْبَى الرِّبَا وَأَخْبَثُ الرِّبَا اِنْتِهَاكُ عِرْضِ الْمُسْلِمِ وَانْتِهَاكُ حُرْمَتِهِ .

---

←←← مجمع الزوائد رقم الحديث ١٠٣٢ باب الاستنزاه من البول والاحتراز منه لما فيه من العذاب ، وقال الهيثمي : رواه الطبراني في الكبير و رجاله موثقون ، كنز العمال رقم الحديث ٤٣٩٧٩ ، الزواجر عن اقتراف الكبائر ج١ ص٢٠٨ الكبيرة الحادية والسبعون عدم التنزّه من البول في البدن او الثوب ، و ج ٢ ص ١٣ الغيبة والسكوت عليها ، الكبائر للذهبي ج١ ص ١٤١ الكبيرة السادسة والثلاثون عدم التنزّه من البول وهو شعار للنصارى ، الصمت لابن ابي الدنيا رقم الحديث ١٨٦ و رقم الحديث ٣٢٣ ، ذم الغيبة والنميمة لابن ابي الدنيا رقم الحديث ٤٩ ، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٢٦٤ الترهيب من اصابة البول الثوب وعدم الاستبراء منه ، و رقم الحديث ٢٧٨٩ ، و رقم الحديث ٤٢٩٣ .

(١) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ : لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِنَبِيِّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ...... فَنَظَرَ فِي النَّارِ فَإِذَا قَوْمٌ يَأْكُلُوْنَ الْجِيَفَ . قَالَ : مَنْ هٰؤُلَاءِ يَا جِبْرِيْلُ ؟ قَالَ : هٰؤُلَاءِ الَّذِيْنَ يَأْكُلُوْنَ لُحُوْمَ النَّاسِ . مسند احمد رقم الحديث ٢٣٢٤ ، البعث والنشور للبيهقي رقم الحديث ١٨٨ ، تفسير ابن كثير ج٥ ص ٢٥ ، مجمع الزوائد رقم الحديث ١٣١٣٠ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْغِيبَةِ وَالنَّمِيمَةِ ، الزواجر عن اقتراف الكبائر ج٢ ص ١٥ ، كنز العمال رقم الحديث ٣٥٤٥٣ .

د سُود څه د پاسه اويا ( ۷۰ ) دروازې دي ، او په دې کې کمه درجه د ګناه داده لکه يو مسلمان چې د خپلې مور سره زِنا اوکړي ، د سُود يو درهم د پنځه ديرش ( ۳۵ ) زِناګانو نه ډير سخت دی ، او د ټولو نه سخت سُود ، زيات سُود او بې کاره سُود دادی چې د مسلمان د عزت او حُرمت سپکاوې اوشي . (۱)

**عبرت** : محترمو مسلمانانو ! سُود ډيره بَدترينه ګناه ده ، الله رب العزت په قرآن کريم کې سُود خور ته اِعلانِ جنګ کړی . (۲)

د قيامت په ورځ به د سُود خوَرو ډير بَد اَنجام وي . (۳)

په سُود خور باندې نبي عليه السلام لعنت ليږلی . (۴)

---

(۱) الزواجر عن اقتراف الكبائر ج۲ ص ۱۲ اَلْكَبِيرَةُ الثَّامِنَةُ وَالتَّاسِعَةُ وَالْأَرْبَعُونَ بَعْدَ الْمِائَتَيْنِ الْغِيبَةُ وَالسُّكُوتُ عَلَيْهَا . و ج ۱ ص ۳۷۸ اَلْكَبِيرَةُ التَّاسِعَةُ وَالسَّبْعُونَ وَالثَّمَانُونَ حَتَّى الرَّابِعَةُ وَالثَّمَانُونَ بَعْدَ الْمِائَةِ أَكْلُ الرِّبَا . و رواه ابن ابي الدنيا والطبراني والبيهقي ، شعب الايمان رقم الحديث ٦٢٨٩ ، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٢٨٥٣ الترهيب من الربا ، وقال المنذري : رواه الطبراني في الاوسط من رواية عمر بن راشد وقد وثق ، و رقم الحديث ٤٢٨٢ الترهيب من الغيبة والبهت .

(۲) الله تعالى فرمايي : ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَذَرُوا مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبَا إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ . فَإِنْ لَمْ تَفْعَلُوا فَأْذَنُوا بِحَرْبٍ مِنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ ﴾ . البقرة آية ۲۷۸ ، ۲۷۹ .

ترجمه : اې مؤمنانو ! تاسو د الله نه اوويريږئ ، او باقي پاتې سُود پريږدئ که چيرته تاسو رښتيني مؤمنان يئ ، پس که چيرته تاسو دا کار او نکړو (يعنې د سُود نه منع نه شوئ ) نو بيا د الله او رسول سره جنګ کولو ته تيار شئ ( يعنې د الله ﷻ او د رسول ﷺ د طرفه اعلانِ جنګ واورئ ) .

(۳) الله تعالى فرمايي : ﴿ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ الرِّبَا لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ الَّذِي يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطَانُ مِنَ الْمَسِّ ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا إِنَّمَا الْبَيْعُ مِثْلُ الرِّبَا وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا ﴾ . البقرة آية ۲۷۵ .

ترجمه : کوم خلق چې سُود خوري دوی به ( د قيامت په ورځ د خپلو قبرونو نه ) نه راپاڅي مګر د هغه کس په شان به راپاڅي چې هغه شيطان په لاس لړولو سره ليونې کړې وي ، دا سزا به يې ځکه وي چې دوی به ( د سُود حلاليدو په دليل کې په دُنيا کې ) ويل : چې بَيع ( سَوداګري ) هم د سُود په شان ده ( يعنې لکه څرنګې چې سَوداګري او تجارت حلال دی نو همداسې دې سُود هم حلال شي ) ، حالانکه ( په تِجارت او سَوداګرۍ کې ډير غټ فرق دی ځکه ) الله تعالى تجارت حلال کړې دی او سُود يې حرام کړې دی .

(۴) لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آكِلَ الرِّبَا ، وَمُؤْكِلَهُ ، وَكَاتِبَهُ ، وَشَاهِدَيْهِ ، وَقَالَ : هُمْ سَوَاءٌ . صحيح مسلم ۱۲۱۹/۲ بَابُ لَعْنِ آكِلِ الرِّبَا وَمُؤْكِلِهِ رقم الحديث ۱۰٦ ( ۱۵۹۸ ) ، سنن الترمذي رقم الحديث بَابُ مَا جَاءَ فِي أَكْلِ الرِّبَا ، مشكاة المصابيح ۸۵۵/۲ رقم الحديث ۲۸۰۷ (۱) باب الربا الفصل الاول .

او په احاديثو مبارکهٔ کې د سُود خوَرو د پاره سختې سزاګانې ذکر شوي.

خو ددې باوجود نبي عليه السلام فرمايي چې د ټولو نه سخت سُود ، زيات سُود او بې کاره سُود دادی چې د مسلمان د عزت او حُرمت سپکاوې اوشي.

په غيبت کې هم د مسلمان سپکاوې کيږي نو لهذا د غيبت نه ځان ساتل په کار دي.

## د چا غيبت کول ګويا هغه لره بَربنډول دي

حضرت عيسٰى عليه السلام خپلو ملګرو ته اوفرمايل:

أَرَأَيْتُمْ لَوْ أَتَيْتُمْ عَلَى رَجُلٍ نَائِمٍ قَدْ كَشَفَتِ الرِّيْحُ عَنْ بَعْضِ عَوْرَتِهِ كُنْتُمْ تَسْتُرُوْنَ عَلَيْهِ؟

دا راته اووايې که چيرته تاسو داسې يو سړي ته راشئ چې هغه اُوده وي او هوا د هغه بعضې عورت ښکاره کړې وي نو آيا تاسو به د هغه عورت پټوئ؟

هغوی ورته ووېل: آو ( مونږ به د هغه عورت پټوو ) .

حضرت عيسٰى عليه السلام ورته اوفرمايل: بَلْ كُنْتُمْ تَكْشِفُوْنَ الْبَقِيَّةَ؟

بلکه تاسو به يې دا باقي پاتې عورت هم ښکاره کړئ.

هغوی ورته ووېل: سُبحانَ الله ، مونږ به څنګه د هغه باقي عورت ښکاره کړو؟ (بلکه مونږ به يې ورله پټ کړو).

حضرت عيسٰى عليه السلام ورته اوفرمايل:

أَلَيْسَ يُذْكَرُ عِنْدَكُمُ الرَّجُلُ فَتَذْكُرُوْنَهُ بِأَسْوَإِ مَا فِيْهِ؟ فَأَنْتُمْ تَكْشِفُوْنَ بَقِيَّةَ الثَّوْبِ عَنْ عَوْرَتِهِ.

آيا داسې نه ده چې کله ستاسو د وړاندې د يو کس تذکره ( غيبت ) کيږي نو تاسو د هغه هاغه عيبونه بيانوئ کوم چې په هغه کې وي؟ پس (په دې غيبت کولو سره ګويا) تاسو د هغه د عورت نه باقي جامې هم لرې کړئ. (١)

---

(١) وَذُكِرَ عَنْ عِيْسَى بْنِ مَرْيَمَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ أَنَّهُ قَالَ لِأَصْحَابِهِ: أَرَأَيْتُمْ لَوْ أَتَيْتُمْ عَلَى رَجُلٍ نَائِمٍ قَدْ كَشَفَتِ الرِّيْحُ عَنْ بَعْضِ عَوْرَتِهِ كُنْتُمْ تَسْتُرُوْنَ عَلَيْهِ؟ قَالُوْا: نَعَمْ. قَالَ: بَلْ كُنْتُمْ تَكْشِفُوْنَ الْبَقِيَّةَ؟ قَالُوْا: سُبْحَانَ اللهِ ، كَيْفَ نَكْشِفُ الْبَقِيَّةَ؟ قَالَ: أَلَيْسَ يُذْكَرُ عِنْدَكُمُ الرَّجُلُ فَتَذْكُرُوْنَهُ بِأَسْوَإِ مَا فِيْهِ؟ فَأَنْتُمْ تَكْشِفُوْنَ بَقِيَّةَ الثَّوْبِ عَنْ عَوْرَتِهِ. تنبيه الغافلين باحاديث سيد الأنبياء والمرسلين ج ١ ص ١٦٥ بَابُ الغِيبَة

# د مسلمان شان دادې چې دا به بل چاته ضرر نه رسوي

د مسلمان شان دادی چې دا به په په هيڅ صورت کې بل مسلمان ته ضرر نه رسوي .

۱ . رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي :

اَلْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُوْنَ مِنْ لِسَانِهٖ وَيَدِهٖ . (۱)

مسلمان هغه دی چې نور مسلمانان دده د ژبې او لاس ( د ضرر ) نه محفوظ وي .

۲ . سُفيان بن حُصَين رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې زه د اِياس بن معاويه رَحِمَهُ اللهُ سره ناست ووم ، يو سړی زمونږ د وړاندې تېر شو ، ما د هغه غيبت اوکړو ، اِياس رَحِمَهُ اللهُ راته وويل :

هَلْ غَزَوْتَ الرُّوْمَ ؟ آيا تا د رُوم جهاد کړی ؟

ما ورته وويل : نه . بيا يې راته وويل :

هَلْ غَزَوْتَ التُّرْكَ ؟ آيا تا د تُرک جهاد کړی ؟

ما ورته وويل : نه . هغه راته وويل :

سَلِمَ مِنْكَ الرُّوْمُ وَسَلِمَ مِنْكَ التُّرْكُ وَلَمْ يَسْلَمْ مِنْكَ أَخُوْكَ الْمُسْلِمُ

د تانه د رُوم او تُرک کافران سالم پاتې شوي ليکن خپل مسلمان ورور درنه محفوظ ندې پاتې شوی .

سفيان بن حصين رَحِمَهُ اللهُ وايي چې ددينه پس ما بيا د هيچا غيبت ندې کړی . (۲)

---

(۱) صحيح البخاري رقم الحديث ١٠ كِتَابُ الإِيمَانِ بَابٌ: اَلْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُوْنَ مِنْ لِسَانِهٖ وَيَدِهٖ . و رقم الحديث ٦٤٨٤ كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابُ الإِنْتِهَاءِ عَنِ الْمَعَاصِي ، صحيح مسلم رقم الحديث ٦٥(٤١) كِتَابُ الإِيمَانِ بَابُ بَيَانِ تَفَاضُلِ الإِسْلَامِ ، وَأَيُّ أُمُورِهِ أَفْضَلُ . سنن ابي داؤد رقم الحديث ٢٤٨١ ، سنن الترمذي رقم الحديث ٢٦٢٧ .

(۲) قَالَ سُفْيَانُ بْنُ الْحُصَيْنِ كُنْتُ جَالِسًا عِنْدَ إِيَاسِ بْنِ مُعَاوِيَةَ ، فَمَرَّ رَجُلٌ فَنِلْتُ مِنْهُ . فَقَالَ : أُسْكُتْ . ثُمَّ قَالَ لِي إِيَاسُ : هَلْ غَزَوْتَ الرُّوْمَ ؟ قُلْتُ : لَا . قَالَ : هَلْ غَزَوْتَ التُّرْكَ ؟ قُلْتُ : لَا . قَالَ : سَلِمَ مِنْكَ الرُّوْمُ وَسَلِمَ مِنْكَ التُّرْكُ وَلَمْ يَسْلَمْ مِنْكَ أَخُوْكَ الْمُسْلِمُ . قَالَ فَمَا عُدْتُ إِلَى ذٰلِكَ بَعْدُ . تنبيه الغافلين باحاديث سيد الانبياء والمرسلين ج ۱ ص ١٦٥ بَابُ الْغِيبَةِ . بريقة محمودية في شرح طريقة محمدية وشريعة نبوية في سيرة احمدية ج٣ ص ١٨٦ السَّادِسُ الْغِيبَةُ

# صحابه کرامو رضي الله عنهم به د يو بل غيبت نه کولو

امام غزالي رحمه الله په " احياء العلوم " کې ذکر کړي :

كَانَ الصَّحَابَةُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ يَتَلَاقَوْنَ بِالْبِشْرِ وَلَا يَغْتَابُوْنَ عِنْدَ الْغَيْبَةِ . وَيَرَوْنَ ذٰلِكَ أَفْضَلَ الْأَعْمَالِ ، وَيَرَوْنَ خِلَافَهُ عَادَةَ الْمُنَافِقِيْنَ . (۱)

صحابه کرام رضي الله عنهم به په پوره رونړ تندي ( خوشحالی ) د يو بل سره ملاويدل ، د يو بل غيبت به يې نه کولو ، او دا به يې په ټولو اعمالو کې بهترين عمل ګڼړل ، او د دې خلاف به يې د منافقانو عادت ګڼړل .

همدارنګې زمونږ اسلافو به هم لکه څرنګې چې مونځ او روژه عبادت ګڼړل نو همدغه شان د خلقو د عزت او ضرر نه ځان منع کول به يې هم عبادت ګڼړل . (۲)

## غيبت د بدترينو خلقو غذا ده

يو کس د زين العابدين رحمه الله په مخکې د چا غيبت اوکړو نو ده ورته ووېل : خبردار غيبت مه کوه ځکه دا د هغه خلقو غذا ده کوم چې د انسانانو په شکل کې سپي دي .

## غيبت د دين د پاره ډير نقصاني دی

حضرت حسن رضي الله عنه فرمايي : وَاللهِ لَلْغِيْبَةُ أَسْرَعُ فِيْ دِيْنِ الْمُؤْمِنِ مِنَ الْأَكِلَةِ فِيْ جَسَدِهٖ . (۳)

قسم په الله ، د مؤمن په دين خرابولو کې د غيبت اثر په بدن کې د آکلې ( غوبنه

(۱) إحياء علوم الدين ج ۳ ص ۱۴۳ كتاب آفات اللسان ، نضرة النعيم ج ۱۱ ص ۵۱۷۷ الغيبة .

(۲) وَقَالَ بَعْضُهُمْ : أَدْرَكْنَا السَّلَفَ الصَّالِحَ وَهُمْ لَا يَرَوْنَ الْعِبَادَةَ فِي الصَّوْمِ وَلَا فِي الصَّلَاةِ وَلٰكِنْ فِي الْكَفِّ عَنْ أَعْرَاضِ النَّاسِ . الزواجر عن اقتراف الكبائر ج۲ ص ۱۸ اَلْكَبِيْرَةُ الثَّامِنَةُ وَالتَّاسِعَةُ وَالْأَرْبَعُوْنَ بَعْدَ الْمِائَتَيْنِ الْغِيْبَةُ وَالسُّكُوْتُ عَلَيْهَا . الصمت لابن ابي الدنيا ج۱ ص ۱۲۹ رقم ۱۹۲ ، ذم الغيبة والنميمة لابن ابي الدنيا ج۱ ص ۲۲ رقم ۵۵ ، احياء علوم الدين ج۳ ص ۱۴۲ كتاب آفات اللسان ، نضرة النعيم ج ۱۱ ص ۵۱۷۷ الغيبة .

(۳) الصمت لابن ابي الدنيا ج۱ ص ۱۲۹ رقم ۱۹۱ ، ذم الغيبة والنميمة لابن ابي الدنيا ج۱ ص ۲۱ رقم ۵۴ ، احياء علوم الدين ج ۳ ص ۱۴۴ كتاب آفات اللسان ، الترغيب والترهيب لقوام السنة رقم ۲۲۳۵ ، نضرة النعيم ج۱۱ ص ۵۱۷۶ الغيبة .

رېږوونکي) بيمارۍ نه هم زياتي دي.

(يعنې غوښه خوړونکي بيماري بدن ته دومره تېز نقصان نه رسوي څومره چې غيبت د مؤمن دين ته په تېزۍ نقصان رسوي).

## غيبت د ټولو خرابيو جَرړه ده

غيبت داسې خطرناکه ګناه ده چې ددې په وجه جګړې او بې اتفاقي پيدا کيږي، بلکه په معاشره کې اکثره فساد د غيبت په وجه پيدا کيږي.

بيا غټه د نقصان خبره داده چې غيبت خلق ګناه نه ګنړي، نور ګناهونه خلق ګناه ګنړي، د ګناه نه روستو ځان ورته ملامته ښکاري او ورباندې پښيمانه وي خو غيبت اګر چې ګناهِ کبيره ده خو بيا هم غيبت کوونکي ته ځان ګناهګار نه ښکاري او په زړه کې يې دا احساس هم نه وي چې ګني زه ګناه کوم، بلکه غيبت د ټولو خرابيو جَرړه ده.

## د خلقو غيبت کول بيماري ده

حضرت عُمر رضي الله عنه فرمايي:

عَلَيْكُمْ بِذِكْرِ اللهِ تَعَالَى فَإِنَّهُ شِفَاءٌ ، وَإِيَّاكُمْ وَذِكْرَ النَّاسِ فَإِنَّهُ دَاءٌ. (١)

تاسو په ځان باندې د الله ﷻ ذِکر لازم کړئ ځکه دا شِفاء ده، او د خلقو د ذِکر (غيبت) نه ځان اُوساتئ ځکه دا بيماري ده.

## د علماؤ غيبت کول نوره هم سخته ګناه ده

د عام مسلمان غيبت کول ګناهِ کبيره ده خو بيا خاصکر د علماؤ غيبت کول لو ګناه ډيره سخته ده، ځکه علماؤ ته الله ﷻ ډير لوي شان ورکړی، د عالِم او غير عالِم مرتبه برابر نده، الله تعالى فرمايي: ﴿قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ﴾. (٢)

ترجمه: (اې پيغمبره!) ته ووايه چې کوم خلق پوهيږي او کوم نه پوهيږي آيا دوی برابر دي؟

---

(١) احياء علوم الدين ج ٣ ص ١٤٣ كتاب آفات اللسان ، نضرة النعيم ج ١١ ص ٥١٧٥ الغيبة ، الصمت لابن الدنيا ج ١ ص ١٣١ رقم ١٩٦.

(٢) الزمر آية ٩.

په آيت کې ''هَلْ'' د استفهامِ انکاري د پاره دی ، يعنی پوهه خلق او ناپوهه خلق دواړه برابر نه دي . (١)

علماء د اَنبياؤ وارِثان دي ، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

اَلْعُلَمَاءُ وَرَثَةُ الْأَنْبِيَاءِ . (٢)

. علماء د انبياؤ وارثان دي .

علماء د الله ﷻ وَليان او دوستان دي ،

د امام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللهُ او امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ نه نقل دي :

اِنْ لَّمْ يَكُنِ الْعُلَمَاءُ اَوْلِيَاءَ اللهِ تَعَالٰى فَلَيْسَ لِلّٰهِ وَلِيٌّ . (٣)

که چيرته علماء د الله ﷻ وَليان او دوستان نه شي نو بيا خو د الله ﷻ څوک وَلي نشته .

(بلکه د الله ﷻ وَليان يقيني علماء دي)

او څوک چې د الله ﷻ وَلي ته ضرر رسوي نو داسې کس ته الله ﷻ د خپل طرفه اعلانِ جنګ کړی ، د بخاري شريف حديث دی رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ عَادٰى لِيْ وَلِيًّا فَقَدْ آذَنْتُهٗ بِالْحَرْبِ . (٤)

څوک چې زما د يو وَلي سره دُشمني کوي نو زه هغه ته اعلانِ جنګ کوم .

همدا رنګې د يو چا غيبت کول داسې دی لکه د هغه غوښې خوړل . (٥)

---

(١) تفسير مظهري الزمر آية ٩ ، اعراب القرآن ج٥ ص ١٤٤ الزمر آية ٩ .

(٢) سنن ابي داؤد كِتَابُ الْعِلْمِ بَابُ الْحَثِّ عَلٰى طَلَبِ الْعِلْمِ رقم الحديث ٣٦٤١ ، سنن ابن ماجة بَابُ فَضْلِ الْعُلَمَاءِ وَالْحَثِّ عَلٰى طَلَبِ الْعِلْمِ رقم الحديث ٢٢٣ ، سنن الترمذي أَبْوَابُ الْعِلْمِ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الْفِقْهِ عَلَى الْعِبَادَةِ رقم الحديث ٢٦٨٢ ، صحيح ابن حبان رقم الحديث ٨٧ ، مشكوة المصابيح كتاب العلم اَلْفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ٢١٢(١٥).

(٣) نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص ١٣ .

(٤) صحيح البخاري كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابُ التَّوَاضُعِ رقم الحديث ٦٥٠٢ ، مشكاة المصابيح باب ذكر الله عز وجل والتقرب اليه الفصل الاول رقم الحديث ٢٢٦٦(٦) .

(٥) ﴿ وَلَا يَغْتَبْ بَّعْضُكُمْ بَعْضًا ۭ اَيُحِبُّ اَحَدُكُمْ اَنْ يَّاْكُلَ لَحْمَ اَخِيْهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوْهُ ۭ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ تَوَّابٌ رَّحِيْمٌ ﴾ . الحجرات آية ١٢ .

او علامه ابن عساکر رَحِمَهُ اللهُ ذکر کړي :

لُحُوْمُ الْعُلَمَاءِ مَسْمُوْمَةٌ .

د علماؤ غوښې زهريله دي .(١)

څوک چې دا ( د غيبت کولو په شکل ) اوخوري نو دا دده د مرګ سبب ګرځي .(٢)

همدارنګې بغير د څه سبب نه علماؤ ته د عِلم په وجه سپک کتل يا د دوی بې عزتي کول او يا د دوی پورې توقې کول کُفر دی ، په داسې کس باندې خپله ښځه طلاقيږي .(٣)

د عالِم سپکاوې صرف منافق سړی کوي ، نبي عليه السلام فرمايي :

ثَلَاثٌ لَايَسْتَخِفُّ بِهِمْ إِلَّا مُنَافِقٌ : ذُوالشَّيْبِ فِي الْإِسْلَامِ وَذُوالْعِلْمِ وَإِمَامٌ مُقْسِطٌ .(٤)

درې (٣) کسان داسې دي چې د دوی سپکاوې صرف منافق سړی کوي ( يعنی د دې درې کسانو پورې چې څوک توقې او مسخرې کوي هغه منافق دی ) هغه درې کسان دا دي : ( اول ) هغه کس چې په اسلام کې سپين ګيرې شي . (دويم) : عالِم . او ( دريم ) عادل بادشاه .

څوک چې په دُنيا کې دعالِم سپکاوې کوي ، يا د دوی غيبت کوي نو د آخرت د سزا نه مخکې مخکې الله تعالى داسې خلق په دُنيا کې هم ذليله کوي ، او سخت ترين ژوند کې يې

(١) قَالَ بَعْضُ الْأَئِمَّةِ ـ يَعْنِي الْحَافِظَ الْإِمَامَ ابْنَ عَسَاكِرَ رَحِمَهُ اللهُ ـ : اِعْلَمْ يَا أَخِي وَفَّقَكَ اللهُ وَإِيَّانَا. وَهَدَاكَ سَبِيْلَ الْخَيْرِ وَهَدَانَا أَنَّ لُحُوْمَ الْعُلَمَاءِ مَسْمُوْمَةٌ . وَعَادَةَ اللهِ فِي هَتْكِ مُنْتَقِصِيهِمْ مَعْلُوْمَةٌ . وَمَنْ أَطْلَقَ لِسَانَهُ فِي الْعُلَمَاءِ بِالثَّلْبِ بَلَاهُ اللهُ قَبْلَ مَوْتِهِ بِمَوْتِ الْقَلْبِ {فَلْيَحْذَرِ الَّذِيْنَ يُخَالِفُوْنَ عَنْ أَمْرِهٖ أَنْ تُصِيْبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيْبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيْمٌ } النور آية ٦٣] . الزواجر عن اقتراف الكبائر ج١ ص ١٨٧ اَلْكَبِيْرَةُ السَّادِسَةُ وَالْعِشْرُوْنَ أَذِيَّةُ أَوْلِيَاءِ اللهِ وَمُعَادَاتُهُمْ .

(٢) لُحُوْمُ الْعُلَمَاءِ مَسْمُوْمَةٌ مَنْ يَأْكُلُهُ يَمُوْتُ. د علماؤ غوښې زهريله دي څوک چې دا اوخوري نو مَړ کيږي .
فيض الباري على صحيح البخاري ج١ ص ٢٥١ في تشريح حديث ٦٩.

(٣) وَفِيْ فَتَاوَى الْبَدِيْعِيِّ مِنَ الْحَنَفِيَّةِ : مَنِ اسْتَخَفَّ بِالْعَالِمِ طَلُقَتْ إِمْرَأَتُهُ وَكَأَنَّهُ جَعَلَهُ رِدَّةً . الزواجر عن اقتراف الكبائر ج١ ص ١٨٧ اَلْكَبِيْرَةُ السَّادِسَةُ وَالْعِشْرُوْنَ أَذِيَّةُ أَوْلِيَاءِ اللهِ وَمُعَادَاتُهُمْ .

(٤) رواه الطبراني في الكبير وقد حسنها الترمذي لغير هاالمتن ، الترغيب والترهيب ج ١ ص ٦٥ . الزواجر عن اقتراف الكبائر ج١ ص ١٥٩ اَلْكَبِيْرَةُ السَّابِعَةُ وَالْأَرْبَعُوْنَ إِضَاعَةُ نَحْوِ الْعُلَمَاءِ وَالْاِسْتِخْفَافُ بِهِمْ .

مبتلاء کوي. (١)

## د مړو غيبت هم حرام دی

څوک چې مَړ شوي وي نواګر چې په هغه کې څه عيب وُ ( مثلا په غلا يا بله ګناه کې مبتلاء وُ ) خو بيا هم د هغه غيبت کول حرام دی. (٢)

بلکه د مړو غيبت کول د ژوندو د غيبت کولو نه زياته ګناه ده، په احاديثو مبارکه وُ کې ددينه سخته منع راغلی. (٣)

## د غيبت اَقسام

فقيه ابو الليث سمرقندي رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې غيبت په څلور (۴) قِسمه دی:

١. کُفر ٢. منافقت ٣. مَعصيت(ګناه) ۴. مباح

غيبت چې په کوم صورت کې کُفر دی هغه دادی چې يو کس د بل مسلمان غِيبت اوکړي، کله چې ده ته وويلې شي چې " غيبت مه کوه " نو دا درته په جواب کې اووايي:

---

(١) علماؤ ته د تکليف رسوونکو خلقو سزا متعلق واقعات ددې (اصلاحي مدلل تقريرونه) کتاب په اول جلد کې د صفحه ٢٧٠ نه تر صفحه ٢٧۴ پورې ذکر دي. ابوالشمس علي عنه

(٢) قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا تَسُبُّوا الْأَمْوَاتَ. فَإِنَّهُمْ قَدْ أَفْضَوْا إِلَى مَا قَدَّمُوا.

وَقَالَ ابْنُ بَطَّالٍ: سَبُّ الْأَمْوَاتِ يَجْرِيْ مَجْرَى الْغِيْبَةِ فَإِنْ كَانَ أَغْلَبُ أَحْوَالِ الْمَرْءِ الْخَيْرَ وَقَدْ تَكُوْنُ مِنْهُ الْفَلْتَةُ فَالْاِغْتِيَابُ لَهُ مَمْنُوْعٌ. وَإِنْ كَانَ فَاسِقًا مُعْلِنًا فَلَا غِيْبَةَ لَهُ فَكَذٰلِكَ الْمَيِّتُ. وَيَحْتَمِلُ أَنْ يَكُوْنَ النَّهْيُ عَلَى عُمُوْمِهِ فِيْمَا بَعْدَ الدَّفْنِ وَالْمُبَاحُ ذِكْرُ الرَّجُلِ بِمَا فِيْهِ قَبْلَ الدَّفْنِ لِيَتَّعِظَ بِذٰلِكَ فُسَّاقُ الْأَحْيَاءِ فَإِذَا صَارَ إِلَى قَبْرِهِ أُمْسِكَ عَنْهُ لِإِفْضَائِهِ إِلَى مَا قَدَّمَ. وَقَدْ عَمِلَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا رَاوِيَةُ هٰذَا الْحَدِيْثِ بِذٰلِكَ فِيْ حَقِّ مَنِ اسْتَحَقَّ عِنْدَهَا اللَّعْنُ فَكَانَتْ تَلْعَنُهُ وَهُوَ حَيٌّ. فَلَمَّا مَاتَ تَرَكَتْ ذٰلِكَ وَنَهَتْ عَنْ لَعْنِهِ. فتح الباري شرح صحيح البخاري لابن حجر ج٣ ص ٢٥٩ قَوْلُهُ بَابُ مَا يُنْهَى مِنْ سَبِّ الْأَمْوَاتِ. فتاوى محموديه ج ٢٩ ص ٣٩٦.

(٣) قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا تَسُبُّوا الْأَمْوَاتَ فَإِنَّهُمْ قَدْ أَفْضَوْا إِلَى مَا قَدَّمُوا. صحيح البخاري رقم الحديث ١٣٩٣ كِتَابُ الْجَنَائِزِ بَابُ مَا يُنْهَى مِنْ سَبِّ الْأَمْوَاتِ. و رقم الحديث ٦٥١٦ بَابُ سَكَرَاتِ الْمَوْتِ.

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اُذْكُرُوْا مَحَاسِنَ مَوْتَاكُمْ، وَكُفُّوْا عَنْ مَسَاوِيْهِمْ. سنن ابي داؤد رقم الحديث ۴٩٠٠ بَابٌ فِي النَّهْيِ عَنْ سَبِّ الْمَوْتٰى. سنن الترمذي رقم الحديث ١٠١٩، صحيح ابن حبان رقم الحديث ٣٠٢٠، شعب الايمان رقم الحديث ٦٢٥٢. المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ١٣٥٩٩.

دا زه چې څه وايم دا غيبت ندی او زه په دې کې ريښتينې يم .

پس ده هغه کار ( يعني غيبت ) ځان ته حلال اوګڼل کوم چې الله ﷻ حرام کړې وُ ، او ( دا قاعده ده : ) څوک چې ځانته هغه کار حلال اوګڼي کوم چې الله تعالی حرام کړې دی نو په دې سره دا سړی کافر کيږي ( نَعوذُ بِالله ) .

غيبت په هغه صورت کې منافقت دی چې يو کس د بل چا غيبت کوي خو دا د هغه کس نوم د هغه چا د وړاندې وانخلي چې هغه ته دا پته وي چې دا ورنه فلانکې کس مراد کوي . او دا په دې غيبت کولو سره خپل ځان پرهيزګار هم ګڼړي ، نو داسې غيبت منافقت دی .

غيبت په هغه صورت کې مَعصيت ( ګناه ) ده چې يو کس د بل چا غيبت کوي او دا د غيبت کوونکي نوم هم واخلي ، خو دا کس غيبت ګناه ګڼړي ، نو داسې کس ګناهګار دی په ده باندې لازم دي چې توبه اُوباسي .

څلورم قِسم دادی چې انسان د ښکاره فاسِق ، او بِدعتي غيبت کوي نو دا مُباح دی ، په دې کې اَجر هم شته ، ځکه چې کله خلق د فاسِق او بِدعتي د حال نه خبر شي نو د دوی نه به ځان ساتي . (١)

## د غيبت اَسباب

د غيبت د پاره څه اَسباب شته چې د هغې په وجه انسان په دې ګناه کې اَخته کيږي ، د هغې اَسبابو څه تذکره درته کوم چې انسان د دينه ځان اُوساتي :

١. کله چې د چا په زړه کې د بل سره بُغض او حسَد وي نو په هغه باندې د غصې سړولو د

---

(١) اَلغِيْبَةُ عَلى أَرْبَعَةِ أَوْجُهٍ : فِيْ وَجْهٍ هِيَ كُفْرٌ ، وَفِيْ وَجْهٍ هِيَ نِفَاقٌ ، وَفِيْ وَجْهٍ هِيَ مَعْصِيَةٌ ، وَالرَّابِعُ مُبَاحٌ وَهُوَ مَأْجُوْرٌ . فَأَمَّا الوَجْهُ الَّذِيْ هُوَ كُفْرٌ فَهُوَ أَنْ يَغْتَابَ المُسْلِمَ ، فَيُقَالُ لَهُ : لَا تَغْتَبْ . فَيَقُوْلُ : لَيْسَ هٰذَا غِيْبَةٌ وَأَنَا صَادِقٌ فِيْ ذٰلِكَ . فَقَدِ اسْتَحَلَّ مَا حَرَّمَ اللهُ تَعَالى ، وَمَنِ اسْتَحَلَّ مَا حَرَّمَ اللهُ تَعَالى صَارَ كَافِرًا نَعُوْذُ بِاللهِ . وَأَمَّا الوَجْهُ الَّذِيْ هُوَ نِفَاقٌ ، فَهُوَ أَنْ يَغْتَابَ إِنْسَانًا فَلَا يُسَمِّيْهِ عِنْدَ مَنْ يَعْرِفُ أَنَّهُ يُرِيْدُ مِنْهُ فُلَانًا ، فَهُوَ يَغْتَابُهُ وَيَرٰى مِنْ نَفْسِهِ أَنَّهُ مُتَوَرِّعٌ ، فَهٰذَا هُوَ لِلنِّفَاقِ . وَأَمَّا الَّذِيْ هُوَ مَعْصِيَةٌ ، فَهُوَ أَنْ يَغْتَابَ إِنْسَانًا وَيُسَمِّيْهِ وَيَعْلَمَ أَنَّهَا مَعْصِيَةٌ فَهُوَ عَاصٍ ، وَعَلَيْهِ التَّوْبَةُ . وَالرَّابِعُ أَنْ يَغْتَابَ فَاسِقًا مُعْلِنًا بِفِسْقِهِ أَوْ صَاحِبَ بِدْعَةٍ فَهُوَ مَأْجُوْرٌ ، لِأَنَّهُمْ يَحْذَرُوْنَ مِنْهُ إِذَا عَرَفُوْا حَالَهُ . تنبيه الغافلين باحاديث سيد الأنبياء والمرسلين ج ١ ص ١٦٨ بَابُ الغِيْبَةِ .

پاره د هغه غيبت کوي ، حالانکه بُغض او حسد د مؤمن صفت ندی .

٢ . کله انسان د بل غيبت کوي او د هغه کمزوری بيانوي نو په دې سره دده مقصد د خلقو د وړاندې خپله مرتبه بيانول وي ، چې په هغه کې عيبونه شته او په ما کې دا عيبونه نشته . حالانکه خپل ځان اُوچت ګنړل او بل سپکاوې کول هلاکوونکې ګناه ده .

٣ . کله انسان په مجلس کې د ملګرو سره ناست وي هغوی غيبت کوي نو دا هم د ملګرو خوشحالولو د پاره ورسره په غيبت شريک شي . حالانکه دا د اِيمان د کمزوری علامه ده چې انسان د ملګرو د خوشحالولو د پاره د الله ﷻ نافرماني کوي .

۴ . کله انسان په غيبت سره د نورو سپکاوې او د هغوی پورې ټوقې کول مقصد وي . حالانکه د مسلمان سپکاوې کول ګناهِ کبيره ده .

۵ . کله خلق د يو کس صفت کوي او دا غيبت کوونکی د هغه کس سره د حسَد په وجه دا نشي برداشت کولی نو د هغه غيبت شروع کړي .

٦ . کله انسان د نورو خلقو خندولو د پاره د چا غيبت کوي . حالانکه په احاديثو کې ددينه سخته منع راغلی .

٧ . کله يو کس د بادشاه يا بل مُعزّز کس د وړاندې د بل چا غيبت ددې د پاره کوي چې د بادشاه يا ددې مُعزّز کس د نظر نه هغه کس اُوغورځوي او هغه ته بيا توجّه ورنکړي .

٨ . کله د انسان په بل چا باندې بدګماني وي نو ددې په وجه هم د هغه غيبت کوي . حالانکه په مسلمان باندې بغير د څه سبب نه بدګماني نده پکار . (١)

---

(١) الأسبابُ الباعثة على الغيبة : عندما ينظر الإنسان المسلم العاقل ويفكر في الأسباب التي تدفع المغتاب إلى الغيبة، وتدفع النمام إلى النميمة، فسوف يجد لذلك أسبابًا منها ما يأتي:

السبب الأول: هو محاولة الانتصار للنفس، والسعي في أن يشفي المغتاب الغيظ الذي في صدره على غيره، فعند ذلك يغتابه أو يبهته، أو ينقل عنه النميمة. السبب الثاني: الحقد للآخرين والبغض لهم، فيذكر مساوئ من يبغض، ليشفي حقده، ويبرّد صدره بغيبة من يبغضه ويحقد عليه. وهذا ليس من صفات المؤمنين كاملي الإيمان. نسأل الله العافية. السبب الثالث: إرادة رفعة النفس، وخفض غيره. كأن يقول: فلان جاهل، أو فهمه ضعيف، أو سقيم، أو عبارته ركيكة تدرجًا إلى لفت أنظار الناس إلى فضل نفسه، وإظهار شرفه ←←←←←←

←←← بسلامته عن تلك النقائص التي ذكرها في مَن اغتابه. وهذا من الإعجاب بالنفس. نعوذ بالله من ذلك. وهو من المهلكات التي بيّنها رسول الله صلى الله عليه وسلم . السبب الرابع: موافقة الجلساء والأصحاب. والأصدقاء، ومجاملتهم فيما هم عليه من الباطل، لكي يُكتسب رضاهم حتى ولو كان ذلك بغضب الله عز وجل . وهذا من ضعف الإيمان وعدم مراقبة الله عز وجل . السبب الخامس: إظهار التعجب من أصحاب المعاصي: كأن يقول الإنسان: ما رأيت أعجب من فلان. كيف يخطئ وهو رجل عاقل أو كبير أو عالم أو غير ذلك. وكان من حقه عدم التعيين. السبب السادس: السخرية والاستهزاء بالآخرين والاحتقار لهم. السبب السابع: الظهور بمظهر الغضب لله على من يرتكب المنكر. فيظهر غضبه. ويذكر اسمه مثل أن يقول فلانٌ لا يستحيي من الله يفعل كذا وكذا. ويقع في عرضه بالغيبة. السبب الثامن: الحسد. فيحسد المغتاب من يُثني عليه الناس ويحبونه فيحاول المغتاب الحسود قليل الدين والعقل أن يزيل هذه النعمة فلا يجد طريقاً إلى ذلك إلا بغيبته. والوقوع في عرضه، حتى يزيل نعمته أو يُقلل من شأنه عند من يثنون عليه. وهذا من أقبح الناس عقلاً. وأخبثهم نفساً نسأل الله العافية. عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو ﷺ. قَالَ : قِيلَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَيُّ النَّاسِ أَفْضَلُ ؟ قَالَ: « كُلُّ مَخْمُومِ الْقَلْبِ، صَدُوقِ اللِّسَانِ » . قَالُوا: صَدُوقُ اللِّسَانِ نَعْرِفُهُ، فَمَا مَخْمُومُ الْقَلْبِ ؟ قَالَ: « هُوَ التَّقِيُّ النَّقِيُّ، لَا إِثْمَ فِيهِ، وَلَا بَغْيَ، وَلَا غِلَّ، وَلَا حَسَدَ. (سنن ابن ماجة رقم الحديث ٤٢١٦ بَابُ الْوَرَعِ وَالتَّقْوَى) . السبب التاسع: إظهار الرحمة والتصنُّع بمواساة الآخرين. كأن يقول لغيره من الناس: مسكين فلان قد غمني أمره. وما هو فيه من المعاصي ... السبب العاشر: التصنُّع. واللعب. والهزل. والضحك فيجلس المغتاب خبيث النفس فيذكر عيوب غيره مما يضحك به الناس فيضحك الناس. فعند ذلك يرتاح ويزيد من الكذب والغيبة على سبيل الهزل والنكت والإعجاب بالنفس. وهذا ينطبق عليه حديث النبي صلى الله عليه وسلم الذي قال فيه : (( وَيْلٌ لِلَّذِي يُحَدِّثُ فَيَكْذِبُ لِيُضْحِكَ بِهِ الْقَوْمَ، وَيْلٌ لَهُ ، وَيْلٌ لَهُ )) سنن ابي داود كِتَاب الْأَدَبِ بَابٌ فِي التَّشْدِيدِ فِي الْكَذِبِ رقم ٤٩٩٠ .

السبب الحادي عشر: هو أن ينسب إليه فعلًا قبيحًا فيتبرأ منه ويقول: فلان الذي فعله. ومحاولة إلقاء اللوم والتقصير على غيره؛ ليظهر بمظهر البريء من العيوب. السبب الثاني عشر: الشعور بأن غيره يريد الشهادة عليه. أو تنقيصه عند كبير من الكبراء. أو صديق من الأصدقاء. أو سلطان فيسبقه إلى هذا الكبير ويغتابه؛ ليسقط من عينه. وتسقط عدالته. أو مروءته . آفات اللسان في ضوء الكتاب والسنة ج١ ص ١٩ د. سعيد بن علي بن وهف القحطاني ، تطهير العيبة من دنس الغيبة لأحمد بن محمد بن حجر المكي الهيتمي ص ٥٣ ، فتاوى ابن تيمية ٢٨/ ٢٣٦ – ٢٣٨، و٢٨/٢٢٢–٢٣٨ .

امام غزالي رحمه الله هم د غيبت څه أسباب ذکر کړي دي. (١)

# د غيبت نه د بچ کيدو اجمالي علاج

د غيبت نه د بچ کيدو دوه (٢) علاجه دي: يو اجمالي او بل تفصيلي:

اجمالي علاج دادی چې انسان د ځان سره دا سوچ او کړي چې (غيبت ګناه کبيره ده) د غيبت په وجه باندې انسان د الله ﷻ د غضب مستحق ګرځي، د غيبت په وجه د قيامت په ورځ د انسان نېک اعمال د هغه چا عملنامې ته ځي د چا غيبت يې چې کړی، او که د ده سره نېک اعمال ختم شي نو د هغه ګناهونه به په ده باندې اچولې شي او ده د جهنم د تللو سبب به او ګرځي.

د غيبت په وجه انسان د مرداري خوړلو سره مشابه ګرځي، د غيبت په وجه به د قيامت په ورځ د انسان سره حساب کولې شي.

غيبت کوونکی دې اول په خپلو عيبونو باندې نظر واچوي او ددې د اصلاح فکر دې او کړي نو د نورو د عيب لټولو نه به واوړي.

انسان دې د ځان سره دا سوچ او کړي چې که بل څوک زما غيبت کوي نو زه پرې خفه کيږم همدغه شان که زه هم د بل کس غيبت او کړم نو هغه به هم په دې خفه کيږي.

همدا رنګې د غيبت په باره کې چې په قرآن کريم او احاديثو کې کوم وعيدونه ذکر شوي هغه دې ځان ته را يادوي نو په دې سره به د غيبت نه محفوظ شي. (٢)

---

(١) قَالَ الغَزَالِيُّ رَحِمَهُ اللهُ : لِلْغِيْبَةِ أَسْبَابٌ وَبَوَاعِثُ. وَفِيْمَا يَلِيْ خُلَاصَتُهَا : ١. شِفَاءُ الْمُغْتَابِ غَيْظَهُ بِذِكْرِ مَسَاوِيءِ مَنْ يَغْتَابُهُ. ٢. مُجَامَلَةُ الْأَقْرَانِ وَالرِّفَاقِ وَمُشَارَكَتُهُمْ فِيْمَا يَخُوْضُوْنَ فِيْهِ مِنَ الْغِيْبَةِ. ٣. ظَنُّ الْمُغْتَابِ فِيْ غَيْرِهِ ظَنًّا سَيِّئًا مَدْعَاةٌ إِلَى الْغِيْبَةِ. ۴. أَنْ يُبَرِّئَ الْمُغْتَابُ نَفْسَهُ مِنْ شَيْءٍ وَيَنْسُبَهُ إِلَى غَيْرِهِ أَوْ يَذْكُرَ غَيْرَهُ بِأَنَّهُ مُشَارِكٌ لَهُ. ۵. رَفْعُ النَّفْسِ وَتَزْكِيَتُهَا بِتَنْقِيْصِ الْغَيْرِ. ٦. حَسَدُ مَنْ يُثْنِيْ عَلَيْهِ النَّاسُ وَيَذْكُرُوْنَهُ بِخَيْرٍ. ٧. اَلْإِسْتِهْزَاءُ وَالسُّخْرِيَةُ وَتَحْقِيْرُ الْآخَرِيْنَ. إحياء علوم الدين ج٣ ص ١۴٦ بتصرف. نضرة النعيم ج١١ ص ۵١٦٣ الغيبة، وهكذا في كيمياي سعادت.

(٢) په احياء العلوم کې ذکر دي، علاج كف اللسان عن الغيبة على وجهين أحدهما على الجملة والآخر على التفصيل: أما على الجملة فهو أن يعلم تعرضه لسخط الله تعالى بغيبته بهذه الأخبار التي رويناها وأن يعلم أنها محبطة لحسناته يوم القيامة فإنها تنقل حسناته يوم القيامة إلى من اغتابه بدلًا ←←←← ←←←←←

# د غيبت نه د بچ كيدو تفصيلي علاج

د غيبت نه د بچ كيدو تفصيلي علاج دادى چې دا غيبت د كوم سبب او علت په وجه پيدا شوې وي هغه دې ختم كړي ، ځكه د بيمارۍ علاج دادى چې د كومو جراثيمو په وجه بيماري پيدا شوې وي هغه ختم كړې شي .

( اوس ددې هر سبب تذكره او ددې علاج درته بيانوم : )

**١** . كه د غيبت د پاره سبب غصه وي نو ددې علاج دادى چې انسان دې د ځان سره دا سوچ اوكړي چې كه زه دده غيبت اوكړم او خپله غصه پرې سړه كړم نو الله تعالى به په ما

---

←←←← عما استباحه من عرضه فإن لم تكن له حسنات نقل إليه من سيئات خصمه وهو مع ذلك متعرض لمقت الله عز وجل ومشبه عنده بآكل الميتة . بل العبد يدخل النار بأن تترجح كفة سيئاته على كفة حسناته و ربما تنقل إليه سيئة واحدة ممن اغتابه فيحصل بها الرجحان ويدخل بها النار . احياء علوم الدين ج ٣ ص ١٤٨ كتاب آفات اللسان بيان العلاج الذي يمنع اللسان عن الغيبة .

په آفات اللسان في ضوء الكتاب والسنة كې ذكر دي : الغيبة لها علاجان: العلاج الأول: هو أن يعلم الإنسان أنه إذا وقع في الغيبة فهو مُتعَرِّض لسخط الله تعالى ومقته، كما دلت عليه الأحاديث السابقة وغيرها من الأحاديث الصحيحة ..... ويعلم أن حسناته يؤخذ منها يوم القيامة لمن اغتابه بدلاً عما استباح من عرضه. فإن لم تكن له حسنات نقل إليه من سيئات خصمه. فربما ترجح كفة سيئاته فيدخل النار. وقد يحصل ذلك للإنسان بإذهاب حسنة واحدة من حسناته. أو بوضع سيئة واحدة من سيئات خصمه، وعلى تقدير أن لا يحصل هذا الرجحان فكفى بنقص الحسنات عقابًا مع المخاصمة والمطالبة، والسؤال، والجواب، والحساب. ولا حول ولا قوة إلا بالله. فإذا آمن الإنسان المسلم بالأخبار الواردة في الغيبة وتدبرها حق التدبر لم ينطق لسانه بغيبة، وتدبّر نفسه، وعيوبها، وتقصيرها. وأن يتدبر في إصلاح نفسه عن عيوب الناس والكلام فيهم، وعلى من به عيب أن يستحيي من الله تعالى الذي لا تخفى عليه خافية حين يرى نفسه على العيوب ويذكر عيوب غيره، بل ينبغي له أن يلتمس لأخيه عذرًا ومخرجًا. ويعلم أن عجزه عن تطهير نفسه من ذلك العيب كعجزه هو عن تطهير نفسه من عيوبها فإن كان الذم له بأمر خَلقي كان ذماً للخالق؛ فإن ذم الصنعة يستلزم ذم صانعها. فليتق الله عز وجل ويصلح نفسه عن عيوبها، وكفى بذلك شُغلًا . آفات اللسان في ضوء الكتاب والسنة ج١ ص ٢١ د. سعيد بن علي بن وهف القحطاني ./ په الاذكار للنووي ج١ ص ٥٤١ كې هم د غيبت علاج ذكر دى .

باندې خپل غضب نازل کړي، ځکه زه الله ﷻ د غيبت نه منع کړې يم نو ما د هغه نافرماني اوکړه او د هغه حُکم مې سپَک اوګڼړل.

۲. که د غيبت د پاره سبب نور خلق خوشحالول وي نو ددې علاج دادی چې ته د ځان سره دا سوچ اوکړه چې کله زه د الله ﷻ په نافرماني کولو سره مخلوق راضي کوم نو ددې په وجه په ما باندې د الله ﷻ غضب راوريږي، نو بيا ولې د خلقو راضي کولو د پاره خپل خالِق په ګناه کولو سره خفه کړم؟ حالانکه مخلوقات ما ته د الله ﷻ د حُکم او اِرادې نه بغير هيڅ نفع او نقصان نشي رارسولی.

۳. که د غيبت کولو د پاره سبب د خپل ځان صفائي بيانول او نورو ته د خيانت نسبت کول وي ددې د پاره چې د نورو خلقو د غصې نه بچ شي نو ددې علاج دادی چې انسان دې د ځان سره دا سوچ اوکړي چې په غيبت کولو سره ما خپل ځان يقيني طريقې سره د الله ﷻ غضب او غصې ته مخامخ کړو او دا معلومه نده چې په دې غيبت کولو سره به زه اوس د نورو خلقو د غصې نه بچ شم او که نه؟

همدارنګې ځوک چې د الله ﷻ په نافرمانۍ کولو سره نور خلق راضي کول غواړي نو الله تعالی دده نه ناراضه کيږي او نور خلق هم دده نه ناراضه کيږي.

٤. که د غيبت کولو سبب دا وي چې انسان خپل ځان نورو خلقو ته بزرګ ظاهر کړي او خپله مرتبه د هغوی په نظرونو کې اُوچته کړي نو ددې علاج دادی چې انسان دې د ځان سره دا سوچ اوکړي چې د غيبت کولو په وجه ده خپله مرتبه د الله ﷻ په نزد يقينًا رااُوغورځوله (ځکه ده د الله تعالی نافرماني اوکړه)، اوس د خلقو هيڅ پته نه لږي چې په دې غيبت کولو سره به دا د خلقو په نظرونو کې مُعزّز شي يا نه؟

بل داچې که بِالفَرض په دې غيبت کولو سره د خلقو په نظرونو کې دده قدر پيدا شي نو بيا هم بې فائدې دی ځکه په داسې مرتبې به انسان څه اوکړي چې د الله ﷻ په نزد يې هيڅ مقام نه وي، او که په دې انسان باندې د الله تعالی د طرفه څه عذاب راشي نو دا خلق يې هيڅ دِفاع نشي کولی.

بل دا چې د خلقو زړونه خو د الله ﷻ په قبضهٔ قدرت کې دي کوم طرفته يې چې اړوي نو اړولې يې شي .

۵ . که د غيبت کولو سبب حسَد وي (يعنې د هغه کس سره دُنياوي نعمتونه وي او دا د هغه سره حسَد کوي ) نو ددې علاج دادی چې انسان دې دا سوچ اوکړي چې حسَد کوونکی په دوه (۲) عذابونو کې مبتلاء وي :

يو عذاب دادی چې حسد کوونکی په دُنيا کې خپل زړه خوري او سوَزي ، او دويم عذاب به يې په آخرت کې وي .

بل دا چې غيبت او حسَد هغه بل کس ته هيڅ ضرر نه رسوي ځکه هغه ورنه اکثر خبر هم نه وي ، بلکه هغه ورسره نور هم مشهور شي .

همدارنګې که انسان ژوَر سوچ اوکړي نو غيبت کوونکی اګر چې په ظاهره باندې په غيبت کولو د هغه بل کس سره دُښمني ښکاره کوي خو په حقيقت کې غيبت کوونکی د خپل ځان دُشمن دی او د هغه دوست دی ، ځکه په غيبت کولو سره دده نېک اعمال د هغه عملنامې ته ځي ، او که دده سره نېک اعمال ختم شي نو بيا د هغه ګناهونه ده ته راځي ، نو دا په حقيقت کې د خپل ځان دُشمن شو .

٦ . که د غيبت سبب د بل پورې اِستهزاء او ټوقې کول وي نو ددې علاج دادی چې انسان دې د ځان سره دا سوچ اوکړي چې څوک د خلقو د وړاندې (په غيبت کولو سره) د بل چا اِستهزاء کوي نو دا په حقيقت کې خپل ځان د الله ﷻ په نزد رَسواء کوي ، او څوک چې د الله ﷻ په نزد رَسواء شي هغه به ضرور د خلقو په نزد هم رَسواء کيږي .

۷ . که د غيبت کولو سبب تعجب او بل پورې خندا کول وي نو ددې علاج دادی چې غيبت کوونکی دې په خپل ځان باندې تعجب اوکړي چې دا په خپل لاس باندې خپل ځان هلاکوي او خپل دِين ته نقصان رسوي .

همدارنګې دا يَره شته چې الله تعالی د غيبت کوونکي پَرده ختمه کړي او په دُنيا کې يې رَسواء کړي لکه څرنګې چې ده په غيبت کولو سره د خپل ورور سپکاوې کړې دی .

پس كله چې هوښيار كس د غيبت دا اسباب اُوپيژني او ددينه ځان اُوساتي نو ان شاء الله چې د غيبت نه به محفوظ شي ، او د خپلو عيبونو په اصلاح باندې به مشغول شي . (١)

---

(١) العلاج الثاني: عليه أن ينظر في السبب الباعث له على الغيبة. فإن علاج العلة إنما يتم بقطع سببها المستمدة هي منه: فإذا كان سبب الغيبة الغضب فعليه أن يقول: إن أمضيتُ غضبي عليه فأنا أخشى الله أن يمضي غضبه عليّ بسبب الغيبة. فإن الله قد نهاني عنها فعصيتُه واستخففتُ بنهيه.

وإذا كان سبب الغيبة موافقة الآخرين وطلب رضاهم، فعليك أن تعلم أن الله يغضب عليك إذا طلبتَ سخطه برضا المخلوقين. فكيف ترضى لنفسك أن تسخط مولاك من أجل إرضاء المخلوقين الذين لا ينفعون ولا يضرّون. وإن كان الغضب لله فلا تذكر المغضوب عليه بسوء لغير ضرورة. بل ينبغي أن تغضبَ على من اغتابه إلا إذا كان من باب تحذير المسلمين عن الشر. وهذا سيأتي فيما يجوز من الغيبة.

وإذا كان سبب الغيبة هو تنزيه النفس ونسبة الخيانة إلى غيرك. فاعلم أن التّعرض لمقت الله أشدّ من التّعرّض لمقت الخلق. وأنتَ بالغيبة قد تعرّضتَ لسخط الله يقينًا، ولا تدري هل تسلم من سخط الناس أو لا تسلم. والذي يُرضي الناس بسخط الله يسخط الله عليه ويُسخِط عليه النّاس...!

وإذا كان سبب الغيبة هو الرغبة في أن تزكي نفسك بزيادة الفضل، وذلك بقدحك في غيرك حتى تشعر النّاس أنك تتصف بخلاف ما يتصف به من اغتبته، فاعلم أنك بما ذكرته أبطلتَ فضلك عند الله تعالى إن كان لك فضل وأنت من اعتقاد الناس فضلك لست على يقين. وعلى تقدير أنهم يفضلونك فأنتَ سينقص فضلك أو يزول بالكلية إذا عرفوك بغيبة الناس والوقوع في أعراضهم. فأنتَ بعت ما عند الله يقينًا بما عند الناس وهمًا. ولو اعتقدوا فضلك لم يغنوا عنك من الله شيئًا لأن قلوبهم بين أصبعين من أصابع الرحمن يقلّبها كيف يشاء. فعليك أن تتدبّر دقائق الأمور ولا تغتر بظواهرها.

وإذا كان الباعث على الغيبة هو الحسد فأنتَ قد جمعتَ بين عذابين؛ لأنك حسدته على نعمة الدّنيا فكنتَ مُعذّبًا بالحسد، وذلك لأنّ الحاسد يجد الهمّ والغمّ وضيق الصدر. ثم لا يقنع بذلك حتى يُضاف إليه عذاب آخر يوم القيامة. فالحاسد قد جمع خسران الدنيا والآخرة. وهو في الحقيقة صديق للمحسود عدو لنفسه؛ لأنه يضيف حسناته إلى حسنات المحسود، ويتحمل من سيئاته إن لم يكن للحاسد حسنات مع أن الحسد، والغيبة لا تضر المحسود بل ربما كان ذلك سببًا لانتشار فضله.

وإذا كان الباعث على الغيبة هو الاستهزاء والسخرية فينبغي للحاسد أن يعلم أنه متى استهزأ بغيره عند الناس فإن ذلك يكون مخزيًا لنفسه عند الله ثم عند خلقه، وهذه هي الخسارة بعينها. ←←←←←←←

## د غيبت اَوريدل هم منع دي

لکه څرنګې چې غيبت کول منع دي نو همدغه شان غيبت آوريدل هم منع دي.(١)
حضرت عبد الله بن عُمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فرمايي:
نَهٰى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْغِيْبَةِ وَعَنِ الْإِسْتِمَاعِ إِلَى الْغِيْبَةِ.(٢)
رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د غيبت کولو او غيبت آوريدلو نه منع کړې ده.

## په خپله خوښه غيبت اَوريدل هم داسې دی لکه غيبت کول

مسلمان ته په کار دي چې په خپله هم د غيبت نه ځان اوساتي او که بل څوک دده د وړاندې

←←← وإذا كان المغتاب يقصد بغيبته الرحمة لغيره فهذا مقصود فاسد، لأنه أراد الرحمة فوقع في الغيبة المحرمة. فلو كان صادقًا في رحمته لنصح له ووجّهه وأرشده.

أما إذا كان السبب الباعث على الغيبة هو التعجب والضحك، فإنه ينبغي للمغتاب أن يتعجب من نفسه كيف أهلك نفسه بنفس غيره وكيف نقص دينه بكمال دين غيره أو بدنياه. فهو مع ذلك لا يأمن عقوبة الدنيا ويخشى على المغتاب أن يهتك الله ستره ويفضحه في الدنيا قبل الآخرة كما هتك بالتعجب ستر أخيه.

فإذا نظر الإنسان العاقل في أسباب الغيبة وعلاجها واستعمل هذا الدواء الذي ذُكِرَ هنا. سَلِمَ إن شاء الله من ضرر الغيبة وكان ممن اشتغل بعيوبه عن عيوب غيره، وصان لسانه عن النطق إلا بالخير. فبذلك يفوز بخيري الدنيا والآخرة. آفات اللسان في ضوء الكتاب والسنة ج١ ص٢٣، تطهير العيبة من دنس الغيبة لأحمد بن محمد بن حجر الهيتمي ص ٤٧.

همدا اسباب په احياء العلوم ج٣ ص١٢٩ کې، او په الموسوعة الفقهيه الكويتية ج٣ ص٢٣٦ کې هم په تفصيل سره ذکر دي.

(١) اعلم أنّ الغيبة كما يحرمُ على المغتابِ ذكرها. يُحرمُ على السامعِ استماعُها وإقرارُها....
ومما أنشدوه في هذا: وَسَمْعَكَ صُنْ عَنْ سَمَاعِ الْقَبِيْحِ ✿ كَصَوْنِ اللِّسَانِ عَنِ النُّطْقِ بِهْ
فَإِنَّكَ عِنْدَ سَمَاعِ الْقَبِيْحِ ✿ شَرِيْكٌ لِقَائِلِهِ فَانْتَبِهْ
الأذكار للنووي ج١ ص٥٤٠ فصل حرمة الغيبة وحرمة سماعها.

(٢) مجمع الزوائد ومنبع الفوائد بَابُ مَا جَاءَ فِي الْغِيبَةِ وَالنَّمِيمَةِ رقم الحديث ١٣١٢٢، الترغيب والترهيب لقوام السنة رقم الحديث ٢٢٢٩.

غيبت کوي نو که دده وَس کېږي هغه دې منع کړي ، او که وَس يې نه کېږي نو کم از کم د آوريدو نه دې ځان اُوساتي ، ځکه څوک چې په خپله خوښه باندې د بل غيبت آوري نو دا داسې دی لکه پخپله غيبت کوي .

**واقعه** په " تفسير معارف القرآن " کې دا واقعه ذکر ده ، حضرت ميمون رَحِمَهُ الله فرمايي يو ځل ما په خوب کې د زَنګي (حبشي غلام) مړ جسد اُوليد ، يو کس راته وايي چې دا اُوخوره . ما ورته وويل : د خدای بنده ! زه دا ولې اُوخورم؟ هغه راته وويل : تا د فلانکي زَنګي غلام غيبت کړی دی .

ما ورته وويل : قسَم په الله ، ما خو د هغه په باره کې ښه يا خرابه هيڅ خبره نده کړې .
هغه راته وويل : آوْ (تا يقيني پخپله څه خبره نده کړې) ليکن د هغه په باره کې دې غيبت آوريدلی دی او ته پرې راضي شوې يې .

په حضرت ميمون رَحِمَهُ الله باندې دې خوب دا آثر اوکړو چې ددينه پس يې نه چيرته په خپله د چا غيبت کړی او نه يې په مجلس کې بل څوک غيبت ته پريخودل . (١)

## چې څوک په مجلس کې غيبت واوري نو منع کوي به يې ، يا به د هغه مجلس نه پاځي

د شريعت دا مسئله ده چې څوک په يو مجلس کې د يو مسلمان غيبت واوري نو دده د پاره دا مناسب دي چې اول يې په خُله باندې منع کړي او وې رَټي ، که په خُله رَټلو باندې منع نه شو نو بيا دې يې په لاس باندې منع کړي ، که په لاس او ژبه باندې يې د منع کولو طاقت نهٔ وُ نو ددې مجلس نه دې لاړ شي .

بيا خاصکر که ده په دې مجلس کې د خپل شيخ ، استاذ ، يا بل حقدار ، يا د يو نېک سړي متعلق غيبت واوريد نو په ده باندې په طريقِ اولیٰ لازمي دي چې غيبت کوونکې په سختئ سره منع کړي ، او که طاقت يې نه وي نو ددې مجلس نه دې لاړ شي . (٢)

---

(١) تفسير معارف القرآن لمولانا مفتي محمد شفيع رحمه الله سورة الحجرات في تشريح آية ١٢ .

(٢) (قَالَ النَّوَوِيُّ رَحِمَهُ اللّٰهُ ) اِعْلَمْ أَنَّهُ يَنْبَغِيْ لِمَنْ سَمِعَ غِيْبَةَ مُسْلِمٍ أَنْ يَرُدَّهَا وَيَزْجُرَ قَائِلَهَا. فَإِنْ لَمْ يَنْزَجِرْ بِالْكَلَامِ زَجَرَهُ بِيَدِهِ. فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ بِالْيَدِ وَلَا بِاللِّسَانِ فَارَقَ ذٰلِكَ الْمَجْلِسَ . فَإِنْ سَمِعَ ←←←←←←←

خو كه د څه مجبوريت په وجه د دې مجلس نه هم نه شو تللی نو بيا دې په ژبه يا زړه باندې ذكر شروع كړي ، يا دې د بل كار په باره كې سوچ كوي ، دا ددې د پاره چې غيبت أويدو ته يې توجّه نه وي . خو چې كله هم ورته د مجلس نه د تللو موقع ملاؤ شي د داسې مجلس نه تلل واجب دي ، په قرآن كريم كې هم د داسې مجلس نه د تللو حُكم شوى .⁽¹⁾

ځكه د بد ملګري نه ځانله كيناستل بهتر دي .

د نبي عليه السلام د وړاندې به چې چا د بل پسې خبره اوكړه نو دوى به منع كولو .

او څوک چې د چا نه دِفاع اوكړي نو په احاديثو كې د داسې كس د پاره ډېر أجرونه هم ذكر شوي .

## ابراهيم بن أدهم رَحِمَهُ‌اللّٰهُ غيبت أوريدل خوښ نكړل

ابراهيم بن أدهم رَحِمَهُ‌اللّٰهُ يوې وَليمې ته دعوت شوې وُ ، كله چې دا هلته ورغى نو هلته خلقو

---

←←←← غِيبَةَ شَيْخِهِ . أَوْ غَيْرِهِ مِمَّنْ لَهُ عَلَيْهِ حَقٌّ . أَوْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الْفَضْلِ وَالصَّلَاحِ كَانَ الْإِعْتِنَاءُ بِمَا ذَكَرْنَاهُ أَكْثَرَ. الاذكار للنووي ج١ ص ٥٤٦ بابُ أمرِ مَنْ سَمِعَ غيبةَ شيخِهِ أو صاحبِهِ أو غيرِهما بردِّها وإبطالها. نضرة النعيم ج ١١ ص ٥١٧٧ الغيبة.

(١) ( و قال النووي رَحِمَهُ‌اللّٰهُ ايضًا ) اعلم أنَّ الغيبة كما يحرمُ على المغتابِ ذكرها، يُحرمُ على السامعِ استماعُها وإقرارُها. فيجبُ على من سمع إنسانًا يبتدئُ بغيبةٍ محرمةٍ أنْ ينهاهُ إنْ لم يَخَفْ ضررًا ظاهرًا. فإنْ خافهُ وجبَ عليه الإنكارُ بقلبه، ومفارقةُ ذلك المجلس إنْ تمكن من مفارقته. فإنْ قدرَ على الإنكار بلسانه، أو على قطع الغيبة بكلامٍ آخر لزمهُ ذلك. فإنْ لم يفعل عصى . فإنْ قال بلسانه: أسكتْ. وهو يشتهي بقلبه استمرارهُ. فقال أبو حامد الغزالي [ الاحياء ٣/ ١٤٦] : ذلك نفاقٌ لا يخرجهُ عن الإثم، ولا بدّ من كراهته بقلبهِ. ومتى اضطرَّ إلى المقام في ذلك المجلس الذي فيه الغيبة وعجز عن الإنكار، أو أنكر فلم يُقبل منهُ، ولم يمكنهُ المفارقة بطريقٍ حرم عليه الاستماعُ والإصغاء للغيبة، بل طريقهُ أن يذكرَ الله تعالى بلسانه وقلبه، أو بقلبه، أو يفكر في أمرٍ آخر ليشتغل عن استماعها، ولا يضرّه بعد ذلك السماعُ من غير استماعٍ وإصغاءٍ في هذه الحالة المذكورة. فإن تمكن بعد ذلك من المفارقة، وهم مستمرون في الغيبة ونحوها وجب عليه المفارقةُ. قال الله تعالى: { وَإِذَا رَأَيْتَ الَّذِينَ يَخُوضُونَ فِي آيَاتِنَا فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ حَتَّى يَخُوضُوا فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِ وَإِمَّا يُنْسِيَنَّكَ الشَّيْطَانُ فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرَى مَعَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ } [الانعام آية ٦٨] . الاذكار للنووي ج١ ص ٥٤٠ فصل حرمة الغيبة وحرمة سماعها .

د يو کس متعلق خبره شروع کړه کوم چې دې وليمې ته نهٔ راغلی ، دوی وويل :

إِنَّهُ ثَقِيْلٌ. هغه ډير درُوند دی . ( يعنی لټ دی د چا دعوت ته نه ځي ) .

ابراهيم بن أدهم رَحِمَهُ اللهُ وويل :

أَنَا فَعَلْتُ هٰذَا بِنَفْسِيْ حَيْثُ حَضَرْتُ مَوْضِعًا يُغْتَابُ فِيْهِ النَّاسُ .

دا کار ما د ځان سره په خپله اوکړو چې داسې ځای ته راغلم چې په دې کې د خلقو غيبت کولې شي .

نو سمدستي ددې مجلس نه أووت ، او ( دخفګان نه يې ) تر درې ( ٣ ) ورځو پورې خوراک اونکړو . (١)

## د غيبت أوريدو د پاره بهَانه جوړول ندي په کار

بعضې خلق د غيبت أوريدو د پاره دابهَانه جوړوي چې مونږ خو په مجلس کې په خپله غيبت نه کوو، نور خلق غيبت کوي ، مونږ يې نه منع کولې شو او نه د غيرت په وجه د مجلس نه پاڅيدې شو ، ځکه که د مجلس نه پاڅو نوبيا هغه کس خفه کيږي ، لهذا د مجبوريت په وجه غيبت آورو .

ددې جواب دادی چې څوک تاته د نورو خلقو غيبت کوي نو داګويا ستا په غوږونو کې نجاست اچوي ليکن ته ورته هيڅ نه وايې .

**د مثال په ذريعه وضاحت** : د يو مثال په ذريعه درته ددې وضاحت کوم ، هغه دا چې که يو کس تاته ووايي چې :

ته دلته کېنه ، زه ستا په سَر باندې تشې متيازې کوم ، او که ته نه کېنې نو بيا زه خفه کيږم .

نو آيا څوک به د خپل ملګري د خوشحالولو د پاره هغه ته په خپل سَر باندې د تشو متيازو کولو اجازت ورکړي ؟ هيڅ کله نه ، حالانکه په سَر باندې د تشې متيازو کولو نقصان

---

(١) عَنْ إِبْرَاهِيْمَ بْنِ أَدْهَمَ رَحِمَهُ اللهُ أَنَّهُ دُعِيَ إِلَى وَلِيْمَةٍ ، فَحَضَرَ ، فَذَكَرُوْا رَجُلًا لَمْ يَأْتِهِمْ ، فَقَالُوْا : إِنَّهُ ثَقِيْلٌ . فَقَالَ إِبْرَاهِيْمُ : أَنَا فَعَلْتُ هٰذَا بِنَفْسِيْ حَيْثُ حَضَرْتُ مَوْضِعًا يُغْتَابُ فِيْهِ النَّاسُ ، فَخَرَجَ وَلَمْ يَأْكُلْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ . الرسالة القشيرية ٥٠٨/١ ، الأذكار للنووي ج١ ص ٥٤٠ فصل حرمة الغيبة وحرمة سماعها .

دومره زيات ندى، ځکه صرف بدن او جامې به يې ګنده شي، او دا په آسانه پاکيدې شي.
ليکن که يو کس تاته د بل چا غيبت بيانوي نو ددې نقصان ډير زيات دى، ځکه په غيبت آوريدو سره انسان د ګناهِ کبيره مرتکب کرځي، دين او دُنيا دواړه يې تباه کيږي، خو افسوس مونږ صرف د دُنيا معمولي نقصان ته ګورو او د آخرت غټ نقصان ته مو هيڅ توجّه نه وي.

## غيبت کوونکي په آسانه د غيبت نه منع کول

که څوک تاته د بل چا غيبت شروع کړي نو ته هغه ته اووايه:
وروره! ته چې ماته د چا غيبت کوې کيدې شي هغه د الله ﷻ په نزد باندې د مونږ نه ډير بهتر وي، نو ولې يې غيبت اوکړو؟
نو په دې سره به دا کس د غيبت نه منع شي، يا کم از کم بيا به ستا د وړاندې د بل چا غيبت نه کوي.

**واقعه**: يو عالِم ته يو کس د بل چا غيبت شروع کړو، دې عالِم ورته ووېل:
ته چې ماته د چا غيبت کوې که په هغه کې يقيني دا غلطي وي کومه چې ته بيانوې نو دا خو د مخکې زمانې خبره ده او ته دادې اوس زما د وړاندې بنکاره د غيبت ګناه کوې.
ددې عالم مقصد دا ؤ چې هغه په تيره زمانه کې ګناه کړې وه او ته دادې اوس ګناه کوې،
هغه پټه ګناه کړې وه يا کم از کم د ماته پټه وه او ته زما په مخکې بنکاره د غيبت ګناه کوې حالانکه بنکاره ګناه د پټې ګناه نه ډيره سخته ده،
هغه وړه ګناه کړې وه او ته داسې ګناه کوې چې د زِنا نه هم سخته ده (ځکه د غيبت ګناه د زِنا نه هم سخته ده)،
هغه چې ګناه کوله کيدې شي ځان يې عاجز ګڼرلې وي او ته چې د غيبت ګناه کوې نو ځان لوي ګڼرې ځکه خو د هغه بدې بيانوې،
کيدې شي هغه د خپلې ګناه نه توبه ويستې وي او ته اوس د غيبت په کولو سره په ګناه کې مبتلاء يې،
ته چې ماته د بل متعلق بَد خبر رارسوې نو ته په دې سره فاسِق او ګرځيدې ځکه زه ستا

د غيبت ګناه په خپلو غوږونو باندې اُورم ، او د فاسق سړي ګواهي معتبر نده . (١) نو د هغه د ګناه نه خو ستا ګناه غټه شوه .

## غيبت نه د بچ کيدلو آسانه طريقه

١ . علماؤ د غيبت نه د بچ کيدلو آسانه طريقه دا ذکر کړې چې کله ته د بل چا د غيبت کولو اراده اوکړې نو سمدستي خپل عيبونه ځان ته رایاد کړه ، ځکه انسان هغه وخت د نورو عيبونه بيانوي چې کله يې په خپلو عيبونو باندې نظر نه وي ، او چې کله ورته خپل عيبونه مُستحضَر شي نو بيا به هيڅ کله د بل چا عيب بيان نکړي .

٢ . د غيبت نه د بچ کيدو د پاره دا هم په کار دي چې انسان ځان ته د غيبت سزاګانې رایادې کړي ، د الله ﷻ نه دُعا هم غواړي چې : " اې الله ! ما ددې ګناه نه محفوظ کړه " . او په کوم مجلس کې چې غيبت شروع شي نو کوشش دا کوه چې دا خلق ددينه منع کړې ، خو که د بندولو طاقت دې نه وي نو بيا د هغه مجلس نه راپاځه .

٣ . مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله د غيبت نه د بچ کيدلو آسانه طريقه دا هم ذکر کړې چې بِلاضرورته د بل هيچا تذکره مه کوه ، مه د هغه ښه بيانوه او مه د هغه بَد بيانوه ، ځکه چې کله انسان د بل چا ښه تذکره شروع کړي نو په دې مينځ مينځ کې شيطان دده ذهن ته د هغه کس متعلق داسې خبرې را آچوي چې په هغې سره غيبت شروع شي ، نو ځکه بِلاضرورته د هيچا تذکره نده په کار .

## د غيبت نقصانات

غيبت داسې کبيره ګناه ده چې ددې دير دُنيوي او اُخروي نقصانات دي ، يو څو په کې دادي :

١ . غيبت ګناهِ کبيره ده ، ددې په وجه انسان د جهنم مستحق ګرځي .

(١) ﴿ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا أَنْ تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَى مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ ﴾ . الحجرات آية ٦ .

..........

۲. د غيبت په وجه انسان په عذاب قبر کې مبتلاء کيږي.

۳. د ايمان نُور ( رڼا ) ورسره ختميږي.

۴. د غيبت گناه تر هغې وخته پورې نه معاف کيږي تر څو پورې چې ورته هغه کس بخښنه وي کړي د چا غيبت يې چې کړی.

۵. د غيبت په وجه بې اِتفاقي، جګړې او نفرتونه پيدا کيږي.

٦. د مسلمانانو خپل مينځي محبت او اتفاق ختميږي.

۷. غيبت د غيبت کوونکي په خَساسَت او ذِلت باندې دلالت کوي. (۱)

۸. د غيبت په وجه د الله ﷻ او د رسول ﷺ د احکاماتو نافرماني راځي.

۹. د غيبت په وجه په زړه کې ظُلمت پيدا کيږي، او د انسان اِطمينان او سکون ورسره ختميږي.

۱۰. د غيبت په وجه د مخ نُورانيت ختميږي، او داسې کس د خلقو په نظرونو کې ذليل وي.

۱۱. د غيبت په وجه انسان بُزدِله کيږي، ځکه خو پَښې شا د خلقو پسې خبرې کوي.

۱۲. څوک چې تاته د بل چاغيبت کوي نو ته په دې باندې پوهه شه چې دا به ستا غيبت هم نورو ته کوي، ځکه دا غيبت دده عادت دی.

## د غيبت نه د توبې طريقه

د غيبت دوه ( ۲ ) قِسمونه دي: ۱. د چا غيبت چې شوې وي هغه ته دا غيبت نه وي رسيدلی. ۲. هغه ته دا غيبت رسيدلې وي.

---

(۱) مِن مَضَارِ الغِيبَةِ: (۱). صَاحِبُ الغِيبَةِ يُعَذَّبُ فِي النَّارِ بِأَكْلِ النَّتِنِ القَذِرِ. (۲). يَنَالُ عِقَابَ اللهِ فِي قَبْرِهِ. (۳). تَذْهِبُ أَنْوَارَ إِيمَانِهِ وَآثَارَ إِسْلَامِهِ. (۴) لَا يُغْفَرُ لَهُ حَتَّى يَعْفُوَ عَنْهُ المُغْتَابُ. (۵) الغِيبَةُ مِعْوَلٌ هَدَّامٌ وَشَرٌّ مُسْتَطِيرٌ. (٦) تُؤْذِي وَتَضُرُّ وَتَجْلِبُ الخِصَامَ وَالنُّفُورَ. (۷) مَرَضٌ اِجْتِمَاعِيٌّ يَقْطَعُ أَوَاصِرَ المَحَبَّةِ بَيْنَ المُسْلِمِينَ. (۸) دَلِيلٌ عَلَى خِسَّةِ المُغْتَابِ وَدَنَاءَةِ نَفْسِهِ. نضرة النعيم في مكارم اخلاق الرسول الكريم - صلى الله عليه وسلم ج۱۱ ص۵۱۷۷ الغيبة.

پس که هغه ته دا غيبت نه وي رسيدلی نو ددينه د توبې طريقه داده چې په ژبه باندې دې استغفار اووايي ، په خپله ګناه دې پښيمانه شي ، او آئنده د پاره دې پوخ عزَم اوکړي چې بيا به غيبت نه کوم.

هغه کس خبرول او د هغه نه معافي غوښتل ضروري نده ، ځکه که هغه خبر کړي نو کيدې شي هغه ډير خفه شي ، البته ده چې د کومو خلقو په مخکې د هغه غيبت کړې وي نو د هغوی د وړاندې دې د خپلې دروغجنۍ او ګناه اِقرار اوکړي.

( خو که د هغه نه په داسې انداز کې معافي اوغواړي چې هغه خفه هم نشي نو دا بيا ډېره بهتره ده ، مثلاً هغه ته اووايي :

چې زما او ستا په خپل مينځ کې تعلقات دي ، کيدې شي په خبرو کې د يو بل په حق کې څه کوتاهي شوې وي لهذا ته ما ته د هغې معافي اوکړه ).

او که هغه کس ته هم دا غيبت رسيدلې وي (يعنی هغه هم په دې خبر شوې وي چې ده زما غيبت کړی ) نو په دې کې چونکه د بنده حق هم ضائع شوی لهذا ددينه د توبې طريقه داده چې د توبې سره سره به د هغه نه معافي هم اوغواړي.

( د هغه نه د معافي غوښتلو په وخت د غيبت تفصيل بيانول ضروري ندی بلکه اِجمالي طريقې سره صرف دومره ورته ويل کافي دي چې ما ستا غيبت کړی ته ما ته معافي اوکړه )

او که ده د چا غيبت کړی هغه مَړ شوې وي ( يا ده ته د هغه کس هيڅ پته نه لږي چې معافي ورنه اوغواړي ) نو ددينه د توبې طريقه داده چې د هغه د پاره به استغفار غواړي ، او په کومو مجلسونو کې چې ده د هغه غيبت کړې وي په هغې مجلسونو کې به يې صفت بيان کړي ، او چې نور څوک د هغه غيبت بيانوي نو دا به د هغه د طرفه دِفاع کوي ، او د الله ﷻ نه به د بخښې اُميد ساتي.

فقيه ابوالليث سمرقندي ، علامه ابن کثير رَحِمَهُ اللّٰهُ او نورو مفسّرينو داسې تفصيل بيان کړې دی .(١)

---

(١) په تنبيه الغافلين کې ذکر دي ، قَدْ تَكَلَّمَ النَّاسُ فِي تَوْبَةِ الْمُغْتَابِ، هَلْ تَجُوزُ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَسْتَحِلَّ مِنْ صَاحِبِهِ؟ قَالَ بَعْضُهُمْ يَجُوزُ وَقَالَ بَعْضُهُمْ لَا يَجُوزُ مَا لَمْ يَسْتَحِلَّ مِنْ صَاحِبِه. وَهُوَ عِنْدَنَا عَلَى وَجْهَيْنِ: ←←←←

همدارنګې امام نووي، او امام غزالي رحمهم الله هم ددې پوره تفصيل بيان کړی. (١)

←←←← إِنْ كَانَ ذٰلِكَ الْقَوْلُ قَدْ بَلَغَ إِلَى الَّذِي اغْتَابَهُ. فَتَوْبَتُهُ أَنْ يَسْتَحِلَّ مِنْهُ. وَ إِنْ لَمْ يَبْلُغْ فَلْيَسْتَغْفِرِ اللهَ تَعَالَى وَيُضْمِرْ أَنْ لَا يَعُوْدَ إِلَى مِثْلِهِ. تنبيه الغافلين بأحاديث سيد الأنبياء والمرسلين ص ١٦٦ بَابُ الغِيبَةِ

په تفسير ابن کثير کې ذکر دي: قَالَ الْجُمْهُوْرُ مِنَ الْعُلَمَاءِ: طَرِيْقُ الْمُغْتَابِ لِلنَّاسِ فِي تَوْبَتِهِ أَنْ يُقْلِعَ عَنْ ذٰلِكَ، وَيَعْزِمَ عَلَى أَلَّا يَعُوْدَ. وَهَلْ يُشْتَرَطُ النَّدَمُ عَلَى مَا فَاتَ؟ فِيْهِ نِزَاعٌ، وَأَنْ يَتَحَلَّلَ مِنَ الَّذِي اغْتَابَهُ. وَقَالَ آخَرُوْنَ: لَا يُشْتَرَطُ أَنْ يَتَحَلَّلَهُ فَإِنَّهُ إِذَا أَعْلَمَهُ بِذٰلِكَ رُبَّمَا تَأَذّٰى أَشَدَّ مِمَّا إِذَا لَمْ يَعْلَمْ بِمَا كَانَ مِنْهُ. فَطَرِيْقُهُ إِذًا أَنْ يُثْنِيَ عَلَيْهِ بِمَا فِيْهِ فِي الْمَجَالِسِ الَّتِيْ كَانَ يَذُمُّهُ فِيْهَا، وَأَنْ يَرُدَّ عَنْهُ الْغِيْبَةَ بِحَسْبِهِ وَطَاقَتِهِ. فَتَكُوْنَ تِلْكَ بِتِلْكَ. تفسير ابن كثير ج٧ ص ٣٨٢ سورة الحجرات في تشريح آية ١٢.

همداسې تفصيل په تفسير معارف القرآن او تفسير بيان القرآن کې هم ذکر دی. سورة الحجرات في تشريح آية ١٢.

(١) په الاذکار للنووي کې ذکر دي: إعلم أنّ كلّ من ارتكب معصيةً لزمهُ المبادرةُ إلى التوبة منها، والتوبةُ من حقوق الله تعالى يُشترط فيها ثلاثةُ أشياء: أن يُقلع عن المعصية في الحال، وأن يندمَ على فعلها، وأن يَعزِمَ ألا يعود إليها. والتوبةُ من حقوق الآدميين يُشترط فيها هذه الثلاثةُ و رابعٌ، وهو: ردّ الظلامةِ إلى صاحبها، أو طلب عفوه عنها، والإبراء منها، فيجبُ على المغتاب التوبة بهذه الأمور الأربعة، لأنّ الغيبة حقّ آدمي. ولا بدّ من استحلاله مَن اغتابَه. وهل يكفيه أن يقول: قد اغتبتُك، فاجعلني في حلّ. أم لا بُدّ أنْ يبيّنَ ما اغتابه به؟ فيه وجهان لأصحاب الشافعي رحمهم الله: أحدهما: يُشترط بيانُه، فإنْ أبرأه من غير بيانه لم يصحّ، كما لو أبرأه عن مالٍ مجهولٍ. والثاني: لا يُشترط، لأنّ هذا مما يُتسامحُ فيه، فلا يُشترط علمهُ، بخلاف المال. والأوّل أظهرُ، لأنّ الإنسانَ قد يسمحُ بالعفو عن غيبة دونَ غِيبة، فإن كان صاحبُ الغيبةِ ميّتًا أو غائبًا، فقد تعذّرَ تحصيلُ البراءةِ منها. لكن قال العلماءُ: ينبغي أنْ يُكثر الإستغفار له والدّعاءَ، ويُكثر من الحسنات. الاذكار للنووي ج ١ ص ٥٥٠ بابُ كَفّارةِ الغيبةِ والتَّوبَةِ منها. الموسوعة الفقهية ج ٣١ ص ٣٢٧ غيبة.

په احياء العلوم کې ذکر دي: إِعْلَمْ أَنَّ الْوَاجِبَ عَلَى الْمُغْتَابِ أَنْ يَنْدَمَ وَيَتُوْبَ وَيَتَأَسَّفَ عَلَى مَا فعله ليخرج به مِنْ حَقِّ اللهِ سُبْحَانَهُ ثُمَّ يَسْتَحِلُّ الْمُغْتَابَ ليحله فيخرج من مظلمته. وينبغي أن يستحله وهو حزين متأسف نادم على فعله إذ المرائي قد يستحل ليظهر من نفسه الورع وفي الباطن لا يكون نادمًا فيكون قد قارف معصية أخرى. وقال الحسن يكفيه الاستغفار دون الاستحلال وربما استدل في ذلك بما روى أنس بن مالك قال قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كفارة من اغتبته أن تستغفر له. وقال مجاهد كفارة أكلك لحم أخيك أن تثني عليه وتدعو له بخير. وسئل عطاء بن أبي رباح عن التوبة من الغيبة قال أن تمشي إلى صاحبك فتقول ←←←←

**نوټ** : د چا غيبت چې شوي وي د هغه د پاره دا مستحب دي چې كله دده نه غيبت كوونكى معافي اوغواړي نو دا دې ورته معافي اوكړي .(١)
خو كه د هغه نه د معافۍ غوښتلو باوجود هغه ورته معافي اونكړي نو دا به توبه اُوباسي او استغفار به غواړي .(٢)

---

←←← له كذبت فيما قلت وظلمتك وأسأت فإن شئت أخذت بحقك وإن شئت عفوت وهذا هو الأصح .....
وقالت عائشة رضي الله عنها لامرأة قالت لأخرى أنها طويلة الذيل قد اغتبتيها فاستحليها . فإذن لا بد من الاستحلال إن قدر عليه فإن كان غائبًا أو ميتًا فينبغي أن يكثر له الاستغفار والدعاء ويكثر من الحسنات . فإن قلت فالتحليل هل يجب ؟ فأقولُ لا لأنّه تبرعٌ والتبرع فضلٌ وليس بواجبٍ ولكنه مستحسن . وسبيل المعتذر أن يبالغ في الثناء عليه والتودد إليه ويلازم ذلك حتى يطيب قلبه . فإنْ لم يطب قلبه كان اعتذاره وتودده حسنة محسوبة له يقابل بها سيئة الغيبة في القيامة . احياء علوم الدين ج ٣ ص ١٥٣ بَيَانُ كَفَّارَةِ الغِيبَةِ

(١) واعلم أنّه يُستحبّ لصاحب الغيبة أن يبرئه منها، ولا يجبُ عليه ذلك؛ لأنّه تبرّعٌ وإسقاط حقٍّ، فكان إلى خيرته، ولكن يُستحبّ له استحبابًا متأكدًا الإبراء، ليخلّص أخاهُ المسلم من وبال هذه المعصية، ويفوزَ هو بعظيم ثواب الله تعالى في العفو ومحبة الله سبحانه وتعالى. قال الله تعالى: { وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ ۗ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ } [آل عمران آية ١٣٤] . الاذكار للنووي ج ١ ص ٥٥٠ بابُ كَفَّارَةِ الغِيبَةِ والتَّوبَةِ منها.
الموسوعة الفقهية ج ٣١ ص ٣٣٩ غيبة .

(٢) وَهَلْ يَكْفِيهِ أَنْ يَقُولَ : " اِغْتَبْتُكَ فَاجْعَلْنِي فِي حِلٍّ " أَمْ لَا بُدَّ أَنْ يُبَيِّنَ مَا اغْتَابَ ؟ قَالَ بَعْضُ عُلَمَائِنَا فِي الْغِيبَةِ: لَا يُعْلِمُهُ بِهَا، بَلْ يَسْتَغْفِرُ اللهَ لَهُ إِنْ عَلِمَ أَنَّ كَلَامَهُ يُثِيرُ فِتْنَةً . وَيَدُلُّ عَلَيْهِ مَا هُوَ الْمُقَرَّرُ فِي الْأُصُولِ أَنَّ الْإِبْرَاءَ عَنِ الْحُقُوقِ الْمَجْهُولَةِ جَائِزٌ عِنْدَنَا. ثُمَّ اعْلَمْ أَنَّهُ يُسْتَحَبُّ لِصَاحِبِ الْغِيبَةِ أَنْ يُبَرِّئَهُ مِنْهَا لِيُخَلِّصَ أَخَاهُ مِنَ الْمَعْصِيَةِ، وَيَفُوزَ هُوَ بِعَظِيمِ ثَوَابِ اللهِ فِي الْعَفْوِ. وَفِي الْقُنْيَةِ: تَصَافُحُ الْخَصْمَيْنِ لِأَجْلِ الْعُذْرِ اسْتِحْلَالٌ .
وَقَالَ النَّوَوِيُّ رَحِمَهُ اللهُ : رَأَيْتُ فِي فَتَاوَى الطَّحَاوِيِّ أَنَّهُ يَكْفِي النَّدَمُ وَالْإِسْتِغْفَارُ فِي الْغِيبَةِ وَإِنْ بَلَغَتْ فَالطَّرِيقُ أَنْ يَأْتِيَ الْمُغْتَابَ وَيَسْتَحِلَّ مِنْهُ . فَإِنْ تَعَذَّرَ لِمَوْتِهِ أَوْ لِغَيْبَتِهِ الْبَعِيدَةِ اسْتَغْفَرَ اللهَ تَعَالَى. وَلَا اعْتِبَارَ بِتَحْلِيلِ الْوَرَثَةِ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج ٧ ص ٣٠٥٧ بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيبَةِ وَالشَّتْمِ الفصل الثالث في تشريح حديث ٤٨٧٧ ، رد المحتار على الدر المختار ج ٦ ص ٤١١ ، فتاوى محموديه ج ٢٩ ص ٢٩٧ .

## په دُنيا کې معافي غوښتل ضروري ده

که څوک په چا باندې ظلم اوکړي يا د هغه عزت، او آبرو ته نقصان اورسوي مثلاً بې عزتي يې اوکړي، بُهتان ورباندې اولږوي، او يا کنځل ورته اوکړي نو په دُنيا کې ورنه معافي غوښتل پکار دي، ځکه په آخرت کې خو به دده سره څه درهم او دينار نه وي نو دده نه به نېک اعمال اخيستلې شي او هغه بل کس ته به د حق په عِوض کې ورکولې شي، او که دده سره نېکۍ ختمې شي او په ده باندې د خلقو حقونه پاتې وي نو بيا به د هغوی گناهونه راخيستلې شي او په ده باندې به بار کولې شي.

د بخاري شريف حديث دی، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

مَنْ كَانَتْ لَهُ مَظْلِمَةٌ لِأَخِيهِ مِنْ عِرْضِهِ أَوْ شَيْءٍ فَلْيَتَحَلَّلْهُ مِنْهُ الْيَوْمَ قَبْلَ أَنْ لَا يَكُونَ دِينَارٌ وَلَا دِرْهَمٌ إِنْ كَانَ لَهُ عَمَلٌ صَالِحٌ أُخِذَ مِنْهُ بِقَدْرِ مَظْلِمَتِهِ، وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ حَسَنَاتٌ أُخِذَ مِنْ سَيِّئَاتِ صَاحِبِهِ فَحُمِلَ عَلَيْهِ. (١)

په چا باندې چې د بل ورور مسلمان حق وي که په هغه يې ظلم کړې وي، د هغه عزت ته يې نقصان رسولې وي يا يې نور حقوق ورباندې وي نو د هغه نه دې نن ورځ معافي اوغواړي، مخکې د هغه ورځې نه په کومه ورځ چې د چاسره نه دينار وي او نه درهم. (يعنی مخکې د قيامت د ورځې نه. ځکه که نن ورنه معافي اونه غواړي نو د قيامت په ورځ خو به دده سره درهم و دينار نوي) نو که دده سره نيکي وي نو د ظلم (او حق) په مقدار به دده نه نيکي اخيستلې شي (مظلوم او حقدار ته به ورکولې شي)، او که دده سره نيکي نه وي نو د مظلوم او حقدار گناهونه به راخيستلې شي او په ده باندې به بار کولې شي.

او چې د چا نه د قيامت په ورځ د نورو خلقو د حقونو په عِوض کې ټول نېک اعمال لاړ شي او بيا د حقدارانو گناهونه په ده باندې بار کړې شي نو داسې کس ته په احاديثو کې حقيقي مُفلِس ويل شوی.

(١) صحيح البخاري كِتَابُ الْمَظَالِمِ وَالْغَصْبِ بَابُ مَنْ كَانَتْ لَهُ مَظْلَمَةٌ عِنْدَ الرَّجُلِ فَحَلَّلَهَا لَهُ. هَلْ يُبَيِّنُ مَظْلَمَتَهُ رقم الحديث ٢٢٤٩ ،، مشكوة المصابيح باب الظلم الفصل الاول رقم الحديث ٥١٢٦(٣) .

# په څنې صورتونو کې غيبت کول جائز دي

غيبت کول اګر چې حرام دی، خو ددې باوجود بيا هم داسې ځايونه شته چې په هغې کې د غيبت کولو جواز شته.

امام نووي رحمه الله او نورو علماؤ دغه ځايونه په تفصيل سره ذکر کړي، هغه فرمايي: اې انسانه! ته په دې پوهه شه چې کله يو صحيح شرعي حاجت بغير د غيبت نه نه حاصلېږي نو هلته غيبت مباح دی، او ددې (غيبت مباح والي د پاره) شپږ (٦) اَسباب دي:

**اول**: مظلوم ته دا جائز دي چې د خپل ظلم شکايت بادشاه، قاضي يا داسې چاته اوکړي چې په هغه کې دا قدرت وي چې د ظالِم نه د مظلوم د پاره انصاف (او بدله) واخلي. مثلاً مظلوم اووايي چې "د ماسره فلانکي کس دا ظلم کړی" (دا اګر چې ظاهرًا په غيبت کې راځي خو دا جائز دی).

**دويم**: په چا کې چې دا قدرت وي چې هغه خلق د ناجائزو کارونو نه منع کولې شي او ګناهګاران سمې لارې ته راوستلې شي نو هغه ته دا ويل چې:

"فلانکی کس دا ګناه کوي هغه ورنه منع کړه" او په دې سره دده مقصد هغه فلانکی د ګناه نه منع کول وي نو دا غيبت جائز دی (ځکه په دې کې دده مقصد هغه د ګناه منع کول دي).

خو که په دې سره يې هغه فلانکی د ګناه نه منع کول مقصد نه وي بلکه څه بل مقصد يې وي نو بيا دا غيبت حرام دی.

**دريم**: د فتوی طلب کولو د پاره مفتي ته دا ويل جائز دي چې:

"په ما باندې خپل پلار، يا خپل ورور، يا خپل خاوند، يا فلانکی کس دا ظلم کوي نو آيا د دوی د پاره دا جائز دی؟ زه به د دوی نه په څه طريقې خلاص شم؟ په کومه طريقه به ورنه خپل حق حاصل کړم؟ او په څه طريقه به د ځان نه ظلم لرې کړم؟"

يا داسې نورې خبرې اوکړي. نو مفتي ته دا خبرې کول د ضرورت په وجه جائز دي، ليکن بيا هم احتياطًا او افضل داده چې مفتي ته د پلار، ورور يا د هغه کس نوم وانخلی، بلکه داسې پوښتنه ورنه اوکړی:

"مفتي صاحب! ستاسو د هغه کس په باره کې څه رای ده چې هغه دا ظلم کوي؟"

نو په دې سره به مقصد هم حاصل شي او د چا معيّن نوم به هم ذكر نشي ، خو كه مفتي ته معيّن نوم واخلي نو دا هم جائز ده .

**څلورم** : مسلمانان د چا د شر نه بچول ، او د دوی د خيرخواهی په خاطر ورته د چا غيبت كول جائز دی . او ددې څو صورته دي :

**۱** . په دې خبره باندې د ټولو مسلمانانو اِجماع ده چې په مَجروح راويانو او مَجروح گواهانو باندې جَرح كول جائز ده ، بلكه د ضرورت په وخت واجب ده ( مثلاً : فلانكی راوي ضعيف دی ، يا دروغجن دی ، وغيره وغيره ) .

**۲** . يو كس د بل چا سره دا مشوره اوكړي چې :

" زه دا اِراده لرم چې د فلانكي سره خپلولي ( رِشته ) اوكړم ، يا ورسره كاروبار شريكوم ، يا ورسره گاونډي جوړيدل غواړم ( خو ماته د هغه پوره حقيقت معلوم ندی چې هغه څنگه سړی دی ؟ ) نو ته راته د هغه متعلق صحيح حال اووايه "

نو اوس چې د چا سره مشوره كولې شي په هغه باندې دا واجب دي چې په صحيح نيت باندې د هغه كس ټول عيبونه او كمزورۍ ورته بيان كړي كومې چې په هغه كې وي ، ددې د پاره چې دا كس د نقصان نه بچ شي .

**۳** . كله يو كس د علمِ فقه زده كوونكی طالب العلم اوگوري چې يو بدعتي يا فاسق استاذ ته د علم زده كولو د پاره ورځي ( او دې طالب العلم ته دا معلومه نه وي چې دا زه د چا نه عِلم حاصلوم هغه بدعتي يا فاسق دی ) او ددې كس سره دا يَره وي چې كه زه دا طالب العلم خبر نكړم نو په دې سره به ده ته نقصان اورسي ، نو اوس په دې كس باندې دا لازم دي چې دا طالب علم د هغه استاذ د بدعتي كيدو او فاسق كيدو نه خبر كړي ، خو شرط دا دی چې په دې سره ددې كس مقصد د طالب علم خيرخواهي وي ، څه بل غرض يې نه وي .

په دې ځای كې بعضې خلق خطاء كيږي هغوی د حسد په وجه غيبت كوي ، شيطان ورباندې اِشتباه راوستې وي او ده ته په خيال كې دا وراچوي چې گني دا خيرخواهي ده حالانكه دا د بَد نيت په وجه غيبت وي .

٤. چې کله يو کس په يوه عُهده باندې وي او دا ددې أهل (لائق) نه وي، يا فاسق وي، او يا ورنه غافل وي نو په مسلمان باندې واجب دي چې ددې تذکره هغه چاته اوکړي چې هغه ته په ده باندې قدرت حاصل وي، ددې د پاره چې هغه دا کس د عُهدې نه لرې کړي او ددې په ځای باندې بل نېک سړی مقرر کړي. يا کم از کم هغه ته دده اصل حالت معلوم شي او آئنده ورباندې دهوکه نشي، او دده اِصلاح اوکړي.

**پنځم**: د کوم سړي فِسق او بدعت چې ښکاره وي يعنی په ښکاره باندې ګناه کوي مثلاً ښکاره شراب څکي، په خلقو باندې ظلم کوي، د خلقو نه ظالمانه ټکسونه اخلي، په زوره د خلقو نه مال اخلي، او د ناجائزو کارونو سرپرستي کوي نو دداسې کس ددې ښکاره ګناهونو تذکره يې بل چاته جائز ده خو دده د پټو عيبونو تذکره حرامه ده. البته که ددې د جواز د پاره په مخکيني اسبابو کې څه سبب موجود شي نو بيا دده ددې پټو عيبونو تذکره هم جائز ده.

**شپږم**: چې کله انسان په يو لقب سره مشهور وي نو د سپکاوي د نيت نه بغير صرف د پيژندګلو د پاره ددې تذکره جائز ده، لکه:

أَعْمَش (بريخيدونکو سترګو واله)، أَعْرَجُ (ګډ)، أَصَم (کوڼ)، أَعْمَیٰ (ړوند)، أَحْوَل (کوږ سترګی).

خو د سپکاوي په نيت ددې تذکره ناجائز ده. که چيرته ددې لقب ذکر کولو نه بغير په بله طريقه ددې کس پيژندګلو کيدلې شوه نو بيا هماغه طريقه بهتره ده.

امام نووي رحمه الله فرمايي چې علماؤ دا شپږ أسباب ذکر کړي (چې په دې صورتونو کې د بل چا غيبت کول مباح دی)، او په دې کې په اکثرو باندې د علماؤ اتفاق دی. او ددې د جواز د پاره دلائل په صحيح احاديثو کې ذکر دي، او هغه احاديث مشهور دي. (١)

---

(١) بَابُ مَا يُبَاحُ مِنَ الغِيْبَةِ : اِعْلَمْ أَنَّ الغِيْبَةَ تُبَاحُ لِغَرَضٍ صَحِيْحٍ شَرْعِيٍّ لَا يُمْكِنُ الْوُصُوْلُ إِلَيْهِ إِلَّا بِهَا. وَهُوَ سِتَّةُ أَسْبَابٍ: اَلْأَوَّلُ: اَلتَّظَلُّمُ، فَيَجُوْزُ لِلْمَظْلُوْمِ أَنْ يَتَظَلَّمَ إِلَى السُّلْطَانِ وَالْقَاضِيْ وَغَيْرِهِمَا مِمَّنْ لَهُ وِلَايَةٌ، أَوْ قُدْرَةٌ عَلَى إِنْصَافِهِ مِنْ ظَالِمِهِ، فَيَقُوْلُ: ظَلَمَنِيْ فُلَانٌ بِكَذَا. اَلثَّانِيْ: اَلْإِسْتِعَانَةُ عَلَى تَغْيِيْرِ الْمُنْكَرِ ←←←←←←←← ←←←←←←←←

←←←← وَرَدِّ الْعَاصِيْ إِلَى الصَّوابِ ، فَيَقُوْلُ لِمَنْ يَرْجُوْ قُدْرَتَهُ عَلَى إِزَالَةِ الْمُنْكَرِ : فُلَانٌ يَعْمَلُ كَذَا فَازْجُرْهُ عَنْهُ وَنَحْوِ ذٰلِكَ ، وَيَكُوْنُ مَقْصُوْدُهُ التَّوَصُّلُ إِلَى إِزَالَةِ الْمُنْكَرِ ، فَإِنْ لَمْ يَقْصِدْ ذٰلِكَ كَانَ حَرَامًا . اَلثَّالِثُ : اَلْإِسْتِفْتَاءُ ، فَيَقُوْلُ لِلْمُفْتِيْ : ظَلَمَنِيْ أَبِيْ ، أَوْ أَخِيْ ، أَوْ زَوْجِيْ ، أَوْ فُلَانٌ بِكَذَا ، فَهَلْ لَهُ ذٰلِكَ ؟ وَمَا طَرِيْقِيْ فِي الْخَلَاصِ مِنْهُ ، وَتَحْصِيْلِ حَقِّيْ ، وَدَفْعِ الظُّلْمِ ؟ وَنَحْوِ ذٰلِكَ ، فَهٰذَا جَائِزٌ لِلْحَاجَةِ ، وَلٰكِنَّ الْأَحْوَطَ وَالْأَفْضَلَ أَنْ يَقُوْلَ : مَا تَقُوْلُ فِيْ رَجُلٍ أَوْ شَخْصٍ ، أَوْ زَوْجٍ ، كَانَ مِنْ أَمْرِهِ كَذَا ، فَإِنَّهُ يَحْصُلُ بِهِ الْغَرَضُ مِنْ غَيْرِ تَعْيِيْنٍ وَمَعَ ذٰلِكَ فَالتَّعْيِيْنُ جَائِزٌ كَمَا سَنَذْكُرُهُ فِيْ حَدِيْثِ هِنْدٍ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى . اَلرَّابِعُ : تَحْذِيْرُ الْمُسْلِمِيْنَ مِنَ الشَّرِّ وَنَصِيْحَتُهُمْ ، وَذٰلِكَ مِنْ وُجُوْهٍ : مِنْهَا : جَرْحُ الْمَجْرُوْحِيْنَ مِنَ الرُّوَاةِ وَالشُّهُوْدِ ، وَذٰلِكَ جَائِزٌ بِإِجْمَاعِ الْمُسْلِمِيْنَ ، بَلْ وَاجِبٌ لِلْحَاجَةِ . وَمِنْهَا : اَلْمُشَاوَرَةُ فِيْ مُصَاهَرَةِ إِنْسَانٍ ، أَوْ مُشَارَكَتِهِ ، أَوْ إِيْدَاعِهِ ، أَوْ مُعَامَلَتِهِ ، أَوْ غَيْرِ ذٰلِكَ ، أَوْ مُجَاوَرَتِهِ ، وَيَجِبُ عَلَى الْمُشَاوَرِ أَنْ لَا يُخْفِيَ حَالَهُ ، بَلْ يَذْكُرُ الْمَسَاوِيءَ الَّتِيْ فِيْهِ بِنِيَّةِ النَّصِيْحَةِ . وَمِنْهَا : إِذَا رَأَى مُتَفَقِّهًا يَتَرَدَّدُ إِلَى مُبْتَدِعٍ أَوْ فَاسِقٍ يَأْخُذُ عَنْهُ الْعِلْمَ ، وَخَافَ أَنْ يَتَضَرَّرَ الْمُتَفَقِّهُ بِذٰلِكَ فَعَلَيْهِ نَصِيْحَتُهُ بِبَيَانِ حَالِهِ بِشَرْطِ أَنْ يَقْصِدَ النَّصِيْحَةَ ، وَهٰذَا مِمَّا يُغْلَطُ فِيْهِ . وَقَدْ يَحْمِلُ الْمُتَكَلِّمَ بِذٰلِكَ الْحَسَدُ ، وَيُلَبِّسُ الشَّيْطَانُ عَلَيْهِ ذٰلِكَ ، وَيُخَيِّلُ إِلَيْهِ أَنَّهُ نَصِيْحَةٌ فَلْيُتَفَطَّنْ لِذٰلِكَ . وَمِنْهَا : أَنْ يَكُوْنَ لَهُ وِلَايَةٌ لَا يَقُوْمُ بِهَا عَلَى وَجْهِهَا ، إِمَّا بِأَنْ لَا يَكُوْنَ صَالِحًا لَهَا ، وَإِمَّا بِأَنْ يَكُوْنَ فَاسِقًا ، أَوْ مُغَفَّلًا ، وَنَحْوَ ذٰلِكَ فَيَجِبُ ذِكْرُ ذٰلِكَ لِمَنْ لَهُ عَلَيْهِ وِلَايَةٌ عَامَّةٌ لِيُزِيْلَهُ ، وَيُوَلِّيَ مَنْ يُصْلِحُ ، أَوْ يَعْلَمَ ذٰلِكَ مِنْهُ لِيُعَامِلَهُ بِمُقْتَضٰى حَالِهِ ، وَلَا يَغْتَرَّ بِهِ ، وَأَنْ يَسْعٰى فِيْ أَنْ يَحُثَّهُ عَلَى الْإِسْتِقَامَةِ أَوْ يَسْتَبْدِلَ بِهِ . اَلْخَامِسُ : أَنْ يَكُوْنَ مُجَاهِرًا بِفِسْقِهِ أَوْ بِدْعَتِهِ كَالْمُجَاهِرِ بِشُرْبِ الْخَمْرِ ، وَمُصَادَرَةِ النَّاسِ ، وَأَخْذِ الْمَكْسِ ، وَجِبَايَةِ الْأَمْوَالِ ظُلْمًا وَتَوَلِّي الْأُمُوْرِ الْبَاطِلَةِ ، فَيَجُوْزُ ذِكْرُهُ بِمَا يُجَاهِرُ بِهِ ، وَيَحْرُمُ ذِكْرُهُ بِغَيْرِهِ مِنَ الْعُيُوْبِ ، إِلَّا أَنْ يَكُوْنَ لِجَوَازِهِ سَبَبٌ آخَرُ مِمَّا ذَكَرْنَاهُ . اَلسَّادِسُ : اَلتَّعْرِيْفُ ، فَإِذَا كَانَ الْإِنْسَانُ مَعْرُوْفًا بِلَقَبٍ ، كَالْأَعْمَشِ ، وَالْأَعْرَجِ ، وَالْأَصَمِّ ، وَالْأَعْمٰى ، وَالْأَحْوَلِ ، وَغَيْرِهِمْ جَازَ تَعْرِيْفُهُمْ بِذٰلِكَ ، وَيَحْرُمُ إِطْلَاقُهُ عَلٰى جِهَةِ التَّنَقُّصِ ، وَلَوْ أَمْكَنَ تَعْرِيْفُهُمْ بِغَيْرِ ذٰلِكَ كَانَ أَوْلٰى . فَهٰذِهِ سِتَّةُ أَسْبَابٍ ذَكَرَهَا الْعُلَمَاءُ وَأَكْثَرُهَا مُجْمَعٌ عَلَيْهِ ، وَدَلَائِلُهَا مِنَ الْأَحَادِيْثِ الصَّحِيْحَةِ مَشْهُوْرَةٌ . رياض الصالحين للنووي ج ١ ص ٤٣٢ كتَاب الأمُور المَنهي عَنْهَا باب مَا يُباح من الغيبة ط . بيروت لبنان ، شرح النووي على مسلم ج١٦ ص ١٤٢ باب تحريم الغيبة ، الاذكار للنووي ج١ ص ٥٤٢ باب بيان ما يُباح من الغيبة ، الجامع لأحكام القرآن ج١٦ ص ٣٣٩ ، فتح الباري ج١٠ ص ٤٧٢ طبع الرياض ، مختصر منهاج القاصدين ص ١٧١ ، رفع الريبة للشوكاني ص ١٣ ، الموسوعة الفقهية ج٣١ ص ٣٣٥ غيبة ، الزواجر لابن حجر الهيتمي ج٢ ص ٢٣ الغيبة والسكوت عليها ، نضرة النعيم ج٣١ ص ٥١٣٤ ، معارف القرآن سورة الحجرات في تشريح آية ١٢ ، كيمياى سعادت ، احياء علوم الدين ج٣ ص ١٥٢ ، فتاوى محموديه ج ٢٩ ص ٣٩٢ .

امام نووي رحمه الله هغه احاديث هم ذكر كري چې د هغې نه په بعضو صورتونو كې د غيبت جواز معلومېږي . (١)

## د پنځم قِسم تشريح

پاس چې د غيبت د جواز كوم صورتونه ذكر شو په هغې كې درته د پنځم (٥) قِسم تشريح نوره هم كوم ، ددې د پاره پوره ورباندې پوهه شى :

---

(١) څه احاديث دادي : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنهَا أَنَّ رَجُلًا اِسْتَأْذَنَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّمَ فَقَالَ : اِئْذَنُوا لَهُ . بِئْسَ أَخُو العَشِيْرَةِ . متفق عَلَيهِ . اِحْتَجَّ بِهِ البُخَارِي فِي جَوَازِ غِيْبَةِ أَهْلِ الفَسَادِ وَأَهْلِ الرِّيبِ .

وَعَنهَا قَالَتْ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّم: مَا أَظُنُّ فُلَانًا وَفُلَانًا يَعْرِفَانِ مِنْ دِيْنِنَا شَيْئًا . رواه البخاري.

قَالَ اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ أَحَدُ رُوَاةِ هٰذَا الحَدِيثِ: هٰذَانِ الرَّجُلَانِ كَانَا مِنَ المُنَافِقِيْنَ .

وَعَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ رَضِيَ اللهُ عَنهَا قَالَتْ : أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّم. فَقُلْتُ : إِنَّ أَبَا الجَهْمِ وَمُعَاوِيَةَ خَطَبَانِي ؟ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّم: أَمَّا مُعَاوِيَةُ فَصُعْلُوْكٌ لَا مَالَ لَهُ . وَأَمَّا أَبُو الجَهْمِ فَلَا يَضَعُ العَصَا عَنْ عَاتِقِهِ . متفق عَلَيهِ. وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ: " وَأَمَّا أَبُو الجَهْمِ فَضَرَّابٌ لِلنِّسَاءِ" وَهُوَ تَفْسِيْرٌ لِرِوَايَةِ: " لَا يَضَعُ العَصَا عَنْ عَاتِقِهِ" وَقِيْلَ : مَعْنَاهُ : كَثِيْرُ الأَسْفَارِ .

وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ رَضِيَ اللهُ عَنهُ قَالَ : خَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّمَ فِي سَفَرٍ أَصَابَ النَّاسَ فِيْهِ شِدَّةٌ . فَقَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ أُبَيٍّ لِأَصْحَابِهِ : لَا تُنْفِقُوْا عَلَى مَنْ عِنْدَ رَسُوْلِ اللهِ حَتَّى يَنْفَضُّوا ، وَقَالَ : لَئِنْ رَجَعْنَا إِلَى المَدِيْنَةِ لَيُخْرِجَنَّ الأَعَزُّ مِنْهَا الأَذَلَّ . فَأَتَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّمَ فَأَخْبَرْتُهُ بِذٰلِكَ . فَأَرْسَلَ إِلَى عَبْدِ اللهِ بْنِ أُبَيٍّ فَاجْتَهَدَ يَمِيْنَهُ مَا فَعَلَ، فَقَالُوا : كَذَبَ زَيْدٌ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّم. فَوَقَعَ فِي نَفْسِي مِمَّا قَالُوْهُ شِدَّةٌ حَتَّى أَنْزَلَ اللهُ تَعَالَى تَصْدِيْقِي : { إِذَا جَاءَكَ الْمُنَافِقُوْنَ } ثُمَّ دَعَاهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّم لِيَسْتَغْفِرَ لَهُمْ فَلَوَّوْا رُؤُوْسَهُمْ . متفق عَلَيهِ.

وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنهَا قَالَتْ : قَالَتْ هِنْدُ امْرَأَةُ أَبِي سُفْيَانَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّم: إِنَّ أَبَا سُفْيَانَ رَجُلٌ شَحِيْحٌ وَلَيْسَ يُعْطِيْنِي مَا يَكْفِيْنِي وَ وَلَدِي إِلَّا مَا أَخَذْتُ مِنْهُ وَهُوَ لَا يَعْلَمُ ؟ قَالَ : "خُذِي مَا يَكْفِيْكِ وَ وَلَدَكِ بِالمَعْرُوْفِ" . متفق عليه. رياض الصالحين للنووي ج ١ ص ٣٢٣ كتاب الأمور المنهي عنها باب ما يُباح من الغيبة طبع بيروت لبنان

چې کله يو کس په ښکاره باندې ګناه کوي مثلاً په ښکاره باندې شراب څکي، يا بله ښکاره ګناه کوي نو دده متعلق دا خبره کول چې " دا شراب څکي " دا غيبت ندی، ځکه هغه په خپله باندې په ښکاره دا ګناه کوي، دخلقو نه يې نه پټوي، او ددې په آوريدو نه خفه کيږي، نو دا په غيبت کې داخل ندی. البته که هغه دا ګناه پټه کوله نو بيا د هغه غيبت صحيح ندی.

همدارنګې که په يو کس کې داسې بَدي وي چې د هغې په وجه مسلمان ته تکليف رسي مثلاً په هغه کې دُهوکه وي يا بله څه ګناه وي او ته بل مسلمان ورنه خبر کړې " چې دا کس دُهوکه باز دی هسې نه چې تا په معاملاتو کې دُهوکه کړي " نو دا په غيبت کې نه دې داخل، بلکه په دې کې د يو مسلمان سره خيرخواهي ده چې هغه د دُهوکې نه بچ شي، او په احاديثو کې هم ددې تذکره شته:

په بخاري شريف او مسلم شريف کې دا حديث ذکر دی: حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چې (زه د نبي عليه السلام سره ناسته ووم چې په دې وخت کې) يو سړي د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه دننه د راتلو اجازت اُوغوښت، کله چې نبي عليه السلام هغه اُوليد نو وې فرمايل: بِئْسَ أَخُو الْعَشِيرَةِ، وَبِئْسَ ابْنُ الْعَشِيرَةِ.

دا (کوم کس چې راروان دی دا) د قبيلې په آفرادو کې ډير بَد کس دی.

بيا چې کله هغه کس راغی او د نبي عليه السلام سره کيناست نو دوی ورسره په خوشحالۍ او خوش آخلاقۍ باندې ملاوْ شو.

حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چې کله هغه کس لاړ نو ما د نبي عليه السلام نه پوښتنه اوکړه: اې د الله رسوله! کله چې تاسو هغه کس اُوليد نو تاسو دا خبره اوکړه، خو چې کله ورسره ملاوْ شوی نو په خوشحالۍ او خوش آخلاقۍ ورسره ملاوْ شوی، داولې؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته اوفرمايل:

يَا عَائِشَةُ! مَتَى عَهِدْتِنِي فَحَّاشًا؟ إِنَّ شَرَّ النَّاسِ عِنْدَ اللهِ مَنْزِلَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَنْ تَرَكَهُ النَّاسُ اتِّقَاءَ شَرِّهِ.

اې عائشې! تا زه کله په فحش خبرو ليدلې يم؟ بيشکه د قيامت په ورځ به د الله ﷻ په نزد د مرتبې په اعتبار سره بَدترين خلق هغه وي چې د دوی د شر نه د بچ کيدلو د پاره خلقو

دوی پرېښي وي. (١)

**فائده** ددې حديث نه علماؤ دا ثابته کړی چې په کوم فاسق کې ښکاره ګناه وي د هغې تذکره غيبت نه دی. (٢)

نبي عليه السلام د هغه کس متعلق دا خبره اوکړه چې " دا د قبيلې په أفرادو کې ډير بَد کس دی" نو اګر چې دا په ظاهره باندې غيبت ښکاري ليکن دا جائز دی، ځکه د نبي عليه السلام مقصد دا وُ چې حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنهَا د هغه کس د بَدی نه خبره شي او د هغه د نقصان نه بچ شي.

لهذا په چا کې چې داسې بدي وي چې د هغې په وجه نورو خلقو ته نقصان رسي نو د دېنه نور خلق د دې د پاره خبرول جائز دي چې هغوی د ده د نقصان نه بچ شي.

بلکه بعضې وخت نور خلق خبرول فرض او ضروري وي مثلاً ته يو کس اُوګورې چې هغه د بل کس د وژلو اِراده لري يا د هغه د کور نه د غلا کولو اِراده لري نو په تا باندې لازم دي

---

(١) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنهَا : أَنَّ رَجُلًا اِسْتَأْذَنَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَلَمَّا رَآهُ قَالَ : « بِئْسَ أَخُو الْعَشِيْرَةِ، وَبِئْسَ ابْنُ الْعَشِيْرَةِ » فَلَمَّا جَلَسَ تَطَلَّقَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ وَجْهِهِ وَانْبَسَطَ إِلَيْهِ. فَلَمَّا انْطَلَقَ الرَّجُلُ قَالَتْ لَهُ عَائِشَةُ رَضِيَ اللهُ عَنهَا : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! حِيْنَ رَأَيْتَ الرَّجُلَ قُلْتَ لَهُ كَذَا وَكَذَا. ثُمَّ تَطَلَّقْتَ فِيْ وَجْهِهِ وَانْبَسَطْتَ إِلَيْهِ؟ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « يَا عَائِشَةُ ! مَتَى عَهِدْتِنِيْ فَحَّاشًا؟ إِنَّ شَرَّ النَّاسِ عِنْدَ اللهِ مَنْزِلَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَنْ تَرَكَهُ النَّاسُ اتِّقَاءَ شَرِّهِ » . صحيح البخاري رقم الحديث ٦٠٣٢ كِتَابُ الْأَدَبِ بَابُ لَمْ يَكُنِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاحِشًا وَلَا مُتَفَحِّشًا ، و رقم الحديث ٦٠٥٤ بَابُ مَا يَجُوزُ مِنَ اغْتِيَابِ أَهْلِ الْفَسَادِ وَالرِّيَبِ. و رقم الحديث ٦١٣١ بَابُ الْمُدَارَاةِ مَعَ النَّاسِ ، صحيح مسلم كتاب الْبِرِّ وَالصِّلَةِ وَالْآدَابِ بَابُ مُدَارَاةِ مَنْ يُتَّقَى فُحْشُهُ رقم الحديث ٧٣(٢٥٩١) ، سنن ابي داؤد رقم الحديث ٤٧٩٢، مسند احمد رقم الحديث ٢٤١٠٦ .

(٢) قَالَ النَّوَوِيُّ رَحِمَهُ اللهُ : وَإِنَّمَا أَلَانَ لَهُ الْقَوْلَ تَأَلُّفًا لَهُ وَلِأَمْثَالِهِ عَلَى الْإِسْلَامِ . وَفِيْهِ مُدَارَاةُ مَنْ يُتَّقَى فُحْشُهُ وَجَوَازُ غِيْبَةِ الْفَاسِقِ. وَفِيْ شَرْحِ السُّنَّةِ: فِيْهِ دَلِيْلٌ عَلَى أَنَّ ذِكْرَ الْفَاسِقِ بِمَا فِيْهِ لِيُعْرَفَ أَمْرُهُ فَيُتَّقَى لَا يَكُوْنُ مِنَ الْغِيْبَةِ. وَلَعَلَّ الرَّجُلَ كَانَ مُجَاهِرًا بِسُوْءِ أَفْعَالِهِ وَلَا غِيْبَةَ لِمُجَاهِرٍ.

قَالَ النَّوَوِيُّ رَحِمَهُ اللهُ : وَمِنَ الَّذِيْنَ يَجُوْزُ لَهُمُ الْغِيْبَةُ الْمُجَاهِرُ بِفِسْقِهِ أَوْ بِدْعَتِهِ . فَيَجُوْزُ ذِكْرُهُ بِمَا يَجْهَرُ بِهِ وَلَا يَجُوْزُ بِغَيْرِهِ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج٧ ص ٣٠٣٣ بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيْبَةِ وَالشَّتْمِ اَلْفَصْلُ الأول في تشريح حديث ٤٨٣٠ .

چې ته هغه کس ته اِطلاع ورکړی چې " د خپل ځان او خپل کور حفاظت کوه فلانکی کس ستا په باره کې دا اراده لري " نو دا په غيبت کې نه دی داخل ، شريعت ددې جواز ورکړی (١)

فقيه ابو الليث سمرقندي رحمه الله هم ذکر کړي چې د درې ( ٣ ) کسانو غيبت کول غيبت ندی : يو د ظالم بادشاه ، دويم ښکاره فاسق ، او دريم بدعتي کس. خو د دوی عيبونه بيانول هله غيبت ندی چې کله د دوی د خاصو ( ناجائز ) کارونو او د دوی د مذهب متعلق ( بدعاتو ) تذکره اوکړې شي ددې د پاره چې خلق د دوی نه ځان اوساتي ، البته د دوی د بدن متعلق عيبونو تذکره په غيبت کې راځي . (٢)

# د غونډ تقرير خلاصه

د غونډ تقرير خلاصه دا راأووته چې غيبت کول ګناهِ کبيره ده ، په قرآن کريم او احاديثو کې ددينه په سختو الفاظوسره منع راغلی ، او ددې سختې سزاګانې ذکر شوي :

غيبت کول داسې دی لکه د خپل مړ ورور غوښه خوړل ، غيبت کول د خِنزير او مردارې د غوښې خوړلو نه ډير بدتر دی ، غيبت کول د زِنا نه سخته ګناه ده ، د غيبت په وجه بدبويه هوا پيدا کيږي ، د غيبت په وجه د انسان د عملنامې نيک اعمال د هغه چا عملنامې ته ځي چې د چا غيبت يې کړې وي ، د غيبت په وجه د مونځ او روژې کامل ثواب ختميږي ، د غيبت په وجه انسان په عذابِ قبر کې مبتلاء کيږي ، غيبت کوونکو د پاره د جهنم سختې سزاګانې تياکل شوي ، غيبت کوونکي به په جهنم کې مرداره خوري ، په احاديثو کې غيبت ته د ټولو نه غټ سُود ويل شوی ، غيبت د دِين د پاره ډير نقصاني دی ، دا د ټولو خرابيو جرړه او خطرناکه رُوحاني بيماري ده .

ددينه علاوه د غيبت نورې ډيرې دُنيوي او اُخروي سزاګانې ذکر شوي .

لکه څرنګې چې پخپله غيبت کول منع دی همداسې د غيبت آوريدل هم منع دي ، بيا

---

(١) اصلاحي خطبات ج۴ ص ٨٩ ، و ج ١٧ ص ١٠۴ .

(٢) ثَلَاثَةٌ لَاتَكُوْنُ غِيْبَتُهُمْ غِيْبَةً : سُلْطَانٌ جَائِرٌ ، وَفَاسِقٌ مُعْلِنٌ ، وَصَاحِبُ بِدْعَةٍ . يَعْنِيْ إِذَا ذَكَرَ فِعْلَهُمْ وَمَذْهَبَهُمْ . وَلَوْ ذَكَرَ شَيْئًا مِنْ أَبْدَانِهِمْ بِعَيْبٍ فِيْهِمْ لَكَانَ ذٰلِكَ غِيْبَةً . وَلٰكِنْ إِذَا ذَكَرَ فِعْلَهُمْ وَمَذْهَبَهُمْ فَلَا بَأْسَ لِكَيْ يَحْذَرَهُمُ النَّاسُ . تنبيه الغافلين باحاديث سيد الأنبياء والمرسلين ج ١ ص ١٦٧ بَابُ الْغِيْبَةِ

خاصکر د علماؤ غيبت کول نوره هم سخته ګناه ده .

لهذا انسان ته په کار دي چې د غيبت نه توبه اُوباسي ، او په کومو صورتونو کې چې شريعت د غيبت کولو اجازت ورکړى د هغه ځايونو نه علاوه نور د غيبت کولو او اوريدلو نه مکمل ځان اوساتي .

## دُعا

اې الله ! د مونږ نه چې د غيبت کومه ګناه شوى د هغې معافي راته اوکړه او آئنده ددينه د بچ کيدلو توفيق راکړه .

اې پروَردِګاره ! په قرآن کريم او احاديثو مبارکهؤ کې چې څومره خراب صفتونه ذکر شوي د هغې نه مونږ ټول اُوساته ، او بهترين صفات را کې پيدا کړه .

اې ربه ! مونږ ټولو ته په صحيح طريقې سره د نبي عليه السلام په نقشِ قدم باندې د تللو توفيق رانصيبه کړه .

آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن .

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿وَلَا تُطِعْ كُلَّ حَلَّافٍ مَّهِيْنٍ، هَمَّازٍ مَّشَّآءٍ بِنَمِيْمٍ﴾.

القلم آية ١٠، ١١.

# د چُغل خورَی سزاگانې او نقصانات

تالیف

اَبُو الشَّمْس مولانا نُوْرُالْهُدٰی عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فیض القرآن اکاخیل کالونی مردان

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د چغل خورۍ سزاګانې او نقصانات

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نَبِيَّ بَعْدَهُ ، وَلَا رَسُوْلَ بَعْدَهُ ، وَهُوَ خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ ، وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ ، وَعَلٰى مَنْ تَبِعَهُ وَتَبِعَهُمْ بِاِحْسَانٍ إِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ ،

اَمَّا بَعْدُ فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ :

﴿ وَلَا تُطِعْ كُلَّ حَلَّافٍ مَّهِيْنٍ ، هَمَّازٍ مَّشَّاءٍ بِنَمِيْمٍ ﴾ . (١)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَتَّاتٌ . (٢)

وَقَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ : تَجِدُ مِنْ شَرِّ النَّاسِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عِنْدَ اللهِ ذَا الْوَجْهَيْنِ ، الَّذِيْ يَأْتِيْ هٰؤُلَاءِ بِوَجْهٍ ، وَهٰؤُلَاءِ بِوَجْهٍ . (٣)

---

(١) القلم آية ١٠ ، ١١ .

(٢) صحيح البخاري كِتَابُ الْأَدَبِ بَابُ مَا يُكْرَهُ مِنَ النَّمِيْمَةِ رقم الحديث ٦٠٥٦ ، صحيح مسلم كِتَابُ الْإِيمَانَ بَابُ بَيَانِ غِلَظِ تَحْرِيْمِ النَّمِيْمَةِ رقم الحديث ١٦٩(١٠٥) ، و رقم الحديث ١٧٠(١٠٥) ، سنن ابي داؤد رقم الحديث ٤٨٧١ باب في القتات ، سنن الترمذي باب ماجاء في النمام رقم الحديث ٢٠٢٦ ، مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ٢٦٥٨٥ ، مسند احمد رقم الحديث ٢٣٢٤٧ ، صحيح ابن حبان باب النميمة رقم الحديث ٥٧٦٥ ، مشكوة المصابيح بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيْبَةِ وَالشَّتْمِ اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ رقم الحديث ٤٨٢٣(١٢) .

وفي رواية ، قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ نَمَّامٌ . صحيح مسلم كِتَابُ الْإِيمَانَ بَابُ بَيَانِ غِلَظِ تَحْرِيْمِ النَّمِيْمَةِ رقم الحديث ١٦٨(١٠٥) ، مسند احمد رقم الحديث ٢٣٣٢٥ ، ، شعب الايمان رقم ١٠٥٩٠

(٣) صحيح البخاري كِتَابُ الْأَدَبِ بَابُ مَا قِيلَ فِي ذِي الْوَجْهَيْنِ رقم الحديث ٦٠٥٨ ، و رقم الحديث ٣٤٩٤ كِتَابُ الْمَنَاقِبِ بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى: {يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثٰى ... } . صحيح مسلم . كتاب فَضَائِلِ الصَّحَابَةِ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُمْ بَابُ خِيَارِ النَّاسِ رقم الحديث ١٩٩(٢٥٢٦) ، و رقم الحديث ٩٨(٢٥٢٦) كتاب الْبِرِّ وَالصِّلَةِ وَالْآدَابِ بَابُ ذَمِّ ذِي الْوَجْهَيْنِ وَتَحْرِيمِ فِعْلِهِ . سنن الترمذي رقم الحديث ٢٠٢٥ ، صحيح ابن حبان رقم ٥٧٥٧ ، الاداب للبيهقي رقم ١٠٩ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم ١٦٦٦٢ ، شعب الايمان رقم ٤٥٣٧ ، مشكوة المصابيح رقم ٤٨٢٢(١١) ، شرح السنة للبغوي رقم ٣٥٧٧ ، صحيح الترغيب والترهيب رقم ٢٩٤٧(١) .

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْم .

## تمهيدي خبره

زما خوږو قدرمنو او عزت مندو مسلمانانو ورونو ! د ژبې سره چې کوم ګناهونه تعلق لري په هغې کې يوه ګناه چُغل خُوري هم ده ، دا هم ګناهِ کبيره ده ، په قرآن کريم او احاديثو مبارکهٔ کې د دينه په سختو الفاظو سره ممانعت راغلی ، او د دې ډيرې سزاګانې ذکر شوي

اسلام مسلمانانو ته د يو بل سره د اِتفاق و اِتحاد او ښه ژوند تيرولو حُکم کړی او د چُغل خورئ په وجه مسلمانان په يو بل باندې بَدګمانه کيږي ، په خپل مينځ کې يې بُغض عداوت او دُشمنئ پيدا کيږي ، نو ځکه ديته ګناهِ کبيره ويل شوی او د دُنيا او آخرت سختې سزاګانې يې ذکر شوي .

بعضې ګناهونه داسې دي چې مونږ يې ډير معمولي ګنړو او دهغې نه د بچ کيدو هيڅ فِکر نه کوو خو په حقيقت کې هغه ډير خطرناک ګناهونه وي او سختې سزاګانې يې ذکر شوې وي ، په هغې کې دا چُغل خوري هم ده .

د ټولو نه اول درته د چُغل خورئ تعريف کوم :

## د چُغل خورئ تعريف

چُغل خورئ ته په عربئ کې " نَمِيْمَة " وايي ، او چُغل خور ته "نَمَّام" او " قَتَّات " وايي . (١)

د نميمې ( چُغل خورئ ) اِصطلاحي تعريف علماؤ داسې کړی :

---

(١) اَلنَّمِيْمَةُ لُغَةً : اَلنَّمِيْمَةُ اِسْمٌ مِنْ نَمَّ الحَدِيْثَ يَنِمُّهُ وَيَنُمُّهُ نَمًّا وَتَدُلُّ مَادَّتُهُ عَلَى أَصْلٍ صَحِيْحٍ لَهُ مَعْنَيَانِ : أَحَدُهُمَا : إِظْهَارُ شَيْءٍ وَ إِبْرَازُهُ ، وَالآخَرُ لَوْنٌ مِنَ الأَلْوَانِ...... وَيُقَالُ لِلنَّمَّامِ: القَتَّاتُ. يُقَالُ : قَتَّ إِذَا مَشَى بِالنَّمِيْمَةِ. وَيُقَالُ لِلنَّمَّامِ قَتَّاتٌ وَدَرَّاجٌ وَغَمَّازٌ وَهَمَّازٌ وَمَائِسٌ وَمِنَّاسٌ . المقاييس ٥/ ٣٥٨ ، لسان العرب ٥/ ٢٠٤٥ ، نضرة النعيم في مكارم اخلاق الرسول الكريم ج١١ ص ٥٦٦٥ النميمة .

مِنْ مَعَانِي النَّمِيْمَةِ لُغَةً : اَلسَّعْيُ بَيْنَ النَّاسِ بِالفِتْنَةِ ، يُقَال : نَمَّ الرَّجُلُ الحَدِيْثَ نَمًّا مِنْ بَابَيْ قَتَلَ وَضَرَبَ سَعَى بِهِ لِيُوقِعَ فِتْنَةً أَوْ وَحْشَةً فَالرَّجُلُ نَمٌّ تَسْمِيَةٌ بِالمَصْدَرِ وَنَمَّامٌ مُبَالَغَةٌ وَالإِسْمُ النَّمِيْمَةُ وَالنَّمِيْمُ أَيْضًا . الموسوعة الفقهية الكويتية ج ٤١ ص ٣٧٢ نميمة ، المصباح المنير في غريب الشرح الكبير ٢/ ٦٢٦ (ن م م) .

نَقْلُ كَلَامِ النَّاسِ بَعْضِهِمْ إِلَى بَعْضٍ عَلَى جِهَةِ الْإِفْسَادِ بَيْنَهُمْ . (١)

د فساد په غرَض باندې د بعضې خلقو خبره بعضې نورو ته نقل کول.

علماؤ د نميمې نور تعريفونه هم کړي. (٢)

امام غزالي رحمه الله په احياء العلوم کې د دې جامع تعريف کړی:

إِعْلَمْ أَنَّ إِسْمَ النَّمِيمَةِ إِنَّمَا يُطْلَقُ فِي الْأَكْثَرِ عَلَى مَنْ يَنِمُّ قَوْلَ الْغَيْرِ إِلَى الْمَقُوْلِ فِيهِ. كَمَا تَقُوْلُ: فُلَانٌ يَتَكَلَّمُ فِيكَ بِكَذَا وَكَذَا. وَلَيْسَتِ النَّمِيمَةُ مُخْتَصَّةً بِهِ بَلْ حَدُّهَا: كَشْفُ مَا يُكْرَهُ كَشْفُهُ سَوَاءٌ كَرِهَهُ الْمَنْقُوْلُ عَنْهُ أَوِ الْمَنْقُوْلُ إِلَيْهِ أَوْ كَرِهَهُ ثَالِثٌ. وَسَوَاءٌ كَانَ الْكَشْفُ بِالْقَوْلِ أَوْ بِالْكِتَابَةِ أَوْ بِالرَّمْزِ أَوْ بِالْإِيمَاءِ. وَسَوَاءٌ كَانَ الْمَنْقُوْلُ مِنَ الْأَعْمَالِ أَوْ مِنَ الْأَقْوَالِ. وَسَوَاءٌ كَانَ ذٰلِكَ عَيْبًا وَنَقْصًا فِي الْمَنْقُوْلِ عَنْهُ أَوْ لَمْ يَكُنْ بَلْ حَقِيقَةُ النَّمِيمَةِ: إِفْشَاءُ السِّرِّ وَهَتْكُ السِّتْرِ عَمَّا يُكْرَهُ كَشْفُهُ. (٣)

پوهه شه چې د چُغل خورۍ اطلاق اکثر په دې باندې کيږي چې يو کس د بل چا خبره هغه چاته اُورسوي چې د چا په باره کې دا خبره شوې وي، مثلا ته هغه کس ته دا ووايې چې

---

(١) شرح النووي على مسلم ج٢ ص ١١٢ كتاب الايمان باب بَيَانِ غِلَظِ تَحْرِيمِ النَّمِيمَةِ، و ج ٣ ص ٢٠١، و ج١٦ ص ١٥٩ باب تحريم النميمة، الاذكار للنووي ج١ ص ٥٣٦ باب تحريم الغيبة والنميمة، الزواجر ج٢ ص ٣٨ النميمة، آفات اللسان في ضوء الكتاب والسنّة ج١ ص ٣٠ الفصل الثاني النميمة، النهاية لابن الاثير ٥/ ١٢٠، نضرة النعيم ج١١ ص ٥٦٦٥ النميمة، الموسوعة الفقهية الكويتية ج٤١ ص ٣٧٢ نميمة.

(٢) وَقِيْلَ: إِفْشَاءُ السِّرِّ، وَهَتْكُ السِّتْرِ عَمَّا يُكْرَهُ كَشْفُهُ. الاذكار للنووي ج١ ص ٥٥٢ بابٌ في النميمة، وانظر النهاية لابن الأثير ٥/ ١٢٠.

وَقَالَ الْجَاحِظُ: اَلنَّمِيمَةُ: وَهُوَ أَنْ يَبْلُغَ إِنْسَانٌ عَنْ آخَرَ قَوْلًا مَكْرُوهًا. أُسْتُسِرَّ بِذٰلِكَ أَوْ لَمْ يُسْتَسَرَّ. وَالنَّوْعُ الْأَوَّلُ مِنْ قَبِيلِ إِفْشَاءِ السِّرِّ. تهذيب الأخلاق للجاحظ ص ٣١ بتصرف.

(٣) احياء علوم الدين ج ١ ص ١٥٦ كتاب آفات اللسان بيان حد النميمة وما يجب في ردها، شرح النووي على مسلم ج٢ ص ١١٢ كتاب الايمان باب بَيَانِ غِلَظِ تَحْرِيمِ النَّمِيمَةِ، الزواجر عن اقتراف الكبائر ج٢ ص ٣٨ النميمة، الكبائر للذهبي ج١ ص ١٦ الكبيرة الثالثة والاربعون النمام، آفات اللسان في ضوء الكتاب والسنّة ج١ ص ٣٠ الفصل الثاني النميمة، الموسوعة الفقهية ج٤١ ص ٣٧٢ نميمة.

فلانکي خوستا په باره کې دا دا خبره کړی، خو چغل خوري صرف د همدې پورې خاص نده بلکه ددې حَد (تعریف) دادی چې انسان د بل چا داسې خبره ښکاره کړي چې د هغې ښکاره کول بَدګڼرلې شي ، اوس برابره خبره ده چې ددې خبرې ښکاره کول هغه کس بَدګڼري چې د چا نه دا خبره رانقل کولې شي ، یا یې هغه کس بَده ګڼري چې چاته نقل کولې شي ، او یا یې یو دریم کس بده ګڼري.

او برابره خبره ده چې دا خبره ښکاره کول که په خُله سره وي ، یا په لیکلو سره وي او یا په اِشارې سره وي.

او برابره خبره ده چې دا کومه خبره نقل کولې شي که دا د اعمالو سره تعلق لري ، یا د اَقوالو سره تعلق لري.

او برابره خبره ده چې دا د چا نه رانقل کولې شي که دا په هغه کې عیب وي او که نه. بلکه حقیقت د چُغل خورۍ راز او هغه پټه خبره ښکاره کول دي د کومې ښکاره کول چې بَدګڼرلې شي.

بلکه امام غزالي رحمه الله خو تر دې پورې لیکلي چې که یو انسان د نورو خلقو داسې اَحوال اوګوري چې هغوی ددې ښکاره کول بَدګڼري نو دا به دغه اَحوال نورو ته نه بیانوي.

البته په څنې صورتونو کې ددې تذکره بل چاته صحیح ده چې کله په دې کې د یو مسلمان فائده وي ، او یا د یوې ګناه نه منع کول مقصود وي ، مثلا یو کس بل څوک اوګوري چې هغه د بل چا مال په ناجائزې طریقې سره خوري نو په ده باندې لازم دي چې هغه کس ته ددې خبر ورکړي ، ددې د پاره چې د هغه حق ضائع نشي.

خو که یو کس خپل مال په پټ ځای کې کیږدي او دا بل څوک اوګوري نو اوس ددې تذکره بل چاته کول هم چغل خوري او راز ښکاره کول دي. (١)

(١) بَلْ كان ما رآه الإنسان من أحوال الناس مما يكره فَيَنْبَغِي أَنْ يَسْكُتَ عَنْهُ إِلَّا مَا فِي حِكَايَتِهِ فَائِدَةٌ لِمُسْلِمٍ أَوْ دَفْعٌ لِمَعْصِيَةٍ كَمَا إِذَا رَأَى مَنْ يَتَنَاوَلُ مَالَ غَيْرِهِ فَعَلَيْهِ أن يشهد به مراعاة لحق المشهود له . فأما إذا رآه يخفي مالا لنفسه فذكره فهو نميمة وإفشاء للسر . فإن كان ما ينم به نقصا وعيبا في المحكي عنه كان قد جمع بين الغيبة والنميمة. احياء علوم الدين ج ١ ص ١٥٦ كتاب آفات اللسان بيان حد النميمة وما يجب في ردها .

# د چُغل خورۍ حُکم

چُغل خوري ګناه کبیره ده ، امام بخاري رَحِمَهُ الله په دې باندې مستقل باب لیکلی :

بَابٌ : اَلنَّمِيْمَةُ مِنَ الْكَبَائِرِ . (باب دی په بیان ددې کې چې چُغل خوري ګناه کبیره ده).

او ددې باب د لاندې يې هغه حديث راوړی په کوم کې چې چُغل خورۍ ته ګناهِ کبيره ويل شوی . (١)

امام ذهبي رَحِمَهُ الله هم فرمايلي چې چُغل خوري ګناه کبيره ده ، دا په اتفاق د مسلمانانو حرامه ده ، او ددې په حُرمت باندې د قرآن کريم او احاديثو نه ډير دلائل موجود دي . (٢)

همدارنګې علامه ابن حجر رَحِمَهُ الله هم په "الزواجر" کې چُغل خورۍ ته ګناهِ کبيره او د الله ﷻ په نزد عظيمه ګناه ويلی . (٣)

همدارنګې د نبي عليه السلام د زمانې نه تر دې وخته د ټولو مسلمانانو په دې باندې اتفاق دی چې چُغل خوري حرامه ده ، تر اُوسه هيچا ددې په جواز باندې قول ندی کړی .

فقهاء کرامو هم ليکلي چې که يو کس چُغل خوري کوي او مقصد يې په دې سره د خلقو په مينځ کې فساد پيدا کول نه وي خو بيا هم دا مطلقًا ګناهِ کبيره ده . (۴)

---

(١) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا ، قَالَ : خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ بَعْضِ حِيْطَانِ الْمَدِيْنَةِ ، فَسَمِعَ صَوْتَ إِنْسَانَيْنِ يُعَذَّبَانِ فِيْ قُبُوْرِهِمَا ، فَقَالَ : يُعَذَّبَانِ ، وَمَا يُعَذَّبَانِ فِيْ كَبِيْرٍ ، وَإِنَّهُ لَكَبِيْرٌ ، كَانَ أَحَدُهُمَا لَا يَسْتَتِرُ مِنَ الْبَوْلِ ، وَكَانَ الْآخَرُ يَمْشِيْ بِالنَّمِيْمَةِ . صحيح البخاري كِتَابُ الْأَدَبِ بَابٌ: اَلنَّمِيْمَةُ مِنَ الْكَبَائِرِ رقم الحديث ٦٠٥٥

(٢) وَأَمَّا أَحْكَامُهَا فَهِيَ حَرَامٌ بِإِجْمَاعِ الْمُسْلِمِيْنَ ، وَقَدْ تَظَاهَرَتْ عَلَى تَحْرِيْمِهَا الدَّلَائِلُ الشَّرْعِيَّةُ مِنَ الْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ . الكبائر للذهبي ص ١٦٠ اَلْكَبِيْرَةُ الثَّالِثَةُ وَالْأَرْبَعُوْنَ النمام .

(٣) عَدُّ النَّمِيْمَةِ مِنَ الْكَبَائِرِ هُوَ مَا اتَّفَقُوْا عَلَيْهِ ، وَبِهِ صَرَّحَ الْحَدِيْثُ الصَّحِيْحُ السَّابِقُ بِقَوْلِهِ : " بَلْ إِنَّهُ كَبِيْرٌ " كَمَا مَرَّ فِيْهِ . قَالَ الْحَافِظُ الْمُنْذِرِيُّ : أَجْمَعَتِ الْأُمَّةُ عَلَى تَحْرِيْمِ النَّمِيْمَةِ وَأَنَّهَا مِنْ أَعْظَمِ الذُّنُوْبِ عِنْدَ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ . الزواجر عن اقتراف الكبائر ج٢ ص ٣٧ اَلْكَبِيْرَةُ الثَّانِيَةُ وَالْخَمْسُوْنَ بَعْدَ الْمِائَتَيْنِ النَّمِيْمَةُ .

(۴) اَلنَّمِيْمَةُ كَبِيْرَةٌ مِنَ الْكَبَائِرِ وَمُحَرَّمَةٌ بِالْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ وَالْإِجْمَاعِ ...... وَأَمَّا الْإِجْمَاعُ : فَقَدْ أَجْمَعَ الْمُسْلِمُوْنَ مِنْ عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى يَوْمِنَا هٰذَا عَلَى أَنَّ النَّمِيْمَةَ مُحَرَّمَةٌ وَلَمْ يَقُلْ أَحَدٌ بِحِلِّهَا أَوْ جَوَازِهَا . وَعَدَّهَا الْفُقَهَاءُ مِنَ الْكَبَائِرِ مُطْلَقًا وَإِنْ لَمْ يُقْصَدِ الْإِفْسَادُ بَيْنَ النَّاسِ . الموسوعة الفقهية ج ۴١ ص ٣٧٣ نميمة .

# چُغل خور به (ابتداءً) جنت ته نه داخليږي

په قرآن کريم او احاديثو کې د چُغل خور د پاره ډيرې سزاګانې ذکر شوي .

١ . رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي : لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَتَّاتٌ . (١)

چُغل خور به جنت ته نه داخليږي .

يعنی په کامیابو اَوّلني کسانو کې به جنت ته نه داخليږي . (٢)

ځکه دا داسې خطرناکه ګناه او شيطاني عادت دی چې ددې سره انسان جنت ته نشي داخليدی ، البته که الله ﷻ په خپل فضل و کرم سره څوک معاف کړي ، يا چُغل خور په جهنم کې ددې سزا اُوخوري او پاک شي نو بيا جنت ته داخليدې شي . (٣)

٢ . د مسلم شريف حديث دی ، حضرت همّام بن حارث فرمايي چې يو کس وُ ، د خلقو خبرې به يې (د هغه وخت) اَمير ته وَروړلی ، پس مونږ په جُمات کې (د حضرت حذيفة ﷺ سره) ناست وو ، خلقو (د هغه کس متعلق) وويل :

هٰذَا مِمَّنْ يَنْقُلُ الْحَدِيْثَ إِلَى الْأَمِيْرِ .

دا سړی د هغه خلقو نه دی چې اَمير ته د خلقو خبرې وَروړي .

بيا دا سړی راغی او د مونږ سره کيناست ، حضرت حذيفة ﷺ اوفرمايل :

---

(١) صحيح البخاري كِتَابُ الْأَدَبِ بَابُ مَا يُكْرَهُ مِنَ النَّمِيْمَةِ رقم الحديث ٦٠٥٦ ، صحيح مسلم كِتَابُ الْإِيْمَانَ بَابُ بَيَانِ غِلَظِ تَحْرِيْمِ النَّمِيْمَةِ رقم الحديث ١٦٩(١٠٥) ، و رقم الحديث ١٧٠(١٠٥) ، سنن ابي داؤد رقم الحديث ٤٨٧١ بابٌ في القتات ، سنن الترمذي باب ماجاء في النمام رقم الحديث ٢٠٢٦ ، مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ٢٦٥٨٥ ، مسند احمد رقم الحديث ٢٣٢٤٧ ، صحيح ابن حبان باب النّميمة رقم الحديث ٥٧٦٥ ، مشكوة المصابيح بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيْبَةِ وَالشَّتْمِ اَلْفَصْلُ الأول رقم الحديث ٤٨٢٣(١٢) .

وفي رواية ، قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ نَمَّامٌ . صحيح مسلم كِتَابُ الْإِيْمَانَ بَابُ بَيَانِ غِلَظِ تَحْرِيْمِ النَّمِيْمَةِ رقم الحديث ١٦٨(١٠٥) ، مسند احمد رقم الحديث ٢٣٣٢٥ ، ، شعب الايمان رقم ١٠٥٩٠

(٢) (لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ) أَيْ: مَعَ الْفَائِزِيْنَ (قَتَّاتٌ) بِفَتْحِ الْقَافِ وَتَشْدِيْدِ التَّاءِ أَيْ: نَمَّامٌ . مرقاة المفاتيح ج ٧ ص ٣٠٢٩ بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيْبَةِ وَالشَّتْمِ اَلْفَصْلُ الأول في تشريح رقم الحديث ٤٨٢٣ .

(٣) معارف الحديث ج ٢ ص ١٦١ .

سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ : لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَتَّاتٌ .

ما د رسول الله ﷺ نه آوريدلي چې دا يې فرمايل : جنت ته به چُغل خور نه داخليږي . (١)

## آته ( ٨ ) قسمه خلق به ( اِبتداءً ) جنت ته نه داخليږي

حضرت عبدالله بن عُمر رضي الله عنهما د نبي عليه السلام داحديث رانقل کوي چې کله الله تعالى جنت پيدا کړو نو ورته وې فرمايل : تَكَلَّمِيْ . خبرې اوکړه .

نو جنت ووېل : سَعِدَ مَنْ دَخَلَنِيْ . څوک چې ماته داخل شو هغه نېک بخت دی .

الله ربّ العزت ورته اوفرمايل : وَعِزَّتِيْ وَجَلَالِيْ لَا يَسْكُنُ فِيْكِ ثَمَانِيَةُ نَفَرٍ مِّنَ النَّاسِ .

زما دې په خپل عزت او جلال باندې قسَم وي چې په تا کې به آته ( ٨ ) قِسمه خلق او نه اُوسيږي : ١ . هميشه شراب څکوونکی ٢ . هميشه زِنا کوونکی ٣ . چُغل خور ۴ . ديوث (يعنی څوک چې خپلې ښځې له پرَدي سړي راولي ، يا ښځه په زِنا ويني خو نه يې منع کوي) ٥ . ظلم کوونکی عسکر ٦ . مُخنّث (بَدکار هيجړا ) ٧ . صِله رَحمي کټ کوونکی ٨ . هغه کس چې دا ووايي : که چيرته زه دا کار اونکړم نو په ما باندې د الله ﷻ دا عهد (وعده) ده ، بيا دا کس دا پوره نکړي . (٢)

---

(١) عَنْ هَمَّامِ بْنِ الْحَارِثِ ، قَالَ : كَانَ رَجُلٌ يَنْقُلُ الْحَدِيْثَ إِلَى الْأَمِيْرِ ، فَكُنَّا جُلُوْسًا فِي الْمَسْجِدِ ، فَقَالَ الْقَوْمُ : هٰذَا مِمَّنْ يَنْقُلُ الْحَدِيْثَ إِلَى الْأَمِيْرِ . قَالَ : فَجَاءَ حَتّٰى جَلَسَ إِلَيْنَا ، فَقَالَ حُذَيْفَةُ رضي الله عنه : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ : لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَتَّاتٌ . صحيح مسلم كِتَابُ الْإِيمَانِ بَابُ بَيَانِ غِلَظِ تَحْرِيمِ النَّمِيمَةِ رقم الحديث ١٦٩(١٠٥) ، صحيح ابن حبان باب النميمة ذكر نفي دخول الجنة عن النمام من المسلمين رقم الحديث ٥٧٦٥ ، الصمت لابن ابي الدنيا رقم الحديث ٢٧١ .

(٢) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا ، عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، أَنَّهُ قَالَ : لَمَّا خَلَقَ اللهُ تَعَالٰى الْجَنَّةَ . قَالَ لَهَا : تَكَلَّمِيْ . قَالَتْ : سَعِدَ مَنْ دَخَلَنِيْ . فَقَالَ الْجَبَّارُ جَلَّ وَعَلَا : وَعِزَّتِيْ وَجَلَالِيْ لَا يَسْكُنُ فِيْكِ ثَمَانِيَةُ نَفَرٍ مِنَ النَّاسِ مُدْمِنُ خَمْرٍ وَلَا مُصِرٌّ عَلَى الزِّنٰى وَلَا نَمَّامٌ وَلَا دَيُّوْثٌ وَهُوَ الْقُرْطُبَانُ ، وَلَا الشُّرْطِيُّ ، وَلَا الْمُخَنَّثُ وَلَا قَاطِعُ الرَّحِمِ ، وَلَا الَّذِيْ يَقُوْلُ عَلَيَّ عَهْدُ اللهِ إِنْ لَمْ أَفْعَلْ كَذَا أَوْ كَذَا ، ثُمَّ لَمْ يَفِ بِهِ . تنبيه الغافلين ص ١٤١ باب النميمة ، احياء علوم الدين ج٣ ص ١٥٥ الآفة السادسة عشرة النميمة ، كنزالعمال رقم ٢٠٣١ .

# د چُغل خورئ په وجه په عذاب قبر کې مبتلاء کيدل

د چُغل خورئ په وجه انسان په عذابِ قبر کې مبتلاء کيږي :

۱ . د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی ، حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم د مديني منورې د يو باغ نه بهر تشريف راوړو ، نو د دوه ( مړو ) انسانانو آوازونه يې واوريدل چې دوی ته په خپلو قبرونو کې عذاب ورکولې شو ، نو نبي عليه السلام اوفرمايل :

يُعَذَّبَانِ، وَمَا يُعَذَّبَانِ فِي كَبِيرٍ، وَإِنَّهُ لَكَبِيرٌ. كَانَ أَحَدُهُمَا لَا يَسْتَتِرُ مِنَ الْبَوْلِ، وَكَانَ الْآخَرُ يَمْشِي بِالنَّمِيمَةِ .

دوی دواړو ته ( په قبر کې ) عذاب ورکولې شي ، او ( د دوی په ګمان باندې ) دوی ته ( داسې ) په کبيره ګناه باندې عذاب نشي ورکولی ( چې د ګني د هغې نه بچ کيدل سخت دي ) او يقيناً چې دا کبيره ګناه ده ، يو به د تشو متيازو نه ځان نه ساتل ، او دې بل به چُغل خوري کوله .

بيا نبي عليه السلام د قجورې يوه ځانګه راأوغوښته ، په مينځ يې دوه ټوټې کړه ، يوه حصه يې په يو قبر باندې کينښوده او بله حصه يې په بل قبر باندې کينښوده ، او وې فرمايل :

لَعَلَّهُ يُخَفَّفُ عَنْهُمَا مَا لَمْ يَيْبَسَا .

اُميد دی چې په دوی باندې به تر هغې پورې عذاب سپک وي تر څو پورې چې دا ځانګه نه وي اُوچه شوي . (۱)

---

(۱) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما، قَالَ: خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ بَعْضِ حِيطَانِ الْمَدِينَةِ، فَسَمِعَ صَوْتَ إِنْسَانَيْنِ يُعَذَّبَانِ فِي قُبُورِهِمَا، فَقَالَ: «يُعَذَّبَانِ، وَمَا يُعَذَّبَانِ فِي كَبِيرٍ، وَإِنَّهُ لَكَبِيرٌ. كَانَ أَحَدُهُمَا لَا يَسْتَتِرُ مِنَ الْبَوْلِ، وَكَانَ الْآخَرُ يَمْشِي بِالنَّمِيمَةِ» ثُمَّ دَعَا بِجَرِيدَةٍ فَكَسَرَهَا بِكِسْرَتَيْنِ أَوْ ثِنْتَيْنِ، فَجَعَلَ كِسْرَةً فِي قَبْرِ هَذَا، وَكِسْرَةً فِي قَبْرِ هَذَا، فَقَالَ: «لَعَلَّهُ يُخَفَّفُ عَنْهُمَا مَا لَمْ يَيْبَسَا». صحيح البخاري كِتَابُ الأَدَبِ بَابٌ: النَّمِيمَةُ مِنَ الكَبَائِرِ رقم الحديث ٦٠٥٥ ، ورقم الحديث ٢١٦، ورقم الحديث ٢١٨ كِتَابُ الوُضُوءِ بَابٌ: مِنَ الكَبَائِرِ أَنْ لاَ يَسْتَتِرَ مِنْ بَوْلِهِ ، ورقم الحديث ١٣٦١ كِتَابُ الجَنَائِزِ بَابُ الجَرِيدِ عَلَى القَبْرِ، ورقم الحديث ٦٠٥٢ بَابُ الغِيبَةِ . ←←←←←←

٢ . حضرت قتادة رضي الله عنه فرمايي چې مونږ ته دا خبره رارسيدلې چې د عذابِ قبر درې ګُڼه (حصې) دي : يو ثُلث د غيبت كولو په وجه دى ، يو ثلث د تشو متيازو نه ځان نه ساتلو په وجه دى ، او يو ثلث د چُغل خورۍ په وجه دى . (١)

٣ . حضرت كعب رضي الله عنه فرمايي :

إِتَّقُوا النَّمِيمَةَ فَإِنَّ صَاحِبَهَا لَا يَسْتَرِيحُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ .

تاسو د چُغل خورۍ نه ځان اوساتئ ، ځكه چُغل خور د عذابِ قبر نه په آمان كې نه وي . (٢)

٤ . عمرو بن دينا رحمه الله فرمايي چې په مدينه منوّره كې يو كس وُ ، د هغه يوه خور وه چې د مدينې منوّرې په يو طرف كې أوسيدله ، هغه بيماره شوه ، دا به د هغې پوښتنې ته ورتلو ، بيا هغه وفات شوه ، د هغې د تجهيز او جنازې نه پس يې په قبر كې دفن كړه ، (د

←←← صحيح مسلم رقم الحديث ١١١(٢٩٢) كِتَابُ الطَّهَارَةِ بَابُ الدَّلِيلِ عَلَى نَجَاسَةِ الْبَوْلِ وَوُجُوبِ الْاِسْتِبْرَاءِ مِنْهُ ، سنن ابي داؤد رقم الحديث ٢٠ باب الاستبراء من البول ، سنن الترمذي باب التشديد في البول رقم الحديث ٧٠ ، مشكوة المصابيح باب آداب الخلاء الفصل الاول رقم الحديث ٣٣٨(٥) .

( وَمَا يُعَذَّبَانِ فِي كَبِيرٍ ) : قَالَ بَعْضُهُمْ : مَعْنَاهُ إِنَّهُمَا لَا يُعَذَّبَانِ فِي أَمْرٍ يَشُقُّ وَيَكْبُرُ عَلَيْهِمَا الْإِحْتِرَازُ عَنْهُ ، وَإِلَّا لَكَانَا مَعْذُورَيْنِ كَسَلَسِ الْبَوْلِ وَالْإِسْتِحَاضَةِ . أَوْ فِيمَا يَسْتَعْظِمُهُ النَّاسُ وَلَا يُجْتَرَأُ عَلَيْهِ . فَإِنَّهُ لَمْ يَشُقَّ عَلَيْهِمَا الْإِسْتِتَارُ عِنْدَ الْبَوْلِ وَتَرْكُ النَّمِيمَةِ ، وَلَمْ يُرِدْ أَنَّ الْأَمْرَ فِيهِمَا هَيِّنٌ غَيْرُ كَبِيرٍ فِي الدِّينِ . قَالَ فِي النِّهَايَةِ : كَيْفَ لَا يَكُونُ كَبِيرًا وَهُمَا يُعَذَّبَانِ فِيهِ . مرقاة المفاتيح ج١ ص ٣٧٥ باب اداء الخلاء الفصل الاول في تشريح حديث ٣٣٨ .

قَالَ الْعُلَمَاءُ : مَعْنَى " وَمَا يُعَذَّبَانِ فِي كَبِيرٍ " أَيْ كَبِيرٍ فِي زَعْمِهِمَا وَقِيلَ : كَبِيرٌ تَرْكُهُ عَلَيْهِمَا . رياض الصالحين ج١ ص ٣٣٤ باب تحريم النميمة وهي نقل الكلام بين الناس على جهة الإفساد . الاذكار للنووي ج١ ص ٥٣٧ .

( وَمَا يُعَذَّبَانِ فِي كَبِيرٍ ) أَيْ لَيْسَ بِكَبِيرٍ تَرْكُهُ عَلَيْهِمَا أَوْ لَيْسَ بِكَبِيرٍ فِي زَعْمِهِمَا وَلِهٰذَا قَالَ فِي رِوَايَةٍ أُخْرَى : بَلْ إِنَّهُ كَبِيرٌ . الكبائر ج ١ ص ١٦٠ اَلْكَبِيرَةُ الثَّالِثَةُ وَالْأَرْبَعُونَ النمام

(١) قَالَ قَتَادَةُ رضي الله عنه : ذُكِرَ لَنَا أَنَّ عَذَابَ الْقَبْرِ ثَلَاثَةُ أَثْلَاثٍ : ثُلُثٌ مِنَ الْغِيبَةِ ، وَثُلُثٌ مِنَ الْبَوْلِ ، وَثُلُثٌ مِنَ النَّمِيمَةِ . الزواجر عن اقتراف الكبائر ج ٢ ص ١٨ اَلْكَبِيرَةُ الثَّامِنَةُ وَالتَّاسِعَةُ وَالْأَرْبَعُونَ بَعْدَ الْمِائَتَيْنِ الْغِيبَةُ وَالسُّكُوتُ عَنْهَا

(٢) الصمت وآداب اللسان لابن ابي الدنيا ج١ ص ١٦١ رقم ٢٧٣ بَابُ ذَمِّ النَّمِيمَةِ .

دَفن کولو په وخت دې کس نه په دې قبر کې د روپو کڅوړه اُوغورځېده خو دا وربانده پوهه نه شو) ، کله یې چې دا دَفن کړه او واپس ورنه کور ته راغی نو هغه د روپو کڅوړه ورته رایاده شوه کومه چې دده سره وه (دا پوهه شو چې هغه رانه په قبر کې غورځېدلې ده).

ده یو بل ملګرې هم د ځان سره د مدد د پاره روان کړو ، دواړه قبر ته راغلل ، قبر یې (څه اندازه) رااُوسپړل نو د روپو کڅوړه یې پیدا کړه.

بیا ده دې خپل ملګري ته وویل : تَنَحَّ حَتّٰى أَنْظُرَ عَلٰى أَيِّ حَالٍ أُخْتِيْ؟

ته لږ اَخوا لاړ شه تر دې چې زه اُوګورم چې زما خور په څه حال ده؟

(هغه ملګرې یې اخوا شو) ده د لحد یوه تَبِي (تخته) راپورته کړه نو ناڅاپه یې اُولید چې غونډ قبر د اُور نه ډک دی ، پس ده واپس وربانديې تخته کېښوده او قبر یې دوباره برابر کړو ، دا خپلې مور ته راغی او ورته وې ویل :

أَخْبِرِيْنِيْ عَمَّا كَانَتْ أُخْتِيْ عَلَيْهِ.

زما خور به چې کوم کار کولو د هغې په باره کې ماته خبر راکړه.

مور ورته وویل : د خور متعلق ولې پوښتنه کوې حالانکه هغه خو وفات شوې؟

ده ورته وویل : خامخا د هغې په باره کې خبر راکړه (چې هغې به څه کار کولو؟)

مور ورته وویل :

كَانَتْ أُخْتُكَ تُؤَخِّرُ الصَّلَاةَ وَلَا تُصَلِّيْ بِطَهَارَةٍ تَامَّةٍ ، وَتَأْتِيْ فِيْ أَبْوَابِ الْجِيْرَانِ إِذَا نَامُوْا فَتُلْقِمُ أُذُنَهَا أَبْوَابَهُمْ فَتُخْرِجُ حَدِيْثَهُمْ. يَعْنِيْ أَنَّهَا كَانَتْ تَسْمَعُ الْحَدِيْثَ لِكَيْ تَمْشِيْ بِالنَّمِيْمَةِ.

ستا خور به مونځ د خپل وخت نه روستو کول او په کامل پاکوالي کې به یې مونځ نه کول ، او چې خلق به اُوده شو نو دا به د ګاونډیانو دَروازو ته تلله ، د هغوی خبرو ته به یې په پټه غوږ نیولو ، بیا به یې د هغوی خبرې نورو ته رسولې (یعنی چُغل خوري به یې کوله). (١)

---

(١) وَرُوِيَ عَنْ عَمْرِو بْنِ دِيْنَارٍ رَحِمَهُ اللهُ : كَانَ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْمَدِيْنَةِ ، لَهُ أُخْتٌ فِيْ نَاحِيَةِ الْمَدِيْنَةِ. فَاشْتَكَتْ فَكَانَ يَأْتِيْهَا يَعُوْدُهَا ثُمَّ مَاتَتْ . فَجَهَّزَهَا وَحَمَلَهَا إِلٰى قَبْرِهَا. فَلَمَّا دُفِنَتْ وَرَجَعَ إِلٰى أَهْلِهِ ذَكَرَ أَنَّهُ نَسِيَ كِيْسًا كَانَ مَعَهُ. فَاسْتَعَانَ بِرَجُلٍ مِنْ أَصْحَابِهِ فَأَتَيَا الْقَبْرَ فَنَبَشَهَا فَوَجَدَ الْكِيْسَ. فَقَالَ لِلرَّجُلِ : تَنَحَّ حَتّٰى أَنْظُرَ عَلٰى أَيِّ حَالٍ أُخْتِيْ؟ فَرَفَعَ بَعْضَ مَا دُوْنَ مِنَ اللَّحْدِ فَإِذَا الْقَبْرُ مُشْتَعِلٌ نَارًا . فَرَدَّهُ فَسَوَّى الْقَبْرَ ←←←←←←

**فائده**: ددينه معلومه شوه چې چغل خوري د عذابِ قبر سبب دی، پس څوک چې دا غواړي چې د عذابِ قبر نه نجات اُومومي نو ده له په کار دي چې د چغل خورۍ او نورو ګناهونو نه ځان اُوساتي.

## چُغل خوري د وَلدِ زِنا صفت دی

الله تعالی نبي عليه السلام ته فرمايي چې ته د وليد بن مغيره کافر خبره مه منه، بيا الله ﷻ د وليد بن مغيره رذيل صفتونه هم ذکر کړي، په هغې کې دا هم دي:

﴿ هَمَّازٍ مَّشَّآءٍ بِنَمِيمٍ ۝ مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ مُعْتَدٍ أَثِيمٍ ۝ عُتُلٍّ بَعْدَ ذَٰلِكَ زَنِيمٍ ﴾.(١)

ترجمه: عيب لټوونکی دی، ګرځنده چُغل خور دی، د نېکۍ د کارونو نه منع کوونکی دی، د حَد نه تجاوز کوونکی ګناهګار دی، بَدخويه دی، ددې ټولو نه پس بَداَخلاقه (ولدِ زِنا) دی.

امام غزالي رَحِمَهُ اللهُ په "احياء العلوم" کې او فقيه ابوالليث سمرقندي رَحِمَهُ اللهُ په "تنبيه الغافلين" کې د عبدالله بن مبارک رَحِمَهُ اللهُ دا قول رانقل کړی چې زَنِيم ولدِ زنا ته وايي کوم چې د خلقو خبرې نه پټوي (يعنی د خلقو عيبونه ښکاره کوي). او ده دې طرفته اِشاره کړی چې څوک د خلقو خبرې نه پټوي او چُغل خوري کوي نو دا په دې باندې دلالت کوي چې دا سړی ولدِ زِنا دی، ځکه دا خبره د قرآن کريم ددې آيت ﴿ عُتُلٍّ بَعْدَ ذَٰلِكَ زَنِيمٍ ﴾ نه مستنبط کيږي، ځکه په وليد بن مغيره کافر کې د چُغل خورۍ سره سره دا نور صفتونه هم

←←←← فَرَجَعَ إِلَى أُمِّهِ. فَقَالَ أَخْبِرِينِي عَمَّا كَانَتْ أُخْتِي عَلَيْهِ. فَقَالَتْ: وَلِمَ تَسْأَلُ عَنْ أُخْتِكَ وَقَدْ هَلَكَتْ؟ قَالَ فَأَخْبِرِينِي. قَالَتْ: كَانَتْ أُخْتُكَ تُؤَخِّرُ الصَّلَاةَ وَلَا تُصَلِّي بِطَهَارَةٍ تَامَّةٍ، وَتَأْتِي فِي أَبْوَابِ الْجِيرَانِ إِذَا نَامُوا فَتُلْقِمُ أُذُنَهَا أَبْوَابَهُمْ فَتُخْرِجُ حَدِيثَهُمْ. يَعْنِي أَنَّهَا كَانَتْ تَسْمَعُ الْحَدِيثَ لِكَيْ تَمْشِيَ بِالنَّمِيمَةِ، وَهُوَ سَبَبُ عَذَابِ الْقَبْرِ. فَمَنْ أَرَادَ أَنْ يَنْجُوَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ فَعَلَيْهِ أَنْ يَتَحَرَّزَ عَنِ النَّمِيمَةِ، وَعَنْ سَائِرِ الذُّنُوبِ، لِيَنْجُوَ مِنْ عَذَابِهِ وَيَسْهُلَ عَلَيْهِ سُؤَالُ مُنْكَرٍ وَنَكِيرٍ. تنبيه الغافلين باحاديث سيد الانبياء والمرسلين للسمرقندي ص ٥١ بَابُ: عَذَابِ الْقَبْرِ وَشِدَّتِهِ

(١) القلم آية ١١ تا ١٣.

وو، او الله تعالی د هغه په باره کې فرمايلي چې هغه زَنِيم (ولدِ زنا) دی. (١)

يحیٰ بن اکثم رَحِمَهُ اللهُ فرمايي: أَكْثَرُ النَّاسِ وَلَدُ الزِّنَا. (٢)

په خلقو کې ډير چُغل خور ولدِ زنا وي.

## په خلقو کې بدترين خلق چُغل خواره دي

رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

خِيَارُ عِبَادِ اللهِ الَّذِيْنَ إِذَا رُءُوْا ذُكِرَ اللهُ، وَشِرَارُ عِبَادِ اللهِ الْمَشَّاءُوْنَ بِالنَّمِيْمَةِ، اَلْمُفَرِّقُوْنَ بَيْنَ الْأَحِبَّةِ... (٣)

د الله ﷻ په بندګانو کې بهترين خلق هغه دي چې کله دوی اُوليدې شي نو (انسان ته) الله تعالی را ياد شي، او د الله ﷻ په بندګانو کې بَدترين خلق هغه دي چې په چُغل خورۍ

(١) قَالَ اللهُ تَعَالٰى { هَمَّازٍ مَّشَّاءٍ بِنَمِيمٍ } ثُمَّ قَالَ { عُتُلٍّ بَعْدَ ذٰلِكَ زَنِيمٍ } قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ رَحِمَهُ اللهُ: اَلزَّنِيْمُ وَلَدُ الزِّنَا الَّذِيْ لَا يَكْتُمُ الْحَدِيْثَ. وَأَشَارَ بِهِ إِلٰى أَنَّ كُلَّ مَنْ لَمْ يَكْتُمِ الْحَدِيْثَ وَمَشٰى بِالنَّمِيْمَةِ دَلَّ عَلٰى أَنَّهُ وَلَدُ زِنَا اِسْتِنْبَاطًا مِنْ قَوْلِهِ عَزَّ وَجَلَّ { عُتُلٍّ بَعْدَ ذٰلِكَ زَنِيمٍ } وَالزَّنِيْمُ هُوَ الدَّعِيُّ. احياء علوم الدين ج ٣ ص ١٥٢ كتاب آفات اللسان اَلْآفَةُ السَّادِسَةَ عَشْرَةَ النَّمِيمَةُ.

وَرُوِيَ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الْمُبَارَكِ رَحِمَهُ اللهُ، أَنَّهُ قَالَ: وَلَدُ الزِّنٰى لَا يَكْتُمُ الْحَدِيْثَ. وَذُو الْحَسَبِ فِيْ قَوْمِهِ لَا يُؤْذِيْ جَارَهُ. يَعْنِي الَّذِيْ لَا يَكْتُمُ النَّاسَ وَيَمْشِيْ بِالنَّمِيمَةِ فَهُوَ وَلَدُ الزِّنٰى وَإِنَّهُ لَوْ لَمْ يَكُنْ وَلَدَ الزِّنٰى لَكَتَمَ الْحَدِيْثَ. وَهٰذَا مُسْتَخْرَجٌ مِنْ قَوْلِ اللهِ تَعَالٰى: ﴿ هَمَّازٍ مَّشَّاءٍ بِنَمِيمٍ ۝ مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ مُعْتَدٍ أَثِيمٍ ۝ عُتُلٍّ بَعْدَ ذٰلِكَ زَنِيمٍ ﴾. يَعْنِي الْوَلِيْدَ بْنَ الْمُغِيْرَةِ فَإِنَّهُ كَانَ طَعَّانًا. يَمْشِيْ بِالنَّمِيْمَةِ مَنَّاعٍ لِلْخَيْرِ. يَعْنِيْ يَمْنَعُ الْخَيْرَ مِنَ النَّاسِ. مُعْتَدٍ أَثِيْمٍ يَعْنِيْ عَاصٍ. عُتُلٍّ بَعْدَ ذٰلِكَ زَنِيْمٍ. يَعْنِيْ مَنْ فِيْهِ هٰذَا كُلُّهُ فَهُوَ دَعِيٌّ، وَالدَّعِيُّ هُوَ وَلَدُ الزِّنٰى. تنبيه الغافلين باحاديث سيد الأنبياء والمرسلين للسمرقندي ص ١٧٣ بَابُ النَّمِيمَةِ

(٢) مساوي الاخلاق للخرائطي ص ٩٦، نضرة النعيم في مكارم اخلاق الرسول الكريم - صلى الله عليه وسلم ج ١١ ص ٥٦٧١ النميمة.

(٣) مسند احمد رقم الحديث ١٧٩٩٨، مشكاة المصابيح بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيْبَةِ وَالشَّتْمِ اَلْفَصْلُ الثالث رقم الحديث ٤٨٧١(٦٠)، مجمع الزوائد ومنبع الفوائد باب ماجاء في الغيبة والنميمة رقم الحديث ١٣١٣٩، الزواجر عن اقتراف الكبائر ج٢ ص ٣٦ النميمة، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ٢٨٢٤(٤) الترهيب من النميمة.

کولو سره کړئي، او د دوستانو په مينځ کې جدائي راولي...

**تشريح:** په دې حديث کې د نېکانو او بدانو خلقو نخه بيان شوې چې نېکان خلق هغه دي چې د دوی په ليدلو سره انسان ته الله ﷻ رايادېږي، او بدان خلق هغه دي چې د فساد په خاطر باندې د مسلمانانو په مينځ کې چُغل خوري کوي، او د دوستانو په مينځ کې بې اتفاقي پيدا کوي.

## چُغل خور د جادوګر او شيطان نه هم ډېر نقصاني دی

۱. يحيٰی بن اکثم رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې چُغل خور د ساحِر نه هم ډېر بَد دی، ځکه چُغل خور په لږ ساعت کې دومره ډېر نقصان کولې شي څومره چې ساحر په يوه مياشت کې هم نشي کولی. او دا هم ويل شوي چې د چُغل خور عمل د شيطان د کار نه هم ډېر ضَررناک دی، ځکه د شيطان عمل صرف په خيال او وَسوسې اچولو سره وي او د چُغل خور عمل مخامخ او ښکاره وي. (۱)

۲. علامه ابن عبدالبر رَحِمَهُ اللهُ د يحيٰی بن کثير رَحِمَهُ اللهُ نه نقل کړي:

يُفْسِدُ النَّمَّامُ وَالْكَذَّابُ فِي سَاعَةٍ مَا لَا يُفْسِدُهُ السَّاحِرُ فِي سَنَةٍ. (۲)

چُغل خور او دروغجن په لږ ساعت کې دومره فساد پيدا کوي چې ساحِر يې په يو کال کې هم نشي پيدا کولی.

بلکه علماؤ خو تر دې پورې ليکلي چې چُغل خوري هم د سِحر يو قِسم دی، ځکه لکه څرنګې چې په سِحر سره د خلقو په مينځ کې بې اِتفاقي پيدا کېږي، د محبت کوونکو په مينځ کې جدائي راځي، او شرونه پيدا کېږي نو همدغه کارونه په چغل خورۍ سره هم پيدا

(۱) وَقَالَ يَحْيٰى بْنُ أَكْثَمَ رَحِمَهُ اللهُ: اَلنَّمَّامُ شَرٌّ مِنَ السَّاحِرِ، وَيَعْمَلُ النَّمَّامُ فِي سَاعَةٍ مَا لَا يَعْمَلُ السَّاحِرُ فِي شَهْرٍ. وَيُقَالُ: عَمَلُ النَّمَّامِ أَضَرُّ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ، لِأَنَّ عَمَلَ الشَّيْطَانِ بِالْخَيَالِ وَالْوَسْوَسَةِ، وَعَمَلَ النَّمَّامِ بِالْمُوَاجَهَةِ وَالْمُعَايَنَةِ. تنبيه الغافلين ص ۱۷۱ بَابُ النَّمِيمَةِ. حلية الأولياء وطبقات الأصفياء ج۳ ص ۷۰.

(۲) آفات اللسان في ضوء الكتاب والسنة ج۱ ص ۳۲، مرقاة المفاتيح ج۱ ص ۱۲۴ في تشريح حديث ۵۲.

کیږي . (١)

## د چُغل خورۍ په وجه دوه خاندانونه تباه کېدل

خلق چُغل خوري معمولي گناه گڼي خو دا دومره خطرناکه گناه ده چې ددې په وجه غټ غټ خاندانونه تباه شوي ، او د کلونو کلونو دُشمني او جنگونه ورته پيدا شوي .

په تنبيه الغافلين ، إحياء العلوم او نورو معتمدو کتابونو کې دا واقعه ذکر ده : حماد بن سلمة رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې يو سړي غلام خرڅول ، دې خرڅونکي اخيستونکي ته وويل :

لَيْسَ فِيهِ عَيْبٌ إِلَّا أَنَّهُ نَمَّامٌ .

په ده کې بل هيڅ عيب نشته صرف دا چُغل خور دی . (يعنی د دوه کسانو په مينځ کې د فساد په خاطر خبرې وړي راوړي ) .

اخيستونکي دا معمول عيب اوگڼل او ددې عيب باوجود يې واخيست . دا غلام دده سره يو څو ورځې ؤ ، بيا دې غلام د خپل مولی ښځې ته وويل :

ستا خاوند د تا سره محبت نه کوي ، اراده لري چې په تا باندې بل واده اوکړي ، آيا ستا دا خوښه ده چې هغه په تا باندې مهربانه شي ؟ ( او بل واده اونکړي ؟ )

ښځې ورته وويل : آو . ده ورته وويل : دا چاړه واخله او هغه چې کله اُوده شي نو د گيرې لاندې طرف (د مَرۍ سره نزدې ) يو څو ويښتان ورنه راکټ کړه ( ددې د پاره چې زه وړاندې سِحر اوکړم ، نو په تا باندې به مهربانه شي ) .

بيا دا غلام ددې ښځې خاوند ته راغی ، او ورته وې ويل : ستا دې ښځې د ځان د پاره بل يار نيولی دی او ستا د وژلو اِراده لري ، آيا ستا دا خوښه ده چې دا خبره تا ته يقيني معلومه شي ؟ ده ورته وويل : آو . غلام ورته وويل : ته ورته ځان په اُودو واچوه (يعنی صرف ځمله ، سترگې پټې کړه ، او اُوده کيږه مه ) .

پس د سړی ځملاست ، ځان يې اُوده غوندې کړو ، په دې وخت کې يې ښځه راغله ، تېره چاړه ورسره وه ، اِراده يې وه چې د گيرې د لاندې طرف يو څو ويښتان راغوڅ کړي .

---

(١) والنميمة من أنواع السحر لأنها تشارك السحر في التفريق بين الناس وتغيير قلوب المتحابين وتلقيح الشرور . آفات اللسان في ضوء الكتاب والسنة ج ١ ص ٣٢

خاوند يې دا ګمان اوکړو چې ګني په چاره مې حلالوي نو سمدستي راپاڅيد او په چاړه باندې همدا ښځه قتل کړه ، ( دا غلام د ښځې کورنۍ واله ته ورغی او ورته وې ويل چې سړي ستاسو ښځه قتل کړه ) د ښځې کورنۍ واله راغلل او دا سړی يې قتل کړو ، بيا د سړي خاندان واله راغلل او د دواړو خاندانونو په مينځ کې سخت جنګ شروع شو . ( نو د چُغل خورۍ په وجه په دوه خاندانونو کې سخت جنګ شروع شو او ډير مړي په کې اُوشو) . (١)

نن صبا په کورونو کې اکثره جګړې وي نو ددې يوه غټه وجه چُغل خوري هم ده ، چې د فساد په خاطر د يو خبره بل ته او دبل خبره ده ته رارسولې شي ، نو ددينه لوي جنګ جوړ شي ، لهذا چُغل خوري وړه ګناه ګڼل ندي په کار .

# په خلقو کې بَدترين کس دوه مَخيزی انسان دی

دوه مخيزې کس هم چغل خوروي ، د داسې کس د پاره هم سخت وعيدونه راغلي :

١. رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

إِنَّ مِنْ شَرِّ النَّاسِ ذَا الْوَجْهَيْنِ الَّذِيْ يَأْتِيْ هٰؤُلَاءِ بِوَجْهٍ، وَهٰؤُلَاءِ بِوَجْهٍ . (٢)

بيشکه په خلقو کې بَدترين کس دوه مَخيزی انسان دی کوم چې دې خلقو ته په يو مخ راځي ، او دې نورو خلقو ته په بل مخ راځي .

---

(١) وَرُوِيَ عَنْ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ رَحِمَهُ اللهُ . أَنَّهُ قَالَ : بَاعَ رَجُلٌ غُلَامًا . فَقَالَ لِلْمُشْتَرِيْ : لَيْسَ فِيْهِ عَيْبٌ إِلَّا أَنَّهُ نَمَّامٌ. فَاسْتَخَفَّهُ الْمُشْتَرِيْ فَاشْتَرَاهُ عَلَى ذٰلِكَ الْعَيْبِ. فَمَكَثَ الْغُلَامُ عِنْدَهُ أَيَّامًا ثُمَّ قَالَ لِزَوْجَةِ مَوْلَاهُ : إِنَّ زَوْجَكِ لَا يُحِبُّكِ وَهُوَ يُرِيْدُ أَنْ يَتَسَرّٰى عَلَيْكِ . أَفَتُرِيْدِيْنَ أَنْ يَعْطِفَ عَلَيْكِ ؟ قَالَتْ : نَعَمْ. قَالَ لَهَا : خُذِيْ الْمُوْسٰى وَاحْلِقِيْ شَعَرَاتٍ مِنْ بَاطِنِ لِحْيَتِهِ إِذَا نَامَ. ثُمَّ جَاءَ إِلَى الزَّوْجِ وَقَالَ : إِنَّ امْرَأَتَكَ تَخَادَنَتْ يَعْنِيْ اتَّخَذَتْ خَلِيْلًا وَهِيَ قَاتِلَتُكَ . أَتُرِيْدُ أَنْ يَتَبَيَّنَ لَكَ ذٰلِكَ ؟ قَالَ : نَعَمْ. قَالَ : فَتَنَاوَمْ لَهَا . فَتَنَاوَمَ الرَّجُلُ. فَجَاءَتِ امْرَأَتُهُ بِمُوْسٰى لِتَحْلِقَ الشَّعَرَاتِ. فَظَنَّ الزَّوْجُ أَنَّهَا تُرِيْدُ قَتْلَهُ. فَأَخَذَ مِنْهَا الْمُوْسٰى فَقَتَلَهَا فَجَاءَ أَوْلِيَاؤُهَا فَقَتَلُوْهُ. فَجَاءَ أَوْلِيَاءُ الرَّجُلِ وَوَقَعَ الْقِتَالُ بَيْنَ الْفَرِيْقَيْنِ. تنبيه الغافلين ص ١٧١ بَابُ النَّمِيْمَةِ . احياء علوم الدين ج٣ ص ١٥٨ الآفة السادسة عشرة النميمة ، الصمت لابن ابي الدنيا ج١ ص ١٥٩ رقم ٢٦٨ .

(٢) صحيح مسلم كتاب البِرِّ وَالصِّلَةِ وَالْآدَابِ بَابُ ذَمِّ ذِي الْوَجْهَيْنِ وَتَحْرِيْمِ فِعْلِهِ رقم الحديث ٩٨(٢٥٢٦) ، مسند احمد رقم الحديث ١٠٧٠٠ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ١٦٦٦٢ ، شعب الايمان رقم الحديث ۴٥٣٨ .

**تشریح**: امام نووي رَحِمَهُ اللهُ د دوه مخیزي انسان تعریف داسې کړی چې کله د دوه ډلو په مینځ کې دُشمني وي نو دا د فساد په خاطر یوې ډلې ته ورشي هغوی ته په خبرو کې دا ظاهره کړي چې زه ستاسو دوست یم او د هغه بلې ډلې مخالف یم ، بیا دې بلې ډلې ته راشي دوی ته هم دا ظاهره کړي چې زه ستاسو دوست یم او د هغوی مخالف یم. نو داسې کس دوه مخیزی دی.

البته که هرې ډلې ته د اِصلاح په خاطر باندې راځي نو دا بیا صحیح دی.(۱)

ملا علي قاري رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې دوه مخیزی انسان هغه دی چې یو کس ته مخامخ ځان داسې ښکاره کوي چې ګنې زه د تاسره محبت کوم او ستا خېرخواه یم خو بیا پشي شا د هغه پسې بدې رَدې خبرې کوي.

یا دوه مخیزی انسان هغه دی چې کله د دوه کسانو په مینځ کې دُشمني وي دا هر کس ته دا ظاهروي چې زه ستا دوست او مدد ګاریم او دده د وړاندې د هغه بل کس غیبت کوي، یا چې کله هغه بل کس ته لاړ شي نو هغه ته هم ځان داسې ظاهر کړي.(۲)

۴ . حضرت ابوهریرة رضي الله عنه فرمايي چې رسولُ الله صلی الله علیه وسلم د صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ نه پوښتنه اوکړه: هَلْ تَدْرُوْنَ مَنْ شِرَارُكُمْ ؟

آیا تاسو پوهیږئ چې په تاسو کې شریر (بَدترین) کس څوک دی؟

صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ورته اوفرمایل: الله او د هغه رسول ښه پوهیږي.

نبي علیه السلام ورته اوفرمایل:

أَوَّلُ شِرَارُكُمْ ذُو الْوَجْهَيْنِ الَّذِيْ يَأْتِيْ هٰؤُلَاءِ بِوَجْهٍ، وَهٰؤُلَاءِ بِوَجْهٍ.

---

(۱) وَالْمُرَادُ مَنْ يَأْتِيْ كُلَّ طَائِفَةٍ وَيُظْهِرُ أَنَّهُ مِنْهُمْ وَمُخَالِفٌ لِلْآخَرِيْنَ مُبْغِضٌ. فَإِنْ أَتَى كُلَّ طَائِفَةٍ بِالْإِصْلَاحِ وَنَحْوِهٖ فَمَحْمُوْدٌ. شرح النووي على مسلم (المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج) ج ۱٦ ص ۱۵٦ باب ذم ذي الوجهين وتحريم فعله

(۲) (مَنْ كَانَ ذَا وَجْهَيْنِ فِي الدُّنْيَا) قِيْلَ: اَلْمُرَادُ بِهٖ مَنْ يُرِيْ نَفْسَهُ عِنْدَ شَخْصٍ أَنَّهُ مِنْ جُمْلَةِ مُحِبِّيْهِ وَنَاصِحِيْهِ، وَهُوَ يُحَدِّثُ فِيْ غَيْبَتِهٖ بِمَسَاوِيْهِ. وَقِيْلَ: اَلْمَعْنٰى مَنْ كَانَ مَعَ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْ عَدُوَّيْنِ كَأَنَّهُ صَدِيْقُهُ، وَيَظُنُّ أَنَّهُ نَاصِرٌ لَهُ وَيَذُمُّ هٰذَا عِنْدَ ذٰلِكَ وَذٰلِكَ عِنْدَ هٰذَا. مرقاة المفاتيح ج ۷ ص ۳۰۴۴ في تشريح حديث ۴۸۳٦ .

اوَلنۍ بَدترين کس په تاسو کې دوه مَخيزى انسان دى کوم چې يوې ډلې ته په يو مخ راځي او بلې ډلې ته په بل مخ راځي .(۱)

## د دوه مخيزي انسان د پاره د قيامت په ورځ رسوائي

دوه مَخيزى کس به د قيامت په ورځ بَدترين انسان وي ، او دده د پاره به سخته سزا وي .

۱ . رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

تَجِدُ مِنْ شَرِّ النَّاسِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عِنْدَ اللهِ ذَا الْوَجْهَيْنِ . اَلَّذِيْ يَأْتِيْ هٰؤُلَاءِ بِوَجْهٍ . وَهٰؤُلَاءِ بِوَجْهٍ .(۲)

ته به د قيامت په ورځ د الله ﷻ په نزد په ټولو خلقو کې بَدترين کس هغه اُوموى چې هغه دوه مَخيزى وي چې يوې ډلې ته په يو مخ راځي ، او بلې ډلې ته په بل مخ راځي .
(يعنى د منافق او چُغل خور په شان چې هرې ډلې ته ورشي نو د فساد خوَرولو په خاطر د هغوى د مرضۍ موافق خبره کوي ، او د هر چا خبرې سره ځان برابروي ) .

۲ . نبي عليه السلام فرمايي :

مَنْ كَانَ ذَا وَجْهَيْنِ فِي الدُّنْيَا كَانَ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لِسَانَانِ مِنْ نَارٍ .
څوک چې په دُنيا کې ( د منافقانو په شان) دوه مَخيزى وي نو د قيامت په ورځ به دده

---

(۱) عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ . قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « هَلْ تَدْرُوْنَ مَنْ شِرَارُكُمْ » ؟ قَالُوْا : اَللهُ وَرَسُوْلُهُ أَعْلَمُ . قَالَ : « أَوَّلُ شِرَارِكُمْ ذُو الْوَجْهَيْنِ اَلَّذِيْ يَأْتِيْ هٰؤُلَاءِ بِوَجْهٍ وَهٰؤُلَاءِ بِوَجْهٍ » . تنبيه الغافلين ص ۱۷۰ بَابُ النَّمِيْمَةِ

(۲) صحيح البخاري كِتَابُ الأَدَبِ بَابُ مَا قِيْلَ فِيْ ذِي الْوَجْهَيْنِ رقم الحديث ۶۰۵۸ ، الادب المفرد رقم الحديث ۴۰۹ . مشكاة المصابيح بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيْبَةِ وَالشَّتْمِ اَلْفَصْلُ الأول رقم الحديث ۴۸۲۲(۱۱) ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۲۱۱۵۴ ، كنز العمال رقم الحديث ۲۸۷۸۱ .

وفي رواية : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : تَجِدُوْنَ شَرَّ النَّاسِ ذَا الْوَجْهَيْنِ الَّذِيْ يَأْتِيْ هٰؤُلَاءِ بِوَجْهٍ وَيَأْتِيْ هٰؤُلَاءِ بِوَجْهٍ . صحيح البخاري كِتَابُ الْمَنَاقِبِ بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى : (يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَى ... رقم الحديث ۳۴۹۳ ، صحيح مسلم بَابُ ذَمِّ ذِي الْوَجْهَيْنِ وَتَحْرِيْمِ فِعْلِهِ رقم الحديث ۱۰۰(۲۵۲۶) .

(په خُله کې) دوه ژبې د اور وي. (١)

## د چُغل خورۍ په وجه قحط سالي راځي

چُغل خوري داسې سپېره عمل او خطرناکه ګناه ده چې د دې په وجه قحط سالي راځي: حضرت کعب الاحبار ﷺ فرمايي چې په بني اسرائيلو باندې قحط سالي راغله، نو حضرت موسىٰ عليه السلام د خپل قوم سره درې (٣) پېرې اُووت او د باران دُعا يې اُوغوښته، خو باران او نه شو، حضرت موسى عليه السلام الله ﷻ ته عرض اوکړو:

إِلٰهِيْ! عِبَادُكَ قَدْ خَرَجُوْا ثَلَاثَ مَرَّاتٍ فَلَمْ يُسْتَجَبْ دُعَاؤُهُمْ.

اې الله! ستا بندګان درې (٣) پېرې (د باران غوښتلو د پاره) رااُووتل خو ليکن د دوی دُعا قبوله نه شوه.

الله تعالى ورته وَحي اوکړه چې زه ستاسو دُعا نه قبلوم:

لِأَنَّ فِيْكُمْ رَجُلًا نَمَّامًا قَدْ أَصَرَّ عَلَى النَّمِيْمَةِ.

ځکه په تاسو کې چُغل خور دی او د ډير وخت نه په دې ګناه کې اَخته دی.

حضرت موسىٰ عليه السلام اوفرمايل: (اې الله!) هغه څوک دی (مونږ ته يې اُوښايه) چې مونږ يې د خپل مينځ نه اُوباسو؟

الله تعالى ورته اوفرمايل:

يَا مُوْسٰى! أَنْهَاكُمْ عَنِ النَّمِيْمَةِ وَأَكُوْنُ نَمَّامًا. فَتُوْبُوْا بِأَجْمَعِكُمْ.

اې موسى! زه تاسو د چغل خورۍ نه منع کوم او (د هغه په خودلو سره) زه دې په خپله چُغل خور شم؟ (يعنې د کوم کار نه چې زه تاسو منع کوم هغه زه په خپله څنګه اوکړم؟)، پس تاسو ټول په اجتماعي طريقې سره توبه اُوباسئ (نو باران به دربانديې اوکړم).

(١) اسناده حسنٌ. سنن الدارمي وَمِنْ كِتَابِ الرِّقَاقِ بَابُ: مَا قِيلَ فِي ذِي الْوَجْهَيْنِ رقم الحديث ٢٨٠٦، مشكوة المصابيح بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيْبَةِ وَالشَّتْمِ اَلْفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ٤٨٤٦(٣٥)، الادب المفرد رقم الحديث ١٣١٠ باب إثم ذى الوجهين، صحيح ابن حبان رقم الحديث ٥٧٥٦، المعجم الاوسط رقم الحديث ٦٦٨٥، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ٢١١٥٧، شعب الايمان رقم الحديث ٤٥٣٠، شرح السنّة للبغوي رقم الحديث ٣٥٦٨.

پس دوی ټولو په اجتماعي طريقې سره توبه اُوويسته نو باران وربانديې اوشو . (١)

## نبي عليه السلام د بل چا خبرې راوړو نه صحابه کرام منع کړي وو

د ابوداؤد شريف او مشکوة شريف حديث دی ، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم (صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ته) اوفرمايل :

لَا يُبَلِّغُنِي أَحَدٌ مِنْ أَصْحَابِي عَنْ أَحَدٍ شَيْئًا، فَإِنِّي أُحِبُّ أَنْ أَخْرُجَ إِلَيْكُمْ وَأَنَا سَلِيمُ الصَّدْرِ.

زما په صحابه وُ کې دې هيڅوک ماته د بل چا په باره کې بده خبره نه رارسوي ځکه زه دا خوښوم چې کله د کور نه تاسو ته راأوځم چې زما سينه صفا وي . (په تاسو کې د هيچا نه زه ناراضه نه يم) . (٢)

## چې څوک درته د بل چا چُغل خوري راوړي نو د هغه سره شپږ (٦) کارونه په کار دي

کله چې يو کس تاته د بل چا متعلق دا خبره اوکړي چې فلانکي ستا په باره کې دا دا خبرې کړي (يعنی چغل خوري درته اوکړي) نو په تا باندې شپږ (٦) کارونه لازم دي :

**اول** : ته به دده تصديق نه کوی . ځکه چُغل خور په اتفاق سره فاسِق مَردودُ الشّهادة دی، الله تعالی فرمايي :

---

(١) وَرُوِيَ عَنْ كَعْبِ الْأَحْبَارِ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ . أَنَّهُ قَالَ : أَصَابَ بَنِي إِسْرَائِيلَ قَحْطٌ. فَخَرَجَ بِهِمْ مُوسٰى عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ يَسْتَسْقُوْنَ . فَلَمْ يُسْقَوْا. فَقَالَ مُوسٰى عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ: إِلٰهِيْ ! عِبَادُكَ قَدْ خَرَجُوْا ثَلَاثَ مَرَّاتٍ فَلَمْ يُسْتَجَبْ دُعَاؤُهُمْ. فَأَوْحَى اللهُ تَعَالَى بِأَنِّيْ لَا أَسْتَجِيْبُ لَكَ لِمَنْ مَعَكَ لِأَنَّ فِيْكُمْ رَجُلًا نَمَّامًا قَدْ أَصَرَّ عَلَى النَّمِيْمَةِ . فَقَالَ مُوسٰى عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ: مَنْ هُوَ حَتّٰى نُخْرِجَهُ مِنْ بَيْنِنَا ؟ فَقَالَ : يَا مُوسٰى! أَنْهَاكُمْ عَنِ النَّمِيْمَةِ وَأَكُوْنُ نَمَّامًا . فَتُوْبُوْا بِأَجْمَعِكُمْ . فَتَابُوْا بِأَجْمَعِهِمْ. فَسُقُوْا. تنبيه الغافلين ص ١٧٣ بَابُ النَّمِيْمَةِ ، احياء علوم الدين ج٣ ص ١٥٦ الآفة السادسة عشر النميمة .

(٢) سنن ابي داؤد كِتَابُ الْأَدَبِ بَابٌ فِي رَفْعِ الْحَدِيْثِ مِنَ الْمَجْلِسِ رقم الحديث ٤٨٦٠ ، مشكوة المصابيح بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيْبَةِ وَالشَّتْمِ الْفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ٤٨٥٢ (٣١) ، رياض الصالحين رقم الحديث ١٥٣٩ باب النهي عن نقل الحديث وكلام الناس الى ولاة الامور اذا لم تدع اليه حاجة كخوف مفسدة ونحوه ، تفسير ابن كثير ج٦ ص ٣٨٦ ، ص ٣٨٧ .

﴿ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا أَن تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَىٰ مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ ﴾.(١)

ترجمه : اې مؤمنانو ! چې کله تاسو ته یو فاسق څه خبر راوړي نو ښه تحقیق یې کوئ ، هسې نه چې په ناپوهۍ کې یو قوم ته نقصان اورسوی نو بیا به په خپلو کړو باندې پښېمانه شۍ.

نو ددې آیت نه معلومه شوه چې د فاسِق سړي د خبرې پوره تحقیق په کار دی ، او بې تحقیقه دده تصدیق ندې پکار.

**دویم** : دا کس د چُغل خورۍ نه منع کړه او نصیحت ورته اوکړه. ځکه اَمر بِالمَعروف او نَهي عَنِ المُنکر واجب دی ، الله تعالی فرمایي :

﴿ كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ ﴾. (٢)

ترجمه : ( اې مسلمانانو ! ) تاسو بهترین اُمت یَئ چې د خلقو د هدایت د پاره راویستلي شوي یَئ ، تاسو به خلقو ته د نېکو کارونو حکم کوئ او د بَدو کارونو نه به یې منع کوئ.

**دریم** : ته به د چُغل خور سره د الله ﷻ د پاره بُغض کوی. ځکه چغل خور ګناهګار دی او د ګناهګار سره ( د ګناه په وجه ) بُغض کول واجب دی.

همدارنګې د چغل خور سره الله ﷻ هم بُغض کوي ، او د چا سره چې الله ﷻ بُغض کوي د هغه سره بُغض کول واجب دي.

**څلورم** : چُغل خور چې تاته د کوم مسلمان په باره کې خبرې کړي دي ته به په هاغه مسلمان باندې بَدګماني نه کوی. ځکه ( بغیر د څه سبب نه ) په مسلمان باندې ګماني کول

---

(١) الحجرات آية ٦ .

(٢) آل عمران آية ١١٠ .

لقمان حکیم هم خپل ځوي ته نصیحت کړې ؤ : ﴿ وَأْمُرْ بِالْمَعْرُوفِ وَانْهَ عَنِ الْمُنكَرِ ﴾. سورة لقمان آية ١٧ .

ترجمه : او خلقو ته د نېکۍ حُکم کوه او د بدۍ نه یې منع کوه.

حرام دہ، اللہ تعالی فرمايي:

﴿ يَآيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اجْتَنِبُوْا كَثِيْرًا مِّنَ الظَّنِّ اِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ اِثْمٌ ﴾. (١)

ترجمه: اې مؤمنانو! تاسو د ډيرو بدو ګمانونو نه ځان اوساتئ، بيشکه بعضې بد ګمان ګناه دہ.

**پنځم**: چغل خور چې درته کومه خبره اوکړي د هغې تَجَسُّس (او تلاش) مه کوه. ځکه الله تعالی د تَجَسّس نه منع کړی.

الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَلَا تَجَسَّسُوْا ﴾. (٢)

ترجمه: او تاسو جاسوسي مه کوئ (يعنی د چا راز مه معلوموئ).

**شپږم**: چغل خور چې ته د کوم کار نه منع کوی هغه کار ته په خپله د ځان د پاره مه خوښوه. يعنی ددې چغل خور خبره بل چاته مه نقل کوه چې " ماته هغه داسې داسې ويلي وو" ځکه دا خو بيا ته په خپله چغل خور شوی. (٣)

---

(١) الحجرات آية ١١٢.

(٢) الحجرات آية ١١٢.

(٣) فقيه ابو الليث سمرقندي رَحِمَهُ اللهُ دا خبره داسې رانقل کړی: إِذَا أَتَاكَ إِنْسَانٌ فَأَخْبَرَكَ أَنَّ فُلَانًا قَدْ فَعَلَ بِكَ كَذَا وَكَذَا. وَقَالَ فِيكَ كَذَا وَكَذَا. فَإِنَّهُ يَجِبُ عَلَيْكَ سِتَّةُ أَشْيَاءَ: أَوَّلُهَا أَنْ لَا تُصَدِّقَهُ. لِأَنَّ النَّمَّامَ مَرْدُوْدُ الشَّهَادَةِ عِنْدَ أَهْلِ الْإِسْلَامِ. وَقَدْ قَالَ اللهُ تَعَالَى: ﴿ يَآيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اِنْ جَآءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَاٍ فَتَبَيَّنُوْا اَنْ تُصِيْبُوْا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوْا عَلٰى مَا فَعَلْتُمْ نٰدِمِيْنَ ﴾ الحجرات آية ٦]. يَعْنِي إِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِخَبَرٍ فَانْظُرُوْا فِي الْأَمْرِ وَلَا تَعْجَلُوْا لِكَيْ لَا تُصِيْبُوْا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ. وَالثَّانِيْ: أَنْ تَنْهَاهُ عَنْ ذٰلِكَ لِأَنَّ النَّهْيَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَاجِبٌ. وَقَدْ قَالَ اللهُ تَعَالَى: ﴿ كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ ﴾ آل عمران آية ١١٠]. وَالثَّالِثُ: أَنْ تُبْغِضَهُ فِي اللهِ تَعَالَى فَإِنَّهُ عَاصٍ وَبُغْضُ الْعَاصِيْ وَاجِبٌ. لِأَنَّ اللهَ تَعَالَى يُبْغِضُهُ. وَالرَّابِعُ: أَنْ لَا تَظُنَّ بِأَخِيْكَ الْغَائِبِ الظَّنَّ السُّوْءَ. فَإِنَّ إِسَاءَةَ الظَّنِّ بِالْمُسْلِمِ حَرَامٌ. وَقَدْ قَالَ اللهُ تَعَالَى: ﴿ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ ﴾ الحجرات آية ١١٢]. وَالْخَامِسُ: أَنْ لَا تَجَسَّسَ عَنْ أَمْرِهِ. فَإِنَّ اللهَ تَعَالَى نَهَى عَنِ التَّجَسُّسِ ←←←

## چُغل خور سره د حضرت علي رضي الله عنه معامله

حضرت علي رضي الله عنه ( چې کله اَميرُ المؤمنينؓ نو ده ) ته يو کس د بل چا چُغل خوري اوکړه ، ده ورته وويل :

اې فلانکيه ! تا چې څه وويل مونږ د تانه ددې په باره کې تپوس کوو ، پس که ته رښتيني يې نو د چغل خورۍ په وجه مونږ د تا سره بُغض ( نفرت ) کوو ، او که ته دروغجن يې نو مونږ به درته سزا درکړو ، او که ستا دا خوښه وي چې مونږ درته معافي اوکړو نو معاف به دې کړو .

هغه ورته وويل : اې اميرُ المؤمنين ! معافي راته اوکړه .(١)

## چُغل خور سره د عُمر بن عبدالعزيز رَحِمَهُ اللهُ معامله

عُمر بن عبد العزيز رَحِمَهُ الله ( چې کله اميرُ المؤمنينؓ نو ده ) ته يو کس راغی او د بل چا متعلق څه خبره يې ده ته اوکړه . عمر بن عبد العزيز رَحِمَهُ الله ورته وويل :

که ستا خوښه وي نو مونږ به ستا په خبره باندې نظر واچوو ، پس که ته دروغجن يې نو بيا

---

←←← وَهُوَ قَوْلُهُ تَعَالَى : ﴿ وَلَا تَجَسَّسُوْا ﴾ الحجرات آية ١١٢] . وَالسَّادِسُ : مَا لَا تَرْضٰى مِنْ هٰذَا النَّمَّامِ فَلَا تَفْعَلْهُ أَنْتَ . وَهُوَ أَنْ لَا تُخْبِرَ أَحَدًا بِمَا أَتَاكَ بِهِ هٰذَا النَّمَّامُ . تنبيه الغافلين باحاديث سيد الأنبياء والمرسلين ص ١٧٤ بَابُ النَّمِيمَةِ .

همداسې خبره امام غزالي رحمه الله ، امام نووي رحمه الله ، علامه ابن حجر رحمه الله ، امام ذهبي رحمه الله او نورو ډيرو علماؤ هم رانقل کړې . احياء علوم الدين ج٣ ص ١٥٦ الآفة السادسة عشرة النميمة ، شرح النووي على مسلم ج٢ ص ١١٣ بيان غلظ تحريم النميمة ، الزواجر عن اقتراف الكبائر ج٢ ص ٣٩ الكبيرة الثالثة والخمسون بعد المائتين النميمة ، الكبائر للذهبي ج١ ص ١٦١ الكبيرة الثالثة والاربعون النمام ، آفات اللسان في ضوء الكتاب والسنة ج١ ص ٣٣ الفصل الثاني النميمة ، الموسوعة الفقهية ج٤١ ص ٣٧٤ نميمة ، فيض القدير في شرح الجامع الصغير ١٣٣/٣ ، الأذكار للنووي ص ٥٣٩ .

(١) وَرُوِيَ عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَجُلًا سَعٰى إِلَيْهِ بِرَجُلٍ . فَقَالَ لَهُ : يَا هٰذَا ! نَحْنُ نَسْأَلُ عَمَّا قُلْتَ فَإِنْ كُنْتَ صَادِقًا مَقَتْنَاكَ وَإِنْ كُنْتَ كَاذِبًا عَاقَبْنَاكَ وَإِنْ شِئْتَ أَنْ نُقِيلَكَ أَقَلْنَاكَ . فَقَالَ : أَقِلْنِي يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِيْنَ . احياء علوم الدين ج٣ ص ١٥٧ الآفة السادسة عشرة النميمة ، نضرة النعيم ج١١ ص ٥٦٧٠ النميمة .

ددې آيت د لاندې راځي ، الله تعالى فرمايي :

﴿ إِن جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا ﴾.(١)

ترجمه : كله چې تاسو ته فاسق يو خبر راوړي نو ښه تحقيق يې كوئ .

په مذكوره آيت كې چغل خور ته فاسق ويل شوى .

او كه ته ريښتينې يې نو بيا ددې آيت د لاندې راځې :

﴿ هَمَّازٍ مَّشَّاءٍ بِنَمِيمٍ ﴾.(٢)

ترجمه : عيب لټوونكى دى ، ګرزنده چُغل خور دى .

او كه ستا خوښه وي نو مونږ به تا معاف كړو .

هغه كس وويل : اې امير المؤمنين ! ما معاف كړه زه به بيا چغل خوري اونكړم .(٣)

**فائده** : د عُمر بن عبدالعزيز رَحِمَهُ اللهُ مقصد دا وُ چې څوك د فساد په خاطر د بل چا خبره نقل كوي نو كه دا دروغجن وي نو داسې كس فاسق دى ، او كه ريښتينې وي نو چغل خور دى .

## د چغل خورۍ په وجه درې (٣) جِنايتونه

يو حكيم (هوښيار كس) ته خپل ملګرى د ملاقات د پاره راغى ، او ده ته يې د بل كس متعلق څه خبرې اوكړې ، نو حكيم ورته وويل :

---

(١) الحجرات آية ٦ .

(٢) القلم آية ١١ .

(٣) وَرُوِيَ عَنْ عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ رَحِمَهُ اللهُ أَنَّهُ دَخَلَ عَلَيْهِ رَجُلٌ، فَذَكَرَ عِنْدَهُ رَجُلًا . فَقَالَ لَهُ عُمَرُ رَحِمَهُ اللهُ: إِنْ شِئْتَ نَظَرْنَا فِي أَمْرِكَ . إِنْ كُنْتَ كَاذِبًا فَأَنْتَ مِنْ أَهْلِ هٰذِهِ الْآيَةِ : { إِن جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا } الحجرات آية ٦] . وَإِنْ كُنْتَ صَادِقًا فَأَنْتَ مِنْ أَهْلِ هٰذِهِ الْآيَةِ : { هَمَّازٍ مَّشَّاءٍ بِنَمِيمٍ } القلم آية ١١] . وَإِنْ شِئْتَ عَفَوْنَا عَنْكَ. فَقَالَ : اَلْعَفْوَ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ لَا أَعُودُ إِلَى مِثْلِهِ أَبَدًا. تنبيه الغافلين باحاديث سيد الأنبياء والمرسلين ص ١٧٣ بَابُ النَّمِيمَةِ . احياء علوم الدين ج٣ ص ١٥٦ الآفة السادسة عشرة النميمة ، الزواجر عن اقتراف الكبائر ج٢ ص ٣٩ الكبيرة الثانية والخمسون بعد المائتين النميمة ، الكبائر للذهبي ج١ ص ١٦١ الكبيرة الثالثة والاربعون النمام ، نضرة النعيم ج١١ ص ٥٦٧٠ النميمة ، الموسوعة الفقهية ج٤١ ص ٣٧٥ نميمة .

ته ډير وخت پس زما ملاقات له راغی خو دځان سره دې درې (٣) جنايتونه هم راوړل:
١. تا ماته يو مسلمان وررور مَبغوض اوګرځول (يعنی ستا د چغل خورۍ په وجه د هغه سره مې بُغض پيدا شو) ٢. زما فارغه زړه دې مشغول کړو ٣. خپل پاک ځان دې په دروغو تُهمتي کړو. (١)

## چغل خور چې تاته د بل چا خبرې راوړي نو دا به ستا خبرې هم بل ته وَروړي

چغل خور چې تاته د بل چا خبرې راوړي نو ته پوهه شه چې دا دده عادت دی دا به ستا خبرې هم بل ته وَر وړي.

حسن بصري رَحِمَهُ‌اللّٰهُ فرمايي: مَنْ نَمَّ إِلَيْكَ نَمَّ عَلَيْكَ.
څوک چې تاته د بل چا خبرې راوړي نو دا به ستا خبرې هم بل ته وړي. (٢)

---

(١) وَ ذُكِرَ أَنَّ حَكِيْمًا مِنَ الْحُكَمَاءِ زَارَهُ بَعْضُ أَصْدِقَائِهِ وَ ذَكَرَ عِنْدَهُ بَعْضَ إِخْوَانِهِ ، فَقَالَ لَهُ الْحَكِيْمُ : قَدْ أَبْطَأْتَ فِي الزِّيَارَةِ وَأَتَيْتَنِيْ بِثَلَاثِ جِنَايَاتٍ : بَغَّضْتَ إِلَيَّ أَخِيْ، وَشَغَلْتَ قَلْبِيَ الْفَارِغَ ، وَاتَّهَمْتَ نَفْسَكَ بِالْمَيْنِ . تنبيه الغافلين باحاديث سيد الأنبياء والمرسلين ص ١٧٢ بَابُ النَّمِيْمَةِ. احياء علوم الدين ج٣ ص ١٥٦ الآفة السادسة عشرة النميمة ، الزواجر عن اقتراف الكبائر ج٢ ص ٣٧ الكبيرة الثالثة والخمسون بعد المائتين النميمة ، الكبائر للذهبي ج١ ص ١٦٢ الكبيرة الثالثة والاربعون النمام ، مرقاة المفاتيح ج٧ ص ٣٠٢٤ بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيْبَةِ وَالشَّتْمِ اَلْفَصْلُ الأول ، شرح المشكوة للطيبي ج١٠ ص ٣١١٥ في تشريح حديث ٤٨٢٣ .

(٢) احياء علوم الدين ج٣ ص ١٥٦ الآفة السادسة عشرة النميمة ، نضرة النعيم ج١١ ص ٥٦٧٠ النميمة .

دا خبره په تنبيه الغافلين کې داسې ذکر ده : وَعَنِ الْحَسَنِ الْبَصْرِيِّ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى قَالَ : مَنْ نَقَلَ إِلَيْكَ حَدِيْثًا فَاعْلَمْ أَنَّهُ يَنْقُلُ إِلَى غَيْرِكَ حَدِيْثَكَ . تنبيه الغافلين باحاديث سيد الأنبياء والمرسلين ص ١٧٣ بَابُ النَّمِيْمَةِ.

په شعب الإيمان کې ذکر دي ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سَلَّامٍ، سَمِعْتُ الْخَلِيْلَ بْنَ أَحْمَدَ، يَقُوْلُ : مَنْ نَمَّ إِلَيْكَ نَمَّ عَلَيْكَ، وَمَنْ أَخْبَرَكَ بِخَبَرِ غَيْرِكَ أَخْبَرَ غَيْرَكَ بِخَبَرِكَ. شعب الايمان رقم ١٠٦٨١ .

وقال الشاعر: لَا تَقْبَلَنَّ نَمِيْمَةً بُلِّغْتَهَا ✿ وَتَحَفَّظَنَّ مِنَ الَّذِيْ أَنْبَاكَهَا.
إِنَّ الَّذِيْ أَهْدَى إِلَيْكَ نَمِيْمَةً ✿ سَيَنِمُّ عَنْكَ بِمِثْلِهَا قَدْ حَاكَهَا . موارد الظمآن للسلمان ٣/ ٣٨٦ . نضرة النعيم ج١١ ص ٥٦٧٠ النميمة .

**چغل خور د ډيرو ګناهونو مُرتکب دی :** د حسن بصري رَحِمَهُ اللهُ د قول نقل کولو نه پس امام غزالي رَحِمَهُ اللهُ ليکلي : په دې کې دې خبرې ته اشاره ده چې مناسب داده چې د چغل خور سره بُغض اوکړې شي او ده په خبره او صداقت باندې اعتماد اونکړې شي ، او بُغض په ورسره ځکه کولې شي چې چُغل خوري په دروغو ، غيبت ، دُهوکې ، خِيانت ، منافقت او د خلقو په مينځ کې په فساد اچولو باندې مشتمله ده .

په قرآن کريم او احاديثو کې د هغه کس په باره کې سخت وعيدونه راغلي چې هغه په زمکه کې فساد خوَري ، خلقو ته ضرر رَسوي او د خلقو په مينځ کې تعلقات ختموي ،

او په چغل خور کې دا ټول کارونه دي ، ځکه په چُغل خورۍ سره په زمکه کې فساد هم خوَرېږي ، مسلمانانو ته ضرر هم رسي ، او د خلقو تعلقات هم ختميږي . (١)

بلکه بعضې علماؤ ليکلي چې د چغل خورۍ بُنياد په دروغو ، حسد او منافقت باندې دی . (٢)

## چُغل خور هيڅ کله رېښتينی نه وي

اميرُ المؤمنين سليمان بن عبدالملک ناست وُ ، ورسره امام زهري رَحِمَهُ اللهُ هم ناست وُ ، په دې وخت کې يو کس راغی ، سليمان بن عبدالملک ورته ووېل :

ماته دا خبره رارسيدلې ده چې تا زما په باره کې دا دا خبرې کړي .

هغه کس ورته ووېل : ما نه دا کار کړی ، او نه مې ستا په باره کې دا خبرې کړي .

---

(١) وَهٰذَا إِشَارَةٌ إِلَى أَنَّ النَّمَّامَ يَنْبَغِيْ أَنْ يُبْغَضَ وَلَا يُوْثَقَ بِقَوْلِهِ وَلَا بِصَدَاقَتِهِ . وَكَيْفَ لَا يبغض وهو لا ينفك عن الكذب والغيبة والغدر والخيانة والغلّ والحسد والنفاق والإفساد بين النّاس والخديعة . وهو ممن يسعون فِيْ قَطْعِ مَا أَمَرَ اللهُ بِهِ أَنْ يُوْصَلَ وَيُفْسِدُوْنَ فِي الْأَرْضِ . وَقَالَ تَعَالَى { إِنَّمَا السَّبِيْلُ عَلَى الَّذِيْنَ يَظْلِمُوْنَ النَّاسَ وَيَبْغُوْنَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ . الشورى آية ٤٢ } وَالنَّمَّامُ مِنْهُمْ . وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنَّ مِنْ شَرِّ النَّاسِ مَنِ اتَّقَاهُ النَّاسُ لِشَرِّهِ . (موطا مالک ج٢ ص ٩٠٣ رقم الحديث ۴ بَابُ مَا جَاءَ فِيْ حُسْنِ الْخُلُقِ ) والنمام منهم . وقال عليه السلام : لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَاطِعٌ . (صحيح البخاري رقم الحديث ٥٩٨۴ بَابُ إِثْمِ الْقَاطِعِ ) . احياء علوم الدين ج٣ ص ١٥٦ الآفة السادسة عشرة النميمة .

(٢) وقال بعضهم : النميمةُ مبنيّة على الكذب والحسد والنفاق وهي أثافي الذل . احياء علوم الدين ج٣ ص ١٥٨ الآفة السادسة عشرة النميمة .

سليمان ورته وويل : إِنَّ الَّذِيْ أَخْبَرَنِيْ كَانَ صَادِقًا .
ماته چې چا دا خبر راکړی هغه سړی رښتينی وُ .
امام زهري رَحِمَهُ اللهُ سليمان ته وويل :
لَا يَكُوْنُ النَّمَّامُ صَدُوْقًا . چغل خور هيڅ کله رښتينې نه وي .
سليمان امام زهري رَحِمَهُ اللهُ ته وويل :
تا رښتيا وويل . بيا يې هغه کس ته وويل : اوس ته په سلامتيا سره لاړ شه ( هيڅ درته نه وايم ) . (١)

## چغل خوري که صحيح هم وي خو بيا هم قبيحه ده

مشهوره خبره ده : اَلنَّمِيْمَةُ قَبِيْحَةٌ وَإِنْ كَانَتْ صَحِيْحَةً .
چغل خوري قبيحه ده اګر چې دا صحيح وي . (٢)

## د چغل خورۍ نقصانات

د چغل خورۍ ډير نقصانات دي :
١ . چُغل خوري جهنم ته بوتلونکې عمل دی ٢ . ددې په وجه د محبت کوونکو خلقو په مينځ کې دُشمني پيدا کيږي ٣ . ددې په وجه مسلمانانو ته ضرر رَسي ، جګړې او نَفرتونه پيدا کيږي ٤ . په چغل خورۍ سره آخره خاتمه خرابيږي ، او د انسان ښائسته صورت مَسخ کيږي ٥ . چغل خوري د چغل خور په رذالت ، بُزدلۍ ، مکر او منافقت باندې دلالت

---

(١) وَذُكِرَ أَنَّ سُلَيْمَانَ بْنَ عَبْدِ الْمَلِكِ أَمِيْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ كَانَ جَالِسًا وَعِنْدَهُ الزُّهْرِيُّ رَحِمَهُ اللهُ . فَجَاءَ رَجُلٌ . فَقَالَ لَهُ سُلَيْمَانُ : بَلَغَنِيْ أَنَّكَ وَقَعْتَ فِيَّ وَقُلْتَ كَذَا وَكَذَا . فَقَالَ الرَّجُلُ : مَا فَعَلْتُ وَمَا قُلْتُ شَيْئًا فِيْكَ . فَقَالَ لَهُ سُلَيْمَانُ : إِنَّ الَّذِيْ أَخْبَرَنِيْ كَانَ صَادِقًا . فَقَالَ الزُّهْرِيُّ رَحِمَهُ اللهُ : لَا يَكُوْنُ النَّمَّامُ صَدُوْقًا . قَالَ سُلَيْمَانُ : صَدَقْتَ اِذْهَبْ بِسَلَامَةٍ . تنبيه الغافلين باحاديث سيد الأنبياء والمرسلين ص ١٧٢ بَابُ النَّمِيْمَةِ . احياء علوم الدين ج٣ ص ١٥٦ الآفة السادسة عشرة النميمة ، الزواجر عن اقتراف الكبائر ج٢ ص ٣٩ الكبيرة الثانية والخمسون بعد المأتين النميمة

(٢) الكبائر للذهبي ج١ ص ١٦١ الكبيرة الثالثة والاربعون النمام ، الأذكار للنووي ص ٣١٠ ، نضرة النعيم ج١١ ص ٥٦٧١ النميمة .

کوي ٦. په دې سره محبت او ورورولي ختميږي. (١)

## د چُغل خورۍ اسباب

د چُغل خورۍ د پاره يو څو اَسباب دي:

١. چغل خور چې د چا خبره رانقل کوي د هغه سره د بَدۍ اِراده لري.

٢. چاته چې دا خبره کوي د هغه سره د محبت اِظهار کوي (اګر چې په حقيقت کې دا محبت ندی ځکه څوک چې د چا سره يقيني محبت لري نو هغه ته داسې خبره نه ور رَسوي چې هغه پرې خفه کيږي، او چغل خور چې دې کس ته کومې خبرې کوي دا خو دې کس ته نور هم خفګان رسوي).

٣. چغل خور په دې خبرو سره صرف خپل غم لرې کوي، د فضول او باطل خبرو سره يې شوق وي نو ځکه چغل خوري کوي. (٢)

## د چُغل خورۍ علاج

د چُغل خورۍ علاج هم د غيبت په شان دی، ددې دوه قِسمه علاج دی: يو اِجمالي او بل تفصيلي.

---

(١) مِنْ مَضَارِ النَّمِيْمَةِ: (١) طَرِيْقٌ مُوَصِّلٌ إِلَى النَّارِ. (٢) تُذْكِيْ نَارَ الْعَدَاوَةِ بَيْنَ الْمُتَآلِفِيْنَ. (٣) تُؤْذِيْ وَتَضُرُّ، وَتُؤْلِمُ، وَتَجْلِبُ الْخِصَامَ وَالنُّفُوْرَ. (٤) تَدُلُّ عَلَى سُوْءِ الْخَاتِمَةِ، وَتَمْسَخُ حُسْنَ الصُّوْرَةِ. (٥) عُنْوَانُ الدَّنَاءَةِ وَالْجُبْنِ وَالضَّعْفِ وَالدَّسِّ وَالْكَيْدِ وَالْمَلَقِ وَالنِّفَاقِ. (٦) مُزِيْلَةٌ كُلَّ مَحَبَّةٍ، وَمُبْعِدَةٌ كُلَّ مَوَدَّةٍ وَتَآلُفٍ وَتَآخٍ. نضرة النعيم في مكارم اخلاق الرسول الكريم - صلى الله عليه وسلم ج١١ ص ٥٦٧١ النميمة.

(٢) په احياء العلوم کې ذکر دي، فَالْبَاعِثُ عَلَى النَّمِيْمَةِ إِمَّا إِرَادَةُ السُّوْءِ لِلْمَحْكِيِّ عَنْهُ أَوْ إِظْهَارُ الْحُبِّ لِلْمَحْكِيِّ لَهُ أَوِ التَّفَرُّجُ بِالْحَدِيْثِ وَالْخَوْضُ فِي الْفُضُوْلِ وَالْبَاطِلِ. احياء علوم الدين ج٣ ص ١٥٦ الآفة السادسة عشرة النميمة

په نضرة النعيم او الزواجر کې ذکر دي: اَلْبَاعِثُ عَلَى النَّمِيْمَةِ: يَبْعَثُ عَلَى النَّمِيْمَةِ أُمُوْرٌ مِنْهَا: ١. إِرَادَةُ السُّوْءِ بِالْمَحْكِيِّ عَنْهُ ٢. اَلْحُبُّ لِلْمَحْكِيِّ لَهُ (وَهٰذَا فِيْ ظَاهِرِ الْأَمْرِ وَإِلَّا فَإِنَّ مَنْ يُحِبُّ إِنْسَانًا عَلَى الْحَقِيْقَةِ فَإِنَّهُ لَا يُبَلِّغُهُ مَا يَسُوْءُهُ) ٣. اَلْفَرَحُ بِالْخَوْضِ فِي الْفُضُوْلِ. نضرة النعيم ج١١ ص ٥٦٦٦ النميمة، الزواجر عن اقتراف الكبائر ج٢ ص ٣٨ الكبيرة الثانية والخمسون بعد المائتين النميمة

**اجمالي علاج** : اِجمالي علاج يې دادی چې چُغل خور دې په دې پوهه شي چې دا په دې چغل خورۍ سره خپل ځان د الله ﷻ غضب او سزا ته وړاندې کوي ، او چغل خوري د انسان نيک اعمال ختموي .

چغل خور دې په خپلو عيبونو باندې سوچ اوکړي او ددينه د پاکيدلو کوشش دې اوکړي، او دا دې پوهه شي چې لکه څرنګې چې بل کس زما غيبت يا چغل خوري اوکړي نو زه پرې خفه کيږم نو دغه شان زما په غيبت او چغل خورۍ باندې هم بل مسلمان ته تکليف رَسي ، نو کوم څيز چې زه د خپل ځان د پاره نه خوښوم هغه د بل د پاره څنګه خوښ کړم ؟

**تفصيلي علاج** : تفصيلي علاج يې دادی چې د چغل خورۍ کوم اَسباب دي هغه دې مکمل پرېږدي ، ځکه چې کله سبب ختم شي نو دا ورسره په خپله ختميږي .

بل دا چې په بل مسلمان دې ( د چغل خوري په آوريدو سره ) بَدګماني نه کوي ، او د خپلو شرائطو موافق دې په اخلاص باندې توبه اُوباسي . (١)

## د چغل خورۍ نه د توبې طريقه

د چغل خورۍ نه د توبې طريقه داده چې په ژبه باندې دې استغفار اووايي ، په خپله ګناه دې پښيمانه شي ، او آئنده د پاره دې پوخ عزَم اوکړي چې بيا به چغل خوري نه کوم .

او د چا چغل خوري يې چې کړې وي ( او هغوی خبر شوي وي ) د هغوی نه دې معافي اوغواړي ، او د چا د وړاندې يې چې د بل چُغل خوري کړې وي د هغوی د وړاندې دې دا خبره اوکړي چې ما تاته د فلانکي متعلق دا دا خبره کړې وه هغه غلط او دروغ وه ، زه د هغې نه توبه اُوباسم .

او که هغه خلق وفات شوي وي چې د چا چُغل خوري يې چې کړې وي نو د هغوی د پاره

(١) عِلَاجُ النَّمِيمَةِ : تُعَالَجُ النَّمِيمَةُ بِمَا تُعَالَجُ بِهِ الغِيبَةُ . وَهُوَ إِمَّا إِجْمَالِيٌّ بِأَنْ يَعْلَمَ النَّمَّامُ أَنَّهُ قَدْ تَعَرَّضَ بِهَا لِسُخْطِ اللهِ تَعَالَى وَعُقُوبَتِهِ . وَأَنَّهَا تُحْبِطُ حَسَنَاتِهِ . وَبِأَنْ يَتَدَبَّرَ المَرْءُ فِي عُيُوبِهِ وَيَجْتَهِدَ فِي التَّطَهُّرِ مِنْهَا . وَأَنْ يَعْلَمَ أَنْ تَأَذِّي غَيْرِهِ بِالغِيبَةِ أَوْ بِالنَّمِيمَةِ كَتَأَذِّيهِ بِهَا فَكَيْفَ يَرْضَى لِغَيْرِهِ مَا يَتَأَذَّى بِهِ ؟
وَأَمَّا التَّفْصِيلِيُّ فَيَتَلَخَّصُ فِي النَّظَرِ فِي بَوَاعِثِهَا فَتَقْطَعُهَا مِنَ الأَصْلِ ، إِذْ عِلَاجُ العِلَّةِ إِنَّمَا يَكُونُ بِقَطْعِ سَبَبِهَا. وَأَلَّا يَعْتَقِدَ المَرْءُ فِي أَخِيهِ سُوءًا . وَأَنْ يُبَادِرَ إِلَى التَّوْبَةِ بِشُرُوطِهَا . نضرة النعيم ج١١ ص ٥٦٦٦ النميمة .

دې استغفار اوغواړي ، او د هغوی اولاد او رِشته دارو سره دې د خېرخواهۍ معامله اوکړي نو اُميد دی چې الله تعالی ده ته بخشش اوکړي.(١)

## د چغل خورۍ نه د بچ کېدو په وجه اوچته مرتبه

عَمرو بن ميمون رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې کله حضرت موسٰی عليه السلام په جَلتۍ سره خپل رَب ته ورغی نو د عرش لاندې يې يو کس اُوليد ، حضرت موسٰی عليه السلام د هغه په دې مرتبې باندې غِبطه اوکړه ، او وې فرمايل : دا سړی خپل رب ته ډېر معزز دی ، نو دوی د خپل رَب نه سوال اوکړو چې د دغه کس نوم راته اُوښايه.

الله تعالی ورته د دې کس نوم او نه خود ، خو ورته وې فرمايل :

( اې موسٰی ! ) زه به تا ته د دې کس د عمل په باره کې خبر درکړم ، چې په ده کې درې خصلتونه وو :

١. الله تعالی چې خلقو ته په خپل فضل سره کوم نِعمتونه ورکړي وو ده به د خلقو سره په دې باندې حسَد نه کولو.

٢. د خپل مور او پلار نافرماني به يې نه کوله.

٣. وَلَا يَمْشِيْ بِالنَّمِيْمَةِ. او چغل خوري به يې نه کوله.(٢)

## په ځنې صورتونو کې د چا خبره بل ته نقل کول جائز ده

امام نووي رَحِمَهُ اللهُ د مسلم شريف په شرح کې د چغل خورۍ متعلق څه تحقيق او سزاګاني ذکر کړي ، د هغې نه پس فرمايي :

---

(١) فتاوی محموديه ج٢٩ ص ٣٨٢ جهوٹ چغلی بهتان اور رياکا بيان.

(٢) عَنْ عَمْرِو بْنِ مَيْمُوْنٍ رَحِمَهُ اللهُ قَالَ : لَمَّا تَعَجَّلَ مُوْسٰى عَلَيْهِ السَّلَامُ إِلٰى رَبِّهٖ رَأَى تَحْتَ الْعَرْشِ رَجُلًا فَغَبَطَهُ بِمَكَانِهٖ . وَقَالَ : إِنَّ هٰذَا لَكَرِيْمٌ عَلٰى رَبِّهٖ . فَسَأَلَ رَبَّهُ أَنْ يُخْبِرَهُ بِاسْمِهٖ . فَلَمْ يُخْبِرْهُ . فَقَالَ : أُحَدِّثُكَ مِنْ أَمْرِهٖ بِثَلَاثٍ : كَانَ لَا يَحْسُدُ النَّاسَ عَلٰى مَا آتَاهُمُ اللهُ مِنْ فَضْلِهٖ . وَكَانَ لَا يَعُقُّ وَالِدَيْهِ . وَلَا يَمْشِيْ بِالنَّمِيْمَةِ . الصمت وآداب اللسان لابن ابي الدنيا ج١ ص ١٥٨ بَابُ ذَمِّ النَّمِيْمَةِ . نضرة النعيم في مكارم اخلاق الرسول الكريم - صلى الله عليه وسلم ج١١ ص ٥٦٧١ النميمة ، مساوىء الأخلاق للخرائطي ص ٩٢.

د چغل خورۍ متعلق چې دا څومره وَعيدونه ذکر شو نو دا هغه وخت دي کله په دې کې شرعي مَصلحَت نه وي .

البته که د بل چا خبره رانقل کولو ته ضرورت پيدا شو نو بيا دا منع نده ، مثلاً : يو کس بل ته يا د هغه کور واله ته يا د هغه مال ته د ضرر رَسولو اراده لري او ته وريا ندې خبر شوې نو تا ته دا جائز دي چې هغه کس ته دا خبر وَراورسوې ددې د پاره چې هغوی د خپل ځان حفاظت اوکړي او ددې ضرر نه بچ شي .

يا مثلاً يو کس ناجائز کارونه او فساد کوي او ته بادشاهِ وقت يا بل داسې د قدرت واله کس ته اِطلاع ورکړې " چې فلانکې کس دا دا کارونه کوي " نو اوس په دغه قدرت لرونکې کس باندې واجب دي چې اول ددې خبرې تحقيق اوکړي او بيا هغه کس د ناجائز کارونو نه منع کړي .

يا ددې په شان نور ځايونه دي . نو په دې صورتونو کې د يو چا خبره راوړل او بل ته يې کولو جائز ده ، بلکه بعضې صورتونو کې دا خبره رانقل کول واجب وي ، او په بعضې صورتونو کې مستحب وي ، موقعې ته به کتلې شي .(١)

همدا رنګې چې کله د مسلمانانو عادِل بادشاه پسې يا بل مشر کس پسې څوک داسې خبرې اوکړي چې د دوی د شان سره لائقې نه وي نو دوی ته ددې اِطلاع ورکول جائز ده ، ددې د پاره چې دا خلق ددې بدو خبرو نه منع کړي .

په بخاري شريف کې دا حديث ذکر دی چې نبي عليه السلام مالِ غنيمت تقسيم کړو ، نو يو منافق د نبي ﷺ پسې څه نامناسب خبرې اوکړې ، حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه دا

---

(١) ... وَكُلُّ هٰذَا الْمَذْكُورِ فِي النَّمِيمَةِ إِذَا لَمْ يَكُنْ فِيهَا مَصْلَحَةٌ شَرْعِيَّةٌ ، فَإِنْ دَعَتْ حَاجَةٌ إِلَيْهَا فَلَا مَنْعَ مِنْهَا . وَذٰلِكَ كَمَا إِذَا أَخْبَرَهُ بِأَنَّ إِنْسَانًا يُرِيدُ الْفَتْكَ بِهِ أَوْ بِأَهْلِهِ أَوْ بِمَالِهِ . أَوْ أَخْبَرَ الْإِمَامَ أَوْ مَنْ لَهُ وِلَايَةٌ بِأَنَّ إِنْسَانًا يَفْعَلُ كَذَا وَيَسْعٰى بِمَا فِيهِ مَفْسَدَةٌ . وَيَجِبُ عَلٰى صَاحِبِ الْوِلَايَةِ الْكَشْفُ عَنْ ذٰلِكَ وَإِزَالَتُهُ . فَكُلُّ هٰذَا وَمَا أَشْبَهَهُ لَيْسَ بِحَرَامٍ . وَقَدْ يَكُونُ بَعْضُهُ وَاجِبًا وَبَعْضُهُ مُسْتَحَبًّا عَلٰى حَسَبِ الْمَوَاطِنِ . وَاللّٰهُ أَعْلَمُ . شرح النووي على مسلم (المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج ) ج٢ ص ١١٣ كتاب الايمان باب بيان غلظ تحريم النميمة .

خبرې نبي عليه السلام ته وَر اورسولې ، نو نبي عليه السلام غصه شو ... (١)

علامه ابن حجر رحمه الله په " فتح الباري " کې ددې حديث په تشريح کې ليکلي چې عبدالله بن مسعود ﷺ نبي عليه السلام ته خبره رااورسوله او دوی منع نکړو ځکه د ابن مسعود ﷺ مقصد د نبي عليه السلام خېر خواهي وه ، ددې حديث نه معلوميږي چې په بعضې صورتونو کې غيبت او چغل خوري مباح ده ، دا اګر چې په ظاهره باندې غيبت او چغل خوري ښکاري خو په حقيقت کې اِصلاح وي . (٢)

همدارنګې کوم مسلمان چې د کافرانو ملک ته د اَحوالو معلومولو ( يعنی جاسوسی ) د پاره اُوليږلې شي نو ده ته هم جائز دي چې مسلمانانو ته د کافرانو احوال اُووايي . (٣)

---

(١) قَالَ عَبْدُ اللهِ : قَسَمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِسْمَةً كَبَعْضِ مَا كَانَ يَقْسِمُ . فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الأَنْصَارِ : وَاللهِ إِنَّهَا لَقِسْمَةٌ مَا أُرِيدَ بِهَا وَجْهُ اللهِ . قُلْتُ : أَمَّا أَنَا لأَقُولَنَّ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . فَأَتَيْتُهُ وَهُوَ فِي أَصْحَابِهِ فَسَارَرْتُهُ . فَشَقَّ ذٰلِكَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتَغَيَّرَ وَجْهُهُ وَغَضِبَ . حَتَّى وَدِدْتُ أَنِّي لَمْ أَكُنْ أَخْبَرْتُهُ . ثُمَّ قَالَ : « قَدْ أُوذِيَ مُوسٰى بِأَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ فَصَبَرَ » . صحيح البخاري كِتَابُ الأَدَبِ بَابُ الصَّبْرِ عَلَى الأَذٰى رقم الحديث ٦١٠٠ ، ورقم الحديث ٣١٥٠ ، ورقم الحديث ٣٤٠٥ ، ورقم الحديث ٤٣٣٥ ، ورقم الحديث ٤٣٣٦ ، ورقم الحديث ٦٠٥٩ ، ورقم ٦٢٩١ ، ورقم ٦٣٣٦ ، صحيح مسلم كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ إِعْطَاءِ الْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ عَلَى الإِسْلَامِ وَتَصَبُّرِ مَنْ قَوِيَ إِيمَانُهُ رقم الحديث ١٤٠ (١٠٦٢) .

(٢) وَفِي هٰذَا الْحَدِيثِ جَوَازُ إِخْبَارِ الإِمَامِ وَأَهْلِ الْفَضْلِ بِمَا يُقَالُ فِيهِمْ مِمَّا لَا يَلِيقُ بِهِمْ لِيَحْذَرُوا الْقَائِلَ . وَفِيهِ بَيَانُ مَا يُبَاحُ مِنَ الْغِيبَةِ وَالنَّمِيمَةِ لِأَنَّ صُورَتَهُمَا مَوْجُودَةٌ فِي صَنِيعِ ابْنِ مَسْعُودٍ ﷺ هٰذَا وَلَمْ يُنْكِرْهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . وَذٰلِكَ أَنَّ قَصْدَ ابْنِ مَسْعُودٍ ﷺ كَانَ نُصْحَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَإِعْلَامَهُ بِمَنْ يَطْعَنُ فِيهِ مِمَّنْ يُظْهِرُ الإِسْلَامَ وَيُبْطِنُ النِّفَاقَ لِيَحْذَرَ مِنْهُ . وَهٰذَا جَائِزٌ كَمَا يَجُوزُ التَّجَسُّسُ عَلَى الْكُفَّارِ لِيُؤْمَنَ مِنْ كَيْدِهِمْ . فتح الباري شرح صحيح البخاري لابن حجر العسقلاني رَحِمَهُ اللهُ ج ١٠ ص ٥١٢ قَوْلُهُ بَابُ الصَّبْرِ فِي الأَذٰى في تشريح حديث ٦١٠٠ .

(٣) امام بخاري رَحِمَهُ اللهُ يو باب لېږلی " بَابُ مَا يُكْرَهُ مِنَ النَّمِيمَةِ " علامه ابن حجر رَحِمَهُ اللهُ ددې په باره کې فرمايي : قَوْلُهُ : بَابُ مَا يُكْرَهُ مِنَ النَّمِيمَةِ . كَأَنَّهُ أَشَارَ بِهٰذِهِ التَّرْجَمَةِ إِلَى بَعْضِ الْقَوْلِ الْمَنْقُولِ عَلَى جِهَةِ الإِفْسَادِ يَجُوزُ إِذَا كَانَ الْمَقُولُ فِيهِ كَافِرًا مَثَلًا كَمَا يَجُوزُ التَّجَسُّسُ فِي بِلَادِ الْكُفَّارِ وَنَقْلُ مَا يَضُرُّهُمْ . فتح الباري شرح صحيح البخاري لابن حجر العسقلاني رَحِمَهُ اللهُ ج ١٠ ص ٤٧٢ بَابُ النَّمِيمَةُ مِنَ الْكَبَائِرِ

# د غونډ تقرير خلاصه :

د غونډ تقرير خلاصه دا راا‌ووته چې چُغل خوري ګناهِ کبيره ده ، په قرآن کريم او احاديثو مبارکهۇ کې ددې سختې سزاګانې ذکر شوي :

چغل خور به (ابتداءً) جنت ته نه داخليږي ، د چغل خورۍ په وجه انسان په عذابِ قبر کې مبتلاء کيږي ، چغل خوري د ولدِ زِنا صفت دی ، چغل خواره په دُنيا او آخرت دواړو بَدترين خلق دي ، دا دجادوګر او شيطان نه هم ډير نقصاني دي .

د چغل خورۍ په وجه غټ غټ خاندانونه تباه کيږي ، ددې په وجه قحط سالي راځي .

چغل خور که تاته د بل چا خبره راوړي نو دا به ضرور ستا خبره هم بل ته وړي ، دا د ډيرو ګناهونو مُرتکِب ګرځي ، او دا هيڅ کله ريښتينې نه وي .

د چغل خورۍ په وجه د انسان آخره خاتمه خرابيږي ، د جهنم مستحق ګرځي ، او بې اِتفاقي پيدا کيږي .

لهذا انسان ته په کار دي چې ددينه په اِخلاص باندې توبه اُوباسي ، ددې د اَسبابو نه ځان اُوساتي ، او شريعت چې په کومو خاصو صورتونو کې بل ته د خبرې نقل کولو اِجازت ورکړی د هغې نه علاوه نور د هر قِسمه چغل خورۍ نه پرهيز اوکړي ، نو الله تعالى به ورته اُوچته مرتبه ورکړي .

## دُعا

الله تعالى دې مونږ ټول د چغل خورۍ ، غيبت ، تکبّر ، حسد او نورو باطني بيماريو نه محفوظ اوساتي .

ربِّ ذُوالجلال دې په مونږ ټولو کې بهترين صفات پيدا کړي ، او د نبي عليه السلام په نقشِ قدم باندې دې مونږ ټو ر ته د تللو توفيق رانصيبه کړي .

آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن .

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ اِلَّا لَدَيْهِ رَقِيْبٌ عَتِيْدٌ ﴾. ق ۵۰ ۱۸

# د ژبې حفاظت او خاموشۍ فضیلت

تالیف

آبُو الشَّمس مولانا نُورُ الهُدٰی عُفِیَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فیضُ القُرآن اکاخیل کالونی مردان

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د ژبې حفاظت او خاموشۍ فضيلت

اَلحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِيْنُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ وَنُؤْمِنُ بِهِ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ ، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ اَعْمَالِنَا مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَه ، وَنَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ وَنَشْهَدُ اَنَّ سَيِّدَنَا وَنَبِيَّنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُه ،

اَمَّا بَعْدُ فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ :

﴿ مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ اِلَّا لَدَيْهِ رَقِيْبٌ عَتِيْدٌ ﴾ .(١)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَنْ يَضْمَنْ لِيْ مَا بَيْنَ لَحْيَيْهِ وَمَا بَيْنَ رِجْلَيْهِ أَضْمَنْ لَهُ الْجَنَّةَ . (٢)

وَقَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ : مَنْ صَمَتَ نَجَا . (٣)

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْمُ .

## ژبه هم لوي نعمت دی

زما خوږو قدرمنو او عزت مندو مسلمانانو ورونو ! الله تعالى چې په مونږ باندې کوم نعمتونه کړي دي په هغې کې يو لوي نعمت ژبه هم ده.

---

(١) ق آية ١٨ .

(٢) صحيح البخاري كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ رقم الحديث ٦٤٧٤ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ١٦٦٧١ ، شعب الايمان رقم الحديث ٤٥٦٩ ، شرح السنّة للبغوي رقم الحديث ٤١٢٢ . مشكوة المصابيح بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيْبَةِ وَالشَّتْمِ اَلْفَصْلُ الأول رقم الحديث ٤٨١٢(١) ، كنز العمال رقم الحديث ٧٨٧٣ .

(٣) سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ الْقِيَامَةِ وَالرَّقَائِقِ وَالْوَرَعِ رقم الحديث ١٥٠١ قال الالباني: صحيح . شعب الايمان رقم الحديث ٤٦٢٩ ، مشكوة المصابيح بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيْبَةِ وَالشَّتْمِ اَلْفَصْلُ الثاني رقم الحديث ٤٨٣٦(٢٥) ، مسند احمد رقم الحديث ٦٤٨١ ، و رقم الحديث ٦٦٥٤ ، سنن الدارمي رقم الحديث ٢٧٥٥ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ١١٣ ، و رقم الحديث ١١٤ ، شرح السنّة للبغوي رقم الحديث ٤١٢٩ .

اګر چې د انسان د وجود هر اَندام ډير لوي نِعمت دی، ليکن بعضې اَندامونه الله تعالی په خصوصي طريقې سره په طور د اِنعام ذکر کړي، چې که انسان ددې په حِکمت او کاريګرۍ باندې سوچ اوکړي نو د الله تعالی بې مِثاله حِکمتونه او قدرتونه به ورته په کې په نظر راشي.

الله ﷻ فرمايي: ﴿ اَلَمْ نَجْعَلْ لَّهٗ عَيْنَيْنِ ۙ﴿۸﴾ وَلِسَانًا وَّشَفَتَيْنِ ﴾. (١)

ترجمه: آيا مونږ انسان ته دوه سترګې، ژبه، او دوه شونډې ندي ورکړي؟

**په سترګو کې د الله ﷻ قدرتونه**: په دې آيت کې اول نِعمت سترګې ذکر شوی. که انسان د سترګو په جوړښت باندې سوچ اوکړي نو په دې کې د الله ﷻ قدرتونه کتلو سره مکمل حيرانيږي:

الله ﷻ دا د نازکو پَردو او نازکو رګونو نه جوړې کړي، بيا يې په کې قدرتي رَڼا اچولی، ددې د حفاظت د پاره يې د پاسه پرې داسې پَردې پيدا کړي چې د څه ضَرَري څيز راتلو په وخت په خپله بنديږي او کلاويږي، د پَردو د پاسه يې د بَڼرو ويښتان اُودرول چې ګرد او غُبار اِيسار کړي، بيا يې د پاسه پرې د ورِيزو ويښتان پيدا کړل چې د پورته نه خطرناک څيز دارِک لاندې سترګې ته رانشي، بيا يې په وجود کې په داسې سخت ځای کې فِټ کړي چې د پاسه پرې د سَر سخت هډوکې دی او لاندې د اَننګو سخت هډوکې دی، دا ددې د پاره چې سترګې د مخامخ ګوزار نه محفوظې شي. (٢)

**ژبه او شونډې**: په مذکوره آيت کې دويم نِعمت ژبه او دريم نِعمت شونډې ذکر شوی. ژبه هم الله ﷻ په ډير عجيب و غريب اَنداز باندې پيدا کړی، دا د زړه ترجمانه ده.

چې کله انسان د يوې خبرې کولو اِراده اوکړي نو اول په زړه کې ددې خيال راشي، دا خيال دِماغو ته لاړ شي، دِماغ ددې د پاره مناسب الفاظ تيار کړي، بيا د دِماغو د طرفه ژبې

---

(١) البلد آية ٨، ٩.

(٢) **نوټ**: د سترګو په جوړښت کې نور د الله ﷻ قدرتونه په تفصيل سره ددې (اِصْلاحِي مُدَلّل تَقْرِيْرُوْنه) کتاب په دريم جلد کې د صفحه ٣٢٢ نه تر صفحه ٣٢٤ پورې ذکر دي، که مقرّر سره وخت وي نو هغه دې هم اوګوري او په دې ځای کې دې بيان کړي. ابوالشمس علي عنه

ته حُکم اوشي ، نو د مَرۍ او ژبې ټول نظام په حرکت کې راشي او انسان په ډيرې آسانۍ سره د خپل زړه خبره بل ته اُورسوي . اُوريدونکې دا نه محسوسوي چې ګني د الفاظو په ژبه باندې د راوتلو نه مخکې په دې باندې دومره غټې مشينرۍ کار کړی .

په مذکوره آيت کې د ژبې سره د شونډو ذکر هم اوشو ځکه چې شونډې هم د الفاظو په جوړولو کې د ژبې سره پوره مدد کوي .(١)

د پيدائش نه نيولې تر مرګه پورې د ژبې دا نِعمت د مونږ سره وي ، مونږ ددې نعمت حاصلولو د پاره نه څه محنت کړی او نه مو څه روپۍ خرچ کړي بلکه مُفت راته راکړل شوی نو ځکه يې راته د قدر پته نه لږي . ددې نِعمت د قدر پوښتنه د هغه چا نه اوکړه چې د هغه سره دا نه وي ، يعنې چاړا سره ژبه وي خو د خبرو کولو طاقت يې نه وي ، د هغوی په زړونو کې جَذبات وي خو په ژبه يې اِظهار نشي کولی . او مونږ خپل اِظْهَارُ مَا فِي الضَّمِيْر په ډيرې آسانې طريقې سره کولې شو .

## د ژبې د صحيح اِستعمال حُکم

الله تعالی مونږ ته دا عظيم نِعمت راکړی خو ورسره يې ددې د صحيح استعمال حُکم هم کړی ، ځکه دا ژبه د مونږ سره د الله تعالی اَمانت ده ، زمونږ په خپل مِلکيت کې نده ، لهذا مونږ ته په کار دي چې د خبرو نه مخکې ضرور سوچ اوکړو چې زه دا کومه خبره کوم آيا دا د شريعت برابر ده او که نه ؟ آيا په دې کې د الله ﷻ رَضا شته او که نه ؟

ډير خلق ژبه د قينچې په شان چلوي ، په ژبه باندې دروغ وايي ، غِيبت کوي ، چُغل خوري کوي ، کنځل کوي ، او د الله ﷻ د ناراضتيا خبرې کوي نو دا په اصل کې ددې نِعمت بې قدري ده .

په ژبه باندې انسان داسې خبرې هم راويستې شي چې هغه د الله ﷻ د رَضا او جنت تللو ذريعه ګرځي ( مثلا يو کافر په اخلاص باندې کلِمه شهادت اووايي نو په دې سره دا مسلمانيږي او د جنت مستحق ګرځي ، يا مسلمان په ژبه باندې ذکر ، تلاوت وغيره کوي

---

(١) **نوټ** : د ژبې متعلق نور تفصيل ددې (اِصْلَاحِيْ مُدَلَّلْ تَقْرِيْرُوْنه) کتاب په دريم جلد کې په صفحه ٣٣٢ کې ذکر دی. ابوالشمس علي عنه

نو په دې سره دا د ثواب مستحق کرځي ) .

او په ژبه باندې انسان داسې خبرې هم راويستې شي چې هغه د الله تعالى د ناراضتيا او جهنم تِللو ذريعه کرځي . ( مثلا کُفري الفاظ د خُلې نه راأوباسي ، يا په ژبه باندې دروغ ، غِيبت ، او نورې د کناه خبرې کوي ) .

کويا ژبه د ټورې په شان ده چې انسان يې په دُشمن هم چلولې شي او خپل ځان ته هم پرې نقصان رسولې شي . ځکه خو الله تعالى دا د دوارو شوندو او غاښونو په مينځ کې محفوظه پيدا کړې چې انسان د خبرو نه مخکې سوچ اوکړي او دا بې ځايه استعمال نکړي .

## د ژبې نه چې هر لفظ راأوځي نو فرښتې هغه ليکي

انسان چې د ژبې نه هر لفظ راأوباسي که هغه ښه وي يا خراب نو دده سره چې کومې فرښتې مقرر دي هغوى دا ليکي .

الله تعالى فرمايي : ﴿ مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ ﴾ . (١)

ترجمه : د انسان د خُلې نه چې څه خبره راأووځي نو دده سره يوه ساتونکې فرښته تياره ( د ليکلو د پاره ) ناسته وي .

يعنى انسان چې کومه خبره د خُلې نه راأوباسي نو کومې دوه فرښتې چې هر وخت دده سره موجود وي هغوى دا هره خبره ليکي ( او انسان به د قيامت په ورځ د الله ﷻ د وړاندې ددې حساب ورکوي ) . (٢)

## په اِحتياط سره خبرې کول په کار دي

نن صبا که څه خلق په يو ځاى کې ناست وي نو ډيرې په اِحتياط باندې خبرې کوي ځکه د دوى سره دا يَره وي چې هسې نه دلته څوک جاسوس ناست وي او زمونږ خبرې ريکارډ کړي نو حکومت به مو اُونيسي نو ځکه په خبرو کې احتياط کوي .

---

(١) ق آية ١٨ .

(٢) ( رَقِيبٌ ) حافظ لما يقول أو يعمل. و ( عَتِيدٌ ) حاضر مهيأ . والمراد الملكان اللذان يلازمان الإنسان ويكتبان كل ما يصدر عنه من خير أو شر . تعليق مصطفى البغا على صحيح البخاري بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ

ليکن الله تعالى مونږ ته څه د پاسه څوارلس سوه کاله مخکې دا خبر راکړی چې ستاسو هره خبره ليکلې شي او د قيامت په ورځ به د دې هرې خبرې حساب ورکوئ ليکن مونږ بيا هم په خبرو کې اِحتياط نه کوو بلکه په زړه کې مو چې څه راځي هغه په خُله باندې بغير د سوچ نه راأوباسو.

ډيره د افسوس خبره ده چې مونږ خپل قيمتي وخت په فضول او د ګناه په خبرو کې ضائع کوو بيا راسره دا اِحساس هم نه وي چې مونږ د ګناه کار اوکړو او خپل وخت مو ضائع کړو. لهذا په ژبه کې احتياط په کار دی، دغه وجه ده چې په احاديثو مبارکه وُ کې د ژبې د حفاظت او د خاموشۍ ډير فضيلت بيان شوی.

## د ژبې په حفاظت سره د جنت ضمانت

۱. د بخاري شريف حديث دی، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

مَنْ يَضْمَنْ لِي مَا بَيْنَ لَحْيَيْهِ وَمَا بَيْنَ رِجْلَيْهِ أَضْمَنْ لَهُ الْجَنَّةَ. (۱)

څوک چې ماته ضمانت راکړي (چې دا به حفاظت کوي) د هغه څيز چې د دواړو ژامبو په مينځ کې دی (يعنی د ژبې او خُلې)، او د هغه څيز چې د دواړو خپو په مينځ کې دی (يعنی د شرمګاه) نو زه به ده ته د جنت ضمانت ورکړم.

**تشريح**: د حديث مطلب دا دی چې څوک ماته داسې ضمانت راکړي چې دا به د خپلې ژبې او خپلې خُلې حفاظت کوي (يعنی ژبه به د فحش خبرو، دروغ، غِيبت، چُغل خورۍ او نورو قبيحو خبرو نه ساتي، او خُله به د حرام خوراک نه ساتي)، همدارنګې چې څوک د شرمګاه د حفاظت ضمانت راکړي چې دا به غلط نه استعمالوي نو نبي عليه السلام فرمايي چې زه به ده ته د جنت ضمانت ورکړم.

او دا يقيني خبره ده چې داسې انسان به ضرور جنت ته داخليږي ځکه د نبي عليه السلام

(۱) صحيح البخاري كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ رقم الحديث ٦٤٧٤، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ١٦٦٧١، شعب الايمان رقم الحديث ٤٥٦٩، شرح السنّة للبغوي رقم الحديث ٤١٢٢، مشكوة المصابيح بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيبَةِ وَالشَّتْمِ اَلْفَصْلُ الأول رقم الحديث ٤٨١٢(١)، كنز العمال رقم الحديث ٧٨٧٣.

ضمانت د الله ﷻ ضمانت دی. (١)

٢. نبي عليه السلام ته يو أعرابي راغی او ورته وې ويل:

يَا رَسُوْلَ اللهِ! عَلِّمْنِيْ عَمَلًا يُدْخِلُنِي الْجَنَّةَ.

اې د الله رسوله! ما ته داسې عمل أوښايه چې هغه ما جنت ته داخل کړي.

نبي عليه السلام ورته څه کارونه د کولو د پاره أوخودل.

((( غلام آزاد کړه، چا ته د شودو د پاره چيلۍ ورکړه، کومو رِشته دارو چې د تا سره په تعلق ختمولو ظلم کړې وي د هغوی سره اِحسان کوه، که دا کارونه نشې کولی نو أوږي ته روټۍ ورکړه، تږي ته أوبه ورکړه، د ښه کارونو حُکم کوه او د بدو کارونو نه منع کوه )))

په آخر کې نبي ﷺ ورته اوفرمايل:

فَإِنْ لَمْ تُطِقْ ذٰلِكَ، فَكُفَّ لِسَانَكَ إِلَّا مِنْ خَيْرٍ. (٢)

---

(١) (مَنْ يَضْمَنْ): بِالْجَزْمِ عَلٰى أَنَّ مَنْ شَرْطِيَّةٌ (لِيْ مَا بَيْنَ لَحْيَيْهِ): بِفَتْحِ اللَّامِ مَنْبَتُ الْأَسْنَانِ. أَيْ: مَنْ يَكْفُلُ لِيْ مُحَافَظَةَ مَا بَيْنَهُمَا مِنَ اللِّسَانِ وَالْفَمِ عَنْ تَقْبِيْحِ الْكَلَامِ وَأَكْلِ الْحَرَامِ (وَمَا بَيْنَ رِجْلَيْهِ) أَيْ: مِنَ الْفَرْجِ عَنِ الزِّنَا وَنَحْوِهِ (أَضْمَنْ لَهُ الْجَنَّةَ) أَيْ: دُخُوْلَهَا أَوْ دَرَجَاتِهَا الْعَالِيَةَ. قَالَ الطِّيْبِيُّ: وَعَنْ بَعْضِهِمْ مَنْ يَضْمَنْ لِيْ لِسَانَهُ أَيْ: شَرَّ لِسَانِهِ وَبَوَادِرَهُ وَحِفْظَهُ عَنِ التَّكَلُّمِ بِمَا لَا يَعْنِيْهِ وَيَضُرُّهُ مِمَّا يُوْجِبُ الْكُفْرَ وَالْفُسُوْقَ، وَفَرْجَهُ بِأَنْ يَصُوْنَهُ أَضْمَنْ لَهُ دُخُوْلَ الْجَنَّةِ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ٣٠٢٥/٧ حِفْظُ اللِّسَانِ وَالْغِيْبَةِ وَالشَّتْمِ الفصل الأول في تشريح رقم الحديث ٤٨١٢(١).

(٢) پوره حديث داسې دی: عَنِ الْبَرَاءِ رضي الله عنه، قَالَ: جَاءَ أَعْرَابِيٌّ إِلٰى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقَالَ: يَا رَسُوْلَ اللهِ عَلِّمْنِيْ عَمَلًا يُدْخِلُنِي الجنة. قَالَ: " لَئِنْ كُنْتَ أَقْصَرْتَ الْخُطْبَةَ، لَقَدْ أَعْرَضْتَ الْمَسْأَلَةَ. أَعْتِقِ النَّسَمَةَ. وَفُكَّ الرَّقَبَةَ " قَالَ: أَوَلَيْسَا وَاحِدًا؟ قَالَ: لَا عِتْقُ النَّسَمَةِ: أَنْ يَنْفَرِدَ بِعِتْقِهَا. وَفَكُّ الرَّقَبَةِ أَنْ يُعِيْنَ فِيْ ثَمَنِهَا. وَالْمِنْحَةُ الْوَكُوْفُ ـ أَظُنُّهُ قَالَ: وَالْفَيْءُ عَلٰى ذِي الرَّحِمِ الظَّالِمِ ـ فَإِنْ لَمْ تُطِقْ ذٰلِكَ، فَأَطْعِمِ الْجَائِعَ، وَاسْقِ الظَّمْآنَ، وَأْمُرْ بِالْمَعْرُوْفِ، وَانْهَ عَنِ الْمُنْكَرِ، فَإِنْ لَمْ تُطِقْ ذٰلِكَ، فَكُفَّ لِسَانَكَ إِلَّا مِنْ خَيْرٍ. شعب الايمان رقم ٤٠٢٦، مشكوة المصابيح كتاب العتق الفصل الثاني رقم الحديث ٣٣٨٤(٣)، الادب المفرد للبخاري باب فضل من يصل ذا الرحم الظالم رقم الحديث ٦٩، صحيح ابن حبان مخرجا رقم الحديث ٣٧٤، المستدرك على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ٢٨٦١ وقال الحاكم: هذا حديث صحيح الاسناد ولم يخرجاه، و وافقه الذهبي، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ٢١٣١٣، مجمع الزوائد باب العتق والاعانة فيه رقم الحديث ٧٢٤٢.

که ته ددې مذکوره کارونو طاقت نه لرې نو بيا خپله ژبه د خېر خبرو نه علاوه د هر قسمه نورو خبرو نه بنده کړه ( نو په دې سره به جنت ته داخل شې ) .

## بې فائدې خبرو پرېخودو سره د جنت مستحق کېدل

محمد بن کعب رحمه الله فرمايي چې ( يوه ورځ ) رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ( صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ته ) اوفرمايل :

إِنَّ أَوَّلَ مَنْ يَدْخُلُ هٰذَا الْبَابَ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ .

يقينًا په دې دروازه به د ټولو نه مخکې يو جنتي سړی راداخلېږي .

په دې کې حضرت عبدالله بن سلام رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راداخل شو .

د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څه صحابه کرام ده ته ورپاڅېدل او ده ته يې د نبي عليه السلام د خبرې خبر ورکړو ( چې څوک په دې دروازه اول راداخل شي هغه به جنتي وي ) . صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ده ته وويل :

ته مونږ ته د خپل هغه معتمد ( او غوره ) عمل په باره کې خبر راکړه د کوم په باره کې چې ستا اُميد وي ( چې ددې په وجه به الله تعالیٰ جنت راکوي ) .

عبدالله بن سلام رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورته اوفرمايل :

إِنِّي لَضَعِيفٌ، وَإِنَّ أَوْثَقَ مَا أَرْجُوْ بِهٖ لَسَلَامَةُ الصَّدْرِ وَتَرْكُ مَا لَا يَعْنِيْنِيْ .

زه ډېر کمزورې يم خو زما په نزد د ټولو نه غوره عمل چې د کوم په وجه زه د الله تعالیٰ نه اُميد ساتم هغه دادی چې زما په سِينه کې د چا سره بُغض او حسَد نشته ، او بې فائدې خبرې پرېږدم . (١)

---

(١) عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ كَعْبٍ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « إِنَّ أَوَّلَ مَنْ يَدْخُلُ هٰذَا الْبَابَ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ » فَدَخَلَ عَبْدُ اللهِ بْنُ سَلَامٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ . فَقَامَ إِلَيْهِ نَاسٌ مِنْ أَصْحَابِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . فَأَخْبَرُوْهُ بِقَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالُوْا : فَأَخْبِرْنَا بِأَوْثَقِ عَمَلِكَ فِيْ نَفْسِكَ تَرْجُوْ بِهٖ . قَالَ : إِنِّي لَضَعِيفٌ، وَإِنَّ أَوْثَقَ مَا أَرْجُوْ بِهٖ لَسَلَامَةُ الصَّدْرِ وَتَرْكُ مَا لَا يَعْنِيْنِيْ . الصمت وآداب اللسان لابن ابي الدنيا ج١ ص ٩٤ رقم الحديث ١١١ ، احياء علوم الدين ج٣ ص ١١٣ بيان عظيم خطر اللسان...

# جنت او جهنم ته بوتلونکي څيزونه

حضرت ابو هريرة ﷛ فرمايي چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه پوښتنه اوشوه:

مَا أَكْثَرُ مَا يُدْخِلُ الْجَنَّةَ؟

هغه کوم څيز دی چې هغه عام طور انسان جنت ته داخلوي؟

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل:

تَقْوَى اللهِ، وَحُسْنُ الْخُلُقِ . د الله ﷻ نه يَره او ښائسته اخلاق.

تپوس کوونکي بيا عرض اوکړو:

وَمَا أَكْثَرُ مَا يُدْخِلُ النَّارَ؟ هغه کوم څيز دی چې هغه اکثره انسان جهنم ته داخلوي؟

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل:

اَلْأَجْوَفَانِ: اَلْفَمُ وَالْفَرْجُ . هغه دوه دَ دَ څيزونه دي: (يعنی) خُله او شرمګاه. (۱)

# د ژبې د غلط استعمال په وجه د جهنم مستحق کيدل

انسان ته په کار دي چې خپله ژبه په قابو کې اُوساتي ځکه کله انسان د ژبې نه داسې خبره رااُوباسي چې دا ده ته معمولي ښکاري خو ليکن دا د الله ﷻ د ناراضتيا سبب اوګرځي، نو په دې سره دا انسان د جهنم مستحق شي.

---

(۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷛: سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا أَكْثَرُ مَا يُدْخِلُ الْجَنَّةَ؟ قَالَ: « تَقْوَى اللهِ، وَحُسْنُ الْخُلُقِ » . قَالَ: وَمَا أَكْثَرُ مَا يُدْخِلُ النَّارَ؟ قَالَ: " اَلْأَجْوَفَانِ: اَلْفَمُ وَالْفَرْجُ " . الادب المفرد مخرجا للبخاري رقم الحديث ۲۹۴ بَابُ حُسْنِ الْخُلُقِ إِذَا فَقِهُوا.

وفي رواية: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷛ قَالَ: سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَكْثَرِ مَا يُدْخِلُ النَّاسَ الْجَنَّةَ، فَقَالَ: « تَقْوَى اللهِ وَحُسْنُ الْخُلُقِ »، وَسُئِلَ عَنْ أَكْثَرِ مَا يُدْخِلُ النَّاسَ النَّارَ، فَقَالَ: « اَلْفَمُ وَالْفَرْجُ » . سنن الترمذي أَبْوَابُ الْبِرِّ وَالصِّلَةِ بَابُ مَا جَاءَ فِي حُسْنِ الْخُلُقِ رقم الحديث ۲۰۰۴ وقال الترمذي: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. سنن ابن ماجة رقم الحديث ۴۲۴۶، مشكوة المصابيح بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيبَةِ وَالشَّتْمِ الْفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ۴۸۳۲، المستدرك على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۷۹۱۹ وقال الحاكم: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ. ووافقه الذهبي: شعب الايمان رقم الحديث ۵۰۲۵.

۱. د بخاري شريف حديث دی ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

إِنَّ الْعَبْدَ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ مِنْ رِضْوَانِ اللهِ لَا يُلْقِيْ لَهَا بَالًا يَرْفَعُهُ اللهُ بِهَا دَرَجَاتٍ . وَ إِنَّ الْعَبْدَ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ مِنْ سَخَطِ اللهِ لَا يُلْقِيْ لَهَا بَالًا يَهْوِيْ بِهَا فِيْ جَهَنَّمَ . (١)

بيشکه کله بنده د الله ﷻ د رَضا يوه خبره اوکړي اګر چې دا ددې خبرې څه پرواه نه ساتي ( يعنی ددې خبرې اَهميت نه پيژني ، معمولي يې ګنړي ) خو الله تعالی په دې سره دده ډيرې درجې اُوچتوي . او کله يو بنده د الله ﷻ د ناراضتيا څه خبره اوکړي دا ددې څه پرواه نه کوي ( معمولي يې ګنړي ) خو ددې په وجه دا په جهنم کې داخل شي .

۲ . د مسلم شريف په روايت کې داسې ذکر دي ، رسول الله ﷺ فرمايي :

إِنَّ الْعَبْدَ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ مَا يَتَبَيَّنُ مَا فِيْهَا يَهْوِيْ بِهَا فِي النَّارِ أَبْعَدَ مَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ . (٢)

بيشکه بنده يوه خبره اوکړي ، په دې کې فِکر اونکړي ( يعنی بغير د تدبّر نه غلطه خبره اوکړي او ددې د خراب اَنجام نه او نه يَريږي (٣) ) نو ددې خبرې په وجه دومره لرې په دوزخ کې اُوغورځيږي چې د هغې فاصله د مشرق او مغرب د درمياني فاصلې نه زياته ده .

**فائده** : ددې نه معلومه شوه چې لکه څرنګې چې معمولي خبره د انسان د پاره د جنت

---

(١) صحيح البخاري كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ رقم الحديث ٦٤٧٨ ، مشكوة المصابيح مشكوة المصابيح بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيْبَةِ وَالشَّتْمِ اَلْفَصْلُ الأول رقم الحديث ٤٨١٣(٢) ، سنن الترمذي بابٌ في قلة الكلام رقم الحديث ٢٣١٩ ، سنن ابن ماجة باب كفّ اللسان في الفتنة رقم الحديث ٣٩٦٩ ، السنن الكبرى للنسائي رقم الحديث ١١٧٦٩ ، شعب الايمان رقم الحديث ٣٠٦٠٤ .

(٢) صحيح مسلم كِتَابُ الزُّهْدِ وَالرَّقَائِقِ بَابُ التَّكَلُّمِ بِالْكَلِمَةِ يَهْوِي بِهَا فِي النَّارِ رقم الحديث ٥٠(٢٩٨٨) .

(٣) (مَا يَتَبَيَّنُ مَا فِيْهَا) معناه لا يتدبرها ويتفكر في قبحها ولا يخاف ما يترتب عليها وهذا كالكلمة عند السلطان وغيره من الولاة وكالكلمة يقذف أو معناه كالكلمة التي يترتب عليها إضرار مسلم ونحو ذلك . شرح محمد فؤاد عبد الباقي على صحيح مسلم

تللو ذريعه ګرځي نو همدغه شان کله معمولي خبره د انسان د جهنم تللو ذريعه هم ګرځي .
لهذا خپله ژبه په کنټرول کې ساتل په کار دي . (١)

## د ژبې د غلط استعمال په وجه پړمخ جهنم ته غورځيدل

په ترمذي شريف او مشکوة شريف کې اوږد حديث ذکر دی ، رسول الله صلی الله عليه حضرت معاذ بن جبل ﷺ ته اوفرمايل : .... أَلَا أُخْبِرُكَ بِمَلَاكِ ذٰلِكَ كُلِّهِ ؟

آيا زه تاته د دې ټولو څيزونو جرړه ( او تقويت ) اُونښايم ؟

حضرت معاذ ﷺ فرمايي چې ما ورته وويل :

بَلٰى يَا نَبِيَّ اللّٰهِ . اې د الله رسوله ! راته وې ښايې .

نو نبي عليه السلام خپله ژبه مبارکه اُونيوه او ( هغې ته اشاره کولو سره ) وې فرمايل :

كُفَّ عَلَيْكَ هٰذَا . دا ژبه ( د فضول خبرو نه ) بنده ساته .

ما ورته عرض اوکړو : ( اې د الله رسوله ! ) مونږ چې دا کومې خبرې کوو نو آيا په دې ټولو به زمونږ مؤاخذه کيږي ؟

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل :

ثَكِلَتْكَ أُمُّكَ يَا مُعَاذُ ، وَهَلْ يَكُبُّ النَّاسَ فِي النَّارِ عَلٰى وُجُوْهِهِمْ أَوْ عَلٰى مَنَاخِرِهِمْ إِلَّا حَصَائِدُ أَلْسِنَتِهِمْ . (٢)

---

(١) ... وَالْمَعْنٰى: أَنَّهُ يَتَكَلَّمُ بِكَلِمَةِ الْحَقِّ يَظُنُّهَا قَلِيْلَةً وَهِيَ عِنْدَ اللّٰهِ جَلِيْلَةٌ . فَيَحْصُلُ لَهُ رِضْوَانُ اللّٰهِ . وَقَدْ يَتَكَلَّمُ بِسُوْءٍ وَلَا يَعْلَمُ أَنَّهُ كَذٰلِكَ وَهُوَ عِنْدَ اللّٰهِ ذَنْبٌ عَظِيْمٌ . فَيَحْصُلُ لَهُ السَّخَطُ مِنَ اللّٰهِ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ٣٠٢٦/٧ حِفْظُ اللِّسَانِ وَالْغِيْبَةِ وَالشَّتْمِ اَلْفَصْلُ الأول في تشريح رقم الحديث ٢٨١٣ .

(٢) پوره حديث داسې دی : عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ ﷺ . قَالَ : كُنْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ سَفَرٍ . فَأَصْبَحْتُ يَوْمًا قَرِيْبًا مِنْهُ وَنَحْنُ نَسِيْرُ . فَقُلْتُ : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ! أَخْبِرْنِيْ بِعَمَلٍ يُدْخِلُنِي الْجَنَّةَ وَيُبَاعِدُنِيْ عَنِ النَّارِ . قَالَ : « لَقَدْ سَأَلْتَنِيْ عَنْ عَظِيْمٍ . وَإِنَّهُ لَيَسِيْرٌ عَلٰى مَنْ يَسَّرَهُ اللّٰهُ عَلَيْهِ . تَعْبُدُ اللّٰهَ وَلَا تُشْرِكْ بِهِ شَيْئًا . وَتُقِيْمُ الصَّلٰوةَ . وَتُؤْتِي الزَّكَاةَ . وَتَصُوْمُ رَمَضَانَ . وَتَحُجُّ الْبَيْتَ » ثُمَّ قَالَ : " أَلَا أَدُلُّكَ عَلٰى أَبْوَابِ الْخَيْرِ : اَلصَّوْمُ جُنَّةٌ . وَالصَّدَقَةُ تُطْفِئُ الْخَطِيْئَةَ كَمَا يُطْفِئُ الْمَاءُ النَّارَ . وَصَلٰوةُ الرَّجُلِ مِنْ جَوْفِ اللَّيْلِ " ←←←←←←

اې معاذ ! ستا مور دې تا ورک کړي ( يا : ستا مور دې په تا باندې بوره شي (١) ) خلقو لره پرمخې (يا په پوزه باندې) جهنم ته غورځوونکې څيز د ژبې لو دی.
( يعنى د همدې غلطو خبرو په وجه خلق پرمخې جهنم ته غورځي ).

**فائده** : نبي عليه السلام د خبرو تشبيه د ژبې د لو سره ورکړه ، لکه څرنګې چې د اوسپنې لور هر قسمه فصل کټ کوي که هغه اوچ وي او که لوند ، که ښه وي او که خراب نو همدغه شان بعضې کس په ژبه باندې هر قسمه خبرې را اوباسي ، د ښه او خرابو تميز نه کوي ، نو دا د انسان د پاره پرمخې جهنم ته د غورځولو سبب ګرځي . (٢)

---

←←← قَالَ : ثُمَّ تَلَا {تَتَجَافَى جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ } [ السجدة آية ١٦ ]. حَتَّى بَلَغَ {يَعْمَلُونَ} [ السجدة آية ١٧] ثُمَّ قَالَ: «أَلَا أُخْبِرُكَ بِرَأْسِ الْأَمْرِ كُلِّهِ وَعَمُودِهِ ، وَذِرْوَةِ سَنَامِهِ »؟ قُلْتُ : بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ . قَالَ : « رَأْسُ الْأَمْرِ الْإِسْلَامُ ، وَعَمُودُهُ الصَّلَاةُ ، وَذِرْوَةُ سَنَامِهِ الْجِهَادُ » ثُمَّ قَالَ : « أَلَا أُخْبِرُكَ بِمَلَاكِ ذٰلِكَ كُلِّهِ »؟ قُلْتُ : بَلَى يَا نَبِيَّ اللهِ . فَأَخَذَ بِلِسَانِهِ قَالَ : «كُفَّ عَلَيْكَ هٰذَا » . فَقُلْتُ : يَا نَبِيَّ اللهِ ، وَإِنَّا لَمُؤَاخَذُونَ بِمَا نَتَكَلَّمُ بِهِ ؟ فَقَالَ : ثَكِلَتْكَ أُمُّكَ يَا مُعَاذُ . وَهَلْ يَكُبُّ النَّاسَ فِي النَّارِ عَلَى وُجُوهِهِمْ أَوْ عَلَى مَنَاخِرِهِمْ إِلَّا حَصَائِدُ أَلْسِنَتِهِمْ . سنن الترمذي أَبْوَابُ الْإِيمَانِ بَابُ مَا جَاءَ فِي حُرْمَةِ الصَّلَاةِ رقم الحديث وقال الترمذي : هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ . مشكوة المصابيح كتاب الايمان الفصل الثاني رقم الحديث ٢٩(٢٨) ، مسند احمد رقم الحديث ٢٢٠١٦ ؛ السنن الكبرى للنسائي رقم الحديث ١١٣٣٠ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ٣٠٢ ، الآداب للبيهقي رقم الحديث ٢٩٥ ، شرح السنة للبغوي رقم الحديث ١١ ، صحيح الترغيب والترهيب رقم ٢٨٦٦(١٧) ، كنز العمال رقم الحديث ٤٣٥٧٩ .

(١) ثَكِلَتْكَ أُمُّكَ . ستا مور دې تا ورک کړي . دا اګر چې په ظاهره باندې د مرګ خبرې معلوميږي ليکن دلته دا مراد ندي ، بلکه دا يوه مُحاوره ده چې د غفلت نه رابيداريدلو او تعجب ظاهرولو د پاره استعماليږي .
( ثَكِلَتْكَ أُمُّكَ يَا مُعَاذُ ) : فقدتك ، وَهُوَ دُعَاءٌ عَلَيْهِ بِالْمَوْتِ عَلَى ظَاهِرِهِ . وَلَا يُرَادُ وُقُوعُهُ . بَلْ هُوَ تَأْدِيبٌ وَتَنْبِيهٌ مِنَ الْغَفْلَةِ . وَتَعْجِيبٌ وَتَعْظِيمٌ لِلْأَمْرِ . مرقاة المفاتيح ج ١ ص ١٠٦ كتاب الايمان الفصل الثاني في تشريح حديث ٢٨ .

(٢) (إِلَّا حَصَائِدُ أَلْسِنَتِهِمْ) أَيْ مَحْصُودَاتُهَا . شَبَّهَ مَا يَتَكَلَّمُ بِهِ الْإِنْسَانُ بِالزَّرْعِ الْمَحْصُودِ بِالْمِنْجَلِ . وَهُوَ مِنْ بَلَاغَةِ النُّبُوَّةِ . فَكَمَا أَنَّ الْمِنْجَلَ يَقْطَعُ وَلَا يُمَيِّزُ الرَّطْبَ وَالْيَابِسَ وَالْجَيِّدَ وَالرَّدِيءَ . فَكَذٰلِكَ لِسَانُ بَعْضِ النَّاسِ يَتَكَلَّمُ بِكُلِّ نَوْعٍ مِنَ الْكَلَامِ حَسَنًا وَقَبِيحًا . وَالْمَعْنَى لَا يَكُبُّ النَّاسَ فِي النَّارِ إِلَّا حَصَائِدُ أَلْسِنَتِهِمْ مِنَ الْكُفْرِ . وَالْقَذْفِ . وَالشَّتْمِ . وَالْغِيبَةِ . وَالنَّمِيمَةِ . وَالْبُهْتَانِ . وَنَحْوِهَا . مرقاة المفاتيح ج ١ ص ١٠٦ كتاب الايمان الفصل الثاني في تشريح حديث ٢٨ .

# د فضول خبرو په وجه د جنت نه منع کېدل

څوک چې فضول خبرې کوي نو کله په خبرو کولو کې دده د خُلې نه داسې خبره راأووځي چې هغه د الله ﷻ د ناراضګۍ سبب اوګرځي نو په دې سره انسان د جنت نه منع کیږي.

همدارنګې د بې فائدې خبرو کولو په وجه د انسان سره حِساب کولې شي نو ددې په وجه هم انسان په اِبتدائي کسانو کې جنت ته داخليدو نه منع کيږي.

د ترمذي شريف او مشکوة شريف حديث دی، حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چې د نبي عليه السلام په صحابه کرامو کې يو کس وفات شو، بل کس ( دې مَرحوم ته ) وويل:

أَبْشِرْ بِالْجَنَّةِ. د جنت زيرې قبول کړه.

رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دې ويونکي ته اوفرمايل:

أَوَلَا تَدْرِيْ فَلَعَلَّهُ تَكَلَّمَ فِيْمَا لَا يَعْنِيْهِ أَوْ بَخِلَ بِمَا لَا يَنْقُصُهُ.

ته خو دَه ته زيرې ورکوی حالانکه تاته معلومه نده کيدې شي دَه بې فائدې خبرې کړې وي، يا يې په داسې څيز سره بُخل کړې وي چې هغه نه کميږي. (١)

همداسې واقعات په نورو احاديثو کې هم ذکر شوی. (٢)

---

(١) عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه، قَالَ: تُوُفِّيَ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِهِ فَقَالَ يَعْنِيْ رَجُلًا: أَبْشِرْ بِالْجَنَّةِ. فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَوَلَا تَدْرِيْ فَلَعَلَّهُ تَكَلَّمَ فِيْمَا لَا يَعْنِيْهِ أَوْ بَخِلَ بِمَا لَا يَنْقُصُهُ». سنن الترمذي أَبْوَابُ الزُّهْدِ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رقم الحديث ٢٣١٦، مشكوة المصابيح بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيْبَةِ وَالشَّتْمِ اَلْفَصْلُ الثَّانِيْ رقم الحديث ٤٨٤٢(٣١)، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ٢٨٨٢(٣٣) الترغيب في الصمت الا عن خير والترهيب من كثرة الكلام، وقال المنذري: هذا حديث حسن صحيح. وقال الحافظ رواته ثقات. وقال ملا علي قاري في المرقاة: رِجَالُهُ رِجَالُ الصَّحِيْحَيْنِ إِلَّا سُلَيْمَانَ بْنَ عَبْدِ الْجَبَّارِ الْبَغْدَادِيَّ شَيْخَ التِّرْمِذِيِّ. وَقَدْ ذَكَرَهُ ابْنُ حِبَّانَ فِي الثِّقَاتِ. كَذَا فِي التَّصْحِيْحِ. مرقاة ج ٧ ص ٣٠٤٢، كنز العمال رقم الحديث ٨٢٩٢ حرف الميم ما لا يعني.

(٢) ملا علي قاري رحمه الله په مرقاة کې څنې واقعات رانقل کړي: وَفِيْ حَدِيْثٍ آخَرَ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَدَ كَعْبًا فَسَأَلَ عَنْهُ. فَقَالُوْا: مَرِيْضٌ. فَخَرَجَ يَمْشِيْ حَتّٰى أَتَاهُ. فَلَمَّا دَخَلَ عَلَيْهِ قَالَ: "أَبْشِرْ يَا كَعْبُ" فَقَالَتْ أُمُّهُ: هَنِيْئًا لَكَ الْجَنَّةُ يَا كَعْبُ. فَقَالَ: "مَنْ هٰذِهِ الْمُتَأَلِّيَةُ عَلَى اللهِ؟" قَالَ: هِيَ أُمِّيْ يَا رَسُوْلَ اللهِ. قَالَ: "وَمَا يُدْرِيْكِ يَا أُمَّ كَعْبٍ. لَعَلَّ كَعْبًا قَالَ مَا لَا يَعْنِيْهِ. أَوْ مَنَعَ مَا لَا يُغْنِيْهِ. ←←←←←←←

**تشريح**: د نبي عليه السلام د وينا مقصد دا ؤ چې کيدې شي دده د خُلې نه بې فائدې خبرې اُوتې وي يا داسې خبرې اُوتې وي چې هغه دده د ضرر رسولو سبب وي، او يا يې په داسې څيز کې بُخل کړې وي چې هغه په خرچ کولو سره نه کميږي، نو چې کله دده سره ددې خبرو په وجه حِساب کيدې شي نو بيا څنګه ده ته دومره يقيني د جنت زيرې ورکولې شي؟ ددې تر حسابه پورې به د جنت نه منع وي. (۱)

# د ژبې د فتنې نه يَره کول

**۱.** د ترمذي شريف حديث دی، حضرت سفيان ابن عبد الله ثقفي ﷺ فرمايي چې ما رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ته اوفرمايل: يَارَسُوْلَ اللهِ! مَا أَخْوَفُ مَا تَخَافُ عَلَيَّ؟

اې د الله رسوله! تاسو زما په باره کې د کوم څيز نه ډيره يَره کوئ؟ (يعنی زما د پاره ډير خطرناک څيز کوم يو دی؟)

نبي عليه السلام خپله ژبه مبارکه اُونيوه او وې فرمايل: هٰذَا. دا ژبه. (۲)

---

←←← وَرَوَى ابْنُ أَبِي الدُّنْيَا، وَأَبُوْ يَعْلَى «عَنْ أَنَسٍ ﷺ أَيْضًا قَالَ: اُسْتُشْهِدَ مِنَّا رَجُلٌ يَوْمَ أُحُدٍ. فَوُجِدَ عَلَى بَطْنِهِ صَخْرَةٌ مَرْبُوْطَةٌ مِنَ الْجُوْعِ. فَمَسَحَتْ أُمُّهُ التُّرَابَ عَنْ وَجْهِهِ وَقَالَتْ: هَنِيْئًا لَكَ يَا بُنَيَّ الْجَنَّةَ. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا يُدْرِيْكِ لَعَلَّهُ كَانَ يَتَكَلَّمُ فِيْمَا لَا يَعْنِيْهِ وَيَمْنَعُ مَا لَا يَضُرُّهُ"». مرقاة المفاتيح ۳۰۴۳/۷ بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيْبَةِ وَالشَّتْمِ اَلْفَصْلُ الثاني

(۱) ... وَمَعْنَاهُ أَنَّهُ إِنَّمَا تَتَهَنَّأُ الْجَنَّةُ لِمَنْ لَا يُحَاسَبُ وَلَا يُعَاقَبُ. وَمَنْ تَكَلَّمَ فِيْمَا لَا يَعْنِيْهِ حُوْسِبَ عَلَيْهِ. وَإِنْ كَانَ مُبَاحًا فَلَا تَتَهَنَّأُ لَهُ الْجَنَّةُ مَعَ الْمُنَاقَشَةِ فِي الْحِسَابِ. فَإِنَّهُ نَوْعٌ مِنَ الْعَذَابِ. مرقاة المفاتيح ج ۷ ص ۳۰۴۳ بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيْبَةِ وَالشَّتْمِ اَلْفَصْلُ الثاني.

(۲) عَنْ سُفْيَانَ بْنِ عَبْدِ اللهِ الثَّقَفِيِّ ﷺ. قَالَ: قُلْتُ: يَارَسُوْلَ اللهِ حَدِّثْنِي بِأَمْرٍ أَعْتَصِمُ بِهِ. قَالَ: «قُلْ رَبِّيَ اللهُ ثُمَّ اسْتَقِمْ». قُلْتُ: يَارَسُوْلَ اللهِ! مَا أَخْوَفُ مَا تَخَافُ عَلَيَّ؟ فَأَخَذَ بِلِسَانِ نَفْسِهِ. ثُمَّ قَالَ: «هٰذَا». سنن الترمذي أَبْوَابُ الزُّهْدِ بَابُ مَا جَاءَ فِي حِفْظِ اللِّسَانِ رقم الحديث ۲۴۱۰ وقال الترمذي: هَذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ. مسند احمد رقم الحديث ۱۵۴۱۹، صحيح ابن حبان محققا رقم الحديث ۵۶۹۹ ذكر البيان بانّ لسانَ المرء من أخوف ما يُخاف عليه منه، شعب الايمان رقم الحديث ۴۵۷۲، مشكوة المصابيح بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيْبَةِ وَالشَّتْمِ اَلْفَصْلُ الثاني رقم الحديث ۴۸۴۳(۳۲)، الترغيب والترهيب لقوام السنة رقم الحديث ۱۷۱۴.

( يعنى ماته ستا په باره کې د ټولو نه ډيره يره د ژبې په باره کې ده ، پس ته د خپلې ژبې حفاظت کوه ) .

۲ . يو ځل حضرت عُمر ﷺ د حضرت ابوبکر صديق ﷺ په خدمت کې حاضر شو نو وې ليدل چې حضرت ابوبکر صديق ﷺ خپله ژبه ( په ګوتو باندې ) راکاږي .

حضرت عمر ﷺ ورته اوفرمايل : مَهْ ، غَفَرَ اللهُ لَكَ.

الله تعالى دې ستاسو مغفرت اوکړي داسې مه کوه ( ژبه مه راکاږه ) .

حضرت ابوبکر صديق ﷺ ورته اوفرمايل :

إِنَّ هٰذَا أَوْرَدَنِي الْمَوَارِدَ .

بيشکه زه دې ژبې د هلاکت په ځايونو کې داخل کړې يم ( نو ځکه د دې سزا لاتقه ده ) . (۱)

۳ . امام غزالي رحمه الله دا هم ذکر کړي چې حضرت ابوبکر صديق ﷺ به په خُله کې کاڼړې واچول چې د دې په ذريعه به يې ځان د خبرو نه منع کړې وُ ، ژبې ته به يې اِشاره کوله او د دې په باره کې به يې فرمايل :

---

(۱) عَنْ أَسْلَمَ قَالَ: إِنَّ عُمَرَ ﷺ دَخَلَ يَوْمًا عَلَى أَبِي بَكْرِ الصِّدِّيْقِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَهُوَ يَجْبِذُ لِسَانَهُ. فَقَالَ عُمَرُ ﷺ : مَهْ غَفَرَ اللهُ لَكَ. فَقَالَ أَبُوْ بَكْرٍ ﷺ : إِنَّ هٰذَا أَوْرَدَنِي الْمَوَارِدَ . مشکوة المصابيح بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيْبَةِ وَالشَّتْمِ اَلْفَصْلُ الثَّالِث رقم الحديث ۴۸۶۹(۵۸) ، موطا مالک باب ما جاء فيما يخاف من اللسان رقم الحديث ۱۲ ، مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ۳۷۰۴۷ ، السنن الکبرى للنسائي رقم الحديث ۱۱۸۴۱ ، شعب الايمان رقم الحديث ۴۶۳۶ ، مجمع الزوائد رقم الحديث ۱۸۱۷۵ ، کنزالعمال رقم الحديث ۸۸۸۹ .

وفي رواية : عَنْ أَسْلَمَ : أَنَّ عُمَرَ ﷺ اِطَّلَعَ عَلَى أَبِي بَكْرٍ ﷺ ، وَهُوَ يَمُدُّ لِسَانَهُ . فَقَالَ : مَا تَصْنَعُ يَا خَلِيْفَةَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ؟! فَقَالَ : إِنَّ هٰذَا أَوْرَدَنِي الْمَوَارِدَ ، إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : لَيْسَ شَيْءٌ مِنَ الْجَسَدِ إِلَّا يَشْكُوْ ذَرَبَ اللِّسَانِ . مجمع الزوائد ومنبع الفوائد كِتَابُ الزُّهْدِ بَابُ مَا جَاءَ فِي الصَّمْتِ وَحِفْظِ اللِّسَانَ رقم الحديث ۱۸۱۷۵ وقال الهيثمي : رَوَاهُ أَبُوْ يَعْلَى، وَرِجَالُهُ رِجَالُ الصَّحِيْحِ غَيْرَ مُوْسَى بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ حَيَّانَ. وَقَدْ وَثَّقَهُ ابْنُ حِبَّانَ. شعب الايمان رقم الحديث ۴۵۹۶ ، کنزالعمال رقم الحديث ۳۰۵۴ ، وَرَوَاهُ ابْنُ أَبِي الدُّنْيَا فِي الصَّمْتِ، وَأَبُوْ يَعْلَى فِي مُسْنَدِهِ، وَالدَّارَقُطْنِيُّ فِي الْعِلَلِ.

هٰذَا الَّذِيْ أَوْرَدَنِي الْمَوَارِدَ .

دې ژبې زه د هلاکت په ځايونو کې داخل کړې يم . (١)

**٤.** حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ به فرمايل : قسم په هغه ذات چې د هغه نه علاوه بل څوک د عبادت لائق نشته چې د ژبې نه علاوه بل هيڅ څيز د زيات بندولو محتاج ندی . ( يعنی ژبه زياته خاموشه او په کنټرول کې ساتل په کار دي ) . (٢)

**٥.** طاؤس رحمه الله به فرمايل :

إِنَّمَا لِسَانِيْ سَبُعٌ إِنْ أَرْسَلْتُهُ أَكَلَنِيْ .

زما ژبه درنده ( شلوونکې ځناور ) دی ، که چيرته زه دا ( بې کنټروله ) پريږدم نو ما به اوخوري . (٣)

---

(١) قَالَ الْغَزَالِيُّ رَحِمَهُ اللّٰهُ : وَفِي الْآثَارِ، رُوِيَ عَنِ الصِّدِّيْقِ ﷺ أَنَّهُ كَانَ يَضَعُ حَصَاةً فِيْ فِيْهِ يَمْنَعُ بِهَا نَفْسَهُ مِنَ الْكَلَامِ . وَكَانَ يُشِيْرُ إِلَى لِسَانِهِ وَيَقُوْلُ : هٰذَا الَّذِيْ أَوْرَدَنِي الْمَوَارِدَ . مرقاة المفاتيح بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيْبَةِ وَالشَّتْمِ اَلْفَصْلُ الثَّالِث ج٧ ص ٣٠٥٤ في تشريح حديث ٤٨٦٩(٥٨) . احياء علوم الدين ج٣ ص ١١١ بيان عظم خطر اللسان وفضيلة الصمت .

(٢) قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مَسْعُوْدٍ ﷺ وَاللّٰهِ الَّذِيْ لَآ إِلٰهَ إِلَّا هُوَ مَا شَيْءٌ أَحْوَجَ إِلَى طُوْلِ سِجْنٍ مِنْ لِسَانٍ . احياء علوم الدين ج٣ ص ١١١ كتاب آفات اللسان بيان عظم خطر اللسان وفضيلة الصمت .

عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ : مَا شَيْءٌ أَحَقَّ بِطُوْلِ سِجْنٍ مِنَ اللِّسَانِ . الصمت وآداب اللسان ج ١ ص ٥٦ رقم ٢٣ بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَفَضْلِ الصَّمْتِ

(٣) وقال طاوس رَحِمَهُ اللّٰهُ : إِنَّمَا لِسَانِيْ سَبُعٌ إِنْ أَرْسَلْتُهُ أَكَلَنِيْ . احياء علوم الدين ج٣ ص ١١١ كتاب آفات اللسان بيان عظم خطر اللسان وفضيلة الصمت .

قَالَ بَعْضُ الْمَاضِيْنَ : إِنَّمَا لِسَانِيْ سَبُعٌ . إِنْ أَرْسَلْتُهُ خِفْتُ أَنْ يَأْكُلَنِيْ . الصمت وآداب اللسان ج ١ ص ٦٣ رقم ٣٩ بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَفَضْلِ الصَّمْتِ .

عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ حَوْشَبٍ . قَالَ : سَمِعْتُ أَبَا عِمْرَانَ الْجَوْنِيَّ يَقُوْلُ : إِنَّمَا لِسَانُ أَحَدِكُمْ كَلْبٌ . فَإِذَا سَلَّطَهُ عَلَى نَفْسِهِ أَكَلَهُ . الصمت وآداب اللسان ج ١ ص ٦٧ رقم ٥١ بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَفَضْلِ الصَّمْتِ .

٦. امام شافعي رحمه الله د ژبې په باره کې فرمايي :

١. اِحْفَظْ لِسَانَكَ أَيُّهَا الإِنْسَانُ ✡ لَا يَلْدَغَنَّكَ إِنَّهُ ثُعْبَانُ

٢. كَمْ فِي الْمَقَابِرِ مِنْ قَتِيْلِ لِسَانِهِ ✡ كَانَتْ تَهَابُ لِقَاءَهُ الأَقْرَانُ

١. اې انسانه ! د ژبې حفاظت کوه ، هسې نه چې دا تا اُوچيچي ، ځکه دا د اَژدها په شان ده .

٢. په قبرونو کې ډير داسې خلق دي چې هغوی د ژبې په وجه وژل شوي ، حالانکه (دوی به دومره رُعب ناک وو چې) همزولي خلق به د دوی د ملاقات نه ډيرېدل. (١)

٧. ربيع بن خَيثَم الله تر د شلو (٢٠) کالو پورې د دُنيا خبرې نه وې کړې ، کله به چې سهر شو نو ده به صفا پاڼه او قلم راواخيست کومه خبره به يې چې کوله نو هغه به يې ليکله، بيا به يې ماښام د ځان سره حِساب کولو. (نو په دې طريقه يې ځان د دُنياوي فضول خبرو نه ساتلې وُ). (٢)

همدغه شان مونږ ته هم په کار دي چې په دُنيا کې د خپل ځان سره حِساب اوکړو چې آيا مونږ څومره خبرې د شريعت موافق کوو او څومره د شريعت خلاف کوو ؟

ځکه د آخرت د حِساب نه مخکې د ځان سره حِساب آسان دی ، او د آخرت د پښيمانتيا نه مخکې خپله ژبه کنټرول کول آسان دي. (٣)

---

(١) ديوان الامام الشافعي قافية النّون . تفسير سراج منير ٣٣٢/٣ ، نظم الدرر في تناسب الآيات والسور ٥٩/٢١ .

(٢) قِيْلَ : مَا تَكَلَّمَ الرَّبِيْعُ بْنُ خَيْثَمٍ بِكَلَامِ الدُّنْيَا عِشْرِيْنَ سَنَةً . وَكَانَ إِذَا أَصْبَحَ وَضَعَ قِرْطَاسًا نَقِيًّا وَقَلَمًا، فَكُلُّ مَا تَكَلَّمَ بِهِ كَتَبَهُ ثُمَّ يُحَاسِبُ نَفْسَهُ عِنْدَ الْمَسَاءِ . مرقاة المفاتيح بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيْبَةِ وَالشَّتْمِ اَلْفَصْل الثاني ج٧ ص ٣٠٤١ في تشريح حديث ٤٨٤٠(٢٩) . احياء علوم الدين ج٣ ص ١١١ كتاب آفات اللسان بيان عظم خطر اللسان وفضيلة الصمت . تنبيه الغافلين ج١ ص ٢١٢ باب حفظ اللسان .

(٣) هٰكَذَا كَانَ عَمَلُ الزُّهَّادِ . إِنَّهُمْ كَانُوْا يَتَكَلَّمُوْنَ لِحِفْظِ اللِّسَانِ ، وَيُحَاسِبُوْنَ أَنْفُسَهُمْ فِي الدُّنْيَا . وَهٰكَذَا يَنْبَغِيْ لِلْمُسْلِمِ أَنْ يُحَاسِبَ نَفْسَهُ فِي الدُّنْيَا قَبْلَ أَنْ يُحَاسَبَ فِي الآخِرَةِ . لِأَنَّ حِسَابَ الدُّنْيَا أَيْسَرُ مِنْ حِسَابِ الآخِرَةِ، وَحِفْظَ اللِّسَانِ فِي الدُّنْيَا أَيْسَرُ مِنْ نَدَامَةِ الآخِرَةِ . تنبيه الغافلين ج١ ص ٢١٢ بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ.

٨. يو کس نبي عليه السلام ته عرض اوکړو :

مُرْنِيْ فِي الْإِسْلَامِ بِأَمْرٍ لَا أَسْأَلُ عَنْهُ أَحَدًا بَعْدَكَ.

اې د الله رسوله ! ماته په اسلام کې د داسې څيز حُکم اوکړه چې زه ستاسو نه پس د بل هيچا نه د هغې متعلق پوښتنه اونکړم .

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل : قُلْ اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ. ثُمَّ اسْتَقِمْ.

دا اُووايه چې ما په الله ﷻ باندې اِيمان راوړی بيا په دې باندې مضبوط اوسه .

هغه کس بيا پوښتنه اوکړه چې د څه شي نه ويره ( او د هغې حفاظت ) اوکړم ؟

نبي عليه السلام خپلې ژبې مبارکې ته اِشاره اوکړه ( چې ددې د غلط استعمال نه يَره اوکړه ) . (١)

## د ګناه اکثره خبرې د ژبې نه صادريږي

د ژبې دير حفاظت په کار دی ځکه د ګناه اکثره خبرې ( لکه دروغ ، غِيبت ، چُغل خوري، کنځل او فحش خبرې کول ) د ژبې نه صادريږي .

نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي : إِنَّ أَكْثَرَ خَطَايَا ابْنِ آدَمَ فِيْ لِسَانِهِ.

بيشکه د بني آدم اکثره خطاګانې دده د ژبې په وجه وي . (٢)

## ژبه په قابو کې ساتل د نجات ذريعه ده

د تِرمذي شريف او مشکوة شريف حديث دی ، حضرت عُقبه بن عامِر رضي الله عنه فرمايي چې

---

(١) عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ سُفْيَانَ الثَّقَفِيِّ ، عَنْ أَبِيْهِ ، أَنَّ رَجُلًا قَالَ : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ! ــ وَقَدْ ، قَالَ هُشَيْمٌ : قُلْتُ : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ! ــ مُرْنِيْ فِي الْإِسْلَامِ بِأَمْرٍ لَا أَسْأَلُ عَنْهُ أَحَدًا بَعْدَكَ . قَالَ : « قُلْ اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ ، ثُمَّ اسْتَقِمْ » . قَالَ . قُلْتُ : فَمَا أَتَّقِيْ . فَأَوْمَأَ إِلٰى لِسَانِهِ . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ١٩٤٣١ ، سنن النسائي رقم الحديث ١١٤٢٥ ، الصمت لابن ابي الدنيا رقم الحديث ١ ، احياء علوم الدين ج٣ ص ١٠٩ . المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ٦٣٩٨ ، شعب الايمان رقم الحديث ٤٥٧٨ .

(٢) شعب الايمان رقم الحديث ٤٥٨٤ ، كنزالعمال رقم الحديث ٧٨٨٨ ، الترغيب والترهيب لقوام السنة رقم الحديث ١٧٢٢ ، و رقم الحديث ٢٣٧٣ ، الصمت لابن ابي الدنيا رقم الحديث ١٨ ، احياء علوم الدين ج٣ ص ١١٠ .

ما رسول الله صلی الله علیه وسلم ته اوفرمایل:

يَا رَسُوْلَ اللهِ ! مَا النَّجَاةُ ؟

اې د الله رسوله ! نجات په څه شي کې دی؟

هغوی راته اوفرمایل:

أَمْلِكْ عَلَيْكَ لِسَانَكَ ، وَلْيَسَعْكَ بَيْتُكَ ، وَابْكِ عَلَى خَطِيْئَتِكَ . (١)

خپله ژبه په قابو کې اوساته (بې خبره خبرې وړاندې مه کوه)، ستا کور دې ستا د پاره کفایت اوکړي (یعنی د فضول مجلسونو نه ځان ساته او بلا ضرورته د کور نه بهر مه اوځه)، او په خپلو ګناهونو باندې ژاړه. (٢)

---

(١) عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ رضي الله عنه ، قَالَ : قُلْتُ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! مَا النَّجَاةُ ؟ قَالَ : « أَمْلِكْ عَلَيْكَ لِسَانَكَ ، وَلْيَسَعْكَ بَيْتُكَ . وَابْكِ عَلَى خَطِيْئَتِكَ » . سنن الترمذي أَبْوَابُ الزُّهْدِ بَابُ مَا جَاءَ فِي حِفْظِ اللِّسَانِ رقم الحديث ٢٤٠٦ وقال الترمذي: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ . مشكوة المصابيح بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيبَةِ وَالشَّتْمِ اَلْفَصْلُ الثاني رقم الحديث ٤٨٣٧(٢٦) ، مسند احمد رقم الحديث ٢٢٢٣٥ ، شرح السنة للبغوي رقم الحديث ٤١٢٨ .

(٢) ملا علي قاري رحمه الله په مرقاة کې ددې حديث ډيره بهترينه تشريح کړی: (مَا النَّجَاةُ ؟) أَيْ: مَا نَجَاةُ هٰذَا الْأَمْرِ حَتّٰى نَتَعَلَّقَ بِهِ . أَوْ مَا الْخَلَاصُ عَنِ الْآفَاتِ حَتّٰى أَحْتَرِسَ بِهِ ؟ (فَقَالَ : أَمْلِكْ عَلَيْكَ لِسَانَكَ) بِفَتْحِ الْهَمْزَةِ وَكَسْرِ اللَّامِ أَيِ: احْفَظْ لِسَانَكَ عَمَّا لَيْسَ فِيْهِ خَيْرٌ كَمَا قَالَهُ شَارِحٌ . وَالْأَظْهَرُ أَنَّ مَعْنَاهُ أَمْسِكْ لِسَانَكَ حَافِظًا عَلَيْكَ أُمُوْرَكَ . مُرَاعِيًا لِأَحْوَالِكَ . فَفِيْهِ نَوْعٌ مِنَ التَّضْمِيْنِ . وَفِي النِّهَايَةِ أَيْ: لَا تُجْرِهِ إِلَّا بِمَا يَكُوْنُ لَكَ لَا عَلَيْكَ اهـ. وَهُوَ حَاصِلُ الْمَعْنٰى كَمَا لَا يَخْفٰى . وَعَنْ بَعْضِهِمْ أَيِ : اجْعَلْ لِسَانَكَ مَمْلُوْكًا لَكَ فِيْمَا عَلَيْكَ وَبَالُهُ وَتَبِعَتُهُ فَأَمْسِكْهُ عَمَّا يَضُرُّكَ وَأَطْلِقْهُ فِيْمَا يَنْفَعُكَ ..... (وَلْيَسَعْكَ) : بِكَسْرِ اللَّامِ وَيُسَكَّنُ (بَيْتُكَ) بِأَنْ تَسْكُنَ فِيْهِ وَلَا تَخْرُجَ مِنْهُ إِلَّا لِضَرُوْرَةٍ . وَلَا تَضْجَرْ مِنَ الْجُلُوْسِ فِيْهِ . بَلْ تَجْعَلُهُ مِنْ بَابِ الْغَنِيْمَةِ فَإِنَّهُ سَبَبُ الْخَلَاصِ مِنَ الشَّرِّ وَالْفِتْنَةِ ، وَلِذَا قِيْلَ : هٰذَا زَمَانُ السُّكُوْتِ ، وَمُلَازَمَةُ الْبُيُوْتِ ، وَالْقَنَاعَةُ بِالْقُوْتِ . إِلٰى أَنْ يَمُوْتَ . قَالَ الطِّيْبِيُّ: اَلْأَمْرُ فِي الظَّاهِرِ وَارِدٌ عَلَى الْبَيْتِ . وَفِي الْحَقِيْقَةِ عَلَى الْمُخَاطَبِ أَيْ : تَعَرَّضْ لِمَا هُوَ سَبَبٌ لِلُزُوْمِ الْبَيْتِ مِنَ الْاِشْتِغَالِ بِاللهِ . وَالْمُؤَانَسَةِ بِطَاعَتِهِ . وَالْخَلْوَةِ عَنِ الْأَغْيَارِ (وَابْكِ عَلَى خَطِيْئَتِكَ) . أَيِ: ابْكِ إِنْ تَقْدِرْ . وَإِلَّا فَتَبَاكَ نَادِمًا عَلَى مَعْصِيَتِكَ فِيْمَا سَبَقَ مِنْ أَيَّامِ حَيَاتِكَ . قَالَ الطِّيْبِيُّ : ضَمَّنَ بَكٰى مَعْنَى النَّدَامَةِ . وَعَدَّاهُ بِعَلٰى أَيِ النَّدَمْ عَلَى خَطِيْئَتِكَ بَاكِيًا . مرقاة المفاتيح بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيبَةِ وَالشَّتْمِ اَلْفَصْلُ الثاني في تشريح رقم الحديث ٤٨٣٨(٢٦) .

# د ژبې په حفاظت سره ايمان کامل کيږي

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

لَا يَسْتَقِيمُ إِيمَانُ عَبْدٍ حَتَّى يَسْتَقِيمَ قَلْبُهُ، وَلَا يَسْتَقِيمُ قَلْبُهُ حَتَّى يَسْتَقِيمَ لِسَانُهُ. (١)

د بنده ايمان ترهغې پورې نه صحيح کيږي تردې چې د ده زړه صحيح شي ، او د ده زړه ترهغې وخته پورې نه صحيح کيږي تردې چې د ده ژبه صحيح شي .

( يعنی ايمان هله کامل کيږي چې زړه صحيح شي ، او زړه هله صحيح کيږي چې ژبه صحيح شي ، غلطه استعمال نشي ) .

# د ژبې په حفاظت سره په عيبونو پَرده

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ كَفَّ لِسَانَهُ سَتَرَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ عَوْرَتَهُ . (٢)

چا چې خپله ژبه کنټرول کړه نو الله تعالی به د ده په عيبونو باندې پَرده واچوي .

# هر سهر د جِسم ټولو اَندامونو ژبې ته وينا

نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي چې کله بني آدم سهر د خوب نه راپاځي نو د وجود ټول اَندامونه ژبې ته عاجزي کوي ( او دا ورته وايي ) :

اِتَّقِ اللّٰهَ فِينَا فَإِنَّمَا نَحْنُ بِكَ . فَإِنِ اسْتَقَمْتَ اِسْتَقَمْنَا وَإِنِ اعْوَجَجْتَ اِعْوَجَجْنَا .

(١) شعب الايمان رقم الحديث ٨ باب الدليل على انّ التصديق بالقلب والاقرار باللسان اصل الايمان ، مسند احمد رقم الحديث ١٣٠٣٨ ، مجمع الزوائد رقم الحديث ١٦٥ باب تجديد الايمان ، و رقم الحديث ١٨٦ باب في كمال الايمان ، كنزالعمال رقم الحديث ٢٣٩٢٥ ، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٣٨٦٠ ، و رقم الحديث ٤٣٤٠ ، الصمت لابن ابي الدنيا رقم الحديث ٩ .

(٢) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَنْ كَفَّ لِسَانَهُ سَتَرَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ عَوْرَتَهُ . وَمَنْ مَلَكَ غَضَبَهُ وَقَاهُ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ عَذَابَهُ ، وَمَنِ اعْتَذَرَ إِلَى اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ قَبِلَ عُذْرَهُ . الصمت وآداب اللسان لابن ابي الدنيا ج ١ ص ٥٥ رقم الحديث ٢١ بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَفَضْلِ الصَّمْتِ . كنز العمال رقم الحديث ٧١٦٥ ، الترغيب والترهيب لقوام السنّة رقم الحديث ١٧٢١ ، احياء علوم الدين ج ٣ ص ١١٠ .

ته زمونږ په حق کې د الله ﷻ نه اوویرېږه ، ځکه زمونږ تعلق د تا سره دی ، که چیرته ته صحیح شې نو مونږ به هم صحیح شو ، او که ته کږه شې نو مونږ به هم کاږه شو .(۱)

## ژبه د زړه ترجمانه ده

اګر چې په حقیقت کې د ټول وجود دارومدار په زړه باندې دی ، که زړه صحیح وي نو د وجود ټول آندامونه به صحیح وي ، او که زړه فاسد وي نو د وجود ټول آندامونه به فاسد وي ، لکه دا خبره د بخاري شریف او مسلم شریف په حدیث کې هم ذکر شوی ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

.... أَلَا وَ إِنَّ فِي الْجَسَدِ مُضْغَةً إِذَا صَلَحَتْ صَلَحَ الْجَسَدُ كُلُّهُ ، وَإِذَا فَسَدَتْ فَسَدَ الْجَسَدُ كُلُّهُ. أَلَا وَهِيَ الْقَلْبُ .(۲)

خبردار ، بیشکه په زړه کې د غوښې یوه ټوټه ده چې کله دا صحیح شي نو ټول بدن صحیح کیږي ، او چې کله دا فاسده شي نو ټول بدن فاسدیږي ، خبردار هغه زړه دی .

**تطبیق** : په دې حدیث کې زړه د ټول وجود سردار ګرځول شوی او په پاس حدیث کې ژبه د ټول وجود سرداره ګرځول شوی ، نو د دې دواړو احادیثو په مینځ کې تطبیق دا دی چې ژبه د زړه ترجمانه ده ، په زړه کې چې څه خبره راشي نو ژبه د هغې بیان کوي ، لهذا لکه څرنګې چې د زړه صالح کیدو او فاسد کیدو آثر په ټول وجود باندې غورځي نو همدغه

(۱) عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه . رَفَعَهُ قَالَ : إِذَا أَصْبَحَ ابْنُ آدَمَ فَإِنَّ الْأَعْضَاءَ كُلَّهَا تُكَفِّرُ اللِّسَانَ فَتَقُولُ : اتَّقِ اللَّهَ فِينَا فَإِنَّمَا نَحْنُ بِكَ . فَإِنِ اسْتَقَمْتَ اسْتَقَمْنَا وَإِنِ اعْوَجَجْتَ اعْوَجَجْنَا . سنن الترمذي أَبْوَابُ الزُّهْدِ بَابُ مَا جَاءَ فِي حِفْظِ اللِّسَانِ رقم الحديث قال الالباني: حسنٌ . مشكوة المصابيح بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيبَةِ وَالشَّتْمِ اَلْفَصْلُ الثاني رقم الحديث ٢٨٣٧(٢٧) ، مسند ابي داؤد الطيالسي رقم الحديث ٢٣٢٣ ، شعب الايمان رقم الحديث ٢٥٩٥ ، كنزالعمال رقم الحديث ٧٨٣٤ .

(۲) صحيح البخاري كِتَابُ الإِيمَانِ بَابُ فَضْلِ مَنِ اسْتَبْرَأَ لِدِينِهِ رقم الحديث ٥٢ ، صحيح مسلم رقم الحديث ١٠٧(١٥٩٩) باب اخذ الحلال و ترک الشبهات ، سنن ابن ماجة رقم الحديث ٣٩٨٤ باب الوقوف عند الشبهات ، مسند احمد رقم الحديث ١٨٣٧٤ .

شان د ژبې صحيح کيدو او فاسد کيدو اثر هم په ټول وجود باندې غورځي. (١)

## ژبه او زړه چې صحيح شي نو همدا بهتر اعضاء دي . او چې خراب شي نو همدا فاسد اعضاء دي

لقمان حکيم يو نېک بنده وُ (٢) ، الله تعالى ورته حِکمت ( عقل ، فهم او دِيني بصيرت ) ورکړې وُ ، په قرآن مجيد کې ذکر دي :

﴿ وَلَقَدْ آتَيْنَا لُقْمٰنَ الْحِكْمَةَ اَنِ اشْكُرْ لِلّٰهِ ﴾ . (٣)

ترجمه : او يقينًا مونږ لقمان ته حِکمت (پوهه) ورکړې وه ، ( او ورته مو وويل ) چې ته د الله تعالى شکر کوه .

د لقمان حکيم د حِکمت يوه واقعه دا هم ده چې دا اول يو حبشي غلام وُ ، دده نه چې اول

---

(١) دا خبره په شکل د اعتراض او جواب ملا علي قاري رحمه الله داسې ذکر کړې :

قَالَ الطِّيْبِيُّ رَحِمَهُ اللهُ . فَإِنْ قُلْتَ : كَيْفَ التَّوْفِيْقُ بَيْنَ هٰذَا الْحَدِيْثِ وَبَيْنَ قَوْلِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « إِنَّ فِي الْجَسَدِ لَمُضْغَةً إِذَا صَلَحَتْ صَلَحَ الْجَسَدُ كُلُّهُ وَإِذَا فَسَدَتْ فَسَدَ الْجَسَدُ كُلُّهُ أَلَا وَهِيَ الْقَلْبُ » . قُلْتُ: اَللِّسَانُ تَرْجمَانُ الْقَلْبِ وَخَلِيْفَتُهُ فِيْ ظَاهِرِ الْبَدَنِ . فَإِذَا أُسْنِدَ إِلَيْهِ الْأَمْرُ يَكُوْنُ عَلَى سَبِيْلِ الْمَجَازِ فِي الْحُكْمِ كَمَا فِيْ قَوْلِكَ : شَفَى الطَّبِيْبُ الْمَرِيْضَ..... وَلَا يَخْفَى ظُهُوْرُ تَوَقُّفِ صَلَاحِ الْأَعْضَاءِ وَفَسَادِهَا عَلَى الْقَلْبِ بِحَسَبِ صَلَاحِهِ وَفَسَادِهِ . فَإِنَّهُ مَعْدِنُ الْأَخْلَاقِ الْكَرِيْمَةِ . كَمَا أَنَّهُ مَنْبَعُ الْأَحْوَالِ الذَّمِيْمَةِ . وَنَظِيْرُهُ الْمَلِكُ الْمُطَاعُ وَالرَّئِيْسُ الْمُتَّبَعُ . فَإِنَّهُ إِذَا صَلَحَ الْمَتْبُوْعُ صَلَحَ التَّبَعُ ..... وَأَمَّا تَعَلُّقُ الْأَعْضَاءِ جَمِيْعِهَا بِاللِّسَانِ . فَلَمْ يَظْهَرْ لِيْ مُدَّةً مِنَ الزَّمَانِ حَتّٰى أَلْهَمَنِي اللهُ تَعَالٰى بِبَرَكَةِ الصَّلَاةِ عَلٰى نَبِيِّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ أَنَّ اللِّسَانَ مِنْ أَعْضَاءِ الْإِنْسَانِ آلَةُ الْبَيَانِ لِلْكُفْرِ وَالْإِيْمَانِ . فَمَعَ اسْتِقَامَتِهِ تَنْفَعُهُ إِسْتِقَامَةُ سَائِرِ الْأَعْضَاءِ . وَمَعَ اعْوِجَاجِهِ تَبْطُلُ أَحْوَالُهَا . سَوَاءٌ تَكُوْنُ مُسْتَقِيْمَةً أَوْ مُعْوَجَّةً فِيْ أَفْعَالِهَا . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج٧ ص ٣٠٤٠ في تشريح حديث ٤٨٣٩ .

(٢) عَنْ مُجَاهِدٍ رَحِمَهُ اللهُ : كَانَ لُقْمَانُ عَبْدًا صَالِحًا . وَلَمْ يَكُنْ نَبِيًّا . وَقَالَ الْأَعْمَشُ : قَالَ مُجَاهِدٌ رَحِمَهُ اللهُ : كَانَ لُقْمَانُ عَبْدًا أَسْوَدَ عَظِيْمَ الشَّفَتَيْنِ . مُشَقَّقَ الْقَدَمَيْنِ...... فَهٰذِهِ الْآثَارُ مِنْهَا مَا هُوَ مُصَرَّحٌ فِيْهِ بِنَفْيِ كَوْنِهِ نَبِيًّا . وَمِنْهَا مَا هُوَ مُشْعِرٌ بِذٰلِكَ ، لِأَنَّ كَوْنَهُ عَبْدًا قَدْ مَسَّهُ الرِّقُّ يُنَافِيْ كَوْنَهُ نَبِيًّا ، لِأَنَّ الرُّسُلَ كَانَتْ تُبْعَثُ فِيْ أَحْسَابِ قَوْمِهَا ، وَلِهٰذَا كَانَ جُمْهُوْرُ السَّلَفِ عَلٰى أَنَّهُ لَمْ يَكُنْ نَبِيًّا . تفسير ابن كثير ٣٣٣/٦ سورة لقمان آية ١٢ .

(٣) لقمان آية ١٢ .

کوم حکمت ظاهر شوی و هغه دا و چې ده ته خپل مولی وویل:

يَا غُلَامُ! اِذْبَحْ لَنَا هٰذِهِ الشَّاةَ، وَائْتِنِيْ بِأَطْيَبِ مُضْغَتَيْنِ مِنْهَا.

اې غلام! ته مونږ له دا چیلی ذبح کړه او په دې کې چې د غوښې کومې ښې ټوټې دي هغه ماله ورنه راوړه.

نو لقمان حکيم ورته د چیلی ژبه او زړه راوړل.

مولی ورته بيا (څه وخت پس) وويل چې مونږ له دا بله چیلی ذبح کړه او په دې کې چې د غوښې کومې بدترينې ټوټې دي هغه ورنه راوړه.

لقمان حکيم ورته بيا د چیلی ژبه او زړه راوړل.

مولی ورنه ددې متعلق پوښتنه اوکړه (چې تا ولې دواړه ځل همدا ژبه او زړه راوړل؟).

ده ورته وويل:

لَيْسَ فِي الْجَسَدِ مُضْغَتَانِ أَطْيَبَ مِنْهُمَا إِذَا طَابَا، وَلَا أَخْبَثَ مِنْهُمَا إِذَا خَبُثَا.

کله چې دا ژبه او زړه ښه وي نو بيا په بدن کې ددينه بهترينې ټوټې د غوښې نشته، او چې کله دا دواړه فاسدې شي نو بيا ددينه فاسدې نورې نشته. (١)

---

(١) وَذُكِرَ أَنَّ لُقْمَانَ الْحَكِيْمَ كَانَ عَبْدًا حَبْشِيًّا فَأَوَّلُ مَا ظَهَرَ مِنْ حِكْمَتِهِ أَنَّهُ قَالَ لَهُ مَوْلَاهُ: يَا غُلَامُ! اِذْبَحْ لَنَا هٰذِهِ الشَّاةَ وَائْتِنِيْ بِأَطْيَبِ مُضْغَتَيْنِ مِنْهَا. فَجَاءَ بِالْقَلْبِ وَاللِّسَانِ. ثُمَّ قَالَ مَرَّةً أُخْرٰى: اِذْبَحْ لَنَا هٰذِهِ الشَّاةَ وَائْتِ بِأَخْبَثِ مُضْغَتَيْنِ مِنْهَا. فَأَتَاهُ بِاللِّسَانِ وَالْقَلْبِ. فَسَأَلَهُ عَنْ ذٰلِكَ. فَقَالَ: لَيْسَ فِي الْجَسَدِ مُضْغَتَانِ أَطْيَبَ مِنْهُمَا إِذَا طَابَا، وَلَا أَخْبَثَ مِنْهُمَا إِذَا خَبُثَا. تنبيه الغافلين ج ١ ص ٢١٨ بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ.

دا واقعه په تفسير ابن كثير او تفسير طبري كې داسې ذكر ده:

كَانَ لُقْمَانُ عَبْدًا حَبْشِيًّا نَجَّارًا. فَقَالَ لَهُ مَوْلَاهُ: اِذْبَحْ لَنَا هٰذِهِ الشَّاةَ. فَذَبَحَهَا. فَقَالَ: أَخْرِجْ أَطْيَبَ مُضْغَتَيْنِ فِيْهَا. فَأَخْرَجَ اللِّسَانَ وَالْقَلْبَ. فَمَكَثَ مَا شَاءَ اللهُ ثُمَّ قَالَ: اِذْبَحْ لَنَا هٰذِهِ الشَّاةَ. فَذَبَحَهَا. فَقَالَ: أَخْرِجْ أَخْبَثَ مُضْغَتَيْنِ فِيْهَا. فَأَخْرَجَ اللِّسَانَ وَالْقَلْبَ. فَقَالَ لَهُ مَوْلَاهُ: أَمَرْتُكَ أَنْ تُخْرِجَ أَطْيَبَ مُضْغَتَيْنِ فِيْهَا فَأَخْرَجْتَهُمَا، وَأَمَرْتُكَ أَنْ تُخْرِجَ أَخْبَثَ مُضْغَتَيْنِ فِيْهَا فَأَخْرَجْتَهُمَا. فَقَالَ لُقْمَانُ: إِنَّهُ لَيْسَ مِنْ شَيْءٍ أَطْيَبَ مِنْهُمَا إِذَا طَابَا، وَلَا أَخْبَثَ مِنْهُمَا إِذَا خَبُثَا. تفسير ابن كثير (تفسير القرآن العظيم) ٣٣٣/٦ سورة لقمان آية ١٢، تفسير الطبري ٤٣/٢١. تفسير القرطبي ج ١٤ ص ٦١ في تشريح سورة لقمان آية ١٢.

## د ژبې زخم د تورې او نېزې د زخم نه ډير خطرناک دی

که يو کس په توره يا نېزه باندې زخمي شي نو دا زخم جوړيږي خو چې په ژبې سره زخمي شي (يعنی چاته بدې خبرې اوکړي) نو دا زخم بيا ټول عُمر نه جوړيږي (هميشه يې دده نه نفرت وي).

**١**. يو شاعر وايي: جِرَاحَاتُ السِّنَانِ لَهَا الْتِئَامٌ ✡ وَلَا يَلْتَامُ مَا جَرَحَ اللِّسَانُ.(١)

د نېزو زخمونو د پاره جوړيدل شته ليکن ژبه چې کوم زخم جوړ کړي نو هغه نه جوړيږي.

**٢**. سفيان ثوري رحمه الله فرمايي:

لَأَنْ أَرْمِيَ رَجُلًا بِسَهْمٍ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ أَرْمِيَهُ بِلِسَانِي. لِأَنَّ رَمْيَ اللِّسَانِ لَا يُخْطِئُ وَرَمْيَ السَّهْمِ قَدْ يُخْطِئُ.(٢)

که زه يو کس په غَشي اُوولم نو دا راته ډير خوښ دی ددينه چې زه يې په ژبه اُوولم (يعنی په ژبه باندې چاته بَدې خبرې کول د غشي د زخم نه خطرناک دی)، ځکه د ژبې ګوذار نه خطاء کيږي او د غشي ګوذار کله کله خطاء کيږي.

## د بې فائدې خبرو کولو په وجه زړه سختيږي

د بې فائدې خبرو کولو په وجه د انسان زړه سختيږي، او کله چې زړه سخت شي نو دا د الله ﷻ د رحمت نه ډير لرې وي.

همدارنګې بې فائدې خبرو کولو په وجه د انسان بدن سستيږي (بيا يې عباداتو ته شوق نه پيدا کيږي) او د رزق نه محرومه کيږي.

د بعضې صحابه کرامو رضي الله عنهم نه دا خبره نقل ده:

إِذَا رَأَيْتَ قَسْوَةً فِيْ قَلْبِكَ. وَوَهْنًا فِيْ بَدَنِكَ. وَحِرْمَانًا فِيْ رِزْقِكَ فَاعْلَمْ أَنَّكَ قَدْ تَكَلَّمْتَ بِمَا لَا يَعْنِيْكَ.

---

(١) عمدة القاري شرح صحيح البخاري ١٣٢/١ ، مرقاة المفاتيح ٧٢/١ ، و ٧٣٨/٢ ، تفسير روح البيان ٨١/٩ ، تفسير الشعراوي ٦٠٣٣/١٠ ، إرشاد الساري لشرح صحيح البخاري ٩٣/١.

(٢) تنبيه الغافلين بأحاديث سيد الأنبياء والمرسلين للسمرقندي ٢١٩/١ بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ.

کله چې ته په خپل زړه کې سختي اوګورې، په بدن کې سستي اوګورې، او خپل رزق کې محرومي اوګورې پس پوهه شه چې تا بې فائدې خبرې کړې دي. (١)

## ډيرو فضول خبرو سره د مخ وَقار ختميږي

د هوښيارانو وينا ده:

كَثْرَةُ الْكَلَامِ تَذْهَبُ بِمُرُوْءَةِ الرَّجُلِ. (٢)

ډيرې خبرې د انسان وَقار (او عزت) ختموي.

## د ژبې سره تړلي ګناه

د ژبې سره چې کوم ګناهونه تړلي دي د هغې شمير زيات دی، امام غزالي رحمه الله په تفصيل سره ذکر کړي، خو يو څو غټې په کې دا دي:

دورغ ويل، غِيبت کول، چُغل خوري کول، کنځل کول، د بل چا سپکاوې کول، فحَش خبرې کول، د چا راز ښکاره کول، په چا تُهمت لږول، فضول خبرې کول، سندرې ويل وغيره وغيره.

چونکه د ژبې ګناه ته خلق ګناه نه وايي نو ځکه په کې ډير خلق مبتلاء دي، حالانکه د ژبې ګناهونه ډير خطرناک دي او د انسان د پاره د سخت عذاب سبب ګرځي.

---

(١) وَذُكِرَ عَنْ عِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ أَنَّهُ قَالَ: لَا تُكْثِرُوا الْكَلَامَ فِيْ غَيْرِ ذِكْرِ اللهِ. فَتَقْسُوَ قُلُوْبُكُمْ. وَالْقَلْبُ الْقَاسِيْ بَعِيْدٌ مِنَ اللهِ وَلٰكِنْ لَا تَعْلَمُوْنَ.

قَالَ بَعْضُ الصَّحَابَةِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ: إِذَا رَأَيْتَ قَسْوَةً فِيْ قَلْبِكَ، وَوَهْنًا فِيْ بَدَنِكَ، وَحِرْمَانًا فِيْ رِزْقِكَ فَاعْلَمْ أَنَّكَ قَدْ تَكَلَّمْتَ بِمَا لَا يَعْنِيْكَ. تنبيه الغافلين باحاديث سيد الأنبياء والمرسلين للسمرقندي ١/٢٢٠ بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ.

(٢) عَنْ خَلَفِ بْنِ إِسْمَاعِيْلَ قَالَ: قَالَ لِيْ رَجُلٌ مِنْ عُقَلَاءِ الْهِنْدِ: كَثْرَةُ الْكَلَامِ تَذْهَبُ بِمُرُوْءَةِ الرَّجُلِ. الصمت وآداب اللسان لابن ابي الدنيا ج١ ص ٦٨ بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَفَضْلِ الصَّمْتِ.

# د خاموشۍ اهميت او فضائل

د ګناه اکثره خبرې د ژبې نه صادريږي ، نو ځکه انسان ته په کار دي چې خپله ژبه په قابو کې محفوظه اوساتي ، او ددې د حفاظت آسانه طريقه داده چې انسان د فضول خبرو نه ځان اوساتي ، ځکه څومره چې فضول خبرې ديرې کيږي نو همدومره به ددو نه ګناهونه هم دير صادريږي .

دغه وجه ده چې په احاديثو مبارکه وُ کې د فضول خبرو نه د ځان ساتلو تاکيد راغلی ، او د خاموشۍ دير فضيلت بيان شوی :

## يا د خېر خبره په کار ده . يا چپ کيدل په کار دي

انسان ته په کار دي چې يا د خېر او بنيګړې خبره اوکړي او يا چپ شي ، په فضول او بې فائدې خبرو کې خپل وخت ضائع کول ندي په کار .

د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ لِيَصْمُتْ . (۱)

څوک چې په الله او د قيامت په ورځ ايمان لري نو هغه ته په کار دي چې د خېر خبره اوکړي او يا چپ اوسي .

**د حديث مطلب** د حديث مطلب دادی چې څوک د خبرې کولو اراده اوکړي نو ده ته په کار دي چې اول سوچ په کې اوکړي چې دا خبره د خېر ده او که نه ؟ پس که د خېر خبره وي

(۱) پوره حديث داسې دی : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ لِيَصْمُتْ ، وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِا[للهِ وَا]لْيَوْمِ الْآخِرِ فَلَا يُؤْذِ جَارَهُ ، وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ . صحيح البخ[اري] ... الرِّقَاقِ بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ رقم الحديث ٦٤٧٥ ، و رقم الحديث ٦٠١٨ كِتَابُ الْأَدَبِ بَابٌ: مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ ب[اللهِ وَالْيَوْمِ] الْآخِرِ فَلَا يُؤْذِ جَارَهُ صحيح مسلم كِتَابُ الْإِيمَانِ بَابُ الْحَثِّ عَلَى إِكْرَامِ الْجَارِ وَالضَّيْفِ، وَلُزُومِ الصَّمْتِ إِلَّا عَنِ الْ[خَيْرِ وَكَوْنِ] ذَلِكَ كُلِّهِ مِنَ الْإِيمَانِ رقم الحديث ٦١٣٥ ، مشكوة المصابيح كتاب الأطعمة باب الضيافة الفصل الأول رقم ... ٤٢٤٣ (۱)

نو کول يې په کار دي او که د خبر خبره نه وي نو بيا چپ کېدل په کار دي. (١)

## فضول خبرو نه ځان ساتلو کې د سړي د اسلام حُسن دی

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

مِنْ حُسْنِ إِسْلَامِ الْمَرْءِ تَرْكُهُ مَا لَا يَعْنِيْهِ. (٢)

د يو سړي د اِسلام د مَحَاسِنو نه دا هم ده چې دا بې فائدې کارونه پرېږدي.

**د حديث تشريح**: د حديث مطلب دادی چې څوک بې فائدې خبرې او بې فائدې کارونه پرېږدي نو دا ددې سړي د اِسلام حُسن او خوبي ده، او علامه ددې ده چې ددې سړي اِيمان کامل دی. (٣)

**په څلورو احاديثو باندې د دين بُنياد دی**: امام نووي رَحِمَهُ اللّٰهُ ددې حديث متعلق ليکلي چې په کومو څلورو احاديثو باندې د اسلام بُنياد دی په هغې کې يو دا مذکوره حديث هم دی. هغه څلور احاديث دادي:

**اول حديث**: نبي عليه السلام فرمايي:

اَلْحَلَالُ بَيِّنٌ وَالْحَرَامُ بَيِّنٌ وَبَيْنَهُمَا مُشْتَبِهَاتٌ لَا يَعْلَمُهُنَّ كَثِيْرٌ مِنَ النَّاسِ فَمَنِ اتَّقَى

---

(١) (فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ لِيَصْمُتْ) وَيَعْنِيْ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَتَكَلَّمَ فَإِنْ كَانَ مَا يَتَكَلَّمُ بِهِ خَيْرًا يُثَابُ عَلَيْهِ وَاجِبًا كَانَ أَوْ مَنْدُوْبًا فَلْيَتَكَلَّمْ بِهِ. وَإِنْ لَمْ يَظْهَرْ لَهُ خَيْرُهُ سَوَاءٌ ظَهَرَ أَنَّهُ حَرَامٌ أَوْ مَكْرُوْهٌ أَوْ مُبَاحٌ فَلْيُمْسِكْ عَنْهُ. فَالْكَلَامُ الْمُبَاحُ مَأْمُوْرٌ بِتَرْكِهِ مَخَافَةَ اِنْجِرَارِهِ إِلَى الْحَرَامِ. مرقاة ج ٧ ص ٢٧٣٢ في تشريح حديث ٤٢٤٣.

(٢) مسند احمد مخرجا رقم الحديث ١٧٣٧، موطا مالک رقم الحديث ٣ باب ماجاء في حُسن الخلق، مشكوة المصابيح بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيْبَةِ وَالشَّتْمِ اَلْفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ٤٨٣٩(٨٢)، سنن الترمذي أَبْوَابُ الزُّهْدِ رقم الحديث ٢٣١٧ قال الالباني: صحيح. سنن ابن ماجة باب كفّ اللسان في الفتنة رقم الحديث ٣٩٧٦، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ٢٨٨٦، شعب الايمان رقم الحديث ٤٦٣٢، شرح السنّة للبغوي باب ترک الانسان ما لا يعنيه رقم الحديث ٤١٣٢.

(٣) (مِنْ حُسْنِ إِسْلَامِ الْمَرْءِ) أَيْ: مِنْ جُمْلَةِ مَحَاسِنِ إِسْلَامِ الشَّخْصِ وَكَمَالِ إِيْمَانِهِ (تَرْكُهُ مَا لَا يَعْنِيْهِ) أَيْ: مَا لَا يُهِمُّهُ وَلَا يَلِيْقُ بِهِ قَوْلًا وَفِعْلًا وَنَظَرًا وَفِكْرًا. فَحُسْنُ الْإِسْلَامِ عِبَارَةٌ عَنْ كَمَالِهِ. مرقاة المفاتيح ج ٧ ص ٣٠٤٠ في تشريح حديث ٤٨٤٠.

الشُّبُهَاتِ اِسْتَبْرَأَ لِدِيْنِهٖ وَعِرْضِهٖ . وَمَنْ وَقَعَ فِي الشُّبُهَاتِ وَقَعَ فِي الْحَرَامِ ..... (١)

حلال هم ظاهر دي او حرام هم ظاهر دي او ددې دواړو په مينځ کې ډير مُشْتَبِه څيزونه دي چې ډير خلق يې نه پيژني ، پس چا چې د شُبهاتو نه ځان اوساتل هغه خپل دين او خپل عزت محفوظ اوساتل ، او څوک چې په مُشْتَبِه څيزونو کې مُبتلا شو هغه په حرامو کې مُبتلا شو .....

**دويم حديث :** دا پاس چې ذکر شو ( مِنْ حُسْنِ إِسْلَامِ الْمَرْءِ تَرْكُهُ مَا لَا يَعْنِيْهِ )

**دريم حديث :** نبي عليه السلام فرمايي :

لَا يَكُوْنُ الْمُؤْمِنُ مُؤْمِنًا حَتّٰى يُحِبَّ لِأَخِيْهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهٖ .

يو مؤمن تر هاغې وخته پورې کامِل مؤمن نشي جوړيدی تر دې د خپل ( مسلمان ) ورور د پاره هغه څه خوښ کړي کوم چې ځان له خوښوي .

**څلورم حديث :** رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ . (٢)

بيشکه د اعمالو ( د ثواب ) دارو مدار په نيتونو باندې ( موقوف ) دی . (٣)

---

(١) مشكاة المصابيح باب الكسب وطلب الحلال الفصل الاول رقم الحديث ٢٧٦٢ (٤) ، صحيح البخاري كتاب الايمان بَابُ فَضْلِ مَنِ اسْتَبْرَأَ لِدِيْنِهٖ رقم الحديث ٥٢ ، و كتاب البيوع بَابٌ : اَلْحَلَالُ بَيِّنٌ . وَالْحَرَامُ بَيِّنٌ . وَبَيْنَهُمَا مُشَبَّهَاتٌ رقم الحديث ٢٠٥١ ، صحيح مسلم كتاب المساقات بَابُ أَخْذِ الْحَلَالِ وَتَرْكِ الشُّبُهَاتِ رقم الحديث ١٠٧ ( ١٩٥٥ ) .

(٢) صحيح البخاري بَابُ بَدْءِ الْوَحْيِ كَيْفَ كَانَ بَدْءُ الْوَحْيِ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ رقم الحديث ١ ، صحيح مسلم كِتَابُ الْإِمَارَةِ بَابُ قَوْلِهٖ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّةِ رقم الحديث ١٥٥ ( ١٩٠٧ ) ، سنن ابي داؤد كِتَابُ الطَّلَاقِ بَابٌ فِيْمَا عُنِيَ بِهٖ الطَّلَاقُ وَالنِّيَّاتُ رقم الحديث ٢٢٠١ .

(٣) قَالَ النَّوَوِيُّ رَحِمَهُ اللهُ : هٰذَا أَحَدُ الْأَحَادِيْثِ الَّتِيْ عَلَيْهَا مَدَارُ الْإِسْلَامِ . قَالَ أَبُوْ دَاوُدَ : وَهِيَ أَرْبَعَةٌ . اَلْأَوَّلُ حَدِيْثُ نُعْمَانَ بْنِ بَشِيْرٍ : " « اَلْحَلَالُ بَيِّنٌ وَالْحَرَامُ بَيِّنٌ وَبَيْنَهُمَا مُشْتَبِهَاتٌ لَا يَعْلَمُهُنَّ » " . اَلثَّانِيْ : " « مِنْ حُسْنِ إِسْلَامِ الْمَرْءِ تَرْكُهُ مَا لَا يَعْنِيْهِ » " . اَلثَّالِثُ : " « لَا يَكُوْنُ الْمُؤْمِنُ مُؤْمِنًا حَتّٰى يُحِبَّ لِأَخِيْهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهٖ » " . اَلرَّابِعُ : " « اَلْأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ » " وَقِيْلَ بَدَلَ الثَّالِثِ : " « اِزْهَدْ فِي الدُّنْيَا يُحِبَّكَ اللهُ . وَازْهَدْ فِيْمَا فِيْ أَيْدِي النَّاسِ يُحِبَّكَ النَّاسُ » " . وَأَنْشَدَ الْإِمَامُ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ فِيْ مَعْنَاهُ :

عُمْدَةُ الْخَيْرِ عِنْدَنَا كَلِمَاتٌ أَرْبَعٌ ✡ قَالَهُنَّ خَيْرُ الْبَرِيَّةِ ←←←←←

# په خاموشۍ کې د ډېرو آفتونو نه نجات دی

١. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي : مَنْ صَمَتَ نَجَا . (١)
څوک چې چپ ( خاموش ) پاتې شو نو هغه نجات اُوموند .

**تشريح** امام غزالي رَحِمَهُ اللهُ ددې حديث په باره کې ليکلي چې دا جَوَامِعُ الْكَلِمْ دی ، يعنی په دې وړوکې حديث کې د عِلم لوی سمندر بَند دی ، ځکه عام طور چې انسان په غټو آفتونو او گناهونو کې اَخته کيږي نو دا د ژبې په وجه باندې وي .

وجه داده چې دروغ ، غِيبت ، رِيا ، چُغل خوري ، کنځل کول ، فحش خبرې کول ، او نور ډير گناهونه د ژبې سره تعلق لري .

اوس چې څوک د فضول خبرو نه چپ پاتې شو نو داسې کس د دُنيا او آخرت د آفتونو نه محفوظ شو ، همدارنگې په چپ والي سره انسان د خلقو د ملامتيا او د قيامت د ورځې رَسوائي نه هم محفوظه کيږي ، ځکه د هر انسان د خُلې نه چې کومه خبره اُوځي نو دا خامخا دده په عمل نامه کې ليکلې شي .

الله تعالی فرمايي : ﴿ مَا يَلْفِظُ مِن قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ ﴾ . (٢)

---

←←← اِتَّقِ الشُّبُهَاتِ وَازْهَدْ وَدَعْ ✡ مَا لَيْسَ يَعْنِيكَ وَاعْمَلَنْ بِنِيَّةِ

قُلْتُ : مَدَارُ الْأَرْبَعَةِ السُّنِّيَّةِ عَلَى تَصْحِيحِ النِّيَّةِ . فَإِنَّهُ إِذَا عَمِلَ بِالنِّيَّةِ الْمُرْتَبِطَةِ بِحُسْنِ الطَّوِيَّةِ يُوَرِّثُ لَهُ اتِّقَاءَ الشُّبُهَاتِ أَكْلًا . وَتَرْكَ مَا لَا يَعْنِيهِ قَوْلًا وَفِعْلًا . وَيَتَرَتَّبُ عَلَيْهَا الزُّهْدُ فِي الدُّنْيَا وَالزُّهْدُ فِيمَا فِي أَيْدِي النَّاسِ بِالْأَوْلَى . فَيُحِبُّ الْمُؤْمِنِينَ وَيُحِبُّونَهُ لِلَّهِ تَعَالَى . « فَنِيَّةُ الْمُؤْمِنِ خَيْرٌ مِنْ عَمَلِهِ » . مرقاة المفاتيح بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيبَةِ وَالشَّتْمِ اَلْفَصْلُ الثَّانِي ج ٧ ص ٣٠٢١ في شرح حديث ٤٨٤٠ . شرح المشكوة للطيبي ج ١٠ ص ٣١٢٥ في شرح حديث ٤٨٣٩ .

(١) سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ الْقِيَامَةِ وَالرَّقَائِقِ وَالْوَرَعِ رقم الحديث ٢٥٠١ قال الالباني : صحيح . شعب الايمان رقم الحديث ٤٦٢٩ ، مشكوة المصابيح بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيبَةِ وَالشَّتْمِ اَلْفَصْلُ الثاني رقم الحديث ٤٨٣٦(٢٥) ، مسند احمد رقم الحديث ٦٤٨١ ، و رقم الحديث ٦٦٥٤ ، سنن الدارمي رقم الحديث ٢٧٥٥ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ١١٣ ، و رقم الحديث ١١٤ ، شرح السنّة للبغوي رقم الحديث ٤١٢٩ .

(٢) ق آية ١٨ .

ترجمه: د انسان د خُلې نه چې څه خبره راأووځي نو د ده سره يوه ساتونکې فرښته تياره (د ليکلو د پاره) ناسته وي. (١)

٢. رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَسْلَمَ فَلْيَلْزِمِ الصَّمْتَ. (٢)

چاته چې دا خبره خوښه وي (يعنی دا يې اراده وي) چې دا سالم پاتې شي نو دا دې په ځان باندې چپ والې لازم کړي.

## د خاموشۍ په وجه په شيطان غالب کيدل

حضرت ابو سعيد خُدري ﷛ ته يو کس راغی او ورته وې ويل:

أَوْصِنِيْ. ماته څه وصيت اوکړه.

ده ورته اوفرمايل: عَلَيْكَ بِالصَّمْتِ إِلَّا فِيْ حَقٍّ؛ فَإِنَّكَ بِهِ تَغْلِبُ الشَّيْطَانَ. (٣)

د حق خبرو نه علاوه په نورو ځايونو کې په ځان باندې چپ والې لازم کړه، ځکه ته به په

---

(١) قَالَ الْغَزَالِيُّ رَحِمَهُ اللَّهُ: اِعْلَمْ أَنَّ مَا ذَكَرَهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ فَصْلِ الْخِطَابِ وَجَوَامِعِ الْكَلِمِ وَجَوَاهِرِ الْحِكَمِ. وَلَا يَعْرِفُ أَحَدٌ مَا تَحْتَ كَلِمَاتِهِ مِنْ بِحَارِ الْمَعَانِيْ إِلَّا خَوَاصُّ الْعُلَمَاءِ. وَذٰلِكَ أَنَّ خَطَرَ اللِّسَانِ عَظِيْمٌ وَآفَاتُهُ كَثِيْرَةٌ مِنَ الْخَطَأِ وَالْكَذِبِ وَالنَّمِيْمَةِ وَالْغِيْبَةِ وَالرِّيَاءِ وَالسُّمْعَةِ وَالنِّفَاقِ وَالْفُحْشِ وَالْمِرَاءِ وَتَزْكِيَةِ النَّفْسِ وَالْخَوْضِ فِي الْبَاطِلِ وَغَيْرِهَا. وَمَعَ ذٰلِكَ النَّفْسُ مَائِلَةٌ إِلَيْهَا؛ لِأَنَّهَا سَبَّاقَةٌ إِلَى اللِّسَانِ لَا تَثْقُلُ عَلَيْهِ وَلَهَا حَلَاوَةٌ فِي النَّفْسِ وَعَلَيْهَا بَوَاعِثُ مِنَ الطَّبْعِ وَالشَّيْطَانِ. فَالْخَائِضُ فِيْهَا قَلَّمَا يَقْدِرُ عَلَى أَنْ يَزُمَّ اللِّسَانَ فَيُطْلِقَهُ بِمَا يَجِبُ. وَيَكُفَّهُ عَمَّا لَا يَجِبُ. فَفِي الْخَوْضِ خَطَرٌ. وَفِي الصَّمْتِ سَلَامَةٌ مَعَ مَا فِيْهِ مِنْ جَمْعِ الْهَمِّ وَدَوَامِ الْوَقَارِ وَالْفَرَاغَةِ لِلْفِكْرِ وَالْعِبَادَةِ وَالذِّكْرِ وَالسَّلَامَةِ مِنْ تَبِعَاتِ الْقَوْلِ فِي الدُّنْيَا. وَمِنْ حِسَابِهِ فِي الْعُقْبٰى. وَقَدْ قَالَ تَعَالٰى: { مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيْبٌ عَتِيْدٌ } [ ق آية ١٨]. مرقاة المفاتيح ج ٧ ص ٣٠٣٨ في تشريح حديث ٤٨٣٧.

(٢) شعب الايمان رقم الحديث ٤٥٨٨، المعجم الاوسط للطبراني رقم الحديث ١٩٣٧، مجمع الزوائد باب ماجاء في الصمت وحفظ اللسان رقم الحديث ١٨١٤٢، كنز العمال رقم الحديث ٦٨٨٩، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٤٣٥٨، الصمت لابن ابي الدنيا رقم الحديث ١١.

(٣) إِنَّ رَجُلًا قَالَ لِأَبِيْ سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: أَوْصِنِيْ. قَالَ: عَلَيْكَ بِالصَّمْتِ إِلَّا فِيْ حَقٍّ؛ فَإِنَّكَ بِهِ تَغْلِبُ الشَّيْطَانَ. الصمت وآداب اللسان لابن ابي الدنيا ج ١ ص ٨٥ رقم ٩١ بَابُ النَّهْيِ عَنْ فُضُوْلِ الْكَلَامِ. وَالْخَوْضِ فِي الْبَاطِلِ.

دې چپ والي سره په شيطان باندې غالِب شي.

## د خبرو أقسام ، او د هر قسم حُکم

د خبرو څلور (۴) قِسمونه دي: يو قِسم هغه خبرې دي چې په هغې کې خالِص ضرر وي. دويم قِسم هغه خبرې دي چې په هغې کې خالِصه نفع وي. دريم قِسم هغه خبرې دي چې په هغې کې ضرر او نفع دواړه وي. او څلورم قِسم هغه خبرې دي چې په هغې کې نه نفع وي او نه ضرر وي.

ددې هر قِسم حُکم دا دی چې په کومو خبرو کې خالِص ضرر وي نو د هغې نه منع کيدل ضروري دي.

همدارنګې په کومو خبرو کې چې ضرر او منفعت دواړه وي نو د هغې نه هم ځان ساتل لازمي دي، ځکه د ضرر نه بچ کيدل ضروري دي.

او په کومو خبرو کې چې نه نفع وي او نه نقصان وي نو د هغې نه هم خاموشه پاتې کيدل بهتر دي، ځکه دا فضول خبرې دي او په فضول خبرو کې خپل وخت ضائع کول ندي په کار.

او په کومو خبرو کې چې خالص نفع وي نو اګر چې په هغې کې ځان مشغولول جائز دي، خو په دې کې هم ددې خبرې لحاظ ساتل ضروري دی چې انسان په رِياء، تکبّر، غِيبت، دروغو او نورو ګناهونو کې مبتلاء نشي.

حاصل دا چې په هر صورت کې خاموشي بهتر ده، ځکه په خاموشۍ سره انسان د ژبې د مختلف قِسمه ګناهونو، نقصاناتو او آفتونو نه محفوظه کيږي.

يو چا د ژبې په باره کې ډيره ښه خبره کړې:

أَللِّسَانُ جِرْمُهُ صَغِيْرٌ وَجُرْمُهُ كَبِيْرٌ وَكَثِيْرٌ.

د ژبې جُثه وړه ده خو جُرمونه يې لوي او ډير دي. (۱)

(۱) وَيَدُلُّكَ عَلَى لُزُوْمِ الصَّمْتِ أَمْرٌ ، وَهُوَ أَنَّ الْكَلَامَ أَرْبَعَةُ أَقْسَامٍ ، قِسْمٌ هُوَ ضَرَرٌ مَحْضٌ ، وَقِسْمٌ هُوَ نَفْعٌ مَحْضٌ ، وَقِسْمٌ فِيْهِ ضَرَرٌ وَمَنْفَعَةٌ ، وَقِسْمٌ لَا ضَرَرَ فِيْهِ وَلَا مَنْفَعَةَ . أَمَّا الَّذِيْ هُوَ ضَرَرٌ مَحْضٌ فَلَا بُدَّ مِنَ السُّكُوْتِ عَنْهُ ، وَكَذٰلِكَ مَا فِيْهِ ضَرَرٌ وَمَنْفَعَةٌ لَا تَفِيْ بِالضَّرَرِ ، وَأَمَّا مَا لَا مَنْفَعَةَ فِيْهِ ←←←←←←

# خاموشي سره‌زر ده

د حضرت سليمان عليه السلام نه نقل دي:

إِنْ كَانَ الْكَلَامُ مِنْ فِضَّةٍ فَالصَّمْتُ مِنْ ذَهَبٍ.

که چيرته خبرې کول سپين زر وي نو خاموشي سره‌زر ده.(١)

علماؤ ليکلي چې د حکمت لس (١٠) حصې دي، په دې کې نهه (٩) حصې حکمت په خاموشۍ کې دي او لسمه حصه حکمت د خلقو نه په څنډه کيدو کې دی.(٢)

# خاموشي او خُوش اَخلاقي وَزن دار عمل دی

رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت ابوذر رضي الله عنه ته اوفرمايل:

---

←←←← وَلَا ضَرَرَ فَهُوَ فُضُولٌ، وَالْإِشْتِغَالُ بِهِ تَضْيِيعُ زَمَانٍ، وَهُوَ عَيْنُ الْخُسْرَانِ ظَاهِرًا، فَلَا يَبْقَى إِلَّا الْقِسْمُ الرَّابِعُ، وَفِيهِ خَطَرٌ إِذَا قَدْ يَمْتَزِجُ بِهِ مَا فِيهِ إِثْمٌ مِنْ دَقَائِقِ الرِّيَاءِ وَالتَّصَنُّعِ وَالْغِيبَةِ وَتَزْكِيَةِ النَّفْسِ وَفُضُولِ الْكَلَامِ اِمْتِزَاجًا يَخْفَى مَدْرَكُهُ، فَيَكُونُ الْإِنْسَانُ بِهِ مُخَاطِرًا اھ وَحَاصِلُهُ أَنَّ آفَاتَ اللِّسَانِ غَيْرُ مَحْصُورَةٍ، وَفِي الصَّمْتِ خَلَاصٌ مِنْهَا، وَقَدْ قِيلَ: اَللِّسَانُ جِرْمُهُ صَغِيرٌ وَجُرْمُهُ كَبِيرٌ وَكَثِيرٌ. مرقاة المفاتيح ج ٧ ص ٣٠٣٩ في تشريح حديث ٤٨٣٧.

(١) عَنِ الْأَوْزَاعِيِّ قَالَ: "قَالَ سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ عَلَيْهِمَا السَّلَامُ: إِنْ كَانَ الْكَلَامُ مِنْ فِضَّةٍ، فَالصَّمْتُ مِنْ ذَهَبٍ" الصمت وآداب اللسان لابن ابي الدنيا ج ١ ص ٢٧٥ رقم ٦٠٨ بَابٌ جَامِعٌ لِمَا تَقَدَّمَ مِنَ الْأَبْوَابِ. الترغيب والترهيب لقوام السنة رقم الحديث ١٧٢٣، احياء علوم الدين ج٣ ص ١١٠، حسن السمت في الصمت ج١ ص ٨٢.

وفي رواية: عَنْ خَاقَانَ بْنِ عَبْدِ اللهِ، قَالَ: سَمِعْتُ ابْنَ الْمُبَارَكِ، وَسُئِلَ عَنْ قَوْلِ لُقْمَانَ لِابْنِهِ: إِنْ كَانَ الْكَلَامُ مِنْ فِضَّةٍ، فَإِنَّ الصَّمْتَ مِنْ ذَهَبٍ. فَقَالَ عَبْدُ اللهِ: «لَوْ كَانَ الْكَلَامُ بِطَاعَةِ اللهِ مِنْ فِضَّةٍ، فَإِنَّ الصَّمْتَ عَنْ مَعْصِيَةِ اللهِ مِنْ ذَهَبٍ». الصمت وآداب اللسان لابن ابي الدنيا ج ١ ص ٣٠٨ رقم ٧٣٦ بَابٌ جَامِعٌ لِمَا تَقَدَّمَ مِنَ الْأَبْوَابِ.

(٢) عَنْ وُهَيْبِ بْنِ الْوَرْدِ رَحِمَهُ اللهُ، قَالَ: كَانَ يُقَالُ: اَلْحِكْمَةُ عَشَرَةُ أَجْزَاءٍ: فَتِسْعَةٌ مِنْهَا فِي الصَّمْتِ، وَالْعَاشِرَةُ عُزْلَةُ النَّاسِ. الصمت وآداب اللسان لابن ابي الدنيا ج ١ ص ٦٢ رقم ٣٦ بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَفَضْلِ الصَّمْتِ

همدا سې خبره د حضرت عيسى عليه السلام نه هم نقل ده، قَالَ عِيسَى عَلَيْهِ السَّلَامُ: اَلْعِبَادَةُ عَشَرَةُ أَجْزَاءٍ، تِسْعَةٌ مِنْهَا فِي الصَّمْتِ، وَجُزْءٌ فِي الْفِرَارِ مِنَ النَّاسِ. نزهة المجالس ١٣٣/١ فصل في زكاة الأعضاء وهي كفها عن المحرمات

يَا أَبَا ذَرٍّ ! أَلَا أَدُلُّكَ عَلَى خَصْلَتَيْنِ هُمَا أَخَفُّ عَلَى الظَّهْرِ وَأَثْقَلُ فِي الْمِيزَانِ ؟

اې ابوذر ! آيا زه تاته داسې دوه عملونه اُوښائم چې هغه په شا (يا : ژبه) باندې ډير آسان دي، ليکن (د قيامت په ورځ) په تله د ميزان کې ډير درانه دي.

حضرت ابوذر رضي الله عنه ورته اوفرمايل : آو (ضروريې اُوښايې).

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل :

طُوْلُ الصَّمْتِ ، وَحُسْنُ الْخُلُقِ . وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ مَا عَمِلَ الْخَلَائِقُ بِمِثْلِهِمَا . (١)

اُوږده چُوپتيا (يعنی ډير خاموش پاتې کيدل) ، او خُوش اَخلاقي . قسَم په هغه ذات چې د هغه په قبضهٔ قدرت کې زما ساه ده خلقو ددې دوه خصلتونو نه بهتر بل هيڅ عمل ندې کړی (يعنی ددې دوه خُويونو نه بهترين بل هيڅ عمل نشته ) .

همداسې مضمون په نورو آحاديثو کې هم ذکر شوی . (٢)

## د فضول خبرو نه چپ پاتې کيدل د شپيتو کالو د عبادت نه بهتر دي

د مشکوة شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَقَامُ الرَّجُلِ بِالصَّمْتِ أَفْضَلُ مِنْ عِبَادَةِ سِتِّيْنَ سَنَةً . (٣)

---

(١) عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : « يَا أَبَا ذَرٍّ ! أَلَا أَدُلُّكَ عَلَى خَصْلَتَيْنِ هُمَا أَخَفُّ عَلَى الظَّهْرِ وَأَثْقَلُ فِي الْمِيزَانِ ؟ » قَالَ : قُلْتُ : بَلَى . قَالَ : « طُوْلُ الصَّمْتِ ، وَحُسْنُ الْخُلُقِ . وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ مَا عَمِلَ الْخَلَائِقُ بِمِثْلِهِمَا . مشكوة المصابيح بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيْبَةِ وَالشَّتْمِ اَلْفَصْلُ الثالث رقم الحديث ٤٨٦٧ (٥٦) ، شعب الايمان رقم الحديث ٧٦٤١ . قَالَ مِيْرَكُ نَقْلًا عَنِ الْمُنْذِرِيِّ : أَخْرَجَهُ ابْنُ أَبِي الدُّنْيَا وَالْبَزَّارُ وَالطَّبَرَانِيُّ وَأَبُوْ يَعْلَى . وَرُوَاتُهُ ثِقَاتٌ . مرقاة ج ٧ ص ٣٠٥٤ .

(٢) وَرَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ ، وَرَوَاهُ أَبُو الشَّيْخِ ابْنُ حِبَّانَ مِنْ حَدِيْثِ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " « أَلَا أُنَبِّئُكَ بِأَمْرَيْنِ خَفِيْفٌ أَمْرُهُمَا عَظِيْمٌ أَجْرُهُمَا لَمْ تَلْقَ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ بِمِثْلِهِمَا : طُوْلُ الصَّمْتِ وَحُسْنُ الْخُلُقِ » " . وَرَوَاهُ ابْنُ أَبِي الدُّنْيَا أَيْضًا عَنْ صَفْوَانَ بْنِ سُلَيْمٍ مُرْسَلًا قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " « أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِأَيْسَرِ الْعِبَادَةِ وَأَهْوَنِهَا عَلَى الْبَدَنِ ؟ اَلصَّمْتُ وَحُسْنُ الْخُلُقِ » " . مرقاة المفاتيح ج ٧ ص ٣٠٥٤ بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيْبَةِ وَالشَّتْمِ اَلْفَصْلُ الثالث في تشريح رقم الحديث ٤٨٦٧ (٥٦) .

(٣) مشكوة المصابيح بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيْبَةِ وَالشَّتْمِ اَلْفَصْلُ الثالث رقم الحديث ٤٨٦٥ (٥٤) .

سري ته چې په چپ والي سره کومه درجه ملاوېږي دا د شپيتو (٦٠) کالو د عبادت نه افضله ده.

**د حديث تشريح** يعنی کوم سړی چې د فضول خبرو نه ځان ساتي او هميشه خاموشي اختياروي نو دا دده د پاره د شپيتو (٦٠) کالو (نفلي) عبادت نه بهتره ده.

علامه طِيبي رحمه الله ددې مطلب دا بيان کړی چې انسان ته د خاموشۍ په وجه بانديې د الله ﷻ د طرفه کومه مرتبه ملاوېږي نو دا د شپيتو (٦٠) کالو (نفلي) عبادت نه بهتره ده. او وجه يې دا بيان کړی چې په عبادت کولو کې د آفتونو راپيخيدو خطره وي او په خاموشۍ سره انسان د هغې آفتونو نه محفوظ وي. (١)

شيخ عبدالحق مُحدِّث دهلوي رَحِمَهُ اللهُ ددې حديث په تشريح کې ليکلي: په دې حديث کې چې چپ والې د شپيتو کالو د عبادت نه افضل ګرځول شوی نو دا ځکه چې کله انسان ته په دې خاموشۍ کې د الله ﷻ په صفاتو، کائناتو او مخلوقاتو کې د فِکر کولو موقع ملاؤ شي، يا د ذِکرِ خَفي کولو موقع ورته ملاؤ شي او د انسان رُوح د الله ﷻ د ذات او صِفاتو د نُور نه رَبا حاصله کړي نو داسې د لږ فِکر واله خاموشي يقيني د هغه شپيتو کالو د عبادت نه بهتر ده چې په هغې کې زړه الله ﷻ طرف ته مُتوجّه نه وي. (٢)

## په خاموشۍ کې اُووه زره (٧٠٠٠) فائدې دي

ځنې حُکماؤ ويلي چې په خاموشۍ کې اُووه زره (٧٠٠٠) فائدې دي، دا ټولې فائدې په اُووه خبرو کې راجمع شوي، نو په هره خبره کې زر (١٠٠٠) خبرې (او فائدې) جمع دي

(١) (مَقَامُ الرَّجُلِ): بِفَتْحِ الْمِيمِ وَبِضَمِّ أَيْ: ثَبَاتُهُ (بِالصَّمْتِ)، أَيْ: بِمُدَاوَمَةِ سُكُوتِهِ عَنِ الشَّرِّ. وَقَالَ الطِّيبِيُّ: أَيْ مَنْزِلَتُهُ عِنْدَ اللهِ (أَفْضَلُ مِنْ عِبَادَةِ سِتِّينَ سَنَةً) أَيْ: مَعَ كَثْرَةِ الْكَلَامِ وَعَدَمِ التَّثَبُّتِ فِي الْمَقَامِ. قَالَ الطِّيبِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: لِأَنَّ فِي الْعِبَادَةِ آفَاتٍ يَسْلَمُ عَنْهَا بِالصَّمْتِ كَمَا وَرَدَ: مَنْ صَمَتَ نَجَا. وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ: رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ وَالْحَاكِمُ عَنْ عِمْرَانَ. لَكِنَّ لَفْظَهُ مَقَامُ الرَّجُلِ فِي الصَّفِّ فِي سَبِيلِ اللهِ. اهـ. وَلَعَلَّ الصَّمْتَ وَقَعَ فِيهِ تَصْحِيفٌ فَرَاجِعْ فِي الْأُصُولِ. مرقاة المفاتيح ج ٧ ص ٣٠٥٢ بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيبَةِ وَالشَّتْمِ الفصل الثالث في تشريح رقم الحديث ٤٨٦٥ (٥٤).

(٢) مظاهر حق ج ٢ في تشريح الحديث المذكور.

اول : خاموشي بغير د څه مشقت نه عبادت دى . دويم : خاموشي بغير د زيوراتو ( كالو ) نه ښائست دى . دريم : بغير د بادشاهۍ نه رُعب دى . څلورم : بغير د دِيوالونو نه ( حفاظتي ) قلعه ده . پنځم : د هر چا د عُذر نه خلاصيدل دي . شپږم : د كراماً كاتِبين فرښتو د پاره آرام دى . اووم : د خپلو عېبونو د پاره پَرده ده .(١)

## مؤمِن به د خبرو كولو نه مخكې سوچ كوي

د مؤمِن يو صفت دا هم دى چې دا كومه خبره كوي په هغې باندې به اول سوچ كوي ، پس كه دا خبره د شريعت برابر وي يا د خير خبره وي نو بيا به يې كوي ، او كه داسې نه وي نو چپ به وي

البته مُنافِق د خبرو كولو نه مخكې هيڅ سوچ نه كوي ، چې په خُله باندې يې هر څه راځي هغه وايي ، ددې پرواه نه كوي چې زه دا كومه خبره كوم آيا دا د شريعت برابر ده او كه نه ؟

امام غزالي رحمه الله په " إحياء العلوم " كې ذكر كړي .

إِنَّ لِسَانَ الْمُؤْمِنِ وَرَاءَ قَلْبِهِ . فَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَتَكَلَّمَ بِشَيْءٍ تَدَبَّرَهُ بِقَلْبِهِ ثُمَّ أَمْضَاهُ بِلِسَانِهِ . وَإِنَّ لِسَانَ الْمُنَافِقِ أَمَامَ قَلْبِهِ . فَإِذَا هَمَّ بِشَيْءٍ أَمْضَاهُ بِلِسَانِهِ وَلَمْ يَتَدَبَّرْهُ بِقَلْبِهِ .(٢)

بېشكه د مؤمِن ژبه د زړه نه شاته وي ( يعنى په ژبه باندې يې كنټرول حاصل وي ) ، پس دا چې كله د څه څيز متعلق د خبرې كولو اراده اوكړي نو اول په زړه كې په دې باندې سوچ اوكړي بيا يې په ژبه باندې راأوباسي . او د منافِق ژبه د زړه نه مخكې وي ( يعنى په ژبه يې قابُو نه وي حاصل ) ، پس دا چې كله د څه خبرې اِراده اوكړي نو په ژبه يې راأوباسي ، په زړه كې ورباندې هيڅ سوچ نه كوي .

---

(١) قَالَ بَعْضُ الْحُكَمَاءِ : فِي الصَّمْتِ سَبْعَةُ آلَافِ خَيْرٍ . وَقَدِ اجْتَمَعَ ذٰلِكَ كُلُّهُ فِي سَبْعِ كَلِمَاتٍ . فِي كُلِّ كَلِمَةٍ مِنْهَا أَلْفٌ . أَوَّلُهَا : أَنَّ الصَّمْتَ عِبَادَةٌ مِنْ غَيْرِ عَنَاءٍ . وَالثَّانِي : زِيْنَةٌ مِنْ غَيْرِ حُلِيٍّ . وَالثَّالِثُ : هَيْبَةٌ مِنْ غَيْرِ سُلْطَانٍ . وَالرَّابِعُ : حِصْنٌ مِنْ غَيْرِ حَائِطٍ . وَالْخَامِسُ : اَلْإِسْتِغْنَاءُ عَنِ الْإِعْتِذَارِ إِلَى أَحَدٍ . وَالسَّادِسُ : رَاحَةُ الْكِرَامِ الْكَاتِبِيْنَ . وَالسَّابِعُ : سَتْرُ الْعُيُوْبِهِ . تنبيه الغافلين ج ١ ص ٢١٧ بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ .

(٢) إحياء علوم الدين ج ٣ ص ١١٠ كتاب آفات اللسان طبع دار المعرفة بيروت

همداسې خبره د حسن بصري رَحِمَهُ اللهُ نه هم نقل شوې. (١)

## د جاهل سړي شپږ خويونه دي

## "يو په کې بې فائدې خبرې کول دي"

فقيه ابوالليث سمرقندي رَحِمَهُ اللهُ په "تَنبِيهُ الغافلين" کې ذکر کړي: يو حکيم ويلي چې په شپږو (٦) خصلتونو سره جاهِل سړې پيژندلې شي:

اول: اَلْغَضَبُ فِيْ غَيْرِ شَيْءٍ. بې ځايه غصه کول.

يعنې په انسان، حيوان، او څه چې ورته په مَخه ورځي او دايې بَد ګڼړي نو په دوی باندې غصه کوي، دا د جهالت علامه ده.

دويم: اَلْكَلَامُ فِيْ غَيْرِ نَفْعٍ. بې فائدې خبرې کول.

نو عقل مَند ته په کار دي چې بې فائدې خبرې اونکړي، صرف هغه خبرې اوکړي چې په هغې کې د دُنيا يا آخرت ګټه وي.

دريم: اَلْعَطِيَّةُ فِيْ غَيْرِ مَوْضِعٍ. بې ځايه مال ورکول.

يعنې خپل مال داسې چاته ورکوي چې د ده ته په کې هيڅ اَجر و ثواب نه وي، نو دا هم د جهالت علامه ده.

څلورم: إِفْشَاءُ السِّرِّ عِنْدَ كُلِّ أَحَدٍ. هر چاته خپل راز ښکاره کول.

پنځم: اَلثِّقَةُ بِكُلِّ إِنْسَانٍ. په هر چا باندې اِعتماد کول.

شپږم: أَنْ لَا يَعْرِفَ صَدِيْقَهُ مِنْ عَدُوِّهٖ. خپل دُوست او دُشمن نه پيژندل.

يعنې سړي ته دا په کار دي چې خپل دُوست اُوپيژني د هغه خبره اُومني، او خپل دُشمن هم اُوپيژني او د هغه نه ځان اوساتي.

---

(١) عَنِ الْحَسَنِ الْبَصْرِيِّ رَحِمَهُ اللهُ أَنَّهُ قَالَ: كَانُوْا يَقُوْلُوْنَ: إِنَّ لِسَانَ الْحَكِيْمِ مِنْ وَرَاءِ قَلْبِهٖ، فَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَقُوْلَ رَجَعَ إِلٰى قَلْبِهٖ فَإِنْ كَانَ لَهُ قَالَ، وَإِنْ كَانَ عَلَيْهِ أَمْسَكَ. وَإِنَّ الْجَاهِلَ قَلْبُهُ عَلٰى طَرَفِ لِسَانِهٖ، لَا يَرْجِعُ إِلٰى قَلْبِهٖ، مَا أَتٰى عَلٰى لِسَانِهٖ تَكَلَّمَ. تنبيه الغافلين باحاديث سيد الانبياء والمرسلين ج ١ ص ٢١٦ بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ.

د انسان آولني دشمن شيطان دی ، نو په کار ده چې شيطان ده ته د کوم کار حُکم کوي هغه او نه مني . (١)

## چپ والي د مؤمن خاص صفت دی

١ . نبي عليه السلام فرمايي : څلور (۴) صفتونه صرف په مؤمن کې وي :

چپ والي چې دا اول (او جَړه) د عبادت ده ، عاجزي ، د الله تعالی ذِکر ، او بَدي کمه کول . (٢)

٢ . په يو حديث کې دي چې پنځه (۵) خبرې په منافِق کې نه وي ( بلکه په خالِص مؤمِن کې وي ) : ١ . په دِين کې پوهه ٢ . د ژبې پرهېز ( يعنی د فضول خبرو نه ځان ساتل ) ٣ . په مَخ باندې تبَسّم ۴ . په زړه کې نُور ۵ . او د مسلمانانو سره محبت کول . (٣)

---

(١) قَالَ حَكِيمٌ مِنَ الْحُكَمَاءِ : سِتُّ خِصَالٍ يُعْرَفُ بِهِنَّ الْجَاهِلُ : أَحَدُهَا : اَلْغَضَبُ فِي غَيْرِ شَيْءٍ . يَعْنِيْ يَغْضَبُ عَلَى ابْنِ آدَمَ وَعَلَى الْحَيَوَانِ وَعَلَى كُلِّ شَيْءٍ يَسْتَقْبِلُهُ مِنْهُ مَكْرُوهٌ . فَهٰذَا مِنْ عَلَامَةِ الْجَهْلِ . وَالثَّانِي : اَلْكَلَامُ فِي غَيْرِ نَفْعٍ . فَيَنْبَغِيْ لِلْعَاقِلِ أَنْ لَا يَتَكَلَّمَ بِكَلَامٍ لَا فَائِدَةَ لَهُ فِيْهِ . وَيَنْبَغِي لَهُ أَنْ يَتَكَلَّمَ بِكُلِّ كَلَامٍ فِيْهِ مَنْفَعَةٌ فِي أَمْرِ دُنْيَاهُ وَآخِرَتِهِ . وَالثَّالِثُ : اَلْعَطِيَّةُ فِي غَيْرِ مَوْضِعٍ . يَعْنِيْ يَدْفَعُ مَالَهُ إِلَى مَنْ لَا يَكُوْنُ لَهُ فِي ذٰلِكَ أَجْرٌ . وَهُوَ عَلَامَةُ الْجَهْلِ . وَالرَّابِعُ : إِفْشَاءُ السِّرِّ عِنْدَ كُلِّ أَحَدٍ . وَالْخَامِسُ : اَلثِّقَةُ بِكُلِّ إِنْسَانٍ . وَالسَّادِسُ أَنْ لَا يَعْرِفَ صَدِيْقَهُ مِنْ عَدُوِّهِ . يَعْنِيْ أَنَّ الرَّجُلَ يَنْبَغِيْ لَهُ أَنْ يَعْرِفَ صَدِيْقَهُ فَيُطِيْعُهُ . وَيَعْرِفَ عَدُوَّهُ فَيَحْذَرَهُ . وَ أَوَّلُ الْأَعْدَاءِ هُوَ الشَّيْطَانُ . فَيَنْبَغِيْ أَنْ لَا يُطِيْعَهُ فِيْمَا يَأْمُرُهُ . تنبيه الغافلين باحاديث سيد الأنبياء والمرسلين للسمرقندي ج ١ ص ٢١٥ بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ .

(٢) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ﷺ . قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : أَرْبَعٌ لَا تُصِيْبُ إِلَّا فِي مُؤْمِنٍ : اَلصَّمْتُ وَهُوَ أَوَّلُ الْعِبَادَةِ . وَالتَّوَاضُعُ . وَذِكْرُ اللهِ تَعَالَى . وَقِلَّةُ الشَّرِّ . تنبيه الغافلين باحاديث سيد الأنبياء والمرسلين للسمرقندي ج ١ ص ٢١۴ بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ .

(٣) وَ رُوِيَ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ : خَمْسٌ لَا تَكُوْنُ فِي الْمُنَافِقِ : اَلْفِقْهُ فِي الدِّيْنِ ، وَالْوَرَعُ بِاللِّسَانِ ، وَالتَّبَسُّمُ فِي الْوَجْهِ ، وَالنُّوْرُ فِي الْقَلْبِ ، وَالْمَوَدَّةُ فِي الْمُسْلِمِيْنَ . تنبيه الغافلين ج ١ ص ٢١٥ بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ

## د بې فائدې خبرو پرېښودو په وجه اوچتې مرتبې ته رسېدل

د لقمان حکيم نه چا پوښتنه اوکړه: ته دې اوچتې مرتبې ته څه شي اورسولې؟ هغه ورته وويل: صِدْقُ الْحَدِيْثِ. وَأَدَاءُ الْأَمَانَةِ. وَتَرْكِيْ مَالَا يَعْنِيْنِيْ.
رښتيا خبرو، امانت اداء کول، او ما به فضول خبرې او فضول کارونه پرېښودل. (١)

## خاموشي هوښيارتيا ده

ننن صبا خلق هوښيار هغه چاته وايي چې ډېر چالاکه وي، ډېرې خبرې کوي، او څوک چې په خبرو کې نښي ملامته کولې. حالانکه هوښيار هغه کس دی چې (د فضول خبرو نه ځان ساتي، او) خاموشه وي.

١. حضرت لقمان رحمه الله فرمايي: اَلصَّمْتُ حِكْمَةٌ، وَقَلِيْلٌ فَاعِلُهُ. (٢)
خاموشي حکمت دی خو ددې خاموشۍ واله خلق کم دي.

٢. يو حديث کې راځي، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:
إِذَا رَأَيْتُمُ الرَّجُلَ الْمُؤْمِنَ قَدْ أُعْطِيَ زُهْدًا فِي الدُّنْيَا وَقِلَّةَ مَنْطِقٍ فَاقْتَرِبُوا مِنْهُ فَإِنَّهُ يُلْقِي الْحِكْمَةَ. (٣)

---

(١) وَذُكِرَ عَنْ لُقْمَانَ الْحَكِيْمِ أَنَّهُ قِيْلَ لَهُ: مَابَلَغَ بِكَ مَا نَرٰى؟ قَالَ: صِدْقُ الْحَدِيْثِ. وَأَدَاءُ الْأَمَانَةِ. وَتَرْكِيْ مَالَا يَعْنِيْنِيْ. تنبيه الغافلين ج ١ ص ٢١٢ بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ. الصمت لابن ابي الدنيا ج١ ص ٩٦ رقم الحديث ١١٦.
په تفسير ابن کثير کې دا خبره په دې انداز ذکر ده: كَانَ لُقْمَانُ عَلَيْهِ السَّلَامُ عَبْدًا أَسْوَدَ غَلِيْظَ الشَّفَتَيْنِ مُصَفَّحَ الْقَدَمَيْنِ. فَأَتَاهُ رَجُلٌ وَهُوَ فِيْ مَجْلِسِ أُنَاسٍ يُحَدِّثُهُمْ. فَقَالَ لَهُ: أَلَسْتَ الَّذِيْ كُنْتَ تَرْعٰى مَعِيَ الْغَنَمَ فِيْ مَكَانِ كَذَا وَكَذَا. قَالَ: نَعَمْ. فَقَالَ: فَمَا بَلَغَ بِكَ مَا أَرٰى؟ قَالَ: صِدْقُ الْحَدِيْثِ. وَالصَّمْتُ عَمَّا لَا يَعْنِيْنِيْ.
تفسير ابن كثير ج ٦ ص ٣٣٤ في تشريح سورة لقمان آية ١٢

(٢) تفسير القرطبي (الجامع لاحكام القرآن) ج ١٤ ص ٦١ في تشريح سورة لقمان آية ١٢. تفسير ابي سعود ج٧ ص ٧١، اعراب القرآن وبيانه ج٧ ص ٥٣٦ سورة لقمان آية ١٢.

(٣) شعب الايمان رقم الحديث ١٠٠٣٨، ورقم ١٠٠٥٢، سنن ابن ماجة باب الزهد في الدنيا رقم الحديث ٤١٠١، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ٩٧٥، المعجم الاوسط رقم ١٨٨٥، مشكوة المصابيح كتاب الرقاق الفصل الثالث رقم الحديث ٥٢٢٩(٧٥)، كنز العمال رقم الحديث ٦٠٦٩، الترغيب والترهيب لقوام السنة رقم ١٥٠٠، ورقم ١٧١٦.

کله چې تاسو مؤمن سړی اوګورئ چې هغه ته د دُنيا نه بې رَغبتي او لږې خبرې ورکړې شوي (يعنې د دُنيا سره يې مِينه نه وي او کمې خبرې کوي) نو هغه ته ورنژدې شئ (د هغه په مجلس کې کينئ) ځکه هغه د حکمت نه ډکې خبرې کوي. (١)

## د څلورو بادشاهانو د حکمت نه ډکې خبرې

ابوبکر بن عياش رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې په يو ځای کې څلور بادشاهان راجمع وو: د فارس بادشاه، د رُوم بادشاه، د هندوستان بادشاه، او د چين بادشاه. دوی څلور د حِکمت نه ډکې خبرې اوکړې:

يو ووېل: تر څو پورې چې ما خبره نه وي کړي نو زه ددې په رَد (واپس) کولو باندې قادريم، خو که خبره مې کړې وي نو بيا ددې په واپس کولو قادِر نه يم.

دويم ووېل: کله چې زه خبره اوکړم نو بيا هغه زما مالِکه وي، او چې تر څو مې نه وي کړې نو زه د هغې مالِک يم.

دريم ووېل: زه هيڅ کله په هغه خبره نه يم پښيمانه شوی چې هغه ما نه وي کړې، ليکن په هغه خبره پښيمانه شوې يم چې ما کړې وي.

څلورم ووېل: زه په خبرو کوونکي باندې تعجب کوم که دا خبره ده ته راواپس شي نو ده ته ضَرَر رسوي، او که ورته راواپس نشي نو فائده نه ورکوي. (٢)

---

(١) **نوټ**: اګر چې دې حديث ته امام الباني ضعيف ويلی، ليکن په ضعيف حديث کې چې کله خپل شرائط برابر وي نو هغه په فضائلو کې معتبر دی. ابوالشمس علي عنه

وفي رواية: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا رَأَيْتُمُ الْمُؤْمِنَ صَمُوْتًا وَقُوْرًا فَادْنُوْا مِنْهُ فَإِنَّهُ يُلَقِّنُ الْحِكْمَةَ. احياء علوم الدين ج ٣ ص ١١٠ كتاب آفات اللسان

(٢) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الْمُبَارَكِ، ثنا أَبُوْ بَكْرِ بْنُ عَيَّاشٍ قَالَ: اِجْتَمَعَ أَرْبَعَةُ مُلُوْكٍ، مَلِكُ فَارِسٍ، وَمَلِكُ الرُّوْمِ، وَمَلِكُ الْهِنْدِ، وَمَلِكُ الصِّيْنِ، فَتَكَلَّمُوْا بِأَرْبَعِ كَلِمَاتٍ كَأَنَّمَا رُمِيَ بِهِنَّ عَنْ قَوْسٍ وَاحِدَةٍ. فَقَالَ أَحَدُهُمْ: أَنَا عَلَى قَوْلِ مَا لَمْ أَقُلْ أَقْدَرُ مِنِّيْ عَلَى رَدِّ مَا قُلْتُ. وَقَالَ الْآخَرُ: إِذَا قُلْتُهَا مَلَكَتْنِيْ، وَإِذَا لَمْ أَقُلْهَا مَلَكْتُهَا. وَقَالَ الْآخَرُ: لَا أَنْدَمُ عَلَى مَا لَمْ أَقُلْ وَقَدْ أَنْدَمُ عَلَى مَا قُلْتُ. وَقَالَ الْآخَرُ: عَجِبْتُ لِمَنْ يَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ إِنْ رُفِعَتْ عَلَيْهِ ضَرَّتْهُ، وَإِنْ لَمْ تُرْفَعْ عَلَيْهِ لَمْ تَنْفَعْهُ. حلية الأولياء وطبقات الأصفياء لابي نعيم الاصفهاني ج ٨ ص ١٧٠ عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ.... احياء علوم الدين ج ٣ ص ١١١ بيان عظيم خطر اللسان ....، الصمت لابن ابي الدنيا ج ١ ص ٧١ رقم ٦٥.

## په خبرو پښېمانه کېدل

۱. لقمان حکيم خپل ځوی ته نصيحت کولو نو ورته وې ويل:

.... مَنْ لَا يَمْلِكُ لِسَانَهُ يَنْدَمْ. (۱)

څوک چې د خپلې ژبې مالک نه وي هغه به پښېمانه شي.

۲. همدارنګې چې څوک بې کنټروله ډيرې خبرې کوي نو د خلې نه به يې غلطې خبرې هم ډيرې راأوځي.

## ډيرې خبرې کوونکی د ژبې د ګناهونو نه محفوظ نه وي

۱. حسن بصري رحمه الله فرمايي: مَنْ كَثُرَ كَلَامُهُ كَثُرَ سَقَطُهُ. (۲)

څوک چې خبرې ډيرې کوي نو د هغه د خلې نه به بې کاره خبرې هم ډيرې را أوځي. (غلطياني به يې هم زياتې وي).

همدا مضمون په احاديثو کې هم ذکر دی. (۳)

۲. حضرت شَعْبِيّ أَصْبَحِي رحمه الله خو تر دې پورې فرمايلي:

مَنْ كَثُرَ كَلَامُهُ كَثُرَتْ خَطِيئَتُهُ. (۴)

د چا خبرې چې زياتې وي نو (د ژبې) ګناهونه به يې هم زيات وي.

يا خاصکر د چا ژبه چې په قابو کې نه وي نو د هغه نه په خبرو کې اکثر دروغ راأوځي.

حضرت حسن رحمه الله فرمايي:

(۱) وَذُكِرَ عَنْ لُقْمَانَ الْحَكِيمِ أَنَّهُ قَالَ لِابْنِهِ: يَا بُنَيَّ! مَنْ يَصْحَبْ صَاحِبَ السُّوءِ لَمْ يَسْلَمْ. وَمَنْ يَدْخُلْ مَدْخَلَ السُّوءِ يُتَّهَمْ. وَمَنْ لَا يَمْلِكْ لِسَانَهُ يَنْدَمْ. تنبيه الغافلين ج ۱ ص ۲۱۶ بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ

(۲) تنبيه الغافلين ج ۱ ص ۲۱۹ باب حفظ اللسان.

(۳) المعجم الاوسط رقم ۶۵۴۱، مجمع الزوائد رقم ۱۸۱۷۲، كنز العمال رقم ۶۹۰۱، ورقم ۷۸۷۰، الصمت لابن ابي الدنيا رقم ۵۳، الترغيب والترهيب لقوام السنة رقم ۱۷۳۵، ورقم ۲۳۷۷، مرقاة المفاتيح ج ۱ ص ۱۰۶..

(۴) الصمت وآداب اللسان لابن ابي الدنيا ج ۱ ص ۸۵ رقم ۸۹ بَابُ النَّهْيِ عَنْ فُضُولِ الْكَلَامِ. وَالْخَوْضِ فِي الْبَاطِلِ

... مَنْ كَثُرَ كَلَامُهُ كَثُرَ كَذِبُهُ . (١)

د چا خبرې چې زياتې وي نو دروغ به يې هم زيات وي .

## اشعار

يو شاعر وايي : اَلْعِلْمُ زَيْنٌ وَالسُّكُوْتُ سَلَامَةٌ ✡ فَإِذَا نَطَقْتَ فَلَا تَكُنْ مِكْثَارًا

مَا إِنْ نَدِمْتُ عَلَى سُكُوْتِي مَرَّةً ✡ وَلَقَدْ نَدِمْتُ عَلَى الْكَلَامِ مِرَارًا (٢)

عِلم ښائست دی، او چپ والې سلامتي ده ، کله چې ته خبرې کوې نو ډېرې مه کوه .
زه تر اوسه پورې په چپ والي نه يم پښيمانه شوی ، ليکن په خبرو باندې ډېر کرتې پښيمانه شوې يم .

د پښتو متَل دی : شيخ فريده خُله پټه بهتري ده .

## د خاموشۍ د فضيلت وجه

د خاموشۍ د فضيلت وجه داده چې کوم سړی خپله ژبه د فضول خبرو نه بنده ساتي نو په دې سره دا د ژبې د ډېرو ګناهونو نه محفوظ کېږي .

لکه دروغ ، غِيبت ، چُغل خُوري ، رِيا ، منافقت ، فحش خبرې ، د خپل ځان بې ځايه صفت کول ، جَګړې ، فضول خبرې ، او د نورو مسلمانانو سپکاوې کول .

---

(١) عَنِ الْحَسَنِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : مَنْ كَثُرَ مَالُهُ كَثُرَتْ ذُنُوْبُهُ . وَمَنْ كَثُرَ كَلَامُهُ كَثُرَ كَذِبُهُ . وَمَنْ سَاءَ خُلُقُهُ عَذَّبَ نَفْسَهُ الصمت وآداب اللسان لابن ابي الدنيا ج ١ ص ٨٥ رقم ٩٠ بَابُ النَّهْيِ عَنْ فُضُوْلِ الْكَلَامِ وَالْخَوْضِ فِي الْبَاطِلِ

(٢) تنبيه الغافلين ج ١ ص ٢١٧ بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ .

د خاموشۍ او ربنتياؤ د اَهميت متعلق څه اشعار د عبدالله بن مبارک رحمه الله نه هم نقل دي :

اَلصَّمْتُ أَزْيَنُ بِالْفَتٰى ✡ مِنْ مَنْطِقٍ فِيْ غَيْرِ حِيْنِه

وَالصِّدْقُ أَجْمَلُ بِالْفَتٰى ✡ فِي الْقَوْلِ عِنْدِيْ مِنْ يَمِيْنِه

وَعَلَى الْفَتٰى بِوَقَارِهِ ✡ سِمَةٌ تَلُوْحُ عَلٰى جَبِيْنِه .

حلية الأولياء وطبقات الأصفياء لابي نعيم الاصفهاني ج ٨ ص ١٧٠ عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ...

يو بل شاعر وايي : وَكَمْ سَاكِتٍ نَالَ الْمُنٰى بِسُكُوْتِهِ ✡ وَكَمْ نَاطِقٍ يَجْنِيْ عَلَيْهِ لِسَانُهُ .

ددينه علاوه نور ډير داسې گناهونه شته چې هغه د ژبې سره تړلي دي. بيا خاصکر چې د نفس او شيطان وَسوسه هم ورسره ملگرې شي نو چې څوک بې ځايه ډيرې خبرې کوي نو خامخا به د ژبې په گناهونو کې اَخته کيږي.

او څوک چې خاموشي اِختيار کړي نو هغه به ددې مذکوره گناهونو نه محفوظ وي. او ورسره ورسره په خاموشۍ کې دا فائده هم ده چې انسان د الله ﷻ ذِکر او عبادت ته فارغ شي، او د ډيرو غمونو نه محفوظ شي، همدارنگې د قيامت په ورځ د خبرو د حِساب نه هم محفوظ شي. (١)

همدارنگې د خاموشۍ په وجه انسان په شيطان باندې غالبه کيږي، او د هغه د شرّ نه محفوظ کيږي. (٢)

## په نن صبا مجلسونو کې بې اِحتياطي

نن صبا چې اکثر ملگري راجمع شي او په مجلس کې گپ شپ شروع کړي نو اکثر په کې دروغ وايي، غِيبت کوي او د نورو سپکاوې کوي نو په داسې مجلس کې شِرکت کول ندي په کار، ځکه په دې يو مجلس کې ډير گناهونه کيږي.

---

(١) فإن قُلتَ فهذا الفضل الكبير للصمت ما سببه ؟ فاعلم أنّ سببه كثرة آفات اللسان من الخطأ والكذب والغيبة والنميمة والرّياء والنفاق والفحش والمراء وتزكية النفس والخوض في الباطل والخصومة والفضول والتحريف والزيادة والنقصان وإيذاء الخلق وهتك العورات.

فهذه آفات كثيرة وهي سيانة إلى اللسان لا تثقل عليه ولها حلاوة في القلب وعليها بواعث من الطبع ومن الشيطان والخائض فيها قلما يقدر أن يمسك اللسان فيطلقه بما يحب ويكفه عما لا يحب فإن ذلك من غوامض العلم كما سيأتي تفصيله . ففي الخوض خطر وفي الصمت سلامة فلذلك عظمت فضيلته هذا مع ما فيه من جمع الهمّ ودوام الوقار والفراغ للفكر والذكر والعبادة والسلامة من تبعات القول في الدنيا ومن حسابه في الآخرة فقد قال الله تعالى { مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ }. احياء علوم الدين ج ٣ ص ١١١ كتاب آفات اللسان بيان عظيم خطر اللسان وفضيلة الصمت

(٢) وَاعْلَمْ أَنَّ الإِنْسَانَ لَا يَغْلِبُ الشَّيْطَانَ إِلَّا بِالسُّكُوتِ. فَيَنْبَغِيْ لِلْمُسْلِمِ أَنْ يَكُوْنَ حَافِظًا لِلِسَانِهِ. حَتّٰى يَكُوْنَ فِيْ حِرْزٍ مِنَ الشَّيْطَانِ. وَيَسْتُرُ اللهُ عَلَيْهِ عَوْرَتَهُ. تنبيه الغافلين ج ١ ص ٢١٢ بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ.

**د زَنانهؤ بې احتیاطي :** بیا خاصکر چې زَنانه سره راجمع شي نو دوی خو خالصه د نورو زَنانهؤ غیبت کوي، او د هغوی سپکاوي کوي .

نبي علیه السلام هم د زَنانهؤ په باره کې فرمایلي چې دوی په خپله ژبه باندې قابو نه لري، او په جهنم کې به د سړو په نسبت زَنانه زیاتې وي ، او سبب به یې هم هدا ژبه وي. چې دوی په ژبه باندې لعنت ډیر وایي ، او په ژبه باندې د خاوند ناشکري کوي .

د بخاري شریف او مسلم شریف حدیث دی چې رسولُ الله صلی الله علیه وسلم په غټ اَختر یا وړوکي اَختر کې عیدګاه ته اُووت ، په زَنانهؤ باندې تیریدو نو هغوی ته یې اوفرمایل : يَا مَعْشَرَ النِّسَاءِ ! تَصَدَّقْنَ فَإِنِّي أُرِيتُكُنَّ أَكْثَرَ أَهْلِ النَّارِ .

اې د زَنانهؤ ډلې ! تاسو صدقه ورکوئ ، ځکه ماته ( د معراج په شپه ، یا د وَحي په ذریعه ) دا خودلي شوي چې تاسو په جهنم کې ( د سړو په نسبت ) زیاتې یَې . ( نو د صدقې په وجه ځان د جهنم نه محفوظ کړئ ) .

زَنانهؤ پوښتنه اوکړه : وَبِمَ يَا رَسُولَ اللهِ؟ اې د الله رسوله ! دا په څه وجه باندې ؟
نبي علیه السلام ورته اوفرمایل :
تُكْثِرْنَ اللَّعْنَ ، وَتَكْفُرْنَ الْعَشِيرَ .
تاسو لعنت زیات وایَې ، او د خپلو خاوندانو ناشکري کوې . (١)

---

(١) پوره حدیث داسې دی : عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه ، قَالَ : خَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي أَضْحَى أَوْ فِطْرٍ إِلَى الْمُصَلَّى ، فَمَرَّ عَلَى النِّسَاءِ ، فَقَالَ : « يَا مَعْشَرَ النِّسَاءِ ! تَصَدَّقْنَ فَإِنِّي أُرِيتُكُنَّ أَكْثَرَ أَهْلِ النَّارِ » فَقُلْنَ : وَبِمَ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ : « تُكْثِرْنَ اللَّعْنَ ، وَتَكْفُرْنَ الْعَشِيرَ ، مَا رَأَيْتُ مِنْ نَاقِصَاتِ عَقْلٍ وَدِينٍ أَذْهَبَ لِلُبِّ الرَّجُلِ الْحَازِمِ مِنْ إِحْدَاكُنَّ » ، قُلْنَ : وَمَا نُقْصَانُ دِينِنَا وَعَقْلِنَا يَا رَسُولَ اللهِ ؟ قَالَ : « أَلَيْسَ شَهَادَةُ الْمَرْأَةِ مِثْلَ نِصْفِ شَهَادَةِ الرَّجُلِ ؟ » قُلْنَ : بَلَى ، قَالَ : « فَذَلِكِ مِنْ نُقْصَانِ عَقْلِهَا ، أَلَيْسَ إِذَا حَاضَتْ لَمْ تُصَلِّ وَلَمْ تَصُمْ ؟ » قُلْنَ : بَلَى ، قَالَ : « فَذَلِكِ مِنْ نُقْصَانِ دِينِهَا » . صحیح البخاري كِتَابُ الْحَيْضِ بَابُ تَرْكِ الْحَائِضِ الصَّوْمَ رقم الحدیث ٣٠٤ ، و رقم الحدیث ١٤٦٢ كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ الزَّكَاةِ عَلَى الأَقَارِبِ ، صحیح مسلم كِتَابُ الإِيمَانِ بَابُ بَيَانِ نُقْصَانِ الإِيمَانِ بِنَقْصِ الطَّاعَاتِ... رقم الحدیث ١٣٢ (٧٩) .

**فائده**: په دې حديث کې د زنانهؤ جهنم ته د داخليدو سبب "لعنت او د خاوند ناشکري" ذکر شو، او دا دواړه کارونه د ژبې سره تعلق لري، پس معلومه شوه چې د ژبې د غلط استعمال په وجه انسان د جهنم مستحق ګرځي.

## د غونډ تقرير خلاصه

د غونډ تقرير خلاصه دا راؤوته چې ژبه ډير لوي نعمت دی، ددې صحيح استعمالول په کار دي، ځکه د ژبې نه چې کوم لفظ راؤځي فرښتې هغه ليکي، او انسان به د قيامت په ورځ د الله ﷻ د وړاندې ددې حساب ورکوي.

د ژبې په حفاظت سره نبي عليه السلام د جنت ضمانت ورکړی چې داسې کس به يقيني جنت ته داخليږي.

د ژبې د غلط استعمال په وجه انسان پرمخې جهنم ته غورځولې شي، داسې کس به د ژبې د حساب ورکولو نه مخکې د جنت تللو نه منع وي.

لهذا د ژبې د فتنې نه يره په کار ده، که مونږ د خپلو اسلافو تاريخ اوګورو نو هغوی به هم د ژبې سره ډير احتياط کولو او د بې ځايه خبرو نه به يې ځان ساتل.

د ګناه اکثر خبرې د ژبې نه صادريږي، څوک چې د ژبې حفاظت کوي نو ده ته به د هر قسمه ګناهونو او آفتونو نه نجات حاصل وي، ايمان به يې کامل وي، او الله ﷻ به دده په عيبونو باندې پرده واچوي.

هر سهر د وجود ټول اندامونه ژبې ته عاجزي کوي او دا ورته وايي چې ته صحيح چلېږه نو مونږ به هم صحيح يو.

که ژبه صحيح استعمال شي نو دا بيا ډيره بهتره ده، خو که غلطه استعمال شي نو دا بيا ډيره خطرناکه ده، د ژبې زخم د تورې د زخم نه ډير سخت دی، په بې فائدې خبرو کولو سره زړه سختيږي او د مخ وقار ختميږي.

ځکه خو په احاديثو مبارکهؤ کې د **خاموشۍ فضيلت** بيان شوی، او انسان ته دا هدايت شوی چې يا د خير خبره اوکړي او يا چپ شي.

په خاموشۍ کې د ډيرو آفتونو نه نجات دی، ددې په وجه انسان په شيطان باندې غالب کيږي، خاموشي وزن دار عمل دی، د فضول خبرو نه خاموش پاتې کيدل د شپيتو (٦٠) کالو د عبادت نه بهتر دي، په خاموشۍ کې أووه زره (٧٠٠٠) فائدې دي، خاموشي د مؤمن خاص صفت دی، خاموشي هوښيارتيا ده، ددې په وجه انسان أوچتو مرتبو ته رسي.

څوک چې ډيرې خبرې کوي هغه به آخر هم پښيمانه کيږي، او څوک چې د فضول خبرو نه ځان ساتي نو هغه به د ژبې د ډيرو ګناهونو نه محفوظ وي.

لهذا په مجلسونو کې ډير احتياط په کار دی، خپله ژبه کنترول کول په کار دي. بلکه د فضول خبرو نه چپ پاتې کيدل ډير بهتر دي.

## دُعا

الله تعالی دې مونږ ټول د فضول خبرو نه أوساتي.

اې الله! د مونږ نه چې په خبرو کې کوم ګناهونه صادر شوي د هغې معافي راته اوکړه، او آئنده مو د ژبې د ګناهونو نه محفوظ أوساته.

اې الله! په قرآن کريم او احاديثو مبارکهؤ کې چې کوم ښه صفات ذکر شوي هغه ټول په مونږ کې پيدا کړه، او کوم بَد صفات چې په کې ذکر شوي د هغې نه مونږ ټول أوساته.

آمِيْن يَا رَبَّ الْعَالَمِيْن.

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ سَاَصْرِفُ عَنْ اٰيٰتِيَ الَّذِيْنَ يَتَكَبَّرُوْنَ فِي الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ ﴾

الأعراف آية ١٤٦

# د تکبّر سزاګانې او ددینه د بَچ کیدو طریقې

تالیف


آبُوالشَّمْس مولانا نُوْرُالهُدٰی عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فیض القُرآن اکاخیل کالونی مردان

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د تکبر سزاګانې او دديته د بچ کيدو طريقې

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ ۔ وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ الْأَنْبِيَآءِ وَأَشْرَفِ الْمُرْسَلِيْنَ ۔ وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ وَمَنْ تَبِعَهُمْ بِإِحْسَانٍ إِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ ۔

أَمَّا بَعْدُ فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ ۔ :

﴿ سَأَصْرِفُ عَنْ اٰيٰتِيَ الَّذِيْنَ يَتَكَبَّرُوْنَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ ﴾ . (۱)

وَقَالَ تَعَالٰى : ﴿ كَذٰلِكَ يَطْبَعُ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ قَلْبِ مُتَكَبِّرٍ جَبَّارٍ ﴾ . (۲)

قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ كَانَ فِيْ قَلْبِهٖ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِنْ كِبْرٍ . (۳)

---

(۱) الاعراف آية ۱۴۶ .

(۲) غافر آية ۳۵ .

(۳) عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ ﷺ ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : « لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ كَانَ فِيْ قَلْبِهٖ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِنْ كِبْرٍ » قَالَ رَجُلٌ : إِنَّ الرَّجُلَ يُحِبُّ أَنْ يَكُوْنَ ثَوْبُهُ حَسَنًا وَنَعْلُهُ حَسَنَةً . قَالَ : « إِنَّ اللّٰهَ جَمِيْلٌ يُحِبُّ الْجَمَالَ . اَلْكِبْرُ بَطَرُ الْحَقِّ وَغَمْطُ النَّاسِ » . صحيح مسلم كِتَابُ الْإِيْمَانِ بَابُ تَحْرِيْمِ الْكِبْرِ وَبَيَانِهٖ رقم الحديث ۱۴۷(۹۱) ، و رقم الحديث ۱۴۹(۹۱) ، سنن الترمذي أَبْوَابُ الْبِرِّ وَالصِّلَةِ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْكِبْرِ رقم الحديث ۱۹۹۹ ، مسند احمد رقم الحديث ۳۹۴۷ ، صحيح ابن حبان رقم الحديث ۵۴۶۶ ، الاداب للبيهقي رقم الحديث ۴۸۶ ، شعب الايمان رقم الحديث ۵۷۸۲ ، شرح السنة للبغوي رقم الحديث ۳۵۸۷ باب الكبر ووعيد المتكبرين ، مشكوة المصابيح بَابُ الْغَضَبِ وَالْكِبْرِ اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ رقم الحديث ۵۱۰۸(۵) ، كنز العمال رقم الحديث ۷۷۴۷ ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۲۹۱۲(۲۳) .

وفي رواية : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ فِيْ قَلْبِهٖ خَرْدَلَةٌ مِنْ كِبْرٍ . مجمع الزوائد ومنبع الفوائد بَابُ مَا جَاءَ فِي الْكِبْرِ رقم الحديث ۳۶۱ وقال الهيثمي : رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ فِي الْكَبِيْرِ . وَإِسْنَادُهُ حَسَنٌ . المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۳۶۳ ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۲۹۱۰(۲۱) الترغيب في التواضع والترهيب من الكبر والعجب والافتخار ، معالم السنن ج۴ ص ۱۹۶ ومن باب الكبر .

وَقَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَ السَّلَامُ : قَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ: اَلْكِبْرِيَاءُ رِدَائِيْ وَالْعَظَمَةُ إِزَارِيْ فَمَنْ نَازَعَنِيْ وَاحِدًا مِنْهُمَا قَذَفْتُهُ فِي النَّارِ . (١)

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْم .

## تمهيدي خبره

زما خوږو قدرمنو او عزت مندو مسلمانانو وروڼو ! په قرآن کريم او احاديثو مبارکه ؤ کې چې د کومو بَدو صفتونو ذکر شوی او انسان د هغې نه منع شوی نو په هغې کې تکبّر هم دی د ټولو نه اول درته د تکبّر تعريف او حُکم بيانوم چې ددې په حقيقت باندې پوره پوهه شي ، بيا به اِنْ شَاء الله د تکبّر سزاګانې ، نقصانات ، اَسباب ، اَقسام او ددې علاج بيانوم .

## د تکبّر تعريف

تکبّر په لغت کې اُوچت والي ته وايي . (٢)

---

(١) سنن ابي داؤد كِتَابُ اللِّبَاسِ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْكِبْرِ رقم الحديث ٤٠٩٠ قال الالباني : صحيح . مسند احمد رقم الحديث ٩٣٥٩ ، صحيح ابن حبان رقم الحديث ٥٦٧١ باب التواضع والكبر والعجب ، شعب الايمان رقم الحديث ٧٨٠٩ ، مشكوة المصابيح بَابُ الْغَضَبِ وَالْكِبْرِ اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ رقم الحديث ٥١١٠(٧) ، كنز العمال رقم الحديث ٧٧٤٠ ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ٢٨٩٨(٩)

وفي رواية : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، يَقُوْلُ اللهُ سُبْحَانَهُ : اَلْكِبْرِيَاءُ رِدَائِيْ ، وَالْعَظَمَةُ إِزَارِيْ . مَنْ نَازَعَنِيْ وَاحِدًا مِنْهُمَا اَلْقَيْتُهُ فِيْ جَهَنَّمَ . سنن ابن ماجة كِتَابُ الزُّهْدِ بَابُ الْبَرَاءَةُ مِنَ الْكِبْرِ وَالتَّوَاضُعُ رقم الحديث ٤١٧٤ قال الالباني : صحيح . مسند احمد رقم الحديث ٩٥٠٨ ، و رقم الحديث ٩٧٠٣ ، ومثل هذا في صحيح مسلم رقم الحديث ١٣٦(٢٦٢٠) باب تحريم الكبر .

(٢) اَلْكِبْرُ بِكَسْرِ الْكَافِ وَسُكُوْنِ الْبَاءِ عِنْدَ أَهْلِ اللُّغَةِ : اَلْعَظَمَةُ . الصحاح لاسماعيل بن حماد الجوهري . وَكِبْرُ الشَّيْءِ مُعْظَمُهُ . قَالَ تَعَالَى : { وَالَّذِيْ تَوَلّٰى كِبْرَهٗ مِنْهُمْ لَهٗ عَذَابٌ عَظِيْمٌ } . النور آية ١١ ) أَيْ : تَحَمَّلَ مُعْظَمَهُ . الموسوعة الفقهية الكويتية ج ٣٤ ص ١٦٥ كبر .

اَلْكِبْرُ لُغَةً : اِسْمٌ كَالْكِبْرِيَاءِ بِمَعْنَى الْعَظَمَةِ ، وَهُوَ مَأْخُوْذٌ مِنْ مَادَّةِ (ك ب ر) اَلَّتِيْ تَدُلُّ عَلَى خِلَافِ الصِّغَرِ . قَالَ ابْنُ فَارِسٍ : وَمِنَ الْبَابِ الْكِبْرُ وَهُوَ الْهَرَمُ . وَالْكِبْرُ : اَلْعَظَمَةُ ، وَكَذٰلِكَ الْكِبْرِيَاءُ . يُقَالُ : وَرِثُوا الْمَجْدَ كَابِرًا عَنْ كَابِرٍ ، أَيْ كَبِيْرًا عَنْ كَبِيْرٍ فِي الشَّرَفِ وَالْعِزِّ . وَأَكْبَرْتُ الشَّيْءَ اِسْتَعْظَمْتُهُ . وَالتَّكَبُّرُ وَالْاِسْتِكْبَارُ : اَلتَّعَظُّمُ ←←←

او په اصطلاح کې تکبّر دېته وايي چې انسان خپل ځان په نورو باندې اُوچت ګڼړي، د حَق نه انکار کوي، او نور خلق ورته سپک ښکاري. (١)

← ← ← وَكِبْرُ الشَّيْءِ مُعْظَمُهُ. قَالَ تَعَالَى: ﴿ وَالَّذِي تَوَلَّىٰ كِبْرَهُ مِنْهُمْ لَهُ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴾ . النور آية ١١ . أي مُعْظَمَ أَمْرِهِ.

وَقَالَ ابْنُ مَنْظُورٍ: اَلْكِبْرُ بِالْكَسْرِ: اَلْكِبْرِيَاءُ. وَالْكِبْرُ الْعَظَمَةُ وَالتَّجَبُّرُ. وَقِيْلَ: اَلرِّفْعَةُ فِي الشَّرَفِ. وَقِيْلَ هِيَ عِبَارَةٌ عَنْ كَمَالِ الذَّاتِ. وَلَا يُوْصَفُ بِهَا إِلَّا اللهُ تَعَالَى. يُقَالُ: تَكَبَّرَ. وَاسْتَكْبَرَ. وَتَكَابَرَ. وَقِيْلَ: تَكَبَّرَ: مِنَ الْكِبْرِ وَتَكَابَرَ: مِنَ السِّنِّ. وَالتَّكَبُّرُ وَالْإِسْتِكْبَارُ: اَلتَّعَظُّمُ. نضرة النعيم في مكارم اخلاق الرسول الكريم - صلى الله عليه وسلم ج ١١ ص ٥٣٥٢ الكبر والعُجب.

(١) وَاصْطِلَاحًا: هُوَ بَطَرُ الْحَقِّ وَغَمْطُ النَّاسِ.

وَقَالَ الْغَزَالِيُّ رَحِمَهُ اللهُ. هُوَ اسْتِعْظَامُ النَّفْسِ وَرُؤْيَةُ قَدْرِهَا فَوْقَ قَدْرِ الْغَيْرِ.

وَقَالَ أَيْضًا رَحِمَهُ اللهُ: اَلْكِبْرُ حَالَةٌ يَتَخَصَّصُ بِهَا الْإِنْسَانُ مِنْ إِعْجَابِهِ بِنَفْسِهِ وَأَنْ يَرَى نَفْسَهُ أَكْبَرَ مِنْ غَيْرِهِ. إحياء علوم الدين ج ٣ ص ٣٥٣ كتابُ ذمِّ الكِبْرِ والعُجب بَيَانُ حَقِيقَةِ الكِبْرِ وآفَتِهِ

وَقَالَ التَّهَانَوِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: جَهْلُ الْإِنْسَانِ بِنَفْسِهِ وَإِنْزَالُهَا فَوْقَ مَنْزِلَتِهَا. كشاف اصطلاحات الفنون ٣/ ١٢٤٧.

وَقَالَ الْجَاحِظُ رَحِمَهُ اللهُ: اَلْكِبْرُ هُوَ اسْتِعْظَامُ الْإِنْسَانِ نَفْسَهُ، وَاسْتِحْسَانُ مَا فِيهِ مِنَ الْفَضَائِلِ. وَالْإِسْتِهَانَةُ بِالنَّاسِ وَاسْتِصْغَارُهُمْ وَالتَّرَفُّعُ عَلَى مَنْ يَجِبُ التَّوَاضُعُ لَهُ. تهذيب الاخلاق ص ٣٢.

وَقَالَ الْكَفَوِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: اَلتَّكَبُّرُ: هُوَ أَنْ يَرَى الْمَرْءُ نَفْسَهُ أَكْبَرَ مِنْ غَيْرِهِ. وَالْإِسْتِكْبَارُ طَلَبُ ذٰلِكَ التَّشَبُّعِ وَهُوَ التَّزَيُّنُ بِأَكْثَرَ مِمَّا عِنْدَهُ الكليات للكفوى ص ٢٨ . نضرة النعيم ج ١١ ص ٥٣٥٣ الكبر والعُجب

په الموسوعة الفقهية کې د تکبّر اصطلاحي تعريف داسې ذکر شوی: وَاصْطِلَاحًا: عَرَّفَهُ الْغَزَالِيُّ رَحِمَهُ اللهُ بِأَنَّهُ الْخُلُقُ الَّذِي فِي النَّفْسِ. وَهُوَ الْإِسْتِرْوَاحُ وَالرُّكُونُ إِلَى رُؤْيَةِ النَّفْسِ فَوْقَ الْمُتَكَبَّرِ عَلَيْهِ.

وَعَرَّفَهُ ابْنُ الْقَيِّمِ رَحِمَهُ اللهُ: بِأَنَّهُ خُلُقٌ بَاطِنٌ يَصْدُرُ عَنْ أَعْمَالٍ هِيَ ثَمَرَتُهُ. فَيَظْهَرُ عَلَى الْجَوَارِحِ. وَذٰلِكَ الْخُلُقُ هُوَ رُؤْيَةُ النَّفْسِ عَلَى الْمُتَكَبَّرِ عَلَيْهِ. يَعْنِي يَرَى نَفْسَهُ فَوْقَ الْغَيْرِ فِي صِفَاتِ الْكَمَالِ.

وَهُوَ فِي سُنَّةِ الرَّسُولِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: عَدَمُ قَبُولِ الْحَقِّ تَرَفُّعًا. وَاحْتِقَارُ النَّاسِ. فَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: اَلْكِبْرُ بَطَرُ الْحَقِّ وَغَمْطُ النَّاسِ. الموسوعة الفقهية الكويتية ج ٣٤ ص ١٦٥ كبر. ومختصر منهاج القاصدين ص ٢٣٦.

نبي عليه السلام د تکبر تعريف داسې کړی :

اَلْكِبْرُ بَطَرُ الْحَقِّ وَغَمْطُ النَّاسِ. (١)

تکبر د حق نه اِنکار کول او خلقو ته سپَک کتل دي .

**نوټ** : تکبّر ښائسته جامو اغوستلو ، يا ښائسته څپلو استعمالولو ، يا قيمتي ګاډي کې ګرځيدلو ته نه وايي ، بلکه تکبّر د زړه بيماري ده چې انسان د حق نه اِنکار کوي او نور خلق ورته سپَک ښکاري . ((د دې خبرې پوره تفصيل روستو په صفحه ٢١٢ راروان دی)).

## د تکبر حُکم

امام ذهبي رَحِمَهُ اللهُ په " الكبائر " کې د قرآن کريم په ډيرو آيتونو او صحيح احاديثو سره دا ثابته کړې چې تکبّر ګناهِ کبيره ده .

همدارنګې علامه ابن حجر رَحِمَهُ اللهُ هم په " الزواجر " کې تکبّر مستقله ګناهِ کبيره شمار کړې . (٢)

---

(١) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ رضي الله عنه ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : « لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ كَانَ فِيْ قَلْبِهِ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِنْ كِبْرٍ » قَالَ رَجُلٌ : إِنَّ الرَّجُلَ يُحِبُّ أَنْ يَكُوْنَ ثَوْبُهُ حَسَنًا وَنَعْلُهُ حَسَنَةً ، قَالَ : « إِنَّ اللهَ جَمِيْلٌ يُحِبُّ الْجَمَالَ ، اَلْكِبْرُ بَطَرُ الْحَقِّ وَغَمْطُ النَّاسِ » . صحيح مسلم كِتَابُ الإِيْمَانِ بَابُ تَحْرِيْمِ الْكِبْرِ وَبَيَانِهِ رقم الحديث ١٤٧(٩١) ، و رقم الحديث ١٤٩(٩١) ، سنن الترمذي أَبْوَابُ الْبِرِّ وَالصِّلَةِ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْكِبْرِ رقم الحديث ١٩٩٩ ، مسند احمد رقم الحديث ٣٩٤٧ ، صحيح ابن حبان رقم الحديث ٥٤٦٦ ، الاداب للبيهقي رقم الحديث ٤٨٦ ، شعب الايمان رقم الحديث ٥٧٨٢ ، شرح السنّة للبغوي رقم الحديث ٣٥٨٧ باب الكبر ووعيد المتكبرين ، مشكوة المصابيح بَابُ الْغَضَبِ وَالْكِبْرِ اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ رقم الحديث ٥١٠٨(٥) ، كنزالعمال رقم الحديث ٧٧٤٧ ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ٢٩١٢(٢٣) .

(٢) اَلْكَبِيْرَةُ السَّابِعَةُ عشر اَلْكِبْرُ . (اوولسمه کبيره ګناه تکبر ده) . الكبائر للذهبي ص ٧٦ .

اَلْكَبِيْرَةُ الرَّابِعَةُ الْكِبْرُ وَالْعُجْبُ وَالْخُيَلَاءُ . الزواجر عن اقتراف الكبائر لابن حجر ص ١٠٩ .

په نضرة النعيم کې ذکر دي ، ذَكَرَ الذَّهَبِيُّ أَنَّ الْكِبْرَ مِنَ الْكَبَائِرِ وَاسْتَدَلَّ بِآيَاتٍ وَأَحَادِيْثَ عَدِيْدَةٍ ... وَقَدْ عَدَّهُ الإِمَامُ ابْنُ حَجَرٍ أَيْضًا مِنَ الْكَبَائِرِ وَجَعَلَ مَعَهُ الْعُجْبَ وَالْخُيَلَاءَ . نضرة النعيم ١١/ ٥٣٥٥ الكبر والعجب

بلکه د ټولو علماؤ په دې باندې اتفاق دی چې تکبّر ګناهِ کبیره ده ، او ددې سختې سزاګاني ذکر شوي . (١)

لهذا تکبّر حرام دی . (٢)

بلکه علامه ابن قیم رَحِمَهُ اللهُ تکبّر د کُفر په اَقسامو کې داخل کړی ، هغه په دې خبره باندې مستقل فصل قائم کړی :

فَصْلٌ : أَرْكَانُ الْكُفْرِ أَرْبَعَةٌ : اَلْكِبْرُ وَالْحَسَدُ وَالْغَضَبُ وَالشَّهْوَةُ .

فصل دی په بیان ددې کې چې د کُفر اَرکان څلور دي : تکبّر ، حسد ، غضب او شهوت . (٣)

---

(١) اِتَّفَقَ الْعُلَمَاءُ عَلَى أَنَّ الْكِبْرَ مِنَ الْكَبَائِرِ . ذَكَرَ ذٰلِكَ الذَّهَبِيُّ . الموسوعة الفقهية الكويتية ج ٣٤ ص ١٦٧ كبر .

(٢) قَالَ النووي رَحِمَهُ اللهُ : قَالَ العلماءُ : الخيلاءُ والمخيلةُ والبطرُ والذهو والتبختر كلّها بمعنى واحدٍ وَهُوَ حَرَامٌ . اتحاف السادة المتقين ٣٤٧/٨ كتاب العجب والكبر بيان ذم الاختيال واظهار آثار الكبر في المشي ، فتاوى محموديه ج ٢٩ ص ٣٠٢ تحقير مسلم كا بيان .

(٣) علامه ابن قیم رحمه الله فرمایي : فَصْلٌ : أَرْكَانُ الْكُفْرِ أَرْبَعَةٌ : اَلْكِبْرُ وَالْحَسَدُ وَالْغَضَبُ وَالشَّهْوَةُ . فالكبرُ يمنعهُ الانقياد . والحسدُ يمنعهُ قبولَ النَّصِيحَة وبذلها . وَالْغَضَب يمنعهُ العدْلَ . والشهوة تمنعهُ التفرغ لِلْعِبَادَةِ . فَإِذا انْهَدم ركنُ الكبر سهل عَلَيْهِ الانقياد . وَإِذا انْهَدم ركنُ الْحَسَد سهل عَلَيْهِ قبُول النصح وبذله . وَإِذا انْهَدم ركنُ الْغَضَب سهل عَلَيْهِ الْعدْل والتواضع . وَإِذا انْهَدم ركن الشَّهْوَة سهل عَلَيْهِ الصَّبْر والعفاف وَالْعِبَادَة . وَزَوَال الجبَال عَن أماكنها أيسر من زَوَال هٰذِه الْأَرْبَعَة عَمَّن بلي بهَا . وَلَا سِيمَا إِذا صَارَت هيئات راسخة وملكات وصفات ثَابِتَة . فَإِنَّهُ لَا يَسْتَقِيم لَهُ مَعهَا عمل الْبَتَّةَ . وَلَا تزكو نَفسه مَعَ قِيَامهَا بهَا . وَكلما اجْتهد فِي الْعَمَل أفسدته عَلَيْهِ هٰذِه الْأَرْبَعَة . وكل الْآفَات مُتَوَلّدَة مِنْهَا . وَإِذا استحكمت فِي الْقلب أرته الْبَاطِل فِي صُورَة الْحق وَالْحق فِي صُورَة الْبَاطِل . وَالْمَعْرُوف فِي صُورَة الْمُنكر وَالْمُنكر فِي صُورَة الْمَعْرُوف وقربت مِنْهُ الدُّنْيَا وبعدت مِنْهُ الْآخِرَة . وَإِذا تَأَمَّلت كفر الْأُمَم رَأَيْته نَاشِئًا مِنْهَا . وَعَلَيْهَا يَقع الْعَذَاب وَتَكون خفته وشدته بِحَسب خفتها وشدتها . فَمن فتحهَا على نَفسه فتح عَلَيْهِ أَبْوَاب الشرور كلهَا عَاجلا وآجلا . وَمن أغلقها على نَفسه أغلق عَنهُ أَبْوَاب الشرور . فَإِنَّهَا تمنع الانقياد وَالْإِخْلَاص وَالتَّوْبَة والإنابة وَقبُول الْحق ونصيحة الْمُسلمين والتواضع لله ولخلقه . الفوائد لابن القيم ج ١ ص ١٥٧

اکثر علماء فرمايي چې د کُفر د پاره سبب هم تکبّر دی ، ځکه کافرانو خو نبي عليه السلام د خپلو زامنو په شان پیژندو چې دا بَرحق رسول دی. (١)

خو چې بیا يې هم اِيمان نه راوړو نو ددې سبب تکبّرو . (٢)

## لويي صرف د الله ﷻ سره ښائي

الله تعالى فرمايي : ﴿ وَلَهُ الْكِبْرِيَآءُ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۠ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴾ . (٣)

ترجمه : او خاص د الله تعالى د پاره لويي ده په آسمانونو او زمکه کې ، او هم هغه غالب (او) حکمت واله دی .

**فائده** : په دې آيت کې " لَهُ " مقدم شوې دی ، د بلاغت د قاعدې موافق ددې مطلب دادی چې عظمت او لويي صرف د الله ﷻ سره مخصوص ده ، دا صفت په بل چا کې نشي راتلی .

اوس چې څوک د الله ﷻ سره په دې خاص صفتونو کې ځان شريکوي نو الله تعالى داسې کس جهنم ته داخلوي .

## د الله ﷻ سره په لويي کې ځان شريکوونکي د پاره سخته سزا

حديثِ قدسي دی ، رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اوفرمايل چې الله تعالى فرمايي:

اَلْكِبْرِيَاءُ رِدَائِيْ وَالْعَظَمَةُ إِزَارِيْ فَمَنْ نَازَعَنِيْ وَاحِدًا مِنْهُمَا قَذَفْتُهُ فِي النَّارِ . (٤)

---

(١) قال الله تعالى : ﴿ اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ يَعْرِفُوْنَهٗ كَمَا يَعْرِفُوْنَ اَبْنَآءَهُمْ ۭ وَاِنَّ فَرِيْقًا مِّنْهُمْ لَيَكْتُمُوْنَ الْحَقَّ وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴾. البقرة آية ١٤٦ .

﴿ اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ يَعْرِفُوْنَهٗ كَمَا يَعْرِفُوْنَ اَبْنَآءَهُمْ ۘ اَلَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴾ الانعام آية ٢٠

(٢) قال الله تعالى: ﴿ وَجَحَدُوْا بِهَا وَاسْتَيْقَنَتْهَآ اَنْفُسُهُمْ ظُلْمًا وَّعُلُوًّا ﴾. النمل آية ١٤ .

(٣) الجاثية آية ٣٧ .

(٤) سنن ابي داؤد كِتَابُ اللِّبَاسِ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْكِبْرِ رقم الحديث ٤٠٩٠ قال الالباني : صحيح . مسند احمد رقم الحديث ٩٣٥٩ ، صحيح ابن حبان رقم الحديث ٥٦٧١ باب التواضع والكبر والعجب ، ← ← ← ← ← ← ← ← ← ←

لوېي زما څادر دی او عَظمت زما لنګ دی ، پس څوک چې د ما سره په دې کې جګړه کوي ( يعنی تکبر کوي او د ما سره په دې صفتونو کې ځان شريکوي ) نو زه به هغه په جهنم کې او شوو رځوم .

**تشريح** : چونکه الله ﷻ د جسم نه مُنزّه ( پاک ) دی ، څادر او لنګ ته هيڅ ضرورت نه لري ، نو د حديث مطلب دادی چې څوک د الله ﷻ سره په لوېي کې ځان شريکول غواړي نو الله ﷻ به يې جهنم ته داخل کړي . (١)

**بعضې صفات د الله ﷻ سره خاص دي** : د الله تعالی ځنې صفات داسې دي چې د هغې څه حصه بندګانو ته ورکړې شوې ده ، لکه : جُود ، کرَم ، مهرباني وغيره . نو په دې صفاتو باندې مجازًا انسان هم موصوف کولې شي .

خو ځنې صفات داسې دي چې هغه صرف د الله ﷻ سره خاص دي ، لکه کِبرياء ( لوېي ) او حقيقي عَظمت . په دې صفاتو باندې انسان ځان مجازًا هم نشي موصوف کولی ، هيڅ بنده د لوېي او حقيقي عَظمت دعوی نشي کولی .

الله تعالی د مثال په طور دا اوفرمايل چې لوېي زما څادر دی او عظمت زما لنګ دی ، حالانکه الله تعالی څادر او لنګ ته هيڅ ضرورت نه لري ، مقصد يې دادی چې لکه څرنګې چې د يو کس په لباس کې دويم کس نشي ځائيدی نو همدغه شان لوېي او عَظمت هم د الله ﷻ خاص صفتونه دي ، د بل چا سره لائق ندي ، اوس چې څوک ځان د الله ﷻ سره په دې صفاتو کې شريکوي نو الله تعالی به يې جهنم ته داخل کړي . (٢)

←←←← شعب الايمان رقم الحديث ٧٨٠٩ ، مشكوة المصابيح بَابُ الْغَضَبِ وَالْكِبْرِ اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ رقم الحديث ٥١١٠(٧) ، كنز العمال رقم الحديث ٧٧٤٠ ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ٢٨٩٨(٩) .

وفي رواية : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، يَقُوْلُ اللّٰهُ سُبْحَانَهُ : اَلْكِبْرِيَاءُ رِدَائِيْ ، وَالْعَظَمَةُ إِزَارِيْ ، مَنْ نَازَعَنِيْ وَاحِدًا مِنْهُمَا اَلْقَيْتُهُ فِيْ جَهَنَّمَ . سنن ابن ماجة كِتَابُ الزُّهْدِ بَابُ الْبَرَاءَةِ مِنَ الْكِبْرِ وَالتَّوَاضُعِ رقم الحديث ٤١٧٤ قال الالباني : صحيح . مسند احمد رقم الحديث ٩٥٠٨ ، و رقم الحديث ٩٧٠٣ ، ومثل هذا في صحيح مسلم رقم الحديث ١٣٦(٢٦٢٠) باب تحريم الكبر .

(١) معارف القرآن سورة بني اسرائيل في تشريح آية ٣٧ .

(٢) مظاهر حق ج ٨ باب الغضب والكبر الفصل الاول .

ملا علي قاري رَحِمَهُ اللهُ هم په مرقاة كې ددې حديث پوره تشريح كړې. (١)

## دآخرت كاميابي د تكبر نه ځان ساتونكو او مُتقيانو د پاره ده

الله تعالى فرمايي :

﴿ تِلْكَ الدَّارُ الْاٰخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِيْنَ لَا يُرِيْدُوْنَ عُلُوًّا فِي الْاَرْضِ وَلَا فَسَادًا ۭ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ ﴾. (٢)

ترجمه: دا د آخرت كور مونږ د هغه خلقو د پاره مقرروو كوم چې په زمكه كې د لويي (تكبر) او فساد اراده نه لري، او ښه انجام د مُتقيانو د پاره دی.

**فائده**: ددې آيت نه معلومه شوه چې كوم خلق په دُنيا كې تكبّر نه كوي، د ګناهونو او فساد خوَرولو نه ځان ساتي، او د الله ﷻ نه وېرېږي نو د داسې خلقو د پاره الله تعالى د آخرت كاميابي، نعمتونه او ښه انجام مقرر كړی.

او څوك چې په دُنيا كې تكبّر، ظلم او فساد كوي نو د هغوی د پاره په آخرت كې هيڅ حصه نشته. (٣)

## د مُتكبّرينو د پاره سخت عذابونه

د مُتكبّرينو د پاره په قرآن كريم كې سخت عذابونه ذكر شوي :

---

(١) (اَلْكِبْرِيَاءُ) أَيِ : الذَّاتِيُّ (رِدَائِيْ) أَيْ: بِمَنْزِلَتِهِ عِنْدَكُمْ (وَالْعَظَمَةُ) أَيِ: الصِّفَاتِيُّ (إِزَارِيْ) أَيْ: فِيْ مَرْتَبَتِهِ لَدَيْكُمْ. فَإِنَّ رُتْبَةَ الصِّفَةِ دُوْنَ رُتْبَةِ الذَّاتِ..... فَالتَّرْكِيْبُ نَوْعٌ مِنَ التَّشْبِيْهِ الْبَلِيْغِ. وَالْمَعْنٰى أَنَّهُمَا مُخْتَصَّانِ بِيْ اخْتِصَاصًا ظَاهِرًا كَنِسْبَةِ الثَّوْبَيْنِ إِلَيْكُمْ حَيْثُ لَا يُمْكِنُ الْمُنَازَعَةُ فِيْ وَاحِدٍ مِنْهُمَا لِأَحَدٍ عَلَيْكُمْ. فَإِذَا عَرَفْتُمْ ذٰلِكَ وَعَلِمْتُمْ مَا هُنَالِكَ (فَمَنْ نَازَعَنِيْ وَاحِدًا مِنْهُمَا) أَيْ: مِنَ الْوَصْفَيْنِ بِأَنْ تَكَبَّرَ بِاعْتِبَارِ ذَاتِهِ، أَوْ تَعْظِيْمٍ مِنْ حَيْثِيَّةِ صِفَاتِهِ وَأَرَادَ نَوْعًا مِنَ الْمُشَارَكَةِ مَعِيْ فِيْ نُعُوْتِ ذَاتِيْ وَصِفَاتِيْ (أَدْخَلْتُهُ النَّارَ) أَيْ: نَارَ الْعَذَابِ وَعِقَابَ الْحِجَابِ. فَإِنَّهُ جَزَاءُ الْكَافِرِيْنَ وَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِيْنَ. وَفِيْ رِوَايَةٍ: (قَذَفْتُهُ) أَيْ: رَمَيْتُهُ مِنْ غَيْرِ مُبَالَاةٍ بِهِ (فِي النَّارِ). مرقاة المفاتيح بَابُ الْغَضَبِ وَالْكِبْرِ اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ ج ٨ ص ٣١٩١ في تشريح حديث ٥١١١.

(٢) القصص آية ٨٣.

(٣) معارف القرآن القصص في تشريح آية ٨٣.

الله تعالى فرمايي :

﴿ وَأَمَّا الَّذِينَ اسْتَنكَفُوا وَاسْتَكْبَرُوا فَيُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا وَلَا يَجِدُونَ لَهُم مِّن دُونِ اللَّهِ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا ﴾. (١)

ترجمه : او چا چې ( د الله ﷻ په عبادت كولو كې ) شرم اوكړو ( يعنى د الله ﷻ عبادت كول يې عار اوګڼړل ) او تكبّر يې اوكړو نو الله تعالى به دوی ته دَردناک عذاب وركړي ، او دوی به د خپلو ځانونو د پاره د الله نه بغير بل څوک دوست او مددګار او نه مومي .

# د تكبر په وجه د جهنم مستحق كيدل

د تكبّر په وجه انسان د جهنم مستحق ګرځي ، په قرآن كريم كې په مختلف اَنداز سره ددې بيان شته : ١. الله تعالى فرمايي :

﴿ وَالَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَاسْتَكْبَرُوا عَنْهَا أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴾. (٢)

ترجمه : او كومو خلقو چې زمونږ د آيتونو تكذيب اوكړو ( يعنى دروغ يې اوګڼړل ) او ددينه يې تكبّر اوكړو نو همدا خلق خاوندان د اُور دي ( دوی به په جهنم كې اُوسيږي ) ، دوی به په دې كې هميشه وي .

٢ . بل ځای فرمايي :

﴿ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ ﴾. (٣)

ترجمه : بيشكه كوم خلق چې زما د عبادت نه تكبّر كوي نو هغوی به ډير زر جهنم ته ذليله داخل شي .

٣ . په سورة احقاف كې د كافرانو جهنم ته د تللو سبب تكبّر او نافرماني خودل شوی :

---

(١) النساء آية ١٧٣ .

(٢) الاعراف آية ٣٦ .

(٣) غافر (المؤمن) آية ٦٠ .

الله تعالی فرمايي :

﴿وَيَوْمَ يُعْرَضُ الَّذِينَ كَفَرُوا عَلَى النَّارِ أَذْهَبْتُمْ طَيِّبَاتِكُمْ فِي حَيَاتِكُمُ الدُّنْيَا وَاسْتَمْتَعْتُمْ بِهَا فَالْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ الْهُونِ بِمَا كُنْتُمْ تَسْتَكْبِرُونَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَبِمَا كُنْتُمْ تَفْسُقُونَ﴾. (١)

ترجمه : او (هاغه ورځ د يادولو قابله ده) په کومه ورځ چې کافران د جهنم اُور ته پيش (مخامخ) کړې شي (او دوی ته وويلې شي) تاسو د دُنيا په ژوند کې خپل د مزو څيزونه ختم کړل (يعنی خپل خوَندونه مو حاصل کړل) ، او د هغې نه مو ښه فائده واخيسته ، پس نن ورځ به تاسو ته د ذِلت عذاب درکولې شي ، (دا) په سبب د دې سره چې تاسو به (په دُنيا کې) په زمکه کې په ناحقه تکبر کولو ، او په سبب د دې سره چې تاسو به نافرماني کوله.

**فائده** : د دې آيت نه معلومه شوه چې د تکبّر او نافرمانۍ په وجه انسان د جهنم مستحق ګرځي.

**٤. جهنم د متکبرينو د پاره ډير بَد ځای دی** ، الله تعالی د کافرانو د عذاب تذکره کولو نه پس فرمايي : ﴿ فَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِينَ ﴾. (٢)

ترجمه : پس جهنم د مُتکبّرينو د پاره ډير بَد ځای دی.

## د مُتکبّرينو ځای جهنم دی

**١** . د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی ، نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : جنت او جهنم په خپل مينځ کې بحث (جګړه) اوکړه (يعنی دواړو يو قِسم شکايت وکړو) ، جهنم وويل : أُوثِرْتُ بِالْمُتَكَبِّرِينَ وَالْمُتَجَبِّرِينَ.

زه د متکبّرينو او سَرکشه د پاره غوره (يعنی جوړ) کړې شوې يم.

(١) الاحقاف آية ٢٠.

(٢) الزمر آية ٧٢، غافر آية ٧٦.

جنت وويل : مَالِيَ لَا يَدْخُلُنِيْ إِلَّا ضُعَفَاءُ النَّاسِ وَسَقَطُهُمْ .

دا په ما څه شوي چې په ما کې به صرف کمزوري خلق او د مخلوقاتو په نظر کې غورځيدلي خلق داخليږي ؟ ( اګر چې دا خلق به په حقيقت کې د الله ﷻ په نزد د اوچتې مرتبې واله وي ) .

( ددې دواړو شکايت اوريدو سره ) الله تعالى جنت ته اوفرمايل :

أَنْتِ رَحْمَتِيْ أَرْحَمُ بِكِ مَنْ أَشَاءُ مِنْ عِبَادِيْ .

ته زما د رحمت مَظهَر يې ، زه به ستا په ذريعه باندې په خپلو بندګانو کې په هغه چ باندې رحمت کوم د چا په باره کې چې زه اوغواړم .

او اورته يې اوفرمايل :

إِنَّمَا أَنْتِ عَذَابِيْ أُعَذِّبُ بِكِ مَنْ أَشَاءُ مِنْ عِبَادِيْ . وَلِكُلِّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا مِلْؤُهَا .

بيشکه ته صرف زما دعذاب مَظهَر يې ، زه چې په خپلو بندګانو کې د چا په باره کې اوغواړم ستا په ذريعه به هغه ته عذاب ورکوم ، او زه به ( جنت او جهنم ) دواړه د خلقو نه ډکوم..... (١)

**فائده** : ددې حديث نه معلومه شوه چې جهنم د متکبّرينو ، سَرکشو او ظالمانو ځاى دى .

٢ . همدا مضمون د بخارې شريف او مسلم شريف په يو بل حديث کې هم ذکر شوى ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

---

(١) عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ. قَالَ : قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : تَحَاجَّتِ الْجَنَّةُ وَالنَّارُ. فَقَالَتِ النَّارُ : أُوثِرْتُ بِالْمُتَكَبِّرِيْنَ وَالْمُتَجَبِّرِيْنَ . وَقَالَتِ الْجَنَّةُ : مَا لِيْ لَا يَدْخُلُنِيْ إِلَّا ضُعَفَاءُ النَّاسِ وَسَقَطُهُمْ . قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى لِلْجَنَّةِ : أَنْتِ رَحْمَتِيْ أَرْحَمُ بِكِ مَنْ أَشَاءُ مِنْ عِبَادِيْ . وَقَالَ لِلنَّارِ : إِنَّمَا أَنْتِ عَذَابِيْ أُعَذِّبُ بِكِ مَنْ أَشَاءُ مِنْ عِبَادِيْ . وَلِكُلِّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا مِلْؤُهَا .....صحيح البخاري كِتَابُ تَفْسِيْرِ الْقُرْآنِ بَابُ قَوْلِهِ: {وَتَقُوْلُ هَلْ مِنْ مَزِيْدٍ} رقم الحديث ٤٨٥٠ ، صحيح مسلم كتاب الْجَنَّةِ وَصِفَةِ نَعِيْمِهَا وَأَهْلِهَا بَابُ النَّارُ يَدْخُلُهَا الْجَبَّارُوْنَ وَالْجَنَّةُ يَدْخُلُهَا الضُّعَفَاءُ رقم الحديث ٣٦(٢٨٤٦) ، مسند احمد رقم الحديث ٨١٦٣ ، مشكوة المصابيح باب خلق الجنة والنار الفصل الاول رقم الحديث ٧٤٤٧ ، السنن الكبرى للنسائي رقم الحديث ٧٦٥٣ .

أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِأَهْلِ الْجَنَّةِ ؟ كُلُّ ضَعِيفٍ مُتَضَاعِفٍ ، لَوْ أَقْسَمَ عَلَى اللهِ لَأَبَرَّهُ . أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِأَهْلِ النَّارِ؟ كُلُّ عُتُلٍّ جَوَّاظٍ مُسْتَكْبِرٍ . (١)

آيا زه تاسو ته د جنّتيانو په باره کې خبر درکړم؟ ( نو واورئ ) جنّتيان هغه خلق دي کوم چې ضعيف وي او نور خلق يې هم ضعيف ګڼړي ( حالانکه د الله ﷻ په نزد دده دومره لويه مرتبه وي چې ) که چيرته دا ( د يو کار يا يوې خبرې متعلق ) په الله ﷻ باندې قسم اوخوري ( چې دا کار به داسې کيږي ) نو الله تعالى خامخا دا په قسم کې رېښتينې کوي ، (بيا نبي عليه السلام اوفرمايل : ) آيا زه تاسو ته د جهنّميانو په باره کې خبر درکړم ؟ ( نو واورئ ) دا هغه خلق دي څوک چې سخت ګويه جګړه مار وي ، مال جمع کوونکى بخيل وي او متکبّر وي .

۳ . رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

إِنَّ فِي جَهَنَّمَ وَادِيًا ، فِي الْوَادِي بِئْرٌ يُقَالُ لَهُ : هَبْهَبُ ، حَقًّا عَلَى اللهِ أَنْ يُسْكِنَهُ كُلَّ جَبَّارٍ عَنِيدٍ . (٢)

---

(١) صحيح البخاري كِتَابُ الأَدَبِ بَابُ الكِبْرِ رقم الحديث ٦٠٧١ ، صحيح مسلم كتاب الجَنَّةِ وَصِفَةِ نَعِيمِهَا وَأَهْلِهَا بَابُ النَّارُ يَدْخُلُهَا الجَبَّارُونَ وَالجَنَّةُ يَدْخُلُهَا الضُّعَفَاءُ رقم الحديث ٣٦(٢٨٥٣) ، مسند احمد رقم الحديث ١٨٧٣٠ ، سنن ابن ماجة رقم الحديث ٤١١٦ ، سنن الترمذي رقم الحديث ٢٦٠٥ ، مشكوة المصابيح بَابُ الغَضَبِ وَالكِبْرِ اَلفَصْلُ الأَوَّلُ رقم الحديث ٥١٠٦(٣) .

وفي رواية : عَنْ سُرَاقَةَ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه . قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَلَا أُنَبِّئُكُمْ بِأَهْلِ الْجَنَّةِ ؟ الْمَغْلُوبُونَ الضُّعَفَاءُ . وَأَهْلُ النَّارِ كُلُّ جَعْظَرِيٍّ جَوَّاظٍ مُسْتَكْبِرٍ . المستدرک على الصحيحين للحاکم رقم الحديث ٢٠٢ وقال الحاكم : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ مُسْلِمٍ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ ، ووافقه الذهبي ، و رقم الحديث ٣٨٤٤ ، مسند احمد رقم الحديث ٦٥٨٠ ، الاداب للبيهقي رقم الحديث ٢٠٣ ، شعب الايمان رقم الحديث ٧٨٢٠ ، ورقم الحديث ٧٨٢١ ، مجمع الزوائد رقم الحديث ٢٣٠٦٥ ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ٣١٩٧(٢٢) .

(٢) مجمع الزوائد ومنبع الفوائد كِتَابُ الخِلَافَةِ بَابٌ فِي العَدْلِ وَالجَوْرِ رقم الحديث ٩٠٠٥ وقال الهيثمي: رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ فِي الأَوْسَطِ، وَإِسْنَادُهُ حَسَنٌ. و رقم الحديث ١٧٦٧٢ باب ماجاء في الكبر ، المعجم الاوسط رقم الحديث ٣٥٤٨ ، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٣٣٢٥ ، و رقم الحديث ٣٣٢٩ ، المستدرک على الصحيحين للحاکم رقم الحديث ٨٧٦٥ ، مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ٣٣١٥٩ ، مشكوة المصابيح رقم الحديث ٥٦٨٩(٢٥) ، الزواجر ج١ ص١١٧، كنز العمال رقم الحديث ٧٦٣٥ ، البعث والنشور للبيهقي رقم الحديث ٢٧٩ ، احياء علوم الدين ج٣ ص٣٣٨ .

بيشكه په جهنم كې يوه وادي ده ، په هغه وادى كې يو كوهي دى هغې ته " هَبْهَبْ "
وايي ، الله تعالى په خپله ذِمه باندې دا اخيستى چې په دې كوهي كې به هر سَركشه او ضِدي ( متكبّر ) كس ساتي .

٤ . د ترمذي شريف حديث دى ، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي :

تَخْرُجُ عُنُقٌ مِنَ النَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَهَا عَيْنَانِ تُبْصِرَانِ وَأُذُنَانِ تَسْمَعَانِ وَلِسَانٌ يَنْطِقُ. يَقُولُ: إِنِّي وُكِّلْتُ بِثَلَاثَةٍ : بِكُلِّ جَبَّارٍ عَنِيدٍ، وَبِكُلِّ مَنْ دَعَا مَعَ اللهِ إِلٰهًا آخَرَ . وَبِالْمُصَوِّرِينَ .

د قيامت په ورځ به د جهنم نه يو څټ ( يعنى د څټ په شان د اور يوه لمبه ) رااووځي ، ددې به دوه سترګې وي چې ليدل به كوي ، دوه غوږونه به يې وي چې اَوريدل به كوي ، داسې ژبه به يې وي چې خبرې به كوي ، او دا به وايي چې بيشكه زه په درې ( ٣ ) كسانو باندې مقرر شوې يم ( يعنى الله تعالى زه ددې د پاره مقرر كړې يم چې دا درې كسان جهنم ته داخل كړم او د خلقو د وړاندې د رَسوايۍ واله عذاب وركړم ) :

اول : سَركشه ( متكبّر ) ، دويم : چاچې د الله تعالى سره دويم مَعبود هم رابللې وي ، دريم : ( د ساه واله مخلوقاتو ) تصوير جوړوونكو . (١)

## متكبّر به پړمَخ ( اُلټه ) جهنم ته غورځولې شي

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ مِنْ كِبْرٍ كَبَّهُ اللهُ لِوَجْهِهِ فِي النَّارِ. (٢)

د چا په زړه كې چې د اُوري د دانې برابر تكبر وي نو الله تعالى به يې پړمَخ ( اُلټه ) په

---

(١) سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ جَهَنَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ النَّارِ رقم الحديث ٢٥٧٤ قال الالباني : صحيح . مشكوة المصابيح باب التصاوير الفصل الاول رقم الحديث ٤٥٠٢ (١٢) ، مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ٣٢١٢١ ، مسند احمد رقم الحديث ٨٤٣٠ ، و رقم الحديث ١١٣٥٤ ، المعجم الاوسط رقم الحديث ٣١٨ ، شعب الايمان رقم الحديث ٥٩٠٢ ، شرح السنة للبغوي ج١٢ ص١٣٢ ، الكبائر للذهبي ج١ ص ١٨١ الكبيرة الثامنة والاربعون التصوير في الثياب .

(٢) الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٤٤١٣ الترغيب في التواضع والترهيب من الكبر والعجب والافتخار ، وقال المنذري: رَوَاهُ أَحْمد وَرُوَاته رُوَاة الصَّحِيح . مجمع الزوائد باب ماجاء في الكبر رقم الحديث ٣٥٣ وقال الهيثمي: رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالطَّبَرَانِيُّ فِي الْكَبِيرِ وَرِجَالُهُ رِجَالُ الصَّحِيحِ . نضرة النعيم ج١١ ص ٥٣٦٩ الكبر والعجب .

جهنم کې اُوغورځوي .

## متکبرين به جنت ته نه داخليږي

کوم خلق چې د الله د آيتونو تکذيب کوي ، او ددې د قبلولو نه انکار کوي نو الله تعالی د هغوی په باره کې فرمايي :

﴿ إِنَّ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَاسْتَكْبَرُوا عَنْهَا لَا تُفَتَّحُ لَهُمْ أَبْوَابُ السَّمَاءِ وَلَا يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ حَتَّى يَلِجَ الْجَمَلُ فِي سَمِّ الْخِيَاطِ ۚ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُجْرِمِينَ ﴾ . (١)

ترجمه : بيشکه کومو خلقو چې زمونږ د آيتونو تکذيب اوکړو او ددې ( د قبلولو ) نه يې تکبر اوکړو نو دوی ته به د آسمان دروازې نشي کلاوولی ، او دوی به تر هغې وخته پورې جنت ته نه داخليږي تر دې چې اُوښ د ستنې په سُوري ( سُم ) داخل شي ، او مونږ مُجرمانو ته همداسې سزا ورکوو .

**د آيت تشريح** : په دې آيت کې د الله تعالی د آيتونو تکذيب کوونکو او ددينه د تکبر کوونکو د پاره دوه ( ٢ ) سزاګانې ذکر شوي :

يوه دا چې " لَا تُفَتَّحُ لَهُمْ أَبْوَابُ السَّمَاءِ " يعنی د دوی د عملونو او دُعاګانو قبلولو د پاره به دوی ته د آسمان دروازې نشي کلاوولی .

دويم مطلب يې دادی چې د داسې خلقو د مرګ نه پس به د دوی د رُوحونو د پاره د آسمان دروازې نشي کلاوولی . يعنی کله چې فرښتې د دوی رُوحونه پاس آسمان ته وړسي نو هلته به ورته د آسمان دروازې کلاوُ نشي ، بلکه د هغه ځای نه به رااُوغورځولې شي ، لکه دا د احاديثو نه هم معلوميږي .

په آيت کې دويمه سزا دا ذکر شوه چې داسې خلق به تر هغه وخته پورې جنت ته داخل نشي ترڅو پورې چې اُوښ د ستنې په سُوري کې داخل او تېر نشي ، او دا خو يقيني خبره ده چې اُوښ د ستنې په سُوري کې نشي داخليدی لهذا د دوی جنت ته تلل هم نشي کيدی . (٢)

---

(١) الاعراف آية ٤٠ .

(٢) معارف القرآن سورة الاعراف آية ٤٠ .

# د چا په زړه کې چې معمولي تکبّر وي هغه به جنت ته نه داخلېږي

۱. د ترمذي شريف او ابوداؤد شريف حديث دی، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي:

لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ مِنْ كِبْرٍ. وَلَا يَدْخُلُ النَّارَ مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْ إِيْمَانٍ. (۱)

هغه کس به جنت ته داخل نشي چې د هغه په زړه کې د اُوري د دانې هومره تکبّر وي، او هغه کس به جهنم ته داخل نشي چې د هغه په زړه کې د اُوري د دانې هومره ايمان وي.

(نوټ: د اُوري ډېره وړه دانه وي، يعنې ډېر معمولي مقدار مراد دی).

۲. د مسلم شريف په حديث کې ذکر دي، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي:

لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِنْ كِبْرٍ. (۲)

---

(۱) سنن الترمذي أَبْوَابُ الْبِرِّ وَالصِّلَةِ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْكِبْرِ رقم الحديث ۱۹۹۸ وقال الترمذي: هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. سنن ابي داؤد رقم الحديث ۴۰۹۱ كِتَابُ اللِّبَاسِ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْكِبْرِ. سنن ابن ماجة باب فى الايمان رقم الحديث ۵۹، و رقم الحديث ۴۱۷۳، مسند احمد رقم الحديث ۴۳۱۰، و رقم ۶۵۲۶، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۵۷۵۷، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۱۰۰۰۰، و رقم ۱۰۰۶۶، مشكوة المصابيح باب الغضب والكبر الفصل الاول رقم الحديث ۵۱۰۷(۴)، مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ۲۶۵۸۰.

(۲) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِنْ كِبْرٍ» قَالَ رَجُلٌ: إِنَّ الرَّجُلَ يُحِبُّ أَنْ يَكُوْنَ ثَوْبُهُ حَسَنًا وَنَعْلُهُ حَسَنَةً. قَالَ: «إِنَّ اللهَ جَمِيْلٌ يُحِبُّ الْجَمَالَ. اَلْكِبْرُ بَطَرُ الْحَقِّ وَغَمْطُ النَّاسِ». صحيح مسلم كِتَابُ الْإِيْمَانِ بَابُ تَحْرِيْمِ الْكِبْرِ وَبَيَانِهِ رقم الحديث ۱۴۷(۹۱). و رقم الحديث ۱۴۹(۹۱)، سنن الترمذي أَبْوَابُ الْبِرِّ وَالصِّلَةِ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْكِبْرِ رقم الحديث ۱۹۹۹، مسند احمد رقم الحديث ۳۹۴۷، صحيح ابن حبان رقم الحديث ۵۴۶۶، الاداب للبيهقي رقم الحديث ۴۸۶، شعب الايمان رقم الحديث ۵۷۸۲، شرح السنة للبغوي رقم الحديث ۳۵۸۷، مشكوة المصابيح بَابُ الْغَضَبِ وَالْكِبْرِ اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ رقم الحديث ۵۱۰۸(۵)، كنز العمال رقم الحديث ۷۷۴۷، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۲۹۱۲(۲۳).

وفي رواية: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ فِي قَلْبِهِ خَرْدَلَةٌ مِنْ كِبْرٍ. مجمع الزوائد بَابُ مَا جَاءَ فِي الْكِبْرِ رقم ۳۶۱ وقال الهيثمي: رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ فِي الْكَبِيْرِ، وَإِسْنَادُهُ حَسَنٌ. المعجم الكبير رقم ۳۶۳، صحيح الترغيب والترهيب رقم ۲۹۱۰(۲۱)، معالم السنن ج۴ ص۱۹۶ ومن باب الكبر.

هغه کس به جنت ته نه داخلیږي چې د هغه په زړه کې یوه ذره برابر تکبر وي.

د مذکوره حدیث نه معلومه شوه چې د معمولي تکبّر اجازت هم نشته.

علامه شوکاني رَحِمَهُ اللّٰهُ هم لیکلي:

وَالحَدِيثُ يَدُلُّ عَلَى أَنَّ الكِبْرَ مَانِعٌ مِنْ دُخُولِ الجَنَّةِ وَإِنْ بَلَغَ مِنَ القِلَّةِ إِلَى الغَايَةِ. (١)

دا حدیث په دې باندې دلالت کوي چې تکبر اګر چې ډیر لږ وي خو بیا هم انسان جنت ته د داخلیدو نه منع کوي.

## جنت په متکبرینو باندې حرام دی

وَهب بن مُنَبِّه رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمايي کله چې الله تعالی جنتِ عَدن پیدا کړو نو دیته یې نظر اوکړو، او ورته وې فرمایل: أَلْتِ حَرَامٌ عَلَى كُلِّ مُتَكَبِّرٍ.

ته په هر متکبر باندې حرام یې. (٢)

## ابلیس د تکبّر په وجه د جنت نه را اُوشړلې شو

کله چې الله تعالی حضرت آدم علیه السلام پیدا کړو نو فرښتو او اِبلیس ته یې حکم اوکړو: ﴿ اُسْجُدُوا لِآدَمَ ﴾. (٣)

تاسو حضرت آدم عليه السلام ته د (تعظیم) سجده اوکړئ. (۴)

---

(١) نيل الأوطار لمحمد بن علي الشوكاني ٢ / ١٠٩ طبع دار الجيل بيروت. الموسوعة الفقهية الكويتية ج ٣٤ ص ١٦٧ كبر.

(٢) قَالَ وَهْبٌ رَحِمَهُ اللّٰهُ: لَمَّا خَلَقَ اللّٰهُ تَعَالَى جَنَّةَ عَدْنٍ نَظَرَ إِلَيْهَا. فَقَالَ لَهَا: أَلْتِ حَرَامٌ عَلَى كُلِّ مُتَكَبِّرٍ. الزواجر عن اقتراف الكبائر ج ١ ص ١١٧ اَلْكَبِيرَةُ الرَّابِعَةُ الكِبْرُ وَالعُجْبُ وَالخُيَلَاءُ. احياء علوم الدين ج٣ ص ٣٣٨ بيان ذم الكبر، نضرة النعيم ج ١١ ص ٥٣٧٧ الكبر والعجب.

(٣) الاعراف آية ١١.

(۴) ددینه د عبادت سجده مراد نده، بلکه سجده د تعظیم مراد ده، کومه چې په پخواني شریعتونو کې جائز وه، لکه د حضرت یوسف علیه السلام په واقعه کې راځي: ﴿وَخَرُّوا لَهُ سُجَّدًا﴾. سورة یوسف آية ١٠٠. البته اوس په شریعتِ محمدي کې چاته سجده د تعظیم جائز نه ده، بلکه دا منسوخ شوې ده، اوس د بل چا د تعظیم د پاره صرف د سلام، مصافحې او معانقې اجازت دی. دا تفصیل ابوبکر جصاص الرازي په احکام القرآن کې او مولانا مفتي محمد شفیع رحمه الله په معارف القرآن کې ذکر کړی.

نو ټولو سجده اوکړه خو اِبليس اونکړه، الله تعالی ورنه پوښتنه اوکړه:

﴿ مَا مَنَعَكَ أَلَّا تَسْجُدَ إِذْ أَمَرْتُكَ ﴾. (١)

ترجمه: کله چې ما درته حُکم اوکړو، نو ته د سجدې کولو نه څه شي منع کړې؟ (او سجده دې ولې اونکړه؟)

ابليس تکبّر اوکړو او وې ويل: ﴿ أَنَا خَيْرٌ مِّنْهُ خَلَقْتَنِي مِن نَّارٍ وَخَلَقْتَهُ مِن طِينٍ ﴾. (٢)

ترجمه: زه خو دده نه ډېر غوره يم، تا زه د اُور نه پيدا کړې يم، او دا دې د خټې نه پيدا کړی (نو زه څنګه ده ته سجده اوکړم؟)

الله تعالی ورته اوفرمايل:

﴿ فَاهْبِطْ مِنْهَا فَمَا يَكُونُ لَكَ أَن تَتَكَبَّرَ فِيهَا فَاخْرُجْ إِنَّكَ مِنَ الصَّاغِرِينَ ﴾.

ترجمه: پس ته کوز شه ددې ځای نه، تا ته ددې حق نشته چې په دې آسمان (جنت) کې تکبّر اوکړې، پس اُوځه بېشکه ته د ذليلو خلقو د ډلې نه يې. (٣)

د قرآن کريم په نورو آيتونو کې هم ددې تذکره شته. (۴)

## د اوّلنۍ نافرمانۍ بُنياد تکبّرؤ

په دې کائناتو کې د ټولو نه اول نافرماني اِبليس کړې وه چې حضرت آدم عليه السلام ته

---

(١) الاعراف آية ١٢

(٢) الاعراف آية ١٢.

(٣) د سورة اعراف پوره آيتونه دادي: ﴿ وَلَقَدْ خَلَقْنَاكُمْ ثُمَّ صَوَّرْنَاكُمْ ثُمَّ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ اسْجُدُوا لِآدَمَ فَسَجَدُوا إِلَّا إِبْلِيسَ لَمْ يَكُن مِّنَ السَّاجِدِينَ ۞ قَالَ مَا مَنَعَكَ أَلَّا تَسْجُدَ إِذْ أَمَرْتُكَ قَالَ أَنَا خَيْرٌ مِّنْهُ خَلَقْتَنِي مِن نَّارٍ وَخَلَقْتَهُ مِن طِينٍ ۞ قَالَ فَاهْبِطْ مِنْهَا فَمَا يَكُونُ لَكَ أَن تَتَكَبَّرَ فِيهَا فَاخْرُجْ إِنَّكَ مِنَ الصَّاغِرِينَ ﴾. الاعراف آية ١١ تا ١٣.

(۴) په سورة البقرة کې ددې بيان داسې ذکر دی: ﴿ وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ اسْجُدُوا لِآدَمَ فَسَجَدُوا إِلَّا إِبْلِيسَ أَبَىٰ وَاسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ الْكَافِرِينَ ﴾. البقرة آية ٣۴

په سورة الاسراء کې ددې بيان داسې ذکر دی: ﴿ وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ اسْجُدُوا لِآدَمَ فَسَجَدُوا إِلَّا إِبْلِيسَ قَالَ أَأَسْجُدُ لِمَنْ خَلَقْتَ طِينًا ۞ قَالَ أَرَأَيْتَكَ هَٰذَا الَّذِي كَرَّمْتَ عَلَيَّ لَئِنْ أَخَّرْتَنِ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ لَأَحْتَنِكَنَّ ذُرِّيَّتَهُ إِلَّا قَلِيلًا ۞ قَالَ اذْهَبْ فَمَن تَبِعَكَ مِنْهُمْ فَإِنَّ جَهَنَّمَ جَزَاؤُكُمْ جَزَاءً مَّوْفُورًا ﴾. الاسراء آية ٦١ تا ٦٣.

بې د سجدې کولو نه اِنکار اوکړو ، دده نه مخکې د الله ﷻ د نافرمانۍ هيڅ تصوّر نه وُ . دده د نافرمانۍ بُنياد هم تکبّر وُ ، ځکه ده وويل :

﴿أَنَا خَيْرٌ مِّنْهُ﴾ زه دده نه ډير بهتريم (نو ځنګه ورته سجده اوکړم ؟ ) .

ددينه معلومه شوه چې په دې کائناتو کې د اوّلنۍ نافرمانۍ بُنياد تکبّر وُ . (١)

**متکبّر ته د توبې توفيق نه ملاويږي** : علماؤ ليکلي چې څوک د تکبّر په وجه يوه ګناه کوي نو ده ته ددينه د توبې توفيق نه ملاويږي ځکه دا ورباندې خفه نه وي او ديته ګناه نه وايي ، شيطان هم د تکبّر په وجه ګناه اوکړه نو ځکه تر قيامته پورې لعنتي شو .

او چې د چا نه د نَفسي خواهش په وجه څه ګناه اوشي نو ده ته ددينه د توبې توفيق نصيبه کيږي ځکه دده سره دا اِحساس وي چې ما ګناه کړې ده .

( همداسې خبره د سفيان بن عيينه رَحِمَهُ اللهُ نه هم نقل ده ) . (٢)

## متکبّر د علومِ قرآني او کاملې پوهې نه محرومه وي

په چا کې چې تکبّر وي نو هغه د قرآن کريم په آيتونو باندې د کامِل پوهې د نه محرومه وي

١ . الله تعالى فرمايي :

﴿سَأَصْرِفُ عَنْ آيَاتِيَ الَّذِينَ يَتَكَبَّرُونَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ﴾ . (٣)

ترجمه : زه به د خپلو آيتونو نه هغه خلق واړوم څوک چې په زمکه کې په ناحقه تکبّر کوي .

---

(١) اصلاحي خطبات ج٥ ص٢٨ .

په نزهة الناظرين کې ذکر دي ، قال بعض السلف : أوّل ذنب عصى الله به الكبر . قال الله تعالى : ﴿ وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ اسْجُدُوا لِآدَمَ فَسَجَدُوا إِلَّا إِبْلِيسَ أَبَىٰ وَاسْتَكْبَرَ ﴾ . البقرة آية ٣٤ ، نزهة الناظرين ص ٥١١ كتاب ذم الكبر والعجب ومدح التواضع .

(٢) قال سفيان بن عيينة : من كانت معصيته في شهوة فارجو له التوبة فإن آدم عليه السلام عصى مشتهيا فغفر له . وإن كان معصيته في كبر فاخشى عليه اللعنة فإن إبليس عصى فتكبر فلعن . نزهة الناظرين ص ٥١١ كتاب ذم الكبر والعجب ومدح التواضع .

(٣) الاعراف آية ١٤٦ .

( يعنى متکبّرين به د قرآن کريم د فهم نه منع کړم او لرې به يې ترې اُوساتم ) . (١)

**فائده** : ددې آيت نه معلومه شوه چې تکبّر داسې ناکاره صفت دی چې ددې په وجه د متکبّر نه دا توفيق اخيستلې کيږي چې د الله تعالى په آيتونو باندې پوهه شي او يا ترې فائده واخلي ، ځکه الٰهي علوم انسان ته صرف د الله ﷻ په رَحمت سره حاصليږي او د الله ﷻ رحمت تواضع ( عاجزي ) کوونکي انسان طرف ته متوجّه وي ، د متکبّر نه دير لرې وي .

۲ . حضرت عيسٰى عليه السلام فرمايي : فصل په نرم ځای کې رازَرغونيږي ، په سخت کانړي باندې نه رازَرغونيږي ، همدغه شان حِکمت ( پوهه ) هم د هغه چا په زړه کې وي چې په هغه کې تواضع ( عاجزي ) وي ، د متکبّر سړي په زړه کې حِکمت نه وي ، آيا تاسو نه گورئ چې څوک پاس چَت طرف ته سَر اُوچتوي نو دې خپل سَر زخمي کوي ، او څوک چې خپل سَر ښکته کړي نو سَر يې محفوظ وي . (۲)

مولانا رُوم رَحِمَهُ اللهُ فرمايي :

---

(١) ﴿ سَأَصْرِفُ عَنْ آيَاتِيَ الَّذِينَ يَتَكَبَّرُونَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ ﴾ أَيْ: سَأَمْنَعُ فَهْمَ الحجج وَالْأَدِلَّةِ عَلَى عَظَمَتِيْ وَشَرِيْعَتِيْ وَأَحْكَامِيْ قُلُوْبَ الْمُتَكَبِّرِيْنَ عَنْ طَاعَتِيْ ، وَيَتَكَبَّرُوْنَ عَلَى النَّاسِ بِغَيْرِ حَقٍّ ، أَيْ : كَمَا اسْتَكْبَرُوْا بِغَيْرِ حَقٍّ أَذَلَّهُمُ اللهُ بِالْجَهْلِ ، كَمَا قَالَ تَعَالَى : { وَنُقَلِّبُ أَفْئِدَتَهُمْ وَأَبْصَارَهُمْ كَمَا لَمْ يُؤْمِنُوا بِهِ أَوَّلَ مَرَّةٍ } الانعام آية ١١٠] ، وَقَالَ تَعَالَى: { فَلَمَّا زَاغُوا أَزَاغَ اللهُ قُلُوبَهُمْ } الصف آية ٥ ] .

وَقَالَ بَعْضُ السَّلَفِ : لَا يَنَالُ الْعِلْمَ حَيِيٌّ وَلَا مُسْتَكْبِرٌ . وَقَالَ آخَرُ : مَنْ لَمْ يَصْبِرْ عَلَى ذُلِّ التَّعَلُّمِ سَاعَةً بَقِيَ فِيْ ذُلِّ الْجَهْلِ أَبَدًا . وَقَالَ سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ رَحِمَهُ اللهُ فِيْ قَوْلِهِ: { سَأَصْرِفُ عَنْ آيَاتِيَ الَّذِينَ يَتَكَبَّرُونَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ } قَالَ : أَنْزِعُ عَنْهُمْ فَهْمَ الْقُرْآنِ ، وَأَصْرِفُهُمْ عَنْ آيَاتِيْ . تفسير ابن كثير ( تفسير القرآن العظيم ) ج٣ ص ٤٧٢ سورة الاعراف في تشريح آية ١٤٦ .

(٢) قَالَ الْمَسِيْحُ عَلَيْهِ السَّلَامُ : إِنَّ الزَّرْعَ يَنْبُتُ فِي السَّهْلِ وَلَا يَنْبُتُ عَلَى الصَّفَا . كَذٰلِكَ الْحِكْمَةُ تَعْمَلُ فِيْ قَلْبِ الْمُتَوَاضِعِ وَلَا تَعْمَلُ فِيْ قَلْبِ الْمُتَكَبِّرِ . أَلَا تَرَوْنَ أَنَّ مَنْ شَمَخَ بِرَأْسِهِ إِلَى السَّقْفِ شَجَّهُ ، وَمَنْ طَأْطَأَ أَظَلَّهُ وَأَكَنَّهُ احياء علوم الدين ج ٣ ص ٣٢٥ كتاب ذم الكبر والعجب بيان حقيقة الكبر و آفته ، نضرة النعيم ج ١١ ص ٥٣٧٥ الكبر والعجب

هر کجا پستي است آب آنجا رود ✡ هر کجا مشکل جواب آنجا رود

چيرته چې تِيټ (او ژوَر) ځای وي نو اوبه هلته ځي، او چيرته چې مشکل وي نو جواب هلته ځي.

دا خبره ياد ساتئ چې په چا کې تواضع وي نو په هغه کې الله ﷻ د حق قبلولو اِستعداد هم ايخې وي، او په چا کې چې تکبّر وي نو په هغه د حق قبلولو اِستعداد هم نه پردي.

په حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه کې عاجزي وه، ده د ابوجهل نه د معراج واقعه واوريده نو دې واقعې تصديق يې اوکړو او په نبي عليه السلام يې اِيمان راوړو.

او په ابوجهل کې تکبّر وُ، ده د معراج واقعه د نبي عليه السلام د خُلې مبارکې نه واوريده ليکن ده ورباندې اِيمان رانه وړو.

امام غزالي رحمه الله په مکاشفة القلوب کې ليکلي چې کوم کس سپک او ذليل وي نو هغه تکبر کوي، او څوک چې د اُوچتې مرتبې خاوند وي نو هغه تواضع کوي. (١)

## تکبّر سره په عقل کې کمې راځي

محمد بن حُسَين بن علي رَحِمَهُ اللهُ (کوم چې د حضرت علي رضي الله عنه په اَولاد کې دی، دا) فرمايي:

مَا دَخَلَ قَلْبَ امْرِئٍ شَيْءٌ مِنَ الْكِبْرِ قَطُّ إِلَّا نَقَصَ مِنْ عَقْلِهِ بِقَدْرِ مَا دَخَلَ مِنْ ذٰلِكَ قَلَّ أَوْ كَثُرَ. (٢)

د هر چا زړه ته چې لږ يا ډير تکبر داخل شي نو خامخا په همدومره مقدار به د ده په عقل کې هم کمې راځي.

پس معلومه شوه چې په چا کې تکبّر وي نو الله تعالی د هغه نه د حق قبلولو استعداد هم اخلي، او په دې سره په عقل کې کمې هم راځي.

(١) مکاشفة القلوب.

(٢) التواضع والخمول لابن ابي الدنيا ج١ ص ٢٧٢ رقم ٢٢٦ بَابٌ فِي الْكِبْرِ، احياء علوم الدين ج٣ ص ٣٣٩ کتاب ذم الکبر والعجب، صفة الصفوة ج١ ص ٣٦٢، تفسير ابن کثير ج٦ ص ٣٠٩ فصل في ذم الکبر سورة لقمان في تفسير آية ١٨، نضرة النعيم ج١١ ص ٥٣٧٦ الکبر والعجب.

همدارنګې متکبرین د الله تعالی په قدرتونو کې د غور او فکر کولو نه هم محرومه وي.

## د متکبر په زړه باندې مُهر لګېدلې وي

الله تعالی فرمايي :

﴿ كَذَٰلِكَ يَطْبَعُ اللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ قَلْبِ مُتَكَبِّرٍ جَبَّارٍ ﴾. (١)

ترجمه : همدغه شان الله تعالی د متکبر سرکشه ( ظالم ) بنده په زړه باندې مُهر لګوي.
( ددې اثر بیا دا وي چې دده په زړه کې د ایمان کامل نُور نه داخلیږي ، د ښه او خراب تمییز نشي کولی ) .

## دا کثره ګناهونو جرړه " تکبر " دی

په احادیثو کې ذکر دي چې تکبر ، حرص او حسد د ټولو ګناهونو جرړه ده. (٢)
که مونږ سوچ او کړو نو د اکثره ګناهونو جرړه تکبر دی ، ځکه حسد ، غصه ، بُغض ، غیبت او نورو ته تکلیف رسول دا ټول ګناهونه د تکبر په وجه پیدا کیږي ، تر څو پورې چې د انسان نه تکبر نه وي ختم شوی دا ګناهونه نه ختمیږي . (٣)
علماؤ لیکلي چې ښه اخلاق هم لس ( ١٠ ) دي ، او بد اخلاق هم لس دي ، د ښه اخلاقو سر ( جرړه ) دوه خبرې دي : اول تواضع او دویم سخاوت . او د بدو اخلاقو سر دوه خبرې دي : اول تکبر او دویم بُخل .

---

(١) غافر آية ٣٥ .

(٢) عن ابن مسعود رضي الله عنه أنّ رسولَ الله صلى الله عليه وسلم قال : ثلاثٌ هنّ أصلُ كل خطيئةٍ فاتّقوهنّ واحذروهنّ . وثلاث إذا ذكرن فأمسكوا: إيّاكم والكبر. فإنّ إبليس إنّما منعه الكبر أنْ يسجدَ لآدم . وإيّاكم والحرص فإنّ آدم إنّما حمله الحرص على أنْ أكل مِن الشجرة. و إيّاكم والحسد فإنّ ابني آدم إنّما قتل أحدهما صاحبه حسدًا. فهنّ أصل كل خطيئة فاتّقوهن واحذروهنّ. والثلاث : إذا ذكر القدرُ فأمسكوا، وإذا ذكر النجوم فأمسكوا، وإذا ذكر أصحابي فأمسكوا . الترغيب والترهيب لقوام السنة ج٣ ص ٢٠٧ رقم الحديث ٢٣٦٠ باب في الترهيب من الكبر وذم المتكبرين ، و ج١ ص ٣٦٧ رقم الحديث ٦٢٩ فصل في الترهيب من التكبر .

(٣) اصلاحي خطبات ج٥ ص ٢٩ .

# تکبر د ټولو مفاسدو جرړه ده

په حقيقت کې د ټولو مَفاسدو جَرړه تکبّر دی ، تر دې چې د کفر او شِرک جرړه هم تکبر دی، په دُنيا کې چې څوک هم کافر شوی نو د تکبّر په وجه کافر شوی ، ورنه حق خو هيڅ کله پټ نه وي . (١)

ابو طالب ته ښه معلومه وه چې اسلام حق مذهب دی ، نبي عليه السلام ورته د مرګ په وخت هم کليمه پيش کړه خو بيا يې هم صرف ددې په وجه ايمان را نه وړو چې بيا به زما قوم وايي " چې ابو طالب د جهنم نه اُويريد " . او دا په حقيقت کې ده په خپل قوم باندې ځان اوچت ګڼړل ، نو د همدې لويي او شرم د وجې يې ايمان را نه وړو .

همدارنګې اهلِ کتابو ته هم ښه معلومه وه چې نبي عليه السلام د الله تعالى بَرحق پيغمبر دی ليکن د تکبّر په وجه يې ايمان نه راوړو .

همدارنګې د کُفر او شِرک نه علاوه د نورو ډيرو ګناهونو سبب هم تکبّر دی .

بيا غټه د نقصان خبره داده چې تکبّر داسې عامه بيماري ده چې دا د معاشرې د هرې طبقې په خلقو کې څه نا څه شته .

بعضې عيبونه داسې دي چې په هغې کې جاهِله خلق ډير مبتلاء وي ، تعليم يافته خلق په کې کم مبتلاء وي خو تکبّر داسې خطرناکه بيماري ده چې په دې کې د هرې طبقې خلق څه ناڅه مبتلاء دي ، که هغه عالِم وي او که غير عالم . (٢)

# تکبّر د بَدبَختۍ چابي او مُهلِکه بيماري ده

امام غزالي رَحِمَهُ اللهُ په " احياء العلوم " کې ذکر کړي چې تکبّر د شقاوَت (او بَدبختۍ) چابي ده ، متکبّرين هغه خلق دي چې کله الله تعالى د دوی د ګمراهۍ اِراده اوکړي نو د دوی سينې تَنګې کړي ، متکبّر انسان هميشه د بَصيرت نه محروم وي ، د خپلو خواهشاتو او شيطان اِتباع کوي ، د تکبّر ګناه ډيره زياته ده ، دا مُهلِکه بيماري او عظيم آفت دی ،

---

(١) الله تعالى د کافرانو د اِنکار په باره کې فرمايي : ﴿ وَجَحَدُوا بِهَا وَاسْتَيْقَنَتْهَا أَنْفُسُهُمْ ظُلْمًا وَعُلُوًّا ﴾ . النمل آية ١٤ .

(٢) خطبات حکيم الامت ج٢٦ ص٣٣٨ .

**د تکبر په وجه جنت ته د نه داخليدو وجه :** په حديث کې راغلي دي چې د چا په زړه کې يوه ذره برابر تکبر وي نو هغه به جنت ته نه داخلېږي .

او جنت ته د نه داخليدو وجه علماوُ دا ذکر کړې چې د کومو ښو صفتونو په وجه انسان د جنت مستحق ګرځي د تکبّر په وجه انسان د دغه صفتونو نه محروم وي ، ځکه د تکبر باوجود دا ښه صفتونه په انسان کې نشي راتلی ، بلکه متکبّر د خپل تکبر برقرار ساتلو د پاره ټولو بَدو صفتونو او بدو اخلاقو ته مجبوره کيږي . او دا يقيني خبره ده چې څوک د ټولو ښو صفاتو نه محرومه شي او ټول بَد صفات په کې پيدا شي نو دا انسان به خامخا د جنت نه محرومه وي . (١)

امام غزالي رَحِمَهُ اللهُ دا هم ذکر کړي چې تکبّر داسې مُهلکه بيماري ده چې ددې په وجه په

---

(١) قَالَ الغَزَالِيُّ رَحِمَهُ اللهُ : مِفْتَاحُ السَّعَادَةِ التَّيَقُّظُ وَالفِطْنَةُ ، وَمَنْبَعُ الشَّقَاوَةِ الكِبْرُ وَالغَفْلَةُ . فَلَا نِعْمَةَ لِلّٰهِ عَلَى عِبَادِهِ أَعْظَمُ مِنَ الإِيمَانِ وَالمَعْرِفَةِ . وَلَا وَسِيلَةَ إِلَيْهِ سِوَى انْشِرَاحِ الصَّدْرِ بِنُورِ البَصِيرَةِ . وَلَا نِقْمَةَ أَعْظَمُ مِنَ الكُفْرِ وَالمَعْصِيَةِ . وَلَا دَاعِيَ إِلَيْهِمَا سِوَى عَمَى القَلْبِ بِظُلْمَةِ الجَهَالَةِ . فَالأَكْيَاسُ هُمُ الَّذِينَ أَرَادَ اللهُ أَنْ يَهْدِيَهُمْ فَشَرَحَ صُدُورَهُمْ لِلإِسْلَامِ وَالهُدَى ، وَالمُتَكَبِّرُونَ هُمُ الَّذِينَ أَرَادَ اللهُ أَنْ يُضِلَّهُمْ فَجَعَلَ صَدْرَهُمْ ضَيِّقًا حَرَجًا كَأَنَّمَا يَصَّعَّدُ فِي السَّمَاءِ . فَالمُتَكَبِّرُ هُوَ الَّذِي لَمْ تَنْفَتِحْ بَصِيرَتُهُ لِيَكُونَ بِهِدَايَةِ نَفْسِهِ كَفِيلًا . وَبَقِيَ فِي العَمَى فَاتَّخَذَ الهَوَى قَائِدًا وَالشَّيْطَانَ دَلِيلًا .

فَالكِبْرُ آفَةٌ عَظِيمَةٌ هَائِلَةٌ ، وَفِيهِ يَهْلِكُ الخَوَاصُّ مِنَ الخَلْقِ ، وَقَلَّمَا يَنْفَكُّ عَنْهُ العُبَّادُ وَالزُّهَّادُ وَالعُلَمَاءُ فَضْلًا عَنْ عَوَامِّ الخَلْقِ . وَكَيْفَ لَا تَعْظُمُ آفَتُهُ وَقَدْ قَالَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « لَا يَدْخُلُ الجَنَّةَ مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِنْ كِبْرٍ » وَإِنَّمَا صَارَ حِجَابًا دُونَ الجَنَّةِ لِأَنَّهُ يَحُولُ بَيْنَ العَبْدِ وَبَيْنَ أَخْلَاقِ المُؤْمِنِينَ كُلِّهَا . وَتِلْكَ الأَخْلَاقُ هِيَ أَبْوَابُ الجَنَّةِ . وَالكِبْرُ يُغْلِقُ تِلْكَ الأَبْوَابَ كُلَّهَا . لِأَنَّهُ لَا يَقْدِرُ عَلَى أَنْ يُحِبَّ لِلْمُؤْمِنِينَ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ وَفِيهِ شَيْءٌ مِنَ الكِبْرِ . فَمَا مِنْ خُلُقٍ ذَمِيمٍ إِلَّا وَصَاحِبُ الكِبْرِ مُضْطَرٌّ إِلَيْهِ لِيَحْفَظَ كِبْرَهُ ، وَمَا مِنْ خُلُقٍ مَحْمُودٍ إِلَّا وَهُوَ عَاجِزٌ عَنْهُ خَوْفًا مِنْ أَنْ يَفُوتَهُ عِزُّهُ . فَمِنْ هٰذَا لَمْ يَدْخُلِ الجَنَّةَ مَنْ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْهُ .

وَالأَخْلَاقُ الذَّمِيمَةُ مُتَلَازِمَةٌ . وَالبَعْضُ مِنْهَا دَاعٍ إِلَى البَعْضِ لَا مَحَالَةَ . وَشَرُّ أَنْوَاعِ الكِبْرِ مَا يَمْنَعُ مِنِ اسْتِفَادَةِ العِلْمِ وَقَبُولِ الحَقِّ وَالانْقِيَادِ لَهُ . نضرة النعيم ج ١١ ص ٥٣٥٣ الکبر والعجب ، احياء علوم الدين ج٣ ص ٣٧٨ کتاب ذم الغرور .

انسان باندې د الله تعالی غضب او قهر رانازلېږي. (۱)

## د تکبّر په وجه د انسانَ نه فضائِل ختمېږي او رَزائل په کې پيدا کېږي

امام ماوردي رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې د تکبّر او غرور په وجه د انسان نه فضائل (ټول ښه صفتونه) ختمېږي او رزائل (خراب صفتونه) په کې پيدا کېږي، بيا داسې کس د چا نصيحت ته هم غوږ نه ږدي او نه د چا اَدب قبلوي، ځکه دا خپل ځان ډېر اُوچت ګڼړي. (۲)

همداسې خبره امام غزالي رحمه الله په مکاشفة القلوب کې هم ذکر کړی.

## چې څوک غټې غټې دعوې کوي نو د هغه نه فيض نه خورېږي

چې څوک غټې غټې دعوې کوي چې "زه لوي علاّمه يم، مُتّقي پرهيزګار او عبادت ګُزاريم" نو د ده نه نورو خلقو ته فائده نه خوَرېږي، خو چې کله په کې عاجزي پيدا شي نو بيا يې نورو خلقو ته فائده رَسي.

علماؤ د پوهې د پاره يو مثال ورکړی چې کله وريژې پخولې شي نو تر څو پورې چې وريژې جوش کوي، آواز او حرکت کوي نو دا علامه ددې وي چې وريژې تر اوسه ندي پَخ شوي، د خوراک لائقې ندي، او په دې وخت کې په دې وريژو کې خپله خوشبو هم نه وي.

خو چې کله ددې جُوش، آواز او حرکت ختم شي، او دَمه شي نو بيا په کې خوَند او خوشبو پيدا شي، او د خوراک لائقې شي.

همدغه شان چې تر څو پورې په انسان کې تکبّر وي او غټې غټې دعوې کوي نو د ده نه نورو ته فائده نه رَسي، خو چې تکبّر په کې ختم شي نو کمالات يې راښکاره شي او نورو ته ورنه فائده رَسي.

---

(۱) فَالكِبْرُ وَالعُجْبُ دَاءَانِ مُهْلِكَانِ، وَالمُتَكَبِّرُ وَالمُعْجِبُ سَقِيمَانَ مَرِيضَانِ، وَهُمَا عِنْدَ اللهِ مَمْقُوتَانْ بَغِيضَانِ. احياء علوم الدين ج۳ ص ۳۳٦ كتاب ذم الكبر والعجب

(۲) اَلفَصْلُ الأَوَّلُ فِي مُجَانَبَةِ الكِبْرِ وَالإِعْجَابِ: لِأَنَّهُمَا يَسْلُبَانِ الفَضَائِلَ، وَيُكْسِبَانِ الرَّذَائِلَ. وَلَيْسَ لِمَنِ اسْتَوْلَيَا عَلَيْهِ إِصْغَاءٌ لِنُصْحٍ، وَلَا قَبُولٌ لِتَأْدِيبٍ، لِأَنَّ الكِبْرَ يَكُونُ بِالمَنْزِلَةِ، وَالعُجْبَ يَكُونُ بِالفَضِيلَةِ. فَالمُتَكَبِّرُ يُجِلُّ نَفْسَهُ عَنْ رُتْبَةِ المُتَعَلِّمِينَ، وَالمُعْجَبُ يَسْتَكْثِرُ فَضْلَهُ عَنْ اِسْتِزَادَةِ المُتَأَدِّبِينَ. ادب الدنيا والدين ج۱ ص ۲۳٦ اَلبَابُ الخَامِسُ أَدَبُ النَّفْسِ اَلفَصْلُ الأَوَّلُ فِي مُجَانَبَةِ الكِبْرِ وَالإِعْجَابِ.

## تکبّر د کافرانو صفت دی

فقیه ابو اللیث سمرقندي رحمه‌الله لیکلي چې تکبّر د کافرانو او فرعونیانو صفت دی، ځکه الله تعالیٰ د قرآن کریم په ډیرو آیتونو کې د کافرانو صفت تکبر ذکر کړی. (۱)

## تکبّر روحاني بيماري ده، ددې لرې کول فرضِ عين دي

خلق تَبې تَوخې او نورو جِسماني مرضونو ته بیماري وايي او ددې علاج کوي لیکن تکبّر او نورو بدو اخلاقو ته بیماري نه وايي، حالانکه تکبّر، بُغض، حسَد او غِیبت وغیره رُوحاني بیماری دي.

رُوحاني بیماري د جِسماني بیمارۍ نه ډیره خطرناکه ده، ځکه جِسماني بیماري جوړیږي، او زیات نه زیات انسان به ورنه وفات شي، او د مرګ نه خو هیڅوک هم نه پاتې کیږي، لیکن که په انسان کې رُوحاني بیماري راشي نو په دې سره دده ایمان او دین ته نقصان رَسي چې دا ډیره خطرناکه خبره ده.

لهذا د تکبر نه ځان ساتل او ددې لرې کول په انسان باندې فرضِ عین دي. (۲)

## الله ﷻ مُتکبّرین نه خوښوي

۱. په قرآن مجید کې ذکر دي: ﴿ إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْتَكْبِرِينَ ﴾. (۳)

---

(۱) اِعْلَمْ أَنَّ الْكِبْرَ مِنْ أَخْلَاقِ الْكُفَّارِ وَالْفَرَاعِنَةِ، وَالتَّوَاضُعُ مِنْ أَخْلَاقِ الْأَنْبِيَاءِ وَالصَّالِحِيْنَ. لِأَنَّ اللهَ تَعَالٰى وَصَفَ الْكُفَّارَ بِالْكِبْرِ. فَقَالَ: { إِنَّهُمْ كَانُوْا إِذَا قِيْلَ لَهُمْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ يَسْتَكْبِرُوْنَ } [ الصافات آية ۳۵ ]. وَقَالَ: { وَقَارُوْنَ وَفِرْعَوْنَ وَهَامٰنَ وَلَقَدْ جَآءَهُمْ مُّوْسٰى بِالْبَيِّنٰتِ فَاسْتَكْبَرُوْا فِي الْأَرْضِ وَمَا كَانُوْا سٰبِقِيْنَ } [العنكبوت آية ۳۹]. وَقَالَ: { إِنَّ الَّذِيْنَ يَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِيْ سَيَدْخُلُوْنَ جَهَنَّمَ دٰخِرِيْنَ } [ غافر آية ۶۰ ]. وَقَالَ: { قِيْلَ ادْخُلُوْا أَبْوَابَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا فَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِيْنَ } [ الزمر آية ۷۲ ]. وَقَالَ: { إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْتَكْبِرِيْنَ } [ النحل آية ۲۳ ]. تنبيه الغافلين باحاديث سيد الأنبياء والمرسلين للسمرقندي ص ۱۸۷ بَابُ الْكِبْرِ

(۲) اِعْلَمْ أَنَّ الْكِبْرَ مِنَ الْمُهْلِكَاتِ وَلَا يَخْلُوْ أَحَدٌ مِنَ الْخَلْقِ عَنْ شَيْءٍ مِنْهُ. وَإِزَالَتُهُ فَرْضُ عَيْنٍ. احياء علوم الدين ج۳ ص ۳۵۸ كتاب ذم الكبر والعجب

(۳) النحل آية ۲۳

ترجمه: بیشکه الله تعالی مُتکبّرین نه خوښوي.

۲. په روایاتو کې راځي چې حضرت موسٰی علیه السلام د الله ﷻ سره مناجات اوکړو نو پوښتنه یې ورنه اوکړه: يَا رَبِّ! مَنْ أَبْغَضُ خَلْقِكَ إِلَيْكَ؟

اې ربه! ستا په مخلوق کې تا ته ډیر مَبغوض ترین کس څوک دی؟

الله تعالی ورته اوفرمایل:

يَا مُوسٰى! مَنْ تَكَبَّرَ قَلْبُهُ، وَغَلُظَ لِسَانُهُ، وَضَعُفَ يَقِيْنُهُ، وَبَخِلَتْ يَدُهُ.

اې موسٰی! (ماته زما په مخلوقاتو کې ډیر مَبغوض ترین کس هغه دی) د چا په زړه کې چې تکبّر وي، ژبه یې بَدګویه وي (یعنی اَخلاق یې خراب وي)، یقین یې کمزوری وي، او لاس یې بخیل وي. (۱)

۳. رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

خُلُقَانِ يُحِبُّهُمَا اللهُ عَزَّ وَجَلَّ، وَخُلُقَانِ يُبْغِضُهُمَا اللهُ عَزَّ وَجَلَّ. فَأَمَّا اللَّذَانِ يُحِبُّهُمَا اللهُ تَعَالٰى فَحُسْنُ الْخُلُقِ وَالسَّخَاءُ، وَأَمَّا اللَّذَانِ يُبْغِضُهُمَا اللهُ فَسُوْءُ الْخُلُقِ وَالْبُخْلُ، وَإِذَا أَرَادَ اللهُ بِعَبْدٍ خَيْرًا إِسْتَعْمَلَهُ فِيْ قَضَاءِ حَوَائِجِ النَّاسِ. (۲)

دوه (۲) خويُونه (او صفتونه) الله ﷻ ډير خوښوي، او دوه (۲) خويُونه د الله ﷻ ناخوښه دي، پس کوم دوه خويُونه چې الله ﷻ ته خوښ دي هغه سخاوت او خُوش اَخلاقي ده، او نا خوښه عادتونه بَد اخلاقي او بُخل دی. پس کله چې الله ﷻ د یو بنده د خیر اراده اوکړي نو هغه د خلقو په ضرورتونو پوره کولو کې اُولږوي.

(۱) وَذُكِرَ أَنَّ مُوسٰى صَلَوَاتُ اللهِ وَسَلَامُهُ عَلَيْهِ نَاجَى اللهَ تَعَالٰى. فَقَالَ: يَا رَبِّ! مَنْ أَبْغَضُ خَلْقِكَ إِلَيْكَ؟ قَالَ: يَا مُوسٰى! مَنْ تَكَبَّرَ قَلْبُهُ، وَغَلُظَ لِسَانُهُ، وَضَعُفَ يَقِيْنُهُ، وَبَخِلَتْ يَدُهُ. تنبيه الغافلين بأحاديث سيد الأنبياء والمرسلين للسمرقندي ص ۱۸٥ بَابُ الْكِبْرِ

(۲) احياء علوم الدين ج۳ ص ۲۴۴، بيان فضيلة السخاء، وهكذا في شعب الإيمان رقم الحديث ۷۲٥۳، و رقم الحديث ۱۰۳۴٥، كنز العمال رقم الحديث ۱٦۰۱۳، الترغيب والترهيب لقوام السنّة رقم الحديث ۱۱٥۷، و رقم الحديث ۱٥٥۴

# د قيامت په ورځ به نبي عليه السلام ته مبغوض ترين خلق متکبرين وي

د ترمذي شريف او مشکوۃ شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

إِنَّ مِنْ أَحَبِّكُمْ إِلَيَّ وَأَقْرَبِكُمْ مِنِّي مَجْلِسًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَحَاسِنَكُمْ أَخْلَاقًا . وَإِنَّ أَبْغَضَكُمْ إِلَيَّ وَأَبْعَدَكُمْ مِنِّي مَجْلِسًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ الثَّرْثَارُونَ وَالْمُتَشَدِّقُونَ وَالْمُتَفَيْهِقُونَ .

بيشکه د قيامت په ورځ به په تاسو کې ماته ډير محبوب او د مجلس په اعتبار سره ډير مُقرّب هغه خلق وي چې په تاسو کې د چا اَخلاق ډير ښه وي ، او بيشکه د قيامت په ورځ به په تاسو کې ماته ډير مبغوض او زما د مجلس نه ډير لې خلق هغه وي چې ( د چا اخلاق خراب وي ، يعنی کوم چې ) په ناحقه او تکلّف سره ډيرې خبرې کوي ، بې احتياطه په تکلّف سره اوږدې خبرې کوي ، او تکبّر کوي .

(نبي عليه السلام د " اَلْمُتَفَيْهِقُوْنَ " تشريح په خپله په " اَلْمُتَكَبِّرُوْنَ " سره کړی ).(١)

---

(١) عَنْ جَابِرٍ رضي الله عنه أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : إِنَّ مِنْ أَحَبِّكُمْ إِلَيَّ وَأَقْرَبِكُمْ مِنِّي مَجْلِسًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَحَاسِنَكُمْ أَخْلَاقًا ، وَإِنَّ أَبْغَضَكُمْ إِلَيَّ وَأَبْعَدَكُمْ مِنِّي مَجْلِسًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ الثَّرْثَارُوْنَ وَالْمُتَشَدِّقُوْنَ وَالْمُتَفَيْهِقُوْنَ . قَالُوْا : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! قَدْ عَلِمْنَا الثَّرْثَارُوْنَ وَالْمُتَشَدِّقُوْنَ فَمَا الْمُتَفَيْهِقُوْنَ ؟ قَالَ : اَلْمُتَكَبِّرُوْنَ . سنن الترمذي أَبْوَابُ الْبِرِّ وَالصِّلَةِ بَابُ مَا جَاءَ فِي مَعَالِي الأَخْلَاقِ رقم الحديث ٢٠١٨ قال الالباني: صحيح. مشکوة المصابيح باب البيان والشعر الفصل الثاني رقم الحديث ۴٧٩٨ (١٦) ، رياض الصالحين رقم الحديث ٦٣٠ ، الکبائر للذهبي ج١ ص ٢٢۴ الکبيرة الستون الجدل والمراء واللدد ، الزواجر ج١ ص ١١٦ ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ٢٦٦٢(٢٣)، و رقم الحديث ٢٨٩٧(٨).

قال الترمذي : وَالثَّرْثَارُ: هُوَ الْكَثِيْرُ الْكَلَامِ . وَالْمُتَشَدِّقُ الَّذِيْ يَتَطَاوَلُ عَلَى النَّاسِ فِي الْكَلَامِ وَيَبْذُوْ عَلَيْهِمْ . سنن الترمذي أَبْوَابُ الْبِرِّ وَالصِّلَةِ بَابُ مَا جَاءَ فِي مَعَالِي الأَخْلَاقِ في تشريح رقم الحديث ٢٠١٨ .

وَفِي النِّهَايَةِ: اَلثَّرْثَارُوْنَ هُمُ الَّذِيْنَ يُكْثِرُوْنَ الْكَلَامَ تَكَلُّفًا وَخُرُوْجًا عَنِ الْحَقِّ . مِنَ الثَّرْثَرَةِ ، وَهِيَ كَثْرَةُ الْكَلَامِ وَتَرْدِيْدُهُ ( اَلْمُتَشَدِّقُوْنَ) أَيِ: الْمُتَوَسِّعُوْنَ فِي الْكَلَامِ مِنْ غَيْرِ اِحْتِيَاطٍ وَاحْتِرَازٍ . وَقِيْلَ : أَرَادَ بِالْمُتَشَدِّقِ الْمُسْتَهْزِئَ بِالنَّاسِ يَلْوِيْ شِدْقَهُ لَهُمْ وَعَلَيْهِمْ . وَقِيْلَ: هُمُ الْمُتَكَلِّفُوْنَ فِي الْكَلَامِ فَيَلْوِيْ بِهِ شِدْقَيْهِ . وَالشِّدْقُ جَانِبُ الْفَمِ ( اَلْمُتَفَيْهِقُوْنَ ) أَيِ: الَّذِيْنَ يَمْلَئُوْنَ أَفْوَاهَهُمْ بِالْكَلَامِ وَيَفْتَحُوْنَهَا ، مِنَ الْفَهْقِ وَهُوَ الْإِمْتِلَاءُ وَالْإِتِّسَاعُ . قِيْلَ: وَهٰذَا مِنَ التَّكَبُّرِ وَالرُّعُوْنَةِ . وَالْحَاصِلُ أَنَّ كُلَّ ذٰلِكَ رَاجِعٌ إِلَى مَعْنَى التَّرْدِيْدِ فِي الْكَلَامِ لِيَمِيْلَ بِقُلُوْبِ النَّاسِ وَأَسْمَاعِهِمْ إِلَيْهِ . مرقاة المفاتيح ج ٧ ص ٣٠١٩.

## د مُتکبّرينو د پاره د قيامت په ورځ رَسوائي

رسولُ اللهُ صلى الله عليه وسلم فرمايي:

يُحْشَرُ الْمُتَكَبِّرُوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَمْثَالَ الذَّرِّ فِيْ صُوَرِ الرِّجَالِ يَغْشَاهُمُ الذُّلُّ مِنْ كُلِّ مَكَانٍ، فَيُسَاقُوْنَ إِلٰى سِجْنٍ فِيْ جَهَنَّمَ يُسَمّٰى بُوْلَس. تَعْلُوْهُمْ نَارُ الْأَنْيَارِ يُسْقَوْنَ مِنْ عُصَارَةِ أَهْلِ النَّارِ طِيْنَةَ الْخَبَالِ.

مُتکبّرين به د قيامت په ورځ د سرُو ورو ميږو هومره د سړو په صورت کې په يو ځای کې راجمع کړې شي (يعنى شکل و صورت به يې د سړو په شان وي خو په جِسم کې به د سرو ورو ميږو هومره وي)، د هر طرف نه به په ذِلّت کې راګېر وي، بيا به د جهنم يوې قيد خانې طرفته رابنکلې شي چې د هغې نوم "بُولَس" دی، په دوی باندې به د اورونو اور (يعنى سخت ترين اُور) د پاسه طرف نه اِحاطه کړي وي (يعنى د هر طرف نه به اُور راګېر کړي وي) په دوی باندې به د جهنّميانو (د وِينو او زوُو) نچوړ څکلې شي چې د هغې نوم " طِيْنَةُ الْخَبَالِ " دی. (١)

## په تکبر سره تلل منع دي

١ . الله تعالى فرمايي:

﴿ وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحًا ۚ إِنَّكَ لَنْ تَخْرِقَ الْأَرْضَ وَلَنْ تَبْلُغَ الْجِبَالَ طُوْلًا ﴾. (٢)

ترجمه: او په زمکه باندې په غرور (تکبّر) مه ګرځه، يقينًا ته هيڅ کله زمکه نشې شلولی، او هيڅ کله په اوږدوالي کې غرونو ته نشې رسيدی.

---

(١) سنن الترمذي رقم الحديث ٢٤٩٢ وقال الترمذي: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. وقال الالباني: حسنٌ. الادب المفرد للبخاري رقم الحديث ٥٥٧ باب الكبر، مسند احمد رقم الحديث ٦٦٧٧، السنن الكبرى للنسائي رقم الحديث ١١٨٢٧، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ٢٩١١(٢٢) الترغيب في التواضع والترهيب من الكبر والعجب والافتخار، مشكوة المصابيح باب الغضب والكبر الفصل الثاني رقم الحديث ٥١١٢(٩)، الزواجر ج١ ص ١١٠ الكبيرة الرابعة الكبر والعجب والخيلاء، شرح السنّة للبغوي رقم الحديث ٣٥٩٠.

(٢) الاسراء (بني اسرائيل) آية ٣٧.

یعنی په تکبّر سره مه ګرځه ځکه که ته هر څومره د تکبّر په وجه په زمکه باندې خپه په زُوره ږدې خو بیا هم زمکه نشې شلولی . او که په تللو کې د ډیر تکبّر په وجه پورته پورته کیږی خو بیا به هم د غرونو اُوچت والي ته نشی رسیدی .

۲ . حضرت لقمان چې کله خپل ځوي ته نصیحت کولو نو دا یې هم ورته فرمایلي وو :

﴿ وَلَا تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحًا ۖ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ ﴾ . (١)

ترجمه : او د خلقو نه خپل مخ مه اَړوه ، او په زمکه باندې په غرور (تکبر) سره مه ځه ، بیشکه الله تعالی هر مغرور فخر کوونکی نه خوښوي .

۳ . د الله تعالی ریښتیني بندګانو شان دادی چې دوی په زمکه باندې ډیر په عاجزۍ سره ګرځي ، الله تعالی فرمایي :

﴿ وَعِبَادُ الرَّحْمَٰنِ الَّذِينَ يَمْشُونَ عَلَى الْأَرْضِ هَوْنًا ﴾ . (٢)

ترجمه : او د الله تعالی (ریښتیني) بندګان هغه خلق دي چې په زمکه باندې په قلاره (عاجزۍ) سره ګرځي .

## تکبّر سره تلونکي کس نه الله ﷻ ناراضه وي

څوک چې په دُنیا کې په تکبّر سره ځي نو د قیامت په ورځ چې دا د الله ﷻ سره مخامخ کیږي نو الله تعالی به ورباندې غصه وي ، رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي :

مَنْ تَعَظَّمَ فِي نَفْسِهِ أَوِ اخْتَالَ فِي مِشْيَتِهِ لَقِيَ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ وَهُوَ عَلَيْهِ غَضْبَانُ . (٣)

---

(١) لقمان آیة ١٨ .

(٢) الفرقان آیة ٦٣ .

څوک چې په خپل زړه کې خپل ځان لوي ګڼړي ، او يا په تللو کې تکبّر کوي نو دا به د الله تعالى سره په داسې حالت کې مخامخ کيږي چې هغه به په ده باندې غصه وي ( دده نه به ناراضه وي ) .

## بني آدم سره تکبّر نه ښائي

١ . احنف بن قيس رَحِمَهُ اللهُ فرمايي :

عَجَبًا لِابْنِ آدَمَ يَتَكَبَّرُ وَقَدْ خَرَجَ مِنْ مَجْرَى الْبَوْلِ مَرَّتَيْنِ . (١)

د بني آدم د پاره تعجّب دی چې دا تکبّر کوي حالانکه دا دوه ځل د تشو متيازو د لارې نه را اُوتې دی . (٢)

٢ . حسن رَحِمَهُ اللهُ فرمايي :

عَجَبًا لِابْنِ آدَمَ يَغْسِلُ الْخَرْءَ بِيَدِهِ فِي الْيَوْمِ مَرَّتَيْنِ ثُمَّ يَتَكَبَّرُ . يُعَارِضُ جَبَّارَ السَّمٰوَاتِ .

په بني آدم باندې تعجب دی چې هغه په هره ورځ په خپل لاس باندې دوه پېرې ( د خپل اُودس ماتې ) ګندګي وينځي او بيا هم تکبّر کوي ، د آسمانونو ( او زمکې ) ځهار ذات سره معارضه کوي . (٣)

## انسان دې خپل اَوّلني مينځني او آخري اَنجام ته نظر اوکړي

که انسان خپل اَوّلني ، مينځني او آخري اَنجام ته نظر اوکړي نو هيڅ کله به غرور او تکبّر اونکړي .

(١) الزواجر عن اقتراف الکبائر ج١ ص١١٧ اَلْکَبِيرَةُ الرَّابِعَةُ الْکِبْرُ وَالْعُجْبُ وَالْخُيَلَاءُ . التواضع والخمول لابن ابي الدنيا ج١ ص٢٥١ رقم ٢٠١ ، احياء علوم الدين ج٣ ص٣٣٨ کتاب ذم الکبر والعجب ، نضرة النعيم ج١١ ص٣٣٧٦ الکبر والعجب ، نزهة الناظرين ص ٥١١ کتاب ذم الکبر والعجب ومدح التواضع .

(٢) يعنی يو پېره د مَني په صورت کې د پلار د تشو متيازو د لارې نه رااُوتی ، او دويمه پېره د مور نه پيدا شوی .

(٣) تفسير ابن کثير ج٦ ص٣٤٦ سورة لقمان في تشريح آية ١٨ ، الزواجر عن اقتراف الکبائر ج١ ص١١٧ اَلْکَبِيرَةُ الرَّابِعَةُ الْکِبْرُ وَالْعُجْبُ وَالْخُيَلَاءُ . احياء علوم الدين ج٣ ص٣٣٨ کتاب ذم الکبر والعجب ، نزهة الناظرين ص ٥١١ کتاب ذم الکبر والعجب ومدح التواضع .

١ . يوه ورځ مُهَلّب ( کوم چې د حجاج بن يوسف د فوج د يوې حصې مشر ؤ ) د وريښمو او وَرِی نه جوړې شوې جامې اغوستې وی په لاره باندې ډير په تکبّر سره روان ؤ .
مُطَرِّف بن عبدالله چې دا اُوليد نو ورته وې ويل :

يَا عَبْدَ اللهِ ! هٰذِهِ مِشْيَةٌ يُبْغِضُهَا اللهُ وَرَسُولُهُ.

اې د الله بنده ! داسې په تکبّر باندې تلل الله او د هغه رسول نه خوَښوي .
مُهَلّب وويل : آيا ته ما نه پيژنې چې زه څوک يم ؟ مُطَرِّف ورته وويل :

بَلْ أَعْرِفُكَ أَوَّلُكَ نُطْفَةٌ مَذِرَةٌ ، وَآخِرُكَ جِيفَةٌ قَذِرَةٌ ، وَأَنْتَ تَحْمِلُ فِيمَا بَيْنَ ذٰلِكَ الْعَذِرَةَ.

آو ، زه تا پيژنم ، ستا اول ګنده نُطفه وه ، آخري اَنجام به دې ( په قبر کې ) د بَدبودارې مردارې په شان وي ، او اوس په دې مينځ زمانه کې هر وخت په خېټه کې اُودس ماتې ګرځوی .
نو مُهَلّب بيا دا تلل پريخودل . (١)

٢ . يو شاعر دا خبره په اَشعارو کې داسې بيان کړی :

عَجِبْتُ مِنْ مُعْجَبٍ بِصُورَتِهِ ✡ وَكَانَ بِالْأَمْسِ نُطْفَةً مَذِرَةْ

زه په هغه انسان باندې تعجب کوم چې هغه په خپل صورت باندې مغروره وي حالانکه دا پرون (يعنی مخکې) پليته نُطفه وه .

وَفِي غَدٍ بَعْدَ حُسْنِ صُورَتِهِ ✡ يَصِيرُ فِي اللَّحْدِ جِيفَةً قَذِرَةْ

---

(١) وَذُكِرَ أَنَّ الْمُهَلَّبَ بْنَ أَبِي صُفْرَةَ كَانَ صَاحِبَ جَيْشِ الْحَجَّاجِ . فَمَرَّ عَلَى مُطَرِّفِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ الشِّخِّيرِ . وَهُوَ يَتَبَخْتَرُ فِي حُلَّةِ خَزٍّ . فَقَالَ لَهُ مُطَرِّفٌ : يَا عَبْدَ اللهِ ! هٰذِهِ مِشْيَةٌ يُبْغِضُهَا اللهُ وَرَسُولُهُ. فَقَالَ الْمُهَلَّبُ : أَمَا تَعْرِفُنِي؟ فَقَالَ : بَلْ أَعْرِفُكَ أَوَّلُكَ نُطْفَةٌ مَذِرَةٌ ، وَآخِرُكَ جِيفَةٌ قَذِرَةٌ ، وَأَنْتَ تَحْمِلُ فِيمَا بَيْنَ ذٰلِكَ الْعَذِرَةَ . فَتَرَكَ الْمُهَلَّبُ مِشْيَتَهُ تِلْكَ. تنبيه الغافلين باحاديث سيد الأنبياء والمرسلين للسمرقندي ص ١٨٥ بَابُ الْكِبْرِ . ادب الدنيا والدين للماوردي ج ١ ص ٢٣٦ اَلْبَابُ الْخَامِسُ أَدَبُ النَّفْسِ اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ فِي مُجَانَبَةِ الْكِبْرِ وَالْإِعْجَابِ . احياء علوم الدين ج٣ ص ٣٢٠ كتاب ذم الكبر والعجب ، الزواجر عن اقتراف الكبائر ج١ ص ١١٧ اَلْكَبِيرَةُ الرَّابِعَةُ الْكِبْرُ وَالْعُجْبُ وَالْخُيَلَاءُ ، نضرة النعيم ج١١ ص ٣٣٧٨ الكبر والعجب ، البحر المحيط في التفسير ج١٠ ص ٢٧٧ .

او ددې ښايسته صورت نه پس بيا په قبر کې ورنه بَدبوداره مرداره جوړه شي (يعنی بدن به يې سخا شي او بَدبُويي به کوي)

وَهُوَ عَلَىٰ تِيْهِهٖ وَنَخْوَتِهٖ ✡ مَا بَيْنَ ثَوْبَيْهِ يَحْمِلُ الْعَذِرَةْ.

او دا د خپل غرور او تکبّر سره د کپړو نه لاندې (په کولمو کې) اُودس ماتې ګرځوي.(١)

٣. بلکه که يو انسان خپل ځان ته سوچ اوکړي چې هر وخت يې په خېټه کې ګندګي وي او چې اُودس ماتې اوکړي نو د بَدبُوئي نه څوک ورنزدې کيدې نشي.

که انسان څه وخت صفائي اونکړي نو په پوزه کې يې ګندګي وي، په غوږونو کې يې دَنه خيرې وي، سترګې يې چَخې کوي، غابنونه او خُله يې بَدبوئي پيدا کوي، آخري اَنجام يې په قبر کې د چينجو خوراک وي.

نو چې کله په انسان کې دومره ډيرې کمزورۍ دي نو بيا دده د پاره تکبّر او غرور ندې په کار.(٢)

## د اِبليس د فِرعون نه پوښتنه

په کتابونو کې يوه واقعه ذکر ده چې يوه ورځ ابليس فرعون ته راغی او ورته وې ويل:
آيا تا دخدائي دعوی کړی؟ فرعون ورته وويل: آو. ابليس ورته وويل: په څه دليل سره؟
فرعون ورته وويل: د ما سره زر (١٠٠٠) ساحران دي.

---

(١) ادب الدنيا والدين للماوردي ج ١ ص ٢٣٧ اَلبَابُ الخَامِسُ أَدَبُ النَّفْسِ الفَصْلُ الأَوَّلُ فِي مُجَانَبَةِ الكِبْرِ وَالإِعْجَابِ

(٢) يو شاعر د انسان دا حالت په خپلو اشعارو کې داسې بيان کړی:

يَا مُظْهِرَ الكِبْرِ إِعْجَابًا بِصُورَتِهِ ✡ أُنْظُرْ خَلَاكَ فَإِنَّ النَّتْنَ تَثْرِيبُ

لَوْ فَكَّرَ النَّاسُ فِيْمَا فِيْ بُطُوْنِهِمْ ✡ مَا اسْتَشْعَرَ الكِبْرَ شُبَّانٌ وَلَا شِيْبُ

هَلْ فِيْ ابْنِ آدَمَ مِثْلُ الرَّأْسِ مَكْرُمَةً ✡ وَهُوَ بِخَمْسٍ مِنَ الأَقْذَارِ مَضْرُوْبُ

أَنْفٌ يَسِيْلُ وَأُذْنٌ رِيْحُهَا سَهِكٌ ✡ وَالعَيْنُ مُرْفَضَةٌ وَالثَّغْرُ مَلْعُوْبُ

يَا ابْنَ التُّرَابِ وَمَأْكُوْلَ التُّرَابِ غَدًا ✡ أَقْصِرْ فَإِنَّكَ مَأْكُوْلٌ وَمَشْرُوْبُ

ادب الدنيا والدين للماوردي ج ١ ص ٢٣٨ اَلبَابُ الخَامِسُ أَدَبُ النَّفْسِ الفَصْلُ الأَوَّلُ فِي مُجَانَبَةِ الكِبْرِ وَالإِعْجَابِ. نضرة النعيم ج ١١ ص ٥٣٧٩ الكبر والعجب.

ابليس ورته وويل : هغه ټول ماته راجمع کړه .

فرعون ټول ساحران راجمع کړل او ټولو خپل سِحر اوکړو . ابليس يوه ساه واخيسته او د ټولو ساحرانو سِحر يې ختم کړو ، بيا يې دويمه ساه واخيسته نو د ټولو نه زيات سِحر يې ښکاره کړو . بيا ابليس فرعون ته وويل : ددې ساحرانو سِحر دير قوي وُ او که زما سِحر ؟

فرعون ورته وويل : ستا سِحر دير قوي وُ . ابليس ورته وويل :

يَا فِرْعَوْنُ ! أَنَا مَعَ هٰذَا لَا يَرْضَانِيَ اللهُ تَعَالَى أَنْ أَكُوْنَ عَبْدَهُ فَكَيْفَ يَرْضَاكَ مَعَ عجْزِكَ أَنْ تَكُوْنَ شَرِيْكَهُ؟

اې فرعون ! ( کله چې ما نافرماني اوکړه نو ) الله تعالى زه خپل بنده جوړيدل خوښ نکړم نو تا به ددې دومره کمزورتيا باوجود څنګه خپل شريک خوښ کړي ؟ (١)

## د تکبر په وجه پيڅې ( يا لنګ ) په زمکه راښکونکي ته به الله ﷻ د قيامت په ورځ د رَحمت په نظر او نه ګوري

١ . د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دى ، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي :

لَا يَنْظُرُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَى مَنْ جَرَّ إِزَارَهُ بَطَرًا . (٢)

---

(١) دَخَلَ إبليسُ على فرعون ، فقال : أنتَ تدعي الرّبوبيّة؟ قال : نعم . قال : بأيّ حجّة ؟ قال : بألفِ ساحرة . فقال : اجمعهم لي . فجمعهم ، فألقوا سحرهم ، فتنفس إبليس فصار هباء منثورا ، وتنفس ثانياً فظهر سحره أكثر من سحرهم . قال : يا فرعون ! سحرهم أقوى أم سحري ؟ فقال : بل سحرك . فقال : يَا فِرْعَوْنُ ! أَنَا مَعَ هٰذَا لَا يَرْضَانِيَ اللهُ تَعَالَى أَنْ أَكُوْنَ عَبْدَهُ فَكَيْفَ يَرْضَاكَ مَعَ عجْزِكَ أَنْ تَكُوْنَ شَرِيْكَهُ ؟ . نزهة المجالس ومنتخب النفائس ج ١ ص ١٢٧ باب ذم الكبر

(٢) صحيح البخاري كِتَابُ اللِّبَاسِ بَابُ مَنْ جَرَّ ثَوْبَهُ مِنَ الخُيَلَاءِ رقم الحديث ٥٧٨٨ ، صحيح مسلم كتاب اللِّبَاسِ وَالزِّينَةِ بَابُ تَحْرِيمِ جَرِّ الثَّوْبِ خُيَلَاءَ رقم الحديث ٤٨(٢٠٨٧) ، سنن ابي داؤد باب في قدر موضع الإزار رقم الحديث ٤٠٩٣ ، سنن ابن ماجة رقم الحديث ٣٥٧٣ باب موضع الإزار أين هو؟ مشكوة المصابيح كتاب اللباس الفصل الاول رقم الحديث ٤٣١١(٨) ، و رقم الحديث ٤٣٣١(٢٨) ، موطاء مالک رقم الحديث ١٢ باب ماجاء في اسبال الرجل ثوبه ، مسند احمد رقم الحديث ١٠٢٠٧ ، و رقم الحديث ٩٣٠٥ .

الله تعالى به هغه کس ته د قيامت په ورځ د رَحمت په نظر باندې او نه ګوري څوک چې خپل لنګ (پينځې) د تکبّر په وجه ( په زمکه ) راکاږي .

## د تکبّر په وجه څادر په زمکه راښکونکی الله تعالی په زمکه ننويست

د بخاري شريف حديث دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

بَيْنَمَا رَجُلٌ يَجُرُّ إِزَارَهُ مِنَ الْخُيَلَاءِ ، خُسِفَ بِهِ ، فَهُوَ يَتَجَلْجَلُ فِي الْأَرْضِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ .

يو کس وُ هغه به د تکبّر په وجه لنګ ( يا پرتوګ ) په زمکه راښکل نو هغه په زمکه کې ډُوب (غرق) کړې شو، او هغه به د قيامت د ورځې پورې په زمکه کې همداسې ښکته روان وي. (١)

همداسې مضمون واله حديث په مسلم شريف کې هم ذکر دی. (٢)

## تکبّر کول په زمکه کې د غرقيدو سبب دی

د مذکوره حديث نه معلومه شوه چې تکبّر کول په زمکه کې د غرقيدو ( او ډُوبيدو ) سبب دی. دا خبره د حضرت سليمان عليه السلام د يوې واقعې نه هم معلومېږي .

واقعه داده چې يوه ورځ حضرت سليمان عليه السلام جِنّاتو ، انسانانو ، مرغانو او چارپيانو ته ووېل: اُخْرُجُوْا. راأووځئ.

نو دوه لکه ( ٢٠٠٠٠٠ ) انسانان او دوه لکه ( ٢٠٠٠٠٠ ) جِنّات راأووتل، ( حضرت سليمان عليه السلام ته چونکه هوا مُسخره وه ) نو هوا دوی پاس آسمان طرف ته دومره أوچت کړل

---

(١) صحيح البخاري رقم الحديث ٣٢٨٥ كِتَابُ أَحَادِيثِ الْأَنْبِيَاءِ بَابُ حَدِيثِ الْغَارِ ، ورقم الحديث ٥٧٩٠ كِتَابُ اللِّبَاسِ بَابُ مَنْ جَرَّ ثَوْبَهُ مِنَ الْخُيَلَاءِ ، سنن النسائي رقم الحديث ٥٣٢٦ التغليظ في جرّ الإزار ، مشكاة المصابيح كتاب اللباس الفصل الاول رقم الحديث ٤٣١٣(١٠) ، مسند احمد رقم الحديث ٥٣٤٠ .

(٢) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : بَيْنَمَا رَجُلٌ يَمْشِي قَدْ أَعْجَبَتْهُ جُمَّتُهُ وَبُرْدَاهُ ، إِذْ خُسِفَ بِهِ الْأَرْضُ ، فَهُوَ يَتَجَلْجَلُ فِي الْأَرْضِ حَتَّى تَقُومَ السَّاعَةُ . صحيح مسلم كتاب اللِّبَاسِ وَالزِّينَةِ بَابُ تَحْرِيمِ التَّبَخْتُرِ فِي الْمَشْيِ مَعَ إِعْجَابِهِ بِثِيَابِهِ رقم الحديث ٥٠( ٢٠٨٨ ) ، سنن الترمذي رقم الحديث ٢٤٩١ ، صحيح ابن حبان رقم الحديث ٥٦٨٣ ، ورقم الحديث ٧٨١٣ ، مجمع الزوائد رقم الحديث ٨٥٣٣ .

چې سليمان عليه السلام د فرښتو د تسبيح آواز هم واورېد .

بيا هوا دوی زمکې ته دومره راښکته کړل چې د حضرت سليمان عليه السلام قدم مبارک د سمندر اُوبو سره اُولګېد . په دې وخت کې سليمان عليه السلام يو آواز واورېد :

لَوْ كَانَ فِيْ قَلْبِ صَاحِبِكُمْ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِنْ كِبْرٍ لَخَسَفْتُ بِهٖ أَبْعَدَ مِمَّا رَفَعْتُهٗ.

که چيرته ستاسو په دې ملګري ( سليمان عليه السلام ) کې ذرّه برابر تکبر وی نو آسمان طرف ته مې چې څومره اُوچت کړې وُ د هغې نه زيات به مې په زمکه کې دوب کړې وُ . ( خو په ده کې ذرّه برابر تکبّر هم نشته ) . (١)

**فائده** : ددې واقعې نه دوه خبرې معلومه شوی : اول دا چې باوجود ددينه چې د حضرت سليمان عليه السلام سره دير لوې حکومت وُ خو بيا يې هم په زړه کې ذرّه برابر تکبر نه وُ .

دويمه خبره ورنه دا معلومه شوه چې تکبّر کول په زمکه کې د غرقيدو سبب دی .

## د تکبّر په وجه پېڼځې په زمکه راښکونکی د شيطان ورور دی

حضرت عبدالله بن عُمر رضي الله عنهما يو کس اُوليد چې د تکبّر په وجه يې خپل لنګ ( يا پېڼځې ) په زمکه راښکلی ، نو ده اوفرمايل : إِنَّ لِلشَّيْطَانِ إِخْوَانًا.

بېشکه د شيطان ورونه هم شته . ( دا جمله يې دوه پېرې يا درې پېرې اوفرمايله ) . (٢)

د مذکوره احاديثو او واقعاتو نه دا معلومه شوه چې که څوک د تکبّر په وجه خپلې

---

(١) قَالَ سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ صَلَّى اللهُ وَسَلَّمَ عَلٰى نَبِيِّنَا وَعَلَيْهِمَا يَوْمًا لِلْجِنِّ وَالْإِنْسِ وَالطَّيْرِ وَالْبَهَائِمِ : اُخْرُجُوْا ، فَخَرَجُوْا فِيْ مِائَتَيْ أَلْفٍ مِنَ الْإِنْسِ ، وَمِائَتَيْ أَلْفٍ مِنَ الْجِنِّ . فَرُفِعَ حَتّٰى سَمِعَ زَجَلَ الْمَلَائِكَةِ بِالتَّسْبِيْحِ فِي السَّمٰوَاتِ. ثُمَّ خُفِضَ حَتّٰى مَسَّتْ قَدَمَاهُ الْبَحْرَ فَسَمِعَ صَوْتًا : لَوْ كَانَ فِيْ قَلْبِ صَاحِبِكُمْ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِنْ كِبْرٍ لَخَسَفْتُ بِهٖ أَبْعَدَ مِمَّا رَفَعْتُهٗ. الزواجر عن اقتراف الكبائر ج١ ص ١١٤ اَلْكَبِيْرَةُ الرَّابِعَةُ الْكِبْرُ وَالْعُجْبُ وَالْخُيَلَاءُ . التواضع والخمول لابن ابي الدنيا ج١ ص ٢٥ رقم ١٩٩ ، احياء علوم الدين ج٣ ص ٣٣٧ ، نضرة النعيم ج ١١ ص ٥٣٧٧ الكبر والعجب .

(٢) عَنْ جَمِيْلِ بْنِ زَيْدٍ قَالَ : رَأَى ابْنُ عُمَرَ رضي الله عنهما رَجُلًا يَجُرُّ إِزَارَهٗ فَقَالَ : « إِنَّ لِلشَّيْطَانِ إِخْوَانًا » مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا . التواضع والخمول لابن ابي الدنيا ج ١ ص ٢٩٢ رقم ٢٤٦ ، احياء علوم الدين ج٣ ص ٣٤٠ ، نضرة النعيم ج ١١ ص ٥٣٧٦ الكبر والعجب . الدر المنثور في التفسير بالماثور ج٥ ص ٢٨٧ .

پېنځې يا لنګ د ګېټو نه ښکته ساتي او په زمکه يې راکاږي نو داسې کس ته الله تعالى د رَحمت په نظر باندې نه ګوري ، دداسې تکبّر په وجه په زمکه کې د غرقيدو خطر دى ، او داسې کس د شيطان وروردى .

## که د څه عُذر په وجه پېنځې په خپله ښکته کيدى نو دا خبر دى

که بغير د تکبّر نه د څه عُذر په وجه بې اِختياره د چا پېنځې په زمکه ښکته کيدى او ده د رااُوچتولو کوشش کولو خو هغه به بيا هم ښکته کيدى نو داسې کس په مذکوره وعيد کې داخل ندى .

د بخاري شريف حديث دى ، حضرت عبدالله بن عُمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمايل :

مَنْ جَرَّ ثَوْبَهُ خُيَلَاءَ لَمْ يَنْظُرِ اللّٰهُ إِلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ .

څوک چې د تکبّر په وجه خپلې جامې (پېنځې ، لنګ ، يا څادر) په زمکه راکاږي نو د قيامت په ورځ به الله تعالى ده ته د رحمت په نظر او نه ګوري .

(دې آوريدو سره) حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه اوفرمايل : اې د الله رسوله ! بيشکه زما لنګ يو طرف ( بې اِختياره ) لاندې زوَرند وي خو زه بيا هم ددې حفاظت کوم ( او دا د ښکته کيدو نه بچ کوم ، نو زما څه حُکم دى ؟ )

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل : لَسْتَ مِمَّنْ يَصْنَعُهُ خُيَلَاءَ .

ته د هغه خلقو نه نه يې چې هغوى د تکبّر په وجه لنګ ( يا پرتوګ ) ښکته کوي . (١)

---

(١) عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ ، عَنْ أَبِيهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ جَرَّ ثَوْبَهُ خُيَلَاءَ لَمْ يَنْظُرِ اللّٰهُ إِلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ» قَالَ أَبُو بَكْرٍ رضي الله عنه : يَا رَسُولَ اللّٰهِ ! إِنَّ أَحَدَ شِقَّيْ إِزَارِي يَسْتَرْخِي ، إِلَّا أَنْ أَتَعَاهَدَ ذٰلِكَ مِنْهُ؟ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَسْتَ مِمَّنْ يَصْنَعُهُ خُيَلَاءَ» . صحيح البخاري كِتَابُ اللِّبَاسِ بَابُ مَنْ جَرَّ إِزَارَهُ مِنْ غَيْرِ خُيَلَاءَ رقم الحديث ٥٧٨٤ ، ورقم الحديث ٣٦٦٥ ، صحيح مسلم رقم الحديث ٤٢(٢٠٨٥) باب تحريم جرّ الثوب خيلاء . مسند احمد رقم الحديث ٥٣٥١ ، سنن ابي داؤد رقم الحديث ٤٠٨٥ باب ماجاء في اسبال الازار ، سنن الترمذي رقم الحديث ١٧٣٠ باب ماجاء في كراهية جر الازار ، صحيح ابن حبان رقم الحديث ٥٤٤٤ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ١٣١٧٨ ، شعب الايمان رقم الحديث ٧٨١٦ ، مشكوة المصابيح رقم الحديث ٤٣٦٩(٦٦)

# الله ﷻ مُتکبّر کس لره ذليله کوي

١. په يوه موقع باندې رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمايل :

... مَنْ تَوَاضَعَ رَفَعَهُ اللهُ ، وَمَنْ تَكَبَّرَ وَضَعَهُ اللهُ ....

څوک چې عاجزي اوکړي نو الله تعالى به دده مرتبه اُوچته کړي ، او څوک چې تکبّر اوکړي نو الله تعالى به دده مرتبه ښکته کړي . (يعنى ذليل به يې کړي) . (١)

٢. يوه ورځ حضرت عُمر ﷺ په ممبر باندې خلقو ته اوفرمايل : اې خلقو! تاسو تواضع (عاجزي کوئ) ، ځکه ما د رسول الله ﷺ نه اَوريدلي دي چې فرمايل يې :

مَنْ تَوَاضَعَ لِلّٰهِ رَفَعَهُ اللهُ فَهُوَ فِي نَفْسِهِ صَغِيْرٌ وَفِي أَعْيُنِ النَّاسِ عَظِيْمٌ ، وَمَنْ تَكَبَّرَ وَضَعَهُ اللهُ فَهُوَ فِي أَعْيُنِ النَّاسِ صَغِيْرٌ ، وَفِي نَفْسِهِ كَبِيْرٌ حَتّٰى لَهُوَ أَهْوَنُ عَلَيْهِمْ مِنْ كَلْبٍ أَوْ خِنْزِيْرٍ .

څوک چې د الله ﷻ د رضا د پاره تواضع (عاجزي) کوي نو الله تعالى به د هغه مرتبه اُوچته کړي ، پس داسې کس اګر چې په خپل نفس کې وړوکې وي (يعنى ځان وړوکې ګنړي) خو د خلقو په نظرونو کې به ډير د اُوچتې مرتبې واله وي ، او څوک چې تکبر کوي نو الله تعالى هغه ذليله کوي ، پس داسې کس د خلقو په نظرونو کې وړوکې وي اګر چې په خپل نفس کې ځان د اُوچتې مرتبې ګنړي ، تر دې چې دا د خلقو په نظر کې د سپي او خِنزير نه هم زيات سپَک او ذليل شي . (٢)

---

(١) التواضع والخمول لابن ابي الدنيا ج ١ ص ١٠١ رقم الحديث ٧٧ باب التواضع ، المعجم الاوسط رقم الحديث ٤٨٩٤ ، احياء علوم الدين ج٣ ص ٣٢٧ ، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٤٩٦٩ ، مجمع الزوائد رقم الحديث ١٨٢٩٤ ، الزواجر ج١ ص١٢٧ ، اصلاح المال ج١ ص٩٩ رقم ٣٣٠ .

وفي رواية : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَنْ تَوَاضَعَ لِلّٰهِ رَفَعَهُ اللهُ ، وَمَنْ تَكَبَّرَ وَضَعَهُ اللهُ . الزواجر عن اقتراف الكبائر ج١ ص ١٢٥ اَلْكَبِيْرَةُ الرَّابِعَةُ الْكِبْرُ وَالْعُجْبُ وَالْخُيَلَاءُ ، كنزالعمال رقم الحديث ٥٧٣٤ ، الترغيب والترهيب للمنذري ج ١ ص ١٥ رقم الحديث ١١٥ .

(٢) قَالَ عُمَرُ ﷺ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ : أَيُّهَا النَّاسُ ! تَوَاضَعُوْا فَإِنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ : مَنْ تَوَاضَعَ لِلّٰهِ رَفَعَهُ اللهُ ... شعب الايمان رقم الحديث ٧٧٩٠ ، مشكوة المصابيح باب الغضب والكبر رقم الحديث ٥١١٩(١٦) ، الزواجر اَلْكَبِيْرَةُ الرَّابِعَةُ الْكِبْرُ وَالْعُجْبُ وَالْخُيَلَاءُ ج١ ص ١٢٥ ، كنزالعمال رقم الحديث ٥٧٣٧ .

٣ . رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ تَوَاضَعَ لِلّٰهِ دَرَجَةً يَرْفَعُهُ اللهُ دَرَجَةً حَتّٰى يَجْعَلَهُ فِيْ أَعْلٰى عِلِّيِّيْنَ . وَمَنْ تَكَبَّرَ عَلَى اللهِ دَرَجَةً يَضَعُهُ اللهُ دَرَجَةً حَتّٰى يَجْعَلَهُ فِيْ أَسْفَلِ السَّافِلِيْنَ ... (١)

څوک چې د الله ﷻ د رَضا د پاره يوه درجه تواضع ( عاجزي ) اوکړي نو الله تعالى ددوه درجه اوچتوي تردې چې په عِلّيين کې اَعلى مقام ته يې اورسوي ، او څوک چې په الله تعالى باندې يوه درجه تکبّر اوکړي نو الله تعالى ددوه مرتبه رابنکته کوي تردې چې اسفل السّافلين ته يې اورسوي .

دا خبره يادساتئ چې په خپل نفس باندې مغروره کيدل ( او تکبّر کول ) هلاکوونکې صفت دی . (٢)

## عزت په تکبّر کې ندی بلکه په اِسلامي احکاماتو باندې پوره عمل کولو کې دی

د بعضې خلقو دا خيال وي چې که زه تکبّر اوکړم نو په خلقو کې به ډير مُعَزّز شم ، حالانکه دا خيال غلط دی ، ځکه عزت په اسلامي احکاماتو باندې عمل کولو کې دی ، په تکبّر کولو کې ندی .

١ . حضرت عُمر ﷺ په يوه موقع باندې اوفرمايل :

إِنَّا كُنَّا أَذَلَّ قَوْمٍ فَأَعَزَّنَا اللهُ بِالْإِسْلَامِ فَمَهْمَا نَطْلُبُ الْعِزَّةَ بِغَيْرِ مَا أَعَزَّنَا اللهُ بِهِ أَذَلَّنَا اللهُ .

مونږ خو ډير ذليل قوم وو ، پس الله تعالى مونږ ته د اسلام په وجه عزت راکړو ، اوس که چيرته مونږ د اسلام نه علاوه په بل شي کې عزت طلب کوو نو الله تعالى به مونږ ذليل

(١) موارد الظمآن إلى زوائد ابن حبان كتاب الأدب باب التواضع رقم الحديث ١٩٣٢ ، مسند احمد رقم الحديث ١١٧٢٤ ، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٤٣٩٣ الترغيب في التواضع والترهيب من الكبر والعجب والافتخار .

(٢) عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : ثَلَاثٌ مُنْجِيَاتٌ ، وَثَلَاثٌ مُهْلِكَاتٌ . فَأَمَّا الْمُنْجِيَاتُ : فَتَقْوَى اللهِ فِي السِّرِّ وَالْعَلَانِيَةِ ، وَالْقَوْلُ بِالْحَقِّ فِي الرِّضَا وَالسُّخْطِ ، وَالْقَصْدُ فِي الْغِنٰى وَالْفَقْرِ . وَأَمَّا الْمُهْلِكَاتُ : فَهَوًى مُتَّبَعٌ ، وَشُحٌّ مُطَاعٌ ، وَإِعْجَابُ الْمَرْءِ بِنَفْسِهِ ، وَهِيَ أَشَدُّهُنَّ . شعب الايمان رقم الحديث ٦٨٦٥ ، مشكوة المصابيح باب الغضب والكبر الفصل الثالث رقم الحديث ٥١٢٢(١٩) ، كنز العمال رقم الحديث ٤٣٣٤١ .

کړي ۰ (۱)

۲. د حُکماؤ خبره ده: ... مَنْ بَرِئَ مِنَ الْكِبْرِ نَالَ الْكَرَامَةَ. (۲)

څوک چې د تکبّر نه بَري (محفوظ) شي نو هغه به عزت اُو مومي.

## د عُمر بن عبدالعزيز رَحِمَهُ اللهُ واقعه

عُمر بن عبدالعزيز رَحِمَهُ اللهُ چې کله اميرُ المؤمنينۇ نو ده ته يوه شپه ميلمه راغی ، کله چې ده د ماسخوتن مونځ اوکړو نو د مانځه نه پس عُمر بن عبدالعزيز رَحِمَهُ اللهُ څه ليکل کول.

---

(۱) عَنْ طَارِقِ بْنِ شِهَابٍ، قَالَ: خَرَجَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رضي الله عنه إِلَى الشَّامِ ، وَمَعَنَا أَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ رضي الله عنه فَأَتَوْا عَلَى مَخَاضَةٍ وَعُمَرُ عَلَى نَاقَةٍ لَهُ فَنَزَلَ عَنْهَا وَخَلَعَ خُفَّيْهِ فَوَضَعَهُمَا عَلَى عَاتِقِهِ ، وَأَخَذَ بِزِمَامِ نَاقَتِهِ فَخَاضَ بِهَا الْمَخَاضَةَ . فَقَالَ أَبُو عُبَيْدَةَ : يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ ! أَنْتَ تَفْعَلُ هَذَا، تَخْلَعُ خُفَّيْكَ وَتَضَعُهُمَا عَلَى عَاتِقِكَ، وَتَأْخُذُ بِزِمَامِ نَاقَتِكَ، وَتَخُوضُ بِهَا الْمَخَاضَةَ؟ مَا يَسُرُّنِي أَنَّ أَهْلَ الْبَلَدِ اسْتَشْرَفُوكَ . فَقَالَ عُمَرُ: « أَوَّهْ لَوْ يَقُلْ ذَا غَيْرُكَ أَبَا عُبَيْدَةَ جَعَلْتُهُ نَكَالًا لِأُمَّةِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّا كُنَّا أَذَلَّ قَوْمٍ فَأَعَزَّنَا اللهُ بِالْإِسْلَامِ فَمَهْمَا نَطْلُبُ الْعِزَّةَ بِغَيْرِ مَا أَعَزَّنَا اللهُ بِهِ أَذَلَّنَا اللهُ » . المستدرک على الصحيحين للحاکم كِتَابُ الْإِيمَانِ رقم الحديث ۲۰۷. وقال الحاکم : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ الشَّيْخَيْنِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ ، ووافقه الذهبي ، شعب الايمان رقم ۷۸۴۷ حسن الخلق ، الترغيب والترهيب رقم ۲۸۹۳ (۴) كتاب الأدب وغيره الترهيب في التواضع والترهيب من الكبر والعجب والافتخار .

وفي روايةٍ : ..... إِنَّا قَوْمٌ أَعَزَّنَا اللهُ بِالْإِسْلَامِ، فَلَنْ نَبْتَغِيَ الْعِزَّةَ بِغَيْرِهِ. المستدرک على الصحيحين للحاکم كِتَابُ الْإِيمَانِ رقم الحديث ۲۰۸ ، الزهد لهناد بن السري ۲/۴۱۷ بَابُ التَّوَاضُعِ.

وفي روايةٍ : ... إِنَّكُمْ كُنْتُمْ أَذَلَّ النَّاسِ ، وَأَحْقَرَ النَّاسِ ، فَأَعَزَّكُمُ اللهُ بِالدِّينِ، مَهْمَا تَطْلُبُونَ الْعِزَّ بِغَيْرِهِ أَذَلَّكُمُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ. الزهد لابن أبي الدنيا ج ۱ ص ۱۶۶ رقم الحديث ۱۱۷ . حلية الأولياء وطبقات الأصفياء ۱/۴۷ ذِكْرُ أَهْلِ الصُّفَّةِ ، الزهد والرقائق لابن المبارک رقم الحديث ۵۸۴ ، الزهد لأبي داود السجستاني رقم الحديث ۶۶ المستدرک على الصحيحين للحاکم رقم ۴۴۸۱ كِتَابُ مَعْرِفَةِ الصَّحَابَةِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ وَمِنْ مَنَاقِبِ أَمِيرِ الْمُؤْمِنِينَ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رضي الله عنه.

(۲) وَقَالَ بَعْضُ الْحُكَمَاءِ: مَنْ بَرِئَ مِنْ ثَلَاثٍ نَالَ ثَلَاثًا : مَنْ بَرِئَ مِنَ السَّرَفِ نَالَ الْعِزَّ ، وَمَنْ بَرِئَ مِنَ الْبُخْلِ نَالَ الشَّرَفَ ، وَمَنْ بَرِئَ مِنَ الْكِبْرِ نَالَ الْكَرَامَةَ. ادب الدنيا والدين للماوردي ج ۱ ص ۲۴۲ الْبَابُ الْخَامِسُ أَدَبُ النَّفْسِ الْفَصْلُ الْأَوَّلُ فِي مُجَانَبَةِ الْكِبْرِ وَالْإِعْجَابِ.

ميلمه هم ورسره ناست وُ ، په دې وخت کې ډيوه مره کيدو ته نژدې شوه ، ميلمه ووېل :
اې اميرُ المؤمنين ! زه ډيوې ته وَرپاڅم چې صحيح يې کړم. ده ورته ووېل :
لَيْسَ مِنْ مُرُوْءَةِ الرَّجُلِ أَنْ يَسْتَعْمِلَ ضَيْفَهُ.
د سړي د ښو اَخلاقو نه دا خبره نده چې د ميلمه نه کار واخلي.
ميلمه ووېل : زه به ستا غلام راويښ کړم ( هغه به يې صحيح کړي ) .
ده ورته ووېل : هغه مه راويښوه ځکه هغه مخکې اُوده شوې دی.
بيا عُمر بن عبدالعزيز رَحِمَهُ اللهُ په خپله پاڅيد په ډيوه کې يې تېل واچول او ډيوه يې صحيح کړه.
ميلمه ورته ووېل : اې اميرالمؤمنين ! ته په خپله باندې پاڅيدې ؟ ده ورته ووېل :
ذَهَبْتُ وَأَنَا عُمَرُ، وَرَجَعْتُ وَأَنَا عُمَرُ، وَخَيْرُ النَّاسِ عِنْدَ اللهِ مَنْ كَانَ مُتَوَاضِعًا.
زه چې د ډيوې صحيح کولو د پاره لاړم نو هم عُمَر ووم ، چې راواپس شوم نو هم عُمَر يم ( يعنې په ما کې هيڅ کمې ندې راغلې ) ، او په خلقو کې د الله ﷻ په نزد بهترين کس هغه دی چې هغه عاجزي کوونکی وي. (١)

# د مُتکبِّر نه هر کس نفرت کوي

د بيلمازه او روږه خُور نه خلق دومره نفرت نه کوي څومره چې د مُتکبّر نه کوي.

او که ستاسو ذِهن ته دا **اعتراض** راځي چې : " مونږ ګورو چې خلق د متکبّر کس ډير عزت کوي او چې مجلس ته راشي نو خلق ورته پاڅي " .

(١) وَذُكِرَ عَنْ عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى أَنَّهُ أَتَاهُ ذَاتَ لَيْلَةٍ ضَيْفٌ، فَلَمَّا صَلَّى الْعِشَاءَ، وَكَانَ يَكْتُبُ شَيْئًا وَالضَّيْفُ عِنْدَهُ ، كَادَ السِّرَاجُ أَنْ يَنْطَفِئَ ، فَقَالَ الضَّيْفُ: يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ ! أَقُومُ إِلَى الْمِصْبَاحِ فَأُصْلِحُهُ؟ قَالَ : لَيْسَ مِنْ مُرُوْءَةِ الرَّجُلِ أَنْ يَسْتَعْمِلَ ضَيْفَهُ. قَالَ : أَفَأُنَبِّهُ الْغُلَامَ؟ قَالَ: لَا. هِيَ أَوَّلُ نَوْمَةٍ نَامَهَا. فَقَامَ عُمَرُ وَأَخَذَ الْبَطَّةَ فَمَلَأَ الْمِصْبَاحَ . فَقَالَ الضَّيْفُ : قُمْتَ بِنَفْسِكَ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ؟ قَالَ : ذَهَبْتُ وَأَنَا عُمَرُ وَرَجَعْتُ وَأَنَا عُمَرُ، وَخَيْرُ النَّاسِ عِنْدَ اللهِ مَنْ كَانَ مُتَوَاضِعًا. تنبيه الغافلين باحاديث سيد الأنبياء والمرسلين للسمرقندي ج ١ ص ١٨٧ بَابُ الْكِبْرِ

نو ددې **جواب** دادی چې بعضې خلق د متکبّر د شر نه د بچ کیدو د پاره هغه ته اُودرېږي خو په زړه کې يې ورسره نفرت وي .

ددې مثال داسې دی لکه چې خلق ناست وي او ناڅاپه مجلس ته ليونی سړی راشي نو هر کس د يرې نه پاڅي ، نو همدغه شان متکبّر ته هم خلق پاڅي ، خو چې کله دا متکبّر د خپلې عُهدې نه لرې شي او يا په جيل کې قيد شي نو بيا يې خلق هيڅ پروا نه ساتي .

او په چا کې عاجزي وي نو هر کس دده سره د زړه نه محبت کوي .

## متکبّر هم نورو خلقو ته سپک ښکاري

متکبّر که نورو خلقو ته سپک ګوري نو نور خلق به هم ضرور ده ته سپک ګوري . داسې خو هيڅ کله نشي کيدی چې ده ته دې نور خلق سپک معلوميږي او دا دې نورو خلقو ته معزّز معلوم شي .

**د متکبر مثال :** علماؤ د پوهې د پاره ډير زَبردَست مثال ورکړی چې د متکبر مثال د هغه چا په شان دی چې هغه د غَر په سَر باندې ولاړ وي نو ده ته لکه څرنګې چې د غَر نه لاندې خلق واړه واړه ښکاري نو همدغه شان دې لاندې خلقو ته هم دا پاس کس وړوکې ښکاري .

او په چا کې چې تواضع وي ، خپل ځان ښکته ګنړي نو لکه څرنګې چې ده ته نور خلق مُعزّز معلوميږي نو همدغه شان به دا هم نورو خلقو ته معزّز معلوميږي .

# د متکبرينو انجام ډير بَدوي

که مونږ په قرآن کريم او احاديثو باندې نظر واچوو نو دا به راته معلومه شي چې چا تکبر کړی انجام يې ډير بَد شوی :

شيطان تکبر کړې ؤ نو تر قيامته پورې لعني شو ، ابوجهل او ابولهب تکبر کړې ؤ نو انجام يې ډير بَد شو .

## د تکبر په وجه د فرعون بَد انجام

فِرعون د ډير تکبر په وجه د خدائي دعوی کړې وه نو الله تعالی د ټول لښکر سره په درياب کې غرق کړو ، په قرآن کريم کې ددې بيان داسې شوی :

﴿ وَاسْتَكْبَرَ هُوَ وَجُنُودُهُ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَظَنُّوا أَنَّهُمْ إِلَيْنَا لَا يُرْجَعُونَ ۝ فَأَخَذْنَاهُ وَجُنُودَهُ فَنَبَذْنَاهُمْ فِي الْيَمِّ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الظَّالِمِينَ ﴾ .(١)

ترجمه : فرعون او دده لښکر په زمکه کې په ناحقه باندې تکبر اوکړو او دوی دا ګمان اوکړو چې يقيناً دوی به مونږ ته نشي راواپس کولی ، پس مونږ دا او دده لښکر اُونيولو ، بيا مونږ په دَرياب کې اُوغورځول ، پس ته اُوګوره چې د ظالمانو اَنجام څنګه شو ؟

## د تکبر په وجه د نمرود بَد انجام

نمرود ډير زيات متکبر ؤ ، د لويي دعوی يې کړې وه ، خلقو ته يې ويل چې ماته سجده کوئ ، خو الله تعالی ورته عبرت ناکه سزا ورکړه ، هغه دا چې يو ګډ ماشي دده په پوزه کې ننوت او دِماغو ته لاړ ، هغه ماشي به چې دده په دِماغو کې خپله کاروائي شروع کړه نو نمرود به خپلو نَوکرانو ته ويل چې " زما سَر يو څو څپيړې اُووهئ " کله به چې نَوکرانو دده سَر په څپيړو باندې وهل نو ماشي به د څه لږ وخت د پاره غلې شو ، او چې څپيړې وَهل به يې بندې کړی نو ماشي به دوباره خپله کاروائي شروع کړه ، نو مسلسل به نوکرانو دده سَر همداسې وهل ، آخر نوکران يې ستړي شو ، ورته وې ويل :

جناب ! نور د مونږ نه دا خدمت نه کيږي .

(١) القصص آية ٣٩ ، ٤٠ .

دې آوريدو سره نمرود ډير خفه شو ، د خپل يو وزير سره يې مشوره اوکړه چې اوس به څه کوو ؟ ټولو نوکرانو زما سَر په څپېړو باندې د وهلو نه انکار اوکړو .

وزير ورته ووېل :

بادشاه سلامت ! زما په ذِهن کې يو تدبير راځي هغه دا چې ستا ملاقات له ډير خلق راځي ، مونږ به دا قانون جوړ کړو چې څوک ستا ملاقات له راځي هغه به د سلام په ځاى باندې ستا سَر په څپېړو باندې وَهي .

د نمرود دا خبره خوښه شوه ، نو همداسې قانون يې جوړ کړو چې څوک به راتلو د سلام په ځاى به يې : نمرود سَر په څپېړو باندې وَهل .

**عبرت** . ډير د عبرت مقام دى چې مخکې نمرود د تکبّر په وجه دا حکم کړې وُ چې څوک زما ملاقات ته راځي نو ماته به سجده کوي ليکن الله ﷻ د ده دا تکبّر د ګډ ماشي په ذريعه باندې داسې مات کړو چې بيا يې دا حُکم جاري کړو چې څوک زما ملاقات ته راځي هغه به زما سَر په څپېړو باندې وهي .

د نمرود واقعه علماؤ په تفصيل سره ذکر کړې ده . (١)

---

(١) ﴿ فَأَرَادُوا بِهِ كَيْدًا فَجَعَلْنَاهُمُ الْأَسْفَلِينَ ﴾ : قِيلَ : مَعْنَاهُ أَنَّهُمْ خَسِرُوا السَّعْيَ وَالنَّفَقَةَ وَلَمْ يَحْصُلْ لَهُمْ مُرَادُهُمْ . وَقِيلَ : مَعْنَاهُ إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ أَرْسَلَ عَلَى نَمْرُودَ وَقَوْمِهِ الْبَعُوضَ فَأَكَلَتْ لُحُومَهُمْ وَشَرِبَتْ دِمَاءَهُمْ . وَدَخَلَتْ وَاحِدَةٌ فِي دِمَاغِهِ فَأَهْلَكَتْهُ . تفسير البغوي ج ٣ ٢٩٦ الانبياء آية ٧٠ ، التفسير المظهري ج٦ ص٢٠٨ الانبياء آية ٧٠ .

قَالَ زَيْدُ بْنُ أَسْلَمَ : وَبَعَثَ اللهُ إِلَى ذَلِكَ الْمَلِكِ الْجَبَّارِ مَلَكًا يَأْمُرُهُ بِالْإِيمَانِ بِاللهِ فَأَبَى عَلَيْهِ . ثُمَّ دَعَاهُ الثَّانِيَةَ فَأَبَى عَلَيْهِ . ثُمَّ الثَّالِثَةَ فَأَبَى عَلَيْهِ . وَقَالَ اجْمَعْ جُمُوعَكَ وَأَجْمَعُ جُمُوعِي . فَجَمَعَ النُّمْرُودُ جَيْشَهُ وَجُنُودَهُ وَقْتَ طُلُوعِ الشَّمْسِ فَأَرْسَلَ اللهُ عَلَيْهِ ذُبَابًا مِنَ الْبَعُوضِ بِحَيْثُ لَمْ يَرَوْا عَيْنَ الشَّمْسِ وَسَلَّطَهَا اللهُ عليهم فأكلت لحومهم ودمائهم وتركتهم عظاما بادية ودخلت واحدةٌ منها في منخر الملك فمكثت في منخرها أَرْبَعَ مِائَةِ سَنَةٍ عَذَّبَهُ اللهُ تَعَالَى بِهَا فَكَانَ يضرب رأسه بالمزارب فِي هَذِهِ الْمُدَّةِ كُلِّهَا حَتَّى أَهْلَكَهُ اللهُ عز وجل بها . البداية والنهاية ج ١ ص ١٣٩ قصة ابراهيم الخليل عليه السلام ، تفسير ابن كثير ج١ ص ٥٢٦ البقرة في تفسير آية ٢٥٨ . تفسير الطبري ج٣ ص ٥٧٢ سورة البقرة في تشريح آية ٢٥٨ .

# د تکبّر په وجه د قارون بد انجام

قارون ته الله تعالى ډير مال و دولت ورکړې وُ ، ده هم په خپل قوم باندې تکبّر او غرور شروع کړو ، په هغه وخت کې موجود مؤمنانو ده ته ډير نصيحت اوکړو چې تکبّر او غرور مه کوه ځکه الله تعالى مغروره خلق نه خوښوي .

ده د ډير تکبّر په وجه وويل : ﴿ إِنَّمَآ أُوتِيتُهُۥ عَلَىٰ عِلْمٍ عِندِىٓ ﴾.

دا (ټول مالونه او خزانې) ما ته د خپلې پوهې (او لياقت) په وجه را کړل شوي . (١)

نو الله تعالى د دې تکبّر او نورو ګناهونو په وجه ده ته سخته سزا ورکړه .

الله ﷻ فرمايي :

﴿ فَخَسَفْنَا بِهِۦ وَبِدَارِهِ ٱلْأَرْضَ فَمَا كَانَ لَهُۥ مِن فِئَةٍ يَنصُرُونَهُۥ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَمَا كَانَ مِنَ ٱلْمُنتَصِرِينَ ﴾. (٢)

ترجمه : پس مونږ قارون او د ده کور په زمکه کې ورخښ کړو ، نو نه وه د ده د پاره د الله ﷻ نه بغير داسې يوه ډله نه وه چې د ده مدد يې کړې وى ، او نه په خپله انتقام (بدله) اخيستونکى وُ .

---

(١) الله تعالى په قرآن کريم د قارون واقعه داسې بيان کړې :

﴿ إِنَّ قَٰرُونَ كَانَ مِن قَوْمِ مُوسَىٰ فَبَغَىٰ عَلَيْهِمْ ۖ وَءَاتَيْنَٰهُ مِنَ ٱلْكُنُوزِ مَآ إِنَّ مَفَاتِحَهُۥ لَتَنُوٓأُ بِٱلْعُصْبَةِ أُو۟لِى ٱلْقُوَّةِ إِذْ قَالَ لَهُۥ قَوْمُهُۥ لَا تَفْرَحْ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلْفَرِحِينَ ۞ وَٱبْتَغِ فِيمَآ ءَاتَىٰكَ ٱللَّهُ ٱلدَّارَ ٱلْءَاخِرَةَ ۖ وَلَا تَنسَ نَصِيبَكَ مِنَ ٱلدُّنْيَا ۖ وَأَحْسِن كَمَآ أَحْسَنَ ٱللَّهُ إِلَيْكَ ۖ وَلَا تَبْغِ ٱلْفَسَادَ فِى ٱلْأَرْضِ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلْمُفْسِدِينَ ۞ قَالَ إِنَّمَآ أُوتِيتُهُۥ عَلَىٰ عِلْمٍ عِندِىٓ ۚ أَوَلَمْ يَعْلَمْ أَنَّ ٱللَّهَ قَدْ أَهْلَكَ مِن قَبْلِهِۦ مِنَ ٱلْقُرُونِ مَنْ هُوَ أَشَدُّ مِنْهُ قُوَّةً وَأَكْثَرُ جَمْعًا ۚ وَلَا يُسْـَٔلُ عَن ذُنُوبِهِمُ ٱلْمُجْرِمُونَ ۞ فَخَرَجَ عَلَىٰ قَوْمِهِۦ فِى زِينَتِهِۦ ۖ قَالَ ٱلَّذِينَ يُرِيدُونَ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا يَٰلَيْتَ لَنَا مِثْلَ مَآ أُوتِىَ قَٰرُونُ إِنَّهُۥ لَذُو حَظٍّ عَظِيمٍ ۞ وَقَالَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْعِلْمَ وَيْلَكُمْ ثَوَابُ ٱللَّهِ خَيْرٌ لِّمَنْ ءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحًا وَلَا يُلَقَّىٰهَآ إِلَّا ٱلصَّٰبِرُونَ ۞ ﴾. القصص آية ٧٦ تا ٨٠.

(٢) . القصص آية ٨١ .

## د تكبر په وجه د حضرت شعيب عليه السلام د قوم بَد اَنجام

كله چې د حضرت شعيب عليه السلام قوم تكبّر اوكړو نو الله تعالى ورته سخته سزا وركړه ، په قرآن كې د هغه قوم په باره كې ذكر دي :

﴿ قَالَ الْمَلَاُ الَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖ لَنُخْرِجَنَّكَ يٰشُعَيْبُ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَكَ مِنْ قَرْيَتِنَآ اَوْ لَتَعُوْدُنَّ فِيْ مِلَّتِنَا ۚ قَالَ اَوَلَوْ كُنَّا كٰرِهِيْنَ ﴾ . (١)

ترجمه : د حضرت شعيب عليه السلام د قوم متكبّرو سردارانو وويل : اې شعيب ! مونږ به ضرور تا او كومو خلقو چې د تا سره ايمان راوړی د خپل كلي نه اُوباسو ، او يا به تاسو زمونږ دين ته واپس راځئ .

يو څو آيتونه پس الله تعالى ددې قوم سزا داسې ذكر كړې :

﴿ فَاَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَاَصْبَحُوْا فِيْ دَارِهِمْ جٰثِمِيْنَ ﴾ . (٢)

ترجمه : پس دوی زلزلې اُونيول نو د سهر په وخت ټول په خپلو كورونو كې پَرمخې ( مړه ) پراته وو .

همدارنګې د حضرت نوح عليه السلام قوم او حضرت لوط عليه السلام قوم هم تكبّر كړې وُ نو الله تعالى ورته سخته سزا وركړه .

## د يو متكبّر كس خراب اَنجام

امام غزالي رَحِمَهُ اللهُ په إحياء العلوم كې دا واقعه رانقل كړې : عَمرو بن شيبة رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې زه په مكه معظمه كې د صفا او مَروَی په مينځ كې ووم ، ما يو كس اُوليد چې په قچره باندې سُور وُ ، مخې ته يې غلامان (نوكران) وو ، چې په سختۍ سره يې خلق اَخوا ديخوا دِيكه كول .

( يعنې ده په خلقو باندې خپل ځان ډير اُوچت ګنړل ، او د خپلو غلامانو په واسطه يې خلق په ډيرې بې عيزتۍ سره اَخوا ديخوا كول ، او ځان ته يې لاره صفا كوله ) .

---

(١) الاعراف آية ٨٨ .

(٢) الاعراف آية ٩١ .

عَمرو بن شيبة رَحِمَهُ اللهُ وايي چې زه يوه زمانه پس بغداد ته راغلم، د بغداد په پُل باندې تېرېدم، ناڅاپه مې يو کس اوليد چې برېنډې خپې، سترې، خفه، اوږده (اوږېږه) وېښتان يې وو، ما هغه ته کتل او د هغه په باره کې مې سوچ کولو (چې دا سړی څوک دی؟)

هغه کس ماته ووېل: مَا لَكَ تَنْظُرُ إِلَيَّ؟ ته ماته ولې راګورې؟

ما ورته ووېل: ما ستا په شان يو سړی په مکه مکرّمه کې ليدلی وُ. او هغه حالت مې ورته بيان کړو. هغه راته ووېل: زه هماغه سړی يم.

ما ورته ووېل: دا په تا باندې الله تعالی څه اوکړل؟ هغه راته ووېل:

إِنِّي تَرَفَّعْتُ فِي مَوْضِعٍ يَتَوَاضَعُ فِيهِ النَّاسُ فَوَضَعَنِيَ اللهُ حَيْثُ يَتَرَفَّعُ النَّاسُ.

ما په هغه ځای کې تکبّر اوکړو په کوم ځای کې چې خلق تواضع کوي (يعنی په مکه معظمه کې مې تکبر اوکړو)، پس الله تعالی زه په هغه ځای کې ذليل کړم په کوم ځای کې چې خلق لويي کوي. (١)

## مالدار کس د تکبّر په وجه فقير او ذليل کيدل

په دې خبره ځان پوهه کړئ چې "کوم رَب انسان ته مال و دولت ورکولی شي هماغه رَب يې ورنه واپس هم اخيستلی شي".

ډېر داسې واقعات شته چې مالدار سړي د مال و دولت په وجه تکبّر کړی نو الله تعالی واپس فقير او ذليل کړی. ددې په باره کې درته دوه واقعې بيانوم:

**اوله واقعه**: شهاب الدين محمد بن احمد الأبشيهي رَحِمَهُ اللهُ په "المستطرف" ليکلي چې يو مالدار سړی د خپلې بي بي سره ناست وُ، يو ځای يې دوډۍ خوړه، او خوراک هم ډېر

---

(١) عَنْ عَمْرِو بْنِ شَيْبَةَ رَحِمَهُ اللهُ قَالَ كُنْتُ بِمَكَّةَ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ. فَرَأَيْتُ رَجُلًا رَاكِبًا بَغْلَةً وَبَيْنَ يَدَيْهِ غِلْمَانٌ وَإِذَا هُمْ يُعَنِّفُونَ النَّاسَ. قَالَ: ثُمَّ عُدْتُ بَعْدَ حِينٍ فَدَخَلْتُ بَغْدَادَ فَكُنْتُ عَلَى الْجِسْرِ فَإِذَا أَنَا بِرَجُلٍ حَافٍ حَاسِرٍ طَوِيلِ الشَّعْرِ. قَالَ: فَجَعَلْتُ أَنْظُرُ إِلَيْهِ وَأَتَأَمَّلُهُ. فَقَالَ لِي: مَا لَكَ تَنْظُرُ إِلَيَّ؟ فَقُلْتُ لَهُ: شَبَّهْتُكَ بِرَجُلٍ رَأَيْتُهُ بِمَكَّةَ وَوَصَفْتُ لَهُ الصِّفَةَ. فَقَالَ لَهُ: أَنَا ذٰلِكَ الرَّجُلُ. فَقُلْتُ: مَا فَعَلَ اللهُ بِكَ؟ فَقَالَ إِنِّي تَرَفَّعْتُ فِي مَوْضِعٍ يَتَوَاضَعُ فِيهِ النَّاسُ فَوَضَعَنِيَ اللهُ حَيْثُ يَتَرَفَّعُ النَّاسُ. احياء علوم الدين ج ٣ ص ٣٢٣ بيان فضيلة التواضع، نضرة النعيم ج ١١ ص ٥٣٧٨ الكبر والعجب.

بهترين ؤ ، په دې دوران کې يو فقير بهر آواز اوکړو ، په دې سړي باندې د فقير راتګ سخت بَد اولګېد ، بهر وَر اووت ، فقير يې سخت اُورټل او په ډير بې عزتی سره يې رُخصت کړو.

د خدای شان ګوره چې څه وخت روستو دا سړی ډير زيات غريب شو ، ټول نعمتونه ورنه الله ﷻ واخيست ، تر دې چې کورني حالات يې هم دې اَندازې ته اورسيدل چې د ډيرو جګړو په وجه يې آخر خپلې ښځې ته طلاق هم ورکړو.

د عِدت تيريدلو نه روستو دې ښځې د بل خاوند سره نکاح اوکړه چې هغه هم ډير مالدار سړی ؤ ، يوه ورځ دا ښځه او دا نوې خاوند دواړه يو ځای ډوډۍ (روټۍ) ته ناست وو ، چې په دې دَوران کې فقير بهر په دروازه کې آواز اوکړو ، او خوراک يې او غوښت.

دې نوي خاوند ښځې ته وويل : چې ورشه او فقير ته دا بهترين خوراک ورکړه.

دې ښځې هم خپل خاوند ته وويل: په کار ده چې مونږ دې فقير ته څه خوراک ورکړو ، ځکه هسې نه چې دا خفه شي او د الله ﷻ غضب نازل شی.

خاوند ورته وويل: ډيره ښه ده . کله چې دې ښځې فقير ته خوراک وَر وړو ، او واپس راغله ، نو ډيره حيرانه او خفه وه .

خاوند ورنه پوښتنه اوکړه چې ولې دومره حيرانه او خفه يې ؟

دې ورته وويل : نن خو ما يو عجيبه منظر اوليد ، هغه دا چې يوه ورځ زه د مخکيني خاوند سره په روټۍ ناسته ووم ، په دې کې يو فقير بهر په دروازه کې آواز اوکړو ، نو زما دا خاوند وَراُووَت ، هغه يې ډير بې عزته کړو او ډير د ذلت په حالت کې يې رخصت کړو ، الله ﷻ په هغه باندې داسې غُربت راوست چې هغه ټول نعمتونه يې ورنه واخيست ، تر دې چې ماته يې هم طلاق راکړو . او هغه الله تعالی دومره ذليل کړو چې اوس زه دا دې بهر اُووتم نو دا هماغه زما اولنې خاوند ؤ چې سوال يې کولو .

ددې ښځې دويم خاوند وويل ؛ زه تاته ددينه هم زياته عجيبه خبره بيان کړم ، هغه دا چې هغه دروازې ته کوم فقير درغلې ؤ نو زه هماغه فقير يم ، خو هغه مالدار کس د الله ﷻ د نعمتونو شکريه ادا نه کړه ، د مال فرضي او واجبي حقوق يې نه ادا کول ، نو د هغې په وجه

الله رب العزت د هغه نه ټول مال واخيست، فقيريې کړو، او زه الله ﷻ مالدار کړم. (١)
( دا واقعه په نورو کتابونو کې هم ذکر ده ). (٢)

**دويمه واقعه**: يو عالم ليکلي چې يو کس ته الله ﷻ دومره ډيره زمکه ورکړې وه چې د ريل ګاډي درې (٣) سټېشنه به دده په زمکه کې راتلل، يعنی ريل ګاډې به چې روان شو نو مسلسل دده په زمکه کې به يې مزل کولو، اول دويم او دريم ټول سټېشنه به دده په زمکه کې راتلل، حالانکه د هر سټيشن په مينځ کې ډيره فاصله وه. ددينه علاوه په بېنکونو کې يې په اربونو روپۍ وې.

يو ځل په يو ځای کې دده څه ملګرو دده د وړاندې دا خبره اوکړه چې زمونږ کاروبار خراب شوې دی، نو دده ډير د تکبّر په انداز کې وويل:

نېستمنو، ستاسو سَر ته ګوره او کاروبار ته ګوره، دا خو زما خپل کمال دی چې دومره مالدار يم، د تاسو سره دا غم دی چې څنګه به يې ګټو او د ما سره دا سوچ دی چې په څه ځيز کې به يې لګوم؟ ( نورې د تکبر نه ډکې خبرې يې هم اوکړې ).

الله تعالی ته دده دا د تکبّر نه ډکې خبرې خوښې نه شوې، يو څو مياشتې پس وفات شو،

(١) وحكي أنّ رجلًا جلس يومًا يأكلُ هو و زوجته وبين أيديهما دجاجة مشوية. فوقف سائل ببابه. فخرج إليه وانتهره، فذهب. فاتّفق بعد ذلك أنّ الرجل افتقر وزالت نعمته. وطلق زوجته. وتزوجت بعده برجل آخر. فجلس يأكل معها في بعض الأيام وبين أيديهما دجاجة مشوية، وإذا بسائل يطرق الباب. فقال الرجل لزوجته: ادفعي إليه هذه الدجاجة. فخرجت بها إليه فإذا هو زوجها الأول. فدفعت إليه الدّجاجة ورجعت وهي باكية. فسألها زوجها عن بكائها. فأخبرته أنّ السائل كانَ زوجها، وذكرت له قصتها مع ذلك السائل الذي انتهره زوجها الأول. فقال لها زوجها: أنا والله ذلك السائل. المستطرف في كل فن مستطرف ج ١ ص ١٧ الباب الأول في مباني الإسلام الفصل الثالث في الزكاة وفضلها.

(٢) اصلاحي خطبات ج٥ ص ٢١١، واشرف الحکايات ص ٧٧.

همدا واقعه علامه ابن خلکان په خپل تاريخ کې هم ذکر کړې، ذكر ابن خلكان في تاريخه أنّ رجلًا كان يأكلُ دَجاجةً مع زوجته فجاء سائلٌ فردّه خائبًا. ثم بعد مدة ذَهَبَ ماله وطلّق زوجته. فتَزَوَّجَتْ غيره. فبينما هُمَا ذات ليلة يأكلان دجاجة إذ جاءهما سائلٌ فقال لها: إِدْفَعِيْ إليه الدّجاجة. فدفعتْها إليه فإذا هُوَ زوجُها الاوّل. فأخبَرَتْ زوجَها الثاني. فقال: والله أنا السائلُ الاولُ الذي ردّني خائبًا. نزهة المجالس ج ١ ص ٢٨١.

دده نه يو ځوان ځوي پاتې شو.

( کله چې په ځوان کس باندې د پلار سورې نه وي او د کرورونو روپو مالک وي نو بيا دده ډېر دوستان پيدا شي، او تکبّر په کې پيدا شي )

ددې کس لوڅک ملګرو دا د ځان سره په شراب، کباب او جَوارۍ باندې راواړول. ځان سره يې لاهور او کراچۍ ته بوتلو، هلته يې په عياشۍ او جوارۍ کې ډېرې روپۍ اُوبائللې.

بيا چا ورته وويل چې د پاکستان نه بهر ته ځو، نو بنکاک ته لاړ، هلته يې عياشي او جواري شروع کړه، په بينکونو کې يې چې څومره روپۍ وې هغه ټولې يې په جوارۍ کې اُوبائيللې، بيا يې د زمکې په خرڅولو شروع اوکړه، ټوله زمکه يې د جوارۍ او عياشۍ په وجه خرڅه کړه، آخر دا چې په کوم کور کې اُوسيدو هغه يې هم خرڅ کړو.

بيا ورسره د اُوسيدو د پاره کور نه وُ او د خوراک د پاره ورسره روپۍ نه وې، د ډېرې مجبورۍ په وجه يې سوال شروع کړو.

اتفاقي خبره دا وه چې په کوم ځاى کې دده پلار د تکبّر خبره کړې وه دا ځوي يې په هماغه ځاى کې ولاړ وُ او د خلقو نه يې سوال کولو.

الله تعالى دې مونږ ټول د تکبّر نه اُوساتي. (١)

## د تکبّر سزا سمدستي ملاويدل

امام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللّٰهُ د تکبّر او غرور په باره کې يوه عجيبه خبره فرمايلې ده چې:

د اکثره ګناهونو په سزا کې تأخير کولې شي خو تکبّر داسې ګناه ده چې ددې سزا انسان ته سمدستي ورکولې شي، هغه دا چې مُتکبّر د خلقو په نظرونو کې سمدستي سپکيږي (او ذليله کيږي). (٢)

## د تکبّر په وجه سمدستي قد وړوکې کيدل

بعضې وخت الله تعالى مُتکبّر ته په دُنيا کې سمدستي داسې سخته سزا ورکوي چې نور خلق ورنه عبرت واخلي.

---

(١) اللہ والوں کے تڑپا دینے والے واقعات ج ٢ ص ٢٣٨.

(٢) مواعظ حسنه لمولانا محمد ادريس کاندهلوي رحمه الله.

حافظ ابن کثير رَحِمَهُ اللهُ په " تفسير ابن کثير " کې دا واقعه رانقل کړې :
نوفل بن مساحق رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې ما د نجران په جُمات کې يو کس اُوليد چې ښائسته ځدې وُ او ډير زيات ښکلې وُ ، نو ما هغه ته وَرکتل او د هغه په اُوږد قد او ښائست مې تعجب کول. هغه د مانه پوښتنه اوکړه :

مَالَكَ تَنظُرُ إِلَيَّ ؟ ته ماته ولې راګورې ؟

ما ورته وويل : أَعْجَبُ مِنْ جَمَالِكَ وَكَمَالِكَ. زه ستا د ښائست او کمال په وجه تعجب کوم.
( چې الله تعالى درته ښائسته ځواني ، ښائسته اُوږد قد او ښائسته بدن درکړې دی )
هغه ( د ډير تکبّر په وجه ) وويل :

إِنَّ اللهَ لَيَعْجَبُ مِنِّي. بيشکه الله تعالى هم زما دې ښائست ته تعجب کوي. ( نَعُوذُ بِاللهِ ).
نوفل بن مساحق رَحِمَهُ اللهُ وايي :

فَمَا زَالَ يَنْقُصُ وَيَنْقُصُ حَتَّى صَارَ بِطُولِ الشِّبْرِ. فَأَخَذَهُ بَعْضُ قَرَابَتِهِ فِي كُمِّهِ وَذَهَبَ.
دا کس ( د تکبّر خبرې کولو په وجه ) مسلسل همداسې راکميدو ( يعنى رنګ يې بدل شو او ځدې يې په راکميدو شو ) تر دې چې ځد يې يو لويشت پاتې شو ، بيا د ده بعضې نزدې رِشته دار دا د ځان سره په لستونړي کې واچول او وې وړو. (١)

**عبرت** : که دا واقعه يقيني همداسې وي نو بيا ډيره د عبرت نه ډکه ده ، په کار ده چې مُتکبّرين ددينه عبرت واخلي.

## د يو مُتکبّر بادشاه مرګ

حافظ ابو نعيم رَحِمَهُ اللهُ په " حلية الأولياء " کې او امام غزالي رَحِمَهُ اللهُ په " احياء العلوم "

---

(١) وَقَدْ ذَكَرَ مُحَمَّدُ بْنُ الْمُنْذِرِ فِي كِتَابِ الْعَجَائِبِ الْغَرِيبَةِ بِسَنَدِهِ عَنْ نَوْفَلِ بْنِ مُسَاحِقٍ رَحِمَهُ اللهُ قَالَ : رَأَيْتُ شَابًّا فِي مَسْجِدِ نَجْرَانَ. فَجَعَلْتُ أَنْظُرُ إِلَيْهِ وَأَتَعَجَّبُ مِنْ طُولِهِ وَتَمَامِهِ وَجَمَالِهِ. فَقَالَ : مَالَكَ تَنْظُرُ إِلَيَّ؟ فَقُلْتُ : أَعْجَبُ مِنْ جَمَالِكَ وَكَمَالِكَ. فَقَالَ : إِنَّ اللهَ لَيَعْجَبُ مِنِّي. قَالَ : فَمَا زَالَ يَنْقُصُ وَيَنْقُصُ حَتَّى صَارَ بِطُولِ الشِّبْرِ. فَأَخَذَهُ بَعْضُ قَرَابَتِهِ فِي كُمِّهِ وَذَهَبَ. تفسير ابن كثير ( تفسير القرآن العظيم ) ج ٦ ص ٢٥٦ سورة القصص في تفسير آية ٨١.

کې دا واقعه رانقل کړی :

وهب بن مُنبه رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې د دُنيا په بادشاهانو کې يو بادشاه وُ هغه يو ځل اراده اوکړه چې د خپلې زمکې ليدلو له لاړ شي ، نو د اغوستلو د پاره يې ځان له ښه جامې رااوغوښتې ، پس ده ته يوه جوړه جامې راوړې شوی ، خو دده خوښې نه شوی. ده نورې ډيرې قيمتي جامې رااوغوښتې خو هغه يې هم خوښې نه شوی ، آخر يې يوه جوړه جامې خوښې شوی هغه يې واغوستی .

بيا يې ووېل : ماته ښه سورلۍ راولئ. هغوی ورته يوه سورلۍ راوسته خو دده خوښه نه شوه ، نورې قيمتي سورلۍ يې رااوغوښتې ، په هغې کې يې هم خوښه نه شوه ، آخر يوه سورلي يې خوښه شوه ، په هغې باندې سور شو .

په دې وخت کې ابليس راغی او دده په پوزه کې يې يو پُوکې اوکړو چې ددې په وجه په ده کې تکبّر پيدا شو .

کله چې دا د لښکر سره خپلې زمکې طرف ته روان شو نو د تللو په وخت يې خپل سَر د ډير غرور او تکبّر په وجه اُوچت کړې وُ ، لاندې خلقو طرف ته يې کتل نه خوښول .

په لاره کې ورته يو کمزوري شکل و شباهت واله کس مخې ته راغی ، په دې بادشاه باندې يې سلام واچول ، خو ده د ډير تکبّر په وجه د سلام جواب ورنکړو ، هغه طرف ته يې وَراُو نه کتل. هغه کس ورته ووېل :

إِنَّ لِيْ إِلَيْكَ حَاجَةً. زما د تا سره کار دی .

بادشاه د هغه خبره وا نه وريده . هغه راغی او ددې بادشاه د آس واګې يې اُونيولې .

ده ورته ووېل : زما د آس واګې پرېږده تا زما د وړاندې داسې (سخت) جُرم اوکړو چې تر اُوسه دا چاندې کړی .

هغه ورته ووېل : زما د تا سره کار دی رابښکته شه او خبرې راسره اوکړه .

بادشاه ورته ووېل : اوس درسره خبرې نشم کولی . هغه کس د بادشاه د آس واګې په زُوره رابښکلې ، کله چې ده اُوليد چې زما د آس واګې يې رابښکلې نو ورته وې وېل :

ستا څه حاجت دی ؟ هغه ورته ووېل : دا د راز خبره ده پټه يې درته کوم. بادشاه ورته سَر وربښکته کړو نو هغه ورته ووېل ،

أَنَا مَلَكُ الْمَوْتِ. زه مَلَکُ الموت( عزرائيل) يم .

دې اَورېدو سره د بادشاه رنګ زيړ شو او ژبه يې اُونختله ، بيا يې ووېل : ما پرېږده چې زه د کومې زمکې ليدلو د پاره رااُوتې يم هغه به اُوګورم ، چې کله واپس راشم نو بيا ته خپل کار اوکړه . هغه ورته ووېل :

وَاللهِ لَا تَرَى أَرْضَكَ أَبَدًا . وَلَا وَاللهِ لَا تَرْجِعُ مِنْ مَوْكِبِكَ هٰذَا أَبَدًا .

قسَم په الله ، ته به هيڅ کله خپله زمکه او نه ګورې ، او نه به هيڅ کله ددې ځاى نه واپس شې .

بادشاه ورته ووېل : ما پرېږده چې زه کور ته لاړ شم که په کور کې څه کار وي هغه به اوکړم . هغه ورته ووېل : لَا وَاللهِ لَا تَرَى أَهْلَكَ وَثَقَلَكَ أَبَدًا .

نه ، قسَم په الله ، چې ته به خپل کور او خپل مال و دولت هيڅ کله او نه ګورې .

پس مَلَکُ الموت دده رُوح د همدې سوَرلۍ د پاسه قبض کړو :

فَخَرَّ كَأَنَّهُ خَشَبَةٌ . دا د سوَرلۍ نه د لرګي په شان ښکته رااُوغورځيد .

(ملک الموت دې متکبّر بادشاه ته د هيڅ کار کولو اجازت ورنکړو) .

**د ښېک سړي مرګ** : بيا ملک الموت يو مؤمِن بنده ته ورغى ، په هغه باندې يې سلام واچول ، هغه د سلام جواب ورکړو ، ده ورته ووېل : إِنَّ لِي إِلَيْكَ حَاجَةً . زما د تا سره کار دى

هغه ورته ووېل : راشه خپل حاجت دې ذکر کړه . ده ورته ووېل : دا زما او ستا په مينځ کې د راز خبره ده . نو هغه ورته غوږ رانزدې کړو چې پټه خبره راته اوکړه :

نو ده ورته پټ ووېل :

أَنَا مَلَكُ الْمَوْتِ . زه مَلَکُ الموت (عزرائيل) يم .

هغه ورته ووېل : په خير راغلې ، هر کله راشې ، ما خو ډيره زمانه ستا اِنتظار اوکړو ، قسَم په الله زما ستا د ملاقات ډير شوق وُ .

ملکُ الموت ورته ووېل : اِقْضِ حَاجَتَكَ الَّتِي خَرَجْتَ لَهَا .

د کوم کار پسې چې ته رااُوتې يې هغه پوره کړه . هغه ورته ووېل :

مَا لِيْ حَاجَةٌ أَكْبَرُ عِنْدِيْ وَلَا أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ لِقَاءِ اللهِ .

ماته د الله ﷻ د ملاقات نه علاوه بل غټ او محبوب حاجت نشته .

ملکُ الموت ورته وويل : ته ځانته غوره کړه چې زه په کوم حالت کې ستا رُوح قبض کړم ؟ هغه ورته وويل : آيا ستا په دې باندې قدرت شته ؟ ملک الموت ورته وويل :

نَعَمْ أُمِرْتُ بِذٰلِكَ .

آو ، ماته ددې حُکم شوی ( چې زه ستا د مرضۍ په حالت کې رُوح واخلم ) .

هغه وويل : ډيره ښه ده . پس هغه پاڅيد ، اُودس يې اوکړو ، بيا يې مونځ شروع کړو ، رکوع يې اوکړه ، بيا يې سجده اوکړه ، کله چې ملکُ الموت هغه د سجدې په حالت کې اُوليد نو د هغه رُوح يې قبض کړو . (١)

---

(١) عَنْ وَهْبِ بْنِ مُنَبِّهٍ رَحِمَهُ اللّٰهُ . يَقُوْلُ : كَانَ مَلِكٌ مِنْ مُلُوْكِ الْأَرْضِ أَرَادَ أَنْ يَرْكَبَ إِلَى الْأَرْضِ فَدَعَا بِثِيَابٍ يَلْبَسُهَا . فَجِيْءَ بِثِيَابٍ فَلَمْ تُعْجِبْهُ . فَقَالَ: اِئْتُوْنِيْ بِثِيَابٍ كَذَا وَكَذَا حَتّٰى عَدَّ أَصْنَافًا مِنَ الثِّيَابِ كُلُّ ذٰلِكَ لَايُعْجِبُهُ حَتّٰى جِيْءَ بِثِيَابٍ وَافَقَتْهُ فَلَبِسَهَا . ثُمَّ قَالَ : جِيْئُوْنِيْ بِدَابَّةٍ كَذَا . فَجِيْءَ بِهَا فَلَمْ تُعْجِبْهُ . ثُمَّ قَالَ : جِيْئُوْنِيْ بِدَابَّةٍ كَذَا . فَجِيْءَ بِهَا فَلَمْ تُعْجِبْهُ حَتّٰى جِيْءَ بِدَابَّةٍ وَافَقَتْهُ فَرَكِبَهَا. فَلَمَّا رَكِبَهَا جَاءَ إِبْلِيْسُ فَنَفَخَ فِيْ مَنْخَرِهِ نَفْخَةً فَعَلَاهُ كِبْرًا . قَالَ : وَسَارَ وَسَارَتِ الْخُيُوْلُ مَعَهُ . قَالَ فَهُوَ رَافِعٌ رَأْسَهُ لَا يَنْظُرُ إِلَى النَّاسِ كِبْرًا وَعِظَمًا. فَجَاءَهُ رَجُلٌ ضَعِيْفٌ رَثُّ الْهَيْئَةِ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِ السَّلَامُ وَلَمْ يَنْظُرْ إِلَيْهِ . فَقَالَ لَهُ : إِنَّهُ لِيْ إِلَيْكَ حَاجَةٌ فَلَمْ يَسْمَعْ كَلَامَهُ. قَالَ فَجَاءَ حَتّٰى أَخَذَ بِلِجَامِ دَابَّتِهٖ. فَقَالَ : أَرْسِلْ لِجَامَ دَابَّتِيْ فَقَدْ تَعَاطَيْتَ مِنِّيْ أَمْرًا لَمْ يَتَعَاطَهُ مِنِّيْ أَحَدٌ . قَالَ : إِنَّ لِيْ إِلَيْكَ حَاجَةً . قَالَ : أَنْزِلُ فَتَلْقَانِيْ . قَالَ : لَا الْآنَ. قَالَ: فَقَهَرَهُ عَلٰى لِجَامِ دَابَّتِهٖ فَلَمَّا رَأٰى أَنَّهُ قَدْ قَهَرَهُ . قَالَ : حَاجَتُكَ ؟ قَالَ : إِنَّهَا سِرٌّ أُرِيْدُ أَنْ أُسِرَّهَا إِلَيْكَ . قَالَ : فَأَدْنٰى رَأْسَهُ إِلَيْهِ . فَسَارَّهُ قَالَ : أَنَا مَلَكُ الْمَوْتِ . قَالَ : فَانْقَطَعَ وَتَغَيَّرَ لَوْنُهُ وَاضْطَرَبَ لِسَانُهُ. ثُمَّ قَالَ : دَعْنِيْ حَتّٰى آتِيَ أَرْضِيْ هٰذِهِ الَّتِيْ خَرَجْتُ إِلَيْهَا وَأَرْجِعُ مِنْ مَوْكِبِيْ ثُمَّ تَمْضِيْ فِيْ أَمْرِكَ . قَالَ : وَاللهِ لَا تَرٰى أَرْضَكَ أَبَدًا . وَلَا وَاللهِ لَا تَرْجِعُ مِنْ مَوْكِبِكَ هٰذَا أَبَدًا . قَالَ دَعْنِيْ حَتّٰى أَرْجِعَ إِلٰى أَهْلِيْ فَأَقْضِيْ حَاجَةً إِنْ كَانَتْ قَالَ : لَا وَاللهِ لَا تَرٰى أَهْلَكَ وَثِقَلَكَ أَبَدًا . قَالَ فَقَبَضَ رُوْحَهُ مَكَانَهُ فَخَرَّ كَأَنَّهُ خَشَبَةٌ .

قَالَ الْجُرَيْرِيُّ : وَبَلَغَنِيْ أَيْضًا أَنَّهُ لَقِيَ عَبْدًا مُؤْمِنًا فِيْ تِلْكَ الْحَالِ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ ←←←←←←←←←←←←←←

**فائده** : ددې واقعې نه معلومه شوه چې مَلَکُ الموت د الله تعالی په حُکم باندې د مُتکبّر سره سختي کوي ، او د عاجزي کوونکي بنده سره د الله ﷻ په حُکم باندې نَرمي کوي.

## فرښتې د الله ﷻ نه ويريږي او تکبر نه کوي

باوجود ددينه چې فرښتې د الله ﷻ نافرماني نه کوي ، د هغه په عبادت کې مصروفه وي ، بيا خاصکر مُقرّبو فرښتو ته خو الله ﷻ ډير قوّت ورکړی خو ددې باوجود بيا هم تکبّر نه کوي.(١)

بلکه کله چې ابليس لعنتي کړې شو او د کله نه چې د جهنم اُور پيدا شوی نو د هاغې وخت نه را په ديخوا فرښتې د الله تعالی د غضب او عذاب نه ډيرې ويريږي ، حتّی چې څنو فرښتو د اُور پيدا کيدو نه پس د الله ﷻ د عذاب د ډَيرې نه ندي خندلي.(٢)

---

←←←← فَرَدَّ عَلَيْهِ السَّلَامَ فَقَالَ : إِنَّ لِيْ إِلَيْكَ حَاجَةً . قَالَ : هَلُمَّ فَاذْكُرْ حَاجَتَكَ . قَالَ : إِنَّهَا سِرٌّ فِيْمَا بَيْنِيْ وَبَيْنَكَ . قَالَ فَأَدْنٰى إِلَيْهِ رَأْسَهُ لِيُسَارِهِ بِحَاجَتِهِ فَسَارَّهُ . فَقَالَ : أَنَا مَلَكُ الْمَوْتِ . قَالَ : مَرْحَبًا وَأَهْلًا مَرْحَبًا بِمَنْ كَانَتْ غَيْبَتُهُ عَلَيَّ فَوَاللهِ مَا كَانَ فِي الْأَرْضِ غَائِبٌ أَحَبُّ إِلَيَّ أَنْ أَلْقَاهُ مِنْكَ . قَالَ : فَقَالَ لَهُ مَلَكُ الْمَوْتِ : اِقْضِ حَاجَتَكَ الَّتِيْ خَرَجْتَ لَهَا . قَالَ : مَا لِيْ حَاجَةٌ أَكْبَرُ عِنْدِيْ وَلَا أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ لِقَاءِ اللهِ . قَالَ : فَاخْتَرْ عَلٰى أَيِّ شَيْءٍ أَقْبِضُ رُوْحَكَ . قَالَ : وَتَقْدِرُ عَلٰى ذٰلِكَ ؟ قَالَ : نَعَمْ أُمِرْتُ بِذٰلِكَ . قَالَ : نَعَمْ إِذًا فَقَامَ وَتَوَضَّأَ ثُمَّ رَكَعَ وَسَجَدَ . فَلَمَّا رَآهُ سَاجِدًا قَبَضَ رُوْحَهُ . حلية الأولياء وطبقات الأصفياء ج ٦ ص ٢٠٢ ، احياء علوم الدين ج٣ ص ٤٦٧ بيان الحشر عند لقاء ملک الموت بحكايات يعرب لسان الحال عنها

(١) په قرآن کريم کې ذکر دي : ﴿ وَلِلّٰهِ يَسْجُدُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ مِنْ دَآبَّةٍ وَّالْمَلٰٓئِكَةُ وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ ۝ يَخَافُوْنَ رَبَّهُمْ مِّنْ فَوْقِهِمْ وَيَفْعَلُوْنَ مَا يُؤْمَرُوْنَ ﴾ . النحل آية ٤٩ ، ٥٠

(٢) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ﷺ ، عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ لِجِبْرِيْلَ : مَا لِيْ لَمْ أَرَ مِيْكَائِيْلَ ضَاحِكًا قَطُّ ؟ قَالَ : مَا ضَحِكَ مِيْكَائِيْلُ مُنْذُ خُلِقَتِ النَّارُ . مسند احمد رقم الحديث ١٣٣٤٣ ، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٥٥٣٠ كتاب صفة الجنّة والنّار الترهيب من النّار أعاذنا الله منها بمنه وكرمه ، نزهة الناظرين كتاب الرجاء والخوف ص ٥٥٦ . الزواجر عن اقتراف الكبائر ج٢ ص ٤١٧ الأمر الثالث في ذكر النار وما يتعلق بها .
وفي رواية : أَنَّهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : «يَا جِبْرِيْلُ ! مَا لِيْ لَا أَرٰى مِيْكَائِيْلَ ضَاحِكًا ؟ ←←←←←←

نو چې کله باوجود ددې دومره لوي قوّت نه فرښتې تکبّر نه کوي نو بيا ولې مونږ تکبّر اوکړو ؟

## د تکبر په وجه د آخري خاتمې خرابيدو خطره ده

تکبّر داسې خطرناکه ګناه ده چې ددې په وجه دا خطره شته چې د انسان آخره خاتمه خرابه شي .

## د تکبر په وجه شيخ ابوعبدالله أندلسيؒ په سخت امتحان کې ګېر شو

شيخ الحديث مولانا زکريا رَحِمَهُ اللهُ په خپل کتاب " آپ بيتي " کې ، حکيم الإسلام قاري محمد طيب رَحِمَهُ اللهُ او نورو معتمدو علماؤ هم په خپلو کتابونو کې دا واقعه رانقل کړې ، بلکه مفتي شفيع رَحِمَهُ اللهُ په دې واقعه باندې مستقل رساله ليکلې ده .

دا واقعه د دريمې صدۍ هجري په ختميدو کې په عراق کې راپېښه شوې وه ، يعنې د خير القرون زمانه وه .

دا واقعه اګر چې اُوږده ده خو د عبرت نه ډکه ده نو ځکه يې درته ذکر کوم :

په دې بزرګانو کې يو بزرګ وُ ، نوم يې شيخ ابوعبدالله أندلسي رَحِمَهُ اللهُ وُ ، دا د قرآن کريم او احاديثو ښه عالِم وُ ، قرآن کريم يې په اُووه (۷) قرأتونو ( قراءت سبعه ) باندې لوستلو ، ديرش زره ( ۳۰۰۰۰ ) احاديث ورته ياد وو ، دده په برکت باندې په زرګونو خانقاه او مدرسې آبادې وې ، دده په مريدانو کې جُنيد بغدادي رَحِمَهُ اللهُ او شيخ شبلي رَحِمَهُ اللهُ هم وو .

يو ځل شيخ ابوعبدالله أندلسيؒ د خپلو زرهاؤ مريدانو سره په سفر باندې روان شو ، په دې سفر کې ورسره جُنيد بغداديؒ او حضرت شبليؒ هم موجود وو .

شيخ شبلي رَحِمَهُ اللهُ په خپله دا واقعه بيانوي چې زمونږ قافله په خير او عافيت سره روانه وه ، په لاره کې زمونږ تيريدل د عيسايانو په يو کلي باندې اوشو ، مانځه ته وخت کمُ وُ ، په هغه کلي کې اُوبه نه وې ، نو مونږ د اُوبو تلاش پسې د هغه کلي نه بهر لاړو ، هلته د اُوبو يو

←←← قَالَ : مَا خَلَقَ مِنْكَائِيْلُ مُنْذُ خُلِقَتِ النَّارُ ، وَمَا جَفَّتْ لِي عَيْنٌ مُنْذُ خُلِقَتْ جَهَنَّمُ مَخَافَةَ أَنْ أَعْصِيَ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ فَيَجْعَلَنِيْ فِيْهَا . الزواجر عن اقتراف الكبائر ج ۱ ص ۳۰ الخاتمة في التحذير من جملة المعاصي كبيرها وصغيرها.

کوهي ؤ ، څه جينکو ورنه لوخي ډکول ، د شيخ ابوعبدالله أندلسيؒ نظر په دوی کې په يوه جينۍ باندې پريوت ، د هغې سره يې څه خبرې اوکړی ، زمونږ د شيخ حالت بدل شو ، په زمکه کيناست ، سَرېې ټيټ کړو ، پوره درې (۳) ورځې په هماغه ځای باندې ناست ؤ او سَريې ټيټ کړې ؤ ، نه يې څه خوړل ، نه يې څه څکل او نه يې د چا سره څه خبرې کولې ، مونږ ټول د قافلې واله سخت خفه وو چې دا څه اُوشو ؟

حضرت شبلي رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې آخر ما په دريمه ورځ باندې زړه وَرتيا اوکړه او د شيخ نه مې پوښتنه اوکړه :

حضرت ! ستاسو په حالت باندې دا ټول مريدان خفه دي ، تاسو خبرې اوکړئ چې دا څه اوشو او څه واقعه درته راپېښه شوه ؟

شيخ ابوعبدالله أندلسيؒ وويل : درې ورځې مخکې په دې کوهي باندې ما يوه جينۍ ليدلې وه او خبرې مې ورسره شوې وی د هغې محبت په ما باندې داسې غالب شوی چې زما په ټول أندامونو باندې د هغې تسلّط دی ، زه اوس ددې ځای نه نشم تللی .

حضرت شبلي رَحِمَهُ اللهُ ورته وويل : حضرت ! تاسو د غونډ عراق واله پير او مُرشِد يَئ ، ستاسو د مريدانو تعداد د دولس زره (۱۲۰۰۰) نه هم زيات دی ، د قرآن کريم په خاطر مونږ ټول مه رَسواء کوه .

شيخ ابوعبدالله أندلسي ورته وويل : د مانه ولايت او بزرګي سَلب شوی ، د مانه د هدايت علامې پورته شوې زما په باره کې د تقدير فيصله شوی ، اوس دا زما په اِختيار کې نده . دا يې وويل او په ژړا شو .

حضرت شبلي رَحِمَهُ اللهُ فرمايي : په دې آوريدو سره مونږ ټول سخت خفه شو او د ډير خفګان نه مو دومره اُوژړل چې زمونږ په ژړا سره زمکه هم لمده شوه .

آخر مونږ مجبور شو شيخ مو په همدغه ځای باندې پريخود او مونږ ټول ورنه بغداد ته واپس راغلو ، بغداد ته په راتلو سره چې کله نور خلق ددې واقعې نه خبر شو نو ډير خفه شو ، د شيخ ابوعبدالله أندلسيؒ بعضې مريدان دومره خفه شو چې د سخت خفګان د وجې وفات شو .

د شيخ په برکت چې څومره خانقاه او مدارِس آباد وو هغه ټول خراب او بند شو ، ټول نِظام

ګډ وډ شو . د شيخ مريدانو د الله ﷻ نه په ډيره عاجزۍ سره دُعا اوغوښته چې :

اې الله ! زمونږ د شيخ زړه واپس ديخوا راواړوه ، او دوباره ورته هدايت اوکړه .

حضرت شبلي رَحِمَهُ الله فرمايي چې په دې دَوران کې يو کال تېر شو .

آخر يو کال پس مونږ څه ملګرو سره مشوره اوکړه چې د شيخ ابوعبدالله أندلسي اَحوال معلومول په کار دي ، چې اوس په څه حالت کې ‌دی ؟ نو مونږ واپس هماغه کلي ته لاړو په کوم کې چې مونږ هغه پرېخې وُ ، د هغه کلي خلقو نه مو د هغه متعلق پوښتنه اوکړه ، نو هغوی راته ووېل : هغه خو په ځنګل کې خِنزيران څَروي .

مونږ ووېل : مَعَاذ الله ، دا ولی ؟ هغوی ووېل : د هغه په زړه کې دلته د يوې جينۍ سره محبت پيدا شوې وُ ، د جينۍ پلار ته يې د نکاح پيغام وراُولېږل ( چې داماته په نکاح راکړه ) .

نو د جينۍ پلار دا پيغام په دې شرط باندې منظور کړو چې ته به په ځنګل کې زمونږ خِنزيران څَروی . نو اوس هغه په هره ورځ باندې ځنګل ته خِنزيران د څرولو دپاره بوځي .

مونږ چې دا خبره واوريده نو د خفګان نه مو ډير اُوژړل ، آخر مونږ هم ځنګل ته ورغلو ، نو خپل شيخ مو په داسې حالت کې اُوليد چې په سَر باندې يې د عيسايانو ټوپۍ وه ، په مَلا باندې زنار تړلې وُ (کوم چې د عيسايانو نخه ده) ، او په کومه اَمساء باندې به چې ده مونږ ته د تقرير کولو په دَوران کې اَتېک لګولې وُ نو په هماغه اَمساء باندې يې اوس اَتېک لګولې وُ او د خنزيرانو څرَولو ته ولاړ وُ .

هغه چې مونږ اُوليدو نو سَر يې ښکته کړو ، مونږ ورباندې سلام واچول ، هغه په کمزوري آواز باندې د سلام جواب راکړو .

حضرت شبلي رَحِمَهُ الله فرمايي چې ما ورته ووېل : اې شيخ ! د قرآن کريم او تفاسيرو د ډير علم باوجود بيا هم ستا دا حال دی ؟ هغه راته ووېل :

زما ورورنو ! دا زما د وَس خبره نده ، الله تعالی چې څه غوښتل هماغسې يې د ما سره اوکړل ، خپل ځان ته د نزدې کيدو باوجود يې د خپلې دَروازې نه رااُوشړلم ، د الله ﷻ فيصله څوک نشي مُؤَخر کولی ، تاس د الله ﷻ د قهر او غضب نه اُووېرېږئ ، او په خپل عِلم باندې غرور مه کوئ .

د دينه پس شيخ آسمان طرف ته اُوکتل او وې ويل :

اې الله ! زما خو په تا باندې داسې ګمان نه ؤ چې ته به ما داسې ذليل و خوار کوی ، او د خپل دَر نه به مې شړی .

دا يې وويل او په زُوره زُوره يې اُوژړل ، مونږ هم د شيخ سره يو ځای اُوژړل ، خنزيرانو چې زمونږ ژړا واوريده نو هغوی هم ټول راجمع شو او د هغوی د سترګو نه هم اُوښکې تللې

حضرت شبلي رَحِمَهُ الله فرمايي چې ما شيخ ته وويل : تاته خو قرآن کريم په اُووه (٧) قراءتونو باندې ياد ؤ نو آيا اوس هم درته قرآن مجيد ياد دی ؟

شيخ راته وويل : ماته په ټول قرآن مجيد کې صرف دوه آيتونه ياد دي ، نور راته ټول هېر شوې دی ، يو آيت دادی :

﴿ وَمَنْ يُهِنِ اللهُ فَمَا لَهُ مِنْ مُكْرِمٍ إِنَّ اللهَ يَفْعَلُ مَا يَشَآءُ ﴾. (١)

ترجمه : او څوک چې الله تعالی ذليله کړي نو هغه له څوک عزت ورکوونکی نشته ، بيشکه الله تعالی چې څه اوغواړي هغه کوي .

او دويم آيت دادی :

﴿ وَمَنْ يَتَبَدَّلِ الْكُفْرَ بِالْإِيمَانِ فَقَدْ ضَلَّ سَوَآءَ السَّبِيلِ ﴾. (٢)

ترجمه : او څوک چې کُفر په ايمان باندې بدل کړي نو هغه د نيغې لارې نه ګمراه شو .

حضرت شبلي رَحِمَهُ الله فرمايي چې ما ورته وويل : تاته خو ديرش زره (٣٠٠٠٠) احاديث ياد وو ، آيا په دې کې درته څه حديث اوس ياد دی ؟

هغه راته وويل : صرف يو حديث راته ياد دی ، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي :

مَنْ بَدَّلَ دِينَهُ فَاقْتُلُوهُ. (٣)

څوک چې خپل دِين بدل کړي نو تاسو هغه قتل کړئ .

---

(١) الحج آية ١٨ .

(٢) البقرة آية ١٠٨ .

(٣) صحيح البخاري كِتَابُ اسْتِتَابَةِ الْمُرْتَدِّينَ وَالْمُعَانِدِينَ وَقِتَالِهِمْ بَابُ حُكْمِ الْمُرْتَدِّ وَالْمُرْتَدَّةِ وَاسْتِتَابَتِهِمْ رقم الحديث ٦٩٢٢ ، ورقم الحديث ٣٠١٧ كِتَابُ الْجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابٌ: لاَ يُعَذَّبُ بِعَذَابِ اللهِ .

مونږ چې د شيخ دا حالت اوليد نو د مايوسۍ په حالت کې واپس بغداد ته راروان شو ، درې (٣) ورځې مو سفر اوکړو ، په دريمه ورځ چې مونږ په لاره راروان وو نو په لاره کې يو نهر مخې ته راغی ، نو مونږ اوليد چې شيخ ابوعبدالله اندلسيؒ په دې نهر کې غسل کړې ؤ ، د نهر نه بهر رااووت ، او په اوچت آواز يې شهادتين ( أَشْهَدُ أَنْ لَّآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ ) ويل .

مونږ چې د خپل شيخ کليمهٔ شهادت واوريده نو ډير زيات خوشحاله شو ، ځکه الله ﷻ ورته د توبې توفيق ور کړو .

بيا مونږ د خپل شيخ سره بغداد ته روان شو ، په لاره کې مونږ د خپل شيخ نه پوښتنه اوکړه په تاسو باندې دا دومره لوی امتحان څنګه راغی چې يو دم ستاسو حالت مکمل بدل شو ؟ هغه راته ووېل :

کله چې مونږ د سفر په دوران کې د عيسايانو دې کلي ته رااورسيدو او د دوی په بت خانو او ګرجو باندې راتيريدو نو زما په زړه کې تکبّر او لويي پيدا شوه ( خپل ځان مې اوچت اوګنړل ، دوی مې سپک اوګنړل ، او دا مې خپل کمال اوګنړل ) چې مونږ مُوَحِّدين يو ، د يو الله عبادت کوو . او دا آتش پرَست ، صليب پرَست او نور بې دِينه خلق د غيرُالله عبادت کوي ، دا کافران کم بخته جاهل او احمق دي چې د بې شعوره شيانو عبادت کوي .
پس کله مې چې د تکبّر دا خيال ذهن ته راغی نو په همدغه وخت مې يو غيبي آواز واوريد :

دا ايمان او توحيد ستا ذاتي کمال ندی بلکه دا ټول زمونږ په توفيق باندې کيږي ، آيا ته دا ايمان په خپل اختيار کې ګڼړې چې ددې په وجه ته دا نور خلق سپک ګڼړې ؟ اوس به مونږ تا ته دا اوښايو .

شيخ ابوعبدالله اندلسيؒ وايي چې ددې غيبي آواز په اوريدو سره ما دا محسوسه کړه چې ګويا يوه مرغۍ زما د زړه نه اووته او والوته ، دا په حقيقت کې ايمان ؤ .... (١)

**په مذکوره واقعه کې عبرت** : ددې واقعې نه مونږ ته دا عبرت حاصل شو چې

(١) صدائے ممبر ج ٣ ص ٣٢ ، مجالس حکيم الاسلام ج ٢ ، حکيم الامت کے پسنديدہ واقعات ص ١٢٧ ، الابرار سلوک و احسان ص ٦٧ ، مثالی فکر انگيز واقعات و لطائف ص ٢٦ .

تکبّر او ځان خودل ډېره لويه ګناه ده، ددې په وجه د ايمان تللو خطره ده، شيخ ابوعبدالله اندلسيؒ په زړه کې لږ تکبّر راغلې ؤ نو الله تعالی ځومره سخت امتحان ورباندې راوست، خو د خپلو مريدانو او عامو او عامو مسلمانانو په دُعا سره ورته الله ﷻ دُوباره هدايت اوکړو.

## هميشه تکبّر کوونکی د جبّارينو په فهرست کې ليکلې شي

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

لَا يَزَالُ الرَّجُلُ يَذْهَبُ بِنَفْسِهِ حَتّٰى يُكْتَبَ فِي الْجَبَّارِيْنَ فَيُصِيْبُهُ مَا أَصَابَهُمْ. (١)

سړی هميشه خپل ځان په نورو باندې اُوچت ګڼړي (يعنی تکبّر کوي) تر دې چې دده نوم د جبّارينو (او متکبّرينو) په فهرست کې اوليکلې شي، پس ده ته به هم هغه سزاګانې رسېږي کومې چې هغوی ته رسېږي.

(يعنی ده ته به هم په دُنيا او آخرت کې هغه سزاګانې رسېږي کومې چې غټو ظالمانو او متکبّرينو " فرعون، هامان او قارون" ته رسېږي). (٢)

## د تکبّر سره نېک اعمال کامله فائده نه کوي

تکبّر داسې خطرناکه بيماري ده چې ددې سره نېک اعمال کامله فائده نه کوي.

د سلمان رَحِمَهُ اللهُ نه پوښتنه اوشوه چې هغه کومه ګناه ده چې د هغې سره نېک اعمال فائده نه ورکوي؟

---

(١) سنن الترمذي أَبْوَابُ الْبِرِّ وَالصِّلَةِ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْكِبْرِ رقم الحديث ٢٠٠٠ وقال الترمذي: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٤٤٣٠ الترغيب في التواضع والترهيب من الكبر والعجب والافتخار، التواضع والخمول لابن ابي الدنيا ج١ ص٢٢٨ رقم١٩٨، شرح السنّة للبغوي رقم الحديث ٣٥٨٩، رياض الصالحين باب تحريم الكبر والإعجاب رقم الحديث ٦١٩، مشكوة المصابيح باب الغضب والكبر الفصل الثاني رقم الحديث ٥١١١(٨)

(٢) (حَتّٰى يُكْتَبَ) أَيْ: اسْمُهُ أَوْ يُثْبَتَ رَسْمُهُ (فِي الْجَبَّارِيْنَ) أَيْ: فِي دِيْوَانِ الظَّالِمِيْنَ وَالْمُتَكَبِّرِيْنَ أَوْ مَعَهُمْ فِي أَسْفَلِ السَّافِلِيْنَ (فَيُصِيْبُهُ): بِالنَّصْبِ، وَقِيْلَ بِالرَّفْعِ أَيْ: فَيَنَالُ الرَّجُلُ مِنْ بَلِيَّاتِ الدُّنْيَا وَعُقُوْبَاتِ الْعُقْبٰى (مَا أَصَابَهُمْ) أَيِ: الْجَبَّارِيْنَ كَفِرْعَوْنَ وَهَامَانَ وَقَارُوْنَ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج٨ ص٣١٩١ باب الغضب والكبر الفصل الثاني في تشريح حديث ٥١١١.

هغه ورته وويل: اَلْكِبْرُ. هغه ګناه تکبّر دی.(۱)

## د تکبر په وجه نېک اعمال ختمېږي

تکبّر د هيچا د پاره مناسب ندي، بيا خاصکر عالِم ته د خپل عِلم او عابِد ته د خپل عبادت په وجه تکبّر ندی په کار، ځکه الله تعالی د خلقو په زړونو باندې فيصله کوي، د تکبّر په وجه د انسان نېک اعمال ختمېږي.

امام غزالي رَحِمَهُ اللهُ په "احياء العلوم" دا واقعه رانقل کړی چې په بني اسرائيلو کې يو کس وُ، ډير زيات فسادي وُ، د زيات فساد په وجه به خلقو ده ته "د بني اسرائيلو خَلِيع" ويل.

همدارنګې په بني اسرائيلو کې يو بل عبادت ګزار وُ چې خلقو به هغه ته "د بني اسرائيلو عابِد" ويل.

يو ورځ دا خَلِيع په دې عابد باندې تيريدو، (په ګرمی کې) د عابد د سَر د پاسه وريځ وه چې په ده يې سورې کړې وُ، نو ده د ځان سره په زړه کې وويل:

أَنَا خَلِيْعُ بَنِيْ إِسْرَائِيْل وَهٰذَا عَابِدُ بَنِيْ إِسْرَائِيْلَ فَلَوْ جَلَسْتُ إِلَيْهِ لَعَلَّ اللهَ يَرْحَمُنِيْ.

زه د بني اسرائيلو خليع يم او دا د بني اسرائيلو عابِد دی، که چيرته زه د ده سره په څنګ کې کينم نو کيدې شي الله تعالی په ما باندې هم رحم اوکړي.

نو د ده سره په څنګ کې کيناست. عابد وويل:

أَنَا عَابِدُ بَنِيْ إِسْرَائِيْل وَهٰذَا خَلِيْعُ بَنِيْ إِسْرَائِيْل فَكَيْفَ يَجْلِسُ إِلَيَّ؟

زه د بني اسرائيلو عابِد يم، او دا د بني اسرائيلو خليع دی، نو دا څنګه د ماسره کيني؟

نو تکبّر يې اوکړو او هغه ته يې وويل: قُمْ عَنِّيْ. د مانه پاځه.

الله تعالی د هماغه زمانې پيغمبر ته دا وَحي اوکړه:

---

(۱) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ هُبَيْرَةَ. أَنَّ سَلْمَانَ سُئِلَ عَنِ السَّيِّئَةِ الَّتِيْ لَا تَنْفَعُ مَعَهَا حَسَنَةٌ. قَالَ: اَلْكِبْرُ. التواضع والخمول لابن ابي الدنيا ج ۱ ص ۲۷۴ بَابٌ فِي الْكِبْرِ رقم ۲۲۹. نضرة النعيم ج ۱۱ ص ۵۲۷۸ الكبر والعجب، احياء علوم الدين ج ۳ ص ۳۳۹.

مُرْهُمَا فَلْيَسْتَأْنِفَا الْعَمَلَ فَقَدْ غَفَرْتُ لِلْخَلِيْعِ وَأَحْبَطْتُ عَمَلَ الْعَابِدِ .

ته دې دواړو ته حُکم اوکړه چې د نوي سَر نه اعمال شروع کړي ، ځکه ما خليع ته ( د عاجزۍ په وجه ) بخنه اوکړه ، او د عابد عمل مې ( د تکبّر په وجه ) ختم کړو

په يو روايت کې دا هم ذکر دي چې کومه وريځ د عابد په سَر باندې وه هغه د خليع په سَر باندې شوه .(١)

**فائده** : ددينه معلومه شوه چې عاجزي بهترين څيز دی ، او تکبّر ډير بَد څيز دی ، چې ددې په وجه د انسان نيک اعمال ختميږي .

# د فقيرۍ باوجود تکبّر کوونکي د پاره سخته سزا

تکبّر کول دمالدار او غريب دواړو د پاره ناجائز دی خو فقير چې د فَقر باوجود تکبر کوي نو دده د پاره سختې سزاګانې ذکر شوي :

**١** . د مسلم شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

ثَلَاثَةٌ لَا يُكَلِّمُهُمُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا يُزَكِّيهِمْ وَلَا يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيْمٌ : شَيْخٌ زَانٍ ، وَمَلِكٌ كَذَّابٌ ، وَعَائِلٌ مُسْتَكْبِرٌ .(٢)

---

(١) روي أنّ رجلًا في بني إسرائيل كان يقال له " خليع بني إسرائيل " لكثرة فساده مرّ برجلٍ آخر يقال له " عابد بني إسرائيل " وكان على رأس العابد غمامة تظله . فلما مرّ الخليع به فقال الخليع في نفسه : أَنَا خَلِيْعُ بَنِيْ إِسْرَائِيْل وَهٰذَا عَابِدُ بَنِيْ إِسْرَائِيْلَ فَلَوْ جَلَسْتُ إِلَيْهِ لَعَلَّ اللهَ يَرْحَمُنِيْ . فجلس إليه . فقال العابد : أَنَا عَابِدُ بَنِيْ إِسْرَائِيْل وَهٰذَا خَلِيْعُ بَنِيْ إِسْرَائِيْل فَكَيْفَ يَجْلِسُ إِلَيَّ ؟ فأنف منه وقال له : قُمْ عَنِّيْ . فأوحى الله إلى نبيّ ذلك الزمان : مُرْهُمَا فَلْيَسْتَأْنِفَا الْعَمَلَ فَقَدْ غَفَرْتُ لِلْخَلِيْعِ وَأَحْبَطْتُ عَمَلَ الْعَابِدِ . وفي رواية أخرى : فتحولت الغمامة إلى رأس الخليع . إحياء علوم الدين ج ٣ ص ٣٥٠ كتاب ذم الكبر والعجب ، الزواجر ج ١ ص ١١٩

(٢) صحيح مسلم كِتَابُ الإِيمَانِ بَابُ بَيَانِ غِلَظِ تَحْرِيمِ إِسْبَالِ الإِزَارِ . وَالْمَنِّ بِالْعَطِيَّةِ ..... رقم الحديث ١٧٢ ( ١٠٧ ) ، مسند احمد رقم الحديث ١٠٢٢٧ ، السنن الكبرى للنسائي رقم الحديث ٧١٠٠ ، صحيح ابن حبان رقم الحديث ٤٤١٣ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ٦١١١ ، شعب الايمان رقم الحديث ٣٠٢٢ ، و رقم الحديث ٧٨٠٦ ، مشكاة المصابيح رقم الحديث ٥١٠٩ (٦) باب الغضب والكبر الفصل الاول ، مجمع الزوائد رقم الحديث ٩٢٦٩ باب في الامام الكاذب ، كنزالعمال رقم الحديث ٤٣٨١٩ ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ١٧٨٨ (٧) .

درې ( ۳ ) کسان داسې دي چې د هغوی سره به الله تعالی د قيامت په ورځ ( د رَضا يا بالکل ) خبرې اونکړي ، نه به د هغوی تعريف اوکړي ( يعنی د گناهونو نه به يې صفا نکړي) ، نه به هغوی ته د رحمت په نظر باندې اوګوري ، او د هغوی د پاره به دَردناک عذاب وي : يو : زِناکاربوډا . دويم : دروغجن بادشاه . او دريم متکبّر فقير .

**تشريح** : يعنی عام طور باندې چې خلق په تکبّر کې اَخته کيږي نو هغه د مال و دولت او عُهدې په وجه باندې ، د فقير سره خو دا شيان نه وي خو چې دا بيا هم تکبّر کوي نو معلوميږي چې دده په باطن کې خباثت پروت دی .

علامه طيبي رَحِمَهُ اللهُ د حديث مطلب دا بيان کړی چې زِنا قبيحه ده خو د بوډا د پاره ډيره قبيحه ده ، دروغ بَد ( قبيح ) دي خو د بادشاه د پاره ډير بد دي ، تکبّر مَذموم دی خو د فقير د پاره ډير مذموم دی . (۱)

۴ . يو عالِم ليکلي :

اَلتَّوَاضُعُ فِي الْخَلْقِ كُلِّهِمْ حَسَنٌ وَفِي الْأَغْنِيَاءِ أَحْسَنُ . وَالتَّكَبُّرُ فِي الْخَلْقِ كُلِّهِمْ قَبِيحٌ وَفِي الْفُقَرَاءِ أَقْبَحُ . (۲)

عاجزي په ټولو خلقو کې ښه ده خو په مالدارو کې بيا ډيره ښه ده ، او تکبّر په ټولو خلقو کې قبيح دی خو په فقيرانو کې ډير قبيح دی .

## متکبر فقير به په اَوّلني کسانو کې جهنم ته داخليږي

کوم فقير چې تکبّر کوي نو دا به په اَوّلني کسانو کې جهنم ته داخليږي .

(۱) ( وَعَائِلٌ مُسْتَكْبِرٌ) أَيْ: فَقِيرٌ مُتَكَبِّرٌ . لِأَنَّ كِبْرًا مَعَ الْعَدَامِ سَبَبِهِ فِيهِ مِنَ الْجَاهِ وَالْمَالِ يَدُلُّ عَلَى كَوْنِهِ بِالطَّبْعِ ذَمِيمًا فِي الشَّرْعِ . وَقِيلَ : اَلْمُرَادُ بِالْعَائِلِ ذُو الْعِيَالِ . فَتَكَبُّرُهُ عَنْ أَخْذِ الصَّدَقَةِ قَدْرَ مَا يَسُدُّ خَلَّتَهُ وَخَلَّةَ عِيَالِهِ لَمْ يَكُنْ إِلَّا لِاسْتِيلَاءِ هٰذِهِ الرَّذِيلَةِ عَلَيْهِ ، بِحَيْثُ يَلْحَقُهُ وَعِيَالَهُ الضَّرَرُ الشَّدِيدُ مِنْ تَكَبُّرِهِ .
قَالَ الطِّيبِيُّ رَحِمَهُ اللهُ : يَعْنِي الزِّنَا قَبِيحٌ وَمِنَ الشَّيْخِ أَقْبَحُ . وَالْكَذِبُ سَمِجٌ وَمِنَ الْمَلِكِ أَسْمَجُ . وَالتَّكَبُّرُ مَذْمُومٌ وَمِنَ الْفَقِيرِ أَذَمُّ . مرقاة المفاتيح ج۸ ص ۳۱۹۰ باب الغضب والكبر الفصل الاول في تشريح حديث ۵۱۰۹ .
(۲) احياء علوم الدين ج۳ ص ۳۲۳ كتاب ذم الكبر والعجب ، نضرة النعيم ج ۱۱ ص ۵۳۷۹ الكبر والعجب

رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

.... أَوَّلُ ثَلَاثَةٍ يَدْخُلُوْنَ النَّارَ: أَمِيْرٌ مُسَلَّطٌ، وَذُوْ ثَرْوَةٍ لَا يُؤَدِّيْ حَقَّهُ، وَفَقِيْرٌ فَخُوْرٌ. (١)

اَوّلني درې کسانٌ چې کوم به جهنم ته داخليږي په هغې کې يو ظالم بادشاه دی، دويم هغه مالدار دی چې په مال کې د الله ﷻ حق نه اداء کوي، او دريم فخر (او تکبّر) کوونکی فقير.

## متكبّر فقير الله ﷻ ته ډير ناخوښه وي

علماء ليکي: إِنَّ اللهَ تَعَالَى يُبْغِضُ ثَلَاثَةَ نَفَرٍ وَبُغْضُهُ لِثَلَاثَةٍ مِنْهُمْ أَشَدُّ. أَوَّلُهَا: يُبْغِضُ الفُسَّاقَ وَبُغْضُهُ لِلشَّيْخِ الفَاسِقِ أَشَدُّ. وَالثَّانِيْ: يُبْغِضُ البُخَلَاءَ وَبُغْضُهُ لِلغَنِيِّ البَخِيْلِ أَشَدُّ. وَالثَّالِثُ: يُبْغِضُ المُتَكَبِّرِيْنَ وَبُغْضُهُ لِلفَقِيْرِ المُتَكَبِّرِ أَشَدُّ. (٢)

بيشکه الله تعالى د درې (٣) کسانو سره بُغض (نفرت) کوي خو د درې نورو سره د دوی نه هم ډير بُغض کوي، اول: د فاسقانو (بَدکارانو) بُغض کوي خو د بوډا فاسق (بَدکار) سره ډير بُغض کوي. دويم: د بخيلانو سره بُغض کوي خو د مالدار بخيل سره ډير بُغض کوي. دريم: د مُتکبّرينو سره بُغض کوي خو د متکبّر فقير سره ډير بُغض کوي.

بهرحال، په فقير کې تکبّر راتلل الله تعالى ته ډير ناخوښه دی. (٣)

---

(١) پوره حديث داسې دی: أَوَّلُ ثَلَاثَةٍ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ: الشَّهِيْدُ، وَرَجُلٌ مُتَعَفِّفٌ ذُوْ عِيَالٍ، وَعَبْدٌ أَحْسَنَ عِبَادَةَ رَبِّهِ وَأَدَّى حَقَّ مَوْلَاهُ، وَأَوَّلُ ثَلَاثَةٍ يَدْخُلُوْنَ النَّارَ: أَمِيْرٌ مُسَلَّطٌ، وَذُوْ ثَرْوَةٍ لَا يُؤَدِّيْ حَقَّهُ، وَفَقِيْرٌ فَخُوْرٌ. مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ١٩٣٣٥، و رقم الحديث ٣٥٩٦٩، مسند احمد رقم الحديث ٩٤٩٢، و رقم الحديث ١٠٢٠٥، مسند ابي داؤد الطيالسي رقم الحديث ٢٦٩٠، صحيح ابن خزيمة رقم الحديث ٢٢٤٩، صحيح ابن حبان رقم الحديث ٤٦٥٦، شعب الايمان رقم الحديث ٣٠٦٣، و رقم الحديث ٨٢٤٦، معجم ابن عساكر رقم الحديث ٥٢١، الكبائر للذهبي ج١ ص٣٣، الزواجر ج ١ ص ٢٨٠، كنزالعمال رقم الحديث ٤٣٢٦٢.

(٢) تنبيه الغافلين باحاديث سيد الأنبياء والمرسلين للسمرقندي ص ١٨٤ بَابُ الكِبْرِ

(٣) قَالَ بَعْضُ الحُكَمَاءِ: عَشْرُ خِصَالٍ يُبْغِضُهَا اللهُ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى مِنْ عَشْرَةِ أَنْفُسٍ: اَلْبُخْلُ مِنَ الأَغْنِيَاءِ، وَالْكِبْرُ مِنَ الفُقَرَاءِ، وَالطَّمَعُ مِنَ العُلَمَاءِ، وَقِلَّةُ الحَيَاءِ مِنَ النِّسَاءِ، وَحُبُّ الدُّنْيَا مِنَ الشُّيُوْخِ، وَالْكَسَلُ مِنَ الشَّبَابِ، وَالْجَوْرُ مِنَ السُّلْطَانِ، وَالْجُبْنُ مِنَ الغُزَاةِ، وَالعُجْبُ مِنَ الزُّهَادِ، وَالرِّيَاءُ مِنَ العُبَّادِ. منبهات ابن حجر عسقلاني باب العشاري ص ١٠٣.

# ښائسته کپړې او ښائسته څپلې اچول تکبر ندی

په دې خبره ځان پوهه کړئ چې ښائسته قیمتي جامې اغوستل، یا ښائسته څپلې استعمالول یا په قیمتي ګاډي کې ګرځېدلو ته تکبّر نه وایي، بلکه تکبّر دېته وایي چې انسان د حق نه اِنکار کوي، خپل ځان لوي ګڼړي، او نورو مسلمانان ورته سپک ښکاري.

١ . په مسلم شریف کې دا خبره صراحةً ذکر ده، حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمايي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمایل:

لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ كَانَ فِيْ قَلْبِهٖ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِنْ كِبْرٍ.

هغه کس به جنت ته نه داخلیږي چې د هغه په زړه کې يو ذرّه برابر تکبّر وي.

يو سړي عرض اوکړو: اې د الله رسوله! که يو سړی دا خوښوي چې د هغه جامې دې ښه وي، او د هغه څپلې دې ښه وي (نو آيا دا هم په تکبر کې راځي؟).

رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته اوفرمايل:

إِنَّ اللهَ جَمِيْلٌ يُحِبُّ الْجَمَالَ. اَلْكِبْرُ بَطَرُ الْحَقِّ وَغَمْطُ النَّاسِ.

بېشکه الله تعالی جَمیل دی او جمال خوښوي، تکبّر دادی چې انسان د حق نه اِنکار کوي او خلقو ته په سپک نظر باندې ګوري. (١)

**فائده**: په دې حدیث کې صراحةً دا خبره ذکر شوه چې که يو کس خلقو ته د ځان خودلو

---

(١) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ رضي الله عنه. عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ كَانَ فِيْ قَلْبِهٖ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِنْ كِبْرٍ» قَالَ رَجُلٌ: إِنَّ الرَّجُلَ يُحِبُّ أَنْ يَكُوْنَ ثَوْبُهٗ حَسَنًا وَنَعْلُهٗ حَسَنَةً. قَالَ: «إِنَّ اللهَ جَمِيْلٌ يُحِبُّ الْجَمَالَ. اَلْكِبْرُ بَطَرُ الْحَقِّ وَغَمْطُ النَّاسِ». صحيح مسلم كِتَابُ الْإِيْمَانِ بَابُ تَحْرِيْمِ الْكِبْرِ وَبَيَانِهٖ رقم الحديث ١٤٧(٩١)، ورقم الحديث ١٤٩(٩١). سنن الترمذي أَبْوَابُ الْبِرِّ وَالصِّلَةِ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْكِبْرِ رقم الحديث ١٩٩٩، مسند احمد رقم الحديث ٣٩٤٧، صحيح ابن حبان رقم الحديث ٥٤٦٦، الآداب للبيهقي رقم الحديث ٤٨٦، شعب الايمان رقم الحديث ٥٧٨٢، شرح السنة للبغوي رقم الحديث ٣٥٨٧ باب الكبر ووعيد المتكبرين. مشكوة المصابيح بَابُ الْغَضَبِ وَالْكِبْرِ اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ رقم الحديث ٥١٠٨(٥)، كنز العمال رقم الحديث ٧٧٤٧، صحيح الترغيب و الترهيب رقم الحديث ٢٩١٢(٢٣)

نه بغير هر وخت ښه لباس اغوستل يا ښه څپلې په خپو کول خوښوي نو دا په تکبّر کې نه راځي، بلکه تکبّر دا دی چې انسان د حَق خبرې نه اِنکار کوي ، او نور خلق ورته سپک ښکاري.

دې کس د نبي عليه السلام نه دا پوښتنه ځکه اوکړه چې ده د متکبّرينو خلقو دا عادت ليدلې ؤ چې هغوی د فخر واله ښائسته جامې اچوي نو دده په ذهن کې دا سوال پيدا شو چې کيدې شي دا ښه لباس اغوستل يا ښه څپلې په خپو کول به په تکبّر کې داخلې وي، نو نبي عليه السلام ورته پوره وضاحت اوکړو چې ښائسته جامو او ښائسته څپلو ته تکبّر نه وايي بلکه د تکبّر حقيقت دا دی چې انسان د حق خبرې نه اِنکار کوي ، خپل ځان اُوچت ګڼړي او نور خلق ورته سپک ښکاري . (١)

همدا شان مضمون په نورو احاديثو کې هم ذکر شوی . (٢)

---

(١) (إِنَّ الرَّجُلَ يُحِبُّ أَنْ يَكُوْنَ ثَوْبُهُ حَسَنًا وَنَعْلُهُ حَسَنًا) أَيْ : مِنْ غَيْرِ أَنْ يُرَاعِيَ نَظَرَ الْخَلْقِ وَمَا يَتَرَتَّبُ عَلَيْهِ مِنَ الْكِبْرِ وَالْخُيَلَاءِ وَالسُّمْعَةِ وَالرِّيَاءِ. وَعَلَامَةُ صِدْقِهِ أَنْ يُحِبَّ ذٰلِكَ أَيْضًا فِي الْخَلَاءِ ...... وَلَعَلَّ سَبَبَ السُّؤَالِ مَا ذَكَرَهُ الطِّيْبِيُّ أَنَّهُ لَمَّا رَأَى الرَّجُلُ الْعَادَةَ فِي الْمُتَكَبِّرِيْنَ لُبْسَ الثِّيَابِ الْفَاخِرَةِ وَنَحْوَ ذٰلِكَ سَأَلَ مَا سَأَلَ . مرقاة المفاتيح ج ٨ ص ٣١٨٩ بَابُ الْغَضَبِ وَالْكِبْرِ اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ في تشريح حديث ٥١٠٨ .

(٢) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه . أَنَّ رَجُلًا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : وَكَانَ رَجُلًا جَمِيْلًا . فَقَالَ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! إِنِّيْ رَجُلٌ حُبِّبَ إِلَيَّ الْجَمَالُ . وَأُعْطِيْتُ مِنْهُ مَا تَرٰى . حَتّٰى مَا أُحِبُّ أَنْ يَفُوْقَنِيْ أَحَدٌ . إِمَّا قَالَ : بِشِرَاكِ نَعْلِيْ . وَإِمَّا قَالَ : بِشِسْعِ نَعْلِيْ . أَفَمِنَ الْكِبْرِ ذٰلِكَ ؟ قَالَ : لَا . وَلٰكِنَّ الْكِبْرَ مَنْ بَطِرَ الْحَقَّ ، وَغَمَطَ النَّاسَ . سنن ابي داؤد كِتَابُ اللِّبَاسِ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْكِبْرِ رقم الحديث ٤٠٩٢ قال الالباني: صحيح الإسناد ، .صحيح الأدب المفرد للإمام البخاري ج ١ ص ٢٠٩ باب الكبر رقم الحديث ٥٥٦/٤٣٣ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ٦٤٧٩ ، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ٧٣٦٦ ، و رقم الحديث ٧٣٦٧ ، شعب الايمان رقم الحديث ٥٧٨٣ .

وفي رواية : ........ وَأَنْهَاكَ عَنِ الشِّرْكِ وَالْكِبْرِ . فَقُلْتُ : أَوْ قِيْلَ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! هٰذَا الشِّرْكُ قَدْ عَرَفْنَاهُ فَمَا الْكِبْرُ ؟ هُوَ أَنْ يَكُوْنَ لِأَحَدِنَا حُلَّةٌ يَلْبَسُهَا ؟ قَالَ : "لَا" . قَالَ : فَهُوَ أَنْ يَكُوْنَ لِأَحَدِنَا نَعْلَانِ حَسَنَتَانِ لَهُمَا شِرَاكَانِ حَسَنَانِ ؟ قَالَ : "لَا" . قَالَ : فَهُوَ أَنْ يَكُوْنَ لِأَحَدِنَا دَابَّةٌ يَرْكَبُهَا ؟ قَالَ : "لَا" . قَالَ فَهُوَ أَنْ يَكُوْنَ لِأَحَدِنَا أَصْحَابٌ يَجْلِسُوْنَ إِلَيْهِ ؟ قَالَ : "لَا" . قَالَ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! فَمَا الْكِبْرُ ؟ قَالَ : "سَفَهُ الْحَقِّ . وَغَمْصُ النَّاسِ" . صحيح الأدب المفرد للإمام البخاري ج ١ ص ٢٠٧ باب الكبر رقم الحديث ٥٤٨/٤٢٦

۲. د ترمذي شريف حديث دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

إِنَّ اللهَ يُحِبُّ أَنْ يَرٰى أَثَرَ نِعْمَتِهٖ عَلٰى عَبْدِهٖ. (۱)

بيشکه الله تعالی دا خوښوي چې په خپل بنده باندې د خپل نعمت آثر اوګوري.

**فائده**: د دې حديث نه علماؤ دا مسئله معلومه کړی چې کله يو چا ته الله تعالی د دُنيا د نعمتونو نه يو نعمت ورکړې وي نو په کار ده چې د ده په بدن باندې د هغې آثر ښکاره شي، مثلاً يو کس مالدار وي نو د خپل حالت موافق کپړې (جامې) دې آغوندي د دې د پاره چې د الله تعالی د نعمت اظهار هم اوشي او غريبانانو ته هم پته اُولږي چې دا مالدار دی نو د زکوة او صدقاتو د پاره به ده ته رجوع کوي. (۲)

۳. په "شامي" کې ذکر دي چې د الله ﷻ د نعمت ظاهرولو په خاطر باندې ښائسته جامې اچول مستحب دي.

په فتاوی هنديه کې ذکر دي چې کله په انسان کې د ښائسته کپړو په اچولو سره تکبر نه پيدا کيږي يعنی د کپړو اچولو نه مخکې يې چې څنګه حالت وي هماغه شان حالت يې د

---

(۱) سنن الترمذي أَبْوَابُ الْأَدَبِ بَابُ مَا جَاءَ إِنَّ اللهَ تَعَالَى يُحِبُّ أَنْ يَرَى أَثَرَ نِعْمَتِهٖ عَلَى عَبْدِهٖ رقم الحديث ۲۸۱۹ وقال الترمذي: هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. مسند احمد رقم الحديث ۸۱۰۷، و رقم الحديث ۱۹۹۳۴، مشكاة المصابيح كِتَابُ اللِّبَاسِ رقم الحديث ۴۳۵۰(۴۷)، رياض الصالحين ج۱ ص ۲۶۱ رقم الحديث ۱/۸۰۱.

وفي رواية: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: كُلُوْا وَاشْرَبُوْا وَتَصَدَّقُوْا فِيْ غَيْرِ سَرَفٍ وَلَا مَخِيلَةٍ إِنَّ اللهَ تَعَالَى يُحِبُّ أَنْ يَرٰى أَثَرَ نِعْمَتِهٖ عَلٰى عَبْدِهٖ. المستدرك على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۷۱۸۸، وقال الحاكم: هٰذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ. ووافقه الذهبي، الآداب للبيهقي رقم الحديث ۴۸۸، شعب الايمان رقم الحديث ۴۲۵۱، ورقم الحديث ۵۷۸۵، ورقم الحديث ۵۷۸۶.

(۲) په مرقاة کې د مشکوة شريف د حديث تشريح داسې ذکر ده: (إِنَّ اللهَ يُحِبُّ أَنْ يُرٰى): بِصِيغَةِ الْمَجْهُولِ أَيْ يُبْصَرَ وَيَظْهَرَ (أَثَرُ نِعْمَتِهٖ): أَيْ إِحْسَانِهٖ وَكَرَمِهٖ تَعَالَى (عَلٰى عَبْدِهٖ): فَمِنْ شُكْرِهَا إِظْهَارُهَا، وَمِنْ كُفْرَانِهَا كِتْمَانُهَا. قَالَ الْمُظْهِرُ: يَعْنِيْ إِذَا آتَى اللهُ عَبْدًا مِنْ عِبَادِهٖ نِعْمَةً مِنْ نِعَمِ الدُّنْيَا فَلْيُظْهِرْهَا مِنْ نَفْسِهٖ. بِأَنْ يَلْبَسَ لِبَاسًا يَلِيقُ بِحَالِهٖ. لِإِظْهَارِ نِعْمَةِ اللهِ عَلَيْهِ، وَلِيَقْصِدَهُ الْمُحْتَاجُونَ لِطَلَبِ الزَّكَاةِ وَالصَّدَقَاتِ، وَكَذٰلِكَ الْعُلَمَاءُ يُظْهِرُوْا عِلْمَهُمْ لِيَسْتَفِيدَ النَّاسُ مِنْهُمْ. مرقاة المفاتيح ج۷ ص ۲۷۸۳ كِتَابُ اللِّبَاسِ في تشريح حديث ۴۳۵۰

ښائسته کپړو اچولو نه پس هم وي په زړه کې يې څه تکبّر نه راځي نو بيا ښائسته کپړې اچول مباح دي. (۱)

امام غزالي رحمه الله هم په احياء العلوم کې دا خبره په تفصيل سره ذکر کړې. (۲)

(۱) إِعْلَمْ أَنَّ الْكِسْوَةَ مِنْهَا فَرْضٌ وَهُوَ مَا يَسْتُرُ الْعَوْرَةَ وَيَدْفَعُ الْحَرَّ وَالْبَرْدَ ...... وَمُسْتَحَبٌّ: وَهُوَ الزَّائِدُ لِأَخْذِ الزِّينَةِ وَإِظْهَارِ نِعْمَةِ اللهِ تَعَالَى قَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ «إِنَّ اللهَ يُحِبُّ أَنْ يَرَى أَثَرَ نِعْمَتِهِ عَلَى عَبْدِهِ». وَمُبَاحٌ وَهُوَ الثَّوْبُ الْجَمِيلُ لِلتَّزَيُّنِ فِي الْأَعْيَادِ وَالْجُمَعِ وَمَجَامِعِ النَّاسِ لَا فِي جَمِيعِ الْأَوْقَاتِ لِأَنَّهُ صَلَفٌ وَخُيَلَاءُ. وَرُبَّمَا يَغِيظُ الْمُحْتَاجِينَ فَالتَّحَرُّزُ عَنْهُ أَوْلَى. وَمَكْرُوهٌ وَهُوَ اللُّبْسُ لِلتَّكَبُّرِ.

وَفِي الْهِنْدِيَّةِ عَنِ السِّرَاجِيَّةِ: لُبْسُ الثِّيَابِ الْجَمِيلَةِ مُبَاحٌ إِذَا لَمْ يَتَكَبَّرْ. وَتَفْسِيرُهُ أَنْ يَكُونَ مَعَهَا كَمَا كَانَ قَبْلَهَا. رد المحتار على الدر المختار ج۶ ص ۳۵۱ كِتَابُ الْحَظْرِ وَالْإِبَاحَةِ فَصْلٌ فِي اللُّبْسِ

په الموسوعة الفقهية کې ذکر دي: قَالَ فِي الْفَتَاوَى الْهِنْدِيَّةِ: وَالْحَاصِلُ أَنَّ كُلَّ مَا كَانَ عَلَى وَجْهِ التَّكَبُّرِ يُكْرَهُ. وَإِنْ فُعِلَ لِحَاجَةٍ أَوْ ضَرُورَةٍ لَا. أَيْ: لَا يُكْرَهُ. الفتاوى الهندية ۵ / ۳۵۹ طبع دار إحياء التراث العربي بيروت

عَلَى هٰذَا فَإِنَّ مَنْ لَبِسَ الثِّيَابَ الْجَمِيلَةَ الرَّفِيعَةَ مِنْ غَيْرِ نِيَّةِ التَّكَبُّرِ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ. قَالَ الشَّوْكَانِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: وَهٰذَا مِمَّا لَا خِلَافَ فِيهِ فِيمَا أَعْلَمُ. نيل الأوطار ۲ / ۱۰۹، وانظر: الفتاوى البزازية لابن البزاز الكردري ۶ / ۳۶۸ مطبوعة بهامش الفتاوى الهندية، والفتاوى الهندية ۵ / ۳۳۶.

بَلْ إِنَّ لُبْسَ رَفِيعِ الثِّيَابِ مِنْ غَيْرِ نِيَّةِ التَّكَبُّرِ، بَلْ بِنِيَّةِ أَنْ يَكُونَ لَهُ وَقْعٌ فِي قُلُوبِ سَامِعِيهِ وَهُوَ يَأْمُرُهُمْ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَاهُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ كَانَ مُثَابًا. قَالَ الشَّوْكَانِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: إِنَّ الْأَعْمَالَ بِالنِّيَّاتِ، فَلُبْسُ الْمُنْخَفِضِ مِنَ الثِّيَابِ تَوَاضُعًا وَكَسْرًا لِسَوْرَةِ النَّفْسِ الَّتِي لَا يُؤْمَنُ عَلَيْهَا مِنَ التَّكَبُّرِ إِنْ لَبِسَتْ غَالِيَ الثِّيَابِ مِنَ الْمَقَاصِدِ الصَّالِحَةِ الْمُوجِبَةِ لِلْمَثُوبَةِ مِنَ اللهِ. وَلُبْسُ الْغَالِي مِنَ الثِّيَابِ عِنْدَ الْأَمْنِ عَلَى النَّفْسِ مِنَ التَّسَامِي الْمَشُوبِ بِنَوْعٍ مِنَ التَّكَبُّرِ لِقَصْدِ التَّوَصُّلِ بِذَلِكَ إِلَى تَمَامِ الْمَطَالِبِ الدِّينِيَّةِ مِنْ أَمْرٍ بِمَعْرُوفٍ أَوْ نَهْيٍ عَنْ مُنْكَرٍ عِنْدَ مَنْ لَا يَلْتَفِتُ إِلَّا إِلَى ذَوِي الْهَيْئَاتِ لَا شَكَّ أَنَّهُ مِنَ الْمُوجِبَاتِ لِلْأَجْرِ. لٰكِنَّهُ لَا بُدَّ مِنْ تَقْيِيدِ ذٰلِكَ بِمَا يَحِلُّ لُبْسُهُ شَرْعًا. نيل الأوطار ۲ / ۱۱۰. الموسوعة الفقهية الكويتية ج ۳۴ ص ۱۶۷ حرف الكاف كبر

(۲) إعلم أن الثوب الجديد ليس من ضرورته أن يكون من التكبر في حق كل أحد في كل حال. وهو الذي أشار إليه رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وهو الذي عرفه رسول الله صلى الله عليه وسلم من حال ثابت بن قيس إذ قال إني امرؤ حبب إلي من الجمال ما ترى ... احياء علوم الدين ج ۳ ص ۳۵۶ كتاب ذم الكبر والعجب

# د تکبر نه بچ کېدونکي د پاره د جنت زېرې

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ مَاتَ وَهُوَ بَرِيءٌ مِنْ ثَلَاثٍ : اَلْكِبْرِ ، وَالْغُلُوْلِ ، وَالدَّيْنِ دَخَلَ الْجَنَّةَ . (١)

څوک چې وفات شو او دا د درې ( ٣ ) شيانو نه بَري ( پاک ) وُ نو دا به جنت ته داخليږي: يو : تکبّر ، دويم : په مالِ غنيمت کې خيانت کول ، او دريم قرض .

( **نوټ** : کوم قرض چې انسان په خپل اِختيار باندې راواخلي ، بيا يې ددې د اَداء کولو اِراده نه وي او په دې حالت کې وفات شي نو دا قبيحه ګناه ده .

البته که د ضرورت په وجه يې قرض راخيستې وي او د اَداء کولو اِراده يې وي خو په دې دَوران کې وفات شي نو بيا په دې وعيد کې نه راځي ) .

## د تکبّر نقصانات او ضَرَرونه

د تکبّر په وجه انسان د الله تعالى د غضب مستحق ګرځي ، د الله ﷻ د رَحمت نه لرې کيږي ، د عبادت توفيق ورنه سَلب کيږي ، د قرآن کريم په آيتونو باندې ورته پوهه نه نصيبه کيږي ، د حق نه اِنکار کوي او د الله د عذاب مستحق جوړيږي .

د تکبّر په وجه د انسان په عقل کې کمې راځي ، د عُمر برکت يې ختميږي ، سِينه يې تنګيږي ، د متکبّر سره د خلقو بُغض او نفرت پيدا کيږي او خلق دده د ملګرتيا نه ځان لرې ساتي . (٢)

---

(١) سنن الترمذي أَبْوَابُ السِّيَرِ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْغُلُولِ رقم الحديث ١٥٧٢ قال الالباني: صحيح . المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ٢٢١٨ وقال الحاكم : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ الشَّيْخَيْنِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . مشكاة المصابيح رقم الحديث ٢٩٢١(٢٣) ، شعب الايمان رقم الحديث ٥١٥١ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ١٨٢٠٨ ، كنز العمال رقم الحديث ٤٣٩٥١ ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ٢٨٩٢ (٣) الترغيب فى التواضع والترهيب من الكبر والعجب والافتخار .

(٢) په نضرة النعيم کې د تکبّر نقصانات داسې ذکر دي ، مِنْ مَضَارِ الْكِبْرِ : (١) طَرِيْقٌ مُوَصِّلٌ إِلَى غَضَبِ اللهِ وَسَخَطِهِ . (٢) دَلِيْلُ سُفُوْلِ النَّفْسِ وَانْحِطَاطِهَا . (٣) يُوْرِثُ الْبُعْدَ عَنِ اللهِ وَالْبُعْدَ عَنِ النَّاسِ . (٤) اَلشُّعُوْرُ بِالْعُزْلَةِ وَضِيْقِ النَّفْسِ وَقَلَقِهَا . (٥) اِشْمِئْزَازُ النَّاسِ مِنْهُ وَتَفَرُّقُهُمْ مِنْ حَوْلِهِ . ← ← ← ← ← ← ←

# د تکبّر اَسباب

امام ماوردي رَحِمَهُ اللهُ ذکر کړي چې د تکبّر ډير اَسباب دي خو غټ سبب په کې دا دی چې انسان ته کله قوّت (حکومت يا بله غټه عُهده) ملاؤ شي ، حُکم يې په هر چا چليږي ، او دده سره په مرتبه کې برابر خلقو سره يې مجلس کم وي (يعنی دده مرتبه په نورو باندې اُوچته وي نو په داسې کس کې تکبّر پيدا کيږي) . (١)

امام غزالي رَحِمَهُ اللهُ ذکر کړي چې کله په انسان کې عُجب راشي ( يعنی خپل ځان ته غاوره وي ، خُود بيني او غرور په کې پيدا شي ) نو ددې په وجه هم په انسان کې تکبّر پيدا کيږي. همدارنګې د رِيا او حسَد په وجه هم په انسان کې تکبّر پيدا کيږي . (٢)

علامه ابن حجر رَحِمَهُ اللهُ ذکر کړي چې کله د انسان دا عقيده وي چې زه د نورو نه په عِلم ، عمل ، نسب ، جمال ، مرتبې ، قوّت او پيروَيانو په اِعتبار سره زيات يم نو په داسې کس کې تکبّر پيدا کيږي . (٣)

# د تکبّر علامات

اګر چې تکبّر په انسان کې يو صفتِ نفسي (د زړه صفت) دی خو بيا هم ددې ظاهري ډير

←←←← (٦) اِسْتِحْقَاقُ الْعَذَابِ فِي النَّارِ . (٧) هَلَاكُ النَّفْسِ وَذَهَابُ الْبَرَكَةِ مِنَ الْعُمُرِ . (٨) اَلْكِبْرُ مِنَ الْأَسْبَابِ الَّتِيْ تُبْعِدُ الْمُتَكَبِّرَ عَنْ طَاعَةِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ . (٩) جَزَاءُ الْمُتَكَبِّرِ الطَّرْدُ مِنْ رَحْمَةِ اللهِ . (١٠) اَلْمُتَكَبِّرُوْنَ يَصْرِفُهُمُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ عَنْ آيَاتِهٖ فَتَعْمٰى بَصَائِرُهُمْ وَلَا يَرَوْنَ الْحَقَّ . نضرة النعيم في مكارم اخلاق الرسول الكريم - صلى الله عليه وسلم ج ١١ ص ٥٣٨٠ الكبر والعجب .

(١) وَلِلْكِبْرِ أَسْبَابٌ : فَمِنْ أَقْوٰى أَسْبَابِهٖ عُلُوُّ الْيَدِ ، وَنُفُوْذُ الْأَمْرِ ، وَقِلَّةُ مُخَالَطَةِ الْأَكْفَاءِ . ادب الدنيا والدين للماوردي ج١ ص ٢٣٩ اَلْبَابُ الْخَامِسُ أَدَبُ النَّفْسِ اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ فِيْ مُجَانَبَةِ الْكِبْرِ وَالْإِعْجَابِ

(٢) وأمّا الكِبر الظاهر فأسبابه ثلاثةٌ : سببٌ في المتكبر . وسببٌ في المتكبر عليه ، وسببٌ فيما يتعلق بغيرهما . أمّا السبب الّذي في المتكبّر فهو العجب . والّذي يتعلّق بالمتكبّر عليه هو الحقد والحسد . والّذي يتعلّق بغيرهما هو الرّياء . احياء علوم الدين ج ٣ ص ٣٥٣ كتاب ذم الكبر والعجب بيان البواعث على التكبر وأسبابه المهيجة له

(٣) ثُمَّ الْحَامِلُ عَلَى التَّكَبُّرِ هُوَ اعْتِقَادُ كَمَالٍ تَمَيُّزِهٖ عَلَى الْغَيْرِ بِعِلْمٍ أَوْ عَمَلٍ أَوْ نَسَبٍ أَوْ مَالٍ أَوْ جَمَالٍ أَوْ جَاهٍ أَوْ قُوَّةٍ أَوْ كَثْرَةِ أَتْبَاعٍ . الزواجر عن اقتراف الكبائر ج ١ ص ١١٩ اَلْكَبِيْرَةُ الرَّابِعَةُ الْكِبْرُ وَالْعُجْبُ وَالْخُيَلَاءُ

علامات دي، يو څو په کې دادي:

١. کله چې بل کس دده سره خبرې کوي نو دا ورنه د تکبّر په وجه مخ اړوي. او هغه ته هيڅ توَجّه نه ورکوي . دا د متکبّرينو صفت دی.

٢. په تکبّر باندې تلل او په تللو کې ځان اوچت ګڼل.

په قرآن کريم کې ددې دواړو نه منع راغلې ده ، حضرت لقمان چې کله خپل ځوي ته نصيحت کولو نو دا يې هم ورته فرمايلي وو :

﴿ وَلَا تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحًا ۖ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ ﴾. (١)

ترجمه : او د خلقو نه خپل مخ مه اړوه ، او په زمکه باندې په غرور (تکبر) سره مه ځه ، بيشکه الله تعالى هر مغرور فخر کوونکي نه خوښوي .

د قرآن کريم په نورو آيتونو کې په تکبّر سره د تللو نه منع راغلې . (٢)

او په احاديثو کې ذکر دي چې يو کس به په تکبّر سره تللو نو الله تعالى په زمکه کې ژوندې خخ کړو او تر قيامته پورې به همداسې لاندې روان وي . (٣)

---

(١) لقمان آية ١٨ .

(٢) الله تعالى فرمايي : ﴿ وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحًا ۖ إِنَّكَ لَن تَخْرِقَ الْأَرْضَ وَلَن تَبْلُغَ الْجِبَالَ طُولًا ﴾.
الاسراء (بني اسرائيل) آية ٣٧ .

ترجمه : او په زمکه باندې په غرور ( تکبّر ) مه ګرځه ، بيشکه ته هيڅ کله زمکه نشې شلولی ، او هيڅ کله به اوږدوالي کې غرونو ته نشې رسيدی .

د الله تعالى رېښتيني بندګانو شان دادی چې دوی په زمکه باندې ډير په عاجزۍ سره ګرځي ، الله تعالى فرمايي:

﴿ وَعِبَادُ الرَّحْمَٰنِ الَّذِينَ يَمْشُونَ عَلَى الْأَرْضِ هَوْنًا ﴾. الفرقان آية ٦٣ .

ترجمه : او د الله تعالى (رېښتيني) بندګان هغه خلق دي چې په زمکه باندې په قلاره (عاجزۍ) سره ګرځي .

(٣) قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : بَيْنَمَا رَجُلٌ يَجُرُّ إِزَارَهُ مِنَ الْخُيَلَاءِ ، خُسِفَ بِهِ ، فَهُوَ يَتَجَلْجَلُ فِي الْأَرْضِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ . صحيح البخاري رقم الحديث ٣٢٨٥ كِتَابُ أَحَادِيثِ الْأَنْبِيَاءِ بَابُ حَدِيثِ الْغَارِ . و رقم الحديث ٥٧٩٠ كِتَابُ اللِّبَاسِ بَابُ مَنْ جَرَّ ثَوْبَهُ مِنَ الْخُيَلَاءِ ، سنن النسائي رقم الحديث ٥٣٢٦ التغليظ في جرّ الازار ، مشكاة المصابيح كتاب اللباس الفصل الاول رقم الحديث ٤٣١٣(١٠) . ←←←←←←

۳. په مجلس کې په کمزورو خلقو باندې خپل ځان اوچت کنړل ، يا کمزوري خلق د مجلس نه شړل. په قرآن کريم کې ددينه هم منع راغلې.

۴. غريبانانو او کمزورو خلقو ته دومره سپک کتل چې په هغوی باندې سلام هم نه اچوي، او د هغوی سره مصافحه هم نه کوي.

۵. د تکبّر په وجه د ټولو نه مخکې تلل، يا د تکبّر په وجه په خپله (په سوَرلۍ) سور تلل او نور خلق د ځان سره پياده روانول. (البته که د تکبّر په وجه نه وي نو بيا خېر دی).

٦. خپله کيناستل او د تکبّر په وجه نور خلق ځاته اودرول ، يا د مجلس نه د تللو په وخت د تکبّر په وجه د مجلس والهٔ نه ده ته د اودريدو مطالبه کول. په احاديثو کې ددينه منع راغلې.

البته که مجلس ته د چا والدين راشي ، يا عادل بادشاه ، يا عالِم ، او يا بل مشر (سپين ګيرې) کس راشي او دا ورته د تعظيم په وجه اودريږي نو دا خېر دی.

۷. په خپله د رُوټۍ مينځ (يعنې بهتره حصه) خوَړل او د تکبّر په وجه نورو خلقو ته د روټۍ سوَزيدلې يا اُومې غاړې پريخودل. يا په خپله ښه روټۍ خوَړل او نوکرانو ته بې کاره خوراک ورکول.

۸. د تکبّر په وجه باندې تکيه وهلو حالت کې روټۍ خوَړل.

خو که د تکبّر نه بغير بې د تکيه وهلو په حالت کې روټۍ خوَرله نو په دې کې د علماؤ اختلاف دی : د بعضو په نزد باندې بغير د عُذر نه دا مکروه ده او که عُذرؤ نو بيا جائز ده. او بعضې علماء بغير د تکبّر نه تَکيه وهلو حالت کې خوراک کول مطلقًا جائز ګنړي.

۹. د تکبّر په وجه پينځې د ځَنګرو نه ښکته ساتل. په احاديثو کې ددې سختې سزاګانې ذکر شوي. البته د عُذر په وجه خېر دی. جمهور علماء وايي چې د تکبّر او ضرورت نه بغير پينځې د ځَنګرو نه ښکته ساتل مکروهِ تَنزيهي دي.

←←← وفي رواية: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: بَيْنَمَا رَجُلٌ يَمْشِي قَدْ أَعْجَبَتْهُ جُمَّتُهُ وَبُرْدَاهُ. إِذْ خُسِفَ بِهِ الأَرْضُ. فَهُوَ يَتَجَلْجَلُ فِي الأَرْضِ حَتَّى تَقُومَ السَّاعَةُ. صحيح مسلم كتاب اللباس وَالزِّينَةِ بَابُ تَحْرِيمِ التَّبَخْتُرِ فِي الْمَشْيِ مَعَ إِعْجَابِهِ بِثِيَابِهِ رقم الحديث ٥٠( ٢٠٨٨ ) ، سنن الترمذي رقم الحديث ٢٢٩١ ، صحيح ابن حبان رقم الحديث ٥٦٨٢ ، و رقم الحديث ٧٨١٢ ، مجمع الزوائد رقم الحديث ٨٥٣٢.

په " الموسوعة الفقهيّة " کې د تکبّر دا علامات پوره تفصيل سره ذکر شوي.(١)

---

(١) مَظَاهِرُ الكِبْرِ : اَلْكِبْرُ صِفَةٌ نَفْسِيَّةٌ فِي الإِنْسَانِ، لَهَا مَظَاهِرُ أَكْثَرُ مِنْ أَنْ تُحْصَى . وَمِنْ هٰذِهِ المَظَاهِرِ : أ . تَصْعِيرُ الوَجْهِ : وَهُوَ يَعْنِيْ مَيْلَ العُنُقِ، وَالإِشَاحَة بِالوَجْهِ عَنِ النَّظَرِ كِبْرًا . وَهُوَ مِنْ صِفَاتِ المُتَكَبِّرِيْنَ. وَالَّذِيْ نَهَى اللهُ تَعَالَى عَنْهُ بِقَوْلِهِ جَلَّ شَأْنُهُ: {وَلاَ تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ وَلاَ تَمْشِ فِي الأَرْضِ مَرَحًا إِنَّ اللهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُوْرٍ} . ب . اَلإِخْتِيَالُ فِي المَشْيِ: وَهُوَ يَعْنِي التَّبَخْتُرَ وَالتَّعَالِيْ فِي المِشْيَةِ، وَهُوَ مُحَرَّمٌ بِقَوْلِهِ تَعَالَى: ﴿ وَلَا تَمْشِ فِي الأَرْضِ مَرَحًا ﴾ ..... ج . اَلتَّرَفُّعُ عَنْ مُجَالَسَةِ مَنْ هُوَ أَدْنَى مِنْهُ . كَمَا تَرَفَّعَ المُشْرِكُوْنَ عَنْ مُجَالَسَةِ الفُقَرَاءِ مِنْ أَصْحَابِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: سَلْمَانَ وَصُهَيْبٍ وَبِلَالٍ وَخَبَّابٍ، وَنَحْوِهِمْ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ أَجْمَعِيْنَ . حَيْثُ قَالُوْا لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَوْ طَرَدْتَ هٰؤُلَاءِ عَنْكَ لَغَشِيْنَاكَ وَحَضَرْنَا مَجْلِسَكَ. فَقَدْ رَوٰى سَعْدُ بْنُ أَبِيْ وَقَّاصٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سِتَّةَ نَفَرٍ، فَقَالَ المُشْرِكُوْنَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أُطْرُدْ هٰؤُلَاءِ لَا يَجْتَرِئُوْنَ عَلَيْنَا. قَالَ: وَكُنْتُ أَنَا وَابْنُ مَسْعُوْدٍ وَرَجُلٌ مِنْ هُذَيْلٍ وَبِلَالٌ وَرَجُلَانِ لَسْتُ أُسَمِّيْهِمَا. فَوَقَعَ فِيْ نَفْسِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا شَاءَ اللهُ أَنْ يَقَعَ . فَحَدَّثَ نَفْسَهُ، فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ: { وَلَا تَطْرُدِ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ بِالغَدَاةِ وَالعَشِيِّ يُرِيْدُوْنَ وَجْهَهُ } . وَيَدْخُلُ فِي التَّرَفُّعِ عَنِ المُجَالَسَةِ التَّرَفُّعُ عَنِ الزِّيَارَةِ . لِأَنَّ مَنْ تَرَفَّعَ عَنْ مُجَالَسَةِ شَخْصٍ تَكَبُّرًا تَرَفَّعَ عَنْ زِيَارَتِهِ . د . اَلتَّرَفُّعُ عَنِ السَّلَامِ أَوْ مُصَافَحَةِ مَنْ هُوَ أَدْنَى مِنْهُ مَنْزِلَةً فِي المَالِ أَوِ الجَاهِ أَوْ نَحْوِ ذٰلِكَ احْتِقَارًا لَهُ . هـ . أَنْ يَمْشِيَ وَيَمْشِيَ أَتْبَاعُهُ خَلْفَهُ : يُكْرَهُ لِلرَّجُلِ أَنْ يَمْشِيَ وَمَعَهُ أَتْبَاعُهُ مِنْ جُنْدٍ أَوْ تَلَامِيْذَ أَوْ أَنْصَارٍ يَمْشُوْنَ خَلْفَهُ، إِذَا أَرَادَ بِذٰلِكَ التَّكَبُّرَ . و الرُّكُوْبُ وَمَعَهُ أَتْبَاعُهُ : يُكْرَهُ لِلرَّجُلِ الرُّكُوْبُ وَمَعَهُ رِجَالُهُ يَمْشُوْنَ إِذَا أَرَادَ بِهِ التَّكَبُّرَ . ز . حُبُّهُ القِيَامَ لَهُ : وَالقِيَامُ عَلَى ضَرْبَيْنِ : اَلأَوَّلُ: قِيَامٌ عَلَى رَأْسِهِ وَهُوَ قَاعِدٌ. فَهٰذَا مَنْهِيٌّ عَنْهُ، قَالَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَتَمَثَّلَ لَهُ الرِّجَالُ قِيَامًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ . وَهٰذِهِ عَادَةُ الأَعَاجِمِ وَالمُتَكَبِّرِيْنَ. اَلثَّانِيْ : قِيَامٌ عِنْدَ مَجِيْءِ الإِنْسَانِ، فَقَدْ كَانَ السَّلَفُ لَا يَكَادُوْنَ يَفْعَلُوْنَهُ . قَالَ أَنَسٌ رضي الله عنه : لَمْ يَكُنْ شَخْصٌ أَحَبَّ إِلَيْهِمْ ــ أَيْ: إِلَى الصَّحَابَةِ ــ مِنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . قَالَ : وَكَانُوْا إِذَا رَأَوْهُ لَمْ يَقُوْمُوْا لِمَا يَعْلَمُوْنَ مِنْ كَرَاهِيَتِهِ لِذٰلِكَ . ( سنن الترمذي ) . وَقَدْ قَالَ العُلَمَاءُ: يُسْتَحَبُّ القِيَامُ لِلْوَالِدَيْنِ وَالإِمَامِ العَادِلِ وَفُضَلَاءِ النَّاسِ، وَقَدْ صَارَ هٰذَا كَالشِّعَارِ بَيْنَ الأَفَاضِلِ، فَإِذَا تَرَكَهُ الإِنْسَانُ فِيْ حَقِّ مَنْ يَصْلُحُ أَنْ يُفْعَلَ فِيْ حَقِّهِ لَمْ يَأْمَنْ أَنْ يَنْسُبَهُ إِلَى الإِهَانَةِ وَالتَّقْصِيْرِ فِيْ حَقِّهِ فَيُوْجِبُ ذٰلِكَ حِقْدًا. وَاسْتِحْبَابُ هٰذَا فِيْ حَقِّ القَائِمِ لَا يَمْنَعُ الَّذِيْ يُقَامُ لَهُ أَنْ يَكْرَهَ ذٰلِكَ، وَيَرٰى أَنَّهُ لَيْسَ بِأَهْلٍ لِذٰلِكَ . ح . اَلتَّمَيُّزُ فِي الطَّعَامِ: ذَكَرَ فِي الفَتَاوَى الهِنْدِيَّةِ أَنَّهُ يُكْرَهُ لِلرَّجُلِ أَنْ يَأْكُلَ وَسَطَ الخُبْزِ وَيَدَعَ حَوَاشِيَهُ لِغَيْرِهِ ، لِأَنَّ فِيْهِ تَكَبُّرًا . ←←←←←←←←

همدارنګې امام غزالي رحمه الله هم په " احياء العلوم " کې د دې مذکوره ځايونو نه علاوه نور ځايونه هم په تفصيل سره ذکر کړي. (١)

---

←←←← وَيُكْرَهُ أَنْ يَأْكُلَ الْخُبْزَ الْحَوَارِيَّ ـ أَيْ: الْأَبْيَضَ ـ وَيُطْعِمَ مَمَالِيكَهُ خُشْكَارَ . أَيْ: الْأَسْمَرَ . ط. اَلْأَكْلُ مُتَّكِئًا : اِتَّفَقُوا عَلَى تَحْرِيمِ الْأَكْلِ مُتَّكِئًا تَكَبُّرًا. فَإِنْ كَانَ لِغَيْرِ التَّكَبُّرِ فَقَدِ اخْتَلَفُوا فِي كَرَاهَتِهِ. فَكَرِهَهُ بَعْضُهُمْ؛ لِأَنَّهُ مِنْ فِعْلِ الْمُتَكَبِّرِينَ. وَأَصْلُهُ مَأْخُوذٌ مِنْ مُلُوكِ الْعَجَمِ. إِلَّا أَنْ يَكُونَ بِالْمَرْءِ مَانِعٌ لَا يَتَمَكَّنُ مَعَهُ مِنَ الْأَكْلِ إِلَّا مُتَّكِئًا فَيُبَاحُ لَهُ ذٰلِكَ. وَأَبَاحَهُ الْبَعْضُ الْآخَرُ. وَقَدْ نُقِلَ عَنْ بَعْضِ السَّلَفِ جَوَازُ الْأَكْلِ مُتَّكِئًا. بَيْنَمَا يَنْقُلُ إِبْرَاهِيمُ النَّخَعِيُّ عَنِ السَّلَفِ أَنَّهُمْ كَانُوا يَكْرَهُونَ أَنْ يَأْكُلُوا تُكَأَةً. وَلٰكِنَّهُ جَعَلَ عِلَّةَ ذٰلِكَ مَخَافَةَ أَنْ تَعْظُمَ بُطُونُهُمْ . وَالْأَصْلُ فِي ذٰلِكَ قَوْلُهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنِّي لَا آكُلُ مُتَّكِئًا . ( صحيح البخاري ) . ي. لُبْسُ جُلُودِ الْحَيَوَانَاتِ الْكَاسِرَةِ: يَحْرُمُ لُبْسُ جُلُودِ الْحَيَوَانَاتِ الْكَاسِرَةِ كَالنُّمُورِ وَالسِّبَاعِ تَكَبُّرًا ، وَإِذَا حَرُمَ لُبْسُهَا فَإِنَّهُ يَحْرُمُ فَرْشُهَا تَكَبُّرًا فِي الْبُيُوتِ الَّتِي يُسْتَقْبَلُ فِيهَا الضُّيُوفُ. وَلٰكِنْ لَا بَأْسَ أَنْ يُجْعَلَ مِنْهَا مُصَلًّى أَوْ مِيثَرَةَ السَّرْجِ . ک . إِطَالَةُ الثَّوْبِ إِلَى أَسْفَلِ مِنَ الْكَعْبَيْنِ : اِتَّفَقُوا عَلَى تَحْرِيمِ إِطَالَةِ الثَّوْبِ إِلَى أَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ اخْتِيَالًا وَتَكَبُّرًا ، لِقَوْلِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ جَرَّ ثَوْبَهُ خُيَلَاءَ لَمْ يَنْظُرِ اللهُ إِلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . وَاتَّفَقُوا عَلَى إِبَاحَةِ إِطَالَةِ الثَّوْبِ إِلَى أَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ لِلْحَاجَةِ. كَمَا إِذَا كَانَ بِسَاقَيْهِ حُمُوشَةٌ ـ أَيْ: دِقَّةٌ وَرِقَّةٌ ـ فَلَا يُكْرَهُ مَا لَمْ يَقْصِدِ التَّدْلِيسَ . وَاخْتَلَفُوا فِي إِطَالَتِهَا إِلَى أَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ مِنْ غَيْرِ كِبْرٍ وَلَا اخْتِيَالٍ وَلَا حَاجَةٍ: فَذَهَبَ الْجُمْهُورُ إِلَى الْكَرَاهَةِ التَّنْزِيهِيَّةِ .... الموسوعة الفقهية الكويتية ج ٣٤ ص ١٦٨ كبر

(١) امام غزالي رحمه الله دا ځايونه پوره تفصيل سره ذکر کړي خو زه به ورنه غټ غټ عنوانات رانقل کړم: اِعْلَمْ أَنَّ التَّكَبُّرَ يَظْهَرُ فِي شَمَائِلِ الرَّجُلِ كَصَعَرٍ فِي وَجْهِهِ وَنَظَرِهِ شَزْرًا وَإِطْرَاقِهِ رَأْسَهُ وَجُلُوسِهِ مُتَرَبِّعًا أَوْ مُتَّكِئًا وَفِي أَقْوَالِهِ حَتَّى فِي صَوْتِهِ وَنَغْمَتِهِ وَصِيغَتِهِ فِي الْإِيرَادِ . وَيَظْهَرُ فِي مِشْيَتِهِ وَتَبَخْتُرِهِ وَقِيَامِهِ وَجُلُوسِهِ وَحَرَكَاتِهِ وَسَكَنَاتِهِ وَفِي تَعَاطِيهِ لِأَفْعَالِهِ وَفِي سَائِرِ تَقَلُّبَاتِهِ فِي أَحْوَالِهِ وَأَقْوَالِهِ وَأَعْمَالِهِ . فَمِنَ الْمُتَكَبِّرِينَ مَنْ يَجْمَعُ ذٰلِكَ كُلَّهُ . وَمِنْهُمْ مَنْ يَتَكَبَّرُ فِي بَعْضٍ وَيَتَوَاضَعُ فِي بَعْضٍ .

فَمِنْهَا التَّكَبُّرُ بِأَنْ يُحِبَّ قِيَامَ النَّاسِ لَهُ أَوْ بَيْنَ يَدَيْهِ .... وَمِنْهَا أَنْ لَا يَزُورَ غَيْرَهُ وَإِنْ كَانَ يَحْصُلُ مِنْ زِيَارَتِهِ خَيْرٌ لِغَيْرِهِ فِي الدِّينِ وَهُوَ ضِدُّ التَّوَاضُعِ .... وَمِنْهَا أَنْ يَسْتَنْكِفَ مِنْ جُلُوسِ غَيْرِهِ بِالْقُرْبِ مِنْهُ إِلَّا أَنْ يَجْلِسَ بَيْنَ يَدَيْهِ وَالتَّوَاضُعُ خِلَافُهُ .... وَمِنْهَا أَنْ لَا يَتَعَاطَى بِيَدِهِ شُغْلًا فِي بَيْتِهِ وَالتَّوَاضُعُ خِلَافُهُ .... احياء علوم الدين ج ٣ ص ٣٥٤ كتاب ذم الكبر والعجب بَيَانُ أَخْلَاقِ الْمُتَوَاضِعِينَ وَمَجَامِعِ مَا يَظْهَرُ فِيهِ أَثَرُ التَّوَاضُعِ وَالتَّكَبُّرِ

## د تکبر اقسام

علامه ابن حجر رحمه الله په " الزواجر " کې ذکر کړي چې د تکبر درې قسمونه دي:

اول: په الله تعالی باندې تکبر کول ( يعنی يو کس خپل ځان د الله تعالی بنده نه ګڼړي ) دا د تکبر په ټولو اقسامو کې بدترين قسم دی لکه د فرعون او نمرود تکبر کول، چې دوی د الله تعالی د بندګی نه انکار اوکړو او د خدايي دعوی يې اوکړه، د داسې خلقو د پاره الله ﷻ د جهنم سزا مقرر کړې.

دويم: په رسول الله صلی الله عليه وسلم باندې تکبر کول. يعنی د تکبر، جهالت او عناد په وجه باندې د نبي عليه السلام تابعداري نه کول، لکه د مکې کافرانو يا بعضې نورو ډلو چې د نبي عليه السلام د حُکم منلو نه انکار کړې وُ.

دريم: په بندګانو باندې تکبر کول. چې خپل ځان اُوچت ګڼړي او نورو ته سپک ګوري، د هغوی خبرې ته غاړه نه ږدي.

ددې دريم قسم ګناه اګر چې د اولني دوه قسمونو نه کمه ده خو بيا هم دا کبيره ګناه ده، ځکه تکبر او عظمت د الله تعالی خاص صفتونه دي، صرف د الله ﷻ سره لائق دي چې قادر او قوي ذات دی، د عاجز بنده سره تکبر نه ښائي.

اوس چې څوک د الله تعالی سره په دې خاص صفت کې ځان شريکوي نو ددې مثال خو داسې دی لکه يو غلام چې د بادشاه تاج په سَر کړي او د هغه په کرسی باندې کيني، نو په دې سره خو دا غلام د سزا مستحق ګرځي.

ځکه خو الله تعالی فرمايي چې څوک د ماسره په دې خاص صفت کې ځان شريکوي نو زه به يې جهنم ته داخل کړم او هلاک به يې کړم.(١)

---

(١) اَلْكِبْرُ إِمَّا عَلَى اللهِ تَعَالَى وَهُوَ أَفْحَشُ أَنْوَاعِ الْكِبْرِ، كَتَكَبُّرِ فِرْعَوْنَ وَنُمْرُوْدَ حَيْثُ اسْتَنْكَفَا أَنْ يَكُوْنَا عَبْدَيْنِ لَهُ تَعَالَى وَادَّعَيَا الرُّبُوْبِيَّةَ. قَالَ تَعَالَى: { إِنَّ الَّذِيْنَ يَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِيْ سَيَدْخُلُوْنَ جَهَنَّمَ دَاخِرِيْنَ } [غافر آية ٦٠] أَيْ صَاغِرِيْنَ. { لَنْ يَسْتَنْكِفَ الْمَسِيْحُ } [النساء آية ١٧٢] الآية. وَإِمَّا عَلَى رَسُوْلِهِ بِأَنْ يَمْتَنِعَ مِنَ الْإِنْقِيَادِ لَهُ تَكَبُّرًا جَهْلًا وَعِنَادًا، كَمَا حَكَى اللهُ ذٰلِكَ عَنْ كُفَّارِ مَكَّةَ وَغَيْرِهِمْ مِنَ الْأُمَمِ. ←←←←

## په عامو خلقو باندې تكبّر كول په الله ﷻ باندې د تكبّر كولو سبب ګرځي

څوک چې په عامو خلقو باندې تكبّر كوي نو دا په الله ﷻ باندې د تكبّر كولو سبب ګرځي لكه ابليس چې كله په حضرت آدم عليه السلام باندې تكبّر او حسد اوكړو او وې ويل چې: ﴿اَنَا خَيۡرٌ مِّنۡهُ﴾ زه خو دده نه ډير بهتريم.

نو ددې په وجه ده بيا په الله ﷻ باندې هم تكبّر اوكړو ، د الله ﷻ حُكم يې هم او نه منل او د هميشه د پاره هلاک شو.

**په ځنې علماؤ كې تكبّر ډير زر پيدا كيږي:** د كومو علماؤ زړونه چې د هدايت په رڼا باندې پوره نه وي مُنوّر شوي نو په دوی كې تكبّر ډير زَر پيدا كيږي ، ځكه دوی دا نور خلق د خپل ځان په نسبت باندې چارپيان ګڼړي، بيا دوی د هغه خلقو په حقوقو كې كوتاهي كوي كوم چې شريعت په دوی باندې لازم كړي ، لكه په هغوی باندې سلام اچول ، بيمارپُرسي يې كول ، په رُونږ تَندي ورسره ملاويدل. حالانكه په كوم عالِم كې چې تكبّر پيدا شي نو دا دده په جهالت باندې دلالت كوي ، ځكه دا د الله تعالى د عَظمت او خپلې آخِرې خاتمې نه غافِله وي.

علامه ابن حجر رَحِمَهُ اللهُ په "الزّواجر" كې دا خبره پوره په تفصيل سره ذكر كړې. (١)

---

←←←← وَإِمَّا عَلَى الْعِبَادِ بِأَنْ يَسْتَعْظِمَ نَفْسَهُ وَيَحْتَقِرَ غَيْرَهُ وَيَزْدَرِيَهُ فَيَأْبَى عَلَى الْاِنْقِيَادِ لَهُ أَوْ يَتَرَفَّعَ عَلَيْهِ وَيَأْنَفَ مِنْ مُسَاوَاتِهِ. وَهٰذَا وَإِنْ كَانَ دُوْنَ الْأَوَّلَيْنِ إِلَّا أَنَّهُ عَظِيْمٌ إِثْمُهُ أَيْضًا لِأَنَّ الْكِبْرِيَاءَ وَالْعَظَمَةَ إِنَّمَا يَلِيْقَانِ بِالْمَلِكِ الْقَادِرِ الْقَوِيِّ الْمَتِيْنِ دُوْنَ الْعَبْدِ الْعَاجِزِ الضَّعِيْفِ. فَتَكَبُّرُهُ فِيْهِ مُنَازَعَةٌ لِلّٰهِ فِيْ صِفَةٍ لَا تَلِيْقُ إِلَّا بِجَلَالِهِ. فَهُوَ كَعَبْدٍ أَخَذَ تَاجَ مَلِكٍ وَجَلَسَ عَلَى سَرِيْرِهِ فَمَا أَعْظَمَ اسْتِحْقَاقَهُ لِلْمَقْتِ وَأَقْرَبَ اسْتِعْجَالَهُ لِلْخِزْيِ. وَمِنْ ثَمَّ قَالَ تَعَالَى كَمَا مَرَّ فِيْ أَحَادِيْثَ: إِنَّ مَنْ نَازَعَهُ الْعَظَمَةَ وَالْكِبْرِيَاءَ أَهْلَكَهُ. أَيْ لِأَنَّهُمَا مِنْ صِفَاتِهِ الْخَاصَّةِ بِهِ تَعَالَى، فَالْمُنَازِعُ فِيْهِمَا مُنَازِعٌ فِيْ بَعْضِ صِفَاتِهِ تَعَالَى. الزواجر ج١ ص١١٨ الْكَبِيْرَةُ الرَّابِعَةُ الْكِبْرُ وَالْعُجْبُ وَالْخُيَلَاءُ

(١) فَإِذَنِ التَّكَبُّرُ عَلَى الْخَلْقِ يَدْعُوْ إِلَى التَّكَبُّرِ عَلَى الْخَالِقِ. أَلَا تَرٰى أَنَّ إِبْلِيْسَ لَمَّا تَكَبَّرَ عَلٰى آدَمَ وَحَسَدَهُ بِقَوْلِهِ: { أَنَا خَيْرٌ مِنْهُ } [الاعراف آيه ١٢] جَرَّهُ ذٰلِكَ إِلَى التَّكَبُّرِ عَلَى اللّٰهِ لِمُخَالَفَةِ أَمْرِهِ فَهَلَكَ هَلَاكًا مُؤَبَّدًا. وَمِنْ ثَمَّ جَعَلَ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ عَلَامَةِ الْكِبْرِ بَطَرَ الْحَقِّ أَيْ رَدَّهُ، وَغَمْطَ النَّاسِ: أَيْ اِحْتِقَارَهُمْ ←←←←

# د تکبّر علاج

تکبّر هلاکوونکې بيماري ده او په هر چا کې څه ناڅه موجود وي، ددې لرې کول فرض عين دي، دا د انسان نه په آسانه نه لرې کيږي، بلکه ددې د پاره پوره هِمت په کار دی.

اوس ددې د علاج د پاره دوه طريقې دي:

**اول** دا چې انسان د زړه نه د تکبّر جَرړه ختمه کړي.

**دويم** دا چې د کومو اَسبابو په وجه تکبّر پيدا شوې وي هغه اَسباب ختم کړي.

---

←←← وَازْدِرَاؤُهُمْ، ثُمَّ الحَامِلُ عَلَى التَّكَبُّرِ هُوَ اعْتِقَادُ كَمَالِ تَمَيُّزِهِ عَلَى الغَيْرِ بِعِلْمٍ أَوْ عَمَلٍ أَوْ نَسَبٍ أَوْ مَالٍ أَوْ جَمَالٍ أَوْ جَاهٍ أَوْ قُوَّةٍ أَوْ كَثْرَةِ أَتْبَاعٍ. فَالتَّكَبُّرُ أَسْرَعُ إِلَى الْعُلَمَاءِ الَّذِيْنَ لَمْ يُمْنَحُوا نُوْرَ التَّوْفِيْقِ مِنْهُ إِلى غَيْرِهِمْ. لِأَنَّ الْوَاحِدَ مِنْهُمْ يَرٰى غَيْرَهُ بِالنِّسْبَةِ إِلَيْهِ كَالبَهِيْمَةِ فَيُقَصِّرُ فِيْ حُقُوقِهِ الَّتِيْ طَلَبَهَا الشَّارِعُ مِنْهُ كَالسَّلَامِ وَالعِيَادَةِ وَالْبِشْرِ. وَيَطْلُبُ مِنْهُ أَنْ لَا يُخِلَّ بِشَيْءٍ مِنْ حُقُوقِهِ لِمَحَبَّتِهِ التَّرَفُّعَ عَلَيْهِ، وَفَاعِلُ ذٰلِكَ أَجْهَلُ الْجَاهِلِيْنَ لِأَنَّهُ جَهِلَ مِقْدَارَ نَفْسِهِ وَرَبِّهِ، وَخَطَرَ الخَاتِمَةِ، وَعَكَسَ المَوْضُوعَ. إِذْ مِنْ شَأْنِ العِلْمِ أَنْ يُوْجِبَ مَزِيْدَ الخَوْفِ وَالتَّوَاضُعِ لِعِظَمِ حُجَّةِ اللهِ عَلَيْهِ بِالعِلْمِ وَتَقْصِيْرِهِ فِيْ شُكْرِ نِعْمَتِهِ. لٰكِنْ سَبَبُ ذٰلِكَ أَنَّ عِلْمَهُ إِمَّا يَرْجِعُ إِلَى الدُّنْيَا، أَوْ لِأَنَّهُ لَمْ يُخْلِصِ النِّيَّةَ فِيْهِ فَخَاضَ فِيْهِ عَلٰى غَيْرِ وَجْهِهِ فَأَنْتَجَ لَهُ تِلْكَ القَبَائِحَ. وَكَذٰلِكَ الْعُلَمَاءُ الَّذِيْنَ ظَهَرَتْ عَلَيْهِمْ سِيْمَا الصَّالِحِيْنَ يُسْرِعُ إِلَيْهِمُ الكِبْرُ. لٰكِنَّ النَّاسَ يَتَرَدَّدُوْنَ إِلَيْهِمْ بِقَضَاءِ مَآرِبِهِمْ وَالْمُبَالَغَةِ فِيْ إِكْرَامِهِمْ فَيَرَوْنَ حِيْنَئِذٍ أَنَّهُمْ أَرْفَعُ وَأَحَقُّ بِأَنْ يَكُوْنَ النَّاسُ دُوْنَهُمْ لِعَدَمِ وُصُوْلِهِمْ إِلٰى صُوَرِ أَعْمَالِهِمْ. وَمَا دَرَوْا أَنَّ ذٰلِكَ رُبَّمَا يَكُوْنُ سَبَبًا لِسَلْبِهِمْ. كَمَا وَقَعَ أَنَّ خَلِيْعًا مِنْ بَنِيْ إِسْرَائِيْلَ جَلَسَ إِلٰى عَابِدٍ لِيَنْتَفِعَ بِهِ فَأَنِفَ مِنْ مُجَالَسَتِهِ وَطَرَدَهُ. فَأَوْحَى اللهُ تَعَالٰى إِلٰى نَبِيِّهِمْ أَنَّهُ غَفَرَ لِلْخَلِيْعِ وَأَحْبَطَ عَمَلَ العَابِدِ. فَالجَاهِلُ العَامِّيُّ إِذَا تَوَاضَعَ وَذَلَّ هَيْبَةً لِلّٰهِ وَخَوْفًا مِنْهُ فَقَدْ أَطَاعَ بِقَلْبِهِ فَهُوَ أَطْوَعُ مِنَ العَالِمِ الْمُتَكَبِّرِ وَالعَابِدِ الْمُعْجَبِ. وَقَدْ يَنْتَهِي الحُمْقُ وَالغَبَاوَةُ بِبَعْضِ العِبَادِ إِلٰى أَنَّهُ إِذَا أُوْذِيَ يَتَوَعَّدُ مُؤْذِيَهُ وَيَقُوْلُ: سَتَرَوْنَ مَا يَحِلُّ بِهِ. وَإِذَا نُكِبَ مُؤْذِيْهِ يَعُدُّ ذٰلِكَ مِنْ كَرَامَاتِهِ لِعِظَمِ قَدْرِ نَفْسِهِ عِنْدَهُ وَاسْتِيْلَاءِ الجَهْلِ عَلَيْهِ لِجَمْعِهِ بَيْنَ العُجْبِ وَالكِبْرِ وَالإِغْتِرَارِ بِاللهِ تَعَالٰى. وَقَدْ قَتَلَ جَمَاعَةٌ الأَنْبِيَاءَ وَمَاتُوْا مِنْ غَيْرِ أَنْ يُعَاجَلُوْا بِعِقَابٍ فِي الدُّنْيَا فَمَا مَرْتَبَةُ هٰذَا الجَاهِلِ؟. الزواجر عن اقتراف الكبائر ج ١ ص ١١٩ الكَبِيْرَةُ الرَّابِعَةُ الكِبْرُ وَالعُجْبُ وَالخُيَلَاءُ

**د تکبّر جرړې ختمولو علاج : " خپل رب او خپل ځان پېژندل ".** د اول قسم علاج تفصيل دادی چې کله انسان خپل رَب او خپل ځان اُوپېژني نو په خپله به دده د زړه نه د تکبر جَرړه ختمه شي .

يعنی انسان چې کله د الله تعالى عظمت او لوئِي اُوپېژني ، د الله تعالى په کِرِفت او د هغه په صفاتو باندې نظر واچوي نو ده ته به معلومه شي چې تکبّر او لوئِي صرف او صرف د الله ﷻ سره مناسب ده ، د عاجز انسان سره مناسب نه ده .

همدارنګې چې کله انسان خپل ځان اُوپېژني چې اول زما هيڅ وجود نه وُ بيا الله تعالى زه د يوې نُطفې نه پيدا کړم ، دُنيا ته راغلم ، کمزورې ووم ، بيا الله ﷻ راته قوّت راکړو ، په دُنيا کې چې ګرځم هر وخت په خېټه کې ګندګې ګرځوم ، بيا به وفات کيږم او په قبر کې به د چينجو خوراک جوړيږم ، او آخر به د الله ﷻ د وړاندې حساب ته پيش کيږم ، همدارنګې انسان د قرآن کريم په هغه آيتونو باندې سوچ اوکړي په کوم کې چې د انسان د پيدائش حالت بيان شوی نو هيڅ کله به په ده کې تکبّر پيدا نشي .

مشهوره خبره ده : مَنْ عَرَفَ نَفْسَهُ فَقَدْ عَرَفَ رَبَّهُ . چا چې خپل نفس ( حقيقت ) اُوپېژند نو ده خپل رَب اُوپېژند .

امام غزالي رَحِمَهُ اللهُ په " احياء العلوم " کې دا خبره په تفصيل سره ذکر کړې .(١)

---

(١) اعلم أنّ الكبر من المهلكات ولا يخلو أحد من الخلق عن شيء منه وَإِزَالَتُهُ فَرْضُ عَيْنٍ وَلَا يَزُوْلُ بِمُجَرَّدِ التَّمَنِّي بل بالمعالجة واستعمال الأدوية القامعة له . وفي معالجته مقامان : أحدهما استئصال أصله من سنخه وقلع شَجَرَتِهِ مِنْ مَغْرِسِهَا فِي القَلْبِ . اَلثَّانِي دَفْعُ العارض منه بالأسباب الخاصة التي بها يتكبر الإنسان على غيره . المقام الأول في استئصال أصله وعلاجه عِلْمِيٌّ وَعَمَلِيٌّ وَلَا يَتِمُّ الشِّفَاءُ إِلَّا بِمَجْمُوعِهِمَا .
أَمَّا العِلْمِيُّ فَهُوَ أَنْ يَعْرِفَ نَفْسَهُ وَيَعْرِفَ رَبَّهُ تَعَالَى . وَيَكْفِيهِ ذٰلِكَ فِي إِزَالَةِ الْكِبْرِ فَإِنَّهُ مَهْمَا عَرَفَ نَفْسَهُ حَقَّ الْمَعْرِفَةِ عَلِمَ أنه أذلّ من كلّ ذليل وأقلّ من كلّ قليل وأنه لا يليق به إلّا التواضع والذلة والمهانة وَإِذَا عَرَفَ رَبَّهُ عَلِمَ أَنَّهُ لَا تَلِيْقُ العَظَمَةُ وَالكِبْرِيَاءُ إِلَّا بِاللهِ أَمَّا مَعْرِفَتُهُ رَبَّهُ وعظمته ومجده فالقول فيه يطول وهو منتهى علم المكاشفة . وَأَمَّا مَعْرِفَتُهُ نَفْسَهُ فَهُوَ أَيْضًا يَطُولُ ..... فمن كان هذا بدؤه وَهٰذِهِ أَحْوَالُهُ فَمِنْ ←←←←

همدارنګې علامه ابن قيم رَحِمَهُ اللهُ هم ددې تذکره کړی.(١)

## د تکبّر د اَسبابو علاج

د دويم قِسم علاج تفصيل دادی چې دکومو اسبابو په وجه تکبّر پيدا شوې وي هغه اَسباب ختمول په کار دي، هغه اَسباب دادي:

١. په خپل نسَب باندې تکبر کول ٢. په خپل ښائست باندې تکبر کول ٣. په خپل قوّت باندې تکبّر کول ٥. په ډير مال او په عهدو باندې تکبّر کول ٦. په عِلم باندې تکبّر کول. اوس ددې د هريو د پاره خپل علاج دی:

---

←←← أَيْنَ لَهُ الْبَطَرُ وَالْكِبْرِيَاءُ والفخر والخيلاء وهو على التحقيق أخس الأخساء وأضعف الضُّعَفَاءِ وَلٰكِنْ هٰذِهِ عَادَةُ الْخَسِيْسِ إِذَا رُفِعَ مِنْ خِسَّتِهِ شَمَخَ بِأَنْفِهِ وَتَعَظَّمَ ..... احياء علوم الدين ج ٣ ص ٣٥٨ كتاب ذم الكبر والعجب بَيَانُ الطَّرِيقِ فِي مُعَالَجَةِ الْكِبْرِ وَاكْتِسَابِ التَّوَاضُعِ له

(١) قَالَ ابْنُ قَيِّمِ الْجَوْزِيَّةِ رَحِمَهُ اللهُ: إِنَّ الْكِبْرَ مِنَ الْمُهْلِكَاتِ، وَمُدَاوَاتُهُ فَرْضُ عَيْنٍ، وَلَكَ فِيْ مُعَالَجَتِهِ مَقَامَانِ: اَلْأَوَّلُ: فِي اسْتِئْصَالِ أَصْلِهِ وَقَطْعِ شَجَرَتِهِ، وَذٰلِكَ بِأَنْ يَعْرِفَ الْإِنْسَانُ نَفْسَهُ، وَيَعْرِفَ رَبَّهُ. فَإِنَّهُ إِنْ عَرَفَ نَفْسَهُ حَقَّ الْمَعْرِفَةِ عَلِمَ أَنَّهُ أَذَلُّ مِنْ كُلِّ ذَلِيْلٍ، وَيَكْفِيْهِ أَنْ يَنْظُرَ فِيْ أَصْلِ وُجُوْدِهِ بَعْدَ الْعَدَمِ مِنْ تُرَابٍ. ثُمَّ مِنْ نُطْفَةٍ خَرَجَتْ مِنْ مَخْرَجِ الْبَوْلِ. ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ. ثُمَّ مِنْ مُضْغَةٍ. فَقَدْ صَارَ شَيْئًا مَذْكُوْرًا بَعْدَ أَنْ كَانَ جَمَادًا لَا يَسْمَعُ وَلَا يُبْصِرُ وَلَا يُحِسُّ وَلَا يَتَحَرَّكُ. فَقَدِ ابْتَدَأَ بِمَوْتِهِ قَبْلَ حَيَاتِهِ، وَبِضَعْفِهِ قَبْلَ قُوَّتِهِ، وَبِفَقْرِهِ قَبْلَ غِنَاهُ. وَقَدْ أَشَارَ اللهُ تَعَالَى إِلَى هٰذِهِ بِقَوْلِهِ: {مِنْ أَيِّ شَيْءٍ خَلَقَهُ. مِنْ نُطْفَةٍ خَلَقَهُ فَقَدَّرَهُ. ثُمَّ السَّبِيْلَ يَسَّرَهُ} وَبِقَوْلِهِ: {فَجَعَلْنَاهُ سَمِيْعًا بَصِيْرًا} فَأَحْيَاهُ بَعْدَ الْمَوْتِ، وَأَحْسَنَ تَصْوِيْرَهُ، وَأَخْرَجَهُ إِلَى الدُّنْيَا فَأَشْبَعَهُ وَأَرْوَاهُ، وَكَسَاهُ وَهَدَاهُ وَقَوَّاهُ. فَمَنْ هٰذِهِ بِدَايَتُهُ فَأَيُّ وَجْهٍ لِكِبْرِهِ وَفَخْرِهِ؟. عَلَى أَنَّهُ لَوْ دَامَ لَهُ الْوُجُوْدُ عَلَى اخْتِيَارِهِ لَكَانَ لِطُغْيَانِهِ طَرِيْقٌ، بَلْ قَدْ سَلَّطَ عَلَيْهِ الْأَخْلَاطَ الْمُتَضَادَّةَ، وَالْأَمْرَاضَ الْهَائِلَةَ. بَيْنَمَا بُنْيَانُهُ قَدْ تَمَّ، إِذْ هُوَ قَدْ هَوَى وَتَهَدَّمَ. لَا يَمْلِكُ لِنَفْسِهِ ضَرًّا وَلَا نَفْعًا. بَيْنَمَا هُوَ يَذْكُرُ الشَّيْءَ فَيَنْسَاهُ، وَيَسْتَلِذُّ الشَّيْءَ فَيُرْدِيْهِ، وَيَرُوْمُ الشَّيْءَ فَلَا يَنَالُهُ. ثُمَّ لَا يَأْمَنُ أَنْ يُسْلَبَ حَيَاتَهُ بَغْتَةً. هٰذَا أَوْسَطُ حَالِهِ، وَذَاكَ أَوَّلُ أَمْرِهِ. وَأَمَّا آخِرُ أَمْرِهِ: فَالْمَوْتُ الَّذِيْ يُعِيْدُهُ جَمَادًا كَمَا كَانَ. ثُمَّ يُلْقَى فِي التُّرَابِ فَيَصِيْرُ جِيْفَةً مُنْتِنَةً، وَتَبْلَى أَعْضَاؤُهُ، وَتَنْخُرُ عِظَامُهُ، وَيَأْكُلُ الدُّوْدُ أَجْزَاءَهُ، وَيَعُوْدُ تُرَابًا يُعْمَلُ مِنْهُ الْكِيْزَانُ، وَيُعْمَرُ مِنْهُ الْبُنْيَانُ. ثُمَّ بَعْدَ طُوْلِ الْبِلَى تُجْمَعُ أَجْزَاؤُهُ الْمُتَفَرِّقَةُ وَيُسَاقُ إِلَى الْحِسَابِ. مختصر منهاج القاصدين ٢٥١، الموسوعة الفقهية الكويتية ج٣٤ ص ١٧٠ كِبْر عِلَاجُ الْكِبْرِ

**د نسب په وجه د پيدا شوي تکبر علاج** : که په چا کې تکبّر د خپل نسب په وجه پيدا شوې وي يعنې دده نسب ډېر اوچت وي نو ددې علاج دادی چې دا دې د ځان سره دا سوچ اوکړي چې زه خو د بل چا په کمال باندې تکبّر کوم حالانکه انسان ته د بل په کمال باندې تکبّر ندې په کار: بل دا چې دا دې د ځان سره دا سوچ اوکړي چې زما پلار نيکه خو هم د نطفې نه پيدا شوي وو نو بيا زه د هغوی په کمال باندې ولې تکبّر اوکړم ؟ (١)

**د ښائست په وجه د پيدا شوي تکبر علاج** : که په چا کې تکبّر د خپل ښائست په وجه پيدا شوې وي نو ددې علاج دادی چې دا دې خپل باطن ته د عقلاؤ په نظر باندې اوګوري، خپل ظاهر ته د چارپيانو په نظر باندې او نه ګوري.

يعنې که يو کس خپل باطن ته سوچ اوکړي نو ورته به معلومه شي چې هر وخت د انسان په کولمو کې ګندګي وي .

که صفائي اونکړي نو په پوزه او غوږونو کې يې ګندګي وي ، د تخرګونو نه يې بَدبوئي ځي ، هره ورځ دوه يا درې پيرې بَدبُودار اُودس ماتې کوي ، بيا يې په خپلو لاسونو باندې وينځي . انسان په اِبتداء کې د ګنده نُطفې نه پيدا شوی (د مور په خېټه کې يې خوراک د حيض ګنده وينه وي) ، دوه پيرې د تَشو مِتيازو د لارې نه راأوتې دی ، او دده دا حُسن دائمي ندی بلکه آخر ختمېدونکې دی .

نو چې کله انسان دا خبرې ذهن ته راولي نو بيا به هيڅ کله په خپل حُسن باندې تکبّر

---

(١) وَالثَّانِي: مَنِ اعْتَرَاهُ الْكِبْرُ مِنْ جِهَةِ النَّسَبِ، فَلْيَعْلَمْ أَنَّ هٰذَا التَّعَزُّزُ بِكَمَالِ غَيْرِهِ، ثُمَّ يَعْلَمُ أَبَاهُ وَجَدَّهُ، فَإِنَّ أَبَاهُ الْقَرِيبَ نُطْفَةٌ قَذِرَةٌ، وَأَبَاهُ الْبَعِيدَ تُرَابٌ. الموسوعة الفقهية الكويتية ج٣٤ ص ١٧١ كِبْر عِلَاجُ الْكِبْرِ

په احياء العلوم کې ذکر دي : الثاني أن يعرف نسبه الحقيقي ليعرف أَبَاهُ وَجَدَّهُ فَإِنَّ أَبَاهُ الْقَرِيبَ نُطْفَةٌ قَذِرَةٌ وجده البعيد تراب ذليل وقد عرفه الله تعالى نسبه فقال {الذي أحسن كل شيء خلقه وَبَدَأَ خَلْقَ الْإِنسَانِ مِن طِينٍ ثُمَّ جَعَلَ نسله من سلالة من ماء مهين} فمن أصله التراب المهين الذي يداس بالأقدام ثم خمر طينة حتى صار حمأ مسنوناً كيف يتكبر وأخس الأشياء ما إليه انتسابه إذ يقال يا أذل من التراب ويا أنتن من الحمأة ويا أقذر من المضغة . احياء علوم الدين ج ٣ ص ٣٦١ كتاب ذم الكبر والعجب بَيَانُ الطَّرِيقِ فِي مُعَالَجَةِ الْكِبْرِ وَاكْتِسَابِ التَّوَاضُعِ له

اونکړي. (١)

**د قوّت په وجه د پيدا شوي تکبر علاج** : که په چا کې تکبّر د خپل قوّت او طاقت په وجه پيدا شوې وي ( يعنی قوّت په کې زيات وي او ددې په وجه تکبّر کوي ) نو ددې علاج دادی چې دا دې د ځان سره سوچ اوکړي چې که الله تعالی په ده باندې څه سخته بيماري راولي يا يې يو رګ بند شي نو بيا به سخت عاجز شي.

همدارنګې که يو کس ډير قوي وي خو چې دده نه مچ څه څيز اُوتختوي نو دا يې ورنه نشي راخلاصولی.

يا دده په پوزه کې ماشې ننوځي ، يا يې په غوږ کې مېږې ننوځي نو دا ټول قوّت ورله

---

(١) وَمَنِ اعْتَرَاهُ الْكِبْرُ بِالْجَمَال فَلْيَنْظُرْ إِلَى بَاطِنِهِ نَظَرَ الْعُقَلَاءِ ، وَلَا يَنْظُرْ إِلَى ظَاهِرِهِ نَظَرَ الْبَهَائِمِ. الموسوعة الفقهية الكويتية ج٣٤ ص ١٧١ كِبْر عِلَاجُ الْكِبْرِ

په احياء العلوم کې ذکر دي : اَلسَّبَبُ الثَّانِي التَّكَبُّر بِالْجَمَالِ ، وَ دَوَاؤُهُ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى بَاطِنِهِ نَظَرَ العقلاء ولاينظر إلى ظاهره نَظَرَ الْبَهَائِمِ . وَمَهْمَا نَظَرَ إِلَى بَاطِنِهِ رَأَى مِنَ الْقَبَائِحِ مَا يُكَدِّرُ عَلَيْهِ تَعَزُّزَهُ بِالْجَمَالِ . فإنه وكّل به الأقذار في جميع أجزائه الرجيع في أمعائه ، والبول في مثانته ، والمخاط في أنفه ، والبزاق في فيه والوسخ في أذنيه ، والدم في عروقه ، والصديد تحت بشرته ، والصنان تحت إبطه ، يغسل الغائط بيده كل يوم دفعة أو دفعتين ، ويتردد كل يوم إلى الخلاء مرة أو مرتين ليخرج من باطنه ما لو رآه بعينه لاستقذره فضلًا عن أن يمسه أو يشمه كل ذلك ليعرف قذارته وذله هذا في حال توسطه . وفي أول أمره خلق من الأقذار الشنيعة الصور من النطفة ودم الحيض وأخرج من مجرى الأقذار . إذ خرج من الصلب ثم من الذكر مجرى البول ثم من الرحم مفيض دم الحيض ثم خرج من مجرى القذر . قال أنس كان أبو بكر الصديق رضي الله عنه يخطبنا فيقذر إلينا أنفسنا ويقول : خرج أحدكم من مجرى البول مرتين ....

ولو ترك نفسه في حياته يومًا لم يتعهدها بالتنظيف والغسل لثارت منه الأنتان والأقذار وصار أنتن وأقذر من الدواب المهملة التي لا تتعهد نفسها قط . فإذا نظر أنه خلق من أقذار وأسكن في أقذار وَسَيَمُوتُ فَيَصِيرُ جِيفَةً أَقْذَرَ مِنْ سَائِرِ الْأَقْذَارِ لم يفتخر بجماله الذي هو كخضراء الدمن وكلون الأزهار في البوادي فبينما هو كذلك إذ صار هشيمًا تذروه الرياح . احياء علوم الدين ج ٣ ص ٣٦١ كتاب ذم الكبر والعجب بيان الطريق في معالجة الكبر واكتساب التواضع له

ختموي. يا دده په خېټه كې اَغزي ننوځي نو هم دا عاجزه كوي. يا ورباندې يوه ورځ سخته تبه(بُخار) راشي نو ډير قوّت يې ختمېږي.

اوس چې كوم كس د ځان نه ماشې او مچ نشي دفع كولى، او په خپه كې د اَغزي تللو او يوې تبې زُور نشي برداشت كولى نو داسې كس بيا څه له تكبر كوي؟

او كه يو انسان د غټې والي، زُور او قوّت په وجه تكبّر كوي نو بيا خو دده نه خَر، غوائي، فيل، اُوښ او زمرې قوي دي، نو كوم صفت چې په حيواناتو كې دده نه زيات دى نو په هغې صفت باندې انسان ولې تكبّر اوكړي؟ . (١)

## د مالدارۍ او نورو خارجي شيانو په وجه د پيدا شوي تكبّر علاج:

كه په چا كې تكبّر د مالدارۍ، زيات مال، عُهدې، حكومت او نورو خارجي شيانو په وجه پيدا شوې وي او دا د تكبّر په اَقسامو كې ډير قبيح قِسم دى نو ددې علاج دادى چې انسان د ځان سره دا سوچ اوكړي چې په دې شيانو باندې تكبّر كول لوې جهالت دى، ځكه دا مال و دولت خو د يهوديانو او نورو كافرانو سره زمونږ په نسبت زيات دى، نو بيا خو په دې صفت كې يهوديان او كافران د مونږ نه مخكې شو.

بل دا چې دا شيان عارضي دي كه د چا نه غَل دا ټول مال پټ كړي، يا ددې عُهدې نه لرې كړې شي نو بيا به واپس ذِلت ته راشي.

---

(١) اَلسببُ الثالثُ التكبرُ بالقوة والأيدي . وَيَمْنَعُهُ مِن ذٰلِكَ أَن يَعْلَمَ مَا سَلَّطَ عَلَيْهِ مِنَ العِلَلِ وَالأَمْرَاضِ. وَأَنَّهُ لَوْ تَوَجَّعَ عِرْقٌ وَاحِدٌ فِي يَدِهِ لَصَارَ أَعْجَزَ مِنْ كلّ عاجز وأذلّ من كلّ ذليل . وأنّه لو سلبه الذباب شيئًا لم يستنقذه منه . وأن بقّة لو دخلت في أنفه أو نملة دخلت في أذنه لقتلته . وأن شَوْكَةً لَوْ دَخَلَتْ فِي رِجْلِهِ لَأَعْجَزَتْهُ . وَأَنَّ حمى يوم تحلل من قوته مالا يَنْجَبِرُ فِي مُدَّةٍ . فَمَنْ لَا يُطِيقُ شَوْكَةً ولا يقاوم بقّة ولا يقدر على أن يدفع عن نفسه ذبابة فَلَا يَنْبَغِي أَنْ يَفْتَخِرَ بِقُوَّتِهِ . ثُمَّ إِنْ قَوِيَ الإِنْسَانُ فَلَا يَكُونُ أَقْوَى مِنْ حِمَارٍ أَوْ بَقَرَةٍ أَوْ فِيلٍ أَوْ جَمَلٍ وَأَيُّ افتخار في صفة يسبقك فيها البَهَائِمُ . احياء علوم الدين ج ٣ ص ٣٦٢ كتاب ذم الكبر والعجب بيان الطريق في معالجة الكبر واكتساب التواضع له

وَمَنِ اعْتَرَاهُ مِنْ جِهَةِ القُوَّةِ . فَلْيَعْلَمْ أَنَّهُ لَوْ آلَمَهُ عِرْقٌ عَادَ أَعْجَزَ مِنْ كُلِّ عَاجِزٍ. وَإِنْ شَوْكَةٌ دَخَلَتْ فِي رِجْلِهِ لَأَعْجَزَتْهُ . وَبَقَّةٌ لَوْ دَخَلَتْ فِي أُذُنِهِ لَأَقْلَقَتْهُ . الموسوعة الفقهية الكويتية ج٣٤ ص ١٧١ كبر علاج الكبر

او که د چا سره دا شيان دائمي پاتې شي خو آخر هم د مرګ په وجه دده نه دا ټول پاتې کيږي.

بل داچې دا ټول شيان په حقيقت کې د الله تعالى مِلکيَت دی نو بيا ولې انسان په دې باندې تکبّر اوکړي ؟ .(١)

**د عِلم په وجه د پيدا شوي تکبر علاج** : که په چا کې تکبّر د عِلم په وجه پيدا شوی وي نو ددې قِسم علاج اګرچې لږ ګران دی ځکه د عِلم مرتبه د الله ﷻ په نزد ډيره اُوچته ده او عالِم ته هم په معاشره کې هر کس د قَدر په سترګه ګوري خو بيا هم ددې تکبّر علاج په دوه طريقو سره کيږي :

**اوله طريقه** : عالِم دې په دې باندې پوهه شي چې که زه نافرماني اوکړم نو زما سزا د نورو خلقو په نسبت باندې زياته ده ، ځکه څوک چې د عِلم باوجود د الله تعالى نافرماني (تکبّر وغيره) کوي نو دده د عِلم ناشکري اوکړه ، او په ده باندې ددې عِلم په وجه حُجّت

---

(١) اَلسَّبَبُ الرَّابِعُ وَالْخَامِسُ الْغِنٰى وَكَثْرَةُ الْمَالِ وفي معناه كثرة الأتباع والأنصار والتكبر بولاية السلاطين والتمكن من جهتهم . وَكُلُّ ذٰلِكَ تَكَبُّرٌ بِمَعْنًى خَارِجٍ عَنْ ذَاتِ الإنسان كالجمال والقوّة والعلم . وهذا أقبح أنواع الكبر . فإنّ المتكبر بماله كأنّه متكبر بفرسه وداره ، ولو مات فرسه وانهدمت داره لعاد ذليلًا . والمتكبر بتمكين السلطان وولايته لا بصفة في نفسه بنى أمره على قلب هو أشد غليانًا من القدر فإن تغير عليه كان أذل الخلق . وكلّ متكبر بأمر خارج عن ذاته فهو ظاهر الجهل كيف والمتكبر بالغنى لو تأمل لرأى فِي الْيَهُوْدِ مَنْ يَزِيْدُ عَلَيْهِ فِي الْغِنٰى والثروة والتجمّل فَأُفٍّ لِشَرَفٍ يسبقك به اليهودي ، وأفّ لشرف يأخذه السارق في لحظة واحدة فيعود صاحبه ذليلًا مفلسًا . فهذه أسباب ليست في ذاته . وما هو في ذاته ليس إليه دوام وجوده وهو في الآخرة وبال ونكال ، فالتفاخر به غاية الجهل ، وكلّ ما ليس إليك فليس لك وشيء من هذه الأمور ليس إليك بل إلى واهبه إن أبقاه لك وإن استرجعه زال عنك وما أنت إلا عبد مملوك لا تقدر على شيء . ومن عرف ذلك لا بد وأن يزول كبره ..... وهو مع ذلك بين آفات وشهوات وأمراض وأسقام هي كالعقارب والحيات يخاف منها الهلاك . فمن هذا حاله لا يتكبر بقوته وقدرته إذ يعلم أنه لا قدرة له ولا قوّة . احياء علوم الدين ج ٣ ص ٣٦٢ كتاب ذم الكبر والعجب بَيَانُ الطَّرِيْقِ فِي مُعَالَجَةِ الْكِبْرِ وَاكْتِسَابِ التَّوَاضُعِ لَه

وَمَنْ تَكَبَّرَ بِالْغِنٰى ، فَإِذَا تَأَمَّلَ خَلْقًا مِنَ الْيَهُوْدِ وَجَدَهُمْ أَغْنٰى مِنْهُ ، فَأُفٍّ لِشَرَفٍ تَسْبِقُهُ بِهِ الْيَهُوْدُ. وَيَسْتَلِبُهُ السَّارِقُ فِي لَحْظَةٍ، فَيَعُوْدُ صَاحِبُهُ ذَلِيْلًا. الموسوعة الفقهية الكويتية ج٣٤ ص ١٧١ كِبْر عِلَاجُ الْكِبْرِ

هم تام شوي وي نو سزا يې د نورو نه ډيره سخته ده .

بل دا چې دداسې بې عمله او متكبّر عالِم د پاره په قرآن كريم او احاديثو كې سختې سزاګانې هم ذكر شوي .

**دويمه طريقه** داده چې عالِم دې ذهن ته دا خبره راولي چې تكبّر او لويې صرف د الله ﷻ سره لائق ده ، اوس چې انسان هم تكبّر كوي نو په دې سره دا د الله تعالى د غضب مستحق ګرځي . (١)

---

(١) اَلسَّببُ السَّادس الكبر بالعِلم . وهو أعظم الآفات وأغلب الأدواء وأبعدها عن قبول العلاج إلا بشدة شديدة وجهد جهيد . وذلك لأن قدر العلم عظيمٌ عند الله ، عظيمٌ عند الناس . وهو أعظم من قدر المال والجمال وغيرهما . بل لا قدر لهما أصلاً إلا إذا كان معهما علم وعمل . ولذلك قال كعب الأحبار إن للعلم طغيانًا كطغيان المال . وكذلك قال عمر رضي الله تعالى عنه : اَلْعَالِمُ إِذَا زَلَّ زَلَّ بِزَلَّتِهِ عَالَمٌ .

فيعجز العالِم عن أن لا يستعظم نفسه بالإضافة إلى الجاهل لكثرة ما نطق الشرع بفضائل العلم . ولن يقدر العالم على دفع الكبر إلا بمعرفة أمرين :

أَحَدُهُمَا أَنْ يَعْلَمَ أَنَّ حُجَّةَ اللهِ عَلَى أَهْلِ الْعِلْمِ آكَدُ . وَأَنَّهُ يُحْتَمَلُ مِنَ الْجَاهِلِ مَا لَا يُحْتَمَلُ عُشْرُهُ مِنَ الْعَالِمِ . فَإِنَّ مَنْ عَصَى اللهَ تَعَالَى عَنْ مَعْرِفَةٍ وَعِلْمٍ فجنايته أفحش إذ لم يقض حق نعمة الله عليه في العلم . ولذلك قال صلى الله عليه وسلم :

يُجَاءُ بِالرَّجُلِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيُلْقَى فِي النَّارِ ، فَتَنْدَلِقُ أَقْتَابُهُ فِي النَّارِ . فَيَدُورُ كَمَا يَدُورُ الْحِمَارُ بِرَحَاهُ . فَيَجْتَمِعُ أَهْلُ النَّارِ عَلَيْهِ فَيَقُولُونَ : أَيْ فُلَانُ ! مَا شَأْنُكَ ؟ أَلَيْسَ كُنْتَ تَأْمُرُنَا بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَانَا عَنِ الْمُنْكَرِ ؟ قَالَ : كُنْتُ آمُرُكُمْ بِالْمَعْرُوفِ وَلَا آتِيهِ . وَأَنْهَاكُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ وَآتِيهِ . (صحيح البخاري رقم ٣٢٦٧) .

وقد مثل الله سبحانه وتعالى من يعلم ولا يعمل بالحمار والكلب فقال عز وجل { مَثَلُ الَّذِينَ حُمِّلُوا التَّوْرَاةَ ثُمَّ لَمْ يَحْمِلُوهَا كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ أَسْفَارًا } . (الجمعة آية ٥) أراد به علماء اليهود .

وقال في بلعم بن باعوراء : ﴿ وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ الَّذِيٓ آتَيْنَاهُ آيَاتِنَا فَانْسَلَخَ مِنْهَا فَأَتْبَعَهُ الشَّيْطَانُ فَكَانَ مِنَ الْغَاوِينَ ۝ وَلَوْ شِئْنَا لَرَفَعْنَاهُ بِهَا وَلَٰكِنَّهُ أَخْلَدَ إِلَى الْأَرْضِ وَاتَّبَعَ هَوَاهُ ۚ فَمَثَلُهُ كَمَثَلِ الْكَلْبِ إِنْ تَحْمِلْ عَلَيْهِ يَلْهَثْ أَوْ تَتْرُكْهُ يَلْهَثْ ﴾ . الاعراف آية ١٧٥ ، ١٧٦ . ←←←←←←←←←← ←←←←←←

بهر حال، د تکبّر د اَسبابو نه ځان ساتل په کار دي ، همدارنګې انسان ته په کار دي چې په قرآن کريم او احاديثو کې چې د تکبّر په باره کې څومره وَعيدونه او سزاګانې ذکر شوي يا د متکبّرينو خراب اَنجام ذکر شوی هغه بار بار اُولولي ، يا دې د بل چا نه واوري نو په دې سره به د تکبّر نه محفوظ شي .

همدارنګې د الله تعالى نه دې د ځان د پاره د تکبّر نه د محفوظ کېدو دُعا غواړي ، د فقيرانو او نېکانو خلقو په مجلس کې دې کيني ، مُتکبّرانه اعمال او مُتکبّرانه رَوِيَه دې پرېږدي نو إِنْ شَاءَ الله چې د تکبّر نه به محفوظ شي او عاجزي به په کې پيدا شي .

---

←←←← قال ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أوتي بلعم كتابًا فأخلد إلى شهوات الأرض أي سكن حبه إليها فمثله بالكلب { إِنْ تَحْمِلْ عَلَيْهِ يَلْهَثْ أَوْ تَتْرُكْهُ يَلْهَثْ } أي سواء آتيته الحكمة أو لم أوته لا يدع شهوته .

ويكفي العالم هذا الخطر . فأيّ عالِم لم يتبع شهوته ؟ وأي عالم لم يأمر بالخير الذي لا يأتيه ؟ فمهما خطر للعالِم عظم قدره بالإضافة إلى الجاهل ، فليتفكر في الخطر العظيم الذي هو بصدده . فإنّ خطره أعظم من خطر غيره كما أنّ قدره أعظم من قدر غيره فهٰذا بذاك....

اَلأمرُ الثاني أنّ العالِم يَعْرِفَ أَنَّ الكِبْرَ لَا يَلِيْقُ إِلَّا بِاللهِ عَزَّ وَجَلَّ وَحْدَهُ ، وَ أَنَّهُ إِذَا تَكَبَّرَ صَارَ ممقوتًا عند الله بغيضًا ، وقد أحبّ الله منه أن يتواضع . احياء علوم الدين ج ٣ ص ٣٦٣ كتاب ذم الكبر والعجب بَيَانُ الطَّرِيْقِ فِي مُعَالَجَةِ الكِبْرِ وَاكْتِسَابِ التَّوَاضُعِ لَه.

وَمَنْ تَكَبَّرَ بِسَبَبِ العِلْمِ ، فَلْيَعْلَمْ أَنَّ حُجَّةَ اللهِ عَلَى العَالِمِ آكَدُ مِنْ حُجَّتِهِ عَلَى الجَاهِلِ . وَلْيَتَفَكَّرْ فِي الخَطَرِ العَظِيْمِ الَّذِيْ هُوَ بِصَدَدِهِ ، فَإِنَّ خَطَرَهُ أَعْظَمُ مِنْ خَطَرِ غَيْرِهِ ، كَمَا أَنَّ قَدْرَهُ أَعْظَمُ مِنْ قَدْرِ غَيْرِهِ.

وَلْيَعْلَمْ أَيْضًا : أَنَّ الكِبْرَ لَا يَلِيْقُ إِلَّا بِاللهِ تَعَالَى ، وَأَنَّهُ إِذَا تَكَبَّرَ صَارَ مَمْقُوْتًا عِنْدَ اللهِ بَغِيْضًا عِنْدَهُ ، وَقَدْ أَحَبَّ اللهُ تَعَالَى مِنْهُ أَنْ يَتَوَاضَعَ . وَكَذٰلِكَ كُلُّ سَبَبٍ يُعَالِجُهُ بِنَقِيْضِهِ ، وَيَسْتَعْمِلُ التَّوَاضُعَ . مختصر منهاج القاصدين ٢٥١ وما بعدها . الموسوعة الفقهية الكويتية ج ٣٤ ص ١٧٢ كِبْر عِلَاجُ الكِبْرِ

# نبي علیه السلام او صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ به د تکبّر پیداکوونکو اَفعالو او اَقوالو نه ځان ساتل

نبي علیه السلام او صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ به د تکبّر پیداکوونکو اَفعالو او اَقوالو نه ځان ساتل، بلکه داسې کارونه او داسې خبرې به یې کولې چې په هغې سره به تکبّر ختمیدو

په احادیثو کې ذکر دي چې د فتح مکې په ورځ یو کس د نبي علیه السلام سره خبرې کولې، نو په هغه کس باندې یَره راغله (وجود یې د یَرې نه رَپیدو)، پیغمبر علیه السلام ورته اوفرمایل:

هَوِّنْ عَلَيْكَ فَإِنَّمَا أَنَا ابْنُ امْرَأَةٍ مِنْ قُرَيْشٍ كَانَتْ تَأْكُلُ الْقَدِيْدَ.

مطمئِن شه (حَوصله اوکړه، مه ویرېږه) ځکه زه د قریشو د داسې ښځې ځوي یم چې هغې به اُوچه غوښه خوړله. (١)

**فائده**: اُوچه غوښه خوړل به په عربو کې د غُربت علامه وه، نبي علیه السلام هغه ته دا ویل غوښتل چې زه د قریشو د غریبې ښځې ځوي یم، د دُنیا بادشاهانو په شان مُتکبّر نه یم، بلکه ستاسو په شان انسان یم.

امام ماوردي رَحِمَهُ اللهُ ذکر کړي چې پیغمبر علیه السلام دا خبره د تکبّر او لویي ختمولو د پاره اوکړه. (٢)

---

(١) عَنْ أَبِي مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ. أَنَّ رَجُلًا كَلَّمَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْفَتْحِ، فَأَخَذَتْهُ الرِّعْدَةُ. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: هَوِّنْ عَلَيْكَ فَإِنَّمَا أَنَا ابْنُ امْرَأَةٍ مِنْ قُرَيْشٍ كَانَتْ تَأْكُلُ الْقَدِيْدَ. المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ٤٣٦٦ كِتَابُ الْمَغَازِي وَالسَّرَايَا، وقال الحاكم: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ الشَّيْخَيْنِ، وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ. ووافقه الذهبي. و رقم الحديث ٣٧٣٣، سنن ابن ماجة باب القديد رقم الحديث ٣٣١٢، المعجم الاوسط رقم الحديث ١٢٦٠، مجمع الزوائد رقم الحديث ١٤٢٢٠.

(٢) هَوِّنْ عَلَيْكَ فَإِنَّمَا أَنَا ابْنُ امْرَأَةٍ مِنْ قُرَيْشٍ كَانَتْ تَأْكُلُ الْقَدِيْدَ. وَإِنَّمَا قَالَ ذٰلِكَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَسْمًا لِمَوَادِّ الْكِبْرِ، وَقَطْعًا لِذَرَائِعِ الْإِعْجَابِ، وَكَسْرًا لِأَشَرِ النَّفْسِ، وَتَذْلِيْلًا لِسَطْوَةِ الْإِسْتِعْلَاءِ. ادب الدنيا والدين للماوردي ج١ ص ٢٣٩ اَلْبَابُ الْخَامِسُ أَدَبُ النَّفْسِ اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ فِي مُجَانَبَةِ الْكِبْرِ وَالْإِعْجَابِ.

اوس درته ديو څو صحابه کرامو واقعات رانقل کوم :

## حضرت عُمر ﷺ به تکبّر نه ځان ساتل

۱ . حضرت عُمر ﷺ چې کله اميرُ المؤمنين وُ نو دوی به کله د صحابه کرامو ﷺ د وړاندې د خپل ځان په باره کې داسې خبرې کولې چې په هغې سره به تکبّر او ځودپسندي ختميده .

يو ځل يې صحابه کرام ﷺ راغونډ کړل او د هغوی د وړاندې يې اوفرمايل چې :
" ما به د لړو تجورو او لړو اُوښکو په عِوض کې توله ورځ ګډې څرولې " .

کله چې د حضرت عُمر ﷺ نه ددې په باره کې پوښتنه اوشوه چې ته خو اوس اميرُ المؤمنين يې نو تا ولې دا خبره اوکړه ؟ دوی ورته اوفرمايل ، ماته خپل نفس ووېل :

أَنْتَ أَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْنَ . فَمَنْ ذَا أَفْضَلُ مِنْكَ ؟
ته اميرُالمؤمنين يې ، د تا نه افضل څوک دی ؟
پس ما اِراده اوکړه چې زه دې نفس ته خپل ځان وراُوپيژنم چې زه څوک يم ؟
(يعنی د خپل تکبّر او عُجب ختمولو د پاره مې خپل نفس ته دا خبره اوکړه) . (۱)

۲ . کله چې حضرت عُمر ﷺ اميرُالمؤمنين وُ او د صحابه کرامو په مشوره باندې فلسطين ته روان شو نو دده سره يو غلام وُ او يوه ورسره اُوښه وه ، په خپل مينځ کې يې سره نمبر مقرر کړو چې : يو فرسخ به زه په اُوښه باندې سوريم ، يو فرسخ به ته په اُوښه باندې

---

(۱) امام ماوردي رحمه الله دا خبره داسې ذکر کړې : رُوِيَ عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ نَادَى : اَلصَّلَاةُ جَامِعَةٌ . فَلَمَّا اجْتَمَعَ النَّاسُ صَعِدَ الْمِنْبَرَ فَحَمِدَ اللهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ وَصَلَّى عَلَى نَبِيِّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . ثُمَّ قَالَ : أَيُّهَا النَّاسُ ! لَقَدْ رَأَيْتُنِي أَرْعَى عَلَى خَالَاتٍ لِي مِنْ بَنِي مَخْزُومٍ فَيَقْبِضُ لِيَ الْقَبْضَةَ مِنَ التَّمْرِ وَالزَّبِيبِ فَأَظَلُّ الْيَوْمَ وَأَيَّ يَوْمٍ . فَقَالَ لَهُ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ عَوْفٍ ﷺ : وَاللهِ يَا أَمِيْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ مَا زِدْتَ عَلَى أَنْ قَصَّرْتَ بِنَفْسِكَ . فَقَالَ عُمَرُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ : وَيْحَكَ يَا ابْنَ عَوْفٍ إِنِّي خَلَوْتُ فَحَدَّثَتْنِي نَفْسِي . فَقَالَتْ : أَنْتَ أَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْنَ . فَمَنْ ذَا أَفْضَلُ مِنْكَ ؟ فَأَرَدْتُ أَنْ أُعَرِّفَهَا نَفْسَهَا . ادب الدنيا والدين للماوردي ج۱ ص ۲۳۹ اَلْبَابُ الْخَامِسُ أَدَبُ النَّفْسِ اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ فِي مُجَانَبَةِ الْكِبْرِ وَالْإِعْجَابِ . الفاروق ص ۳۸۳ ، الطبقات الكبرى ۲۹۳/۳ ، شخصية عمر بن الخطاب ۳۳/۸

سوريږي، او يو فرسخ به اُوښه همداسې خالي روانه وي.

نو حضرت عُمر ﷺ په اُوښه باندې سور شو، غلام د اُوښې واګې نيولې وي، بيا يل فرسخ غلام په اُوښه باندې سور شو حضرت عُمر ﷺ د اُوښې واګې نيولې وي، په لاره کې اُوبه مخې ته راغلې، حضرت عُمر ﷺ د چَپ (ګس) لاس په تخرګ کې خپلې څپلې نيولې وي او په يو لاس کې يې د اُوښې واګې نيولې وي (او په بَدن باندې يې پيوَند شوې جامې وې). په دې وخت کې د شام امير "حضرت ابوعبيده بن جراح ﷺ" د حضرت عُمر ﷺ مخې ته (د استقبال د پاره) راغی، (ده چې حضرت عُمر ﷺ په دې حالت باندې اُوليد) نو ورته وې ويل:

يَا أَمِيْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ! إِنَّ عُظَمَاءَ الشَّامِ يَخْرُجُوْنَ إِلَيْكَ، فَلَا يَحْسُنُ أَنْ يَرَوْكَ عَلَى هٰذِهِ الْحَالَةِ.

أي اميرالمؤمنين! بيشکه ستاسو استقبال ته د شام غټ غټ سرداران راغلي دي، دا مناسب نده چې هغوی تاسو په دې حالت کې اُوګوري.

حضرت عُمر ﷺ ورته اوفرمايل:

إِنَّمَا أَعَزَّنَا اللهُ تَعَالَى بِالْإِسْلَامِ، فَلَا نُبَالِيْ مِنْ مَقَالَةِ النَّاسِ.

بيشکه الله تعالى مونږ ته د اسلام په وجه عزت راکړی نو د خلقو د خبرو څه پَرواه نه کوو. (١)

---

(١) وَرُوِيَ أَنَّ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ جَعَلَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ غُلَامِهِ مُنَاوَبَةً فَكَانَ يَرْكَبُ النَّاقَةَ وَيَأْخُذُ الْغُلَامُ بِزِمَامِ النَّاقَةِ وَيَسِيْرُ مِقْدَارَ فَرْسَخٍ. ثُمَّ يَنْزِلُ نَوْبَةَ رُكُوْبِ الْغُلَامِ. فَرَكِبَ الْغُلَامُ وَأَخَذَ عُمَرُ ﷺ بِزِمَامِ النَّاقَةِ. فَاسْتَقْبَلَهُ الْمَاءُ فِي الطَّرِيْقِ، فَجَعَلَ عُمَرُ ﷺ يَخُوْضُ فِي الْمَاءِ وَنَعْلُهُ تَحْتَ إِبْطِهِ الْيُسْرٰى، وَهُوَ آخِذٌ بِزِمَامِ النَّاقَةِ. فَخَرَجَ أَبُوْ عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ ﷺ وَكَانَ أَمِيْرًا عَلَى الشَّامِ وَقَالَ: يَا أَمِيْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ! إِنَّ عُظَمَاءَ الشَّامِ يَخْرُجُوْنَ إِلَيْكَ. فَلَا يَحْسُنُ أَنْ يَرَوْكَ عَلَى هٰذِهِ الْحَالَةِ. فَقَالَ عُمَرُ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ: إِنَّمَا أَعَزَّنَا اللهُ تَعَالَى بِالْإِسْلَامِ. فَلَا نُبَالِيْ مِنْ مَقَالَةِ النَّاسِ. تنبيه الغافلين باحاديث سيد الأنبياء والمرسلين ص ١٨٧ بَابُ الْكِبْرِ

عَنْ طَارِقِ بْنِ شِهَابٍ، قَالَ: خَرَجَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ ﷺ إِلَى الشَّامِ، وَمَعَنَا أَبُوْ عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ ﷺ فَأَتَوْا عَلَى مَخَاضَةٍ وَعُمَرُ عَلَى نَاقَةٍ لَهُ فَنَزَلَ عَنْهَا وَخَلَعَ خُفَّيْهِ فَوَضَعَهُمَا عَلَى عَاتِقِهِ. وَأَخَذَ بِزِمَامِ نَاقَتِهِ فَخَاضَ بِهَا الْمَخَاضَةَ. فَقَالَ أَبُوْ عُبَيْدَةَ: يَا أَمِيْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ! أَنْتَ تَفْعَلُ هٰذَا، تَخْلَعُ خُفَّيْكَ وَتَضَعُهُمَا ←←←←←←←

٣ . د حضرت عُمر رضي الله عنه متعلق دا هم نقل دي چې يو ځل د جهاد نه ډير مالِ غنيمت او قيديان راغلل ، ده چې اُوليدل نو خوشحاله شو ، ددې نه پس يې خلقو ته وويل چې ممبر ته رانزدې شئ . کله چې خلق ممبر ته رانزدې شو نو حضرت عُمر رضي الله عنه ممبر ته اُوخت او ځانته خطاب کولو سره يې اوفرمايل :

اې عُمر ! ته خو هماغه کس يې چې ستا مور به اُوچه غوښه خوړه .

حضرت عمُر رضي الله عنه دا خبره اوکړه او د ممبر نه راښکته شو ، صحابه کرام رضي الله عنهم حيران شو چې حضرت عُمر رضي الله عنه مونږ راجمع کړو او صرف همدا خبره يې اوکړه ؟ نو دده نه يې پوښتنه اوکړه چې :

تاسو مونږ راجمع کړو او صرف همدا يوه خبره مو اوکړه ، داولې ؟

حضرت عُمر رضي الله عنه ورته اوفرمايل : کله چې د جهاد نه ډير مالِ غنيمت او قيديان راغلل نو زما په زړه کې دا خيال راغې چې :

اې عمر ! تا ته الله عزوجل څه اُوچت شان درکړی چې ستا په زمانه کې اسلام ته ډير فتوحات حاصل شو .

نو ما محسوسه کړه چې هسې نه زما په زړه کې تکبّر او عُجب پيدا شي نو ځکه مې تاسو راجمع کړئ او ځانته مې دا خبره اوکړه چې په دې سره زما ځُود پَسندي ختمه شوه . (١)

---

←←← عَلَى عَاتِقِكَ، وَتَأْخُذُ بِزِمَامِ نَاقَتِكَ، وَتَخُوضُ بِهَا الْمَخَاضَةَ ؟ مَا يَسُرُّنِي أَنَّ أَهْلَ الْبَلَدِ اسْتَشْرَفُوكَ . فَقَالَ عُمَرُ : « أَوَّهْ لَوْ يَقُلْ ذَا غَيْرُكَ أَبَا عُبَيْدَةَ جَعَلْتُهُ نَكَالًا لِأُمَّةِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّا كُنَّا أَذَلَّ قَوْمٍ فَأَعَزَّنَا اللهُ بِالْإِسْلَامِ فَمَهْمَا نَطْلُبُ الْعِزَّةَ بِغَيْرِ مَا أَعَزَّنَا اللهُ بِهِ أَذَلَّنَا اللهُ » . المستدرک على الصحيحين للحاکم كِتَابُ الْإِيمَانِ رقم الحديث ٢٠٧ . وقال الحاکم : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ الشَّيْخَيْنِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . ، ووافقه الذهبي . شعب الايمان رقم ٧٨٣٧ حسن الخلق ، الترغيب والترهيب رقم ٢٨٩٣ (٣) كتاب الأدب وغيره الترغيب في التواضع والترهيب من الكبر والعجب والافتخار .

(١) الله والوں کے ترپا دینے والے واقعات ج ٢ ص ٢٣٥ .

## ٤. حضرت ابوهريرة ﷺ به د تكبّر نه ځان ساتل

حضرت عُمر ﷺ حضرت ابوهريرة ﷺ لره د بحرين اَمير (ګورنَر) مقرر کړو، او وَرَوي لېږلو. حضرت ابوهريرة ﷺ چې بَحرين ته داخل شو نو په خَر باندې سور وُ، خلقو ته يې ويل: طَرِّقُوا لِلأَمِيْرِ، طَرِّقُوا لِلأَمِيْرِ.

اميرته لارپرېږدئ، اميرته لار پرېږدئ. (١)

(دهٔ به د غُر نه لرګي راوړل، ددهٔ سره لرګي وو نو ځکه يې خلقو ته ويل چې لار راته پرېږدئ).

## ٥. حضرت سلمان فارسي ﷺ به د تکبّر نه ځان ساتل

حضرت سلمان فارسي ﷺ د مدينې منوّرې امير (ګورنَر) وُ، د هغه علاقې يو مشر کس (په بازار) څه (درُوند) څيز واخيست، حضرت سلمان فارسي ﷺ په ده باندې تيريدو هغه کس (دا او نه پېژند نو) په ده باندې يې د باروړونکي (مزدور) ګمان اوکړو، نو ورته وې ويل:

تَعَالَ فَاحْمِلْ هٰذَا. دلته راشه، دا راسره وېسه.

حضرت سلمان فارسي ﷺ (په خوشحالۍ سره) سامان رااُوچت کړو او ورسره روان شو. په لاره کې چې خلقو سلمان فارسي ﷺ په باروړلو باندې اُوليد نو هريو به ورته ويل

أَصْلَحَ اللهُ الأَمِيْرَ. نَحْنُ نَحْمِلُ عَنْكَ.

الله تعالى دې (زمونږ) په اَمير باندې رَحم اوکړي دا سامان مونږ ته راکړه مونږ به يې ستا په ځاې باندې وړو. دهٔ به انکار کولو او نورو ته يې نه ورکولو.

دې کس ته چې دا معلومه شوه چې دا خو د مدينې منوّرې اَمير (ګورنَر) دی نو ډير

---

(١) وَرُوِيَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ، أَنَّهُ بَعَثَهُ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ أَمِيْرًا عَلَى الْبَحْرَيْنِ. فَدَخَلَ الْبَحْرَيْنِ وَهُوَ رَاكِبٌ عَلَى حِمَارٍ، وَجَعَلَ يَقُوْلُ: طَرِّقُوْا لِلأَمِيْرِ. طَرِّقُوْا لِلأَمِيْرِ. تنبيه الغافلين بأحاديث سيد الأنبياء والمرسلين ص ١٨٨ بَابُ الكِبْر

ملامته شو او ځانته يې خطاب کولو سره وويل :

هلاک شې تاخو د مديني منوّرې په امير باندې بوج راوړو .

نو حضرت سلمان فارسي ﷺ ته يې عُذر پيش کول شروع کړو ، او وې ويل :

لَمْ أَعْرِفْكَ أَصْلَحَكَ اللهُ .

الله تعالى دې د تاسو سره ښه اوکړي ما تاسو او نه پيژندى .

سلمان فارسي ﷺ به ورته ويل چې هيڅ پرواه نه کوي ، تاسو مخکې ځئ زه درسره دا د کوره پورې ورم .

نو دا سامان يې ورسره د کوره پورې وې وړو . هغه کس دومره خفه شو چې د ځان سره يې وويل : لَا أُسَخِّرُ أَحَدًا أَبَدًا .

زه به بيا هيڅ کله په مزدور باندې څه سامان وې نه سم .(١)

## ٦ . حضرت عبدالله بن سلام ﷺ د تکبّر ختمولو د پاره په بازار کې په خپل سَر باندې د لرګو ګيډې وړلو

حضرت عبدالله بن حنظله ﷺ فرمايي چې ما حضرت عبدالله بن سلام ﷺ په بازار کې اُوليد چې په خپل سَر باندې يې د لرګو ګيډې ايخې وُ . چا ورته پوښتنه اوکړه :

أَتَفْعَلُ هٰذَا وَقَدْ أَغْنَاكَ اللهُ عَنْهُ ؟

آيا ته په سَر باندې لرګي وړې ؟ حالانکه الله تعالى ته ددينه مستغني کړې يې ( يعنى ستا خو ديته حاجت نشته ) .

---

(١) عَنْ سَلْمَانَ الْفَارِسِيِّ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ ، أَنَّهُ كَانَ أَمِيرًا بِالْمَدِيْنَةِ . فَاشْتَرٰى رَجُلٌ مِنْ عُقَبَائِهَا عَرِيْبًا ، فَمَرَّ بِهِ سَلْمَانُ ﷺ فَحَسِبَهُ عِلْجًا ، فَقَالَ : تَعَالَ فَاحْمِلْ هٰذَا . فَحَمَلَهُ سَلْمَانُ ﷺ ، فَجَعَلَ يَتَلَقَّاهُ النَّاسُ وَيَقُوْلُوْنَ : أَصْلَحَ اللهُ الْأَمِيْرَ ، نَحْنُ نَحْمِلُ عَنْكَ . فَأَبٰى أَنْ يَدْفَعَ إِلَيْهِمْ . فَقَالَ الرَّجُلُ فِيْ نَفْسِهِ وَيْحَكَ إِنِّيْ لَمْ أُسَخِّرْ إِلَّا الْأَمِيْرَ . فَجَعَلَ يَعْتَذِرُ إِلَيْهِ وَيَقُوْلُ : لَمْ أَعْرِفْكَ أَصْلَحَكَ اللهُ . فَقَالَ : اِنْطَلِقْ فَذَهَبَ بِهِ إِلٰى مَنْزِلِهِ ، ثُمَّ قَالَ : لَا أُسَخِّرُ أَحَدًا أَبَدًا . تنبيه الغافلين باحاديث سيد الانبياء والمرسلين ص ١٨٨ بَابُ الْكِبْرِ

هغه ورته وويل: ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه دا حديث آوريدلې دی:

لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ كَانَ فِيْ قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ مِنْ كِبْرٍ .

هغه کس به جنت ته داخل نشي چې د هغه په زړه کې د اوري د دانې هومره تکبر وي.

عبدالله بن سلام رضي الله عنه اوفرمايل: پس زه دا خوښوم چې په دې طريقې سره (د خپل ځان نه) تکبر ختم کړم.(١)

٧ . همدارنګې د نورو صحابه کرامو رضي الله عنهم نه هم نقل دي چې هغوی به هغه کارونه کول چې په هغې سره به تکبر ختميدو، او د هغه کارونو نه به يې ځان ساتل چې په هغې سره به تکبر پيدا کيدو. (٢)

## قاري محمد طيب رحمه الله د خود پسندۍ ختمولو د پاره د تهانوي رحمه الله مجلس ته لاړو

د دارالعلوم ديوبند مهتمم " قاري محمد طيب رحمه الله " د ډير ښائسته بدن واله وُ، په طبعيت کې يې پاکوالې وُ، ښائسته او صفا کپړې به يې اغوستې.

دا خپله واقعه بيانوي چې: زه په وړوکوالي کې د دارالعلوم ديوبند مهتمم شوم، چې ددې په وجه زما په زړه کې خود پسندي راغله (يعنى ځان راته اوچت معلوم شو).

(١) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ حَنْظَلَةَ رضي الله عنه قَالَ: رَأَيْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ سَلَامٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فِي السُّوْقِ وَعَلَى رَأْسِهِ حُزْمَةُ حَطَبٍ، قَالَ: فَقِيْلَ لَهُ: أَتَفْعَلُ هٰذَا وَقَدْ أَغْنَاكَ اللهُ عَنْهُ؟ فَقَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ كَانَ فِيْ قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ مِنْ كِبْرٍ . فَأَحْبَبْتُ أَنْ أَتْرُكَ الْكِبْرَ . الترغيب والترهيب لقوام السنة ج ٣ ص ٢٠٧ رقم ٢٣٥٨ باب في الترهيب من الكبر وذم المتكبرين، و ج ١ ص ٣٦٦ رقم ٦٢٧، تلبيس ابليس ج١ ص ١٣٩ الباب التاسع في ذكر تلبيس ابليس على الزهاد والعباد.

(٢) وَحُكِيَ أَنَّ قَوْمًا مَشَوْا خَلْفَ عَلِيِّ بْنِ أَبِيْ طَالِبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فَقَالَ: أَبْعِدُوْا عَنِّيْ خَفْقَ نِعَالِكُمْ فَإِنَّهَا مُفْسِدَةٌ لِقُلُوْبِ نَوْكَى الرِّجَالِ.

وَمَشَوْا خَلْفَ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رضي الله عنه فَقَالَ: اِرْجِعُوْا فَإِنَّهَا ذِلَّةٌ لِلتَّابِعِ وَفِتْنَةٌ لِلْمَتْبُوْعِ . ادب الدنيا والدين للماوردي ج١ ص ٢٣٩ الْبَابُ الْخَامِسُ أَدَبُ النَّفْسِ الْفَصْلُ الْأَوَّلُ فِيْ مُجَانَبَةِ الْكِبْرِ وَالْإِعْجَابِ.

ما اشرف علي تهانوي رَحِمَهُ اللهُ ته خط اوليکل چې زه په زړه کې خُودپَسندي محسوسوم.
هغوی راته اوليکل: زما خانقاه ته سمدستي راشه.
زه هلته سمدستي ورغلم، (هر ډاکټر مريض ته د بيمارۍ موافق دوائي ورکوي) نو تهانوي رَحِمَهُ اللهُ ماته دا کار اُوسپارل چې څوک دلته جُمات ته راځي او څپلۍ اُوباسي نو ته د هغوی څپلۍ سمَوه.
(کوم ځوان چې د ډېرو اختياراتو مالِک وي هغه ته دا کار ډېر ګران وي).
قاري محمد طيب رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې اول ماته دا کار ډېر ګران معلوميدو خو چونکه د تهانوي صاحب حُکم وُ نو ځکه مې شروع کړو.
حضرت تهانوي رَحِمَهُ اللهُ به په دې باندې نظر ساتل چې څنګه څپلۍ سمَوي؟ يو ځل يې اُوليد چې کومې نوې څپلۍ وې نو هغه به يې په صحيح طريقې سره سمولې او چې کومې به زړې وې هغې ته به يې هسې لاس وَر وړو (پوره به يې نه سمولې)، تهانوي رَحِمَهُ اللهُ ورباندې پوهه شو چې اوس هم ورنه تکبّر پوره ندې اُوتی، نو ورته وې ويل:
اول زړې څپلۍ صحيح کوه او بيا نوې څپلۍ صحيح کوه.
قاري محمد طيب رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې کله راته تهانوي صاحب دا خبره اوکړه نو زما د زړه نه عُجب او تکبّر هماغه وخت اُووت. يو څو ورځې څپلۍ سمولو سره رانه تکبّر مکمل ختم شو. (١)

## د متکبِّرينو سره تکبّر کول جائز دی

١. مفتي شفيع رَحِمَهُ اللهُ په تفسير معارف القرآن کې ددې آيت ﴿سَأَصۡرِفُ عَنۡ اٰيٰتِيَ الَّذِيۡنَ يَتَكَبَّرُوۡنَ فِي الۡاَرۡضِ بِغَيۡرِ الۡحَقِّ﴾ په تشريح کې ذکر کړي چې په دې آيت کې الله تعالى فرمايي: زه به د خپلو آيتونو نه هغه خلق واړوم څوک چې په زمکه کې په ناحقه تکبّر کوي.
په دې آيت کې ﴿بِغَيۡرِ الۡحَقِّ﴾ سره دې طرف ته اشاره ده چې د تکبّر کوونکو په مقابله

(١) اکابر کے تقویٰ پر مبنی واقعات ج ٢ ص ٢٣٧، وج ٣ ص ٢٠٣.

کې تکبّر کول په حقه دی، ناکاره او د ګناه خبره نده، ځکه دا د شکل په اعتبار سره تکبّر دی خو د حقيقت په اعتبار سره تکبّر ندی. لکه مشهوره خبره ده:

اَلتَّكَبُّرُ مَعَ الْمُتَكَبِّرِيْنَ تَوَاضُعٌ.

د متکبّرينو سره تکبّر کول عاجزي ده. (١)

٢. امام رازي رَحِمَهُ اللهُ په "تفسير کبير" کې د مذکوره آيت په تشريح کې ليکلي:

وَاعْلَمْ أَنَّهُ تَعَالَى ذَكَرَ فِيْ هٰذِهِ الْاٰيَةِ قَوْلَهُ: ﴿بِغَيْرِ الْحَقِّ﴾ لِأَنَّ إِظْهَارَ الْكِبْرِ عَلَى الْغَيْرِ قَدْ يَكُوْنُ بِالْحَقِّ، فَإِنَّ لِلْمُحِقِّ أَنْ يَتَكَبَّرَ عَلَى الْمُبْطِلِ. وَفِي الْكَلَامِ الْمَشْهُوْرِ: اَلتَّكَبُّرُ عَلَى الْمُتَكَبِّرِ صَدَقَةٌ. (٢)

پوهه شه چې الله تعالی په دې آيت کې ذکر کړي "بِغَيْرِ الْحَقِّ" دا ځکه چې کله په بل چا باندې تکبّر کول په حقه باندې وي، ځکه مُحِق (حق ويونکي) ته دا جائز دي چې په مُبطِل باندې تکبّر اوکړي. مشهوره خبره ده چې په متکبّرينو باندې تکبّر کول صدقه ده.

٣. په يو حديث کې هم ذکر دي، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

إِذَا رَأَيْتُمُ الْمُتَوَاضِعِيْنَ فَتَوَاضَعُوْا لَهُمْ. وَإِذَا رَأَيْتُمُ الْمُتَكَبِّرِيْنَ فَتَكَبَّرُوْا عَلَيْهِمْ فَإِنَّ ذٰلِكَ لَهُمْ صَغَارٌ وَمَذَلَّةٌ. وَلَكُمْ بِذٰلِكَ صَدَقَةٌ. (٣)

کله چې تاسو عاجزي کوونکي خلق اوګورئ نو تاسو هم (د دوی د وړاندې) عاجزي کوئ، او کله چې تاسو تکبّر کوونکي خلق اوګورئ نو تاسو هم ورباندې تکبّر کوئ (يعنی ځان ورباندې اُوچت ګڼړئ)، ځکه دا د دوی د پاره رَسوائي او ذِلت دی، او تاسو ته په دې

---

(١) مسائل السلوک، تفسير معارف القرآن سورة الاعراف في تشريح آية ١٤٦.

په احياء العلوم کې هم ذکر دي: وقال يحيى بن معاذ: التكبر على ذي التكبر عليك بماله تواضع. احياء علوم الدين ج٣ ص٣٣٣ كتاب ذم الكبر والعجب بيان فضيلة التواضع

(٢) التفسير الكبير ج١٥ ص٣٦٦ سورة الاعراف في تفسير آية ١٤٦ طبع دار إحياء التراث العربي بيروت

(٣) تنبيه الغافلين بأحاديث سيد الأنبياء والمرسلين للسمرقندي ص ١٨٦ بَابُ الْكِبْرِ. الزواجر عن اقتراف الكبائر ج١ ص ١٢٨ خاتمة فضائل التواضع، احياء علوم الدين ج٣ ص ٣٤١ بيان فضيلة التواضع، الفوائد المجموعة ص٢٥٣.

باندې صدقه ده .

٤ . فقهاء کرامو هم دا ذکر کړي چې کله په يو ځاى کې ځان اُوچت ګڼړلو ته ضرورت وي نو بيا دا جائز دى ، مثلاً د ظالمانو او کافرانو په مقابله کې تکبّر کول جائز دى .

په " فتاوٰى هِندِيه " او " شامي " کې ذکر دي :

وَالحَاصِلُ أَنَّ كُلَّ مَاكَانَ عَلَى وَجْهِ التَّكَبُّرِ يُكْرَهُ ، وَإِنْ فَعَلَ لِحَاجَةٍ وَضَرُوْرَةٍ لَا ، هُوَ الْمُخْتَارُ . (١)

حاصل دادى چې کوم کار د تکبّر په وجه وي نو هغه مکروه دى ، او که د حاجت يا ضرورت په وجه يې اوکړي نو هغه مکروه نه دى ، او همدا مختار قول دى .

٥ . په " الموسوعة الفقهيّة " کې هم ددې پوره تفصيل ذکر شوى . (٢)

---

(١) الفتاوى الهندية ج ٥ ص ٣٥٩ كِتَابُ الكَرَاهِيَةِ اَلْبَابُ الْعِشْرُوْنَ فِي الزِّيْنَةِ وَاتِّخَاذِ الخَادِمِ لِلْخِدْمَةِ . رد المحتار على الدر المختار ج٦ ص ٣٥٢ كِتَابُ الحَظْرِ وَالإِبَاحَةِ فَصْلٌ فِي اللُّبْسِ . وهٰكَذَا فِي الْعِنَايَةِ .

(٢) وَإِذَا كَانَ الكِبْرُ هُوَ الصِّفَةُ النَّفْسِيَّةُ ، وَهِيَ قَصْدُ الإِسْتِعْلَاءِ عَلَى الغَيْرِ فِيْ مَكْرُمَةٍ مِنَ الْمَكَارِمِ ، فَإِنَّ هٰذَا الكِبْرَ ـ أَيْ: التَّكَبُّرَ ـ إِمَّا أَنْ يُحْتَاجَ إِلَيْهِ ، أَوْ لَا يُحْتَاجَ إِلَيْهِ . فَإِنِ احْتِيْجَ إِلَيْهِ كَانَ مَحْمُوْدًا ، كَالتَّكَبُّرِ عَلَى الظَّلَمَةِ ، وَعَلَى أَعْدَاءِ اللهِ مِنَ الْكُفَّارِ الْمُحَارِبِيْنَ ، وَنَحْوِهِمْ ، وَلِذٰلِكَ جَازَ الإِخْتِيَالُ فِي الحَرْبِ إِرْهَابًا لِلْعَدُوِّ .
وَإِنْ لَمْ يُحْتَجْ إِلَيْهِ ، فَإِنَّهُ إِمَّا أَنْ تُرَافِقَهُ نِيَّةُ التَّكَبُّرِ ، أَوْ لَا تُرَافِقَهُ نِيَّةُ التَّكَبُّرِ ، فَإِنْ رَافَقَتْهُ نِيَّةُ التَّكَبُّرِ فَهُوَ كَبِيْرَةٌ مِنَ الْكَبَائِرِ . وَإِنْ لَمْ تُرَافِقْهُ نِيَّةُ التَّكَبُّرِ ، فَإِنَّ الفِعْلَ إِمَّا أَنْ يَكُوْنَ مِنْ شِعَارِ الْمُتَكَبِّرِيْنَ أَوْ لَا يَكُوْنَ مِنْ شِعَارِ الْمُتَكَبِّرِيْنَ ، فَإِنْ كَانَ مِنْ شِعَارِ الْمُتَكَبِّرِيْنَ كَتَصْعِيْرِ الخَدِّ ، وَالإِخْتِيَالِ فِي الْمَشْيِ ، وَإِسْبَالِ الإِزَارِ ، وَنَحْوِ ذٰلِكَ ، كَانَ مَكْرُوْهًا .

وَإِنْ لَمْ يَكُنْ مِنْ شِعَارِ الْمُتَكَبِّرِيْنَ كَالأَكْلِ مُتَّكِئًا ، وَتَشْمِيْرِ الأَكْمَامِ ، وَنَحْوِ ذٰلِكَ لَمْ يَكُنْ بِهِ بَأْسٌ . قَالَ فِي الْفَتَاوٰى الْهِنْدِيَّةِ : وَالحَاصِلُ أَنَّ كُلَّ مَا كَانَ عَلَى وَجْهِ التَّكَبُّرِ يُكْرَهُ ، وَإِنْ فُعِلَ لِحَاجَةٍ أَوْ ضَرُوْرَةٍ لَا ، أَيْ: لَا يُكْرَهُ . عَلَى هٰذَا فَإِنَّ مَنْ لَبِسَ الثِّيَابَ الْجَمِيْلَةَ الرَّفِيْعَةَ مِنْ غَيْرِ نِيَّةِ التَّكَبُّرِ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ .
قَالَ الشَّوْكَانِيُّ : وَهٰذَا مِمَّا لَا خِلَافَ فِيْهِ فِيْمَا أَعْلَمُ ، بَلْ إِنَّ لُبْسَ رَفِيْعِ الثِّيَابِ مِنْ غَيْرِ نِيَّةِ التَّكَبُّرِ بَلْ بِنِيَّةِ أَنْ يَكُوْنَ لَهُ وَقْعٌ فِيْ قُلُوْبِ سَامِعِيْهِ وَهُوَ يَأْمُرُهُمْ بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهَاهُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ كَانَ مَنْدُوْبًا . الموسوعة الفقهية الكويتية ج٣٤ ص ١٦٧ كِبْر

# د غونډ تقرير خلاصه

د غونډ تقرير خلاصه دا را اُووته چې تکبّر ګناهِ کبيره ده ، په قرآن کريم او احاديثو مبارکه وُ کې ددې سختې سزاګانې ذکر شوي :

تکبّر او لويي صرف د الله ﷻ سره ښائي ، څوک چې د الله ﷻ سره په دې صفت کې ځان شريکوي نو جهنم ته به يې داخل کړي .

د متکبّرينو ځای جهنم دی ، دوی به پَرمخې جهنم ته غورځولې شي ، د چا په زړه کې چې معمولي تکبّر وي هغه به جنت ته نه داخليږي ، ځکه جنت په متکبّرينو باندې حرام دی ، شيطان د همدې تکبّر په وجه د جنت نه رااُوشړلې شو او تر قيامته پورې لعنتي شو ، متکبّرينو ته د توبې توفيق نه ملاويږي ، متکبّرين د قرآني علومو او کاملې پوهې نه محرومه وي ، تکبّر سره په عقل کې کمې راځي ، د متکبّرينو په زړه باندې مُهر لږيدلې وي ، د اکثره ګناهونو او ټولو مَفاسدو جرړه تکبّر دی ، دا د بَدبختۍ چابي ده ، د تکبّر په وجه د انسان نه فضائل ختميږي او رزائل په کې پيدا کيږي ، تکبّر د کافرانو صفت دی ، الله تعالی متکبّرين نه خوَښوي ، د قيامت په ورځ به نبي عليه السلام ته مَبغوض ترين خلق متکبّرين وي ، د متکبّرينو د پاره د قيامت په ورځ رَسوائي ده .

همدا رنګې په تکبّر سره تلل منع دي ، د داسې خلقو نه الله ﷻ ناراضه وي ، د انسان سره تکبّر نه ښائي .

همدا رنګې څوک چې د تکبّر په وجه پينځې يا لنګ په زمکه راکاږي نو الله تعالی به داسې کس ته د قيامت په ورځ د رحمت په نظر باندې او نه ګوري ، داسې کس د شيطان ورور دی .

تکبّر کول په زمکه کې د غرقيدو سبب دی ، الله ﷻ متکبّر کس ذليله کوي ، د متکبّر نه هر کس نفرت کوي ، او هر کس ده ته په سپَک نظر باندې ګوري .

د متکبّرينو اَنجام ډير بَد وي : لکه فرعون ، نمرود ، قارون او نورو سَرکشو قومونو ته الله ﷻ د تکبّر په وجه سخته سزا ورکړه .

د تکبّر سزا په دُنيا کې سمدستي ملاويږي ، د تکبّر په وجه دا خطره شته چې د انسان آخِره خاتمه خرابه شي .

همیشه تکبّر کوونکی د جبّارینو په فهرست کې لیکلې شي ، د تکبّر سره نیک اعمال پوره فائده نه کوي ، بلکه ددې په وجه نیک اعمال ختمیږي .

یا خاصکر د فقیرۍ باوجود د تکبّر کولو سزا نوره هم سخته ده ، متکبّر فقیر به په اوّلني کسانو کې جهنم ته داخلولې شي ، داسې کس الله ﷻ ته ډیر ناخوښه وي .

تکبّر د زړه صفت دی ( چې انسان د حق نه انکار کوي ، خپل ځان په نورو باندې اُوچت ګڼړي او نور خلق ورته سپک ښکاري ) ، ښائسته جامې او ښائسته څپلۍ اچولو ته تکبّر نه وايي . څوک چې د تکبّر نه ځان ساتي نو د هغه د پاره نبي علیه السلام د جنت خوشخبري اَورولی .

لهذا د زړه نه د تکبّر جَرړه ختمول په کار دي او ددې چې کوم اَسباب دي د هغې نه ځان ساتل په کار دي . ( د نسب ، ښائست ، قوّت ، مالدارۍ ، عُهدې او عِلم په وجه تکبر ندې په کار ) .

نبي علیه السلام او صحابه کرامو رضي الله عنهم به د هغه اَقوالو او افعالو نه ځان ساتل چې د هغې په وجه به تکبّر پیدا کیدو ، او هغه کارونه به يې کول چې په هغې سره به تکبّر ختمیدو .

د یو څو صورتونو نه علاوه (په کومو کې چې شریعت اِجازت ورکړی) نور د هر قِسمه تکبّر نه ځان ساتل په کار دي .

## دُعا

الله تعالی دې مونږ ټول د تکبّر او نورو باطني بیماریو نه اُوساتي ، ربِّ کائنات دې په مونږ ټولو کې تواضع او عاجزي پیدا کړي .

اې ربه ! مونږ ډیر ګناهګاریو ته په خپل فضل و کَرَم سره زمونږ په ګناهونو باندې قلم د عَفوې راکاږه ، زمونږ د ټولو مغفرت نصیبه کړه .

مونږ ټول د هر قِسمه مشکلاتو ، مصیبتونو ، غمونو ، تکلیفونو او ناګاهاني اِمتحاناتو نه اُوساته .

آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن .

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ يَاأَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوا ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَآفَّةً ﴾.

البقرة آية ۲۰۸

دديې (اِصلاحي مُدَلل تقريرونه) كتاب د څوارلسو جلدونو تقريرونو خلاصه :

# خالِص په قرآني آيتونو باندې مشتمل جامِع تقرير

تاليف


آبُوالشَّمْس مولانا نُوْرُالهُدٰى عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فيضُ القُرآن اكاخيل كالوني مردان

# د مقرِّرينو د پاره راهنمائي

بعضې وخت مقرّرين په ځنې ځايونو کې داسې تقرير کول غواړي چې په هغې کې خالص د قرآن کريم آيتونه وي ( يعنى د اول نه تر آخره پورې غونډ تقرير صرف او صرف د قرآن کريم په آيتونو باندې مشتمل وي، احاديث او د علماؤ اَقوال په کې بالکل نه وي) ، او په دې تقرير کې ربط هم وي.

نو په همدې خاطر درته داسې يو جامع تقرير خالص د قرآني آيتونو نه برابروم چې ربط به هم په کې وي ، او مُؤثِّر به هم وي.

دا اکثر آيتونه اګر چې ددې ( اصلاحي مدلل تقريرونه ) کتاب په مخکې جلدونو کې ځاى په ځاى مُتفرِّق ذکر دي خو زه به د څه نورې اِضافې سره دې آيتونو داسې اَنداز باندې ترتيب ورکړم چې ددې غونډ کتاب د اَهمو موضوع ګانو خلاصه به دلته په دې يو تقرير کې صرف د آيتونو په ضِمن کې راجمع شي ، او په خپل مينځ کې به يې ربط هم وي.

که دا آيتونه مقرّرين همداسې په مُرتّب انداز باندې ياد کړي نو اِن شاء الله بيا به هر ځاى کې او د هر چا د وړاندې په پوره زړوَر تيا سره ډير جامِع تقرير کولې شي.

ابوالشمس عفي عنه

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# خالص په قرآني آيتونو باندې مشتمل جامع تقرير

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِ اللهِ .

اَمَّا بَعْدُ فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ :

﴿ يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا ادْخُلُوْا فِي السِّلْمِ كَآفَّةً وَلَا تَتَّبِعُوْا خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ اِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ﴾ . (١) صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْمُ .

> **نوټ :** په دې راتلونکې تقرير کې دده ( اِصْلَاحِيْ مُدَلَّلْ تَقْرِيْرُوْنَه ) کتاب د څوارلسو (۱۴) جلدونو اهمو موضوع ګانو خلاصه د آيتونو په ضمن کې ذکر شوې ، زه درته اول دده غونډ تقرير اجمالي خلاصه ذکر کوم ، بيا به يې درته د آيتونو په ضمن کې تفصيلاً ذکر کړم. ابوالشمس علي عنه

## د راتلونکي تقرير اجمالي خلاصه :

الله ربّ العزت انسان په ټولو مخلوقاتو کې ښائسته او مُعزّز پيدا کړی ، بيا يې دا ټول مخلوقات دده د فائدې د پاره پيدا کړي ، خو انسان يې صرف د خپل عبادت د پاره پيدا کړی ، اوس چې څوک د الله ﷻ عبادت کوي او نيک اعمال کوي نو الله تعالی ده ته په دُنيا کې حياتِ طيّبه او په آخرت کې دده بهترينه بدله ورکوي .

په هر مسلمان باندې د الله او رسول اطاعت فرض دی ، دا به د اسلام په ټولو احکاماتو باندې عمل کوي . اوس په ده باندې الله تعالی څه عبادات فرض کړي چې د هغې کول لازمي دي ؛ په هغې کې مونځ ، روژه ، زکوة ، او حج بُنيادي اعمال دي ، همدارنګې په

---

(١) البقرة آية ٢٠٨ .

قدرت لرونکي باندې جهاد هم فرض دی (اګر چې جهاد په بعضې صورتونو کې فرضِ عين او په بعضې صورتونو کې فرضِ کفايه دی).

بيا الله ﷻ په انسان باندې د ځنې بندګانو مالي حقوق هم مقرر کړي ، د هغې د پاره لازمي ده چې انسان حلال کسب اوکړي ، خپلو بچو او نورو حقدارانو له حلال رزق پيدا کړي ، دغه وجه ده چې شريعت د حلال خوراک اَهميت بيان کړی . او د حرام خوراک ، سُود ، او نورو ناجائزو طريقو سره يې د مال ګټلو نه منع کړې ده .

بيا انسان چې په معاشره کې کامياب ژوند تيرول غواړي نو ددې د پاره ضروري ده چې د يو بل د حقوقو لحاظ به ساتي ، نو ځکه الله ربّ العزت د حقوق العباد پوره کولو اَهميت هم بيان کړی . او په حقوقُ العباد کې د ټولو نه رومبې حق د والدينو دی چې ددې ډير تاکيد ذکر شوی ، همدارنګې الله تعالی د نورو مسلمانانو حقوق هم په يو بل باندې مقرر کړي .

په قرآن کريم کې الله ﷻ ځای په ځای انسانان د ګناهونو نه منع کړی او د ګناهونو سزاګانې يې ذکر کړي . بيا خاصکر د دروغو ، غِيبت ، چُغل خوری ، رِيا ، تکبّر او حسد نه يې په سختو الفاظو سره منع کړی ، او د ژبې د حفاظت حکم يې کړی .

اوس چې انسان دا معلومول غواړي چې دا څيز حلال دی او که حرام ؟ جائز دی او که ناجائز ؟ نو ددې د پاره د عِلم ضرورت دی ، دغه وجه ده چې الله ربّ العزت مسلمانانو ته د عِلم اَهميت او د علماؤ او طلباؤ اُوچت مقام بيان کړی .

بيا چونکه ددې ټولو علومو سَرچشمه قرآن کريم دی ځکه دا داسې د هدايت کتاب دی چې په فصاحت او بلاغت کې ددې مقابله هيڅوک نشي کولی ، او ددې په وجه په دُنيا کې اِنقلاب پيدا کيږي نو ځکه الله تعالی په قرآن کريم باندې د پوهيدلو ، ددې د تلاوت کولو او په دې باندې د عمل کولو ډير اَجرونه ذکر کړي .

بيا الله ربّ العزت په خپلو بندګانو باندې دومره مهربان دی چې که د دوی نه بَتقاضای بَشرِيَت څه ګناه اوشي نو د دوی د پاره يې د توبې دروازه کلاؤ ساتلی ، او ورسره ورسره يې د توبې فضائل هم ذکر کړي .

لهذا انسان ته په کار دي چې د دُنيا په دې عارضي ژوند باندې دُهوکه نشي ، د شيطان اِتباع اونکړي ، او آخرت طرف ته متوجّه شي ، ځکه انسان آخر هم ددې فاني دُنيا نه

تلونکی دی، هیڅوک هم د مرګ نه نشي خلاصدی، هر ذي رُوح به ضرور یوه ورځ وفات کیږي.

اوس که د چا رِشته دار یا بل نزدې کس وفات شي، یا وریاندې څه تکلیفونه او امتحانات راشي نو دا به د صبر او اِستقامت نه کار اخلي، جَزعه فَزعه او شکایت به نه کوي، ځکه الله تعالی د صابرینو د پاره ډیر اَجرونه مقرر کړي.

## تفصیلي بیان :

اوس د رته مذکوره خبرې د آیتونو په ضِمن کې تفصیلاً ذکر کوم:

### انسان ښائسته او معزز پیدا شوی

✡ مُعزّزو مسلمانانو وروڼو ! الله تعالی په ټولو مخلوقاتو کې د شکل و صورت په اِعتبار سره ډیر ښائسته" انسان " پیدا کړی، رَبِّ کریم فرمایي:

﴿ لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ ﴾. (١)

ترجمه: بیشکه مونږ انسان په ډیر ښائسته (مُعتدِل شکل او) صورت پیدا کړو.

✡ بیا یې په ټولو مخلوقاتو بني آدم ته ډیر عزت ورکړی، الله تعالی فرمایي:

﴿ وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ ﴾.(٢)

ترجمه: او بیشکه مونږ عزت ورکړې دی اَولاد د آدم (عليه السلام) ته.

✡ بیا یې دا ټول کائِنات د انسان د خدمت او فائدې د پاره پیدا کړي، الله تعالی فرمایي: ﴿ هُوَ الَّذِي خَلَقَ لَكُم مَّا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا ﴾. (٣)

ترجمه: الله تعالی هغه ذات دی چې په زمکه کې دا ټول هر څه یې ستاسو د فائدې د پاره پیدا کړل.

---

(١) التين آية ۴.

(٢) بني اسرائيل (الاسراء) آية ٧٠.

(٣) البقرة آية ٢٩.

په سورة لقمان كې ذكر دي :

﴿ أَلَمْ تَرَوْا أَنَّ اللَّهَ سَخَّرَ لَكُم مَّا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَأَسْبَغَ عَلَيْكُمْ نِعَمَهُ ظَاهِرَةً وَبَاطِنَةً ﴾. (١)

ترجمه : آيا تاسو نه دي كتلي چې الله تعالى مُسَخر كړي دي ستاسو د پاره (يعنى ستاسو د فائدې د پاره يې په كار لږولي دي) څه چې په آسمانونو كې دي او څه چې په زمكه كې دي ، او الله تعالى په تاسو باندې خپل ښكاره او پټ نِعمتونه پوره كړي دي .

✡ خو انسان صرف د الله ﷻ د عبادت د پاره پيدا شوى ، الله تعالى فرمايي :

﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴾. (٢)

ترجمه : او ما ندي پيدا كړي پيريان او انسانان مگر ددې د پاره چې دوى زما عبادت اوكړي .

✡ انسان عبث ندي پيدا شوى ، الله تعالى فرمايي :

﴿ أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَاكُمْ عَبَثًا وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لَا تُرْجَعُونَ ﴾.(١)

---

(١) لقمان آية ٢٠ .

په سورة ابراهيم كې ذكر دي : ﴿ اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَأَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجَ بِهِ مِنَ الثَّمَرَاتِ رِزْقًا لَّكُمْ ۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ الْفُلْكَ لِتَجْرِيَ فِي الْبَحْرِ بِأَمْرِهِ ۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ الْأَنْهَارَ ۝ وَسَخَّر لَكُمُ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ دَائِبَيْنِ ۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ ۝ وَآتَاكُم مِّن كُلِّ مَا سَأَلْتُمُوهُ ۚ وَإِن تَعُدُّوا نِعْمَتَ اللَّهِ لَا تُحْصُوهَا ۗ ﴾

ترجمه : الله تعالى هغه ذات دى چې آسمانونه او زمكه يې پيدا كړل ، د آسمان نه يې اوبه نازلې كړى (يعنى : بَره نه يې باران راأووَرول) ، بيا يې په دې اوبو سره (مختلف قِسمه) ميوې راوويستى چې دا ستاسو د پاره رِزق دى ، او تابع يې كړه ستاسو د پاره كِشتى چې د هغه په حكم باندې په سمندر كې روانه وي ، او ستاسو د پاره يې دَريابونه تابع كړل (يعنى ستاسو د فائدې د پاره يې پيدا كړل) ، او نمر او سپوږمى يې ستاسو د پاره په كار اولږول چې دوى هميشه روان وي ، او شپه او ورځ يې ستاسو د فائدې د پاره پيدا كړل ، او تاسو ته يې ټول هغه څيزونه دركړل كوم چې تاسو غوښتل ، او كه چيرته تاسو د الله ﷻ نِعمتونه شمارل او غواړى نو هغه (د ډيروالي په وجه) نه شى شميرلى . سورة ابراهيم آية ٣٢-٣٤ .

(٢) الذاريات آية ٥٦ .

ترجمه: آيا ستاسو دا خيال وُ چې بيشکه مونږ تاسو بې فائدې پيدا کړي يئ؟ او دا چې تاسو به مونږ طرفته نه راګرځئ؟

( حالانکه ستاسو دا خيال غلط دی، بلکه تاسو د يو مقصد د پاره پيدا شوي يَئ او دوباره به ما طرفته راګرځئ ).

**نيک عمل** : اوس چې څوک عبادت کوي او نيک اعمال کوي نو داسې خلقو ته الله ﷻ په دُنيا کې هم حياةِ طيّبه (ښائسته) ژوند ورکوي، او په آخرت به ددې ښه بدله ورکوي الله تعالی فرمايي:

﴿ مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهٗ حَيٰوةً طَيِّبَةً ۚ وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ اَجْرَهُمْ بِاَحْسَنِ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴾. (۲)

ترجمه: چا چې نيک عمل اوکړو که سړی وي او که ښځه خو چې هغه مومِن وي نو مونږ به هغه ته خامخا (په دُنيا کې) پاکيزه ژوند ورکړو، او مونږ به دوی ته خامخا (په آخرت کې) د دوی د ښو عملونو اجر ورکړو.

✡ **د نيک عمل فائده په خپله انسان ته رَسي** : محترمو! د نيک عمل فائده په خپله انسان ته رَسي، او د بَدو اعمالو نقصان هم ده ته رَسي، الله ﷻ ته ددې هيڅ فائده او نقصان نه رَسي. الله تعالی فرمايي:

﴿ مَنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِنَفْسِهٖ وَمَنْ اَسَاۗءَ فَعَلَيْهَا ۭ وَمَا رَبُّكَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ﴾. (۳)

ترجمه: څوک چې نيک عمل کوي نو د خپل ځان (د فائدې) د پاره يې کوي، او څوک چې بَدکار کوي نو وَبال (تاوان) يې هم په همده دی، او ستا رَب په بندګانو باندې ظلم کوونکی ندی.

بل ځای الله ﷻ فرمايي:

(۱) المؤمنون آية ۱۱۵

(۲) النحل آية ۹۷ .

(۳) حم السجدة (فصلت) آية ۳٦ .

﴿ مَنْ كَفَرَ فَعَلَيْهِ كُفْرُهُ وَمَنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِأَنْفُسِهِمْ يَمْهَدُونَ ﴾ . (١)

ترجمه : چاچي کفر اوکړو نو په همده باندي وَبال د کفر دده دی ، او چا چي نيک عمل اوکړو نو دوی د خپل ځان د پاره تياري کوي.

الله ربّ العزت نبي عليه السلام ته فرمايي :

﴿ إِنَّا أَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ لِلنَّاسِ بِالْحَقِّ فَمَنِ اهْتَدٰى فَلِنَفْسِهٖ وَمَنْ ضَلَّ فَإِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا وَمَا أَنْتَ عَلَيْهِمْ بِوَكِيْلٍ ﴾ . (٢)

ترجمه : بيشکه مونږ په تا باندي دا کتاب د خلقو د فائدي د پاره په حقه نازل کړی ، پس چا چي هدايت اُوموند نو د خپل ځان د فائدي د پاره يي ګټه اوکړه ، او څوک چي ګمراه شو نو خپل ځان ته د نقصان رسولو د پاره ګمراه شو ، او ته په دوی باندي نګهبان (ذِمه وار) نه يي.

## د الله او رسولِ اطاعت

✡ په هر مسلمان باندي د الله او د رسولِ اطاعت فرض دی ، الله تعالى فرمايي :

﴿ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اَطِيْعُوا اللهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ ﴾ . (٣)

ترجمه : اې د ايمان خاوندانو ! تاسو حکم اُومنئ د الله ، او حکم اُومنئ (د هغه) د رسول.

✡ د الله او رسولِ اطاعت کوونکي کامياب دي :

﴿ وَمَنْ يُطِعِ اللهَ وَرَسُوْلَهٗ وَيَخْشَ اللهَ وَيَتَّقْهِ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ ﴾ . (٤)

ترجمه : او څوک چي د الله او د هغه درسولِ اطاعت کوي (يعنی د دوی حکم مني) ، د الله نه ويريږي ، او تقوىٰ اختيار کړي پس همدا خلق کاميابيدونکي دي.

(١) الروم آية ٤٤ .

(٢) الزمر آية ٤١ .

(٣) النساء آية ٥٩ .

(٤) النور آية ٥٢ .

✡ د الله او رسول اِطاعت كوونكى به د قيامت په ورځ د انبياء كرامو ، صدّيقينو ، شهداؤ او صالحينو سره وي. پروردګارِ عالم فرمايي :

﴿ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ فَأُولٰٓئِكَ مَعَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِّنَ النَّبِيّٖنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَآءِ وَالصّٰلِحِيْنَ وَحَسُنَ اُولٰٓئِكَ رَفِيْقًا ﴾.(١)

ترجمه : او څوک چې د الله او د رسول حکم اُومني نو دوى به (په جنت کې) د هغه خلقو سره وي په ځا باندې چې الله ﷻ انعام کړې دى چې هغه پیغمبران ، صديقين ، شهداء او صالحين دي ، او دا خلق ډير ښه دي په ملګرتيا کې (يعنى دا خلق ډير ښه ملګري دي) .

✡ او څوک چې د الله او د هغه د رسول نافرماني کوي نو د داسې کس د پاره د جهنم سخته سزا ذکر شوى :

﴿ وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَاِنَّ لَهٗ نَارَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ﴾.(٢)

ترجمه : او څوک چې د الله او دده د رسول نافرماني اوکړي نو بیشکه دده د پاره اُور د جهنم دى ، دوى به په هغې کې هميشه وي تل تر تله.

﴿ وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًا مُّبِيْنًا ﴾. (٣)

ترجمه : او څوک چې د الله او د هغه د رسول نا فرماني اوکړي نو بیشکه هغه ګمراه شو په ښکاره ګمراهۍ سره .

﴿ قُلْ اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْكٰفِرِيْنَ ﴾.(٤)

ترجمه : (اې پيغمبره !) ته (دوى ته) ووايه چې تاسو حکم اومنئ د الله او د (هغه د) رسول ، پس که چيرته دوى مخ واړوي نو بیشکه الله تعالى کافران نه خوښوي.

✡ لکه څرنګې چې د الله اِطاعت فرض دى همداسې د نبي عليه السلام اِطاعت هم

(١) النساء آية ٦٩.

(٢) الجن آية ٢٣.

(٣) الاحزاب آية ٣٦.

(٤) آل عمران آية ٣٢.

فرض دی ، ځکه نبي عليه السلام خو د ځان نه خبرې نه کوي بلکه دا هم ورته د الله ﷻ د طرفه وَحي شوې وي ، (خو وَحي غير مَتلو ده) . الله تبارک وتعالی فرمايي :

﴿ وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى ، إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُّوْحٰى ﴾ . (١)

ترجمه : دا پيغمبر د خپل خواهشِ نفس نه خبرې نه کوي (بلکه) د دوی هره خبره وَحي ده چې په دوی نازلولې شي .

✡ د نبي عليه السلام اِطاعت د الله اِطاعت دی :

﴿ مَنْ يُّطِعِ الرَّسُوْلَ فَقَدْ أَطَاعَ اللهَ ﴾ . (٢)

ترجمه : څوک چې د پيغمبر (عليه السلام) اِطاعت اوکړي (يعنی د هغه خبره اُومني) نو بيشکه ده د الله اِطاعت اوکړو .

✡ د نبي عليه السلام په اِتباع کولو سره انسان د الله ﷻ محبوب جوړيږي ، او ګناهونه يې معاف کيږي . الله تعالی فرمايي :

﴿ قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللهَ فَاتَّبِعُوْنِيْ يُحْبِبْكُمُ اللهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ وَاللهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴾ . (٣)

ترجمه : (اې پيغمبره !) ته (خلقو ته) ووايه که چيرته تاسو د الله ﷻ سره په رښتيا محبت کوی (او د دې محبت په وجه دا هم غواړی چې الله ﷻ هم د تاسو سره محبت وکړي) نو (د دې مقصد حاصلولو د پاره) تاسو زما تابعداري اوکړئ ، نو الله به د تاسو سره محبت اوکړي ، او تاسو ته به ستاسو ګناهونه معاف کړي ، او الله تعالی بخښونکې او مهربان دی .

✡ د مسلمانانو د پاره د نبي عليه السلام ذات مبارکه د ژوند تيرولو د پاره بهترينه نمونه ده ، الله تعالی فرمايي :

﴿ لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْ رَسُوْلِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَنْ كَانَ يَرْجُوا اللهَ وَالْيَوْمَ الْاٰخِرَ وَذَكَرَ اللهَ

(١) النجم آية ۳، ۴ .

(٢) النساء آية ٨٠ .

(٣) آل عمران آية ٣١ .

كَثِيرًا ﴾. (١)

ترجمه: بيشكه ستاسو د پاره د رسول الله (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) په ذات مبارکه کې ښائسته نمونه موجود ده. د هغه چا د پاره چې د الله او د ورځې د آخرت اُميد لري، او الله ډير يادَوي.

✡ په مؤمنانو باندې د نبي عليه السلام حق د هر چا نه زيات دی، الله تعالی فرمايي:

﴿ اَلنَّبِيُّ أَوْلَىٰ بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنفُسِهِمْ ﴾. (٢)

ترجمه: نبي (ﷺ) په مؤمنانو باندې د دوی د ځانونو نه هم ډير حق لري.

✡ مسلمان به د اسلام په ټولو احکاماتو باندې عمل کوي، الله تعالی فرمايي:

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَافَّةً ﴾. (٣)

ترجمه: اې ايمان والو! تاسو ټول په اسلام کې پوره پوره داخل شئ.

## د مونځ اَهميت او فضائل

✡ اوس په هر مسلمان باندې الله تعالی ځنې شيان فرض کړي، او د ځنې کارونو نه يې منع کړی. د اِسلام په بُنيادي اَرکانو کې اَهم او غټ رُکن د مانځه دی، دا په ټولو عباداتو کې بهترين عبادت دی، په قرآن کريم او احاديثو کې د اِيمان نه روستو ډير تاکيد د مانځه راغلی، په هر عاقِل بالِغ مسلمان باندې د ورځې پنځه وخته مونځ فرضِ عين دی، الله تعالی فرمايي:

﴿ إِنَّ الصَّلَوٰةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَٰبًا مَّوْقُوتًا ﴾. (٤)

ترجمه: بيشکه مونځ په مؤمنانو باندې په خپل مقرر وختونو کې فرض کړې شوې دی.

﴿ وَأَقِيمُوا الصَّلَوٰةَ وَآتُوا الزَّكَوٰةَ ۚ وَمَا تُقَدِّمُوا لِأَنفُسِكُم مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوهُ عِندَ اللَّهِ ۗ إِنَّ

(١) الأحزاب آية ٢١

(٢) الاحزاب آية ٦.

(٣) البقرة آية ٢٠٨.

(٤) النساء آية ١٠٣.

اللّٰهَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴾. (١)

ترجمه : او تاسو مونځ قائموئ ، زکوة ورکوئ ، او تاسو چې د خپلو ځانونو د پاره وړاندې څه نيکي ليږئ نو هغه به د الله ﷻ سره ( موجود ) بيا مومئ ، بيشکه الله ﷻ هغه کارونه ګوري کوم چې تاسو کوئ .

✡ په قرآن کريم کې ځای په ځای دا حُکم راغلی :

﴿ وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ ﴾. (٢)

ترجمه : او تاسو مونځ قائموئ ( يعني په پابندئ سره يې کوئ ) او زکوة ورکوئ .

✡ نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته هم دا حکم شوې و چې د خپل کور والهٔ او خپلوانو ته د مانځه حکم کوه ، او په خپله هم وړاندې پابَند اُوسه ، الله تعالی فرمايي :

﴿ وَاْمُرْ اَهْلَكَ بِالصَّلٰوةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا ۚ لَا نَسْئَلُكَ رِزْقًا ۚ نَحْنُ نَرْزُقُكَ ۚ وَالْعَاقِبَةُ لِلتَّقْوٰى ﴾. (٣)

ترجمه : ته خپل کور والهٔ ( خپلوانو او مؤمنانو ) ته د مانځه حکم کوه او په خپله هم په دې قائم ( پابَند ) اُوسه ، مونږ تا نه ( داسې ) رُوزي نه غواړو ( چې د هغې په وجه د تا نه فرضي عبادات پاتې کيږي ) بلکه همدا مونږ تا ته ( او نورو خلقو ته ) رُوزي درکوو ، او ښه اَنجام د پرهيزګارئ دی .

---

(١) البقرة آية ١١٠.

(٢) المزمل آية ٢٠.

په سورة مجادله کې ذکر دي : ﴿ فَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ﴾. المجادلة آية ١٣.

په سورة حج کې ذکر دي : ﴿ فَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَاعْتَصِمُوْا بِاللّٰهِ ۗ هُوَ مَوْلٰىكُمْ ۚ فَنِعْمَ الْمَوْلٰى وَنِعْمَ النَّصِيْرُ ﴾. الحج آية ٧٨

په سورة بقره کې ذکر دي : ﴿ وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَارْكَعُوْا مَعَ الرّٰكِعِيْنَ ﴾. البقرة آية ٤٣.

په سورة النور کې ذکر دي : ﴿ وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴾. النور آية ٥٦

(٣) طه آية ١٣٢.

✡ مومناتو ته په صبر او مانځه سره د مدد حاصلولو حکم راغلی ، الله تعالی فرمايي :

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱسْتَعِينُوا۟ بِٱلصَّبْرِ وَٱلصَّلَوٰةِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴾ (١)

ترجمه : اې د ايمان خاوندانو ! تاسو ( په هره سختۍ کې ) په صبر او مانځه سره مدد حاصلوئ ، بيشکه الله تعالی د صبر کوونکو خلقو ملګری دی .

✡ د مونځ په وجه انسان د بې حيايۍ خبرو ، بدو کارونو او ګناهونو نه منع کيږي . الله تعالی نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته فرمايي :

﴿ ٱتْلُ مَآ أُوحِىَ إِلَيْكَ مِنَ ٱلْكِتَٰبِ وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ ۖ إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ تَنْهَىٰ عَنِ ٱلْفَحْشَآءِ وَٱلْمُنكَرِ ۗ ﴾ (٢)

ترجمه : ( اې پيغمبره ! ) ته هغه کتاب تلاوت کوه د کوم چې تا ته وَحي کړې شوی ، او مونځ قائم کړه ( يعنی په پابندۍ سره يې کوه ) بيشکه مونځ انسان د بې حيايۍ او ناکاره کارونو ( او ناجائزه خبرو ) نه منع کوي .

✡ د مانځه په وجه د انسان ګناهونه معاف کيږي ، ځکه مونځ نيک عمل دی ، او په هر نيک عمل سره ګناهونه ختميږي ، الله تعالی فرمايي :

﴿ وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ طَرَفَىِ ٱلنَّهَارِ وَزُلَفًا مِّنَ ٱلَّيْلِ ۚ إِنَّ ٱلْحَسَنَٰتِ يُذْهِبْنَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ ۚ ذَٰلِكَ ذِكْرَىٰ لِلذَّٰكِرِينَ ﴾ . (٣)

ترجمه : او ( اې پيغمبره ! ) ته د ورځې په دواړو طرفونو ، او د شپې په څه حصه کې

---

(١) البقرة آية ١٥٣ .

په يو بل آيت کې ددې تذکره داسې شوی : ﴿ وَٱسْتَعِينُوا۟ بِٱلصَّبْرِ وَٱلصَّلَوٰةِ ۚ وَإِنَّهَا لَكَبِيرَةٌ إِلَّا عَلَى ٱلْخَٰشِعِينَ ﴾ .
ترجمه : او تاسو مدد غواړئ د الله ﷻ نه په صبر او مونځ کولو سره ، او يقيناً دا مونځ ډير دروند ( او ګران ) کار دی مګر څوک چې عاجزي کوونکي دي ( او د الله ﷻ نه ويريږي نو دوی ته مونځ کول آسان دي ) . البقرة آية ٤٥ .

(٢) العنكبوت آية ٤٥ .

(٣) سورة هود آية ١١٤ .

مونځ قائم كړه ( يعنى په پابندۍ سره يې كوه ) ، بيشكه نيكيانې بدۍ لرې كوي (او ختموي) ، دا نصيحت دى د نصيحت كوونكو د پاره.

✡ مونځ كوونكى به د خوف او حُزن نه په أمن وي ، الله تعالى فرمايي :

﴿ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴾.(١)

ترجمه : بيشكه چا چې ايمان راوړو ، نيک عملونه يې اوكړل ، مونځ يې قائم كړو ، او زكوة يې وركړو ، دوى ته به د خپل رَب سره دديې أجر وي ، نه به په دوى باندې څه يَره وي او نه به غَمجَن وي.

✡ د مانځه په وجه انسان د الله تعالى د رَحمت مستحق گرځي :

﴿ وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴾.(٢)

ترجمه : او ( اې مسلمانانو ! ) تاسو د مونځونو پابندي كوئ ، زكوة وركوئ ، او د رسول (ﷺ) حكم منئ ، ددې د پاره چې په تاسو رَحم اوكړې شي.

✡ د مانځه په وجه انسان د جنت مستحق گرځي ، الله تعالى فرمايي :

﴿.... وَالَّذِينَ هُمْ عَلَىٰ صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ ، أُولَٰئِكَ فِي جَنَّاتٍ مُّكْرَمُونَ ﴾. (٣)

ترجمه : .... او هغه خلق چې د خپلو مونځونو حفاظت كوي ، همدا خلق به په جنتونو كې وي ، عزت مند به وي.

✡ يا مونځ په جَمعې سره په كار دى ، ځكه په قرآن كريم كې په جَمعې سره د مانځه حُكم شوى :

الله تعالى فرمايي : ﴿ وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَارْكَعُوا مَعَ الرَّاكِعِينَ ﴾.(٢)

(١) البقرة آية ٢٧٧.

(٢) النور آية ٥٦.

(٣) المعارج آية ٣٤ ، ٣٥.

(٢) البقرة آية ٤٣.

ترجمه : او تاسو مونځ قائموئ ( يعنى په پابندۍ سره يې کوئ ) ، زکوة ورکوئ ، او رکوع کوئ د رکوع کوونکو سره .

✡ د جُمعې مونځ هم فرضِ عين دى ، ددې فرضيت هم د قرآن کريم نه ثابت دى ، او بغير عُذره پرېخودونکې يې فاسِق و فاجِر او ګناهګار دى .

د جُمعې مانځه په باره کې الله تعالى فرمايي :

﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا نُوْدِيَ لِلصَّلٰوةِ مِنْ يَّوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ ۭ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴾ .(١)

ترجمه : اې مومنانو ! چې کله د جُمعې په ورځ د مانځه د پاره آذان اوکړې شي نو د الله ذکر ( يعنى مونځ او خطبې ) ته په اِهتمام سره ورځي ، او اخيستل خرڅول پرېږدئ ، دا (نور کارونه پرېخودل او د جُمعې مانځه ته ورتلل ) ستاسو د پاره ډېر بهتر دي که چېرته تاسو پوهېږئ .

## د قصدًا مونځ پرېخودو سزاګانې

✡ او څوک چې بِلا عُذره قصدًا مونځ پرېږدي نو د داسې کس د پاره سختې سزاګانې ذکر شوي ، ځکه قصدًا مونځ پرېخودل ګناهِ کبيره ده ، قصدًا مونځ پرېخودل کُفر ته نزدې کوونکې عمَل دى .

الله رب العزت فرمايي :

﴿ وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَلَا تَكُوْنُوْا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ۙ ﴾ . (٢)

ترجمه : او تاسو مونځ قائِم کړئ ، او مه کېږئ د مشرکانو نه .

✡ په بل آيت کې مونځ نه کوونکى د مُنکرينو او مُکذّبِينو په ډَله کې شمار کړې شوى ، الله تعالى فرمايي :

(١) الجمعة آية ٩ .

(٢) الروم آية ٣١ .

﴿ وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ارْكَعُوا لَا يَرْكَعُونَ ، وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴾. (١)

ترجمه : او هر کله چې دوی ته وويل شي چې تاسو ( د الله ﷻ د وړاندې ) سَر ټيټ کړئ ( يعنی مونځ اوکړئ ) نو دوی سَر نه ټيټوي ( يعنی مونځ نه کوي ) . هلاکت دې په دغه ورځ باندې د دروغ گڼرونکو د پاره .

✡ په قرآن کريم کې د منافقانو يوه علامه دا خودلې ده چې دوی په مانځه کې سستي کوي ، ربِ کريم فرمايي :

﴿ وَإِذَا قَامُوا إِلَى الصَّلَوٰةِ قَامُوا كُسَالَىٰ يُرَاءُونَ النَّاسَ وَلَا يَذْكُرُونَ اللَّهَ إِلَّا قَلِيلًا ﴾ (٢)

ترجمه : او کله چې دا منافقان مانځه ته اُودريږي نو په سستئ ( او زړه ماتي ) سره اُودريږي ، خلقو ته ځانونه ښائي (يعنی رِيا کوي ) ، او الله تعالی ډير کم يادوي .

✡ په سورة التوبة کې الله تعالی فرمايي :

﴿ وَلَا يَأْتُونَ الصَّلَوٰةَ إِلَّا وَهُمْ كُسَالَىٰ ﴾. (٣)

ترجمه : او دوی مانځه ته نه راځي مگر دوی سستي کوونکي وي ( يعنی په مات زړه مانځه ته راځي ) .

✡ د مونځ ضائع کوونکو د پاره سخته سزا ذکر شوی ، الله تعالی فرمايي :

﴿ فَخَلَفَ مِنۢ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ أَضَاعُوا الصَّلَوٰةَ وَاتَّبَعُوا الشَّهَوَٰتِ فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا ﴾. (٤)

ترجمه : بيا ددې نيکانو خلقو نه پس داسې نا اَهله خلق جانشين شول ( او راغلل ) چې دوی مونځ ضائع کړو ، او د خواهِشاتو پيروي يې اوکړه ، پس ډير زَر به دا خلق ددې گمراهۍ سزا اُومومي .

( يا دا مطلب چې : ډير زر به دوی د جهنم د غتې کندې سره مخامخ شي ) .

---

(١) المرسلات آية ٤٨ ، ٤٩ .

(٢) النساء آية ١٤٢ .

(٣) التوبة آية ٥٤ .

(٤) مريم آية ٥٩ .

✡ د مونځ نه په غفلت کوونکو باندې الله تعالی هلاکت راليږلی :

﴿ فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّينَ ، الَّذِينَ هُمْ عَن صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ ﴾ . (١)

ترجمه : پس هلاکت دی د هغه مونځ ګزارو د پاره کوم چې د خپلو مونځونو نه غافله (بې خبره) دي .

✡ په قيامت کې به چې جهنميان جهنم ته د تللو کوم وجوهات بيانوي په هغې کې به يوه وجه دا هم بيان کړي : ﴿ لَمْ نَكُ مِنَ الْمُصَلِّينَ ﴾ . (٢)

ترجمه : مونږ نه وو د مونځ ګزارو نه . (يعنی مونږ به مونځ نه کولو ) .

## د روژې فرضيت او فوائد

✡ د اِسلام په بُنيادي اَرکانو کې يو اَهم رُکن روژه هم ده . د رمضان المبارک روژې فرضِ عين دي ، د قرآن کريم د مختلفو آيتونو نه د روژې فرضيت ثابت دی ، الله رب العزت فرمايي :

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴾ . (٣)

ترجمه : اې مؤمنانو ! په تاسو باندې روژې فرض کړې شوي .لکه څرنګې چې په هغه خلقو باندې فرض کړې شوې وې کوم چې د تاسو نه وړاندې تېر شوي ، ددې د پاره چې تاسو پرهيزګار (متقيان) شئ . ( او په زړه کې مو د الله ﷻ نه ډېره پيدا شي) .

---

(١) الماعون آية ٤ ، ٥ .

(٢) المدثر آية ٤٣ .

(٣) البقرة آية ١٨٣ .

په يو بل ايت کې الله جل جلاله ددې بيان داسې کړی : ﴿ شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِّنَ الْهُدَىٰ وَالْفُرْقَانِ ، فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ وَمَن كَانَ مَرِيضًا أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ ... ﴾ البقرة آية ١٨٥

✡ د روژې په اَهمو مقاصدو کې يو مقصد دا هم دی چې ددې په وجه په انسان کې تقوٰی (د الله ﷻ نه يَره) او د ګناهونو نه بچ کيدل پيدا شي، د مذکوره آيت په آخِر کې الله ربّ العزت د روژې مقصد همدا تقوٰی بيان کړی:

لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ. ددې د پاره چې تاسو متّقيان (پرهيزګار) جوړ شی.

✡ سورة بقره کې لکه څرنګې چې د روژې د فرضيتِ اِعلان شوی نو همدغه شان په دې کې د مسافر او مريض د پاره د روژې نه نيولو اجازت هم ورکړل شوی چې دوی به د سفر او بيمارۍ نه پس دا روژې نيسي ، او دا اجازت دوی ته د آسانۍ په خاطر ورکړل شوی. الله تعالی فرمايي:

﴿ فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ ۖ وَمَنْ كَانَ مَرِيْضًا اَوْ عَلٰى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ اَيَّامٍ اُخَرَ ۗ يُرِيْدُ اللّٰهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيْدُ بِكُمُ الْعُسْرَ ﴾.(١)

ترجمه: پس څوک چې په تاسو کې د رمضان مياشت اوومومي نو هغه دې (ضرور) ددې روژې اونيسي، او څوک چې مريض وي يا په سفر باندې وي نو هغه دې په نورو ورځو کې ددې شمير پوره کړي، الله تعالی په تاسو باندې آساني کول غواړي، او په تاسو باندې سختي کول نه غواړي.

## د زکوٰة اَهميت او فضائل

✡ د اسلام په بنيادي او اَهمو اَرکانو کې يو رُکن د زکوٰة دی، دغه وجه ده چې په قرآن کريم کې دوه ديرش (٣٢) ځايه د لمانځه سره يو ځای د زکوٰة حکم راغلی.

او ځای په ځای د زکوٰة اَجرونه ذکر شوي،. الله تعالی فرمايي:

﴿ إِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ لَهُمْ اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴾.(٢)

---

(١) البقرة آية ١٨٥.

(٢) البقرة آية ٢٧٧. بل ځای الله رب العزت فرمايي: ﴿ وَأَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ ←←←← ←←←←

ترجمه: بيشكه كومو خلقو چې ايمان راوړو، نيک عملونه يې اوكړل، مونځ يې قائم كړو او زكوة يې وركړو نو ددوی د پاره د خپل رب سره (ددې كارونو په عوض كې) اجر دی، او (په آخرت كې) په دوی به هيڅ ويره نه وي، او نه به (د څه شي په پاتې كيدو) غمجن وي.

✡ د سورة حج په آخر كې الله تعالى په مومنانو باند د احسان د تذكرې نه روستو فرمايي:

﴿ فَأَقِيمُوا الصَّلَوٰةَ وَآتُوا الزَّكَوٰةَ وَاعْتَصِمُوا بِاللَّهِ هُوَ مَوْلَاكُمْ فَنِعْمَ الْمَوْلَىٰ وَنِعْمَ النَّصِيرُ ﴾.(١)

ترجمه: پس تاسو مونځ قائموئ، زكوة وركوئ، او (د) الله تعالى (حكمونه) مضبوط اونيسئ، هم هغه ستاسو كارساز دی، پس څومره ښه آقا او څومره ښه مددګار دی.

✡ څوک چې زكوة وركوي نو دا خلق په دُنيا او آخرت دواړو كې كامياب دي، او د داسې خلقو سره الله ﷻ د جنت وعده كړې.

الله رب العزت فرمايي:

﴿ قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ . الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ . وَالَّذِينَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُونَ . وَالَّذِينَ هُمْ لِلزَّكَوٰةِ فَاعِلُونَ ﴾.(٢)

ترجمه: بيشكه كامياب شو هغه مؤمنان كوم چې په خپل لمانځه كې عاجزي كوونكي دي، او كوم چې د فضول خبرو نه ځان ساتي، او كوم چې زكوة وركوونكي دي.

---

←←← وَارْكَعُوا مَعَ الرَّاكِعِينَ ﴾. البقرة آية ٤٣.
ترجمه: او تاسو لمونځ كوئ، زكوة وركوئ او ركوع كوئ د ركوع كوونكو سره (يعنى د جَمعې سره لمونځ كوئ).

بل ځای الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَأَقِيمُوا الصَّلَوٰةَ وَآتُوا الزَّكَوٰةَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴾.
ترجمه: (اې مسلمانانو!) تاسو لمونځ قايموئ، زكوة وركوئ، او د رسول حكم منئ ددې د پاره چې په تاسو رحم اوكړې شي. النور آية ٥٦.

(١) الحج آية ٧٨.

(٢) المؤمنون آية ١ تا ٤.

✡ د سورة مؤمنون په دې اوّلو آيتونو کې الله ﷻ دا بيانوي چې په کومو مؤمنانو کې دا آينده اووه (٧) صفات موجود وي هغوی په دنيا او آخرت کې کاميابه دي، په هغې کې يو صفت د زکوة اداء کولو هم دی. بيا ددې صفتونو په آخر کې الله ﷻ او فرمايل:

﴿ أُولَٰئِكَ هُمُ الْوَارِثُونَ ، الَّذِينَ يَرِثُونَ الْفِرْدَوْسَ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴾ .(١)

ترجمه: همدا خلق حقيقي وارثان دي کوم چې به جنت الفردوس په ميراث کې اخلي، او دوی به په دې جنت الفردوس کې هميشه وي.

✡ د زکوة په وجه د انسان په مال کې برکت او زيادت راځي، الله تعالی فرمايي:

﴿وَمَا آتَيْتُم مِّن زَكَاةٍ تُرِيدُونَ وَجْهَ اللَّهِ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُضْعِفُونَ ﴾ .(٢)

ترجمه: او تاسو چې کوم زکوة (يا صدقه وغيره) ورکوئ او په دې سره د الله تعالی رضا غواړئ، نو همدا خلق (ډېر مالونه) د الله تعالی سره په څو څو چنده زياتوي.

بل ځای الله ﷻ فرمايي: ﴿ يَمْحَقُ اللَّهُ الرِّبَا وَيُرْبِي الصَّدَقَاتِ... ﴾ .(٣)

ترجمه: الله ﷻ سود بربادوي (ختموي)، او صدقې (او زکوة) زياتوي

✡ د زکوة په وجه انسان د الله ﷻ د رحمت مستحق ګرځي، الله تعالی فرمايي:

﴿ وَرَحْمَتِي وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ فَسَأَكْتُبُهَا لِلَّذِينَ يَتَّقُونَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَالَّذِينَ هُم بِآيَاتِنَا يُؤْمِنُونَ ﴾ .(٤)

ترجمه: زما رحمت خور (شامل) دی په هر شي باندې، پس ډير زر به زه دا (رحمت په کامل ډول) د هغه خلقو د پاره اوليکم څوک چې د الله ﷻ نه ويرېږي، زکوة ورکوي، او څوک چې زمونږ په آيتونو ايمان راوړي.

---

(١) المؤمنون آية ١٠، ١١ .

(٢) الروم آية ٣٩ .

(٣) البقرة آية ٢٧٦ .

(٤) الاعراف آية ١٥٦ .

✡ د زکوة په وجه انسان د بُخل د صفت نه پاکيږي ، او څوک چې د دې بخل نه بچ شو هغه کامياب دی . الله تعالی فرمايي :

﴿وَمَنْ يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ﴾ . (١)

ترجمه : او څوک چې د خپل نفس د حِرص ( او شومتيا ) نه بچ اوساتلې شو نو همدغه خلق کامياب دي .

✡ په زکوة کې حلال او پاک مال ورکول په کار دي .

الله تعالی فرمايي : ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَنْفِقُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّا أَخْرَجْنَا لَكُمْ مِنَ الْأَرْضِ وَلَا تَيَمَّمُوا الْخَبِيثَ مِنْهُ تُنْفِقُونَ وَلَسْتُمْ بِآخِذِيهِ إِلَّا أَنْ تُغْمِضُوا فِيهِ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ حَمِيدٌ﴾ . (٢)

ترجمه : اې مومنانو ! تاسو خرچ کړئ ( د الله ﷻ په لاره کې ) د هغه پاکيزه شيانو نه کوم چې تاسو ګټلي وي ، او کوم چې مونږ تاسو د پاره د زمکې نه راويستلي دي ، او تاسو رَدي ( بيکاره ) شي ته اراده مه کوئ چې د هغې نه يې خرچ کړی ( يعنی بې کاره شی د الله ﷻ په لاره کې مه خرچ کوئ ) حالانکه تاسو په خپله د هغې ( رَدي شي ) اخيستلو ته تيار نه يی ( چې څوک يې د يو واجب حق په بدله کې يا تحفه کې درکوي ) ، مګر که تاسو پرې سترګې پټې کړئ ( او لحاظ يې اوکړئ ، او وايې خلې نو دا بيله خبره ده ) ، او پوهه شئ چې الله بې نيازه ( دی ، هيچا ته محتاج نه دی ) او د تعريف لايق دی ( نو د هغه په نامه داسې شی ورکوئ چې هغه هم ښه او د تعريف لائق وي ) .

## زکوة په مخکيني امتونو هم فرض ؤ

✡ زکوة لکه څرنګ چې په دې امتِ محمّدي فرض دی نو همدغه شان په مخکيني اُمتونو باندې هم د مانځه سره سره زکوة هم فرض ؤ .

(١) الحشر آية ٩ .

(٢) البقرة آية ٢٦٧ .

د حضرت ابراهيم عليه السلام، او د هغه د ځوي حضرت اسحاق عليه السلام، او دهغه د نمسي حضرت يعقوب عليه السلام د ذکر نه روستو الله تعالى فرمايي:

﴿ وَأَوْحَيْنَا إِلَيْهِمْ فِعْلَ الْخَيْرَاتِ وَإِقَامَ الصَّلَوٰةِ وَإِيتَاءَ الزَّكَوٰةِ وَكَانُوا لَنَا عَابِدِينَ ﴾.(١)

ترجمه: او مونږ وَحي اوکړه دوی ته د نيکيو د کولو، او (خاصکر) د مونځ قائمولو، او زکوة ورکولو، او دوی زمونږ عبادت گزار بندگان وو.

✡ د حضرت اسماعيل عليه السلام په باره کې ذکر دي:

﴿ وَكَانَ يَأْمُرُ أَهْلَهُ بِالصَّلَوٰةِ وَالزَّكَوٰةِ... ﴾.(٢)

ترجمه: او حضرت اسماعيل عليه السلام به د خپل کور خلقو ته د لمانځه او زکوة حکم کولو.

✡ حضرت عيسى عليه السلام خپل قوم ته اوفرمايل:

﴿ وَأَوْصَانِي بِالصَّلَوٰةِ وَالزَّكَوٰةِ مَا دُمْتُ حَيًّا ﴾.(٣)

ترجمه: او تر څو پورې چې زه ژوندې يم الله تعالى ماته د لمانځه او زکوة وصيت (حکم) کړی.

✡ الله جل جلاله بني اسرائيلو ته فرمايلي وو:

﴿ إِنِّي مَعَكُمْ لَئِنْ أَقَمْتُمُ الصَّلَوٰةَ وَآتَيْتُمُ الزَّكَوٰةَ وَآمَنتُم بِرُسُلِي ﴾.(٤)

ترجمه: بيشکه زه (په اعتبار د مدد سره) د تاسو سره يم که چيرته تاسو مونځونه قائم کړل، او زکوة مو اداء کړو.

د دې آيتونو نه معلومه شوه چې زکوة دومره اَهمه فريضه ده چې لکه څرنګې چې دا په دې اُمت باندې فرض دی نو ... په شان پ... خکيني امتونو باندې هم فرض ؤ.

(١) الأنبياء آية ٧٣.
(٢) مريم آية ٥٥.
(٣) مريم آية ٣١.
(٤) المائدة آية ١٢.

# دزكوة نه وركولو سزاګاني

✡ چاته چې الله ﷻ مال و دولت وركړې وي، صاحب د نصاب وي، او په دې كال تير شي، نو په ده باندې زكوة وركول فرض دي. ځكه د زكوة فرضيت قطعي دى، دا د اسلام بُنيادي او اَهم رُكن دى، تر دې چې د زكوة نه منكِر كافِر دى، او نه وركوونكې يې فاسِق و فاجِر او سخت ګناهګار دى.

✡ د زكوة نه وركوونكي د پاره په قرآن كريم كې د جهنم سخته سزا ذكر شوى، الله تعالى فرمايي:

﴿وَالَّذِيْنَ يَكْنِزُوْنَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلَا يُنْفِقُوْنَهَا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ أَلِيْمٍ . يَوْمَ يُحْمٰى عَلَيْهَا فِيْ نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوٰى بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوْبُهُمْ وَظُهُوْرُهُمْ . هٰذَا مَا كَنَزْتُمْ لِأَنْفُسِكُمْ فَذُوْقُوْا مَا كُنْتُمْ تَكْنِزُوْنَ﴾ .(١)

ترجمه: او څوک چې سره زَر او سپين زَر ذخيره كوي او د الله ﷻ په لاره كې يې نه خرچ كوي (يعنى زكوة ورنه نه اُوباسي) پس (اې پيغمبره !) ته دوى ته د دَرد ناک عذاب زيرې وركړه، په كومه ورځ چې به دا مال (او خزانې) د جهنم په اُور كې ګرمولې شي، بيا به په دې سره د دوى تَندې، د دوى اَړخونه او د دوى شاګانې داغلې شي (او دا به ورته ويلې شي) چې دا هغه خزانې دي چې تاسو د خپل ځان د پاره جمع كړې وى، پس او څکئ تاسو مزه د هغه څه چې تاسو به جمع كول.

✡ څوک چې فرضي زكوة نه وركوي، او بُخل كوي نو د قيامت په ورځ به د همدې مال نه يو زهر جَن ګنجې مار جوړ كړې شي او ده ته به په غاړه كې وَر واچولې شي چې دا به چيچي، الله تعالى فرمايي:

﴿وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ يَبْخَلُوْنَ بِمَآ اٰتٰهُمُ اللهُ مِنْ فَضْلِهٖ هُوَ خَيْرًا لَّهُمْ بَلْ هُوَ شَرٌّ لَّهُمْ سَيُطَوَّقُوْنَ مَا بَخِلُوْا بِهٖ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَلِلّٰهِ مِيْرَاثُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَاللهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ﴾ .(٢)

---

(١) التوبة آية ٣٤، ٣٥

(٢) آل عمران آية ١٨٠ .

ترجمه : او چاته چې الله ﷻ په خپل فضل سره مال ورکړی وي ، او دوی په کې بُخل کوي (يعنی فرضي زکوة نه ورکوي ) نو دوی دې هرګز دا خيال نه کوي چې ګني دا بُخل د دوی د پاره ښه دی ، بلکه دا بُخل د دوی د پاره ډير بَد دی ، ډير زر به د قيامت په ورځ دغه مال په کوم چې دوی بُخل کړی وُ دوی ته به طوق ورواچولې شي.

( يعنی همدغه مال به يې د غاړې تيزندې کړې شي ، او زهرجَن ګنجې مار به ورنه جوړ کړې شي ، دده په غاړه کې به وَرواچولې شي چې دې به چيچي ) .

## نفلي صدقات

✡ د زکوة نه علاوه نوره نفلي صدقه ورکول هم په کار ده ، ځکه په قرآن کريم کې د نفلي صدقاتو ډير فضائل او فوائد بيان شوي :

✡ د صدقې په وجه د انسان په مال کې برکت پيدا کيږي او مال ورسره صفا کيږي .

الله رب العزت فرمايي :

﴿وَمَا أَنفَقْتُم مِّن شَيْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهُ وَهُوَ خَيْرُ الرَّازِقِينَ﴾ .(١)

ترجمه : او څه چې تاسو ( د الله ﷻ په لاره کې ) خرچ کوی نو هغه به دده په بدله درکوي ، او هغه ډير ښه رزق ورکوونکې دی .

بل ځای الله ﷻ فرمايي : ﴿وَمَا تُنفِقُوا مِنْ خَيْرٍ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنتُمْ لَا تُظْلَمُونَ﴾ .(٢)

ترجمه : او تاسو چې کوم مال خرچ کوی هغه به درته ( په دُنيا او آخرت کې ) پوره پوره واپس درکړې شي ، او په تاسو به ظلم نشي کولی .

✡ د خير په ځايونو کې مال خرچ کوونکې به د يَرې او غم نه په اَمن وي ، الله تعالی فرمايي :

﴿الَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُم بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ سِرًّا وَعَلَانِيَةً فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ

---

(١) سورة سبا آية ٣٩ .

(٢) البقرة آية ٢٧٢ .

عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴾ .(١)

ترجمه : څوک چې خپل مالونه د شپې او ورځې ، په پټه او ښکاره خرچ کوي نو هغوی لره ثواب دی د هغوی د رب په نزد ، او نه به په دوی څه ډېره وي ، او نه به غمجن وي .

✡ په ښکاره او پټه باندې د خرچ کوونکو د پاره الله ﷻ د جنت خوشخبري اورولی ،

﴿ وَالَّذِينَ صَبَرُوا ابْتِغَاءَ وَجْهِ رَبِّهِمْ وَأَقَامُوا الصَّلَوٰةَ وَأَنفَقُوا مِمَّا رَزَقْنَٰهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً وَيَدْرَءُونَ بِالْحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ أُولَٰئِكَ لَهُمْ عُقْبَى الدَّارِ ﴾ .(٢)

ترجمه : او چا چې د خپل رب د خوشحالولو د پاره صبر اوکړو ، مونځ يې قائم کړو ، مونږ چې ورته څه ورکړي د هغې نه يې په پټه او ښکاره خرچ اوکړو ، او د نيکيو په ذريعه بَدي دفع کوي ( يعنی د بدی په مقابله کې ښيګړه کوي ) نو همدا هغه خلق دي د کومو د پاره چې کور د آخرت ( يعنی جنت ) دی .

بل ځای الله تعالی فرمايي :

﴿ وَسَارِعُوا إِلَىٰ مَغْفِرَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمَٰوَٰتُ وَالْأَرْضُ أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ ۝ الَّذِينَ يُنفِقُونَ فِي السَّرَّاءِ وَالضَّرَّاءِ وَالْكَٰظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ ﴾ .(٣)

ترجمه : او تاسو منډه أووهئ بخنې د خپل رب طرف ته ( يعنی هغه أعمالو طرفته وراندې والې او جَلتې اوکړئ کوم چې د انسان د مغفرت او بخنې سبب ګرځي ) ، او د هغه جنت طرف ته منډه أووهئ چې د هغې پلنوالې د آسمانونو او زمکې برابر دی ، دا جنت تيار کړې شوې دی د مُتّقيانو ( پرهيزګارانو ) د پاره ، ( متقيان هغه خلق دي ) څوک چې خپل مالونه په خوشحالی او سختی دواړو حالتونو کې ( د الله د رَضا د پاره ) خرچ کوي ، غصه زغمي ، او د خلقو قصور معاف کوي ، او الله تعالی ( داسې ) نيکو کار خلق خوښوي .

---

(١) البقرة آية ٢٧٤ .

(٢) الرعد آية ٢٢ .

(٣) آل عمران آية ١٣٣ ، ١٣٤ .

✡ په نيکو کارونو کې د خرچ فائده په خپله انسان ته رسي ، الله تعالی فرمايي :

﴿ وَمَا تُنفِقُوا مِنْ خَيْرٍ فَلِأَنفُسِكُمْ ﴾ . (١)

ترجمه : او تاسو چې کوم مال خرچ کوئ نو دا همدا ستاسو د فائدې د پاره دی .

✡ په صدقه کې بهترين او غوره مال ورکول په کار دي ، الله تعالی فرمايي :

﴿ لَن تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّىٰ تُنفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ ﴾ . (٢)

ترجمه : تاسو به هيڅ کله نيکي حاصله نه کړې شئ تر څو پورې چې تاسو خرچ نه کړئ له هغه شي نه کوم چې تاسو خوښوئ .

( يعنی تر څو پورې مو چې د ټولو نه غوره شی نه وي خيرات کړی تر هغې پورې به جنت ته داخل نه شئ ) .

✡ يا خاصکر په پټه باندې د صدقې ورکولو اجر ډير زيات دی ، ځکه په دې کې خو يو ريا نه وي ، او بل اخيستونکې هم د نورو خلقو د وړاندې اونه شرميږي .

الله رب العزت فرمايي :

﴿ إِن تُبْدُوا الصَّدَقَاتِ فَنِعِمَّا هِيَ وَإِن تُخْفُوهَا وَتُؤْتُوهَا الْفُقَرَاءَ فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ وَيُكَفِّرُ عَنكُم مِّن سَيِّئَاتِكُمْ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴾ . (٣)

ترجمه : که چيرته تاسو صدقې په ښکاره ورکوئ نو ( هم ) ښه خبره ده ، او که چيرته تاسو دا صدقې پټوئ او په پټه يې فقيرانو ته ورکوئ نو دا ( په پټه ورکول ) ستاسو د پاره ډير بهتر دي ، او الله تعالی به ( ددې په برکت ) ستاسو ځنې ګناهونه لرې ( معاف ) کړي ، او الله تعالی په هغه کارونو چې تاسو يې کوئ ښه خبردار دی .

✡ د صدقې په وجه د انسان نفس د ګناهونو او د مال د محبت نه پاکيږي ، او ورسره ورسره د مال پاکوالی پرې هم راځي . الله ﷻ پيغمبر عليه الصلوة والسلام ته فرمايي :

---

(١) البقرة آية ٢٧٢ .

(٢) آل عمران آية ٩٢

(٣) البقرة آية ٢٧١ .

﴿ خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِم بِهَا ... ﴾ . (١)

ترجمه : اې پيغمبره ! ته د دوی د مالونو نه صدقه (او زكوة) واخله چې ته د دې صدقې په ذريعه دوی (د ګناهونونه) پاک او صفا کړې.

✡ چاته د صدقې ورکولو نه پس په هغه باندې احسان زباتل يا ورته ضرر رسول ندي په كار ، ځكه په دې سره د صدقې اجر باطليږي. الله تعالى فرمايي :

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تُبْطِلُوا۟ صَدَقَٰتِكُم بِٱلْمَنِّ وَٱلْأَذَىٰ ... ﴾ . (٢)

ترجمه : اې مومنانو ! (تاسو ثواب د) خپلې صدقې په زباتلو (يادګيرنې) او تكليف رسولو باندې مه ضايع كوئ.

✡ په قرآن كريم كې فقير او محتاج ته د خوراک او جامو وركولو ډير اجرونه او ثوابونه بيان شوي. الله تعالى فرمايي :

﴿ وَيُطْعِمُونَ ٱلطَّعَامَ عَلَىٰ حُبِّهِۦ مِسْكِينًا وَيَتِيمًا وَأَسِيرًا . إِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ لِوَجْهِ ٱللَّهِ لَا نُرِيدُ مِنكُمْ جَزَآءً وَلَا شُكُورًا . إِنَّا نَخَافُ مِن رَّبِّنَا يَوْمًا عَبُوسًا قَمْطَرِيرًا . فَوَقَىٰهُمُ ٱللَّهُ شَرَّ ذَٰلِكَ ٱلْيَوْمِ وَلَقَّىٰهُمْ نَضْرَةً وَسُرُورًا ﴾ . (٣)

ترجمه : او دوی (يعنی نيكان خلق) د الله ﷻ په مينه كې په مسكين ، يتيم او قيدي باندې خوراک خوروي ، (او دا ورته وايي چې :) بيشكه مونږ په تاسو باندې صرف د الله ﷻ د رضا د پاره خوراک خوروو ، نه خو د تاسو نه څه (عملي) بدله غواړو ، او نه (ددې قولي) شكريه غواړو . بيشكه مونږ خو د خپل رب نه د هغې ورځې په باره كې ويريږو چې سخته او ترخه به وي ، پس الله تعالى به دوی د دغې ورځې د سختئ نه بچ كړي ، او دوی ته به تازګي او خوشحالي وركړي.

(١) التوبة آية ١٠٣ .
(٢) البقرة آية ٢٦٤ .
(٣) الدهر آية ٨ تا ١١ .

# د بُخل نه ځان ساتل په کار دي

✡ د بُخل او شومتيا نه ځان ساتل په کار دي ، ځکه بُخل داسې بدترين صفت دی چې دا د انسان د تباهۍ سبب ګرځي ، کامياب انسان هغه دی څوک چې د بُخل نه بچ شو .

الله رب العزت فرمايي :

﴿ وَمَنْ يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴾ . (١)

ترجمه : او څوک چې د شومتيا د نفس نه بچ شي نو همدغه خلق کامياب دي .

بل ځای الله ﷻ فرمايي :

﴿ وَأَمَّا مَنْ بَخِلَ وَاسْتَغْنَىٰ . وَكَذَّبَ بِالْحُسْنَىٰ . فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْعُسْرَىٰ . وَمَا يُغْنِي عَنْهُ مَالُهُ إِذَا تَرَدَّىٰ ﴾ . (٢)

ترجمه : او چا چې بُخل اوکړو ، بې پرواه شو ، او د ښکلي احکاماتو تکذيب يې اوکړو نو ډير زر به مونږ دوی د سختۍ په طرف روان کړو ، او کله چې دا ( کس ) کندې ته اوغورځيږي (يعنی وفات شي ) نو دده مال به د ده هيڅ په کار رانه شي .

بل ځای الله ﷻ فرمايي :

﴿ هَا أَنْتُمْ هَٰؤُلَاءِ تُدْعَوْنَ لِتُنْفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَمِنْكُمْ مَنْ يَبْخَلُ ۖ وَمَنْ يَبْخَلْ فَإِنَّمَا يَبْخَلُ عَنْ نَفْسِهِ ۚ وَاللَّهُ الْغَنِيُّ وَأَنْتُمُ الْفُقَرَاءُ ... ﴾ . (٣)

ترجمه : واورئ ، تاسو خو هغه خلق يئ چې کله تاسو را اُوبللې شی چې د الله ﷻ په لاره کې خرچ اوکړئ ، پس ځنې له تاسو نه هغه خلق دي چې بُخل ( شومتيا ) کوي ، او څوک چې بُخل کوي نو بيشکه هغه د خپل ځان سره بُخل کوي ، او الله تعالی غني دی او تاسو محتاج يی .

---

(١) سورة التغابن آية ١٦ .

(٢) سورة الليل آية ٨ - ١١ .

(٣) سورة محمد آية ٣٨ .

✡ كه انسان د الله ﷻ په لاركې خپل مال خرچ نكړي او بُخل اوكړي نو دا ټول مال آخر هم دده نه پاتې كيږي ، الله تعالى فرمايي :

﴿ وَمَا لَكُمْ أَلَّا تُنفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلِلَّهِ مِيرَاثُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ﴾.(١)

ترجمه : او دا په تاسو څه شوي چې تاسو د الله ﷻ په لاركې خرچ نه كوئ ؟ او د آسمانونو او زمكې ميراث صرف د الله د پاره دى . (دا هر څه صرف هغه ته پاتې دي) .

✡ د مسلمان شان دادى چې دا به د خپل ځان په نسبت بل ته ترجيح وركوي .

الله ﷻ فرمايي :

﴿ وَيُؤْثِرُونَ عَلَىٰ أَنفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ ۚ وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴾.(٢)

ترجمه : او دوى نورو ته په خپل ځان باندې ترجيح وركوي اگر په دوى باندې په خپله وكړه (او سختي) وي ، او څوك چې د خپل نفس د شومتيا (او حِرص) نه بچ اُوساتلې شو نو همدغه خلق كامياب دي .

**صدقه د مرگ نه مخكې په كار ده :** انسان ته په كار دي چې صدقه او خيرات د مرگ نه مخكې په خپل ژوند كې په خپل لاس وركړي ، ځكه بهترينه صدقه هم هماغه ده كومه چې انسان په خپل ژوند كې د تندرستى په حالت كې وركړي . او كه په خپل ژوند يې ورنه كړي نو بيا به په ده باندې وخت تير وي د افسوس او ندامت لاسونه به مرُوري خو هيڅ شى به په گوتو نه ورځي .

الله رب العزت فرمايي :

﴿ وَأَنفِقُوا مِن مَّا رَزَقْنَاكُم مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِيَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ فَيَقُولَ رَبِّ لَوْلَا أَخَّرْتَنِي إِلَىٰ أَجَلٍ قَرِيبٍ فَأَصَّدَّقَ وَأَكُن مِّنَ الصَّالِحِينَ ۝ وَلَن يُؤَخِّرَ اللَّهُ نَفْسًا إِذَا جَاءَ أَجَلُهَا ۚ وَاللَّهُ خَبِيرٌ

(١) الحديد آية ١٠ .

(٢) الحشر آية ٩ .

بِمَا تَعْمَلُوْنَ﴾. (١)

ترجمه : (اې مومنانو ! ) مونږ چې درته څه درکړي دي د هغې نه (په حقوقِ واجبه او خيرات کې) خرچ کوئ، ددې نه وړاندې چې په تاسو کې يو چاته مرګ راشي او هغه بيا (د آرزو او آرمان په ډول) دا وايي : اې زما ربه ! تا ولې ماته يو څو ورځې نور مهلت رانه کړو چې ما خيرات کړې وی، او زه د نيکانو خلقو نه شمار شوې وی، (خو دده دا آرمان به فائده مند څکه نه وي چې) الله تعالى هيڅ کله يو چاته مُهلت نه ورکوي کله چې دده نيته راشي، او الله تعالى خبردار دی د هغه کارونو نه چې تاسو يې کوی.

بل ځای الله ﷻ فرمايي : ﴿يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اَنْفِقُوْا مِمَّا رَزَقْنٰكُمْ مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ فِيْهِ وَلَا خُلَّةٌ وَّلَا شَفَاعَةٌ﴾. (٢)

ترجمه : اې مؤمنانو ! مونږ چې تاسو ته کوم مال درکړی د هغې نه (د الله ﷻ په لار کې) خرچ (صدقه) اوکړئ مخکې ددينه چې هغه ورځ راشي چې په هغې کې به اخيستل خرڅول نه وي ، او نه به په هغې کې دوستي پالل کيږي، او نه به سفارش چليږي.

✡ څوک چې د الله ﷻ په لار کې يوه روپۍ اُولږوي نو الله تعالى دده ددې په عِوض کې د اُووه سوه (٧٠٠) روپو آجر ورکوي.

د الله ﷻ په لار کې د مال لږولو مثال په قرآن کې داسې ذکر دی :

﴿مَثَلُ الَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ اَنْۢبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ فِيْ كُلِّ سُنْۢبُلَةٍ مِّائَةُ حَبَّةٍ ؕ وَاللّٰهُ يُضٰعِفُ لِمَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ﴾. (٣)

(١) المنافقون آية ١٠، ١١.

(٢) البقرة آية ٢٥٤.

همدا سې مضمون په سورة ابراهيم کې هم بيان شوی، الله تعالى فرمايي ،

﴿قُلْ لِّعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا يُقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَيُنْفِقُوْا مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ سِرًّا وَّعَلَانِيَةً مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ فِيْهِ وَلَا خِلٰلٌ﴾. الابراهيم آية ٣١.

(٣) البقرة آية ٢٦١.

ترجمه: كوم خلق چې د الله تعالى په لار كې خپل مالونه خرچ كوي د هغوى مثال د هغه دانې په شان دى چې أووه (٧) وږي رازرغون كړي، په هر وږي كې سل (١٠٠) دانې وي، او الله تعالى چې چاته اوغواړي نو (دا أجر) نور هم ورله زياتوي، او الله فراخى واله، پوهه دى.

په دې آيت كې د الله ﷻ په لار كې د مال لږولو أجر د مثال په ذريعه بيان شوى، چې ددې مثال داسې دى: لكه څوک د غنمو يوه دانه په زرخېزه زمكه كې أوكري، ددينه د غنمو يو بُوټې جوړ شي چې په هغې كې أووه (٧) وږي وي، او په هر وږي كې سل (١٠٠) دانې وي (يعنى د غنمو د يوې دانې نه أووه سوه دانې جوړې شي)، نو دغه شان د الله ﷻ په لار كې يوه روپۍ لږوونكي ته د أووه سوه (٧٠٠) روپو لږولو أجر وركولې شي، بلكه چې الله ربّ العزت اوغواړي نو ددينه زيات أجر هم وركوي.

**مسلمان به اِسراف نه كوي**: مسلمان به د اِسراف نه ځان ساتي، يعنى خپل مال به بې ځايه او ناجائزو كارونو كې نه خرچ كوي، ځكه په قرآن كريم كې د اِسراف نه په سختو الفاظو سره منع راغلې:

✡ الله تعالى اِسراف كوونكي نه خوښوي، په سورة الانعام كې ذكر دي:

﴿ وَلَا تُسْرِفُوْا ۚ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِيْنَ ﴾. (١)

ترجمه: او بې ځايه مال مه خرچ كوئ، بيشكه الله تعالى بې ځايه خرچ كوونكي نه خوښوي.

په سورة الاعراف كې ذكر دي:

﴿... وَّكُلُوْا وَاشْرَبُوْا وَلَا تُسْرِفُوْا ۚ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِيْنَ ﴾. (٢)

ترجمه: او (حلال څيزونه) خورئ، څكئ، او اِسراف مه كوئ، بيشكه الله تعالى اِسراف كوونكي نه خوښوي.

---

(١) الانعام آية ١٤١.

(٢) الاعراف آية ٣١.

✡ بلکه په قرآن کريم کې اِسراف کوونکو (بې ځايه خرچ کوونکو) ته د شيطان ورونه ويل شوي، الله تعالى فرمايي:

﴿ ... وَلَا تُبَذِّرۡ تَبۡذِيرًا ۞ إِنَّ ٱلۡمُبَذِّرِينَ كَانُوٓاْ إِخۡوَٰنَ ٱلشَّيَٰطِينِۖ وَكَانَ ٱلشَّيۡطَٰنُ لِرَبِّهِۦ كَفُورٗا ﴾. (١)

ترجمه: او فضول خرچي مه کوه په فضول خرچي کولو سره (يعنى بې ځايه خپل مال مه لېږه)، بېشکه فضول خرچي کوونکي د شيطانانو ورونه دي، او شيطان د خپل رَب ډېر ناشکره دى.

## د حج فرضيت

✡ د اسلام په بُنيادي او اَهمو اَرکانو کې يو رُکن حج دى، په صاحبِ استطاعت باندې دا هم فرض دى، ددې فرضيت په قرآن کريم کې صراحةً ذکر شوى، الله تعالى فرمايي:

﴿ وَلِلَّهِ عَلَى ٱلنَّاسِ حِجُّ ٱلۡبَيۡتِ مَنِ ٱسۡتَطَاعَ إِلَيۡهِ سَبِيلٗا ﴾. (٢)

ترجمه: او د الله ﷻ د پاره په هغه خلقو باندې د بيتُ الله حج فرض دى څوک چې ديته د ورتللو طاقت لري.

✡ کله چې حضرت ابراهيم عليه السلام د بيتُ الله د تعمير نه فارغ شو نو الله ﷻ چې ورته کوم حُکمونه کړي وو په هغې کې يو حُکم دا هم وُ:

﴿ وَأَذِّن فِي ٱلنَّاسِ بِٱلۡحَجِّ يَأۡتُوكَ رِجَالٗا وَعَلَىٰ كُلِّ ضَامِرٖ يَأۡتِينَ مِن كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٖ ﴾. (٣)

ترجمه: او ته په خلقو کې د حج اِعلان اوکړه، دوى به تاته پياده او (د اُوږد سفر په وجه) په هر مانده (کمزوري) اُوښ باندې راځي چې دا اُوښان (يا دا خلق) به د لرې لرې لارو نه راځي.

---

(١) بني اسرائيل آية ٢٦، ٢٧.

(٢) آل عمران آية ٩٧.

(٣) الحج آية ٢٧.

✡ حج په معلوم وخت او معلومو ورځو کې کېږي. الله تعالی فرمايي:

﴿ اَلْحَجُّ اَشْهُرٌ مَّعْلُوْمٰتٌ ﴾.(١)

ترجمه: د حج يو څو معلومې مياشتې دي.

حج د اَتم (٨) ذوالحجې نه تر د ديارلسم(١٣) ذوالحجې پورې په مخصوص ځای کې اداء کېږي، د دينه مخکې يا روستو په نورو مياشتو او نورو ځايونو کې نه اداء کېږي، که په څه وجه د چا نه حج فوت شي نو آئنده کال به هم دغه ورځو ته انتظار کوي.

✡ حاجي ته په کار دي چې د حج په ورځو کې خاص طور سره د فحش خبرو، گناهونو او جگړو نه ځان ساتي، الله تعالی فرمايي:

﴿ اَلْحَجُّ اَشْهُرٌ مَّعْلُوْمٰتٌ فَمَنْ فَرَضَ فِيْهِنَّ الْحَجَّ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوْقَ وَلَا جِدَالَ فِي الْحَجِّ ﴾.(٢)

ترجمه: د حج يو څو معلومې مياشتې دي، پس څوک چې په دې مياشتو کې په ځان باندې حج لازم کړي ( او د حج اِراده اوکړي) نو د حج په ورځو کې (خاص طور) کوروالې، گناهونه او جگړې ناجائز دي.

✡ مکه بيتُ الله د عبادت او اَمن ځای دی، د جگړو ځای ندی.

الله رب العزت فرمايي: ﴿ وَاِذْ جَعَلْنَا الْبَيْتَ مَثَابَةً لِّلنَّاسِ وَاَمْنًا ﴾.(٣)

ترجمه: او کله چې مونږ بيتُ الله د خلقو د پاره د عبادت او اَمن ځای جوړ کړو.

## د جهاد فرضيت او اَهميت

✡ د اسلام په اَهمو اَحکاماتو کې يو حُکم جهاد هم دی، دا هم د مونځ، روژې، زکوة، او حج په شان فرض دي (اگر چې جهاد په بعضې صورتونو کې فرضِ عَين دی او بعضې صورتونو کې فرضِ کفايه دی)، د دې نه منکر کافر دی.

---

(١) البقرة آية ١٩٧.

(٢) آل عمران آية ٩٧.

(٣) البقرة آية ١٢٥.

✡ د قرآن كريم په ډيرو آيتونو كې الله ربّ العزت مسلمانانو ته په واضحې طريقې سره د جهاد حُكم كړی ، يو څو آيتونه درته پيش كوم :

الله تعالى فرمايي :

﴿ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَّكُمْ ۖ وَعَسَىٰ أَن تَكْرَهُوا شَيْئًا وَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۖ وَعَسَىٰ أَن تُحِبُّوا شَيْئًا وَهُوَ شَرٌّ لَّكُمْ ۗ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴾.(١)

ترجمه : په تاسو باندې جهاد فرض كړې شوې دی ، او هغه تاسو ته ناخوښه (گران) دی ، او دا مُمكِنه ده چې كله به تاسو يو څيز ناخوښه گڼئ خو هغه به (په واقع كې) ستاسو د پاره غوره وي ، او (دا هم) مُمكِنه ده چې كله به تاسو يو څيز خوښوئ خو هغه به (په واقع كې) ستاسو د پاره بَد وي ، او الله ﷻ (د هر څيز په حقيقتِ حال باندې) ښه پوهيږي او تاسو نه پوهيږئ .

﴿ وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴾ .(٢)

او (اې مسلمانانو !) تاسو د الله ﷻ په لار كې جهاد اوكړئ ، او پوهه شئ چې الله ﷻ اوريدونكې پوهه دی .

﴿ فَإِذَا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا فَضَرْبَ الرِّقَابِ ﴾.(٣)

ترجمه : بيا كله چې ستاسو د كافرانو سره مقابله راشي نو د هغوی څټونه اُووهئ .

﴿ وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ ﴾ .(٤)

---

(١) البقرة آية ٢١٦ .

(٢) البقرة آية ٢٤٤ .

(٣) سورة محمد آية ٤ .

(٤) الانفال آية ٣٩ .

همداسې آيت په سورة البقره كې هم دی ، الله تعالى فرمايي :

﴿ وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ لِلَّهِ ﴾ . البقرة آية ١٩٣ .

ترجمه : او تاسو د کافرانو سره اُوجنګیږئ تر دې چې فِتنه پاتې نشي ، او ټول دِين يواځې د الله ﷻ ( قائم ) شي .

﴿ قَاتِلُوهُمْ يُعَذِّبْهُمُ اللَّهُ بِأَيْدِيكُمْ وَيُخْزِهِمْ وَيَنصُرْكُمْ عَلَيْهِمْ وَيَشْفِ صُدُورَ قَوْمٍ مُّؤْمِنِينَ ۝ وَيُذْهِبْ غَيْظَ قُلُوبِهِمْ ۗ وَيَتُوبُ اللَّهُ عَلَىٰ مَن يَشَاءُ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴾ . (١)

ترجمه : ( اې مؤمنانو ! ) تاسو د دوی (يعنی کافرانو ) سره اُوجنګیږئ الله تعالی به ستاسو په لاس باندې دوی ته عذاب ورکړي ، رَسواء به يې کړي ، د دوی په مقابله کې به ستاسو مدد اوکړي ، او ( دوی ته په سزا ورکولو سره ) د مؤمنانو سِينې به يَخې کړي ، د دوی د زړونو غصه به لرې کړي ، الله ﷻ چې د چا په باره کې اوغواړي د هغه توبه قبلوي ، او الله تعالی پوهه (او) حِکمت خاوند دی .

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قَاتِلُوا الَّذِينَ يَلُونَكُم مِّنَ الْكُفَّارِ وَلْيَجِدُوا فِيكُمْ غِلْظَةً ۚ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ ﴾ . (٢)

ترجمه : اې مؤمنانو تاسو د هغه کافرانو سره جنګ اوکړئ چې هغوی د تاسو سره نږدې دي ، او په کار ده چې دوی په تاسو کې سختي اُومومي ( يعنی د جهاد کولو په وخت ځانونه مضبوط کړئ ، نرمي ورسره مه کوئ ) او پوهه شئ چې د الله تعالی مدد د مُتقيانو سره دی .

﴿ وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ وَأَخْرِجُوهُم مِّنْ حَيْثُ أَخْرَجُوكُمْ ۚ وَالْفِتْنَةُ أَشَدُّ مِنَ الْقَتْلِ ۚ ﴾ . (٣)

ترجمه : او چيرته چې تاسو کافران اُومومئ قتل يې کړئ ، او د کومو ځايونو نه چې هغوی تاسو اِيستلي يئ د هغه ځايونو نه يې اُوباسئ ، او (د کفر) فِتنه د قتل نه زياته سخته ده .

(١) التوبة آية ١٤ ، ١٥ .
(٢) التوبة آية ١٢٣ .
(٣) البقرة آية ١٩١ .

﴿ اِنْفِرُوْا خِفَافًا وَّثِقَالًا وَّجَاهِدُوْا بِاَمْوَالِكُمْ وَاَنْفُسِكُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ ﴾. (١)

ترجمه: تاسو جهاد ته سپک او درانه (يعني د لږ سامان او ډير سامان سره) اووځئ، او په خپلو مالونو او نفسونو سره د الله ﷻ په لاره کې جهاد اوکړئ، دا ستاسو د پاره ډيره بهتره ده که تاسو پوهيږئ.

﴿ فَقَاتِلُوْا اَوْلِيَآءَ الشَّيْطٰنِ اِنَّ كَيْدَ الشَّيْطٰنِ كَانَ ضَعِيْفًا ﴾. (٢)

ترجمه: پس تاسو د شيطان ملګرو (يعني کافرانو) سره جنګ اوکړئ، بيشکه د شيطان مکر کمزورې دی.

﴿ وَاِنْ نَّكَثُوْا اَيْمَانَهُمْ مِّنْ بَعْدِ عَهْدِهِمْ وَطَعَنُوْا فِيْ دِيْنِكُمْ فَقَاتِلُوْا اَئِمَّةَ الْكُفْرِ اِنَّهُمْ لَا اَيْمَانَ لَهُمْ لَعَلَّهُمْ يَنْتَهُوْنَ ﴾. (٣)

ترجمه: او که چيرته دوی د وعدو کولو نه پس خپل قسمونه مات کړي او ستاسو په دين کې عيبونه راأوباسي نو د کفر سردارانو سره جنګ اوکړئ، بيشکه د دوی قسمونه (هيڅ معتبر) ندي، کيدې شي دوی (د خپلو شرارتونو نه) منع شي.

✡ همدارنګې الله ﷻ خاصکر د مشرکينو سره هم د جهاد حُکم کړی:

﴿ وَقَاتِلُوا الْمُشْرِكِيْنَ كَآفَّةً كَمَا يُقَاتِلُوْنَكُمْ كَآفَّةً وَاعْلَمُوْا اَنَّ اللهَ مَعَ الْمُتَّقِيْنَ ﴾ (٤)

ترجمه: او تاسو مشرکانو سره ټول په يو ځای اوجنګيږئ لکه څرنګې چې هغوی د

(١) التوبة آية ٤١.

(٢) النساء آية ٧٦.

(٣) التوبة آية ١٢.

(٤) التوبة آية ٣٦.

همداسې آيت د سورة التوبة په ابتدائي آيتونو کې هم ذکر دی، ﴿ فَاِذَا انْسَلَخَ الْاَشْهُرُ الْحُرُمُ فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِيْنَ حَيْثُ وَجَدْتُّمُوْهُمْ وَخُذُوْهُمْ وَاحْصُرُوْهُمْ وَاقْعُدُوْا لَهُمْ كُلَّ مَرْصَدٍ ﴾. التوبة آية ٥.

ترجمه: بيا کله چې د احترام مياشتې تيرې شي نو مشرکين چې چيرته مومئ قتل يې کړئ، وې نيسئ، راګير يې کړئ، او په هره موقع کې ورته (پټ) کينئ.

تاسو سره تول په يو ځاى جنګيږي ، او پوهه شئ چي الله تعالى د متقيانو سره (ملګري) دى.

✡ همدارنګي الله ﷻ د منافقانو سره هم د جهاد حُکم کړى :

﴿ يَاأَيُّهَا النَّبِيُّ جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنَافِقِينَ وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ ۚ وَمَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ ۖ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ ﴾. (١)

ترجمه : اې پيغمبره ! ته د کافرانو او منافقينو سره جهاد اوکړه ، او په دوى باندي سختي اوکړه ، د دوى ځاى جهنم دى ، او هغه ډير بَد ځاى د واپس ورتللو دى .

همدارنګي الله ﷻ د باغيانو په مقابله کي هم د قتال حُکم کړى . (٢)

✡ دا خو ما درته يو څو آيتونه ذکر کړل ، ددينه علاوه د قرآن کريم په نورو ډيرو آيتونو کي هم مسلمانانو ته د کافرانو سره د جهاد کولو حُکم شوى . (٣)

په دي تولو آيتونو کي مسلمانانو ته په واضحي طريقي سره د جهاد حُکم او فرضيت بيان شوى .

## د جهاد فضائل

په قرآن کريم د جهاد ډير فضائل ، فوائد او حِکمتونه بيان شوي :

✡ په جهاد کولو سره انسان د جنت مستحق کيږي . الله ربّ العزت فرمايي :

﴿ إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَىٰ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ ۚ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ ۖ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنجِيلِ وَالْقُرْآنِ ۚ وَمَنْ أَوْفَىٰ بِعَهْدِهِ

---

(١) التوبة آية ٧٣ ، التحريم آية ٩ .

(٢) ﴿ وَإِن طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا ۖ فَإِن بَغَتْ إِحْدَاهُمَا عَلَى الْأُخْرَىٰ فَقَاتِلُوا الَّتِي تَبْغِي حَتَّىٰ تَفِيءَ إِلَىٰ أَمْرِ اللَّهِ ۚ فَإِن فَاءَتْ فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا بِالْعَدْلِ وَأَقْسِطُوا ۖ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ ﴾. الحجرات آية ٩ .

(٣) ﴿ قَاتِلُوا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْآخِرِ وَلَا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَلَا يَدِينُونَ دِينَ الْحَقِّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ حَتَّىٰ يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَن يَدٍ وَهُمْ صَاغِرُونَ ﴾. التوبة آية ٢٩ .

﴿ وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوا ۚ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ ﴾. البقرة آية ١٩٠ .

مِنَ اللّٰهِ فَاسْتَبْشِرُوْا بِبَيْعِكُمُ الَّذِيْ بَايَعْتُمْ بِهٖ وَذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴾. (١)

ترجمه: بيشکه الله تعالى د مؤمنانو نه د دوی ځانونه او د دوی مالونه اخيستي دي چې ددې په عِوض کې به د دوی د پاره جنت وي، دوی د الله ﷻ په لاره (جهاد) کې جنګيږي، پس دوی کافران وژني، او دوی هم وژلې شي، دا (په جهاد باندې د جنت وعده) د الله په ذِمه رېښتينې وعده ده چې په تورات، انجيل او قرآن مجيد کې ذکر ده، او د الله ﷻ نه زيات د خپلې وَعدې پوره کوونکې بل څوک دی؟ پس تاسو په خپله هغه بَيعَه (سَوداء) باندې خوشحاله اُوسئ کومه چې تاسو د الله سره اوکړه، او همدا (جنت ملاويدل) لويه کاميابي ده.

✡ د قرآن کريم په يو بل آيت کې هم په جان و مال سره د جهاد کولو نه تعبير په بهترين تجارت سره شوی، الله تعالى فرمايي:

﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا هَلْ اَدُلُّكُمْ عَلٰى تِجَارَةٍ تُنْجِيْكُمْ مِّنْ عَذَابٍ اَلِيْمٍ ۝ تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَتُجَاهِدُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِاَمْوَالِكُمْ وَاَنْفُسِكُمْ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ۝ يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ وَيُدْخِلْكُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ وَمَسٰكِنَ طَيِّبَةً فِيْ جَنّٰتِ عَدْنٍ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴾. (٢)

ترجمه: اې مؤمنانو! آيا زه تاسو ته داسې تجارت اُوښايم چې هغه تاسو ته د دَردناک عذاب نه نِجات درکړي؟ (هغه تجارت دادی چې) تاسو په الله او د هغه په رسول باندې ايمان راوړئ، او د الله په لار کې په خپلو مالونو او ځانونو سره جهاد کوئ، همدا ستاسو د پاره ډير بهتر دی که چيرته تاسو پوهيږئ. الله ﷻ به ستاسو ګناهونه اُوبخي او تاسو به داسې (د جنت) باغونو ته داخل کړي چې د هغې لاندې به وَلې بَهيږي، او داسې پاکيزه محلونو ته (به مو داخل کړي) چې هغه د هميشه پاتې کيدو باغونو کې آباد دي، همدا لويه کاميابي ده.

---

(١) التوبة آية ١١١.

(٢) الصف آية ١٠ تا ١٢.

✡ څوک چې د الله ﷻ په لار کې اُووځي، هجرت اوکړي، یا جهاد ته لاړ شي او هلته په جهاد کې شهيد شي يا په خپل مرګ باندې مړ شي نو الله تعالى داسې کس ته هم د شهادت اُوچته مرتبه ورکوي، ده ته هم بهترين رزق او نعمتونه ورکوي.

الله تعالى فرمايي:

﴿ وَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ ثُمَّ قُتِلُوْٓا اَوْ مَاتُوْا لَيَرْزُقَنَّهُمُ اللهُ رِزْقًا حَسَنًا ۭ وَاِنَّ اللهَ لَهُوَ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ۝ لَيُدْخِلَنَّهُمْ مُّدْخَلًا يَّرْضَوْنَهٗ ۭ وَاِنَّ اللهَ لَعَلِيْمٌ حَلِيْمٌ ﴾. (١)

ترجمه: او کوم خلق چې د الله په لاره کې هجرت اوکړي بيا هغوى اُووژلې شي، يا مړه شي نو الله تعالى به خامخا دوى ته ښه رزق ورکړي، او بيشکه الله تعالى خامخا بهترين رزق ورکوونکې دى. الله تعالى به دوى ضرور داسې ځاى ته داخل کړي چې هغه ځاى به دوى خوښ کړي، او بشکه الله تعالى پوهه (او) برد باره دى.

## د قدرت باوجود جهاد نه کوونکو د پاره سخت وعيد

✡ کله چې جهاد فرضِ عَين شي (يعنى کافران د مسلمانانو په څه علاقه باندې حمله اوکړي) نو بيا د قدرت باوجود جهاد نه کوونکو د پاره سخت وعيدونه هم ذکر شوي.

الله تعالى فرمايي:

﴿ قُلْ اِنْ كَانَ اٰبَاۗؤُكُمْ وَاَبْنَاۗؤُكُمْ وَاِخْوَانُكُمْ وَاَزْوَاجُكُمْ وَعَشِيْرَتُكُمْ وَاَمْوَالُۨ اقْتَرَفْتُمُوْهَا وَتِجَارَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسٰكِنُ تَرْضَوْنَهَآ اَحَبَّ اِلَيْكُمْ مِّنَ اللهِ وَرَسُوْلِهٖ وَجِهَادٍ فِيْ سَبِيْلِهٖ فَتَرَبَّصُوْا حَتّٰى يَاْتِيَ اللهُ بِاَمْرِهٖ ۭ وَاللهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ﴾. (٢)

ترجمه: (اې پيغمبره!) ته دوى ته اووايه که چيرته ستاسو پلاران، ستاسو ځامن ستاسو ورونه، ستاسو بيبيانې، ستاسو خپلوان، هغه مالونه چې تاسو ګټلي دي، هغه تجارت چې تاسو د هغې د نقصان (او بنديدو) نه ويريږئ، او د اُوسيدو هغه کورونه چې

---

(١) الحج آية ٥٨، ٥٩.

(٢) التوبة آية ٢٤.

تاسو هغه خوښوی، دا ټول شیان که چیرته تاسو ته د الله، د هغه د رسول او جهاد في سبيل الله نه ډیر محبوب وي نو بیا انتظار اوکړئ تر دې چې الله تعالی خپل حُکم (یعنی عذاب) رااولیږي، او (یا دساتئ) الله تعالی فاسقانو (نافرمانو) ته هدایت نه کوي.

✡ په یو بل آیت کې الله رب العزت فرمایي:

﴿ يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَا لَكُمْ اِذَا قِيْلَ لَكُمُ انْفِرُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اثَّاقَلْتُمْ اِلَى الْاَرْضِ ۚ اَرَضِيْتُمْ بِالْحَيٰوةِ الدُّنْيَا مِنَ الْاٰخِرَةِ ۚ فَمَا مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا فِي الْاٰخِرَةِ اِلَّا قَلِيْلٌ ۝ اِلَّا تَنْفِرُوْا يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ۙ وَّيَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ وَلَا تَضُرُّوْهُ شَيْـًٔا ۗ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴾. (١)

ترجمه: اې مؤمنانو! دا په تاسو څه شوي دي چې کله درته اوویلې شي چې "تاسو د الله ﷻ په لار کې (جهاد ته) اووځئ" نو تاسو زمکې طرف ته دَرانه شئ (یعنی په ځای خَخ پاتې شئ او جهاد ته نه ځئ)، آیا تاسو د آخرت په مقابله کې د دُنیا په ژوند باندې راضي شوي یئ؟ پس د دُنیا ژوند خو د آخرت په مقابله کې ډیر لږ دی. که چیرته تاسو جهاد ته اُو نه اُوځئ نو الله تعالی به تاسو ته دَرد ناک عذاب درکړي، ستاسو په ځای به یو بل قوم راولي، تاسو به الله ﷻ ته هیڅ نقصان او نه رسولې شئ، او الله تعالی په هر څیز باندې قادر دی.

✡ غزوه تبوک ته د تللو په وخت نبي علیه السلام په جهاد کې د شرکت عام اعلان اوکړو، چونکه په دې وخت کې سخته گرمي وه، منافقین د جهاد نه پاتې شو، او یو بل ته یې وویل: لَا تَنْفِرُوْا فِي الْحَرِّ. په دې سخته گرمۍ کې د جهاد د پاره مه اُوځئ.

بیا دوی په دې خپلو پاتې کیدو باندې خوشحاله هم وو، نو الله تعالی د دوی په باره کې سخت وعیدونه نازل کړل، او د دوی د خبرې جواب یې په دې الفاظو ورکړو:

قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ اَشَدُّ حَرًّا ۔

(١) التوبة آية ٣٨، ٣٩.

ترجمه : اې پېغمبره ! ته ورته اووايه چې (د جهاد نه پاتې کېدو په وجه) د جهنم اور خو په ګرم والي کې (ددې ګرمۍ نه) ډېر سخت دی.

او الله ﷻ نبي علیه السلام ته اوفرمايل چې ددې جهاد نه د پاتې کېدو په وجه دوی آئنده د پاره د ځان سره په هيڅ جهاد کې مه شريکوه ، او د دوی مړه کېدلو نه روستو ورباندې د جنازې مونځ هم مه کوه .(١)

✡ د مؤمنانو شان دادی چې دوی به په خپل مينځ کې رَحم کوونکي وي خو د کافرانو په مقابله کې به ډېر سخت وي ، ددې د پاره چې کافران د مسلمانانو د نرمۍ په وجه زړه وَر نشي ، الله تعالی د مؤمنانو شان داسې بيان کړی :

﴿ وَالَّذِيْنَ مَعَهٗۤ اَشِدَّآءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ ﴾.(٢)

ترجمه : او کوم خلق چې د نبي علیه السلام سره دي هغوی د کافرانو د پاره ډېر سخت دي ، (او) په خپل مينځ کې مهربانه دي.

## هسې بهانې جوړول ندي په کار

ډېر خلق د مختلفو بهانو په وجه جهاد ته نه ځي ، که څوک دوی ته د جهاد د پاره اُووايي نو دوی ورته مختلف قِسمه بهانې جوړوي ، حالانکه که د قرآن کريم په رَڼا کې ددې خلقو بهانو ته اوکتلې شي نو دا هسې شيطاني دُهوکې دي.

✡ بعضې خلق جهاد ته ددې د وجې نه نه ځي چې هلته به مړ شم.

(١) الله تعالی ددې بيان په "سورة التوبة" کې په دې الفاظو سره کړی ،

﴿ فَرِحَ الْمُخَلَّفُوْنَ بِمَقْعَدِهِمْ خِلٰفَ رَسُوْلِ اللّٰهِ وَكَرِهُوْۤا اَنْ يُّجَاهِدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَقَالُوْا لَا تَنْفِرُوْا فِي الْحَرِّ ؕ قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ اَشَدُّ حَرًّا ؕ لَوْ كَانُوْا يَفْقَهُوْنَ ۝ فَلْيَضْحَكُوْا قَلِيْلًا وَّلْيَبْكُوْا كَثِيْرًا ۚ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ۝ فَاِنْ رَّجَعَكَ اللّٰهُ اِلٰى طَآئِفَةٍ مِّنْهُمْ فَاسْتَاْذَنُوْكَ لِلْخُرُوْجِ فَقُلْ لَّنْ تَخْرُجُوْا مَعِيَ اَبَدًا وَّلَنْ تُقَاتِلُوْا مَعِيَ عَدُوًّا ؕ اِنَّكُمْ رَضِيْتُمْ بِالْقُعُوْدِ اَوَّلَ مَرَّةٍ فَاقْعُدُوْا مَعَ الْخٰلِفِيْنَ ۝ وَلَا تُصَلِّ عَلٰۤى اَحَدٍ مِّنْهُمْ مَّاتَ اَبَدًا وَّلَا تَقُمْ عَلٰى قَبْرِهٖ ؕ اِنَّهُمْ كَفَرُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَمَاتُوْا وَهُمْ فٰسِقُوْنَ ﴾ التوبة آية ٨١ تا ٨٤.

(٢) الفتح آية ٢٩.

حالانکه دا هسې شيطاني دُهوکه ده ، ځکه انسان به خامخا يوه ورځ وفات کيږي .

الله تعالى فرمايي : ﴿ كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ ﴾ . (١)

ترجمه : هر يو نفس څکونکې د مرګ دی .

✡ بيا د هر انسان د پاره د مرګ خپله نېټه مقرر ده ، د هغې نه انسان يو ساعت نه مخکې کيږي ، او نه روستو کيږي . الله تعالى فرمايي :

﴿ وَلِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌ فَإِذَا جَآءَ أَجَلُهُمْ لَا يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ ﴾ . (٢)

ترجمه : او د هرې ډلې (او قوم) د پاره يو وخت مقرر دی ، پس کله چې د دوی نېټه راشي نو نه يو ساعت روستو کيږي او نه رامخکې کيږي .

✡ بعضې خلق د مال و دولت او خپلو بچو د محبت په وجه جهاد ته نه ځي چې بيا به رانه دا پاتې شي .

نو ددې جواب دادی چې مال و دولت او بچي خو په دُنيا کې د مسلمان د پاره يو آزمېښت دی ، چې آيا ددې د محبت په وجه دا انسان شرعي احکامات پرېږدي او که نه ؟

الله ﷻ فرمايي : ﴿ وَاعْلَمُوٓا أَنَّمَآ أَمْوَالُكُمْ وَأَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ وَأَنَّ اللهَ عِندَهُۥٓ أَجْرٌ عَظِيمٌ ﴾ (٣)

ترجمه : او پوهه شئ چې بيشکه ستاسو مالونه او ستاسو اَولاد ( په حقيقت کې ) آزمېښت دی ، او د الله سره ډير لوي اَجر دی .

✡ په قرآن کريم کې د مال او اَولاد حقيقت په دې الفاظو ذکر شوی ، الله تعالى فرمايي :

---

(١) آل عمران آية ١٨٥ . العنكبوت آية ٥٧ .

همدا خبره په نورو آيتونو کې هم بيان شوی : ﴿ كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجْهَهُۥ ﴾ . القصص آية ٨٨ .

﴿ كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ ، وَيَبْقَىٰ وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ ﴾ . الرحمن آية ٢٦ ، ٢٧ .

﴿ أَيْنَمَا تَكُونُوا يُدْرِككُّمُ الْمَوْتُ وَلَوْ كُنتُمْ فِي بُرُوجٍ مُّشَيَّدَةٍ ﴾ . النساء آية ٧٨

(٢) الاعراف آية ٣٤ .

بل ځای فرمايي : ﴿ وَلَن يُؤَخِّرَ اللهُ نَفْسًا إِذَا جَآءَ أَجَلُهَا وَاللهُ خَبِيرٌۢ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴾ . المنافقون آية ١١ .

(٣) الانفال آية ٢٨ .

﴿ وَمَآ أَمْوَالُكُمْ وَلَآ أَوْلَادُكُم بِالَّتِي تُقَرِّبُكُمْ عِندَنَا زُلْفَىٰٓ إِلَّا مَنْ ءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحًا فَأُو۟لَٰٓئِكَ لَهُمْ جَزَآءُ ٱلضِّعْفِ بِمَا عَمِلُوا۟ وَهُمْ فِى ٱلْغُرُفَٰتِ ءَامِنُونَ ﴾. (١)

ترجمه : او ستاسو مالونه او ستاسو اولاد داسې ندي چې تاسو مونږ ته په قُربت کې نزدې کړي ، مګر څوک چې ايمان راوړي او نېک عمل اوکړي نو دوی ته به د خپل عمل دوچنده بدله وي ، او دوی به ( د جنت ) په بالا خانو کې په آمن و امان سره وي .

✡ همدا رنګې مال و آولاد ، بيبيانو ، سرو زَرو او سپينو زرو ته د دُنيا د ژوند سامان ويل شوی . (٢)

✡ بعضې خلق جهاد ته ددې د وجې نه ځي چې هغوی وايي : " مونږ د خپل مور ، پلار ، بچو ، بي بي ، خپلوانو او دوستانو جدائي نه شو برداشت کولی ، او د مانه پس به زمونږ د بچو د رزق څه اِنتظام وي ؟ " .

نو دوی ته جواب دادی چې که يو کس سره د خپلو بچو فِکر وي چې د مانه پس به د دوی د رزق څه اِنتظام وي ؟ نو ده ته داويل په کار دي چې د ځانو په باره کې توکّل او اعتماد په الله ﷻ باندې اوکړئ ، ځکه الله تعالی د دوی خالِق دی ، د ټولو مخلوقاتو د رزق ذِمه واري الله ﷻ په خپله اخيستې (٣) د انسان نه بهترينه پالنه الله ﷻ د خپل بنده کوي .

---

(١) السبا آية ٣٧ .

(٢) الله ﷻ فرمايي: ﴿ زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ ٱلشَّهَوَٰتِ مِنَ ٱلنِّسَآءِ وَٱلْبَنِينَ وَٱلْقَنَٰطِيرِ ٱلْمُقَنطَرَةِ مِنَ ٱلذَّهَبِ وَٱلْفِضَّةِ وَٱلْخَيْلِ ٱلْمُسَوَّمَةِ وَٱلْأَنْعَٰمِ وَٱلْحَرْثِ ۗ ذَٰلِكَ مَتَٰعُ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۖ وَٱللَّهُ عِندَهُۥ حُسْنُ ٱلْمَـَٔابِ ﴾. آل عمران آية ١٤ .

په يو بل آيت کې هم همدا مضمون بيان شوی ، الله تعالی فرمايي :﴿ ٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّمَا ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا لَعِبٌ وَلَهْوٌ وَزِينَةٌ وَتَفَاخُرٌۢ بَيْنَكُمْ وَتَكَاثُرٌ فِى ٱلْأَمْوَٰلِ وَٱلْأَوْلَٰدِ ۖ ﴾ . الحديد آية ٢٠ .

(٣) الله تعالی فرمايي : ﴿ وَمَا مِن دَآبَّةٍ فِى ٱلْأَرْضِ إِلَّا عَلَى ٱللَّهِ رِزْقُهَا وَيَعْلَمُ مُسْتَقَرَّهَا وَمُسْتَوْدَعَهَا ۚ كُلٌّ فِى كِتَٰبٍ مُّبِينٍ ﴾. هود آية ٦ .

بل ځای فرمايي ، ﴿ وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِٱلصَّلَوٰةِ وَٱصْطَبِرْ عَلَيْهَا ۖ لَا نَسْـَٔلُكَ رِزْقًا ۖ نَّحْنُ نَرْزُقُكَ ۗ وَٱلْعَٰقِبَةُ لِلتَّقْوَىٰ ﴾ . طه آية ١٣٢ .

✡ بل دا چې د قيامت په ورځ خو د انسان بَدعمله ځوي په کار نه راځي ، الله ﷻ فرمايي :

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُوا۟ رَبَّكُمْ وَٱخْشَوْا۟ يَوْمًا لَّا يَجْزِى وَالِدٌ عَن وَلَدِهِۦ وَلَا مَوْلُودٌ هُوَ جَازٍ عَن وَالِدِهِۦ شَيْـًٔا ۚ إِنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقٌّ ۖ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا وَلَا يَغُرَّنَّكُم بِٱللَّهِ ٱلْغَرُورُ ﴾. (١)

ترجمه : اې خلقو د خپل رب (د عذاب) نه اُووېرېږئ ، او د هغه ورځې نه اُووېرېږئ په کومه ورځ باندې چې به پلار د خپل ځوي په کار نه راځي ، او نه به ځوي د پلار په څه کار راځي ، بيشکه د الله ﷻ وعده حقه ده ، پس د دُنيا ژوند دې تاسو ته دُهوکه درنکړي ، او د الله ﷻ په حقله دې تاسو ته دُهوکه باز شيطان دُهوکه درنکړي .

✡ همدارنګې د قيامت په هغه سخته ورځ کې به انسان د خپل مور پلار ، ځامنو ، بي بي او دوستانو نه تختي . الله تعالی فرمايي :

﴿ فَإِذَا جَآءَتِ ٱلصَّآخَّةُ ۝ يَوْمَ يَفِرُّ ٱلْمَرْءُ مِنْ أَخِيهِ ۝ وَأُمِّهِۦ وَأَبِيهِ ۝ وَصَٰحِبَتِهِۦ وَبَنِيهِ ۝ لِكُلِّ ٱمْرِئٍ مِّنْهُمْ يَوْمَئِذٍ شَأْنٌ يُغْنِيهِ ﴾. (٢)

ترجمه : بيا کله چې (د قيامت) سخت آواز راشي نو په دغه ورځ به سړی د خپل ورور ، خپلې مور ، خپل پلار ، خپلې ښځې او د خپلو ځامنو نه تختي . په دغه ورځ به په دوی کې د هر سړي د پاره داسې يو حال (او فِکر) وي چې دا به يې (د نورو خلقو د پوښتنې نه ) غافله کړې وي .

په يو بل آيت کې ذکر دي : ﴿ ٱلْأَخِلَّآءُ يَوْمَئِذٍۭ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ إِلَّا ٱلْمُتَّقِينَ ﴾ . (٣)

ترجمه : ټول دوستان به په دغه ورځ باندې د يو بل دښمنان وي ، بغير د مُتّقيانو نه .

البته که دده دا ځامن او خپلوان نېکان وي نو که جهاد ته د تللو په وجه دا ورنه اوس جدا

(١) لقمان آية ٣٣ .

(٢) عبس آية ٣٣ تا ٣٧ .

(٣) الزخرف آية ٦٧ .

شي نو د قيامت په ورځ به الله تعالی دا دوی سره په جنت کې یو ځای کړي ، او هلته به همدا دده په کار راشي .

✡ همدا رنګې که دده دا ضامن او خپلوان نېکان نه وي بلکه ګناهګار وي او دا ورنه جهاد ته لاړ شي ، هلته شهيد شي نو بيا یې هم همدې بچو او خپلوانو ته فائده ده ، ځکه شهيد خو به د خپل خاندان د اویا ( ۷۰ ) کسانو شفاعت کوي . نو دده دا جدائي هم د هغوی د پاره ښه شوه .

## د مجاهدينو اوچت مقام

✡ په قرآن کريم کې الله تعالی د مجاهدينو اوچت مقام او اوچتې درجې بيان کړي : ربِ کائنات فرمايي :

﴿ لَا يَسْتَوِى الْقٰعِدُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ غَيْرُ اُولِى الضَّرَرِ وَالْمُجٰهِدُوْنَ فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ ؕ فَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجٰهِدِيْنَ بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ عَلَى الْقٰعِدِيْنَ دَرَجَةً ؕ وَكُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى ؕ وَفَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجٰهِدِيْنَ عَلَى الْقٰعِدِيْنَ اَجْرًا عَظِيْمًا ۙ دَرَجٰتٍ مِّنْهُ وَمَغْفِرَةً وَّرَحْمَةً ؕ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴾ .(۱)

ترجمه : کومو مؤمنانو ته چې څه عُذر نشته او په کور کې ناست دي دا د هغه مجاهدينو سره ( په درجه کې ) برابر ندي کوم چې د الله ﷻ په لاره کې په خپلو مالونو او ځانونو سره جهاد کوي ، ( بلکه ) الله تعالی هغه مجاهدينو ته کوم چې په خپلو مالونو او ځانونو سره جهاد کوي دوی ته یې په ناستو خلقو باندې اوچته درجه ورکړی ، او د هر یو سره یې د نېکۍ ( جنت ) وعده کړيده ، خو بيا هم الله تعالی مجاهدينو ته په ناستو خلقو باندې د ډېر لوي اجر په ذريعه فضيلت ورکړی . ( د هغه اجر تفصيل دادی چې :) د دوی د پاره د الله د طرفه اوچتې درجې ، بخښنه او رحمت دی ، او الله تعالی بخونکې مهربان دی .

✡ الله تعالی د مجاهدينو د پاره د جنت اوچتې درجې مقرر کړي ؛

---

(۱) النساء آية ۹۵ ، ۹۶ .

﴿ اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَهَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ ۙ اَعْظَمُ دَرَجَةً عِنْدَ اللّٰهِ ؕ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ ۝ يُبَشِّرُهُمْ رَبُّهُمْ بِرَحْمَةٍ مِّنْهُ وَرِضْوَانٍ وَّجَنّٰتٍ لَّهُمْ فِيْهَا نَعِيْمٌ مُّقِيْمٌ ۝ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ عِنْدَهٗٓ اَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴾.(١)

ترجمه : كومو خلقو چې ايمان راوړو ، هجرت يې اوكړو ، او د الله ﷻ په لار كې يې په خپلو مالونو او ځانونو سره جهاد اوكړو نو د الله په نزد د دوی ډيره لويه درجه ده ، او همدا خلق كامياب دي . دوی ته د دوی رَب د خپل رحمت ، رَضامَندی او داسې جنت زيرې وركوي چې په هغې كې به دائمي نعمتونه موجود وي ، دا خلق به په هغې كې تل د پاره هميشه اوسيږي ، بيشكه د الله ﷻ سره ډير لوي اَجر دی .

✡ په يو بل آيت كې الله ﷻ د دوی د پاره د جنت وعده ، په دې الفاظو سره كړی :

﴿ اِنَّ اللّٰهَ اشْتَرٰى مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اَنْفُسَهُمْ وَاَمْوَالَهُمْ بِاَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ ﴾.(٢)

ترجمه : بيشكه الله تعالى د مؤمنانو نه د دوی ځانونه او د دوی مالونه اخيستي دي چې د دې په عِوض كې به د دوی د پاره جنت وي .

✡ مجاهدينو د پاره الله تعالى د رحمت او مغفرت زيرې وركړی :

﴿ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۙ اُولٰٓئِكَ يَرْجُوْنَ رَحْمَتَ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴾.(٣)

ترجمه : بيشكه چا چې ايمان راوړو ، هجرت يې اوكړو ، او د الله په لاره كې يې جهاد اوكړو هم هغوی د الله د رحمت اُميد لري ، او الله بخونكې مهربان دی .

✡ مجاهدينو ته الله ﷻ ريښتوني مؤمنان ويلي ، او د دوی سره يې د مغفرت او بهترين رِزق وعده كړی ، الله تعالى فرمايي :

---

(١) التوبة آية ٢٠ تا ٢٢ .

(٢) التوبة آية ١١١ .

(٣) البقرة آية ٢١٨ .

﴿ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَهَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَالَّذِيْنَ اٰوَوْا وَّنَصَرُوْٓا اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ حَقًّا ۚ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ كَرِيْمٌ ﴾.(١)

ترجمه: چا چې ايمان راوړو، هجرت يې اوکړو، د الله په لاره کې يې جهاد اوکړ، او چا چې دې مجاهدينو ته ځای ورکړو او د دوی مدد يې اوکړو نو هم دوی (تول) رښتيني مؤمنان دي، د دوی د پاره بخنه او د عزت رزق دی.

✡ که مجاهد شهيد شي، يا کامياب شي نو په دې هر صورت کې الله ﷻ ورسره د لوي اجر وعده کړې، پروردګارِ عالَم فرمايي:

﴿ وَمَنْ يُّقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَيُقْتَلْ اَوْ يَغْلِبْ فَسَوْفَ نُؤْتِيْهِ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴾.(٢)

ترجمه: او څوک چې د الله ﷻ په لار کې جنګ (يعنې جهاد) کوي بيا دې شهيد شي يا غالب راشي پس مونږ به ډيرزر ده ته ډير لوي اَجر ورکړو.

## د شهيد مقام

✡ د الله ﷻ په نزد د شهيدانو ډير لوي مقام دی، په قرآن مجيد کې شهيدانو ته ژوندي ويل شوي. الله تعالی فرمايي:

﴿ وَلَا تَقُوْلُوْا لِمَنْ يُّقْتَلُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَمْوَاتٌ ۚ بَلْ اَحْيَآءٌ وَّلٰكِنْ لَّا تَشْعُرُوْنَ ﴾.(٣)

ترجمه: او کوم خلق چې د الله په لار کې شهيدان شي تاسو هغوی ته مړه مه وايئ، بلکه هغوی (په حقيقت کې په يو مُمتاز ژوند سره) ژوندي دي، ليکن تاسو پرې نه پوهيږئ.

✡ شهيدان ژوندي دي، دوی ته رزق ورکولې شي، الله تعالی فرمايي:

﴿ وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ قُتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَمْوَاتًا ۚ بَلْ اَحْيَآءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُوْنَ ۝ فَرِحِيْنَ

---

(١) الانفال آية ٧٤.

(٢) النساء آية ٧٤.

(٣) البقرة آية ١٥٤.

بِمَآ اٰتٰهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ ۙ وَيَسْتَبْشِرُوْنَ بِالَّذِيْنَ لَمْ يَلْحَقُوْا بِهِمْ مِّنْ خَلْفِهِمْ ۙ اَلَّا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ۝ يَسْتَبْشِرُوْنَ بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ وَفَضْلٍ ۙ وَّاَنَّ اللّٰهَ لَا يُضِيْعُ اَجْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴾.(١)

ترجمه: او كوم خلق چې د الله ﷻ په لار كې شهيدان شوي په هغوى باندې د مړو گمان مه كوه، بلكه هغوى د خپل رَب سره ژوندي دي، هغوى ته رزق وركولې شي، الله تعالى چې په خپل فضل سره هغوى ته څه وركړي دي په هغې باندې خوشحاله دي، او دوى په هغه خلقو باندې خوشحاليږي كوم چې تر اوسه د دوى سره ( په عالَمِ بَرزَخ كې ) ندي يو ځاى شوي، شاته ( په دُنيا كې ) پاتې دي، چې په دوى ( شاته پاتې شوو خلقو ) باندې به ( په دُنيا كې ) نه څه ويره وي، او نه به ( په آخرت كې ) دوى غمژن شي (٢) او دا شهيدان د الله ﷻ په اِنعام او فضل باندې خوشحاليږي، او په دې خبره ( هم خوشحاليږي ) چې الله تعالى د مؤمنانو اجر نه ضائع كوي.

✡ د شهيد د پاره په قرآن كريم كې د گناهونو د مغفرت او رحمت وعده شوې :

﴿ وَلَئِنْ قُتِلْتُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَوْ مُتُّمْ لَمَغْفِرَةٌ مِّنَ اللّٰهِ وَرَحْمَةٌ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ ﴾.(٣)

ترجمه: او كه چيرته تاسو د الله په لار كې اُووژلې شئ يا مړه شئ نو د الله د طرفه مغفرت او رحمت د هغه څه (يعنى مال و دولت) نه ډير ښه دى كوم چې دوى جَمع كوي.

په بل آيت كې ذكر دي، الله تعالى فرمايي :

﴿ فَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا وَاُخْرِجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ وَاُوْذُوْا فِيْ سَبِيْلِيْ وَقٰتَلُوْا وَقُتِلُوْا لَاُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ وَلَاُدْخِلَنَّهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ﴾.(٤)

---

(١) آل عمران آية ١٦٩ تا ١٧١.

(٢) يعنى دا شهيدان د دوى په أمن او خوشحالى باندې خوشحاليږي، او دوى ته پته وي چې كه دوى هم په جهاد كې شهيدان شي نو دوى ته به هم همدا عزتونه ملاويږي نو ځكه خوشحاليږي.

(٣) آل عمران آية ١٥٧.

(٤) آل عمران آية ١٩٥.

ترجمه: پس کومو خلقو چې هجرت اوکړو، د خپلو کورونو نه اوويستلې شو، دوی ته زما په لار کې تکليف ورکړې شو، جهاد يې اوکړو او دوی اووژلې شو (يعنی شهيدان شو) نو زه به خامخا د هغوی ګناهونه ختم کړم، او داسې جنتونو کې به يې داخل کړم چې د هغې (د اونو) نه لاندې به نهرونه بهيږي.

## حلال کسب کول

په انسان باندې الله تعالی د نورو بندګانو (بچو، بي بي وغيره) حقوق مقرر کړي، د دې د پاره دا ضروري ده چې انسان حلال کسب اوکړي او په جائزې طريقې سره مال و دولت پيدا کړي او په ده باندې چې د کوم بندګانو حقوق دي هغه په صحيح طريقې سره پوره کړي.

✡ الله رب العزت د حلال کسب په باره کې حکم کړی:

﴿ فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلٰوةُ فَانْتَشِرُوْا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوْا مِنْ فَضْلِ اللهِ وَاذْكُرُوا اللهَ كَثِيْرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴾. (١)

ترجمه: پس هر کله چې (د جُمعې) مونځ پوره اَدا شي نو په زمکه کې خوَاره شئ، او د الله ﷻ فضَل (يعنی حلال رِزق) اُولټوئ.

✡ همدارنګې الله رب العزت د ورځې رُوزي ګټل په طور د اِحسان ذکر کړی، فرمايي: ﴿ وَجَعَلْنَا النَّهَارَ مَعَاشًا ﴾. (٢)

ترجمه: او مونږ دا ورځ ذريعه د معاش ګرځونې (چې په دې کې تاسو حلاله روزي ګټئ).

✡ اَنبياء کرامو عليهم السلام به عبادت هم کولو، دَعوت و تبليغ به يې هم کولو، او ورسره ورسره به يې د حلال رزق پيدا کولو د پاره محنت او کوشش هم کولو.

✡ د طوفانِ نُوح نه د بَچ کيدلو د پاره الله ﷻ حضرت نوح عليه السلام ته د کِشتۍ جوړولو حکم اوکړو:

(١) الجمعة آية ١٠.

(٢) النبأ آية ١١.

﴿ وَاصْنَعِ الْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا ﴾ . (١)

ترجمه : او ته جوړه کړه کِشتۍ زمونږ په نِګرانۍ کې ، او زمونږ په حُکم سره (يعنى زمونږ د وَحي مطابق) .

✡ د اُوسپنې زغرې جوړولو چَل د ټولو نه اول حضرت داؤد عليه السلام ته د وَحي په ذريعه خودلې شوې وُ : الله رب العزت فرمايي :

﴿ وَعَلَّمْنَٰهُ صَنْعَةَ لَبُوسٍ لَّكُمْ لِتُحْصِنَكُم مِّنۢ بَأْسِكُمْ فَهَلْ أَنتُمْ شَٰكِرُونَ ﴾. (٢)

ترجمه : او مونږ حضرت داؤد عليه السلام ته د زغرو جوړولو چَل ستاسو د فائدې د پاره خودلې وُ ، چې دا تاسو په جنګ کې ( د تُورې د ګوزار او نقصان نه) بچ کړي ، پس آيا تاسو شکر کوونکي يئ ؟

په دې آيت کې الله ﷻ د زغرې جوړولو دا چَل خودل د اِنعام په طور ذکر کړی ، او په دې باندې يې د شکرې اداء کولو تلقين کړی .

په "سورة سبأ" کې ددې زغرې جوړولو تفصيل الله ﷻ داسې بيان کړی :

﴿ وَأَلَنَّا لَهُ الْحَدِيدَ . أَنِ اعْمَلْ سَٰبِغَٰتٍ وَقَدِّرْ فِي السَّرْدِ ﴾ . (٣)

ترجمه : او مونږ حضرت داؤد عليه السلام ته اُوسپنه نرمه کړه ( او حکم مو ورته اوکړو ) چې ته پوره پوره زغرې جوړوه ، او ددې د کړۍ په جوړولو کې اَندازه ساته ( يعنى ددې کړۍ په مناسب اندازې سره جوړوه ، چې ټولې يو شان وي) .

## د حلال خوراک اَهميت

✡ د قرآن کريم په ډيرو ځايونو کې د حلال خوراک اَهميت بيان شوی ، او انسانانو ته بيا خاصکر مؤمنانو ته د حلال او پاکيزه څيزونو د خوړلو حکم شوی .

الله رب العزت فرمايي :

(١) هود آية ٣٧ .

(٢) الأنبياء آية ٨٠ .

(٣) سورة سبأ آية ١٠ ، ١١ .

﴿ يَا أَيُّهَا النَّاسُ كُلُوا مِمَّا فِي الْأَرْضِ حَلَالًا طَيِّبًا وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُبِينٌ ﴾. (١)

ترجمه: اې خلقو! په زمکه کې چې کوم حلال پاکيزه شيان دي تاسو هغه خورئ، او د شيطان د قدمونو پيروي مه کوئ، بيشکه هغه خو ستاسو د پاره ښکاره دُښمن دی.

بل ځای الله جل جلاله فرمايي:

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِن طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ وَاشْكُرُوا لِلَّهِ إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ ﴾.(٢)

ترجمه: اې د ايمان خاوندانو! تاسو خورئ د هغه پاکيزه شيانو نه کوم چې مونږ تاسو ته درکړي دي، او د الله ﷻ شکريه اداء کوئ که چيرته تاسو (په ريښتيا) صِرف د هغه عبادت کوی.

✡ د حلال خوراک د اَهميت اَندازه تاسو ددې نه هم معلومولې شئ چې د مخکيني ټولو پيغمبرانو په دِينونو کې هم د حلال خوراک کولو حکم وُ، او هر پيغمبر ته د حلال خوراک او په ښو کارونو باندې د هميش والي تاکيد کړې شوې وُ، الله رب العزت فرمايي:

﴿ يَا أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ ﴾. (٣)

ترجمه: اې رسولانو! تاسو پاکيزه (او حلال) څيزونه خورئ، او (هميشه) نيک عملونه کوئ، بيشکه زه په هغه کارونو باندې ښه خبر يم کوم چې تاسو کوی.

✡ په دې کې هيڅ شک و شُبه نشته چې د رِزق معامله صرف د الله ﷻ په قدرت کې ده، او ټولو مخلوقاتو ته رِزق ورکوونکی الله ﷻ دی. الله تعالى فرمايي:

---

(١) البقرة آية ١٦٨.

(٢) البقرة آية ١٧٢.

په سورة النحل کې هم همدا مضمون ذکر دی، الله تعالى فرمايي: ﴿ فَكُلُوا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللَّهُ حَلَالًا طَيِّبًا وَاشْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ ﴾. النحل آية ١١٤.

بل ځای الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَكُلُوا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللَّهُ حَلَالًا طَيِّبًا وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي أَنتُم بِهِ مُؤْمِنُونَ ﴾. المائده آية ٨٨.

(٣) المؤمنون آية ٥١.

﴿وَمَا مِن دَآبَّةٍ فِي الْأَرْضِ إِلَّا عَلَى اللَّهِ رِزْقُهَا﴾ . (١)

ترجمه: او په مخ د زمکه باندې داسې هيڅ ساه لرونکې جاندار نشته مګر د هغې ټولو رِزق په الله ﷻ باندې دی.

په سورة الذّاريات کې ذکر دي الله تعالى فرمايي:

﴿وَفِي السَّمَآءِ رِزْقُكُمْ وَمَا تُوعَدُونَ﴾ . (٢)

ترجمه: او په آسمان کې ستاسو رِزق دی، او هغه څه هم چې د تاسو سره يې وعده کولې شي.

✡ الله ﷻ چې چاته اوغواړي نو رزق ورله فراخه کړي، او چاته چې اوغواړي نو رِزق ورله تنګ کړي:

﴿أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّ اللَّهَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقْدِرُ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَٰتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ﴾ . (٣)

ترجمه: آيا دوی نه دي کتلي چې الله تعالى چاته اوغواړي هغه ته رزق فراخه کوي، او چاته يې (چې اوغواړي نو هغه ته رِزق) تنګوي، بيشکه په دې کې نخې د عِبرت دي د هغه قوم د پاره چې هغوی ايمان لري.

✡ چې څوک د الله ويريږي نو الله تعالى به ده ته د داسې ځای نه رزق ورکوي چې دده به پرې ګمان هم نه وي. الله تعالى فرمايي:

﴿وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مَخْرَجًا ۝ وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ ۚ وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ ۚ إِنَّ اللَّهَ بَالِغُ أَمْرِهِۦ ۚ قَدْ جَعَلَ اللَّهُ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْرًا﴾ . (٤)

---

(١) هود آية ٦.

(٢) الذاريات آية ٢٢.

(٣) الروم آية ٣٧.

همدا مضمون د قرآن کريم په نورو ډيرو آيتونو کې هم ذکر دی، الله تعالى فرمايي: ﴿إِنَّ رَبَّكَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقْدِرُ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ بِعِبَادِهِۦ خَبِيرًۢا بَصِيرًا﴾ . سورة بني اسرائيل (الاسراء) آية ٣٠.

(٤) الطلاق آية ٢، ٣.

ترجمه : او څوک چې د الله نه ویریږي نو الله به دده د پاره (د هر مشکل نه) د خلاصي لاره جوړه کړي ، او ده ته به د داسې ځای نه رزق ورکړي چې دده به پرې ګمان هم نه وي ، او څوک چې په الله باندې توکّل کوي نو همدا الله یواځې دده د پاره کافي دی . بیشکه الله خپل حکم لره (په هر حال کې) پوره کوونکی دی ، بیشکه الله تعالی د هر شي د پاره یوه اندازه مقرر کړې ده .

## د حرام خوراک نه ځان ساتل

✡ الله رب العزت انسان د حرام خوراک نه منع کړی :

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَأْكُلُوٓاْ أَمْوَٰلَكُم بَيْنَكُم بِٱلْبَٰطِلِ إِلَّآ أَن تَكُونَ تِجَٰرَةً عَن تَرَاضٍ مِّنكُمْ وَلَا تَقْتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمْ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا ﴾ . (١)

ترجمه : اې د ایمان خاوندانو ! تاسو په خپل مینځ کې د یو بل مالونه په ناحقه مه خورئ مګر دا چې ستاسو په خپل مینځ کې په رَضامندۍ سره (حلال) تجارت وي (نو بیا خبر دی) ، او په خپل مینځ کې یو بل مه وژنئ ، بیشکه الله تعالی په تاسو باندې ډیر رَحم کوونکی دی .

✡ په وروستي آیت کې الله ﷻ په باطلې (او حرامې) طریقې سره د یو بل مال خوړونکو د پاره د جهنم سخته سزا هم مقرر کړې . الله تعالی فرمايي :

﴿ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ عُدْوَٰنًا وَظُلْمًا فَسَوْفَ نُصْلِيهِ نَارًا ۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرًا ﴾ . (٢)

ترجمه : او څوک چې دا کارونه په سرکشۍ او ظلم سره کوي نو ډیر زر به مونږ دغه کس (د جهنم) اُور ته داخل کړو ، او دا کار الله ﷻ ته آسان (هم) دی .

## د سُود نه ځان ساتل

الله رب العزت په بعضې طریقو سره د مال ګټلو نه منع فرمايلې ده ، په دې کې سُود هم دی ، سُود ګناه کبیره ده ، او ددې په باره کې داسې سخت سخت وعیدونه راغلي چې هغه د

(١) النساء آية ٢٩ .

(٢) النساء آية ٣٠ .

بلې گناه په باره کې ندي راغلي .

✡ په قرآن کريم کې د سُود د ممانعت سره سره سُود خور ته اِعلانِ جنگ هم شوی ، الله تعالى فرمايي :

﴿ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَذَرُوا مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبَا إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ۞ فَإِنْ لَمْ تَفْعَلُوا فَأْذَنُوا بِحَرْبٍ مِنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ ﴾. (١)

ترجمه : اې مؤمنانو ! تاسو د الله ﷻ نه اُووېرېږئ ، او باقي پاتې سُود پرېږدئ که چيرته تاسو رښتيني مؤمنان يئ ، پس که چيرته تاسو دا کار او نکړو (يعنی د سوُد نه منع نه شوئ ) نو بيا د الله او رسول سره جنگ کولو ته تيار شئ ( يعنی د الله ﷻ او د رسول ﷺ د طرفه اعلانِ جنگ واورئ ).

په دې آيت کې سُود خوَرونکو ته د الله او د رسول د طرفه اعلانِ جنگ شوی ، دا دومره سخت وعيد دی چې په قرآن کريم کې د کفر نه پس د بلې يوې گناه د پاره هم داسې سخت وعيد ندې ذکر شوی څومره چې ددې سُود خوَرونکو د پاره ذکر شوی، او دا خبره هر چاته معلومه ده چې د چا خلاف الله ﷻ او رسول ﷺ اعلانِ جنگ اوکړي نو داسې کس به په دُنيا او آخرت دواړو کې بَدبخته ، ذليله او تباه وي ، ددې نه معلومه شوه چې سُودخوري غټه گناه او سخت جُرم دی .

✡ د قيامت په ورځ به د سُود خوَرو اَنجام ډير بَد وي ، الله رب العزت د سُود خوَرو په باره کې فرمايي :

﴿ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ الرِّبَا لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ الَّذِي يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطَانُ مِنَ الْمَسِّ ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا إِنَّمَا الْبَيْعُ مِثْلُ الرِّبَا وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا ﴾. (٢)

ترجمه : کوم خلق چې سُود خوري دوی به ( د قيامت په ورځ د خپلو قبرونو نه ) نه راپاڅي

---

(١) البقرة آية ٢٧٨ ، ٢٧٩ .

(٢) البقرة آية ٢٧٥ .

مګر د هغه کس په شان به راپاڅي چې هغه شیطان په لاس لړولو سره لیوني کړې وي ، دا سزا به يې ځکه وي چې دوی به ( د سُود حلالیدو په دلیل کې په دُنیا کې ) ویل : چې بَیع (سَوداګري) هم د سُود په شان ده ( يعنی لکه څرنګې چې سَوداګري او تجارت حلال دی نو همداسې دې سُود هم حلال شي ) ، حالانکه ( په تِجارت او سَوداګری کې ډیر غټ فرق دی ځکه) الله تعالی تجارت حلال کړې دی او سُود يې حرام کړې دی.

په دې آیت کې الله ﷻ د سُود خوَرو سزا دا ذکر کړی چې : کله دوی د قیامت په ورځ د قبرونو نه راپاڅي نو د هغه کس په شان به راپاڅي چې هغه د شیطاني آثر په وجه لیوني شوې وي ، او د لیونو په شان حرکتونه کوي ، چې ددې په وجه به ټول اهلِ مَحشر واله دا پیژني چې دا سُود خُوردی ، نو د غتې رَسوایی او ذِلت سره به مخامخ شي.

✡ د سُود مال اګر چې ډیر زیات وي خو ددې اَنجام ډیر خراب وي ، ځکه آخِر هم الله ﷻ دا ختموي ، البته د صدقې په وجه د انسان په مال کې زیادت او برکت راځي.

الله تعالی فرمایي :

﴿ يَمْحَقُ اللَّهُ الرِّبَا وَيُرْبِي الصَّدَقَاتِ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ أَثِيمٍ ﴾ . (١)

ترجمه : الله تعالی سُود ختموي (بَربادوي) ، او صدقې زیاتوي ، او الله تعالی هر ناشکره ګناهګار نه خوَښوي.

## د انسان په ذِمه حقوقُ العباد

د انسان په ذِمه باندې الله تعالی حقوقُ العباد هم مقرر کړي چې د هغې پوره کول لازمي دي ، حقوقُ العباد هم د دِین آهمه حصه ده ، په قرآن کریم کې ددې ډیر آهمیت بیان شوی.

**د والدینو حقوق :** په حقوق العبادو کې د ټولو نه رومبې او آهم حق د مور او پلار دی ، دغه وجه ده چې کله هم په قرآن کریم کې الله تعالی د حقوق العبادو تذکره کړی نو د ټولو نه اول يې د مور او پلار سره د احسان او نیکۍ کولو حکم کړې دی.

✡ بیا د والدینو خدمت او تابعداري د څه مخصوص حالت یا عُمر سره خاص نه ده بلکه په

---

(١) البقرة آية ٢٧٦.

هر حالت کې د هغوی سره احسان او ښیګړه په کار ده ، خو بیا هم قرآن کریم انسان ته د والدینو د بوډا توب په حالت کې یو څو تاکیدي حکمونه بیان کړي، ځکه د بوډا والي په حالت کې والدین یو خوږ خدمت زیات محتاج شي ، بل یې طبعیت هم نازک شي ، او بل عقل و فکر یې هم پوره کار نه کوي ، نو ځکه الله رب العزت د دوی د کمزوری په حالت کې انسان ته څه خاص حکمونه ذکر کړي. الله جل جلاله د خپل عبادت نه روستو د والدینو سره د احسان حکم فرمایلې دی :

﴿ وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوٓا۟ إِلَّآ إِيَّاهُ وَبِٱلْوَٰلِدَيْنِ إِحْسَـٰنًا ۚ إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِندَكَ ٱلْكِبَرَ أَحَدُهُمَآ أَوْ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُل لَّهُمَآ أُفٍّ وَلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُل لَّهُمَا قَوْلًا كَرِيمًا ۝ وَٱخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ ٱلذُّلِّ مِنَ ٱلرَّحْمَةِ وَقُل رَّبِّ ٱرْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِى صَغِيرًا ﴾. (١)

ترجمه : او ستا رب دا (قطعي) حکم کړی چې بې د هغه (الله ﷻ) نه د بل هیچا عبادت مه کوئ ، او د مور او پلار سره احسان (ښیګړه او ښه سلوک) کوئ. که چیرته په دوی کې یو یا دواړه تا سره د بوډاولي حالت ته اورسي (یعنی ستا په ژوند کې دوی دواړه یا یو د بوډاوالي حالت ته اورسي) نو دوی ته اُف هم مه وایه ، دوی مه رټه ، او د دوی سره په نرمۍ خبرې کوه. او ښکته کړه د دوی د پاره مټې د عاجزۍ له مهربانۍ نه. (یعنی د دوی په وړاندې په مینه محبت او عاجزۍ سره ټیټ اوسیږه )، او (د الله ﷻ نه د دوی د پاره دُعا غواړه او داسې) وایه : چې اې ربه ! په دې دواړو رحم اوکړه لکه څرنګ چې دوی په وړوکوالي زما پالنه کړې ده.

په مذکوره آیت کې د والدینو سره د احسان حکم شوی ، او ورسره ورسره دوی ته د اُف ویلو یا د هرې داسې خبرې او کار کولو ممانعت بیان شوی چې په هغې سره والدینو ته تکلیف رسیږي ، که هغه کنځل کول وي ، یا سَتَغې سپورې خبرې کول وي ، یا وهل او رټل وي ، داټول منع دي.

✡ د والدینو د حقوقو اهمیت د دینه هم معلومیږي چې که چیرته د یو انسان مور او پلار مسلمانان نه وي بلکه کافر وي نو بیا هم الله جل جلاله انسان ته د دوی سره په دُنیوي ژوند کې د ښه سلوک حکم کړی.

(١) الاسراء آية ٢٣، ٢٤.

البته که هغوی دې بچي ته د اسلام نه د اوړيدو يا د شريعت خلاف حکم کوي نو په دې کي د دوی تابعداري ضروري نه ده . الله تعالی فرمايي :

﴿ وَ إِنْ جَاهَدَاكَ عَلَىٰ أَنْ تُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفًا ﴾ .(۱)

ترجمه : او که چيرته دوی کوشش کوي په تا باندي چي د ما سره داسي شی شريک مقرر کړه چي تاته په هغې باندي علم نه وي نو د دوی خبره مه منه ، او د دوی سره په دُنيا کي په ښې طريقې سره تعلق ساته (او ښه سلوک ورسره کوه) .

✡ بيا خاصکر مور د بچي سره ډير تکليفونه برداشت کوي ځکه مور يو خو نهه ،يا لس مياشتې د حمل بوج اوچتوي ، دويم د وِلادت تکليف برداشت کوي ، او دريم د شودو (سينې) ورکولو بوج اوچتوي ، نو ځکه په خصوصيت سره ددې د حق ذکر شوی ، او الله تعالی د خپل شکر اداء کولو نه روستو د مور او پلار د شکريې اداء کولو حکم کړی .

﴿ وَوَصَّيْنَا الْإِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ حَمَلَتْهُ أُمُّهُ وَهْنًا عَلَىٰ وَهْنٍ وَفِصَالُهُ فِي عَامَيْنِ أَنِ اشْكُرْ لِي وَلِوَالِدَيْكَ إِلَيَّ الْمَصِيرُ ﴾ . (۲)

ترجمه : مونږ انسان ته دده د مور او پلار په حقله په تاکيد سره حکم کړی (چي د دوی فرمانبرداري او خدمت کوه ، د دوی شکريه اداء کوه ، ځکه دوی د بچي سره ډير تکليفونه برداشت کوي ، بيا خاصکر مور خو ډير تکليفونه برداشت کوي ځکه چي) دده مور دا ضُعف دَر ضُعف (يعنی په ډير کمزوری سره) په ګيډه کي پورته کړی (ځکه د حمل غټيدو په وجه د حاملې ښځې کمزوري ورځ په ورځ زياتيږي) او بيا په دوه کاله کي دا د " تِي " نه پريکولې شي (چي په دې ورځو کي هم مور ډير تکليف برداشت کوي او د ماشوم خدمت

(۱) لقمان آية ۱۵.

بل ځای فرمايي : ﴿ وَ وَصَّيْنَا الْإِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ حُسْنًا وَإِنْ جَاهَدَاكَ لِتُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا إِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ فَأُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ﴾. العنكبوت اية ۸ .

(۲) سورة لقمان آية ۱۴ .

کوي :نو چونکه والدين ډير تکليفونه برداشت کوي نو ځکه الله ﷻ فرمايي چې ما په ډير تاکيد سره انسان ته دا حکم کړې چې ) ته زما شکريه اداء کوه او د خپل مور او پلار شکريه اداء کوه ، ماطرف ته ستاسو راتلل دي .

په مذکوره آيت کې الله تعالى د خپل شکر اداء کولو نه روستو د مور او پلار د شکريې اداء کولو حکم کړى .

## د عامو مسلمانانو حقوق

✡ ټول مسلمانان په خپل مينځ کې سره ورونه دي :

الله تعالى فرمايي : ﴿ إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ ﴾ .(١)

ترجمه : بيشکه مؤمنان ( د يو بل ) ورونړه دي .

✡ ژبه صرف د بيان ذريعه ده ، او قوميت صرف د پيژندلو ذريعه ده ، ددې په وجه به مسلمانانو په خپل مينځ کې نه بې اتفاقه کيږي . الله تعالى فرمايي :

﴿ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَىٰ وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا ۚ إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ ﴾ .(٢)

ترجمه : اې خلقو ! مونږ تاسو د يو سړي ( حضرت آدم عليه السلام ) او يوې ښځې ( حضرت حواء رضي الله عنها ) نه پيدا کړي يئ ، او مونږ ستاسو مختلف قومونه او قبيلې جوړې کړې دي ددې د پاره چې تاسو يو بل اُوپيژنئ ، بيشکه په تاسو کې ډير مُعزّز د الله ﷻ په نزد باندې هغه کس دى چې هغه په تاسو کې ډير مُتّقي ( پرهيزګار ) وي .

ددې آيت نه معلومه شوه چې د خلقو مختلف قومونه او مختلف قبيلې جوړيدلو اصل مقصد تعارُف دى ، يعنى چې دا خلق په دې سره يو بل اُوپيژني چې "دا د فلانکي قوم او فلانکي قبيلې دى " . خاندانونه او قبيلې د فخر او شرافت ذريعه نده ، بلکه د شرافت ذريعه تقوىٰ ده ، په دا کې چې څومره ډيره تقوىٰ وى همدومره به دا د الله ﷻ په نزد ډير

(١) الحجرات آية ١٠ .

(٢) الحجرات آية ١٣

مُعزّز وي.

لهذا که يو کس پښتون وي، فارسيوان وي، پنجابي وي، يا د بلې ژبې واله وي خو چې مسلمان وي نو دا ټول په خپل مينځ کې سره ورونه دي.

✡ د ير خلق بعضې ژبو ته او بعضې تور رَنګه خلقو ته سپک کوري او خندا ورپوري کوي، حالانکه ژبو ته سپک کتل، يا بعضې تور رَنګه قومونو واله خلقو ته سپک کتلو کې د کُفر خطره ده. ځکه دا مختلف ژبې او مختلف رنګونو واله خلق الله تعالى پيدا کړي دي، او دا يې د خپل معرفت ذريعه ګرځولې ده، چې ددې په ذريعه به خلق الله ﷻ اوپيژني. الله تعالى فرمايي:

﴿ وَمِنْ اٰيٰتِهٖ خَلْقُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَاخْتِلَافُ اَلْسِنَتِكُمْ وَاَلْوَانِكُمْ ۚ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّلْعٰلِمِيْنَ ﴾. (١)

ترجمه: او د الله د نخو نه د آسمانونو او زمکې پيدا کول، او ستاسو د ژبو او رَنګونو اختلاف هم دی، بيشکه په دې کې د پوهه خلقو د پاره نخې (او دليلونه) دي.

لهذا د چا د ژبې پورې خندا کول، يا د چا د رَنګ پورې خندا کول ګويا د الله ﷻ د نخو سپکاوې کول دي، او دا سخته ګناه ده، بلکه د الله ﷻ د نخو نه انکار کول خو کُفر دی.

✡ بل دا چې رسولُ الله صلى الله عليه وسلم خو تر قيامته پورې راتلونکو ټولو قومونو او ټولو انسانانو د پاره پيغمبر دی.

الله ﷻ نبي عليه السلام ته فرمايي: ﴿ وَاَرْسَلْنٰكَ لِلنَّاسِ رَسُوْلًا ﴾. (٢)

ترجمه: او (اې پيغمبره!) مونږ ته د ټولو خلقو د پاره رسول راليږلې يې.

بل ځای فرمايي:

﴿ وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا كَآفَّةً لِّلنَّاسِ بَشِيْرًا وَّنَذِيْرًا وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴾. (٣)

---

(١) الروم آية ٢٢.
(٢) النساء آية ٧٩.
(٣) سبأ آية ٢٨.

ترجمه: او ( اې پيغمبره ! ) مونږ ته د ټولو خلقو د پاره ( د جنت ) زيرې ورکوونکی او ( د جهنم نه ) ويروونکې راليږلې يې، ليکن اکثر خلق نه پوهيږي.

اوس که د هرې ژبې، واله کس ايمان راوړي نو هغه به ضرور هماغه د خپل قوم ژبه وايي، لهذا چاته د ژبې يا رَنګ په وجه سپک کتل ندي په کار.

✡ همدا رنګې مسلمانان به په يو بل پورې ټوقې نه کوي، د يو بل عيبونه به نه بيانوي، او يو بل ته به غلط نومونه نه آخلي. الله تعالى فرمايي:

﴿ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِنْ قَوْمٍ عَسَى أَنْ يَكُونُوا خَيْرًا مِنْهُمْ وَلَا نِسَاءٌ مِنْ نِسَاءٍ عَسَى أَنْ يَكُنَّ خَيْرًا مِنْهُنَّ وَلَا تَلْمِزُوا أَنْفُسَكُمْ وَلَا تَنَابَزُوا بِالْأَلْقَابِ بِئْسَ الِاسْمُ الْفُسُوقُ بَعْدَ الْإِيمَانِ وَمَنْ لَمْ يَتُبْ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ ﴾.(١)

ترجمه: اې ايمان والو! يو قوم دې د بل قوم پورې ټوقې نه کوي، ممکنه ده چې هغوی د دوی نه بهتر وي، او نه ښځې دې د (نورو) ښځو پورې ټوقې کوي، ممکنه ده چې هغوی د دوی نه بهترې وي، او په يو بل باندې عيب مه لږوئ، او مه يو بل په بدو لقبونو رابلئ (يعنې يو بل ته خراب نومونه مه اخلئ)، د ايمان راوړو نه روستو (چا پورې) د فاسقۍ (او ګناه) نوم لږول بَد دي، او څوک چې توبه او نه باسي نو همدا خلق ظالمان دي.

✡ همدا رنګې مسلمانان به په يو بل باندې بدګمانې نه کوي، او د يو بل جاسوسي به نه کوي، الله تعالى فرمايي:

﴿ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيرًا مِنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ وَلَا تَجَسَّسُوا ﴾.(٢)

ترجمه: اې مومنانو! تاسو ځانونه اوساتئ د ډيرو بدو ګمانونو نه، بيشکه بعضې ګمان ګناه وي، او جاسوسي مه کوئ (يعنې د چا پټ راز مه معلوموئ).

✡ سړي او ښځې به د خپلو نظرونو حفاظت کوي، کومو ځايونو ته چې الله ربّ العزت د کتلو نه منع کړې د هغې نه به سترګې ښکته ساتي (يعنې خپل نظرونو به غلط نه

(١) الحجرات آية ١١.

(٢) الحجرات آية ١٢.

استعمالوي )، الله تعالی فرمايي :

﴿ قُلْ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ يَغُضُّوْا مِنْ اَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوْا فُرُوْجَهُمْ ذٰلِكَ اَزْكٰى لَهُمْ اِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌۢ بِمَا يَصْنَعُوْنَ ۝ وَقُلْ لِّلْمُؤْمِنٰتِ يَغْضُضْنَ مِنْ اَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوْجَهُنَّ ﴾ (١)

ترجمه : ( اې پيغمبره ) ته دې مومنانو سړو ته ووايه چې دوی دې خپلې سترګې ټيټې (ښکته) ساتي ، او د خپلو شرمګاهو حفاظت دې کوي ، دا د دوی د پاره ډيره پاکيزه (او بهتره) ده ، بيشکه الله خبردار دی په هغه څه چې دوی يې کوي . او مومنانو ښځوته ووايه چې دوی دې (هم) خپلې سترګې ښکته ساتي ، او د خپلو شرمګاهو حفاظت دې کوي .

## د ګناهونو نه ځان ساتل

✡ په قرآن کريم کې ځای په ځای انسانان دګناهونو نه منع شوي ، د انسان د پاره په دُنيا کې د ټولو نه زيات ضرر ناک څيز ګناهونه کول دي . وجه داده : چې د دنيا نور ضرري شيان اګر چې نقصاني دي ، خو دهغوی نقصان عارضي دی ، يا به په خپله ختم شي ، يا به په څه دوائي سره ختم شي ، يا زيات نه زيات په مرګ سره خو به دهغه تکليف نه خامخا نجات او مومي (او د مرګ نه خو انکار نشي کيدی) .

خو ليکن د ګناهونو چې کوم نقصانات دي ، هغه نه ختميدونکي نقصانات دي ، په دُنيا کې هم انسان ته د ګناهونو نقصان رسيږي ، او په آخرت کې خو به په طريقِ اولیٰ سره انسان ته د دې جزاء رسيږي ، الله تعالی فرمايي :

﴿ وَذَرُوْا ظَاهِرَ الْاِثْمِ وَبَاطِنَهٗ اِنَّ الَّذِيْنَ يَكْسِبُوْنَ الْاِثْمَ سَيُجْزَوْنَ بِمَا كَانُوْا يَقْتَرِفُوْنَ ﴾ . (٢)

ترجمه : تاسو ښکاره او پټه ګناه پريږدئ (يعنی هر قسمه ګناهونه پريږدئ ) ، بيشکه کوم خلق چې ګناهونه کوي ډير زر به دوی ته د هغه عملونو بدله ورکړې شي کوم چې دوی کول .

✡ الله رب العزت يو قانون بيان کړی :

---

(١) النور آية ٣٠، ٣١ .

(٢) الانعام آية ١٢٠ .

﴿ مَنْ يَّعْمَلْ سُوْٓءًا يُّجْزَ بِهٖ ﴾. (۱)

ترجمه : څوک چې بَد کار اوکړي ( او توبه ورنه اونه باسي ) نو ده ته به د هغې جزاء ورکولې شي.

بل ځاى الله ﷻ فرمايي :

﴿ فَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَّرَهٗ ۝ وَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَّرَهٗ ﴾.(۲)

ترجمه : پس څوک چې د يوې ذرې په اندازه نيکي اوکړي نو دا به هغه اوګوري ( يعنى د هغې ثواب به اوګوري ) ، او څوک چې د يوې ذرې برابر بَدي اوکړي نو دا به هغه (هم) اوګوري (يعنى د هغې سزا به هم اوګوري) .

✡ مخکيني غټ غټ قومونه چې تباه شوي نو د هغې واحد سبب د الله ﷻ نافرماني کول، او د الله ﷻ د حکمونو نه مخ اړول وو .

الله رب العزت د بني اسرائيلو دهلاک شوي يو قوم ( اصحابُ السّبت ) په باره کې فرمايي : ﴿ فَلَمَّا عَتَوْا عَنْ مَّا نُهُوْا عَنْهُ قُلْنَا لَهُمْ كُوْنُوْا قِرَدَةً خٰسِـِٕيْنَ ﴾. (۳)

ترجمه : هر کله چې دوی سرکشي اوکړه د هغې شي نه ، د کوم نه چې دوی منع شوي وو (يعنى د الله جل جلاله حکم يې اونه منل) ، نو مونږ دوی ته وويل : چې تاسو ذليله بيزوګان شئ.

✡ بل ځاى الله ﷻ د فرعون او دده د ملګرو باره کې فرمايي :

﴿ فَلَمَّآ اٰسَفُوْنَا انْتَقَمْنَا مِنْهُمْ فَاَغْرَقْنٰهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴾. (۴)

ترجمه : هر کله چې دوی زه ناراضه کړم ، نو مونږ د هغوی نه بدله واخيسته ، بيا مو ټول غرق کړل.

---

(۱) النساء آية ۱۲۳ .

(۲) الزلزلة آية ۷ ، ۸.

(۳) الاعراف آية ۱٦٦ .

(۴) الزخرف آية ۵۵ .

✡ په سورة العنكبوت كي الله تعالى د څنې قومونو د هلاكت تذكره كړې ، بيا فرمايي :

﴿ فَكُلًّا اَخَذْنَا بِذَنْۢبِهٖ ۚ فَمِنْهُمْ مَّنْ اَرْسَلْنَا عَلَيْهِ حَاصِبًا ۚ وَمِنْهُمْ مَّنْ اَخَذَتْهُ الصَّيْحَةُ ۚ وَمِنْهُمْ مَّنْ خَسَفْنَا بِهِ الْاَرْضَ ۚ وَمِنْهُمْ مَّنْ اَغْرَقْنَا ۚ وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴾.(١)

ترجمه : پس هر يو مونږ د هغوى د ګناه په وجه اونيول ، په بعضو مو كاڼي را اُووَرول ، بعضى يوې چغې ( د حضرت جبريل عليه السلام ) اونيول ، بعضى مو په زمكه كې ورننويستل ، او بعضي مو ( په اُوبو كې ) غرق كړل ، او الله ﷻ په دوى ظلم ندې كړې ، بلكه دوى په خپلو ځانونو باندې ظلم كوونكي وو ( چې ګناهونه يې كول ) .

✡ د ګناهونو په وجه باندې په زمكه كې فساد خورېږي او مختلف قِسمه آفتونه او مصيبتونه راځي . الله تعالى فرمايي :

﴿ ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ اَيْدِي النَّاسِ لِيُذِيْقَهُمْ بَعْضَ الَّذِيْ عَمِلُوْا لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴾ .(١)

ترجمه : ظاهر شو فساد په اُوچه او لمده ( درياب ) كې په سبب د هغه څه چې د خلقو لاسونو كړي دي ( يعنى د خلقو د بدو اعمالو په وجه ) ، د پاره ددې چې دوى د بعضې هغه ( بدو ) عملونو سزا اُوڅكي كوم چې دوى كړي دي ، ددې د پاره چې دوى ( د ګناهونو نه ) واپس شي .

همدا مضمون په يو بل آيت كې هم الله ﷻ ذكر كړى :

﴿ وَمَآ اَصَابَكُمْ مِّنْ مُّصِيْبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ اَيْدِيْكُمْ وَيَعْفُوْا عَنْ كَثِيْرٍ ﴾ . (٣)

ترجمه : او تاسو ته چې كوم مصيبت دررسي نو د خپل عمل د لاسه به دررسي ، او ډير

---

(١) العنكبوت آية ٤٠ .

(١) الروم آيت ٤١ .

(٣) الشورى آيت ٣٠ .

گناهونه خو درته الله ﷻ معاف کوي .

✡ د دوارو آيتونو خلاصه داده چې کوم مصيبتونه په ټولې دنيا يا په ټول ملک يا په ټولې علاقې عام راشي ( لکه قحط سالي ، وبائي امراض ، د څيزونو ګراني ، او بې برکتي وغيره ) ، نو داسې مصيبتونه اکثر د ګناهونو اثرات وي .

البته انفرادي تکليفونه کله د امتحان دپاره وي ( خو چې بنده ورباندې صبر اوکړي نو دده دَرجې ورباندې اوچتولې شي ، او ګناهونه يې معاف کولې شي. او دا مصيبتونه په نيکانو خلقو دير راځي ) .

او کله انفرادي مصيبتونه عذاب هم وي خو چې بنده ورباندې صبر اونکړي او جَزع ، فَزع پرې اوکړي .

همدارنګې د ډيرو ګناهونو په وجه انسان د الله تعالى د لعنت مستحق ګرځي . (١)

## د رېښتيا ويلو اَهميت او د دروغو نه ځان ساتل

✡ په قرآن کريم کې مسلمانانو ته د رِښتيا ويلو او د رِښتيا ويونکو سره د ملګرتيا حُکم شوی ، او د دروغو نه منع شوي ، الله تعالى فرمايي :

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَكُونُوا۟ مَعَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴾ . (٢)

ترجمه : اې مؤمنانو ! تاسو د الله نه اُووېرېږئ ، او د رِښتيا ويونکو سره ملګري شئ.

✡ الله تعالى چې په کومو خلقو باندې خپل خصوصي اِنعام او خصوصي مهرباني کړې په هغې خلقو کې صِدّيقين ( رِښتيا ويونکي خلق ) هم شامل دي ، الله ﷻ فرمايي :

﴿ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ فَأُو۟لَٰٓئِكَ مَعَ ٱلَّذِينَ أَنْعَمَ ٱللَّهُ عَلَيْهِم مِّنَ ٱلنَّبِيِّۦنَ وَٱلصِّدِّيقِينَ وَٱلشُّهَدَآءِ وَٱلصَّٰلِحِينَ ۚ وَحَسُنَ أُو۟لَٰٓئِكَ رَفِيقًا ﴾ . (٣)

---

(١) د ظالمانو باره کې فرمايي : ﴿ أَلَا لَعْنَةُ ٱللَّهِ عَلَى ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾ . سورة هود آية ١٨ .

ترجمه : خبردار ! د الله ﷻ لعنت دی په ظالمانو باندې .

(٢) البقرة آية ١١٩ .

(٣) النساء آية ٦٩ .

ترجمه : او څوک چې د الله او د رسول حکم اومني نو دوی به (په جنت کې) د هغه خلقو سره وي په چا باندې چې الله ﷻ انعام کړی دی چې هغه پيغمبران، صديقين، شهداء او صالحين دي، او دا خلق ډير ښه دي په ملګرتيا کې (يعنې دا خلق ډير ښه ملګري دي).

✡ الله تعالى مسلمانانو ته د ريښتيا او سمې خبرې کولو حکم کړی:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَقُولُوا۟ قَوْلًا سَدِيدًا ۝ يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَٰلَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ ﴾.(١)

ترجمه : اې ايمان والو ! د الله نه اوويريږئ او سمه (ريښتينې) خبره کوئ، الله به ستاسو عملونه درست (او قبول) کړي، او تاسو ته به ستاسو ګناهونه معاف کړي.

✡ د قيامت په هغه سخته ورځ کې به انسان ته صرف ريښتيا نفع ورکوي، او د الله ﷻ د سخت عذاب نه به ريښتيا ويل نجات ورکوي، همدارنګې د ريښتيا ويونکو سره الله تعالى د جنت د نعمتونو وعده کړې.

الله تعالى د قيامت ورځ په باره کې فرمايي:

﴿ هَٰذَا يَوْمُ يَنفَعُ ٱلصَّٰدِقِينَ صِدْقُهُمْ ۚ لَهُمْ جَنَّٰتٌ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا ۚ رَّضِىَ ٱللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا۟ عَنْهُ ۚ ذَٰلِكَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ﴾.(٢)

ترجمه : دا (د قيامت) هغه ورځ ده چې ريښتيا ويونکو ته به خپل ريښتيا فائده ورکوي، د دوی د پاره (په جنت کې) داسې باغونه دي چې د هغې (د اونو) لاندې به نهرونه بهيږي، دوی به په هغې کې هميشه هميشه اوسيږي، الله تعالى د دوی نه راضي شو او دوی د هغه نه راضي شو، (او) دا ډيره لويه کاميابي ده.

بل ځای الله ﷻ فرمايي:

﴿ وَٱلَّذِى جَآءَ بِٱلصِّدْقِ وَصَدَّقَ بِهِۦٓ ۙ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُتَّقُونَ ۝ لَهُم مَّا يَشَآءُونَ عِندَ رَبِّهِمْ ۚ

---

(١) الاحزاب آية ٧٠، ٧١.

(٢) المائدة آية ١١٩.

ذٰلِكَ جَزَآءُ الْمُحْسِنِيْنَ ۝ لِيُكَفِّرَ اللّٰهُ عَنْهُمْ اَسْوَاَ الَّذِيْ عَمِلُوْا وَيَجْزِيَهُمْ اَجْرَهُمْ بِاَحْسَنِ الَّذِيْ كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴾ .(١)

ترجمه : او چا چې د رښتياؤ خبره راوړه او د رښتياؤ تصديق يې اوكړو نو همدا خلق پرهيزګار ( د الله ﷻ نه يريدونكي ) دي ، د دوی د پاره به د خپل رَب سره هغه څه وي كوم چې دوی غواړي ، د نېكانو خلقو همدا بَدله ده ، دا ( بدله د دوی د پاره مقرر شوه دا ) ددې د پاره چې الله تعالى د دوی نه هغه بَديانې (ګناهونه) لرې کړي كوم چې دوی كړې دي ، او دوی ته د خپلو هغه نېكو كارونو اَجرورکړي كوم چې دوی كول .

✡ په دروغجن باندې د الله تعالى لعنت راوريږي .(٢)

او په چا باندې چې د الله ﷻ لعنت راوريږي نو هغه په دُنيا او آخرت دواړو كې د الله ﷻ د خصوصي رَحمت نه لرې وي .

✡ همدارنګې په دروغه باندې اَټکل خبرو كوونكو په باره كې الله تعالى فرمايي :

﴿ قُتِلَ الْخَرّٰصُوْنَ ﴾ . (٣) ترجمه : هلاک كړې شو بې دليله (اَټكل) خبرې كوونكي .

د خَرّاص لفظي معنى ده : په اَټكل خبرې كوونكى . ددې ترجمه په كَذّابُوْن سره هم صحيح ده . نو اوس به د آيت مطلب داشي : په دروغجنو باندې دې د الله تعالى لعنت وي .

## د باطني بيماريو نه ځان ساتل:

په انسان كې ځنې باطني او رُوحاني بيمارۍ داسې دي چې هغه ډيرې خطرناكې دي ، الله تعالى انسان د هغې نه په سختۍ سره منع کړې .

---

(١) الزمر آية ٣٣ تا ٥٣ .

(٢) په قرآن كريم كې په آيت د مُباهلې كې ذكر دي ، ﴿ فَنَجْعَلْ لَّعْنَتَ اللّٰهِ عَلَى الْكٰذِبِيْنَ ﴾ . آل عمران آية ٦١ .
ترجمه ، پس مونږ به په دروغجنو باندې د الله لعنت اوليږو .
(٣) الذاريات آية ١٠ .

## د غِيبت نه ځان ساتل

په دې کې يوه باطني بيماري د بل مسلمان غيبت کول دي ، دا ګناهِ کبيره ده ، په قرآن کريم کې ددينه په سختو الفاظو سره منع راغلې ، بلکه د غِيبت تَشبيه د خپل مَړ ورور د غوښې خوړلو سره ورکړې شوې . الله تعالى فرمايي :

﴿ وَلَا يَغْتَبْ بَعْضُكُمْ بَعْضًا ۚ أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَنْ يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ ۚ إِنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ رَحِيمٌ ﴾ .(١)

ترجمه : او په تاسو کې دې بعضې د بعضو نورو غِيبت نه کوي ، آيا په تاسو کې څوک دا خوَښوي چې هغه د خپل مَړ وررور غوښه اُوخوري ؟ پس تاسو خو دا بَد ګڼرئ ( نو غِيبت هم د همدې په شان دی دا هم بَد اَوګڼرئ ) او د الله ﷻ نه اُوويريږئ ، بيشکه الله تعالى توبه قبلوونکی مهربان دی .

## د چُغل خورئ نه ځان ساتل

✡ بله باطني بيماري چُغل خوري ده ، دا هم ګناهِ کبيره ده ، په قرآن کريم کې ددينه هم په سختو الفاظو سره منع راغلې ، بلکه چغل خوري د ولدِ زِنا صفت دی :

الله تعالى نبي عليه السلام ته فرمايي چې ته د وليد بن مغيره کافر خبره مه منه ، بيا الله ﷻ د وليد بن مغيره رذيل صفتونه هم ذکر کړي ، په هغې کې دا هم دي :

﴿ هَمَّازٍ مَشَّاءٍ بِنَمِيمٍ ۝ مَنَّاعٍ لِلْخَيْرِ مُعْتَدٍ أَثِيمٍ ۝ عُتُلٍّ بَعْدَ ذَٰلِكَ زَنِيمٍ ﴾ .(٢)

ترجمه : عيب لټونکی دی ، ګرزنده چُغل خور دی ، د نيکۍ د کارونو نه منع کوونکی دی ، د حَد نه تجاوز کوونکی ګناهګار دی ، بَدخويه دی ، ددې ټولو نه پس بَداَخلاقه ( ولدِ زِنا ) دی .

فائده : زَنِيم ولدِ زِنا ته وايي کوم چې د خلقو خبرې نه پټوي ( يعنى د خلقو عيبونه

(١) الحجرات آية ١٢ .

(٢) القلم آية ١١ تا ١٣ .

ښکاره کوي ) . په دې آيت کې دې طرف ته اِشاره ده چې څوک د خلقو خبرې نه پټوي او چُغل خوري کوي نو دا په دې باندې دلالت کوي چې دا سړی ولدِ زِنا دی ، ځکه دا خبره د قرآن کريم د دې آيت ﴿ عُتُلٍّ بَعْدَ ذٰلِكَ زَنِيمٍ ﴾ نه مستنبط کيږي ، ځکه په وليد بن مغيره کافر کې د چُغل خورۍ سره سره دا نور صفتونه هم وو ، او الله تعالی د هغه په باره کې فرمايلي چې هغه زَنِيم (ولدِ زِنا) دی .

✡ چُغل خور په اتفاق سره فاسِق مَردودُ الشّهادة دی. الله تعالی فرمايي :

﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ جَآءَكُمْ فَاسِقٌۢ بِنَبَاٍ فَتَبَيَّنُوْٓا اَنْ تُصِيْبُوْا قَوْمًۢا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوْا عَلٰى مَا فَعَلْتُمْ نٰدِمِيْنَ ﴾.(١)

ترجمه : اې مؤمنانو ! چې کله تاسو ته يو فاسق څه خبر راوړي نو ښه تحقيق يې کوئ ، هسې نه چې په ناپوهۍ کې يو قوم ته نقصان اُورسوی نو بيا به په خپلو کړو باندې پښېمانه شئ .

د دې آيت نه معلومه شوه چې د فاسِق سړي د خبرې پوره تحقيق په کار دی ، او بې تحقيقه د ده تصديق نه دې پکار .

✡ د چغل خورۍ په وجه په بل مسلمان باندې بَدګماني پيدا کيږي . او بغير د څه سبب نه په مسلمان باندې ګماني کول حرام ده ، الله تعالی فرمايي :

﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اجْتَنِبُوْا كَثِيْرًا مِّنَ الظَّنِّ اِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ اِثْمٌ ﴾. (٢)

ترجمه : اې مؤمنانو ! تاسو د ډيرو بَدو ګمانونو نه ځان اُوساتئ ، بيشکه بعضې بَدګمان ګناه ده .

## د ژبې حفاظت

✡ په انسان باندې د الله تعالی بې شميره نعمتونه دي :

(١) الحجرات آية ٦ .

(٢) الحجرات آية ١١٢ .

الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَإِن تَعُدُّوا نِعْمَةَ اللَّهِ لَا تُحْصُوهَا ﴾. (١)

ترجمه: که چيرته تاسو د الله نعمتونه شميرل اوغواړئ نو دا نشي شميرلی.

✡ په دې نعمتونو کې يو لوي نعمت ژبه هم ده، اګر چې د انسان د وجود هر اَندام ډير لوي نِعمت دی، ليکن بعضي اَندامونه الله تعالی په خصوصي طريقې سره په طور د اِنعام ذکر کړي، چې که انسان د دې په حِکمت او کاريګرۍ باندې سوچ اوکړي نو د الله تعالی بې مِثاله حِکمتونه او قدرتونه به ورته په کې په نظر راشي.

الله ﷻ فرمايي: ﴿ أَلَمْ نَجْعَل لَّهُ عَيْنَيْنِ، وَلِسَانًا وَشَفَتَيْنِ ﴾. (٢)

ترجمه: آيا مونږ انسان ته دوه سترګې، ژبه، او دوه شونډې ندي ورکړي؟

الله تعالی مونږ ته دا عظيم نِعمت راکړی خو ورسره يې د دې د صحيح استعمال حُکم هم کړی، ځکه دا ژبه مونږ سره د الله تعالی اَمانت ده، زمونږ په خپل مِلکيت کې نده، لهذا مونږ ته په کار دي چې د خبرو نه مخکې ضرور سوچ اوکړو چې زه دا کومه خبره کوم آيا دا د شريعت برابر ده او که نه؟ آيا په دې کې د الله ﷻ رَضا شته او که نه؟

✡ انسان چې د ژبې نه هر لفظ رااُوباسي که هغه ښه وي يا خراب نو د ده سره چې کومې فرښتې مقرر دي هغوی دا ليکي.

الله تعالی فرمايي: ﴿ مَّا يَلْفِظُ مِن قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ ﴾. (٣)

ترجمه: د انسان د خُلې نه چې څه خبره رااُووځي نو د ده سره يوه ساتونکې فرښته تياره (د ليکلو د پاره) ناسته وي.

يعنی انسان چې کومه خبره د خُلې نه رااُوباسي نو کومې دوه فرښتې چې هر وخت د ده سره موجود وي هغوی دا هره خبره ليکي (او انسان به د قيامت په ورځ د الله ﷻ د وړاندې د دې حساب ورکوي).

(١) النحل آية ١٨.
(٢) البلد آية ٨، ٩.
(٣) ق آية ١٨.

✡ **په ژبه باندې ذکر کول** : په ژبه باندې د الله تعالی ذِکر او تلاوت په کار دی ، ځکه الله ﷻ مؤمنانو ته د ډیر ذکر کولو حُکم کړی :

﴿ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا اللَّهَ ذِكْرًا كَثِيرًا. وَسَبِّحُوهُ بُكْرَةً وَأَصِيلًا ﴾ .(١)

ترجمه : اې مومنانو ! تاسو الله یادوئ په ډیرو یادولو سره ، او سهر او ماښام د هغه پاکي بیانوئ .

✡ په ذکر سره زړونو ته اِطمینان حاصلیږي ، الله تعالی فرمايي :

﴿ أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ ﴾ .(٢)

ترجمه : خبردار ! د الله په ذکر سره زړونه مطمئن کیږي . ( او زړونو ته تسلّي حاصلیږي )

✡ څوک د الله ﷻ ذکر کوي نو الله ربّ العزت هم د فرښتو په مجلس کې د ده تذکره کوي :

﴿ فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ وَاشْكُرُوا لِي وَلَا تَكْفُرُونِ ﴾ .(٣)

ترجمه : پس تاسو ما یاد کړئ نو زه به تاسو یاد کړم ، او زما شکریه اداء کوئ ، او زما ناشکري مه کوئ .

# رِیا نه ځان ساتل

✡ په باطني بیماریو کې یوه خطرناکه بیماري رِیا ده ، دا هم گناهِ کبیره ده ، رِیا دیته وايي چې انسان نیک اعمال د الله ﷻ د رَضا د پاره نه کوي بلکه خلقو ته د ځان خودنې د پاره يې کوي چې د هغوی په زړونو کې د ده قدر پیدا شي .

حالانکه د الله ﷻ سره په عبادت کې بل څوک شریکولو نه منع راغلی .

الله تعالی فرمايي :

---

(١) الاحزاب آية ٤١ ، ٤٢

(٢) الرعد آية ٢٨

(٣) البقرة آية ١٥٢

﴿ فَمَنْ كَانَ يَرْجُوا لِقَآءَ رَبِّهٖ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَّلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهٖٓ اَحَدًا ﴾.(١)

ترجمه: پس څوک چې د خپل رَب سره د ملاقات اُميد لري نو هغه له په کار دي چې نېک عمل کوي ، او د خپل رَب په عبادت کې دې بل څوک نه شريکوي .

✡ رِيا د منافقينو صفت دی، ځکه الله ربّ العزت د منافقينو يو صفت دا هم ذکر کړی :

﴿ يُرَآءُوْنَ النَّاسَ وَلَا يَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴾.(٢)

ترجمه: دوی خلقو ته خپل عبادت ښائي ( يعنی رِيا کوي ) ، او الله تعالی ډير کم يادوي .

✡ الله تعالی د رِيا کار د پاره هلاکت ذکر کړی :

﴿ فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّيْنَ ۝ الَّذِيْنَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُوْنَ ۝ الَّذِيْنَ هُمْ يُرَآءُوْنَ ﴾.(٣)

ترجمه: پس هلاکت دی د هغه مونځ ګذارو د پاره چې هغوی د خپلو مونځونو نه غافله دي، کوم چې رِيا کوي .

✡ **په اخلاص سره عمل کول** : د انسان په نېکو اعمالو کې صرف هغه عمل مقبول دی کوم چې په اخلاص باندې خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره اوشي، د رِيا شُهرت او ځان خودَنې د پاره نه وي شوی .

ربِّ کريم فرمايي: ﴿ اَلَا لِلّٰهِ الدِّيْنُ الْخَالِصُ ﴾.(٤)

ترجمه: خبردار، عبادت خالص د الله د پاره دی.

✡ په نيکو کارونو کې د اِخلاص او د الله ﷻ د رَضا نيت کول واجب دی .

الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَمَآ اُمِرُوْٓا اِلَّا لِيَعْبُدُوا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ﴾.(٥)

---

(١) الكهف آية ١١٠ .

(٢) پوره آيت داسې دی ، ﴿ اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ يُخٰدِعُوْنَ اللّٰهَ وَهُوَ خَادِعُهُمْ ۚ وَاِذَا قَامُوْٓا اِلَى الصَّلٰوةِ قَامُوْا كُسَالٰى ۙ يُرَآءُوْنَ النَّاسَ وَلَا يَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴾ النساء آية ١٤٢

(٣) الماعون آية ٣ تا ٦ .

(٤) الزمر آية ٣ .

(٥) البينة آية ٥ .

ترجمه: او دوی ته خو صرف حکم دديٍ شوی وٓ چي دوی دي د الله عبادت کوي، خالص کوونکي د هغه د پاره بندګي. (يعنی دين دي هم خالص د هغه مَني، او په اِخلاص دي عبادت کوي).

✡ په قرآن کريم کي، الله ربّ العزت په اخلاص سره د عبادت حُکم کړی، (١)
مخکي اُمتونو او ټولو پيغبرانو ته هم په اخلاص باندي د عبادت کولو حُکم شوی وٓ. (٢)
الله تعالی د مُخلِصينو د پاره ډير اَجرونه ذکر کړي. (٣)
او د مُخلِصينو تعريف يي کړی. (۴)

✡ مُخلِصين بندګان به د شيطان د ګمراهی نه محفوظ وي، ځکه د شيطان ... کيدو نه پس چي کله ده د الله ﷻ نه تر قيامته پوري مُهلت اوغوښت ... الله ﷻ مهلت ورکړو نو ده قسَم اوکړو چي زه به ستا ټول بندګان ګمراه کوم، البته صرف مُخلِصين به د مانه محفوظ وي. (٥)

---

(١) ﴿ إِنَّآ أَنزَلْنَآ إِلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ بِٱلْحَقِّ فَٱعْبُدِ ٱللَّهَ مُخْلِصًا لَّهُ ٱلدِّينَ ۞ أَلَا لِلَّهِ ٱلدِّينُ ٱلْخَالِصُ ﴾ ... آية ٢، ٣.
﴿ فَٱدْعُوا ٱللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ وَلَوْ كَرِهَ ٱلْكَٰفِرُونَ ﴾. غافر آية ١۴.
﴿ هُوَ ٱلْحَىُّ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ فَٱدْعُوهُ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ ﴾. غافر آية ٦٥.

(٢) ﴿ وَمَآ أُمِرُوٓا إِلَّا لِيَعْبُدُوا ٱللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ ﴾. البينة آية ٥.
﴿ قُلْ إِنِّىٓ أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ ٱللَّهَ مُخْلِصًا لَّهُ ٱلدِّينَ ﴾. الزمر آية ١١

(٣) ﴿ إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُوا وَأَصْلَحُوا وَٱعْتَصَمُوا بِٱللَّهِ وَأَخْلَصُوا دِينَهُمْ لِلَّهِ فَأُولَٰٓئِكَ مَعَ ٱلْمُؤْمِنِينَ وَسَوْفَ يُؤْتِ ٱللَّهُ ٱلْمُؤْمِنِينَ أَجْرًا عَظِيمًا ﴾. النساء آية ١۴٦.

(۴) ﴿ وَٱذْكُرْ فِى ٱلْكِتَٰبِ مُوسَىٰٓ إِنَّهُۥ كَانَ مُخْلَصًا وَكَانَ رَسُولًا نَّبِيًّا ﴾. سورة مريم آية ٥١.

(٥) ﴿ قَالَ فَٱخْرُجْ مِنْهَا فَإِنَّكَ رَجِيمٌ ۞ وَإِنَّ عَلَيْكَ ٱللَّعْنَةَ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلدِّينِ ۞ قَالَ رَبِّ فَأَنظِرْنِىٓ إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ ۞ قَالَ فَإِنَّكَ مِنَ ٱلْمُنظَرِينَ ۞ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْوَقْتِ ٱلْمَعْلُومِ ۞ قَالَ رَبِّ بِمَآ أَغْوَيْتَنِى لَأُزَيِّنَنَّ لَهُمْ فِى ٱلْأَرْضِ وَلَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ ۞ إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ ٱلْمُخْلَصِينَ ﴾. الحجر آية ٣۴ تر ۴٠.
﴿ قَالَ فَبِعِزَّتِكَ لَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ ۞ إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ ٱلْمُخْلَصِينَ ﴾. سورة ص آية ٧٧ تر ٨٣.

✡ مُخلِصين به د دَردناک عذاب نه محفوظ وي، او الله ﷻ د دوی سره د جنت او نورو نعمتونو وعده کړی.(١)

✡ په دې ځای کې دا يوه خبره د ذِکر کولو قابله ده چې د الله ﷻ په نزد د عمل صحيح والي او قبول والي معتبر دی، ډېر والي معتبر ندی، الله تعالی فرمايي:

﴿ الَّذِيْ خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيٰوةَ لِيَبْلُوَكُمْ اَيُّكُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا ﴾.(٢)

ترجمه: الله تعالی هغه ذات دی چې مرګ او ژوند يې پيدا کړل، ددې د پاره چې تاسو اُوآزمائي: چې په تاسو کې څوک ښه دی په عمل کې؟ (يعنی د چا عمل ښه دی؟).

الله تعالی داسې اونه فرمايل: اَيُّكُمْ اَكْثَرُ عَمَلًا چې د چا عمل زيات دی؟

بلکه داسې يې اوفرمايل: اَيُّكُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا

## د تکبر نه ځان ساتل

✡ په باطني بيماريو کې يوه خطرناکه بيماري تکبّر دی، دا هم ګناهِ کبيره ده، په قرآن کريم کې ددېنه هم په سختو الفاظو سره منع راغلې، ځکه تکبّر صرف او صرف د الله ﷻ سره ښائي، د انسان سره تکبّر مناسب ندی.

الله تعالی فرمايي: ﴿ وَلَهُ الْكِبْرِيَآءُ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴾.(٣)

ترجمه: او خاص د الله تعالی د پاره لويي ده په آسمانونو او زمکه کې، او هم هغه

(١) ﴿ اِنَّكُمْ لَذَآئِقُوا الْعَذَابِ الْاَلِيْمِ ۝ وَمَا تُجْزَوْنَ اِلَّا مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ۝ اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِيْنَ ۝ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ رِزْقٌ مَّعْلُوْمٌ ۝ فَوَاكِهُ وَهُمْ مُّكْرَمُوْنَ ۝ فِيْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ۝ عَلٰى سُرُرٍ مُّتَقٰبِلِيْنَ ۝ يُطَافُ عَلَيْهِمْ بِكَاْسٍ مِّنْ مَّعِيْنٍ ۝ بَيْضَآءَ لَذَّةٍ لِّلشّٰرِبِيْنَ ۝ لَا فِيْهَا غَوْلٌ وَّلَا هُمْ عَنْهَا يُنْزَفُوْنَ ۝ وَعِنْدَهُمْ قٰصِرٰتُ الطَّرْفِ عِيْنٌ ۝ كَاَنَّهُنَّ بَيْضٌ مَّكْنُوْنٌ ﴾ الصافات آية ٣٨ تا ٤٩.

﴿ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُنْذَرِيْنَ ۝ اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِيْنَ ﴾ الصافات آية ٧٣، ٧٤

(٢) الملک آية ٢.

(٣) الجاثية آية ٣٧.

غالب (او) حِکمت واله دی.

✡ د مُتکبّرينو د پاره سخت عذابونه ذکر شوي، الله تعالی فرمايي:

﴿ وَاَمَّا الَّذِيْنَ اسْتَنْكَفُوْا وَاسْتَكْبَرُوْا فَيُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ۙ وَّلَا يَجِدُوْنَ لَهُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ﴾.(١)

ترجمه: او چا چې (د الله ﷻ په عبادت کولو کې) شرم اوکړو (يعنی د الله ﷻ عبادت کول يې عار اوګڼړل) او تکبّر يې اوکړو نو الله تعالی به دوی ته دَردناک عذاب ورکړي، او دوی به د خپلو ځانونو د پاره د الله نه بغير بل څوک دوست او مددګار او نه مومي.

✡ د تکبّر په وجه انسان د جهنم مستحق ګرځي، په قرآن کريم کې په مختلف اَنداز سره ددې بيان شته: الله تعالی فرمايي:

﴿ وَالَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَاسْتَكْبَرُوْا عَنْهَآ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴾.(٢)

ترجمه: او کومو خلقو چې زمونږ د آيتونو تکذيب اوکړو (يعنی دروغ يې اوګڼړل) او ددينه يې تکبّر اوکړو نو همدا خلق خاوندان د اُور دي (دوی به په جهنم کې اُوسيږي)، دوی به په دې کې هميشه وي.

بل ځای فرمايي: ﴿ اِنَّ الَّذِيْنَ يَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِيْ سَيَدْخُلُوْنَ جَهَنَّمَ دٰخِرِيْنَ ﴾.(٣)

ترجمه: بيشکه کوم خلق چې زما د عبادت نه تکبّر کوي نو هغوی به ډير زر جهنم ته ذليله داخل شي.

✡ په سورة احقاف کې د کافرانو جهنم ته د تللو سبب تکبّر او نافرماني خودل شوی:

﴿ وَيَوْمَ يُعْرَضُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا عَلَى النَّارِ ۭ اَذْهَبْتُمْ طَيِّبٰتِكُمْ فِيْ حَيَاتِكُمُ الدُّنْيَا وَاسْتَمْتَعْتُمْ

---

(١) النساء آية ١٧٣.

(٢) الاعراف آية ٣٦.

(٣) غافر (المومن) آية ٦٠.

بِهَا فَالْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ الْهُوْنِ بِمَا كُنْتُمْ تَسْتَكْبِرُوْنَ فِي الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَبِمَا كُنْتُمْ تَفْسُقُوْنَ ﴾.(١)

ترجمه: او (هاغه ورځ د يادولو قابله ده) په کومه ورځ چې کافران د جهنم اور ته پيش (مخامخ) کړې شي (او دوی ته وويلې شي) تاسو د دُنيا په ژوند کې خپل د مزو څيزونه ختم کړل (يعنې خپل خوَندونه مو حاصل کړل)، او د هغې نه مو ښه فائده واخيسته، پس نن ورځ به تاسو ته د ذِلت عذاب درکولې شي، (دا) په سبب د دې سره چې تاسو به (په دُنيا کې) په زمکه کې په ناحقه تکبر کولو، او په سبب د دې سره چې تاسو به نافرماني کوله.

✡ الله تعالی د کافرانو د عذاب تذکره کولو نه پس فرمايي:

﴿ فَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِيْنَ ﴾.(٢)

ترجمه: پس جهنم د مُتکبّرينو د پاره ډير بَد ځای دی.

✡ کوم خلق چې د الله د اٰيتونو تکذيب کوي، او د دې د قبلولو نه اِنکار کوي (تکبّر کوي) نو الله تعالی د هغوی په باره کې فرمايي چې دوی به جنت ته داخليږي:

﴿ اِنَّ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَاسْتَكْبَرُوْا عَنْهَا لَا تُفَتَّحُ لَهُمْ اَبْوَابُ السَّمَآءِ وَلَا يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ حَتّٰى يَلِجَ الْجَمَلُ فِيْ سَمِّ الْخِيَاطِ ۚ وَكَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُجْرِمِيْنَ ﴾.(٣)

ترجمه: بيشکه کومو خلقو چې زمونږ د اٰيتونو تکذيب اوکړو او د دې (د قبلولو) نه يې تکبر اوکړو نو دوی ته به د آسمان دروازې نشي کلاوُولی، او دوی به تر هغې وخته پورې جنت ته نه داخليږي تر دې چې اُوښ د ستَنې په سُوري (سُم) داخل شي، او مونږ مُجرمانو ته همداسې سزا ورکوو.

✡ ابليس د همدې تکبّر په وجه د جنت نه را اُوشړلې شو، ځکه کله چې الله تعالی حضرت آدم عليه السلام پيدا کړو نو فرښتو او اِبليس ته يې حکم اوکړو:

---

(١) الاحقاف آية ٢٠.

(٢) الزمر آية ٧٢، غافر آية ٧٦.

(٣) الاعراف آية ٤٠.

﴿ اُسْجُدُوْا لِاٰدَمَ ﴾ .(١)

تاسو حضرت آدم عليه السلام ته د (تعظيم) سجده اوکړئ.

نو ټولو سجده اوکړه خو ابليس اونکړه، الله تعالى ورنه پوښتنه اوکړه:

﴿ مَا مَنَعَكَ اَلَّا تَسْجُدَ اِذْ اَمَرْتُكَ ﴾.(٢)

ترجمه: کله چې ما درته حکم اوکړو، نو ته د سجدې کولو نه څه شي منع کړې؟ (او سجده دې ولې اونکړه؟)

ابليس تکبّر اوکړو او وې ويل:

﴿اَنَا خَيْرٌ مِّنْهُ ۚ خَلَقْتَنِيْ مِنْ نَّارٍ وَّخَلَقْتَهٗ مِنْ طِيْنٍ ﴾ . (٣)

ترجمه: زه خو د دهٔ نه ډير غوره يم، تا زه د أور نه پيدا کړې يم، او دا دې د خټې نه پيدا کړې (نو زه څنګه دهٔ ته سجده اوکړم؟)

الله تعالى ورته اوفرمايل:

﴿ فَاهْبِطْ مِنْهَا فَمَا يَكُوْنُ لَكَ اَنْ تَتَكَبَّرَ فِيْهَا فَاخْرُجْ اِنَّكَ مِنَ الصّٰغِرِيْنَ ﴾.

ترجمه: پس ته کوز شه د دې ځای نه، تا ته دا دې حق نشته چې په دې آسمان (جنت) کې تکبّر اوکړې، پس أوځه بيشکه ته د ذليلو خلقو د ډلې نه يې. (٤)

د قرآن کريم په نورو آيتونو کې هم دا دې تذکره شته. (٥)

---

(١) الاعراف آية ١١.

(٢) الاعراف آية ١٢.

(٣) الاعراف آية ١٢.

(٤) د سورة اعراف پوره آيتونه دا دي: ﴿ وَلَقَدْ خَلَقْنٰكُمْ ثُمَّ صَوَّرْنٰكُمْ ثُمَّ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ ۖ فَسَجَدُوْٓا اِلَّآ اِبْلِيْسَ ۭ لَمْ يَكُنْ مِّنَ السّٰجِدِيْنَ ۝ قَالَ مَا مَنَعَكَ اَلَّا تَسْجُدَ اِذْ اَمَرْتُكَ ۭ قَالَ اَنَا خَيْرٌ مِّنْهُ ۚ خَلَقْتَنِيْ مِنْ نَّارٍ وَّخَلَقْتَهٗ مِنْ طِيْنٍ ۝ قَالَ فَاهْبِطْ مِنْهَا فَمَا يَكُوْنُ لَكَ اَنْ تَتَكَبَّرَ فِيْهَا فَاخْرُجْ اِنَّكَ مِنَ الصّٰغِرِيْنَ ﴾. الاعراف آية ١١ تا ١٣.

(٥) په سورة البقرة کې دا دې بيان داسې ذکر دی: ﴿ وَاِذْ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ فَسَجَدُوْٓا اِلَّآ اِبْلِيْسَ ۭ اَبٰى وَاسْتَكْبَرَ ڎ وَكَانَ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ ﴾. البقرة آية ٣٤ ......................

✡ د آخرت کامیابي د تکبّر نه ځان ساتونکو او مُتّقیانو د پاره ده، الله تعالی فرمایي:

﴿ تِلْكَ الدَّارُ الْاٰخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِیْنَ لَا یُرِیْدُوْنَ عُلُوًّا فِی الْاَرْضِ وَلَا فَسَادًا ؕ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِیْنَ ﴾. (١)

ترجمه: دا د آخرت کور مونږ د هغه خلقو د پاره مقرروو کوم چې په زمکه کې د لويي (تکبر) او فساد اراده نه لري، او ښه انجام د مُتّقیانو د پاره دی.

✡ په دې کائناتو کې د ټولو نه اول نافرماني ابلیس کړې وه چې حضرت آدم علیه السلام ته یې د سجدې کولو نه انکار اوکړو، دده نه مخکې د الله ﷻ د نافرمانۍ هیڅ تصوّر نه وُ، دده د نافرمانۍ بُنیاد هم تکبّر وُ، ځکه ده وویل:

﴿اَنَا خَیْرٌ مِّنْهُ ۚ﴾ زه دده نه ډیر بهتریم (نو څنګه ورته سجده اوکړم؟).

✡ په چا کې چې تکبّر وي نو هغه د قرآن کریم په آیتونو باندې د کامل پوهیدو نه محرومه وي. الله تعالی فرمایي:

﴿ سَاَصْرِفُ عَنْ اٰیٰتِیَ الَّذِیْنَ یَتَکَبَّرُوْنَ فِی الْاَرْضِ بِغَیْرِ الْحَقِّ ﴾. (٢)

ترجمه: زه به د خپلو آیتونو نه هغه خلق واړوم څوک چې په زمکه کې په ناحقه تکبّر کوي.
(یعنی متکبّرین به د قرآن کریم د فهم نه منع کړم او لرې به یې ترې اُوساتم)

✡ د متکبّر په زړه باندې مُهر لګیدلې وي، الله تعالی فرمایي:

﴿ کَذٰلِكَ یَطْبَعُ اللّٰهُ عَلٰی کُلِّ قَلْبِ مُتَکَبِّرٍ جَبَّارٍ ﴾. (٣)

←←←← په سورة الاسراء کې ددې بیان داسې ذکر دی:
﴿ وَاِذْ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِکَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ فَسَجَدُوْٓا اِلَّآ اِبْلِیْسَ ؕ قَالَ ءَاَسْجُدُ لِمَنْ خَلَقْتَ طِیْنًا ۞ قَالَ اَرَءَیْتَكَ هٰذَا الَّذِیْ کَرَّمْتَ عَلَیَّ لَئِنْ اَخَّرْتَنِ اِلٰی یَوْمِ الْقِیٰمَةِ لَاَحْتَنِکَنَّ ذُرِّیَّتَهٗٓ اِلَّا قَلِیْلًا ۞ قَالَ اذْهَبْ فَمَنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ فَاِنَّ جَهَنَّمَ جَزَآؤُکُمْ جَزَآءً مَّوْفُوْرًا ﴾. الاسراء آیة ٦١ تا ٦٣.

(١) القصص آیة ٨٣.
(٢) الاعراف آیة ١٤٦.
(٣) غافر آیة ٣٥.

ترجمه: همدغه شان الله تعالی د متکبّر سَرکشه (ظالم) بنده په زړه باندي مُهر لګوي. (ددې اَثر ییا دا وي چې دده په زړه کې د ایمان کامل نور نه داخلیږي، د ښه او خراب تمییز نشي کولی).

✡ الله ﷻ مُتکبّرین نه خوښوي په قرآن مجید کې ذکر دي:

﴿ إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْتَكْبِرِينَ ﴾ (١) ترجمه: بیشکه الله تعالی مُتکبّرین نه خوښوي.

✡ په تکبر سره تلل منع دي. الله تعالی فرمایي:

﴿ وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحًا ۖ إِنَّكَ لَن تَخْرِقَ الْأَرْضَ وَلَن تَبْلُغَ الْجِبَالَ طُولًا ﴾ (٢)

ترجمه: او په زمکه باندي په غرور (تکبّر) مه ګرځه، بیشکه ته هیڅ کله زمکه نشي شلولی، او هیڅ کله په اُوږدوالي کې غرونو ته نشې رسیدی.

✡ حضرت لقمان چې کله خپل ځوي ته نصیحت کولو نو دا یې هم ورته فرمایلي وو:

﴿ وَلَا تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحًا ۖ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ ﴾ (٣)

ترجمه: او د خلقو نه خپل مخ مه اَړوه، او په زمکه باندي په غرور (تکبر) سره مه ځه، بیشکه الله تعالی هر مغرور فخر کوونکی نه خوښوي.

✡ د الله تعالی رښتیني بندګانو شان دادی چې دوی په زمکه باندي ډیر په عاجزۍ سره ګرځي، الله تعالی فرمایي:

﴿ وَعِبَادُ الرَّحْمَٰنِ الَّذِينَ يَمْشُونَ عَلَى الْأَرْضِ هَوْنًا ﴾ (۴)

ترجمه: او د الله تعالی (رښتیني) بندګان هغه خلق دي چې په زمکه باندي په قلاره

(١) النحل آية ٢٣

(٢) الاسراء (بني اسرائيل) آية ٣٧

(٣) لقمان آية ١٨.

(۴) الفرقان آية ٦٣.

(عاجزي) سره کړځي.

✡ فرعون د ډير تکبّر په وجه د خدائي دعوٰی کړې وه نو الله تعالى د ټول لښکر سره په درياب کې غرق کړو، په قرآن کريم کې د دې بيان داسې شوی:

﴿ وَاسْتَكْبَرَ هُوَ وَجُنُودُهُ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَظَنُّوا أَنَّهُمْ إِلَيْنَا لَا يُرْجَعُونَ ۝ فَأَخَذْنَاهُ وَجُنُودَهُ فَنَبَذْنَاهُمْ فِي الْيَمِّ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الظَّالِمِينَ ﴾.(١)

ترجمه: فرعون او د ده لښکر په زمکه کې په ناحقه باندې تکبّر اوکړو او دوی دا ګمان اوکړو چې بيشکه دوی به مونږ ته نشي راواپس کولی، پس مونږ دا او د ده لښکر اُونيولو، بيا مونږ په دَرياب کې اُوغورځول، پس ته اُوګوره چې د ظالمانو اَنجام څنګه شو؟

✡ قارون ته الله تعالى ډير مال و دولت ورکړې ؤ، ده هم په خپل قوم باندې تکبّر او غرور شروع کړو، په هغه وخت کې موجود مؤمنانو ده ته ډير نصيحت اوکړو چې تکبّر او غرور مه کوه ځکه الله تعالى مغروره خلق نه خوښوي.

ده د ډير تکبّر په وجه وويل: ﴿ إِنَّمَا أُوتِيتُهُ عَلَىٰ عِلْمٍ عِنْدِي ﴾.

ترجمه: دا (ټول مالونه او خزانې) ما ته د خپلې پوهې (او لياقت) په وجه راکړل شوي.(٢)

نو الله تعالى د دې تکبّر او نورو ګناهونو په وجه ده ته سخته سزا ورکړه.

الله ﷻ فرمايي: ﴿ فَخَسَفْنَا بِهِ وَبِدَارِهِ الْأَرْضَ فَمَا كَانَ لَهُ مِنْ فِئَةٍ يَنْصُرُونَهُ مِنْ دُونِ

---

(١) القصص آية ٣٩، ٤٠.

(٢) الله تعالى په قرآن کريم د قارون واقعه داسې بيان کړې:

﴿ إِنَّ قَارُونَ كَانَ مِنْ قَوْمِ مُوسَىٰ فَبَغَىٰ عَلَيْهِمْ ۖ وَآتَيْنَاهُ مِنَ الْكُنُوزِ مَا إِنَّ مَفَاتِحَهُ لَتَنُوءُ بِالْعُصْبَةِ أُولِي الْقُوَّةِ إِذْ قَالَ لَهُ قَوْمُهُ لَا تَفْرَحْ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْفَرِحِينَ ۝ وَابْتَغِ فِيمَا آتَاكَ اللَّهُ الدَّارَ الْآخِرَةَ ۖ وَلَا تَنْسَ نَصِيبَكَ مِنَ الدُّنْيَا ۖ وَأَحْسِنْ كَمَا أَحْسَنَ اللَّهُ إِلَيْكَ ۖ وَلَا تَبْغِ الْفَسَادَ فِي الْأَرْضِ ۖ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِينَ ۝ قَالَ إِنَّمَا أُوتِيتُهُ عَلَىٰ عِلْمٍ عِنْدِي ۚ أَوَلَمْ يَعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ قَدْ أَهْلَكَ مِنْ قَبْلِهِ مِنَ الْقُرُونِ مَنْ هُوَ أَشَدُّ مِنْهُ قُوَّةً وَأَكْثَرُ جَمْعًا ۚ وَلَا يُسْأَلُ عَنْ ذُنُوبِهِمُ الْمُجْرِمُونَ ۝ فَخَرَجَ عَلَىٰ قَوْمِهِ فِي زِينَتِهِ ۖ قَالَ الَّذِينَ يُرِيدُونَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا يَا لَيْتَ لَنَا مِثْلَ مَا أُوتِيَ قَارُونُ إِنَّهُ لَذُو حَظٍّ عَظِيمٍ ۝ وَقَالَ الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ وَيْلَكُمْ ثَوَابُ اللَّهِ خَيْرٌ لِمَنْ آمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا وَلَا يُلَقَّاهَا إِلَّا الصَّابِرُونَ ۝ ﴾. القصص آية ٧٦ ت ٨٠.

اللّٰهِ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُنْتَصِرِيْنَ ﴾.(١)

ترجمه : پس مونږ قارون او دده كور په زمكه كې ورخخ كړو ، نو بيا دده د پاره د الله ﷻ نه بغير داسې يوه ډله نه وه چې دده مدد يې كړې وى ، او نه په خپله اِنتقام ( بَدله ) اخيستونكى ؤ .

✡ كله چې د حضرت شعيب عليه السلام قوم تكبّر اوكړو نو الله تعالى ورته سخته سزا وركړه ، په قرآن كې د هغه قوم په باره كې ذكر دي :

﴿ قَالَ الْمَلَاُ الَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖ لَنُخْرِجَنَّكَ يٰشُعَيْبُ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَكَ مِنْ قَرْيَتِنَآ اَوْ لَتَعُوْدُنَّ فِيْ مِلَّتِنَا قَالَ اَوَلَوْ كُنَّا كٰرِهِيْنَ ﴾.(٢)

ترجمه : د حضرت شعيب عليه السلام د قوم متكبّرو سردارانو ووېل : اې شعيب ! مونږ به ضرور تا او كومو خلقو چې د تا سره اِيمان راوړى د خپل كلي نه اُوباسو ، او يا به تاسو زمونږ دِين ته واپس راځى .

يو څو آيتونه پس الله تعالى ددې قوم سزا داسې ذكر كړې :

﴿ فَاَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَاَصْبَحُوْا فِيْ دَارِهِمْ جٰثِمِيْنَ ﴾.(٣)

ترجمه : پس دوى زلزلې اُونيول نو د سهر په وخت ټول په خپلو كورونو كې پَرمخې ( مړه ) پراته وو .

✡ همدارنګې د حضرت نوح عليه السلام قوم او حضرت لوط عليه السلام قوم هم تكبّر كړې ؤ نو الله تعالى ورته سخته سزا وركړه .

## د علم اَهميت

✡ انسان چې د جائز او ناجائز ، حلال او حرام په مينځ كې فرق كولې شي نو دا د عِلم په وجه باندې ، علم خو داسې يوصفت دى چې ددې په وجه انسان د حيواناتو نه ممتاز

---

(١) القصص آية ٨١ .

(٢) الاعراف آية ٨٨ .

(٣) الاعراف آية ٩١ .

ګرځي ، او د جهالت د تیارو نه رڼا طرفته راګرځي . دغه وجه ده چې اسلام د علم په حصول باندې ډېر زور اچولې ، او ددې یې ډېر فضیلتونه بیان کړي دي .

✡ الله تعالی نبي علیه السلام ته د علم د زیاتوالي حُکم کړی ؤ :

﴿ وَقُلْ رَبِّ زِدْنِي عِلْمًا ﴾ . (١)

ترجمه : او وایه (اې پیغمبره ! ) چې اې ربه ! زما علم زیات کړه .

✡ د علم د اهمیت اندازه تاسو ددینه هم معلوم ولې شی چې دې اُمت ته چې د الله ﷻ د طرفه اوّلنې کوم پیغام ( وَحي ) راغلی د هغې اوّلنې لفظ هم " اِقْرَءْ " دی ، چې ددې مطلب دی " اُولوله " . یعنی دې امت ته د الله ﷻ د طرفه اولنې پیغام د " لوستلو " تلقین دی .

✡ د همدې علم په وجه الله ﷻ حضرت آدم علیه السلام ته خلافتِ ربّاني ورکړو ، او مَسْجُودُ الْمَلَائِکَة یې اوګرځول ، ددینه هم معلومیږي چې علم بهترین شی دی .

✡ د علم په برکت سره په انسان کې داسې قوت پیدا کیږي چې اګرچې دا ښه کمزورې وي خو بیا هم په ده کې دومره زړه وَرتیا راځي چې دا بیا خپله خبره په هر میدان کې پوره داده طریقې سره کولې شي .

لکه د حضرت سلیمان علیه السلام په باره کې راځي چې کله هُدهُد مارغه غائب ؤ نو حضرت سلیمان علیه السلام اوفرمایل :

﴿ لَأُعَذِّبَنَّهُ عَذَابًا شَدِيدًا أَوْ لَأَذْبَحَنَّهُ أَوْ لَيَأْتِيَنِّي بِسُلْطَانٍ مُبِينٍ ﴾ . (٢)

ترجمه : زه به خامخا ده ته سخته سزا ورکړم ، یا به یې ذبح کړم ، او یا به ماته ( د غیر حاضرۍ ) څه ښکاره دلیل پیش کوي .

نو چې کله هُدهُد مارغه راغی ، دا اګرچې کمزورې مرغه ؤ خو چونکه دده سره د قومِ سبا

(١) طه : آية ١١٤ .

(٢) النمل : ٢١ .

متعلق علم او معلومات ؤ ، نو د حضرت سليمان عليه السلام په وړاندې يې په ډيرې زړه وَرتيا سره خبره اوکړه ، او وې ويل : ﴿ أَحَطتُ بِمَا لَمْ تُحِطْ بِهِ ﴾ . (١)

ترجمه : ما احاطه کړې په داسې خبره باندې چې تا احاطه نده کړې په هغې باندې (يعنی ماته داسې يوه خبره معلومه ده چې تاته نده معلومه ) .

اوګوره ! هُدهُد چې د لږو معلوماتو په وجه يې د حضرت سليمان د وړاندې په کوم انداز کې خبره اوکړه ؟ نو که چيرته دده سره د قوم سبا متعلق معلومات نه وې ، نو چيرته هُدهُد او چيرته د حضرت سليمان عليه السلام د وړاندې داسې زَړه وره خبره کول ؟

✡ علم يو طاقت او يو قوّت دی ، چاته چې الله ﷻ دا قوت ورکړی نو هغه بيا الله ﷻ په دُنيا کې سَرلوړي او کاميابه ګرځولی .

حضرت سليمان عليه السلام ته چې د بلقيس راتلو پته اولږيده نو خپلو درباريانو ته يې وويل :

﴿ يَا أَيُّهَا الْمَلَأُ أَيُّكُمْ يَأْتِينِي بِعَرْشِهَا قَبْلَ أَن يَأْتُونِي مُسْلِمِينَ ﴾ . (٢)

ترجمه : اې سردارانو ! څوک به له تاسو نه ماته د هغې ( مَلکې ) تخت راوړي ، وړاندې ددې نه چې دوی ماته تابعدار راشي ؟

﴿ قَالَ عِفْرِيتٌ مِّنَ الْجِنِّ أَنَا آتِيكَ بِهِ قَبْلَ أَن تَقُومَ مِن مَّقَامِكَ ﴾ . (٣)

ترجمه : په جِنّاتو کې يو مضبوط جِن ( عِفريت ) وويل : زه به تاته د هغې تخت راوړم ، وړاندې ددې نه چې ته د خپل ځای نه پاڅې .

( حضرت سليمان عليه السلام اوفرمايل دا خو ډير وخت دی )

﴿ قَالَ الَّذِي عِندَهُ عِلْمٌ مِّنَ الْكِتَابِ أَنَا آتِيكَ بِهِ قَبْلَ أَن يَرْتَدَّ إِلَيْكَ طَرْفُكَ ﴾ . (٤)

ترجمه : وويل هغه کس چې د هغه سره علم د کتاب ؤ ، زه به تاته دا تخت ستا د سترګو د

---

(١) النمل آية ٢٢ .

(٢) النمل آية ٣٨ .

(٣) النمل آية ٣٩ .

(٤) النمل آية ٤٠ .

رَپ نه هم وړاندې راوړم.

نو د عِلم په برکت سره الله تعالی ده ته دومره لوي قوت ورکړې وُ چې د سترګو په رَپ کې يې د بلقيس تخت راأورسول.

## د علماؤ مقام

علم چونکه يو عظيم صفت دی، ددې سره چې د چا هم، او د څه شی هم واسطه راغلی نو الله تعالی هغه ته ډير لوي مقام او لويه مرتبه ورکړی. ددې د وجې نه په قرآن کريم کې د علماؤ اُوچت مقام بيان شوی.

✡ الله ﷻ د علماؤ درجې اوچتوي:

﴿ يَرْفَعِ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ ﴾. (١)

ترجمه: الله تعالی به په تاسو کې د مؤمنانو او اهلِ علمو درجې اوچتې کړي.

✡ عالِم او غير عالِم سره برابر نه دي، الله تعالی فرمايي:

﴿ قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ﴾. (٢)

ترجمه: ته ووايه (اې پيغمبره!) چې کوم خلق پوهيږي او کوم نه پوهيږي آيا دوی برابر دي؟

په دې آيت کې "هَل" د استفهام انکاري د پاره دی. يعنی پوه خلق او ناپوهه خلق دواړه برابر نه دي.

✡ الله ﷻ د خپلې او د فرښتو د ګواهۍ سره د علماؤ ګواهي هم يو ځای ذکر کړی:

﴿ شَهِدَ اللَّهُ أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ وَالْمَلَائِكَةُ وَأُولُو الْعِلْمِ ...﴾ (٣)

ترجمه: الله ﷻ په دې ګواهي ورکړې ده چې د هغه نه سِوا بل هيڅوک معبود نشته او فرښتې او د عِلم والا هم په دی ګواه دي.

---

(١) المجادلة آية ١١.

(٢) الزمر آية ٩.

(٣) آل عمران آية ١٨.

په دې آيت کې هم د علماو ډير فضيلت بيان شوی ځکه الله ﷻ د خپلې ګواهۍ سره په دويمه مرتبه کې د فرشتو د ګواهي ذکر کړی ، او په دريمه مرتبه کې يې د علماؤ د ګواهۍ ذکر کړی .

✡ په يو بل آيت کې الله ﷻ علماء په دويمه مرتبه کې ذکر کړي ، الله تعالى فرمايي :

﴿ قُلْ كَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ وَمَنْ عِنْدَهٗ عِلْمُ الْكِتٰبِ ﴾.(١)

ترجمه : ورته ووايه اې پيغمبره ! چې الله تعالى زما او ستاسو په مينځ کې کافي ګواه دی ، او هغه کس ګواه دی چې د هغه سره د کتاب علم وي ( يعنى علماء ) .

✡ علماء د الله ﷻ نه ويرېږي ، الله تعالى فرمايي :

﴿ إِنَّمَا يَخْشَى اللّٰهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمٰٓؤُا.. ﴾. (٢)

ترجمه : بيشکه د الله ﷻ په بندګانو کې د الله ﷻ نه علماء ويرېږي .

په دې آيت کې هم د علماؤ فضيلت بيان شوی ، چې دوی د الله ﷻ نه ويرېږي .

✡ او ورسره دا خبره هم د دې آيت نه معلومېږي : چې علماء جنّتيان دي .

ځکه په دې آيت کې په طريقې د حصر سره دا خبره بيان شوی چې علماء د الله ﷻ نه ويرېږي .

✡ په يو بل آيت کې الله ﷻ اول د جنت تذکره کړې ، بيا ورپسې فرمايي :

﴿ ذٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ رَبَّهٗ ﴾.(٣)

ترجمه : دا جنت د هغه چا د پاره دی چې د خپل رب نه ويرېږي .

بل ځای الله تعالى فرمايي : ﴿ وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ جَنَّتٰنِ ﴾.(٤)

ترجمه : څوک چې د خپل رب په وړاندې د اُودريدلو نه ويرېږي د هغه د پاره دوه باغونه دي .

---

(١) الرعد آية ٤٣ .

(٢) فاطر آية ٢٨ .

(٣) البينة آية ٨ .

(٤) الرحمن آية ٤٦ .

نو د اول آيت نه معلومه شوه چې علماء د الله ﷻ نه ويريږي ، د دويم او دريم آيت نه معلومه شوه چې د چا په زړه کې د الله ﷻ ويره وي هغه د جنت مستحق دی . نو معلومه شوه چې علماء د جنت مستحقين دي .

**د طالب العلم مقام** : همدارنګې د الله ﷻ په نزد باندې د طالب العلم هم ډير لوي مقام دی ، څکه کوم کس چې په دې پُرفتن دَور کې خپل ځان د علم د حصول د پاره وقف کړي نو يقينًا دغه کس ډير زيات خوش نصيبه دی ، او د الله ﷻ په نزد غوره کس دی .

الله رب العزت فرمايي : ﴿ ثُمَّ أَوْرَثْنَا الْكِتَابَ الَّذِينَ اصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَا ... ﴾ . (١)

ترجمه : بيا مونږ د کتاب وارثان هغه خلق جوړ کړل کوم چې مونږ په خپلو بندګانو کې غوره کړي وو .

# قرآن کريم

✡ قرآن کريم د الله تعالى کلام دی ، په دې باندې د اول نه تر آخره پورې الله رب العزت تَكَلُّمْ کړی ( كَمَا يَلِيْقُ بِشَانِهٖ ) ، حضرت جبريل ؑ دا آوريدلی ، او بيا حضرت جبرائيل عليه السلام نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته آورولی . الله رب العزت فرمايي :

﴿ تِلْكَ آيٰتُ اللهِ نَتْلُوْهَا عَلَيْكَ بِالْحَقِّ ﴾ . (٢)

ترجمه : دا د الله ﷻ آيتونه دي چې مونږ يې تاته په حَقه تلاوت کوو .

**قرآن کريم محفوظ کتاب دی** : په دُنيا کې چې د انسانانو د هدايت او راهنمايي د پاره څومره آسماني کتابونه يا صحيفې نازلې شوي د هغې ټولو د حفاظت ذِمه واري الله ﷻ په خپله ذِمه نه ده اخيستی ، بلکه د هماغه وخت په اَهلِ کتابو باندې يې اَچولې وه . (٣)

(١) سورة فاطر آية ٣٢ .

(٢) البقرة آيت ٢٥٢

بل ځای الله ﷻ فرمايي : نَتْلُوا عَلَيْكَ مِنْ نَبَإِ مُوسٰى وَفِرْعَوْنَ بِالْحَقِّ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُوْنَ القصص آية ٣ .

(٣) الله ﷻ فرمايي : ﴿ ... بِمَا اسْتُحْفِظُوا مِنْ كِتَابِ اللهِ وَكَانُوا عَلَيْهِ شُهَدَاءَ ﴾ المائدة ، ٤٤

مګر صرف قرآن کريم د الله تعالی داسې عظيم کتاب دی چې ددې د حفاظت ذمه واري الله رب العزت په خپله اخيستی ده. پروردګارِ عالم فرمايي:

﴿ إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ ﴾ . (١)

ترجمه: بيشکه همدا مونږ قرآن کريم نازل کړی، او بيشکه همدا مونږ ددې حفاظت کوونکي يو.

وجه ئې دا ده چې مخکيني کتابونه چونکه دائمي نه وو بلکه د يو خاص وخت د پاره وو نو ځکه د حفاظت ذمه واري يې هم الله ﷻ نه وه اخيستی، او قرآن کريم خو د الله ﷻ داسې آخري کتاب دی چې د قيامته پورې انسانانو د پاره هدايت او د ژوند تېرولو قانون دی نو ځکه الله ﷻ ددې د حفاظت ذمه واري هم په خپله واخيسته.

دغه وجه ده څه د پاسه څوارلس سوه کاله تېرېدو باوجود اوس هم ددې هر هر حرف، هر هر لفظ، او حتّی چې ددې رَسمُ الخط هم هماغه شان محفوظ دی، او تر قيامته پورې به محفوظ وي، نه په کې تر اوسه چا څه تبديلي کړې، او نه به يې تر قيامته پورې په کې اوکړې شي.

چې ځنګه دا کلام د الله رب العزت نه صادر شوی هماغه شان حضرت جبرائيل عليه السلام نبي عليه السلام ته رارسولی، بيا نبي عليه السلام په هماغه الفاظو او هماغه حروفو باندې صحابه کرامو رضي الله عنهم ته خودلی، صحابه کرامو په هماغه الفاظو سره تابعينو ته رارسولی، بيا همدغه شان دا سلسله راروانه وه.

✡ الحمدُ لله تر دې وخته پورې قرآن کريم په هماغه الفاظو، په هماغه حروفو او په هماغه لهجه باندې موجود دی، او تر قيامته پورې به همداسې محفوظ وي، نه په کې څوک تغير او تبديل کولې شي، او نه په کې څوک لفظي او معنوي تحريف کولې شي.

الله رب العزت فرمايي:

﴿ لَا يَأْتِيهِ الْبَاطِلُ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهِ تَنْزِيلٌ مِنْ حَكِيمٍ حَمِيدٍ ﴾ . (٢)

(١) الحجر: ٩

(٢) فصلت: ٤٢

ترجمه : قرآن کريم ته باطل نه د وړاندې طرفه راځي ، او نه د روستو طرفه ، دا نازل شوې دی د حکيم او ستائلي شوي ذات ( الله ﷻ ) د طرفه .

✡ پس کله چې د قرآن کريم د حفاظت ذِمه واري الله ﷻ په خپله اخيستی ، او د دې د حفاظت وعده يې کړی نو اوس دا ممکنه نده چې الله ﷻ د خپلې وعدې خلاف وَرزي وکړي. الله رب العزت فرمايي : ﴿ إِنَّ اللَّهَ لَا يُخْلِفُ الْمِيعَادَ ﴾ . (١)

بيشکه الله ﷻ د ( خپلې ) وعدې خلاف وَرزي نه کوي ( يعنې خپله وعده نه ماتوي ) .

ځکه الله ﷻ په خپل قَول کې رِښتينې دی . پروردِگارِ عالم فرمايي :

﴿ وَمَنْ أَصْدَقُ مِنَ اللَّهِ قِيلًا ﴾ . (٢)

ترجمه : او د الله ﷻ نه زيات رِښتيا ويونکې په خبره کې بل څوک دی ؟

بل ځای اِرشاد دی :

﴿ وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدْقًا وَعَدْلًا لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمَاتِهِ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴾ . (٣)

ترجمه : او ستا د رَب خبره د رِښتونوالي او انصاف په اِعتبار سره پوره شوه ، د هغه د خبرې ( او حکمونو ) لره څوک بدلوونکی نشته ، او هغه اَوريدونکی پوهه دی .

او دا هم ممکنه نده چې ګنې د الله ﷻ نه د قرآن کريم د حفاظت وعده هيره شوې وي .

په سورة مريم کې ذکر دي : ﴿ وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا ﴾ . (٤)

ترجمه : او ستا رَب ( هيڅ خبره ) هيرونکی نه دی .

ځکه الله ﷻ هغه ذات دی چې نه څه غلطي کوي او نه ورنه څه هيريږي .

په سورة طٰه کې ذکر دي : ﴿ لَا يَضِلُّ رَبِّي وَلَا يَنسَى ﴾ . (٥)

---

(١) آل عمران آية ٩

(٢) النساء آية ١٠٢

(٣) الانعام آية ١١٥ .

(٤) سورة مريم آية ٦٤

(٥) سورة طه آية ٥٢

ترجمه: زما رَب نه څه غلطي کوي، او نه (څه څيز) هيروي.

همدغه رنګې په الله رب العزت باندې نه څه پَرکالي راځي او نه خوب، چې ګني د قرآن کريم د حفاظت نه غافله شي. ربِ کريم فرمايي: ﴿ لَا تَأْخُذُهُۥ سِنَةٌ وَلَا نَوْمٌ ﴾. (١)

ترجمه: نه نيسي الله پَرکالي او نه خوب. (يعنى په الله ﷻ باندې پَرکالي او خوب نه راځي).

✡ ددې دومره اوږدې خبرې مقصد مې دا وُ چې: کله الله ﷻ د قرآن کريم د حفاظت وعده کړې، او ددې د حفاظت ذِمه واري يې په خپله اخيستې. او دا خبره هم معلومه ده چې الله ﷻ د خپلې وعدې خِلاف وَرزي هم نه کوي، او نه د هغه نه دا وعده هيريږي، نه پرې غفلت او خوب راځي نو بيا څنګه يو کافر يا بل بې دينه کس به قرآن مجيد کې تغير و تبديل اوکړي ؟ بلکه لکه څرنګې چې تر اوسه په هر لحاظ محفوظ دى نو همدغه شان به تر قيامته پورې هم محفوظ وي.

✡ قرآن کريم د بې شماره حافظانو او اهلِ عِلمو په سينو کې هم محفوظ دى.

الله رب العزت فرمايي:

﴿ بَلْ هُوَ ءَايَٰتٌۢ بَيِّنَٰتٌ فِى صُدُورِ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْعِلْمَ ﴾. (٢)

ترجمه: بلکه دا قرآن کريم خو واضحه آيتونه دي، د هغه خلقو په سينو کې محفوظ دى کومو ته چې عِلم ورکړې شوى.

✡ شپه او ورځ مسلمانان ددې تلاوت کوي.

﴿ ٱلَّذِينَ ءَاتَيْنَٰهُمُ ٱلْكِتَٰبَ يَتْلُونَهُۥ حَقَّ تِلَاوَتِهِۦٓ ﴾. (٣)

ترجمه: چا ته چې مونږ کتاب ورکړى هغوى ددې تلاوت کوي په حق تلاوت کولو سره.

(يعنى څنګه چې ددې د لوستلو حق دى هماغه شان ددې تلاوت کوي).

نو ددې په وجه هم قرآن کريم محفوظ دى.

(١) البقرة آية ٢٥٥.

(٢) العنكبوت آية ٤٩

(٣) البقرة آية ١٢١.

**د قرآن کريم مقابله هيڅوک نشي کولی :** قرآن مجيد د الله ﷻ کلام دی ، دا داسې مُعجز کتاب دی چې ددې مقابَله هيڅوک نشي کولی . د کله نه چې دا نازل شوی د هاغه وخت نه را په ديخوا تر قيامته پورې خلقو ته ددې چيلنج ورکړې شوی چې ددې په شان کلام جوړ کړئ . بلکه که د دُنيا ټول فصحاء او بُلغاء ، عرب او عجم ، انسانان او پيريان راجَمع شي خو بيا هم د قرآن کريم مقابَله نشي کولی .

او ددې خبرداري الله ﷻ د مخکې نه ورکړی ، ربِ کريم فرمايي :

﴿ قُلْ لَّئِنِ اجْتَمَعَتِ الْإِنْسُ وَالْجِنُّ عَلٰٓى اَنْ يَّاْتُوْا بِمِثْلِ هٰذَا الْقُرْاٰنِ لَا يَاْتُوْنَ بِمِثْلِهٖ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيْرًا ﴾ . (١)

ترجمه : ( اې پيغمبره ! ) ته ورته ووايه : که چيرته ټول انسانان او پيريان راجَمع شي ددې د پاره چې ددې قرآن کريم په شان ( بل قرآن ) راوړي نو هيڅ کله به ددې په شان قرآن رانه وړي ، اګر چې په دوی کې بعضې د بعضو نورو د پاره مددګار شي .

✡ کله چې د غونډ قرآن کريم غونډې کتاب هيڅا جوړ نکړې شو نو د لسو سورتونو چيلنج ورکړې شو :

﴿ اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ ۭ قُلْ فَاْتُوْا بِعَشْرِ سُوَرٍ مِّثْلِهٖ مُفْتَرَيٰتٍ وَّادْعُوْا مَنِ اسْتَطَعْتُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۝ فَاِلَّمْ يَسْتَجِيْبُوْا لَكُمْ فَاعْلَمُوْٓا اَنَّمَآ اُنْزِلَ بِعِلْمِ اللّٰهِ وَاَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ فَهَلْ اَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴾ . (٢)

ترجمه : آيا دوی ( يعنی دا کافران ) وايي چې نبي عليه السلام قرآن کريم د ځان نه ( په دروغه ) جوړ کړې دی ، نو ته ورته ووايه چې تاسو هم د قرآن کريم په شان لس (١٠) سورتونه د ځان نه ( په دروغه ) جوړ شوي راوړئ ، او د الله ﷻ نه سِوا چې تاسو څوک هم

---

(١) بني اسرائيل ( الاسراء ) آية ٨٨ .

په سورة الطور کې ذکر دي ، ﴿ اَمْ يَقُوْلُوْنَ تَقَوَّلَهٗ ۚ بَلْ لَّا يُؤْمِنُوْنَ . فَلْيَاْتُوْا بِحَدِيْثٍ مِّثْلِهٖٓ اِنْ كَانُوْا صٰدِقِيْنَ ﴾ . الطور آية ٣٣ ، ٣٤ .

(٢) هود آية ١٣ ، ١٤ .

رابللې شئ هغه ( د مدد کولو دپاره ) را اُوبلئ که چيرته تاسو ( په خپله دعویٰ کې ) رښتيني يئ ، پس که چيرته دوی تاسو ته جواب درنکړي ( يعنی دا کار او نه کړې شي ) نو تاسو پوهه شئ چې دا ( قرآن کريم ) د الله په علم ( او قدرت ) سره نازل کړې شوی ، او دا چې د الله ﷻ نه سِوا بل معبود نشته ، پس آيا تاسو مسلمانان يئ ؟ ( يعنی چې کله درته د قرآن کريم صداقت معلوم شو نو آيا تاسو اوس هم نه مسلمانيږئ ؟ ) .

✡ کله چې د قرآن کريم غوندې لس ( ١٠ ) سورتونه هم چا جوړ نکړې شو نو ددينه مختصر يعنی د يو سورة جوړولو چيلنج ورکړې شو :

الله تعالی فرمايي :

﴿ اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ قُلْ فَاْتُوْا بِسُوْرَةٍ مِّثْلِهٖ وَادْعُوْا مَنِ اسْتَطَعْتُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴾ . (١)

ترجمه : آيا دوی دا وايي چې پيغمبر ( ﷺ ) دا قرآن کريم د ځان نه ( په دروغه ) جوړ کړې دی نو ( اې پيغمبره ! ) ته ورته ووايه چې تاسو ددې په شان يو سورت راوړئ ، او د الله ﷻ نه علاوه چې تاسو څوک هم رابللې شئ هغه رااُوبلئ که چيرته تاسو ( په دې خپله دعویٰ کې ) رښتيني يئ .

✡ په مدينه منوّره کې دوباره د يو سورة راوړلو چيلنج ورکړې شو ، او ورسره الله ﷻ دې خبر هم ورکړو چې نه خو دوی اوس د قرآن کريم غوندې يو سورة جوړولې شي ، او نه به يې تر قيامته پورې جوړ کړي . الله تعالی فرمايي :

﴿ وَاِنْ كُنْتُمْ فِيْ رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلٰى عَبْدِنَا فَاْتُوْا بِسُوْرَةٍ مِّنْ مِّثْلِهٖ ۠ وَادْعُوْا شُهَدَآءَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴾ . (٢)

ترجمه : او که چيرته ستاسو شک وي په هغه کتاب کې چې مونږ په خپل بنده ( محمد صلی الله عليه وسلم ) باندې نازل کړی نو تاسو هم ددې په شان يو سورة ( جوړ کړې )

---

(١) يونس آية ٣٨ .

(٢) البقرة آية ٢٣ .

راوړئ ، او د الله ﷻ نه بغير خپل (ټول) مددګاران هم راأوغواړئ که چيرته تاسو (په خپله دعوىٰ کې) رښتيني يَی .

په وروستي آيت کې الله ﷻ فرمايي :

﴿ فَإِنْ لَّمْ تَفْعَلُوا وَلَنْ تَفْعَلُوا فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِيْ وَقُوْدُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ ۚ أُعِدَّتْ لِلْكٰفِرِيْنَ ﴾.(۱)

ترجمه : پس که چيرته تاسو دا کار (يعنى د قرآن کريم په شان يو سورة جوړول) اونکړې شئ او هيڅ کله به يې اونکړې شئ نو (بيا) د هغه أور نه أووېرېږئ چې د هغې خَشاک (نافرمانه) خلق او کاڼي دي ، دا أور تيار کړې شوې دی د کافرانو د پاره .

**قرآن کريم اِنقلابي کتاب دی** : قرآن کريم داسې يو اِنقلابي کتاب دی چې دا د انسانانو په ژوند کې اِنقلاب پيدا کوي ، د انسانانو په زړونو او رُوحونو کې تبديلي راولي .

✡ قرآن کريم يو رُوح دی په دې سره قومونه ژوندي کيږي او سَرْبُلند کيږي ، الله رب العزت فرمايي : ﴿ وَكَذٰلِكَ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ رُوْحًا مِّنْ أَمْرِنَا ﴾ .(۲)

ترجمه : او همدغه شان (اې پيغمبره !) مونږ تاته په خپل حکم سره يو رُوح (يعنى قرآن کريم) راوليږل .

✡ د قرآن کريم په وجه د کاڼي نه سخت زړونه نَرميږي ، او د زړه بَندې تالې (قُفلونه) ورباندې کلاوېږي . او څوک چې ددې په احکاماتو باندې عمل نه کوي ، ددې تلاوت نه کوي ، او په دې کې تدبّر نه کوي نو ګويا د دوی په زړونو باندې تالې لږيدلي دي ، الله تعالى فرمايي : ﴿ أَفَلَا يَتَدَبَّرُوْنَ الْقُرْآنَ أَمْ عَلٰى قُلُوْبٍ أَقْفَالُهَا ﴾ .(۳)

ترجمه : آيا دوی په قرآن کريم کې تدبّر (غور او فکر) نه کوي ؟ يا د دوی په زړونو باندې تالې (قُفلونه) لږيدلي دي ؟

---

(۱) البقرة آية ۲۳ .

(۲) الشورىٰ آية ۵۲ .

(۳) سورة محمد آية ۲۴ .

✡ په قرآن کريم کې الله ﷻ داسې هيبت او جلال ايښې چې دا د دُنيا په بل هيڅ کلام کې نشته، ددې په وجه د انسان په زړه کې د الله ﷻ نه خَوف پيدا کيږي، او زړه يې نرميږي الله رب العزت فرمايي:

﴿ اَللّٰهُ نَزَّلَ اَحۡسَنَ الۡحَدِيۡثِ كِتٰبًا مُّتَشَابِهًا مَّثَانِىَ ۖ تَقۡشَعِرُّ مِنۡهُ جُلُوۡدُ الَّذِيۡنَ يَخۡشَوۡنَ رَبَّهُمۡ ۚ ثُمَّ تَلِيۡنُ جُلُوۡدُهُمۡ وَقُلُوۡبُهُمۡ اِلٰى ذِكۡرِ اللّٰهِ ؕ ذٰلِكَ هُدَى اللّٰهِ يَهۡدِىۡ بِهٖ مَنۡ يَّشَآءُ ؕ وَمَنۡ يُّضۡلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنۡ هَادٍ ﴾. (١)

ترجمه: الله تعالى بهترين كلام (يعنى قرآن كريم) نازل کړی، (دا قرآن کريم) داسې کتاب دی چې (مضامين يې په حُسن او حِکمت کې) د يو بل په شان دی، ددې آيتونه بيا بيا ويلې شي (٢)، په دې سره د هغې خلقو څرمنې زيګ زيګ کيږي (٢) کوم چې د خپل رب نه يريږي، بيا د هغوی څرمنې او زړونه د الله ذکر طرف ته نرم شي (٣) همدا (قرآن کريم) د الله تعالى هدايت دی چاته چې الله ﷻ اوغواړي نو هغه ته په دې سره هدايت کوي، او څوک چې الله ګمراه کړي نو هغه ته هيڅوک هدايت ورکوونکې نشته.

✡ دغه وجه ده چې صحابه کرامو رضي الله عنهم به کله د قرآن کريم تلاوت کولو او يا به يې آوريدلو نو کيفيت به يې بدل شو، په سترګو کې به يې اُوښکې راغلې.

الله تعالى ددې بيان داسې کوي:

(١) سورة الزمر آية ٢٣.

(٢) يعنى د پوهې د پاره څنې قِصص او احکام بار بار مکرر ذکر دي.

بل ځاى الله ﷻ فرمايي: وَلَقَدۡ صَرَّفۡنَا لِلنَّاسِ فِىۡ هٰذَا الۡقُرۡاٰنِ مِنۡ كُلِّ مَثَلٍ فَاَبٰۤى اَكۡثَرُ النَّاسِ اِلَّا كُفُوۡرًا. سورة الاسراء (بنى اسرائيل) آية ٨٩.

وَلَقَدۡ صَرَّفۡنَا فِىۡ هٰذَا الۡقُرۡاٰنِ لِلنَّاسِ مِنۡ كُلِّ مَثَلٍ ؕ وَكَانَ الۡاِنۡسَانُ اَكۡثَرَ شَىۡءٍ جَدَلًا. سورة الكهف آيت ٥٤.

(٢) دا کِنايه ده د خَوف نه، يعنى کله چې مؤمنان د عذاب آيتونه واوري نو د الله ﷻ د يَرې د وجې نه يې غونې زيګ شي، زړه يې نرم شي، او يَره په کې پيدا شي.

(٣) يعنى کله چې د رحمت آيتونه واوري نو په دې سره د دوی زړونه نرم شي، او د الله تعالى ياد، او په قرآن مجيد باندې عمل کولو طرف ته متوجه شي.

﴿وَإِذَا سَمِعُوا مَا أُنزِلَ إِلَى الرَّسُولِ تَرَى أَعْيُنَهُمْ تَفِيضُ مِنَ الدَّمْعِ مِمَّا عَرَفُوا مِنَ الْحَقِّ﴾. (١)

ترجمه: او کله چې دوی هغه کلام واوريد کوم چې رسول (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) ته نازل کړې شوې دی نو ته به د دوی سترګې ګورې چې اوښکې به څڅوي، ځکه چې دوی حق پيژندلې دی.

✡ قرآن کريم داسې کلام دی چې کله دا جِنّاتو (پيريانو) واوريد نو بغير د توقّف کولو کولو نه يې بې اختياره وويل: ﴿إِنَّا سَمِعْنَا قُرْآنًا عَجَبًا﴾. (٢)

ترجمه: بيشکه مونږ قرآن کريم واوريد چې (د فصاحت او بلاغت په اعتبار سره) ډير عجيب دی.

✡ **د قرآن کريم د تلاوت فضائل**: چيرته چې تلاوت کيږي هلته د الله ﷻ رحمتونه په شپبو شپبو راوريږي، ربِّ کريم فرمايي:

﴿وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ﴾. (٣)

ترجمه: او کله چې قرآن کريم لوستلې شي نو ديته غوږ کيدئ (يعنی دا په توجّه سره واورئ)، او چپ اوسئ، ددې د پاره چې په تاسو رحم اوکړې شي.

ګويا د قرآن کريم تلاوت کول د الله ﷻ د رحمتونو راښکته کولو د پاره مِقناطيس دی، يعنی لکه څرنګې چې مِقناطيس اوسپنه ځانته راکاږي نو همدغه شان د قرآن کريم تلاوت کول هم د الله ﷻ د رحمتونو نازليدلو سبب دی، چې په تلاوت کوونکي باندې په شپبو شپبو راوريږي.

✡ قرآن کريم داسې بهترين کتاب دی چې په دې کې د انسان د رُوحاني او جِسماني ټولو مرضونو شِفاء ده، الله رب العزت فرمايي:

﴿وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ مَا هُوَ شِفَاءٌ وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ وَلَا يَزِيدُ الظَّالِمِينَ إِلَّا خَسَارًا﴾. (٤)

---

(١) المائده آية ٨٣.

(٢) الجن آية ١.

(٣) الاعراف آية ٢٠٣.

(٤) الاسراء (بني إسرائيل) آية ٨٢.

ترجمه : او موږ د قرآن کريم نه هغه څه نازلوو چې په هغې کې د مؤمنانو د پاره شِفاء او رحمت دی ، او د ظالمانو په حق کې خو نور هم نقصان زياتوي .

( څکه مومنان قرآن کريم مني ، تلاوت يې کوي ، او عمل پرې کوي چې ددې په وجه په دوی د الله ﷻ رحمت نازليږي ، او د باطلو عقيدو نه ورته شِفاء او نِجات حاصليږي . او ظالمان ، مشرکين خو قرآن کريم نه مني چې ددې په وجه په دوی باندې د الله ﷻ قهر او غضب نازليږي ) .

✡ قرآن کريم د الله تعالى مضبوطه رَسی ده ، الله تعالى په خپله دې ته " حَبْلُ الله " ويلې دي ، رب کريم فرمايي :

﴿وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا﴾ . (١)

ترجمه : او تاسو ټول د الله تعالى رَسی ( اسلام او قرآن ) مضبوطه اونيسئ ، او مه جدا کيږئ .

او الله تعالى د خپل قُرب د پاره دا رَسی ( يعنی دا قرآن کريم ) نازل کړی ، دا داسې رسی ده چې ددې يو سَر د الله ﷻ په لاس کې دی (كَمَا يَلِيقُ بِشَانِهِ ) ، او بل سَر يې د بندګانو په لاس کې دی ، پس څوک چې دا څومره مضبوطه اونيسي نو دومره زر به الله ﷻ ته ورأورسي ، او د هغه محبوب به جوړ شي

✡ د قرآن کريم د تلاوت په وجه د انسان اِيمان نور هم قوي کيږي او زياتيږي ، په سورة انفال کې الله ﷻ د مؤمنانو په صفاتو کې دا خبره هم ذکر کړی :

﴿ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَانًا ﴾ . (٢)

ترجمه : او کله چې په دې مؤمنانو باندې د الله آيتونه اولوستلې شي نو دا آيتونه د دوی ايمان نور هم زيات ( مضبوط ) کړي .

په سورة التوبة کې الله رب العزت فرمايي :

---

(١) آل عمران آية ١٠٣ .

(٢) الانفال آية ٢ .

﴿ وَإِذَا مَا أُنزِلَتْ سُورَةٌ فَمِنْهُم مَّن يَقُولُ أَيُّكُمْ زَادَتْهُ هَٰذِهِ إِيمَانًا ۚ فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا فَزَادَتْهُمْ إِيمَانًا وَهُمْ يَسْتَبْشِرُونَ ﴾ .(١)

ترجمه : او کله چې يو سورة نازل کړې شي نو ځنې منافقان ( مسلمانانو ته د استهزاء په طور ) وايي : دې سورة په تاسو کې د چا ايمان زيات ( قوي ) کړو ؟ ( الله رب العزت دې منافقانو ته په جواب کې فرمايي : ) پس کومو خلقو چې ايمان راوړې دی نو دې سورة د هغوی ايمان نور هم زيات ( مضبوط او قوي ) کړو ، او دوی ( ددې په محسوسولو سره ) خوشحاليږي .

✡ د قرآن کريم تلاوت په خشوع او تدبّر سره په کار دی ، الله رب العزت فرمايي :

﴿ أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ ﴾ .(٢) ترجمه : آيا دوی په قرآن کريم کې تَدبّر نه کوي ؟

بل ځای الله ﷻ فرمايي :

﴿ كِتَابٌ أَنزَلْنَاهُ إِلَيْكَ مُبَارَكٌ لِّيَدَّبَّرُوا آيَاتِهِ وَلِيَتَذَكَّرَ أُولُو الْأَلْبَابِ ﴾ .(٣)

ترجمه : دا ( قرآن کريم ) داسې برکتي کتاب دی چې مونږ په تا باندې نازل کړې دی ددې دپاره چې دوی ددې په آيتونو کې تدبّر اوکړي ، او د عقل خاوندان ددينه نصيحت حاصل کړي .

لهذا انسان ته د تلاوت کولو په وخت دا تَصَوّر په کار دی چې زه ګويا د الله ﷻ سره مُناجات کوم ، او زه الله رب العزت ګورم . يا که دا تَصوّر نشي کولی نو کم از کم دا تصوّر خو به خامخا کوي چې پروردِګارِ عالَم خو ما ګوري . نو په دې سره به ده ته د تلاوت کولو په وخت خُشوع او تدبّر نصيبه کيږي .

✡ د قرآن سره تعلق لرونکي او ددې تلاوت کوونکي د نه هلاکيدونکي تِجارت اُميد لري ، الله رب العزت فرمايي :

---

(١) التوبة آية ١٢٤ .

(٢) النساء آية ٨٢ .

(٣) ص آية ٢٩ .

﴿ إِنَّ الَّذِينَ يَتْلُونَ كِتٰبَ اللهِ وَأَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَأَنْفَقُوا مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً يَرْجُونَ تِجَارَةً لَّنْ تَبُورَ ، لِيُوَفِّيَهُمْ أُجُورَهُمْ وَيَزِيدَهُمْ مِّنْ فَضْلِهِ إِنَّهُ غَفُورٌ شَكُورٌ ﴾ . (١)

ترجمه : بيشكه څوک چې د الله د كتاب ( قرآن كريم ) تلاوت كوي ، مونځ قائموي ( يعنى په پابندۍ سره يې كوي ) ، او مونږ چې ورته څه وركړي دي د هغې نه په پټه او ښكاره خرچ ( خيرات ) كوي نو دوی د داسې تجارت اُميد لري چې هغه هيڅ كله نه هلاكيږي ( نه بَرباديږي ، او نه تاواني كيږي ) ، دا ددې د پاره چې الله دوی ته ( د نيكو عملونو ) پوره اَجرونه وركړي ، او په خپل فضل سره نور هم زيات وركړي ، بيشكه الله ښښونكی او قدردان دی .

✡ چاته چې الله ﷻ د تلاوت كولو توفيق وركړو ، يا يې په ناظره يا حفظ باندې د قرآن كريم د ختمولو توفيق وركړو نو ده ته الله ﷻ يو عظيم نِعمت وركړو ، اوس ده ته په كار دي چې ددې نعمت شكريه اداء كړي .

ځكه د دُنيا مال و دولت ، عُهدې او وَزارتونه ددې نِعمت مقابَله هيڅ كله نشي كولی .

الله تعالی دا نِعمت په طور د اِحسان ذكر كړی ، نبي عليه السلام ته فرمايي :

﴿ وَلَقَدْ آتَيْنَاكَ سَبْعًا مِّنَ الْمَثَانِي وَالْقُرْآنَ الْعَظِيمَ ﴾ . (٢)

ترجمه : او بيشكه مونږ دركړي دي تاته اُووه ( آيتونه ، يعنى سورة فاتحه ) چې ( په مانځه كې ) باربار لوستلې شي ، او د عَظمت واله قرآن كريم ( مو دركړې دی ) .

**په قرآن كريم عمل كول** : لكه څرنګې چې د مسلمان د پاره د قرآن كريم تلاوت كول ضروري دی نو همدغه شان په دې باندې عمل كول هم لازمي دی ، ځكه قرآن مجيد د همدې د پاره نازل شوی چې ددې په اَحكاماتو باندې عمل اوكړې شي ، او ددې تابعداري اوكړې شي . الله رب العزت فرمايي :

﴿ وَهٰذَا كِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ مُبَارَكٌ فَاتَّبِعُوهُ وَاتَّقُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴾ . (٣)

---

(١) الفاطر آية ٢٩ ، ٣٠ .

(٢) الحجر آية ٨٧ .

(٣) الانعام آية ١٥٥ .

ترجمه : او دا ( قرآن كريم ) يو بركتي كتاب دى چې مونږ نازل كړې دى پس تاسو ددې تابعداري اوكړئ ( يعنى ددې په اَحكاماتو باندې عمل اوكړئ ) او د الله د مخالفت نه اُوويرېږئ ( پرهيزګاري اِختيار كړئ ) ددې د پاره چې په تاسو باندې رحم اوكړې شي .

## الله تعالى په خپلو بندګانو باندې مهربانه دى

✡ د الله ﷻ رَحمت او مهرباني په دُنيا كې عامه ده ، بيا خاصكر په مؤمنانو او مُتّقيانو باندې خو يې خصوصي رَحمتونه او مهرباني دي .

په قرآن كريم كې ذكر دي :

﴿ هُوَ الَّذِىْ يُصَلِّىْ عَلَيْكُمْ وَمَلٰٓئِكَتُهٗ لِيُخْرِجَكُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ۭ وَكَانَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ رَحِيْمًا ﴾ .(۱)

ترجمه : الله هغه ذات دى چې هغه او د هغه فرشتې په تاسو باندې رحمت راليږي ، ددې د پاره چې تاسو د كفر د تيارو نه د اسلام رڼا ته را اُوباسي ، او الله تعالى په مؤمنانو باندې ډير مهربانه دى .

بل ځاى فرمايي : ﴿ اِنَّ رَحْمَتَ اللّٰهِ قَرِيْبٌ مِّنَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴾ .(۲)

ترجمه : بيشكه د الله تعالى رحمت نيكانو ته ډير نزدې دى .

بل ځاى فرمايي :

﴿ وَرَحْمَتِيْ وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ ۭ فَسَاَكْتُبُهَا لِلَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَالَّذِيْنَ هُمْ بِاٰيٰتِنَا يُؤْمِنُوْنَ ۝ اَلَّذِيْنَ يَتَّبِعُوْنَ الرَّسُوْلَ النَّبِيَّ الْاُمِّيَّ ... ﴾ . (۳)

ترجمه : زما رحمت ( په دنيا كې ) عام دى هر شي ته ، پس ډير زر به زه دا رحمت اوليكم ( خاص كرم ) د هغه خلقو د پاره چې پرهيزګاري كوي ، ( په دُنيا كې ) زكوة وركوي ، او هغه خلق كوم چې زمونږ په آيتونو ايمان راوړي . كوم چې تابعداري د هغه رسول كوي چې

---

(۱) الاحزاب آية ۴۳.

(۲) الاعراف آية ٥٦ .

(۳) الاعراف آية ١٥٦.

نبي أمّي دی.

✡ محترمو مسلمانانو! د الله تبارک وتعالی د مهربانۍ اندازه د دینه کیدې شي چې هر وخت په انسان باندې بې شماره نعمتونه نازلوي. الله ﷻ فرمايي:

﴿ وَإِنْ تَعُدُّوا نِعْمَةَ اللَّهِ لَا تُحْصُوهَا ۗ إِنَّ اللَّهَ لَغَفُورٌ رَحِيمٌ ﴾. (١)

ترجمه: او که چیرته تاسو د الله نعمتونه شمیرل اوغواړی نو دا نشئ شمیرلی، بیشکه الله بخښونکی او مهربان دی.

✡ بلکه که انسان يو معمولي عمل په اخلاص اوکړي، نو الله رب العزت د ده دا عمل نه ضائع کوي، بلکه په دې ورته هم اجر ورکوي. ربِّ کريم فرمايي:

﴿ فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ ﴾. (٢)

ترجمه: پس څوک چې د يوې ذرّې برابر نيکي اوکړي نو د قيامت په ورځ به دا کس د دې اجر اوګوري.

بل ځای الله ﷻ فرمايي: ﴿ ... أَنِّي لَا أُضِيعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِنْكُمْ مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَىٰ ﴾. (٣)

ترجمه: بيشکه زه په تاسو کې د هيچا عمل نه ضائع کوم، که هغه نارينه وي او که ښځينه.

✡ ليکن بل طرفته د انسان ناشکري او ناقدرۍ ته اوګوره چې الله ﷻ پيدا کړو، روغ صورت يې ورکړو، ښکلې شکل يې ورکړو، رزق ورکوي، او نور بې شماره انعامات ورباندې کوي، ليکن دا بيا هم ناشکري کوي، د خپل رب عبادت نکوي. الله رب العزت فرمايي: ﴿ إِنَّ الْإِنْسَانَ لِرَبِّهِ لَكَنُودٌ ۝ وَإِنَّهُ عَلَىٰ ذَٰلِكَ لَشَهِيدٌ ﴾. (٤)

ترجمه: بيشکه انسان د خپل رب ډير زيات ناشکره دی، او دا په دې خپله ناشکرۍ باندې

---

(١) النحل آية ١٨.

(٢) الزلزال آية ٧

(٣) آل عمران آية ١٩٥

(٤) العاديات آية ٦، ٧.

گواه هم دی (چې زه د الله ﷻ ډیر ناشکره یم) .

بل ځای الله تبارک وتعالی فرمایي :

﴿ يٰحَسْرَةً عَلَى الْعِبَادِ مَا يَأْتِيهِم مِّن رَّسُولٍ إِلَّا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِءُونَ ﴾ (١)

ترجمه : هائي افسوس ! په بندګانو باندې ، چې کله هم دوی ته رسول راغلی ، نو دوی ورپوری توقې او خنداګانې کړې .

✡ خو لیکن بیا هم ددې تولو کمزوریو باوجود الله ﷻ انسان څومره د محبت او شفقت په انداز ځان طرفته رابللي :

﴿ يَا أَيُّهَا الْإِنسَانُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ الْكَرِيمِ ﴾. (٢)

ترجمه : ای انسانه ! ته د خپل رب کریم په حقله څه شي دهوکه کړې یې ؟

(چې د خپل رب نه دې بغاوت او سرکشي اختیار کړی ، نافرماني یې کوی . ستا رب خو تا طرفته متوجه دی ، ستا د توبې منتظر دی چې کله به دا بنده د ګناهونو نه توبه اوباسي او ما طرفته به متوجه کیږي) .

✡ انسان ته پکار دي چې د الله ﷻ د رحمت نه مایوسه نشي .

الله رب العزت فرمایي : ﴿ لَا تَقْنَطُوا مِن رَّحْمَةِ اللَّهِ ﴾ . (٣)

ترجمه : تاسو د الله ﷻ د رحمت نه مه نا اُمیده کیږئ .

بل ځای فرمایي : ﴿ إِنَّهُ لَا يَيْأَسُ مِن رَّوْحِ اللَّهِ إِلَّا الْقَوْمُ الْكَافِرُونَ ﴾. (٤)

ترجمه : بیشکه د الله د رحمت نه نه نا اُمیده کیږي مګر صرف کافران قوم .

## د توبې اَهمیت او فضائل

✡ دګناهونو نه توبه ویستل فرض ده ځکه الله تعالی مؤمنانو ته د توبې اَمر کړی :

---

(١) یس آیة ٣٠

(٢) الانفطار آیة ٦

(٣) الزمر آیة ٥٣ .

(٤) یوسف آیة ٨٧ .

﴿ يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا تُوْبُوْٓا اِلَى اللّٰهِ تَوْبَةً نَّصُوْحًا ﴾ (١)

ترجمه : اې د ايمان خاوندانو ! تاسو توبه اوباسئ الله ته ريښتيني او خالصه توبه.

بل ځاى فرمايي : ﴿ وَتُوْبُوْٓا اِلَى اللّٰهِ جَمِيْعًا اَيُّهَ الْمُؤْمِنُوْنَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴾ (٢)

ترجمه : اې مومنانو ! تاسو ټول الله ته توبه اوباسئ ددې دپاره چې تاسو كامياب شئ.

په مذكوره آيت الله ﷻ د توبه كوونكو سره د فلاح او كاميابۍ وعده هم اوكړه.

✡ محترمو ! الله رب العزت په خپلو بندګانو باندې دومره زيات مهربان دى چې كه د چا نه بتقاضائى بشريت څه ګناه اوشي او بيا په اخلاص باندې توبه اُوباسي نو الله تعالى دده توبه قبلوي ، او مخكيني ګناهونه ورته معاف كوي ، الله تعالى فرمايي :

﴿ وَهُوَ الَّذِىْ يَقْبَلُ التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهٖ وَيَعْفُوْا عَنِ السَّيِّاٰتِ وَيَعْلَمُ مَا تَفْعَلُوْنَ ﴾ (٣)

ترجمه : او الله هغه ذات دى چې قبلوي توبه د خپلو بندګانو ، او ګناهونه ورته معاف كوي ، او په هغه كارونو پوهيږي چې تاسو يې كوئ.

په بل ځاى كې الله تعالى فرمايي :

﴿ وَمَنْ يَّعْمَلْ سُوْٓءًا اَوْ يَظْلِمْ نَفْسَهٗ ثُمَّ يَسْتَغْفِرِ اللّٰهَ يَجِدِ اللّٰهَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴾ (٤)

ترجمه : او څوک چې بَد كار اوكړي يا په خپل ځان باندې ظلم اوكړي ، بيا د الله تعالى نه بخښنه اوغواړي نو الله تعالى به ډير بخښونكى او زيات مهربان بيامومي.

بل ځاى الله ﷻ فرمايي : ﴿ وَاِنِّىْ لَغَفَّارٌ لِّمَنْ تَابَ وَاٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا ثُمَّ اهْتَدٰى ﴾ (٥)

ترجمه : او بيشكه زه ډير بخښونكې يم هغه چالره چې څوک توبه اوباسي ، ايمان راوړي او نيک عمل اوكړي ، بيا په سمه لاره قائم پاتې شي.

---

(١) التحريم آية ٨.
(٢) النور آية ٣١.
(٣) الشورى آية ٢٥.
(٤) النساء آية ١١٠.
(٥) طه آية ٨٢.

بل ځای فرمايي : ﴿ وَرَبُّكَ الْغَفُوْرُ ذُو الرَّحْمَةِ ﴾. (١)
ترجمه : او ستا رب بخښونکی او خاوند د رحمت دی .

✡ او که دا سړی په تیرو ګناهونو پښيمانتيا ښکاره کوي او استغفار وايي نو الله جل جلاله به دده بَدياني په نيکيو بدلې کړي . الله تعالی فرمايي :
﴿ اِلَّا مَنْ تَابَ وَاٰمَنَ وَعَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا فَاُولٰٓئِكَ يُبَدِّلُ اللّٰهُ سَيِّاٰتِهِمْ حَسَنٰتٍ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴾. (٢)
ترجمه : مګر څوک چې تو به اوباسي ، ايمان راوړي او د نيکۍ کارونه کوي نو الله تعالی به د داسې خلکو بَدياني په نيکيو بدلې کړي او ( دا ځکه چې ) الله بخښونکی او مهربان دی .

✡ د کفر نه بله غټه ګناه نشته خو الله تعالی د کافر په باره کې نبي عليه الصلوة والسلام ته فرمايي : ﴿ قُلْ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ يَّنْتَهُوْا يُغْفَرْ لَهُمْ مَّا قَدْ سَلَفَ ﴾. (٣)
ترجمه : اې پيغمبره ! ته دې کافرانو ته ووايه که چيرته دوی د کفر نه منع شي ( د خپل کفر نه توبه اوباسي ، او اسلام قبول کړي ) نو تير شوي ګناهونه به ورته اُوبخښلې شي .
نو اوس چې د کفر نه کومه کمه ګناه ده هغه خو به الله جل جلاله په توبې سره په طريقِ اولی معاف کوي .

✡ الله رب العزت ګناهکارانو ته عام اعلان کړی ، چې زه ټول ګناهونه ببښم :
﴿ قُلْ يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اَسْرَفُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ اِنَّ اللّٰهَ يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ جَمِيْعًا اِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ﴾ (٤)

(١) الكهف آية ٥٨ .
(٢) الفرقان آية ٧٠ .
(٣) الانفال آية ٣٨ .
(٤) الزمر آية ٥٣ .

ترجمه : اې پيغمبره ! زما د طرف نه دې خلقو ته ووايه چې اې زما هغه بندګانو چاچې زياتې کړی په خپلو ځانونو باندې ( يعني کفر ،شرک او کبيره ګناهونه يې کړي ) تاسو د الله د رحمت نه مه نا اُميده کيږئ ، بيشکه الله ټول ګناهونه بخښي ، بيشکه هم دې بخښونکې او مهربانه دی .

بل ځای فرمايي: ﴿ نَبِّئْ عِبَادِيْٓ اَنِّيْٓ اَنَا الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ۝ وَاَنَّ عَذَابِيْ هُوَ الْعَذَابُ الْاَلِيْمُ ﴾ (١)

ترجمه : ( اې پيغمبره ! ) ته زما بندګانو ته دا خبر ورکړه چې بيشکه زه ډير بخښونکی او زيات مهربانه يم ، او زما عذاب هم ډير دَردناک عذاب دی .

✡ الله تعالی د توبه کونکي سره محبت کوي :

﴿ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ التَّوَّابِيْنَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِيْنَ ﴾ (٢)

ترجمه : بيشکه الله ﷻ توبه کوونکي او ځان پاک لرونکي خلق خوښوي .

بل ځای فرمايي : ﴿ وَهُوَ الْغَفُوْرُ الْوَدُوْدُ ﴾ . (٣)

ترجمه : او هغه الله بخښونکی ( د ګناهونو ) دی ، او محبت کوونکی دی .

✡ د توبې په وجه الله رب العزت انسان ته بهترين د راحت واله ژوند نصيبه کوي :

﴿ وَاَنِ اسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوْبُوْٓا اِلَيْهِ يُمَتِّعْكُمْ مَّتَاعًا حَسَنًا اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى وَّيُؤْتِ كُلَّ ذِيْ فَضْلٍ فَضْلَهٗ ﴾ . (٤)

ترجمه : او دا چې تاسو بخښنه غواړئ د خپل رب نه ، بيا توبه اوباسئ هغه ته ، نو هغه به درله د يو مقرّر وخت ( مرګ ) پورې د ژوند ښکلې سازو سامان درکړي ، او په آخرت کې به هر خاوند د فضل ( نيک عمل کونکي ) ته خپل فضل ( جنت ) ورکړي .

---

(١) الحجر آية ٤٩ ، ٥٠

(٢) البقرة آية ٢٢٢ .

(٣) البروج آية ١٤

(٤) هود آية ٣ .

# د دُنيا په ژوند باندې دُهوکه کیدل ندي په کار

✡ مسلمان ته په کار دي چې د دُنيا په دې ظاهري ژوند باندې دُهوکه نشي ، ځکه دا عارضي ژوند دی ، د انسان دائمي ژوند د آخرت واله دی.

الله ربّ العزت د دُنياوي ژوند په باره کې فرمايي :

﴿ وَمَا هٰذِهِ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ اِلَّا لَهْوٌ وَّلَعِبٌ ؕ وَ اِنَّ الدَّارَ الْاٰخِرَةَ لَهِيَ الْحَيَوَانُ ۘ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ﴾. (١)

ترجمه : او نه دی دا ژوند د دُنيا مګر صرف لوبې او تماشې دي (يعنی د دُنيا د ژوند حقيقت صرف لوبې او تماشې دي) ، او بيشکه کور (ژوند) د آخرت همدا اصلي (او حقيقي) ژوند دی ، کاش چې دوی پوهيدلی.

﴿وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ اِلَّا لَعِبٌ وَّلَهْوٌ ؕ وَلَلدَّارُ الْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لِّلَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴾. (٢)

ترجمه : او نه دی ژوند د دُنيا مګر لوبې او تماشې دي ، او البته کور د آخرت ډير ښه دی د هغه خلقو د پاره چې پرهيزګاره دي ، آيا تاسو نه پوهيږئ ؟

﴿ اِعْلَمُوْٓا اَنَّمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ وَّلَهْوٌ وَّزِيْنَةٌ وَّتَفَاخُرٌۢ بَيْنَكُمْ وَتَكَاثُرٌ فِي الْاَمْوَالِ وَالْاَوْلَادِ ﴾. (٣)

ترجمه : پوهه شئ چې د دُنيا ژوند (خو صرف) لوبې ، تماشې او ښائست دی ، او په خپل مينځ کې په يو بل باندې فخر کول ، او د مالونو او اولاد ډيروالې دی.

✡ مال و دولت او اولاد ته د دُنيا ښائست او امتحان ويل شوی ، الله تعالی فرمايي :

﴿ اَلْمَالُ وَالْبَنُوْنَ زِيْنَةُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَالْبٰقِيٰتُ الصّٰلِحٰتُ خَيْرٌ عِنْدَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَّخَيْرٌ

---

(١) العنكبوت آية ٦٤ .

(٢) الانعام آية ٣٢ .

(٣) الحديد آية ٢٠ .

أَمَلًا ﴾.(١)

ترجمه: مال او ځامن (خو صرف) د دُنيا د ژوند ښائست دی، او باقي پاتې کيدونکي نيک عملونه ستا د رب په نزد ډير بهتر دي په اعتبار د ثواب سره، او (همدا رنګې دا نيک اعمال د الله په نزد) ډير بهتر دي په اعتبار د اُميد ساتلو سره.

﴿ وَاعْلَمُوٓا اَنَّمَآ اَمْوَالُكُمْ وَاَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ ۙ وَّاَنَّ اللّٰهَ عِنْدَهٗٓ اَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴾.(٢)

ترجمه: او پوهه شئ چې بيشکه ستاسو مالونه او ستاسو اَولاد (په حقيقت کې د تاسو د پاره سبب د) يو اِمتحان دی، او بيشکه د الله سره چې کوم اَجر دی نو هغه ډير لوي اجر دی.

✡ د دُنيا دا شيان آخر ختميږي ليکن انسان چې کوم نېک عمل اوکړي ددې اَجر د الله ﷻ سره باقي وي. الله تعالی ددې بيان داسې کړی:

﴿ مَا عِنْدَكُمْ يَنْفَدُ وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ بَاقٍ ﴾.(٣)

ترجمه: څه چې د تاسو سره دي هغه به فناء کيږي (او ختميږي)، او څه چې د الله سره دي هغه هميشه باقي پاتې کيدونکي دي.

﴿ وَمَآ اُوْتِيْتُمْ مِّنْ شَيْءٍ فَمَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَزِيْنَتُهَا ۚ وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى ۗ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴾.(٤)

ترجمه: او څه شيان چې تاسو ته درکړل شوي دي نو هغه د دُنيا د ژوند سامان او ښائست دی، او څه چې د الله سره دي هغه ډير ښه او باقي پاتې کيدونکي دي، پس آيا تاسو نه پوهيږئ؟

﴿ زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوٰتِ مِنَ النِّسَآءِ وَالْبَنِيْنَ وَالْقَنَاطِيْرِ الْمُقَنْطَرَةِ مِنَ الذَّهَبِ

---

(١) الكهف آية ٤٦

(٢) الانفال آية ٢٨

(٣) النحل آية ٩٦

(٤) القصص آية ٦٠.

وَالْفِضَّةِ وَالْخَيْلِ الْمُسَوَّمَةِ وَالْاَنْعَامِ وَالْحَرْثِ ذٰلِكَ مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَاللهُ عِنْدَهٗ حُسْنُ الْمَاٰبِ ﴾. (١)

ترجمه : ښائسته کړې شوې دی خلقو ته محبت د نفسي خواهشاتو ، ( هغه نفسي خواهشات دادي :) لکه ښځې ، ځامن ، د سرو زرو او سپينو زرو جمع شوې خزانې، نښانداره (ځاربه بهترين) آسونه ، څاروي ، او فصلونه . دا (مذکوره) شيان (صرف) د دُنيا د ژوند سامان دی ، او د الله سره ښه ځای د واپس ورتللو دی .

✡ الله رب العزت مسلمانانو ته دا واضح کړی چې د مال او اولاد په وجه زما د ذِکر او عبادت نه غافل نشئ ، ګني تاوانيان به شئ .

﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُلْهِكُمْ اَمْوَالُكُمْ وَلَآ اَوْلَادُكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللهِ وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴾. (٢)

ترجمه : اې مومنانو ! تاسو لره دې ستاسو مالونه او ستاسو اَولاد د الله د ذِکر نه غافله نه کړي ، او څوک چې دا کار اوکړي نو همدا خلق نقصان موندونکي (تاوانيان) دي .

## د شيطان د دهوکې او اِتباع نه ځان ساتل په کار دي

✡ الله تعالى انسانان خبر دار کړي چې د شيطان د دُهوکې او اِتباع نه ځان اوساتي ، ځکه شيطان د انسان د پاره ښکاره دُښمن دی . انسان د حقې لارې نه ګمراه کوي .

الله ﷻ فرمايي :

﴿ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنَّ وَعْدَ اللهِ حَقٌّ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا وَلَا يَغُرَّنَّكُمْ بِاللهِ الْغَرُوْرُ ﴾ (٣)

ترجمه : اې خلقو ! بيشکه د الله وعده رښتينې (حقه) ده ، پس تاسو دې د دُنيا ژوند په دُهوکه کې وانه چوي ، او د الله په حقله دې تاسو ته دُهوکه باز (شيطان) دهوکه درنه کړي.

---

(١) آل عمران آية ١٤ .

(٢) المنافقون آية ٩ .

(٣) فاطر آية ٥ .

﴿ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا ادْخُلُوْا فِي السِّلْمِ كَآفَّةً ۠ وَلَا تَتَّبِعُوْا خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ ؕ اِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ﴾. (١)

ترجمه : اې ايمان والو ! تاسو ټول په اسلام کې پوره پوره داخل شئ . او د شيطان د قدمونو پيروي (تابعداري) مه کوئ ، بيشکه هغه ستاسو د پاره ښکاره دښمن دی .

﴿ اِنَّ الشَّيْطٰنَ لَكُمْ عَدُوٌّ فَاتَّخِذُوْهُ عَدُوًّا ؕ اِنَّمَا يَدْعُوْا حِزْبَهٗ لِيَكُوْنُوْا مِنْ اَصْحٰبِ السَّعِيْرِ ﴾ (٢)

ترجمه : بيشکه شيطان ستاسو د پاره دښمن دی پس تاسو دا ( هميشه ) دښمن اوګڼئ ( او په دښمنی يې اونيسئ ) ، بيشکه دا خپل ټولې ددې د پاره رابلي چې دوی ( هم ) خاوندان د دوزخ (يعنی جهنميان) شي .

﴿ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ كُلُوْا مِمَّا فِي الْاَرْضِ حَلٰلًا طَيِّبًا ۖؗ وَّلَا تَتَّبِعُوْا خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ ؕ اِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ۝ اِنَّمَا يَاْمُرُكُمْ بِالسُّوْٓءِ وَالْفَحْشَآءِ وَاَنْ تَقُوْلُوْا عَلَى اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴾. (٣)

ترجمه : اې خلقو تاسو هغه شيان خورئ کوم چې په زمکه کې حلال پاکيزه دي ، او د شيطان د قدمونو پيروي مه کوئ ، بيشکه هغه ستاسو د پاره ښکاره دښمن دی ، بيشکه هغه تاسو ته د بدکارۍ او بې حيايئ حکم کوي ، او ددې (حکم هم درته کوي) چې تاسو په الله باندې (د ځان نه په دروغه) داسې خبرې ووايئ چې تاسو پرې (په خپله هم) نه پوهيږئ .

✡ کله چې شيطان د الله ﷻ حُکم اونه منل او لعنتي يې کړو نو شيطان د الله تعالی نه د قيامت د ورځې پورې مُهلت اوغوښت ، او الله ﷻ ورله مهلت ورکړو(٤) نو شيطان ووېل

(١) البقرة آية ٢٠٨ .

(٢) فاطر آية ٦ .

(٣) البقرة آية ١٦٨ ، ١٦٩ .

(٤) الله تعالی ددې بيان داسې کړی ، ﴿ قَالَ مَا مَنَعَكَ اَلَّا تَسْجُدَ اِذْ اَمَرْتُكَ ؕ قَالَ اَنَا خَيْرٌ مِّنْهُ ۚ خَلَقْتَنِيْ مِنْ نَّارٍ وَّخَلَقْتَهٗ مِنْ طِيْنٍ ۝ قَالَ فَاهْبِطْ مِنْهَا فَمَا يَكُوْنُ لَكَ اَنْ تَتَكَبَّرَ فِيْهَا فَاخْرُجْ اِنَّكَ مِنَ الصّٰغِرِيْنَ ۝ قَالَ اَنْظِرْنِيْۤ اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ ۝ قَالَ اِنَّكَ مِنَ الْمُنْظَرِيْنَ ۝ قَالَ فَبِمَاۤ اَغْوَيْتَنِيْ ... ﴾ الاعراف آية ١٢ تا ١٥ .

﴿ فَبِمَآ اَغْوَيْتَنِيْ لَاَقْعُدَنَّ لَهُمْ صِرَاطَكَ الْمُسْتَقِيْمَ ۝ ثُمَّ لَاٰتِيَنَّهُمْ مِّنْۢ بَيْنِ اَيْدِيْهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ وَعَنْ اَيْمَانِهِمْ وَعَنْ شَمَآئِلِهِمْ ۭ وَلَا تَجِدُ اَكْثَرَهُمْ شٰكِرِيْنَ ﴾.(١)

ترجمه : په وجه ددې چې تا زه گمراه کړم نو زه به هم دې خلقو ته ستا په نیغه لاره کې کینم، بیا به زه خامخا دوی ته د دوی د مخې طرف، شا طرف، ښي طرف او چپ طرف نه (د گمراه کولو د پاره) راځم، او ته به په دوی کې اکثر خلق شکر کوونکي او نه مومي.

﴿ قَالَ اخْرُجْ مِنْهَا مَذْءُوْمًا مَّدْحُوْرًا ۭ لَمَنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ لَاَمْلَئَنَّ جَهَنَّمَ مِنْكُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴾.(٢)

ترجمه : الله تعالى ورته اوفرمایل : اوځه ددې ځای نه ذلیل رټلې شوی، یقین اوکړه چې څوک په دوی کې ستا تابعداري اوکړي نو زه به خامخا د تاسو ټولو نه جهنم ډک کړم.

# آخرت طرف ته متوجه کیدل

✡ مسلمان ته په کار دي چې آخرت طرف ته متوجه شي، داسې نیک اعمال اوکړي چې په آخرت کې دده په کار راشي، الله تعالى فرمايي :

﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَلْتَنْظُرْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍ ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴾.(٣)

ترجمه : اې مومنانو ! تاسو د الله نه اُووېرېږئ، او په کار ده چې هر انسان دا اُوګوري چې ده د صبا (یعنی قیامت) دپاره وړاندې څه لیږلي دي ؟ او د الله نه وُویرېږئ، بیشکه الله خبردار دی په هغه کارونو باندې چې تاسو یې کوی.

✡ الله تعالى د انسان نیک اعمال نه ضائع کوي، بلکه ددې بدله ورکوي :

﴿ وَمَا تُقَدِّمُوْا لِاَنْفُسِكُمْ مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوْهُ عِنْدَ اللّٰهِ هُوَ خَيْرًا وَّاَعْظَمَ اَجْرًا ۭ وَاسْتَغْفِرُوا

(١) الاعراف آية ١٦، ١٧.
(٢) الاعراف آية ١٦، ١٧.
(٣) الحشر آية ١٨.

اللّٰهَ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴾ (١)

ترجمه : او تاسو چې د خپلو ځانونو د پاره کومه نيکي وړاندې ليږئ ، نو دا به د الله سره ډيره بهتره او د ډير لوي اجر واله بيامومئ ، او د الله نه بخنه غواړئ ، بيشکه الله ډير بخونکی (او) مهربان دی .

✡ تر دې چې انسان د يوې ذرې برابر معمولي نيکي يا بدي کړي ددې بدله به د قيامت په ورځ اوګوري ، الله تعالی فرمايي :

﴿ فَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَّرَهٗ ۝ وَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَّرَهٗ ﴾ (٢)

ترجمه : پس څوک چې د يوې ذرې په اندازه نيکي اوکړي نو دا به هغه اوګوري (يعنی د هغې ثواب به اوګوري ) ، او څوک چې د يوې ذرې برابر بَدي اوکړي نو دا به هغه (هم ) اوګوري (يعنی د هغې سزا به هم اوګوري ) .

✡ همدا رنګې مسلمان به خپل ځان او خپل اولاد د داسې اعمالو نه بچ کوي چې د هغې په وجه دا د جهنم مستحق ګرځي ، ځکه د جهنم اُور ډير سخت دی ، الله تعالی فرمايي :

﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قُوْٓا اَنْفُسَكُمْ وَاَهْلِيْكُمْ نَارًا وَّقُوْدُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلٰٓئِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَّا يَعْصُوْنَ اللّٰهَ مَآ اَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُوْنَ مَا يُؤْمَرُوْنَ ﴾ (٣)

ترجمه : اې مومنانو ! تاسو بچ اُوساتئ خپل ځانونه او خپل کورواله د هغه اُور نه چې د هغې خشاک خلق او کاڼي دي ، په دې اُور باندې داسې سخت خويه ، زُورآورې (مضبوطې ) فرښتې مقرر دي چې (په هيڅ کار کې ) د الله نافرماني نه کوي ، او دوی هم هغه کار کوي د کوم چې دوی ته حکم اوکړې شي .

---

(١) المزمل آية ٢٠ .

(٢) الزلزلة آية ٧ ، ٨ . // الله رب العزت د حضرت لقمان هغه خبره رانقل کوي کومه يې چې خپل ځوي ته کړې ... ﴿ يٰبُنَيَّ اِنَّهَآ اِنْ تَكُ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ فَتَكُنْ فِيْ صَخْرَةٍ اَوْ فِي السَّمٰوٰتِ اَوْ فِي الْاَرْضِ يَاْتِ بِهَا اللّٰهُ اِنَّ .. لَطِيْفٌ خَبِيْرٌ ﴾ . سورة لقمان آية ١٦ .

(٣) التحريم آية ٦ .

# د مرګ نه هيڅوک نه خلاصيږي

✡ مرګ داسې يو حقيقت دی چې هيڅوک هم د دينه نشي خلاصيدی، بلکه هر ذي روح به خامخا يوه ورځ د مرګ دا پيالی څکي، الله رب العزت فرمايي:

﴿كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ﴾ (١) ترجمه: هر يو نفس څکونکې د مرګ دی.

(که هغه انسانان وي، پيريان وي، او که فرشتې وي ټول به وفات کيږي).

بل ځای الله ﷻ فرمايي: ﴿كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجْهَهُ﴾ (٢).

ترجمه: هر شی هلاکيدونکې (او فناء کيدونکې) دی مګر ذات د الله ﷻ به باقي وي.

په سورة رحمٰن کې الله رب العزت فرمايي:

﴿كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ ۝ وَيَبْقَىٰ وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ﴾ (٣)

ترجمه: هر څوک چې په دې زمکه (آباد) دي هغه ټول فناء کيدونکي دي، او صرف ستا د رب ذات به باقي پاتې وي کوم چې د لوي شان او عظمت خاوند دی.

✡ د انسان نيته چې کله هم پوره شي، په کوم ځای کې هم پوره شي. او د څه شی نه هم پوره شي ټيک په هماغه وخت، په هماغه ځای او د هماغه شی نه به ورته مرګ راځي. په نيته کې يو ساعت هم مخکې والې او روستو والې نه کيږي، الله ﷻ فرمايي:

﴿وَلِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌ فَإِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ لَا يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ﴾ (٤)

ترجمه: او د هرې ډلې (او قوم) د پاره يو وخت مقرر دی، پس کله چې د دوی نيته راشي نو نه يو ساعت روستو کيږي او نه رامخکې کيږي.

په سورة منافقون کې الله ﷻ فرمايي:

(١) آل عمران آية ١٨٥.

(٢) القصص آية ٨٨.

(٣) الرحمن آية ٢٦، ٢٧

(٤) الاعراف آية ٣٤.

﴿ وَلَن يُؤَخِّرَ اللَّهُ نَفْسًا إِذَا جَاءَ أَجَلُهَا وَاللَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴾.(١)

ترجمه: او الله تعالى هيڅ يو نفس ته هرگز مهلت نه ورکوي کله چې نيټه يې راشي، او الله تعالىٰ خبر دار دى د هغه څه نه چې تاسو يې کوى.

✡ انسان د مرگ نه په مضبوطو مضبوطو قلاگانو کې هم محفوظ نشي پاتې کيدى، الله تعالى فرمايي:

﴿ أَيْنَ مَا تَكُونُوا يُدْرِككُّمُ الْمَوْتُ وَلَوْ كُنتُمْ فِي بُرُوجٍ مُّشَيَّدَةٍ ﴾.(٢)

ترجمه: تاسو چې کوم ځاى يَئ مرگ به تاسو بيا مومي اگر چې تاسو په مضبوطو قلاگانو کې يَى.

✡ بلکه که انسان د مرگ نه تېخته اوکړي خو بيا هم نشي بچ کيدى، الله ﷻ فرمايي:

﴿ قُلْ إِنَّ الْمَوْتَ الَّذِي تَفِرُّونَ مِنْهُ فَإِنَّهُ مُلَاقِيكُمْ ثُمَّ تُرَدُّونَ إِلَىٰ عَالِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴾.(٣)

ترجمه: اې پيغمبره ته دوى ته ووايه چې بيشکه د کوم مرگ نه چې تاسو تختئ هغه ضرور تاسو سره ملاقي کيدونکې دى (تاسو به رانيسي)، بيا به تاسو هغه ذات طرفته واپس کيږئ (او هغه ته به وړاندې کيږئ) کوم چې ستاسو په پټ او ښکاره عملونو باندې پوهه دى، نو دغه الله ﷻ به تاسو ته د هغه عملونو په باره کې خبر درکړي کوم چې تاسو (په دُنيا کې) کول.

بل ځاى الله ﷻ فرمايي: ﴿قُل لَّن يَنفَعَكُمُ الْفِرَارُ إِن فَرَرْتُم مِّنَ الْمَوْتِ أَوِ الْقَتْلِ﴾.(٤)

ترجمه: اې پيغمبره ته دوى ته ووايه که چيرته تاسو د مرگ يا قتل نه تختئ نو دا تيښته به تاسو ته هيڅ فائده درنکړي.

(١) المنافقون آية ١١.
(٢) النساء آية ٧٨.
(٣) الجمعة آية ٨.
(٤) الاحزاب آية ١٦.

✡ د مرګ وخت هيچا ته ندی معلوم ، چې زه به کله وفات کيږم ؟ الله ﷻ فرمايي :

﴿ وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ ﴾.(١)

ترجمه : او نه پوهيږي هيڅ کس چې په کومه زمکه به مر کيږي ، بيشکه الله ﷻ پوهه او خبر دار دی .

( يعنی هيچا ته دا معلومه نه ده چې زه به په کوم ځای کې مر کيږم ، البته الله ﷻ ته هر څه معلوم دي او په هر څه خبردار دی ) .

✡ انسان د خاورې نه پيدا دی ، او واپس به همدې خاورې ته ورځي ، بيا به د قيامت په ورځ دوباره راژوندې کيږي . الله تعالی فرمايي :

﴿ مِنْهَا خَلَقْنَاكُمْ وَفِيهَا نُعِيدُكُمْ وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً أُخْرَىٰ ﴾. (٢)

ترجمه : مونږ تاسو ددې زمکې نه پيدا کړي يئ ، او ديته به مونږ تاسو ( د مرګ نه پس ) دوباره راولو ، او د همدې زمکې نه به مو يو ځل بيا ( د قيامت په ورځ ) را اوباسو .

اګر چې د نورو آيتونو نه معلوميږي چې انسان د مني نه پيدا شوی (٣) ، او د مذکوره آيت نه معلوميږي چې انسان د خاورې نه پيدا شوی ، نو په ظاهره تضاد معلوميږي .

خو په حقيقت کې هيڅ تضاد نشته ځکه زمونږ اَصل ( حضرت آدم عليه السلام ) د خاورې نه پيدا شوی (٤) . نو ګويا چې مونږ ټول د خاورې نه پيدا يو .

يا دا چې هر انسان د مَني نه پيدا شوی ، او مَني د غِذا نه پيدا شوی او غذا د خاورې او اُوبو نه پيدا شوی . معلومه شوه چې انسان هم اصلاً د خاورې نه پيدا شوی .

---

(١) لقمان آية ٣٤ .

(٢) طه آية ٥٥ .

(٣) لکه الله تعالی فرمايي ، فَلْيَنظُرِ الْإِنسَانُ مِمَّ خُلِقَ . خُلِقَ مِن مَّاءٍ دَافِقٍ . يَخْرُجُ مِن بَيْنِ الصُّلْبِ وَالتَّرَائِبِ .
سورة الطارق آية ٥ تا ٧ . وَهُوَ الَّذِي خَلَقَ مِنَ الْمَاءِ بَشَرًا . الفرقان آية ٥٤ .
وَاللَّهُ خَلَقَ كُلَّ دَابَّةٍ مِّن مَّاءٍ . النور آية ٤٥ .

(٤) لکه الله تعالی فرمايي ، ﴿ كَمَثَلِ آدَمَ خَلَقَهُ مِن تُرَابٍ ﴾ . آل عمران آية ٥٩ .

✡ مومن ته د مرگ په وخت فرښتې د اِطمينان او جنت زيرې ورکوي ، الله رب العزت فرمايي :

﴿ إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ أَلَّا تَخَافُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنتُمْ تُوعَدُونَ ۝ نَحْنُ أَوْلِيَاؤُكُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَشْتَهِي أَنفُسُكُمْ وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَدَّعُونَ ۝ نُزُلًا مِّنْ غَفُورٍ رَّحِيمٍ ﴾ (١)

ترجمه : بيشكه كومو خلقو چې دا اقرار وكړو چې زمونږ رب يو الله دى او بيا په دې باندې قائم پاتې شو نو په هغوى به ( د رحمت ) فرښتې ( اول د مرگ په وخت ، بيا په قبر كې او بيا په قيامت كې ) راكوزيږي ، او ورته وايي به : تاسو مه ويريږئ ، او مه غمجن كيږئ . او د هغه جنت زيرې واورئ د كوم چې تاسو سره وعده شوې وه ، مونږ ( فرښتې ) په دُنيا كې هم ستاسو دوستان وو ، او په آخرت كې به هم يو ، او چې څه ( لذتونه او عزتونه ) مو زړه غواړي هغه به درته په جنت كې حاضر وي ، او ستاسو د پاره به په جنت كې هر هغه څه موجود وي چې تاسو يې غواړئ ، دا ( نعمتونه وغيره ستاسو د پاره ) د بښونكي او مهربان رب د طرف نه ميلمستيا ده .

## انسان به په هره مرحله كې د صبر او اِستقامت نه كار اخلي

كه د چا نزدې رِشته دار وفات شي ، يا ورته بل تكليف اُورسي نو دا به په دې باندې صبر كوي ، ځكه په قرآن كريم كې د صبر ډير اَجرونه ذكر شوي :

✡ صابرينو ته بې حسابه اَجر وركولې شي . الله تعالى فرمايي :

﴿ إِنَّمَا يُوَفَّى الصَّابِرُونَ أَجْرَهُم بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴾ (٢)

ترجمه : بيشكه صبر كوونكو ته به د دوى اجر بې حسابه وركولې شي .

✡ صابرينو سره الله ﷻ د مَعيت او امداد وعده كړى :

(١) فصلت ( حم السجده ) اية ٣٠ تر ٣٢ .

(٢) الزمر آية ١٠ .

الله تعالى فرمايي: ﴿ وَاصْبِرُوْا إِنَّ اللهَ مَعَ الصَّابِرِيْن ﴾. (١)

ترجمه: او صبر كوئ بيشكه الله تعالى د صابرينو سره دى.

✡ امتحان او مصيبتونه ټول د الله ﷻ د طرفه دي:

﴿ مَآ اَصَابَ مِنْ مُّصِيْبَةٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ﴾. (٢)

ترجمه: هر مصيبت چې راځي نو دا د الله ﷻ د طرفه راځي.

✡ د انسان سره چې په تقدير كې كوم امتحان او مصيبت ليكلې شوې وي دا به په ده باندې خامخا راځي. الله رب العزت فرمايي:

﴿ مَآ اَصَابَ مِنْ مُّصِيْبَةٍ فِي الْاَرْضِ وَلَا فِيْٓ اَنْفُسِكُمْ اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ مِّنْ قَبْلِ اَنْ نَّبْرَاَهَا ۭ اِنَّ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرٌ ۝ لِّكَيْلَا تَاْسَوْا عَلٰي مَا فَاتَكُمْ ...﴾. (٣)

ترجمه: كوم مصيبت چې په زمكه يا ستاسو په ځانونو باندې راځي نو د پيدا كيدو نه مخكې دا مصيبت په يو كتاب كې ليكلې شوې وي، بيشكه دا خبره په الله ﷻ باندې ډيره آسانه ده. (دا خبره مونږ ځكه درته اوكړه) ددې د پاره چې د تاسو نه څه واخيستې شي په هغې خفه نه شئ ...

✡ په انسان باندې امتحانات ضرور راځي خو څوك چې په دې امتحاناتو او مصيبتونو باندې صبر اوكړي نو الله تعالى دوى ته د خپل رحمت او كامل هدايت زيرې اورلى:

﴿ وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَيْءٍ مِّنَ الْخَوْفِ وَالْجُوْعِ وَنَقْصٍ مِّنَ الْاَمْوَالِ وَالْاَنْفُسِ وَالثَّمَرٰتِ ۭ وَبَشِّرِ الصّٰبِرِيْنَ ۝ الَّذِيْنَ اِذَآ اَصَابَتْهُمْ مُّصِيْبَةٌ ۙ قَالُوْٓا اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّآ اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ ۝ اُولٰۗىِٕكَ عَلَيْهِمْ صَلَوٰتٌ مِّنْ رَّبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ ۣ وَاُولٰۗىِٕكَ هُمُ الْمُهْتَدُوْنَ ﴾. (٤)

(١) الانفال آيه ٤٦
(٢) التغابن آيه ١١
(٣) الحديد آيه ٢٢، ٢٣
(٤) البقرة آيه ١٥٥ تا ١٥٧

ترجمه : او مونږ به ضرور اُوآزمايو تاسو په څه څيز د ويرې ، ولږې ، د مالونو ، ځانونو او ميوو په نقصان سره ، او ( اې پيغمبره ! ) ته زيرې ورکړه صبر کوونکو ته . صبر کوونکي هغه خلق دي چې کله دوی ته څه مصيبت اُورسي نو دوی وايي : بيشکه مونږ د الله يو او مونږ به هم هغه طرف ته واپس کيدونکي يو ، همدا ( صابرين ) هغه خلق دي په کومو باندې چې د خپل رب د طرفه مهرباني او رحمتونه دي ، او همدغه خلق هدايت موندونکي ( په سمه لاره ) دي .

✡ څوک چې صبر اوکړي نو الله تعالی ددې په وجه دده درجې اوچتوي او غټ مقام ورکوي . الله تعالی فرمايي : ﴿ وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا لَمَّا صَبَرُوا ... ﴾ . (١)

ترجمه : او مونږ په دوی کې څه خلق پيشوايان جوړ کړل چې زمونږ په حکم به يې خلقو ته سمه لاره ښودله ، او دا پيشوايان مو ځکه جوړ کړي وو چې دوی به صبر کولو . . .

✡ صابرينو ته الله ﷻ بهترينه بدله ورکوي :

﴿ وَلَنَجْزِيَنَّ الَّذِينَ صَبَرُوا أَجْرَهُمْ بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴾ . (٢)

ترجمه : کومو خلقو چې صبر اوکړو نو هغوی ته به مونږ خامخا ددوی اجر ورکړو د هغو ښو کارونو په عوض کې کوم چې به دوی کول .

بل ځای الله تعالی فرمايي : ﴿ أُولَٰئِكَ يُؤْتَوْنَ أَجْرَهُمْ مَرَّتَيْنِ بِمَا صَبَرُوا ... ﴾ . (٣)

ترجمه : همدا هغه خلق دي چې دوی ته به د دوی د صبر په وجه دوه ( ٢ ) کرتې اجر ورکولې شي .

✡ د صبر په باره کې الله ﷻ مومنانو ته فرمايي :

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اصْبِرُوا وَصَابِرُوا وَرَابِطُوا وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴾ . (٤)

(١) السجدة آية ٢٤ .

(٢) النحل آية ٩٦ .

(٣) القصص آية ٥٤ .

(٤) آل عمران آية ٢٠٠ .

ترجمه: اې مومنانو ! تاسو صبر کوئ، او يو بل په صبر آماده کوئ، او د جهاد د پاره تيار اوسئ، او د الله ﷻ نه وويرېږئ ددې د پاره چې کامياب شئ.

✡ د کامل مومن صفت هم دادی چې دا به په تکليفونو صبر کوي.

الله تعالى فرمايي: ﴿ وَلَمَنْ صَبَرَ وَغَفَرَ إِنَّ ذَٰلِكَ لَمِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ ﴾.(١)

ترجمه: او چا چې صبر اوکړو او معافي يې اوکړه بيشکه دا ډير د همت کارونو نه دی.

بل ځای الله رب العزت فرمايي:

﴿ وَالصَّابِرِينَ فِي الْبَأْسَاءِ وَالضَّرَّاءِ وَحِينَ الْبَأْسِ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ صَدَقُوا وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ ﴾.(٢)

ترجمه: ( نيکي ديته ويلې شي ) چې څوک د تنګ دَستۍ، سختۍ او د جنګ په وخت کې صبر کوونکي وي، همدا خلق رښتوني (نيکان) دي او همدا خلق پرهيزګاره دي.

✡ نبي کريم ﷺ ته هم الله ﷻ د صبر حکم کړې وُ:

﴿ فَاصْبِرْ كَمَا صَبَرَ أُولُو الْعَزْمِ مِنَ الرُّسُلِ ﴾.(٣)

ترجمه: اې پيغمبره ! ته صبر کوه لکه څرنګې چې د لوَړ همت واله پيغمبرانو صبر کړی وُ.

✡ صابرينو سره الله تعالى د جنت وعده کړې.

﴿ وَالَّذِينَ صَبَرُوا ابْتِغَاءَ وَجْهِ رَبِّهِمْ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَأَنْفَقُوا مِمَّا رَزَقْنَاهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً وَيَدْرَءُونَ بِالْحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ أُولَٰئِكَ لَهُمْ عُقْبَى الدَّارِ ۝ جَنَّاتُ عَدْنٍ يَدْخُلُونَهَا وَمَنْ صَلَحَ مِنْ آبَائِهِمْ وَأَزْوَاجِهِمْ وَذُرِّيَّاتِهِمْ وَالْمَلَائِكَةُ يَدْخُلُونَ عَلَيْهِمْ مِنْ كُلِّ بَابٍ ۝ سَلَامٌ عَلَيْكُمْ بِمَا صَبَرْتُمْ فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ ﴾.(٤)

---

(١) الشورى آية ٤٣.

(٢) البقرة آية ١٧٧.

(٣) الاحقاف آية ٣٥.

(٤) الرعد آية ٢٢ تا ٢٤.

ترجمه : کومو خلقو چې د خپل رب د خوشحالولو دپاره صبر اوکړو ، او لمونځ يې قايم کړو ، او کوم مال چې مونږ ورکړی د هغې نه يې په پټه او ښکاره ( د نيکۍ په لاره کې ) خرچ اوکړو ، او د نيکيو په ذريعه بدي دفعه کوي همدا هغه خلق دي چې د دوی دپاره د آخرت کور دی ، ( د غه کور ) باغونه د هميشه اوسيدو دي ، دوی به داخليږي دې جنت ته ، همدغه شان د دوی په پلارانو ، بيبيانو او اولاد کې چې څوک نيک وي ( هغوی به هم دې جنتونو ته داخليږي ) ، او فرښتې به دوی ته د هرې دروازې نه راځي او دا به ورته وايي چې په تاسو باندې دې سلام وي ځکه چې تاسو به ( په دُنيا کې ) صبر کولو ( او په حق دين باندې مضبوط پاتې شوي وی ) نو د آخرت دا کور ( ستاسو د پاره ) ډير ښه دی .

بل ځای الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايي :

﴿ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَنُبَوِّئَنَّهُم مِّنَ الْجَنَّةِ غُرَفًا تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا ۚ نِعْمَ أَجْرُ الْعَامِلِينَ ۝ الَّذِينَ صَبَرُوا وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴾ (١)

ترجمه : چاچې ايمان راوړو او نيک عملونه يې اوکړل نو مونږ به دوی ته د جنت په بالاخانو کې ځای ورکړو چې د هغې ( د اُونو ) لاندې به نهرونه بهيږي ، دوی به په هغې کې هميشه اوسيږي ، د ( نيک ) عمل کوونکو بدله ډيره ښه ده ، ( دا عاملين هغه خلق دي ) کومو چې صبر اوکړو او په خپل رب باندې توکل کوي .

## د غونډ تقرير اجمالي خلاصه :

د غونډ تقرير اِجمالي خلاصه دا راأووته چې الله تعالی انسان د خپل عبادت د پاره پيدا کړی ، دا به د الله او رسول اِطاعت کوي ، کوم احکامات چې ورباندې فرض شوي ( لکه مونځ ، روژه ، زکوة ، حج ، او جهاد وغيره نو ) هغه به په پوره پابندۍ سره کوي ، او د کومو ګناهونو نه چې منع شوی د هغې نه به ځان ساتي .

حلال خوراک به کوي ، د حرام او مشتبِه شيانو نه به ځان ساتي ، د حقوقُ العبادو پوره کولو اِهتمام به کوي ، د ټولو رُوحاني بيماريانو او خرابو اَخلاقو نه به ځان ساتي .

خپل ژوند به د قرآن کريم د احکاماتو مطابق تيروي ، د الله ﷻ د رحمت نه به نه نااميده کيږي ، او د خپلو ګناهونو نه به په اخلاص باندې توبه او باسي .

مسلمان به د دُنيا په دې عارضي ژوند باندې نه دُهوکه کيږي ، د شيطان د وسوسو تابعداري به نه کوي ، او آخرت طرف ته به متوجّه کيږي ، ځکه آخِر هم يوه ورځ ددې دُنيا نه تلل دي ، په دې کې هيڅوک هم دائمي نه پاتې کيږي .

اوس که په چا باندې په دې دُنياوي ژوند کې څه مصيبونه او امتحانات راشي نو دا به په هغې باندې صبر کوي ، ځکه الله تعالى د صابرينو د پاره ډير اَجرونه مقرر کړي .

## دُعا

الله تعالى دې مونږ ته په پوره دِين باندې د تللو توفيق راکړي ، او ربّ کائنات دې مونږ ته د قرآن کريم په ټولو احکاماتو باندې د پوهيدو او بيا په دې باندې د عمل کولو توفيق راکړي .

آمِين يَارَبَّ الْعَالَمِيْن .

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

## اوله خوشخبري :

إِنْ شَاءَ الله ددې پسې به پنځلسم (۱۵) جلد هم لیکم چې هغه به هم د الله ﷻ په توفیق سره لږ وخت پس چاپ شي .

## دويمه خوشخبري :

## ( د تقريرونو دويمه سلسله )

د پنځلسم (۱۵) جلد نه پس به د تقریرونو دا سلسله په یو بل نوم باندې شروع کوم، د هغې نوم به وي :

## " د تقريرونو مُدَلَّلَـــهُ ذخيره "

چونکه تر اُوسه هم ډیر اَهمې موضوع ګانې د لیکلو نه پاتې دي ، د یوولسم جلد په آخر کې مې چې په کومو موضوع ګانو باندې د لیکلو وعده کړې وه یا کومو علماؤ چې راته په ټیلفون باندې په ځنې موضوع ګانو باندې د لیکلو مشوره راکړې ده هغه ټولې موضوع ګانې به إِنْ شَاءَ الله په راتلونکي سلسله کې شاملوم ، په هغې کې به هم په همدغه انداز باندې جامع تقریرونه وي .

په خپلو خصوصي دُعاګانو کې مو یاد ساتئ

ستاسو ورور

ابوالشمس نورالهدا عفی عنه

موبائل نمبر : ۰۳۰۶ ۵۴۴۷۱۷۴

## اول جلد

۱. د توبې أهميت ، فضيلت او احکام
۲. د الله ﷻ رحمت او مهرباني
۳. د ګناهونو نقصانات
۴. د علم فضيلت او أهميت
۵. د علماؤ او طلباؤ مقام
۶. د درودِ شريف فضيلت او أهميت

## دويم جلد

۱. حقوق الوالدين ( يعنې د مور او پلار حقوق )
۲. عُقوقُ الوالدين ( يعنې د مور او پلار نافرماني او د هغې سزا )
۳. د مرګ بيان
۴. د صبر فضيلت او أهميت
۵. د قبر عذابونه او نعمتونه

## دريم جلد

۱. د زکوٰة أهميت، فضيلت او احکام
۲. د زکوٰة نه ورکوونکي عذابونه
۳. د صدقې ورکولو فضيلت او فوايد
۴. د خرچ کولو أهميت . او د سخاوت فضيلت
۵. په مخلوقاتو کې د الله ﷻ د قدرت نخې

## څلورم جلد

۱. د نبي ﷺ اتباع او اطاعت
۲. نبي ﷺ سره د مَحبت کولو وُجوب او لزوم
۳. د نبي ﷺ په سُنتو باندې د عمل کولو سائنسي او طبي فوائد
۴. د ګيرې پريخودلو أهميت . او د خريلو يا قبضې نه د کمولو سزاګانې

## پنځم جلد

۱. د قرآن کريم د تلاوت کولو فضائل او فوائد
۲. د حافظانو او د قرآن کريم سره د تعلق لرونکو خلقو مقام
۳. د قرآن کريم اعجاز
۴. قرآن کريم يو اِنقلابي او مُؤثِر کتاب دی
۵. د قرآن کريم د تعظيم او عمل په وجه الله ﷻ قومونو ته ترقي ورکوي

## شپږم جلد

۱. د حلال کسب أهميت او فوائد
۲. د حلال خوراک أهميت او فوائد
۳. دحرام خوراک سزاګانې او نقصانات
۴. د مُشتبه شيانو نه ځان ساتل
۵. دسُود خورلو سزاګانې او نقصانات
۶. د نبي ﷺ معجزات
۷. نبي ﷺ ته د مخکيني پيغمبرانو په نسبت بهترينې معجزې ورکړې شوې دی
۸. د علم او کماله ډکه رساله

## اووم جلد

۱. په اسلام کې د مانځه أهميت او مقام
۲. د مانځه فضائل او فوائد
۳. بغير عُذره د مونځ پريخودلو سزاګانې او نقصانات
۴. په جمعې سره د مونځ کولو أهميت او فضائل
۵. بغير عذره د جمعې پريخودو سزاګانې
۶. په مانځه کې د خشوع أهميت
۷. د ټول مونځ معنی

## اتم جلد

۱. د مانځه متعلق ضروري بحثونه
۲. د مانځه متعلق ضروري فقهي مسائل
۳. د سجدهٔ سَهوې متعلق ضروري مسائل
۴. د مسبوق څخې ضروري مسائل
۵. د قضا مونځونو باره کې فقهي مسائل
۶. د مانځه متعلق مُتفرق فقهي مسائل
۷. د مسافر د مانځه متعلق ضروري فقهي مسائل
۸. د اِمامت متعلق څخې ضروري مسائل

## نهم جلد

۱. د رمضانُ المبارک د مياشتې فضيلت
۲. د رمضانُ المبارک د روژو اهميت او بغير عُذره د پريخودو سزاګانې
۳. د رمضان المبارک د روژو فضائل فوائد او حکمتونه
۴. د شل رکعته تراويحو ثبوت و فضائل
۵. د روژې متعلق فقهي مسائل
۶. د تراويحو متعلق فقهي مسائل

### لسم جلد


۱. د رمضانُ المبارک په آخري عَشره کې د اعتکاف اَهميت او فضائل

۲. د ليلة القدر عَظمت او فضائل

۳. د سَرسايې وُجوب او فضائِل

۴. د ورو کې اَختربيان

۵. د جُمعې د مانځه اَهميت، فضائل، او بغير عُذره د پرېښودو سزاګانې

۶. د جُمعې د ورځې عَظمت او فضيلت د جُمعې مانځه متعلق ضروري فِقهي مسائل


### يوولسم جلد


۱. د حَج اَهميت او بغير عُذره د حج نه کولو سزاګانې

۲. د حَج فضائل، فوائد او حِکمتونه

۳. د ذوالحجې اَولې عشرې عَظمت او فضائل

۴. د قربانۍ اَهميت او فضائل

۵. د قربانۍ متعلق فِقهي مسائل

۶. د غټ اختر تقرير (په ابراهيم عليه السلام باندې د راغلې اِمتحاناتو تفصيلي بيان)


### دولسم جلد


۱. په اسلام کې د جهاد اَهميت او مقام

۲. د جهاد فضائِل، فوائد او حِکمتونه

۳. د قدرت باوجود جهاد نه کولو سزاګانې او نقصانات

۴. د مجاهدينو مقام او فضائِل

۵. د شهادت فضائل او د شهيد مقام


### ديارلسم جلد


۱. په جهاد کې د مال خرچ کولو فضائل او فوائد

۲. جهاد د الله ﷻ د رَضا د پاره کول، او مالِ غنيمت کې د خِيانت نه ځان ساتل

۳. په اِجتماعي لحاظ سره د مسلمانانو د کمزورۍ او مغلوب کېدو اَسباب

۴. هر نېک عمل په اِخلاص باندې کول

۵. د رِيا نه ځان ساتل

۶. د رِښتيا ويلو فضيلت او د دروغو سزاګانې


### څوارلسم جلد


۱. د غِيبت سزاګانې او د دېنه د بچ کېدو طريقې

۲. د چُغل خورۍ سزاګانې او نقصانات

۳. د ژبې حفاظت او خاموشۍ فضيلت

۴. د تکبّر سزاګانې او د دېنه د بچ کېدو طريقې

۵. خالص په قرآني آيتونو باندې مشتمل جامع تقرير


### پنځلسم جلد


هر تقریر په مختلفو ژبو کې
Every Speech in different Languages




د استاذ او شاګرد په منځ کې
د نحوي عملي اجراء


اصلاحي
مدلل تقریرونه